IslamHouse.com

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

Rabwah

Pashto
پشتو

# د ابن هشام

## مختصر سيرة الرسول ﷺ


المؤلف: عبدالسلام هارون
المترجم: لقمان حكيم حكمت

*Aghalibrary.com*

# تهذیب سیرة
# ابن هشام


المؤلف

**عبدالسلام هارون**

المترجم

**لقمان حکیم حکمت**



PASHTO
بشتو



*Download From: Aghalibrary.com*

**ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالربوة، ١٤٤١هـ**

**فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر**

عبدالبصير، لقمان حكيم

تهذيب سيرة ابن هشام: اللغة البشتو . / لقمان حكيم عبدالبصير. - الرياض، ١٤٤١هـ

٣٩٢ ص، ١٧ سم x ٢٤ سم

ردمك : ٧-٤٣-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨

١- السيرة النبوية أ. العنوان

**ديوي ٢٣٩ ١٤٤١/١٥٥٧**

**رقم الايداع: ١٤٤١/١٥٥٧**

**ردمك : ٧-٤٣-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨**

مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com

أُعد هذا الكتاب وصمّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532

+966 11 445 4900

+966 11 497 0126

P.O.BOX 29465 Riyadh 11457

osoul@rabwah.com

www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک

| | |
|---|---|
| د استاد مجیب الرحمن عمر تقریظ | ۱۱ |
| د استاد قمر الدین قمر تقریظ | ۱۳ |
| د ژباړن پیلیزه | ۱۵ |
| د لیکوال پیلیزه | ۱۷ |
| تاریخ او سیرت ته لنډه کتنه | ۱۷ |
| د سیرت خورا مشهور پیاوړي لیکوالان | ۱۹ |
| د ابن اسحاق سیرت | ۱۹ |
| د ابن هشام سیرت | ۲۰ |
| د ابن هشام د سیرت علمي ارزښت | ۲۱ |
| تهذیب سیرت ابن هشام | ۲۲ |
| تر ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې د محمد ﷺ مبارک نسب | ۲٤ |
| د اسمعیل علیه السلام څخه راپېدېښوا نسبي سلسله | ۲۵ |
| د ربیعة بن نصر خوب لیدل | ۲٦ |
| د یمن واک پر ګډی د ابوکرب تبان اسعد ناسته او د یثرب غزا | ۲۹ |
| په یمن باندې د حبشیانو د واک دور | ۳۳ |
| په واک باندې د ابرهة او ارياط ترمنځ تریخوالی | ۳٤ |
| د اصحاب الفیل قیصه | ۳۵ |
| د نزار بن معد د بچیانو سلسله | ٤۰ |
| د عبدالمطلب بن هاشم بچیان | ٤۰ |
| د نبي کریم ﷺ مور او پلار | ٤۱ |
| د زمزم کوهي کنستنه او د عبدالمطلب سره تاو تریخوالی | ٤۱ |
| د عبدالمطلب د خپل ځوی د حلالولو نذر | ٤۳ |
| کوم مهال چې امنې بي بي په نبي کریم ﷺ حمل واخست | ٤۷ |
| د نبي کریم ﷺ زېږدنه | ٤۷ |
| د حلیمې قیصه | ٤۸ |
| د سینې څیرل | ۵۱ |
| د نیکه په څارنه کې | ۵۱ |
| نبي کریم ﷺ دخپل تره په څارنه کې | ۵۲ |
| د بحیرا قیصه | ۵۲ |
| د فجار شخړه | ۵۵ |
| پر خدیجې رضي الله عنها باندې د نبي کریم ﷺ | ۵۵ |
| د ورقه بن نوفل واقعه | ۵۷ |
| د کعبې نوې رغونه | ۵۸ |
| د نبي کریم ﷺ په اسماني استازیتوب د عربي کاهنانو، یهودي عالمانو او نصراني عابدانو زیري | ٦۰ |

| | |
|---|---|
| د نبي کریم ﷺ صفت | ٦١ |
| په انجیل کې د نبي ﷺ صفت | ٦١ |
| د نبي ﷺ اسماني استازیتوب | ٦٢ |
| د قرانکریم د نزول پیل | ٦٥ |
| د خدیجې رَضِيَ الله عَنْهَا اسلام | ٦٦ |
| د وحې ځنډېدل | ٦٦ |
| لومړي اسلام ته غاړه اېښودونکي | ٦٧ |
| په ښکاره توګه اسلام ته رابلنه | ٦٩ |
| د قرانکریم اړوند د ولید بن مغیره دریځ | ٧٢ |
| نبي ﷺ ته د قریشو زیان رسونه | ٧٤ |
| د حمزه رَضِيَ الله عَنْهُ اسلام | ٧٥ |
| د نبي کریم ﷺ په راوړي شریعت کې د عتبه بن ربیعه فیصله | ٧٦ |
| د نبي کریم ﷺ او قریشو مشرتابه وو ترمنځ په لویه کچه مذاکرات | ٧٨ |
| د ابو جهل غبرګون | ٨٢ |
| د نضر بن الحارث واقعه | ٨٢ |
| په بې وسه او بې کسه مسلمانانو باندې د مشرکانو زور زیاتی | ٨٤ |
| حبشو ته لومړی هجرت | ٨٧ |
| له حبشې څخه مکې ته بېرته د مهاجرینو راستولو لپاره د قریشو نجاشي ته پلاوې لیږدونه | ٨٧ |
| د عمر بن الخطاب رَضِيَ الله عَنْهُ اسلام راوړل | ٩٣ |
| د قریشو ژمنلیک اړوند معلومات | ٩٦ |
| نبي ﷺ د خپل قوم له لاسه د ناورینو سره مخامخ کېدل | ٩٧ |
| له حبشې نه د مهاجرینو ستنېدل چې کله خبر شول چې د مکې والا اسلام اعلان کړ | ١٠٣ |
| د غوڅ ژمنلیک ماتول | ١٠٣ |
| له اراشي څخه د ابوجهل د اوښ پېرودلو لړي | ١٠٦ |
| د اسراء لړې | ١٠٧ |
| د معراج لړې | ١١٠ |
| د ابو طالب او خدیجې رَضِيَ الله عَنْهَا مړینه | ١١٢ |
| له ثقیف قبیلې څخه د رسول الله ﷺ د مرستې اپیل | ١١٥ |
| د نصیبین د پېریانو قیصه | ١١٧ |
| بېلابېلو قبیلو ته د اسلامي دعوت وړاندېزونه | ١١٧ |
| د انصارو د اسلام راوړلو پیل | ١٢٠ |
| د عقبې لومړی بیعت | ١٢١ |
| د عقبې دوهم بیعت | ١٢٢ |
| د دوهمې عقبې د بیعت شروط | ١٢٧ |
| د الله پاک له پلوه د جهادې مشن په پیل اجازه | ١٢٧ |
| مسلمانانو ته مدینې ته په هجرت کولو اجازه | ١٢٩ |
| مدینې ته د مهاجرینو کاروانونه | ١٢٩ |
| د نبي ﷺ هجرت | ١٣٠ |
| قباء ته رسېدل | ١٣٨ |

| | |
|---|---|
| مدينې ته رسېدل | ۱۳۹ |
| په مدېنه کې د نبي ﷺ خطبې او نوي تړونونه | ۱٤۱ |
| د مهاجرينو او انصارو ترمنځ وروروولي | ۱٤٦ |
| د اذان قيصه | ۱٤۷ |
| په مدينه کې دنبي کريم ﷺ دځېنو ملګرو رنځورېدل | ۱٤۸ |
| د هجرت تاريخ | ۱٤۹ |
| لمړی غزا | ۱٤۹ |
| د عبيدة بن الحارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنګي ليکه چې د نبي کريم ﷺ لومړی جنګي کاروان و | ۱۵۰ |
| د بحر غاړې ته د حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنګي کاروان | ۱۵۰ |
| د بواط غزا | ۱۵۰ |
| د عشيرې غزا | ۱۵۱ |
| د سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنګي کاروان | ۱۵۱ |
| د سفوان (بدر) لومړنی غزا | ۱۵۱ |
| د عبدالله بن حجش رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنګي کاروان | ۱۵۲ |
| کعبې ته د قبلې راوړېدل | ۱۵٤ |
| د بدر لومړنی غزا | ۱۵۵ |
| په کُدَر کې د بنو سُليم سره غزا | ۱۷۳ |
| د سويق غزا | ۱۷٤ |
| د ذي امر غزا | ۱۷۵ |
| په بحران کې د فُرُع غزا | ۱۷۵ |
| د بنو قينقاع پېښه | ۱۷۵ |
| نجد قرده ته د زيد بن حارثة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنګي کاروان | ۱۷۷ |
| د ا حد غزا | ۱۷۷ |
| د هجرت په دريم کال د رجيع پېښه | ۱۹۵ |
| د هجرت په څلورم کال د بئرمعونې دردناکه پېښه | ۲۰۰ |
| په څلورم هجرې کال کې د بنو نظير شړل | ۲۰۲ |
| په څلورم هجري کال کې ذات الرقاع غزا | ۲۰٦ |
| په څلورم هجري کال کې د بدر دوهمه غزا | ۲۰۹ |
| په پنځم کال کې د دومة الجندل غزا | ۲۱۱ |
| په پنځم هجري کال کې د خندق غزا | ۲۱۱ |
| په پنځم هجري کال کې د بنوقريظه غزا | ۲۲۱ |
| د بنو لحيان غزا | ۲۳۰ |
| د ذي قرد غزا | ۲۳۱ |
| د مصطلق يا د مريسيع غزا | ۲۳۳ |
| د هجرت په شپږم کال د بنومصطلق په غزا کې په عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا باندې د تور غمجنه پېښه | ۲۳۷ |
| د هجرت په شپږم کال د حديبې سوله | ۲٤٤ |
| د رضوان بيعت | ۲٤۸ |
| د صلح حديبيه سوله ايز تړون | ۲٤۹ |
| په اووم هجري کال کې د خيبر غزا | ۲۵۳ |

| | |
|---|---|
| له حبشې څخه د جعفر بن ابي طالب رَضِيَ الله عَنْهُ راتګ | ۲٦٠ |
| د هجرت په اووم کال د قضايي عمرې داستان | ۲٦۲ |
| د اتم هجري کال د جمادی الاولی په میاشت کې د مؤته غزا | ۲٦۳ |
| د هجرت په اتم کال درمضان په میاشت کې د مکې فتحه | ۲۷٠ |
| د مکې له فتحې وروسته په اتم هجري کال کې د حنین غزا | ۲۹٠ |
| په اتم هجري کال کې د طائف غزا | ۲۹۸ |
| له هوازن څخه د غنیمت شوي مال تقسیم | ۳٠۲ |
| په اتم هجري کال کې له جعرانې څخه د نبي کریم ﷺ عمره او عتاب بن اسید رَضِيَ الله عَنْهُ ته دمکې د چارو سپارتل | ۳٠۸ |
| د نبي کریم ﷺ له طائف څخه له راستنېدو وروسته د کعب بن زهیر تشویشناک حالت | ۳٠۹ |
| په نهم هجري کال کې د تبوک غزا | ۳۱٤ |
| نبي کریم ﷺ اکیدر دومه ته د خالد بن ولیدرَضِیَ الله عَنْهُ استول | ۳۲۱ |
| دهجرت په نهم کال کې د رمضان په میاشت کې د ثقیف د قبیلې پلاوې او اسلام اعلانول | ۳۲۳ |
| د هجرت په نهم کال د پلاوو راتګ او د سورت فتح نازلېدل | ۳۲۷ |
| د بنو تمیم پلاوې راتګ او د سورت حجرات نزول | ۳۲۸ |
| د بنوعامر د پلاوې او د عامر بن الطفیل او اربد بن قیس پېښه | ۳۳٤ |
| د عبدالقیس په پلاوې کې د جارود راتګ | ۳۳۷ |
| د مسیلمه کذاب په ملتیا د بنوحنیفه پلاوې | ۳۳۸ |
| د عدي بن حاتم رَضِيَ الله عَنْهُ قیصه | ۳۳۹ |
| د فروة بن مسک المرادي رَضِيَ الله عَنْهُ راتګ | ۳٤۲ |
| د ځینو زبیدیانو په ملتیا د عمرو بن معدیکرب پلاوې | ۳٤۳ |
| د بنو کنده په وفد کې د اشعث بن قیس راتګ | ۳٤٥ |
| نبي کریم ﷺ ته د صرد بن عبدالله أزدي راتګ | ۳٤٦ |
| د حمیر د نوابانو استازي لیک راوړل | ۳٤۷ |
| د نبي کریم ﷺ معاذ رَضِيَ الله عَنْهُ ته نصیحت چې یمن ته تلو | ۳٤۹ |
| د خالد بن ولید په لاس د بنوالحارث بن کعب کورنۍ اسلام | ۳٤۹ |
| د دوه سترو دروغجنانو مسیلمه او اسود عنسي پېښه | ۳٥۳ |
| د زکاتونو په راټولولو د ګمارل شوي غړو وتل | ۳٥۳ |
| نبي ﷺ ته د مسیلمة الکذاب لیک او دهغه ځواب | ۳٥٤ |
| حجة الوداع | ۳٥٥ |
| فلسطین ته د اسامه رَضِيَ الله عَنْهُ لېږدول | ۳٥٦ |
| ټولواکانو، ملکانواو باچایانو ته د نبي کریم ﷺ استازو لېږدول | ۳٥۷ |
| د اخرني جنګي کاروان لېږدول | ۳٥۹ |
| د رسول الله ﷺ د رنځ لومړی پړاو | ۳٥۹ |
| د نبي کریم ﷺ د بي بیانو پېژندګلو | ۳٦٠ |
| د نبي کریم ﷺ ناجوړتیا ته دوباره کتنه | ۳٦٥ |
| په لمونځ کې د ابوبکر رَضِيَ الله عَنْهُ امامت | ۳٦۸ |
| د بنو ساعده د سقیفې پېښه | ۳۷۲ |
| د نبي کریم ﷺ د تدفین مراسم | ۳۷۷ |

# د کتاب په اړه د درون او علمي شخصیت استاذ مجیب الرحمن حفظه الله تقریظ

الله تعالی فرمایي ﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا﴾ [سورت احزاب: ۲۱].

ترجمه: خامخا یقینا ستاسې لپاره شته د الله په رسول کې ښایسته نمونه، د هغه چا لپاره چې د الله د ملاقات او وروستنۍ ورځې امید(پخه عقیده) لري او الله ډیر یادوي.

د رسول الله ﷺ سپیڅلی سیرت او د هغه د ژوند کړه وړه په حقیقت کې د اسلامي شریعت د عملي تطبیق یوه نمونه ده، د هغه پاک سیرت زمونږ لپاره د ژوند په ټولو ډګرونو کې: په عباداتو، معاملاتو، اخلاقو او سیاستونو کې د اقتدا ښایسته مصدر دی، افسوس! چې نن سبا ځینې مسلمانان د رسول الله ﷺ تعظیم، احترام او درناوی یوازې په تقلیدي توګه ترسره کوي، او د هغه مبارک سیرت یې یوازې په یوڅو کیسو او شعرونو او په یو څو قصیدو کې خلاصه کړی دی چې یوازې د میلاد په شپو او ورځو کې یې بیانوي.

د رسول الله ﷺ سره محبت په دې نه پوره کیږي چې یوازې په خوله د هغه صفتونه وکړو او بس... بلکې پکار ده چې د ژوند ټول کړه وړه د هغه سپیڅلي سیرت موافق برابر کړو، خپل عبادات، معاملات، اخلاق، او سیاستونه... د رسول الله ﷺ دسنتو او د هغه د تګلارې موافق ترسره کړو، له دې امله په هرمسلمان د نبوي سیرت زده کړه لازمه ده، ترڅو خپله زندګي د هغه موافق تېره کړي.

د نبوي سیرت په برخه کې ډیر کتابونه لیکل شوي دي خو تر ټولو یې د (ابن هشام مختصر سیرت) چې په عربۍ ژبه لیکل شوی دی او زمونږ ورور او نږدې ملګري **(استاد/ لقمان حکیم حکمت)** پښتو ژبې ته ژباړلی خورا مشهور او د اعتماد وړ دی، زمونږ پښتانه وروڼه دېته اړ وو چې د سیرت یو داسې مستند کتاب پښتو ژبې ته وژباړل شي ترڅو د خپل ژوند د چارو په سمون ترې ګټه پورته کړي

زمونږ ورور، نږدې ملګري، ژمن لیکوال او ژباړن **(استاد/ لقمان حکیم حکمت)** د پښتو ادب او اسلامی کلتور دعلمی بشپړتابه کاروان سرخیل دی چې پښتون ولس یې د یوه لوی اثر (د ابن هشام مختصر سیرت) په ژباړه وویاړ.

زه د دې کتاب پښتو ژباړه خپل ځوریدلي ولس اوټولو پښتنو ورونړو لپاره ډیر ستر خدمت بولم، او د دې کتاب په بریالی ژباړه درانه استاد/ لقمان حکیم (حکمت) ته دزړه له کومې

مبارکي وړاندې کوم، او پوره نيکبخته او د شاباش وړ يې ګڼم، چې په سلګونو مخونو مشتمل د اسلام د ستر پيغمبر دسپېڅلي سيرت ژباړه يې خپلو پښتنو ورونو ته وړاندې کړه.

په پای کې د الله تعالی نه ورته د اسلامي دعوت په ډګر کې د لا زياتو خدمتونو او برياليتوبونو غوښتونکی يم.

**مجيب الرحمن (عمر)**
**پيښور کې د امام بخاري جامعې استاد**

# د کتاب اړوند لوستوالو ته د مولوي صیب قمرالدین (قمر) حفظه الله سپارښتنه

هغه ذات لره ټولې ستاینې او نیک صفتونه دي چې د مالي، قولي او بدني عبادتونو مستحق دی، هغه ذات چې محمد بن عبدالله بن عبد المطلب ﷺ یې دې دنیا ته د خپل استازي او سفیر په صفت راستولی دی او پر مخلوق یې ورته غوره والی ورکړی دی د معراج په سفر کې یې د ټولو لیږدول شو استازو لپاره مقتدا او امام ګرځولی دی، پر دغه بابرکته انسان دې هزار ځله درود او سلام وي چې خپله له ګردو کرغېړنو خویونو او عادتونو څخه پاک او د نورو لپاره پاکونکی و، د هغه پر شخصیت دې بې شمېره درود او سلام وي چې الله پاک دې دنیا ته د څراغ په حیث الله رالېږلی دی او د ټولو ناخوالو په وړاندې یې مبارزه کړې ده او په هر حکم او پیغام کې یې له انصاف څخه کار اخستی دی.

ګرانو! که ز مونږ غوندې خلک هرڅومره د محمد ﷺ د نېکو صفاتو بیاندویه شي د هغه د نېکۍ رویې حق به اداء نه کړی شي که له بعثت څخه وړاندې د جاهلیت دور خلکو چال چلند په نظر کې ونیسو او له هغه بدلون او انقلاب سره یې موازنه کړو چې محمد مصطفی ﷺ د پیغمبرۍ په وجه دنیا کې راغی او په ذاتي او فردي شکل سره یې انسانیت ته کومه ښکلا ورکړېده داسې ښایسته انسان چې تر نن تاریخ پورې د ده په شان انسان نه مور زېږولی او نه سترګو لیدلی او نه به یې وزږوي او نه به یې سترګې وګوري، نو راته به جوته شي چې هغه مبارک په سوچه توګه د انسانیت غښتلتیا او دسپیڅلي مقام د برحال ساتو په خاطر راستول شوی دی، د هغه مبارک پر سیرت، احوالو او کړو وړو باندې دیني علماوو ډېر په زړه پورې کتابونه لیکلي دي چې سړی یې نه په لوستلو ستومانه کیږي او نه یې په اورېدو ښېېمانه کیږي د دغو کتابونو له جملې څخه یو کتاب (سیرت ابن هشام) دی که څه هم محمد بن اسحاق رحمه الله ډېر په زړه پورې انداز لیکلی دی او ټول هغه څه چې په دې کې نقل کړي دي ثابت او مستند دي خو دا چې لوستلو یې د وخت لویه برخه نېولی شوه نو غښتلي ادیب او عربي لیکوال عبدالسلام هارون یې تهذیب او تلخیص وکړ خو دا چې له تهذیب سیرت ابن هشام څخه ګټه اخستل پښتنو ورونو لپاره لویه تشه وه، دا چې د کتاب خیر لا پسې وغځیږي او هر څوک ورته لاس رسی ولري نو د ځوان فکر خاوند استاد لقمان حکیم صاحب د محمد رسول الله سره د محبت په جذبه دغه کتاب پښتو ژبې ته وژباړه.

الله دې وکړي چې زمونږ ټول پښتانه لوستوال خلک نر او ښځه او په ځانګړې توګه ځوان نسل خپل قمیتي وخت د بې هوده او بې مفهومه کیسو او رسالو په کتلو خراب نه کړي چې

اخلاقي او ديني دواړه اړخونه يې ګواښي، بايد بدل کې يې دې کتاب ته لاس رسی ولري او د خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم د حالاتو نه ځان په سمه توګه اګاه کړي او نورو ته هم توصيه وکړي.الله دې د کتاب مولف او ژباړونکي او هغه څوک چې د کتاب د چاپ زيار او مصارف پر غاړه اخلي په خپلو عملونو کې ماجور وګرځوي. وصلی الله تعالی علی خيرخلقه محمد ﷺ

**قمرالدين (قمر)**

**د امام بخاري د پوهنتون د اداري چارو مسؤل.**

# د ژباړن پېلیزه

زه به څه ووایم، د سیرت اړوند خبرې، د تاریخ پس منظر او نور هغه اړخونه چې یاد ترې اړین بریښي لیکوال یې خپله په سریزه کې په زړه پورې شننه کړې ده.

یواځې دومره به ووایم چې که هر څوک د دنیا په هر ګوټ کې د اسلامي دعوت مینوال وي او دوسته ګڼي چې دین ته په دعوت کې ونډه ولري، په عامه توګه د داعیانو له تاریخ څخه په استنباط باید لومړی په سیرت پېل وکړي، د سیرت په بیان چې داعي د خپل دعوت دروازه څومره خلاصه او څومره خلک پرې اسلام ته دعوت کولای شي، فکر نه کوم که د دعوت نور اسالیب په لومړي ځل دومره وده ولري.

د ژباړې په جریان کې هغه ایتونه چې عبدالسلام هارون نیمګړي ذکر کړي دي، زیار مې ویستی چې د ترجمې سره یې په پوره توګه ذکر کړم او ترجمه مې ورله په حاشه کې په دې خاطر ذکر کړېده تر څو ترجمه شوي متن کې واقعیت وړاندې لا ړ شي.

الله دې د ژباړې دا زیار زما او د ټولو لوستوالو او په چاپ کې د مالي زیار ویستونکو لپاره صدقه جاریه وګرځوي، دا ترجمه دې الله پاک خالص د هغه د رضا په خاطر وګرځوي، الله دعا اوریدونکی او قبلونکی دی، هغه د هیڅ چا زیار نه ضایع کوي، په بندګانو نهایت رحیم او بې تحاشا مهربانه دی.

که د لوستوال تر نظر لاندې هر ډول علمي، املائي او مطبعي خطا راشي د احسان له مخې مو په لاندې عنوان وخبروئ تر څو يې اصلاح کړو، ځکه له خطا څخه هیڅ څوک هم معصوم نه دي.

**لقمان حکیم حکمت**

# د ليکوال پېلیزه

هغه وړانګینه ځلا چې د وریځو د زوال په څېر یې د بدپرستۍ او ناپوهۍ ګردي تروږمې په زوال کړې، ګرد انسانیت ته د الله پاک له لورې هغه راستولی شوی هدایت چې انسان یې د تمامو بدمرغیو او هلاک څخه وژغوره، انسانیت یې له سترو مهلکو بې نورۍ او بې لارۍ څخه د سعادت په لور رهی کړ، دنبي کریم ﷺ جهادي ژوند د انسانیت د بقاء او بچاو لپاره تر ټولو روښانه صفحه ده، د هغه ژوند ژواک د رحم او مهربانۍ او د ښې رویې ژوندۍ بېلګه ده، د هغه ژوند ژواک د خالق او مخلوق سره د مناسبې رویې لوړ او ستر منار دی، د نبي کریم ﷺ ژوند او سیرت د الله پاک په سپیڅلي کتاب کې په زرینو ځلا ځلیږي، الله پاک یې اړوند فرمایي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ [سورت قلم: ٤].

ژباړه: ته پیغمبر ﷺ په لوړ او لویو اخلاقو سمبال یې.

ژوند یې له ښځوا راهیسې د پیاوړو تاریخ پوهانو په ارزښتناکو لیکنو کې وړانګینې پلوشې لري، د دغې مبارک ژوند پړکې خورا خواږه حیرت انګیز لحظات لري.

صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرضي وَأَنْعَمَ

# تاریخ او سیرت ته لنډه کتنه

د جاهلیت په دور کې د پلار نیکه څخه راپاتې روایتونو پرته تاریخي ودې شتون نه درلود، تاریخ هم هغه مهال ایکې یوآځې د عربي ژوند ژواک اړوند حرکت درلود، د پلار نیکه ویاړونه، د اتلولو او بې چورته مالي لګښت، په ژمنې وفا کول، د حسب او نسب او نور قومونه د ځان ملاتړې جوړولو څخه به د تاریخ میچن چورلښت درلود، که څه هم په دغې تاریخي پس منظر کې د بیت الله او د هغې د سمبالښت، د زمزم د اوبو د راپورته کېدو، د جرهم اود قریشو د سردارانو، د مآرب بند ماتېدل او د خلکو تس نس کېدل، د کاهنانو او دهغوی د سجعو اړوند وریکې مات ګوډ معلومات وو چې د جاهلیت د دور ټولنیز او سیاسي او دیني اړخونه پړکې په تفصیلي توګه نږدې ښه څېړل شویدي.

که څه هم د جاهلیت د ټاټوبي د کهانینو او قیصو غونډې ګرمې وې، او په روایتي بنسټ به له لویانو څخه کوچنیانو ته معلومات پاتې وو، هغه و چې د اسلامي دین د ظهور وړاندې د نبوت

ځينې نبښې نښانې راولاړې او څرګندې شوې، د نبي کريم ﷺ کوچنيتوب مبارک او عامه طرز زندګي، د پيغمبرانو حال احوال او د صحابه کرامو رضي الله عَنْهُمْ أَجْمَعِيْنَ د ژوند نوی پړاو، د نبي ﷺ د راز راز اغيارو او دښمنانو د اغتيال هلې ځلې، د مشرکانو او يهودانو او نصرانيانو ترمنځ د نبي ﷺ د ژوند بېلګې قيصې او اخبار رڼه چينه وه، هغوی هم دغه اخبار د راويانو له مخې مشرانو نه کشرانو ته پاتې اثرات وښودل، د ژوند د دغې نوي پړاو لپاره د قرانکريم اياتونه او نبوي حديثونه او د صحابه کرامو رضي الله عَنْهُمْ أَجْمَعِيْنَ رښتينې ويناوې ژوندې بېلګه ده.

که څه هم قرانکريم په ليکلي بڼه شتون درلود خو ولې تر ډېره مهاله نبوي حديثونه د ليک او قلمبندۍ څخه په کناره کې و، خو حديثونه به د موثقو (باوري) جهاتو له لارې خلکو روايت کول، دنبي کريم ﷺ څخه د ابوسعيد الخدري رضي الله عَنْهُ د روايت کړي حديث په بنسټ چې (لاَ تَكْتُبُوْا عَنِّيْ شَيْئاً سِوَى الْقُرْآنِ فَمَنْ كَتَبَ عَنِّيْ شِيْئاً سِوَى الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ).

له قرانکريم پرته نور له ما څخه هېڅ شی مه ليکئ، که چا د قرانکريم پرته نور څه ليکلي وي نو ليرې (مټاو، وران) دې کړي.

په عامه توګه هېڅ چا هم د حديثونو د ليکلو او نويشته کولو جرأت او زړه ورتوب نه شو کولای.

د حديثونو د نه ليکلو لامل ډاګيزه و چې تر څو نبوي حديثونه د قراني اياتونو سره ګډوډ نه شي، د دغې نېکې موخې د لاس ته راوړو په خاطر د نه ليکلو خبره په وقتي توګه وه.

د عمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ الله د واک په دور کې (۹۹–۱۰۱هـ) پورې خبره د تېر په څېر وه، داسې ويل کيږي چې د حديثونو په ليکلي بڼه راټولولو باندې عمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ الله څلوېښت ورځې استخاره وکړه، الله پاک ورته د خير لاره خلاصه کړه او ابوبکر محمد بن عمرو بن حزم ته يې اجازه وکړه، هغه په خپل ذهني محيط کې ضبط کړي ټول حديثونه نويشته کړل، او نويشته شوي معلومات (حديثونه) يې د قلمرو بېلابېلو برخو ته واستول.

ابوبکر بن حزم رَحِمَهُ الله دا مهال په مدينه باندې ګورنر و، او په (۱۲۰هـ) کې وفات دی.

د تېر په څېر عمر بن عبدالعزيز د امام مالک استاذ محمد بن مسلم بن شهاب زهري رَحِمَهُ الله ته امر وکړ چې د نبي کريم ﷺ ثابت حديثونه راغونډ کړي، د امر سره سم هغه په کتابي بڼه ځينې حديثونه راغونډ کړل.

له دې پړاو وروسته په حديثونو کې رنګارنګ ليکنې مسلمانانو پيل کړې چې د ځانګړي ترتيب او تنسيق سره يې هېڅ اړيکي نه درلودې، بلکې ځينو لا د تشريع د ځانګړو بابونو اړوند د حديثونو راغونډونې وکړې، خبره تر دې حده ورسيده چې د نبي کريم ﷺ د حديثونو د راټولولو لپاره داسې ډول ليکنو شتون پيدا کړ چې د هغې د روزمره زندګۍ او د عامې زندګۍ لکه د هغه زېږدنه او رضاعت ان تر بعثت پورې يې ژوند په بابونو او مستقلو فصلونو ووېشل شو.

له دې وروسته قريش د الله پاک دين ته رابلل او په مکه کې د قريشو په ځورونو او ربړولو تحمل او زغم ويستل او د غزاګانو او جنګي پلاوې لېږدوني او د جهاد نور اړوند کړد متعلقات يې پکې په تفصيلي انداز څېړلي دي.

تاريخ پوهانو پکې د تاريخ د ليکنې نورې لارې هم غوره کړې دي، ځېنو يې ليکنه د نبي کريم ﷺ د ژوند مبارک اړوند ځانګړې کړه تر څو خپل دين ته مايله تږده وخړوبوي، ځکه چې دغه تنده ماتېدنه د نبي ﷺ د مسلمانانو لپاره د نېکې نمونې او مهتدينو لپاره د لارې مشال و.

## د سيرت خورا مشهور پياوړي ليکوالان

د سيرت لومړی ليکوال عروة بن الزبير بن العوام (۹۲هـ) و، بيا ابان بن عثمان (۱۰۵هـ) بيا وهب بن منبه (۱۱۰هـ) ورپسې شرحبيل بن سعد (۱۲۳هـ) او بيا ابن شهاب الزهري (۱۲٤هـ) او بيا عبدالله بن أبي بكر بن حزم (۱۳۵هـ) وو.

هېره دې نه وي چې د دوی ليکوالانو دغه لاس ليکنې له منځه تللي دي، که څه هم مات ګوډ ځېنې برخې يې د تاريخ په ځېنو کتابونو کې خوندي هم پاتې دي لکه تاريخ طبري، او يا لکه د جرمني په ښار هيډلبرګ کې چې د وهب بن منبه د ليکنې ځېنې برخه نمونه پرته ده.

له دې څخه وروسته بيا د مؤلفينو لړۍ پيل شوه چې خورا شهرت يافته يې موسى بن عقبة (۱٤۱هـ)، معمر بن راشد (۱۵۰هـ)، او محمد بن اسحاق (۱۵۰هـ) وو.

بيا دريمه طبقه راڅرګنده شوه چې له جملې څخه يې يو هم زياد البكائي (۱۸۳هـ) واقدي (۲۰۷هـ) چې د مشهور کتاب (المغازي) ليکوال هم دی، ابن هشام (۲۱۸هـ)، او محمد بن سعد (۲۳۰هـ) چې د (الطبقات) په نوم ارزښتناکه ليکنه لري.

## د ابن اسحاق سيرت

د ليکوالانو په دغې ليکنو کې ارزښتناکه علمي او باوثوقه باور وړ ليکنه د محمد بن اسحاق رَحِمَهُ الله سيرت دی[1] چې د عباسيانو د واک د دور په لومړيو مرحلو کې يې نويشته کړې دی.

(۱) اسم كنية يې ابو عبدالله، نوم يې محمد او د پلار نوم يې اسحاق او د يسار بن خيار لمسی و، پلرنې تاتوبې يې د کوفې لويديځه برخه کې د [عين تمر] نوم کلی و، د ابوبکر رضي الله عَنْهُ د واک په دور (۱۲هـ) کې مسلمانانو فتحه کړ او د دې نيکه (يسار) پکې د قيس بن مخرمة بن المطلب بن عبدمناف غلام راوستل شو، هغه و

داسې ويل کيږي چې د محمد بن اسحاق په بغداد کې د ابو جعفر المنصور سره ليدنه کتنه وشوه، د ابوجعفر سره چې خپل ځوي (مهدي) هم ناست و، منصور له ابن اسحاق څخه وپوښتل دا پېژنې؟ هغه ورته وويل: هو دا د اميرالمؤمنين ځوی دی، منصور ورته وويل: د دې لپاره د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د پيدائښت له پيل څخه تر نن ورځ پورې ګرد معلومات راټول کړه، ابن اسحاق پيل وکړ او لوی کتاب يې وليکه، هغه ورته وويل: ابن اسحاقه! دا خو دې لوی کتاب ليکلی دی، کله لږ دې نچوړ کړ ډېر به ښه وي.

هېره دې نه وي چې دغه لوی کتاب د اميرالمؤمنين په مکتبه کې خوندي پاتې شو.

## د ابن هشام سيرت

د ابن اسحاق نه وروسته ابن هشام[1] راغی او نږدې يوه نيمه پېړۍ وروسته يې د زياد البکائي[2] د يو راوي په توسط د ابن اسحاق سيرت خلاصه روايت کړ.

د ابن هشام په روايت د ابن اسحاق د سيرت کتاب چې نن ځمونږ مخې ته پروت دی په دې اندازه نه دی، بلکې ابن هشام د ابن اسحاق د سيرت ځينې اړخونه د زيادت او اضافه کارۍ

چې په (۸۰هـ) کال کې يې لمسی (محمد) په مدينه کې وزيږېد، محمد رَحِمَهُ الله که څه هم خپله ځواني په مدينه کې تېره کړه، خو ولې د ځينو مصرينو په ملتيا مصر ته ولاړ، بيا له هغه ځايه کوفې ته، جزيرة العرب، ري، بصره او بيا بغداد ته ولاړ، هلته يې د اجل داعي ته لبيک ووايه او په (۱۵۲هـ) کې وفات شو.

د دې اړوند ابن عدي وايي: محمد بن اسحاق چې د وخت واکداران يې له هر څه نه د نبي کريم ﷺ په غزواتو بوخت وساتل، که له دې پرته هېڅ بل فضيلت اوغوره والی ونه لري دا يې بسنه کوي.

(۱) اسم کنية يې ابو محمد، نوم يې عبدالملک د هشام ځوی دی، په قام قبيل حميري و، زوکړه يې په بصره کې شوېده او مصر ته ولاړ، هلته يې د امام شافعي سره ليدل کتل وشول، دواړو سره خپل منځ کې د عربانو د شعرونو زياته برخه يو بل ته زمزمه کړل.

ابن هشام دابن اسحاق د سيرت د تهذيبولو پرته نورې ليکنې هم لري، يوه ليکنه يې د حمير په نسبونو او واکدارانو طبقه خلکو ليکلې ده، او بل اثر يې د عربانو د شعرونو په غريبو الفاظو شرحه ليکلې ده، په فسطاط کې په (۲۱۸هـ) کې وفات شوی دی.

(۲) اسم کنيه يې ابو محمد نوم يې زياد د پلار نوم يې عبدالملک او د نيکه نوم يې طفيل و، د کوفې ميشتوال او په قام قبيله عامري و، په بنو عامر کې د بکاء له کورنۍ څخه و نو ځکه ورته بکائي ويل کيږي، بغداد کې يې خلکو ته مغازي د محمد بن اسحاق په روايت او فرائض د محمد بن سالم په روايت ښودل، له بغداد څخه بېرته کوفې ته ستون شو.

ابن هشام به يې ډېر زيات قدر او احترام کو، هغه د کتاب پيل کې وايي: [د ځينو داسې خبرو له ليکلو څخه مې ډډه وکړه چې بد برېښي او نور ځينې داسې و چې په خلکو ښه نه لږېدل، او ځينې نور معلومات داسې وو چې د بکائي روايت درست نه بلل].

سره، او ځینې برخه یې په نچوړ او خلاصه کولو او څه یې هو بهو د هغه روایتونه ذکر کړیدي، کله ناکله پرې نیوکې هم کوي او یا یې هم د نورو علماوو د روایتونو سره پرتله کوي، هغه د کتاب په لیکلو کې خپله د لیکنې تګلاره د کتاب په لومړۍ برخه کې څرګنده کړېده.

د نیوکو او لنډېز باوجود بیا هم ابن هشام د ابن اسحاق د سیرت په کتاب کې د روایت او امانتدارۍ ځانګړی خیال ساتلی دی.

هېڅ یوه کلمه یې ورله رد و بدل کړې نه ده، د نورو روایتونو سره د تعارض په مهال او یا هم د تېروتنې د اصلاح کولو، او یا د لفظ د تشریح کولو څخه وړاندې خامخا وایي [ابن هشام وایي].

که څه هم لنډېز د ابن هشام بنسټیز لامل دی، له همدې کبله یې د اسمعیل بن ابراهیم عَلَيْهِمَا السَّلَامُ څخه وړاندې د پیدائښت پېل، داسمعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ بچیان، زیاتره شعرونه او نور هغه حالات چې ابن هشام یې زیادت بولي او له سیرت څخه یې نه شمېري ټول حذف کړیدي.

او نه هغه حوادث قابل ذکر بولي چې د راویانو ثقتوب یې مشکوک وي، خو که د ابن هشام د روایت کړې سیرت د اصل غوځه پلټنه وکړی شي جوته به شي چې په روایت کې یې د امانت ډېر زیات خیال ساتلی دی، او دا خبره له شک نه وتلې ده چې مخکنې اسلامي علماوو کې دې خوي په لویه کچه شتون درلود.

## د ابن هشام د سیرت علمي ارزښت

د محمد بن اسحاق د سیرت لیکلی کتاب د سیرت د ګردو لوستوالو لپاره له پخوا راهیسې تر نن ورځ پورې عمده او اصیله سرچینه ده، هېڅ څوک به داسې نه وي چې د رسول ﷺ د سیرت اړوند شننه کوي مګر دا چې د ابن اسحاق کتاب یې مخې ته پروت وي.

لږ څه وړاندې تاسو وپېژندل چې د ډېرې زمانې څخه راپدېخوا علماوو د ابن اسحاق نوشته کړی سیرت د ابن هشام د سیرت په نوم ځکه پېژنده چې ابن هشام یې راوي او همدې یې لنډېز کړی و.

ابن خلکان وایي: (**ابن هشام هغه هستی ده چې د ابن اسحاق له لیکنې څخه یې د نبي کریم ﷺ سیرت او غزاګانو غورچاڼ کړی دی، هغه دا سیرت پاک صفا او بیا یې لنډیز کړ، د ابن اسحاق لیکلی سیرت د خلکو په منځ کې د ابن هشام د سیرت په نوم شهرت لري**).

په رښتیا چې د ابن هشام سیرت د شارحینو او لوستوالو په نیز ژوندی احترام لري، همدا سیرت ابو القاسم عبدالرحمن السهیلي[١] د [**الروض الأنف**] په نوم شرح کړی دی.

(١) اسم کنیه یې ابو القاسم، نوم یې عبدالرحمن، د پلار نوم یې احمد او د نیکه نوم یې اصبغ و و په اندلس کې

له دې څخه وروسته ابو ذر الخشني[1] راولاړ شو او د سيرت کتاب ته په ځانګړې توګه داسې ځير شو چې ګران فهمه کلمات يې ورله شرح کړل او د اړتيا وړ يې په ځينو ځايونو نيوکې هم وکړې، او خپل دغه زيار ته يې د **[شرح السيرة النبوية]** نوم ورکړ، هېره دې نه وي چې د دې کتاب د خپروني زيار ډاکټر برونله ويستلی دی.

دتېر په څېر پرې بدرالدين محمد بن احمد العيني د **[كشف اللثام فی شرح سيرة ابن هشام]** په نوم هم شرح وليکله چې په (٨٠٥هـ) کې ترې وزګار شو.

له بلې خوا ځينې نورو علماوو د سيرت د ليکنې په لنډيز ځانګړې پاملرنې پيل کړې، چې يو يې هم له جملې څخه برهان الدين ابراهيم بن محمد چې په ابن مرحل شافعي يې شهرت درلود و، هغه سيرت نزدې په اتلسو مجلسونو (درسونو) کې راخلاصه کړ چې تر څنګ يې په ناقصو ځايونو زياتونې هم وکړې، او خپلې دغې ټولګې ته يې د **[الذخيرة في مختصر السيرة]** نوم ورکړ، او په (٦١١هـ) کال يې د ليکلو له زيار څخه وزګار شو.

له بلې خوا د ابن هشام سيرت ابو العباس احمد بن ابراهيم بن عبدالرحمن الواسطي هم د **[مختصر سيرة ابن هشام]** په نوم خلاصه کړ او په (٧١١هـ) کې يې له زيار څخه وزګار شو.

او ځينې نور هغه علماء چې سيرت يې د نظم او شعر په بڼه ترتيب کړ يو هم ورېکې ابو محمد عبداالعزيز بن محمد بن سعد الدميري الديريني دی چې په (٦٦٣هـ) کال کې وفات دی.

سيرت په شعري بڼه ابوبکر محمد بن ابراهيم چې په ابن شهيد شهرت لري هم ترتيب کړ او خپل دغې ترتيب شوې ليکنې ته يې د **[الفتح القريب في سيرة الحبيب]** نوم ورکړ، نزدې څه د پاسه لس زره بېتونه لري.

## تهذيب سيرة ابن هشام

د خپلې څوانۍ په لومړيو کې ما څو څو وار د دې کلک هوډ وکړ چې د سيرت دغه عملي او ارزښتناکه ليکنه له پيل څخه تر پای ولولم، خو ولې د تېروپاتو او د خبرو ترمنځ يو تر بله د نه سمون له کبله چې ذهن نا ارامه کوي، نفس ته له ستومانې پرته نور څه نه ورکوي، ما ترې

د سهيل د درې هستوګن و، اندلس کې په (٥٠٨هـ) کې زېږېدلی دی، او د ژوند زياتره برخه يې هم دلته تېره ده، په مراکش کې درې کاله پاتې شو او هلته په (٥٨١هـ) کې وفات شوی دی.

(١) اسم کنيه يې ابو ذر نوم يې مصعب د محمد ځوی او د مسعود لمسی و، په اندلس کې د خشين نوم کلي اوسېدونکی و، په (٥٣٢هـ) کې پيدا او په (٦٠٤هـ) کې وفات دی.

هم لکه په لويه شلېدلي بيابان کې د ګل او ګلاب په څېر ځېنې ځېنې برخې ولوستې، د نېکې پای او ګلابترينو خوږو خوږو اسلوبونو يې د لوستلو سره ځان ته جذب کړم.

په رښتيا چې ما د نبي کريم ﷺ د سيرت په لوستلو کې د قرانکريم د اياتونو د تلاوت او يا هم د نبي ﷺ د حديثونو او مبارکو خبرو په څېر رښتنې او ځان نه ښوولو عبادت او خاکسارۍ او عاجزانه انداز مونده کړ.

زما پلار چې په [**تلخيص الدروس الأولية فى السيرة المحمدية**] په نوم کتاب قلمبند کړ، ديرش فصلونه يې درلودل، د ديني معاهدو پرته نور په هېڅ کومې تعليمې اداره کې نه لوستل کېده، ځکه چې له نورو ادارو سره د [**دروس السيرة**] په نوم ځانګړې او مستقلې مادې شتون درلود، شايد د سيرت بيا لوستلو زه همدې ته اړ کړم چې د ابن هشام ليکلې سيرت را لنډ کړم.

چونکه مخکې مې د دې يادونه وکړه چې د کتاب خپل اسلوب ډېرې سترياوې لرلې، خو د لوستلو لپاره مې ټول کتاب بيا له توانه ووت.

د بدر د بنديوانانو د نومونو په مهال د سيرت په کتاب کې لوستوال ته نور ګڼ شمېر فصلونه مخې ته ورځې، دا چې په بدر کې د مسلمانانو د اسونو نومونه څه و؟ هغه خلک چې د انصارو يا مهاجرينو له جملې څخه يې د بدر په غزا کې ګډون کړی وو، د هغوی نومونه، کوم مسلمانان په بدر کې شهيدان شوي وو؟ يا د بدر په معرکه کې چې کوم اشعار او ترانې ويل شوې وې، د اوږد ترينو نسبونو په ذکرکولو او لوی لوی قافيه لرونکې اشعار او دېته ورته سردي نورې اړوند پېښې چې د کتاب خوند يې ورک کړی و، لکه سرسخته الفاظ، يا د قرانکريم ځېنې هغه اياتونه چې د سيرت د دغې ذکر کړې ځای سره هېڅ سمون نه خوري، ولو که اندکه اشاره يې ورته کړې وي، ورپکې ايت ذکر شوی دی، ټول هغه څه وو چې زه يې هک پک او حيران دريان کړی وم.

بايد هغه سند ته پکې هم اشاره شوې وای چې د سيرت زياتې فقرې ورباندې روايت شوي دي، د نيوکه کونکې علماوو پرته نور هېڅ چا ته دا ارزښت نه لري.

ما دا زيار وويست چې دا (لنډيز) لوستوالو او مينوالو ته په داسې پوښاک کې وړاندې کړم چې د هغوی ستړکې ورباندې يخې شي، او له بل پلوه يې ورته په لوستلو کې هم هېڅ ستونزې نه راولاړېږي، د دې برسېره مې د اصلي کتاب په نص ځانګړی خيال ساتلی دی، لوستوال کولای شي نص يا د استشهاد لپاره د نظم په ژبه شعرونه لومړني کتاب (اصل) ته منسوب کړي، دا ځکه چې ما د کتاب هېڅ نص هم رد او بدل کړی نه دی، د علمي امانت خاص خيال مې کړی دی چې چرته هم د ابن هشام نصوص دي، زياتره مې هغه ته د کتاب په متن کې او يا هم لاندې حاشيه کې منسوب کړي دي.

کوم چې عام طوره نصوص دي نو هغه د ابن هشام په روایت د ابن اسحاق نصوص دي، له اړتیا پرته مې هغه ته نص منسوب کړی دی، او نور مې د لیکنې په مقتضا عام تام پرېښي دي چې یا دا ابن هشام او یا هم ابن اسحاق روایت کړیوي.

د ټولو نصوصو د ضبط انتهایي ډېر خاص خیال مې ساتلی دی، کوم ځای چې مې د شرحې ځینې ځایونو کې اړتیا لیدلې ده د هغې شرحه مې هم د سیرت د شارحینو، او یا هم د اثارو له لیکنو او د لغت د معتمدو کتابونو څخه مې پکې استفاده کړېده.

چونکه مختصر سیرت د هغه چا لپاره د لوستلو زرینه موقعه ده چې دکتاب اصل ته لاس رسی نه شي لرلی، او له بل پلوه د نني اوسني ځوانانو د تېرو قابل شرف له سپیځلي تراث سره د ترون ډېر ښه پړاو هم دی.

ستا لپاره همدومره بسنه کوي چې د زیات خیر او علمي تراث د لاس ته راوړلو لپاره دا کتاب لږ شمېر ورځو کې ولولې، خو که د کتاب د اصل لوستل دې پیل کړل سره له دې چې له توانه به دې هم بهر وي خو نږدې لوستل به یې درڅه ګڼ شمېر میاشتې هم ونیسي.

د الله پاک څخه ارزو لرم چې دا کتاب چې زما په اند ډېر لږ زیار مې پکې ایستلی دی، د خیر نه ډک وګرځوي، په دې مې یواځې د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ خوشحالول موخه ده، نور هیڅ نه دي.

**مصر [ربيع الثاني / ۱۳۹٦ هاپریل ۱۹۷٦ م]**

## تر ادم عَلَيْهِ السّلَامُ پورې د محمد ﷺ مبارک نسب:

ابو محمد عبدالملک بن هشام وايي:

دا د نبي کریم ﷺ دسیرت اړوند ټولګه ده.

محمد د عبدالله ځوی د عبدالمطلب (شيبه) ځوی د هاشم (عمرو) ځوی د عبدمناف (مغيرة) ځوی د قصي (زید) ځوی د کلاب ځوی، د مرة ځوی د کعب ځوی د لؤي ځوی د غالب ځوی د فهر ځوی د مالک ځوی د نضر ځوی د کنانة ځوی د خزيمة ځوی، د مدرکة (عامر) ځوی د الیاس ځوی دمضر ځوی د نزار ځوی د معد ځوی د عدنان ځوی د أدد ځوی د مقوم ځوی د ناحور ځوی د تیرح ځوی د یعرب ځوی د یشجب ځوی د نابت ځوی د اسمعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ځوی د ابراهیم

خليل الرحمن عَلَيْهِ السَّلَامُ څوی د تارح (ازر) څوی د ناحور څوی د ساروغ څوی د راعو څوی د فالخ څوی د عيبر څوی د شالخ څوی د ارفخشذ څوی د سام څوی د نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ څوی د لمک څوی د متوشلخ څوی د اخنوخ (د ګمان له مخې دا د ادريس عَلَيْهِ السَّلَامُ نوم و) د يرد څوی د مهليل څوی د قينن څوی د يانش څوی د شيث څوی د ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ څوی.

ابن هشام وايي: زه ددې کتاب د اسمعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ تر نبي کريم ﷺ او د ټولو هغو چا چې ددې دواړو ترمنځ وي، په پرله پسې توګه چې په نسبي سلسله کې شمول لري پيل کوم، داسمعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ نه تر نبي کريم ﷺ پورې چې د دوی ترمنځه تېر شوي وي او څه ورته مخې ته راغلي وي، او د مزيد اختصار له کبله د اسمعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ دنورو بچيانو د ژوند کيسې ته نه صرف نظر کيږو، او وړاندې مو وويل چې د اختصار له کبله به د ابن اسحاق هغه معلومات هم نه ذکر کوو چې د نبي کريم ﷺ اړوند نه وي، او نه يې په هکله قراني اياتونه نازل شوي وي، نه دکتاب ستونزې اواروي، او نه يې سرسخته الفاظ تشريحوي، او نه د شواهدو په حيث تاييدي کلمات وي.

هغه داسې شعرونه ذکر کړيدي چې علماء يې د شعرونو په نوم نه پيژني، او ځينې نور يې داسې شيان ذکر کړيدي چې ياد يې ښه نه بريښي او ځينې نور يې داسې معلومات ذکر کړيدي چې خلک يې پرکنډ او نيمګړتياوې بولي، او نور ځينې داسې معلومات دي چې په دروستوالي يې مونږ ته بکائي[1] رَحِمَهُ اللّٰه پخپلو روايتونو کې هيڅ ذکر نه دی کړی، له دغې پرته به دنورو متعلقاتو لړې درواياتونو او د علم په اندازه جاري ساتو -ان شاء الله-.

## د اسمعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ څخه راپيدېخوا نسبي سلسله

اسمعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ دولس نارينه زامن زيږولي وو: نابت، قيذر، اذبل، ميشا، مسمعا، ماشي، دما، آذر، طيما، يطور، نبش، قيذم، نابت.

نابت نه يشجب پيدا شو اود يشجب نه يعرب او د يعرب نه تيرح او دتيرح نه ناحور، د ناحور نه مقوّم، د مقوّم نه أدد، د أدد نه عدنان پيدا دی.

بيا د اسمعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ په اولاد کې د عدنان نه قبائل خواره واره شول.

عدنان د وه نارينه زامن لرل: معد بن عدنان، او عک بن عدنان، عک يمن ته ولاړ او هتله

(۱) بکائي رَحِمَهُ الله د ابن هشام استاذ او د ابن اسحاق شاګرد دی، خپل نوم يې زيادبن عبدالله بن طفيل بکائي دی، په (۱۸۳هـ) کې وفات دی، او بکاء د بنو عامر بن صعصعة دقبيلو په خېلونو کې يو خېل دی.

شته شو، هغه داسې چې عک په اشعريانو کې رشته وکړه او له رشتې کولو سره هلته پاتې شو، ان چې کور او ژبه يې سره يوه شول، او اشعريان د اشعر بن نبت بن أدد بن هميسع بن عمرو بن عريب بن يشجب بن زيد بن کلهان بن يشجب، بن يعرب بن قحطان اولاده ده.

د معد بن عدنان نه څلور نارينه بچي پيدا شول: نزار، قضاعة، قنص، او اياد.

قضاعة ترې حمير بن سبأ ته ولاړ، او د معد د نسبيانو په وينا دقنص بن معد پاتې اولاده نيست نابود او هلاک شول چې د جملې څخه يې يو دحيري باچا نعمان بن منذر هم و.

## د ربيعة بن نصر خوب ليدنه

ربيعة بن نصر ديمن له واکدارانو څخه هغه تولواک دى چې له هول او هيبت څخه يې ډک ډارونکى خوب وليد، هيڅ يو ساحر، کاهن او پالکر يې پرې نښود مګر دخپل خوب د تعبير کشۍ غوښتنه يې ترې وکړه، تر دې چې د خپل قلمرو په داخل کې يې ټول نجوميان هم پرې نه ښودل، ټول يې راپنډ کړل او ورته يې وويل: ما ډېر زيات ډارجن خوب ليدلى دى، او زه يې نهايت زيات ګبراو کړى يم، په جدي توګه يې راته تعبير ووایاست، ټولو ورته وويل: مونږ ته دې ليدلى خوب واوروه تر څو يې درته تعبير درکړو.

هغه وويل: که زه درته خپل ليدلى خوب هم واوروم ګومان مې نه شي که ډاډمن تعبير راکړې او حوصله مې جوړه کړئ، زما د ليدلي خوب تعبير هغه څوک کولاى شي چې د خوب اورېدو وړاندې تعبير کشي وکړي.

يو تعبير کش وويل: که رښتيا هم باچا سلامت دخوب تعبير د خوب ويلو وړاندې غواړي نو هرومرو دې سطيح او شق راوغواړي، په تعبير کشۍ کې له هغو دواړو څخه څوک ډېر نه پوهيږي، که باچا سلامت له هغوي څخه ويوښتي شايد دروست معلومات ورکړي.

هغه و چې دواړه يې راوغوښتل خو دا چې سطيح له شق څخه مخکې دربار ته حاضري ورکړه، باچا ورته وويل: داسې خوب مې ليدلى دى چې زه يې په ډار او ترس کې اچولى يم، او ورڅخه ډېر زيات ګبراو يم، ما ته يې تعبير واوروه، که په خوب پوهه يې شايد تعبير به يې هم دروست ووايې.

سطيح وويل: هو ولې نه، تعبير يې درکولى شم، تا د اور توکړه (بځرکې) وليد چې د تورتم نه راووت، او په ټيټه نسکوره ځمکې پرېوت، او هلته يې هر يو د سر څښتن وخوړ.

باچا وويل: سطيحه! روغه خبره دې وکړه خو وايه چې د خوب تعبير څه دی؟

سطيح: د تورو غونډو ترمنځ په ميشتو انسانانو مې دې سوګند وي چې ستاسو قلمرو ته به حبشيان راځي او د (ابين) نه تر (جرش) پورې به ستاسو د ځمکې واک او اختيار د هغوی په لاس کې ولېږي.

باچا: سطيحه! دا خو ډېر زيات دردوونکی او غمجن تعبير دی!! خو دغه حالات به کله وي؟ زما د واک په دور کې او که له دې جريان نه به وروسته وي؟

سطيح: نا ستا په دوران کې نه بلکې شپېته يا اويا کلونه وروسته به وي.

باچا: د حبشيانو دغه زور ځواک به دوامدار وي او که به زوال خوري؟

سطيح: نا، څه د پاسه او يا کاله وروسته به د وراوښتې مرګ ژوبلې له کبله زوال سره مخ شي او په تيښته به ولاړ شي.

باچا: د حبشيان د مرګ ژوبلې او د ويستلو دواک واګې به چا سره وي؟

سطيح: د دغې لړې سرمشري به دارم بن ذي يزن سره وي، هغه به عدن څخه پېل واخلي او په يمن کې به د حبشيانو نه هيڅ څوک پرې نه ږدي.

باچا: ايا د ارم دغه رژيم به دوام وخوري او که نه له منځه به ولاړ شي؟

سطيح: دغه رژيم به له منځه ولاړ شي.

باچا: څوک به يې له منځه يوسي؟

سطيح: پاک دامن پېغمبر چې د الله پاک له پلوه به ورته وحي کېدای شي.

باچا: دغه پېغمبر به د کومې کورنۍ غړی وي؟

سطيح: دغه پېغمبر به د غالب بن فهر بن مالک بن النضر له زاوزاد څخه وي، او د دغه پېغمبر زور ځواک به د زماني تر پايه وي.

باچا: ايا زمانه هم زوال او نهايت لري؟

سطيح: هو پای به يې هغه ورځ وي چې ټول لومړني او وروستني پکې راغونډ کړی شي، ديندراه او نيکه طبقه خلکو ته به پکې د نيکمرغۍ ژوند ورکړل شي، او بدبخته به ورپکې د خپل بد برخليک په منګولو کې حصار شي.

باچا: ايا ته سمې دمې خبرې کوې؟

سطيح: هو زما دې د ورځې په اخرنۍ رڼا او د شپې په سرخۍ قسم وي، زما دې په هغه

سهار قسم وي چې د شپې تورتمونه ختموي چې زما خبرې رښتيا او حقيقت دي؟

وخت لا تېر نه و څه کوري چې (شق) هم راغی، شق ته يې ټول هغه څه وويل چې سطيح ته يې ويلي و، خو له شق څخه يې د سطيح ټول تعبير په بشپړ توګه پټ کړ تر څو وپوهيږي چې ايا شق او سطيح سره په تعبير کې يو څېر دي او که بېلا بېل تعبيرونه لري؟

شق ورته وويل: ستا د ليدلي خوب اورولو وړاندې درته تعبير درکولی شم.

تا اور وليد چې له تيارو څخه رابهر شو، د شنې سرسبزې ځمکې او د کجورو د ونو ترمنځه ولوېد او هر انسان يې وخوړ.

د تعبير اورېدو سره باچا پوهه شو چې دواړه تعبيرکش سره يو څېر او دواړو رښتيا وويل:

باچا: تېر نه وتې، رښتيا دې وويل خو د دغې خوب تعبير څه دی؟

شق: د تورو کټکو د خاورې په انسان مې دې قسم وي چې ستاسو قلمرو ته به توريان هرومرو راشي، په هر چا به برلاسي شي د (ابين) نه تر (نجران) پورې به يې واک او اختيار وي.

باچا: دا خو ډېر زيات دردوونکی او غمجن تعبير دی!! خو دغه حالات به کله وي؟ زما د واک په دور کې او که له دې جريان نه به وروسته وي؟

شق: نا ستا د واک او اختيار نه به ډېر وروسته وي، بيا به عظيم الشان انسان تاسو د مصيبت د دغه لړې نه خلاص او ورته به امان ورکړي، او توريان به د ډېرې سپکاوې سره مخ کړي.

باچا: دغه عظيم الشان انسان څوک دی؟

شق: دغه عظيم الشان انسان به ذويزن له کورنۍ څخه وي، د ډېر کمال له کبله به پليت او وليدلي کارونه نه کوي، او د يمن نه به ټول توريان وباسي.

باچا: ايا د دغه عظيم الشان د واک ګدۍ به دوامداره وي او که د زوال سره به مخ شي؟

شق: نا د واک ګدۍ به يې د عادل او حق رښتونې پيغمبر په راتګ نسکوره شي، او د دغه پيغمبر واک او زور ځواک به د فيصلو تر ورځې پورې وي.

باچا: د فيصلو ورځ لا څه شی ده؟

شق: هغه ورځ ده چې خلکو ته به پکې بدلې ورکول کيږي، په دغه ورځ کې به له بره څخه خلک راوبلل شي، د بلنې دغه اواز به هر ژوندی او مړی واوري، د معلوم وخت لپاره به پکې خلک راغونډ کړی شي او ټول نېکه طبقه خلک به په بريالیتوب او نيکو بدلو ونازول شي.

باچا: ايا ستا خبرې رښتيا دي؟

شق: هو! زما دي د اسمانونو او ځمکو او د اسمانونو او ځمکو ترمنځ د لوړو ژورو او ټيټو نسکورو په رب قسم وي چې زما تعبير کشي او ټولې خبرې ربنتيا دي، هيڅ شک پکې نشته.

دشق او سطيح په تعبير کشۍ د ربيعة زړه ناقراره شو، خپله او خپله ټوله کورنۍ يې د عراق په لور وتپول، او په عراق کې يې فارسي باچا سابور بن حرذاذ ته ددې د کورنۍ هلته د ميشت کېدو اړوند غوښته وليکله، هغه و چې فارسي باچا ورته په (حيره) کې ځای ورکړ او هلته ځای پرځای شول.

## د يمن واک پر ګدۍ د ابوکرب تبان اسعد ناسته او د يثرب غزا

چې کله هم ربيعة بن نصر ومړ، د يمن واک او اختيار واکې حسّان بن تبان اسعد په لاس کې ونيولې، د حسان د رژيم نه وړاندې د دې پلار تبان اسعد د مدينې په لار کې له ختيځ څخه راروان و چې هلته په مدينه يې خپل ځوی د مدينې د چارو په سمبالولو وګمارو، هغه و چې ځوی يې د يوې حملې په ترځ کې سر وخوړ، تبان اسعد د خپل ځوی د غچ اخستنې په فکر د غټ لښکر په شمول د مدينې د وېجاړولو او د هستوګنوالو د بيخ کنۍ او نيست نابودولو لپاره راوتېپيد، د مدينې خلکو د خبر د اورېدو سره سم د عمرو بن طلة په مشرۍ د جنګ لپاره راغونډ شول، د تبان اسعد او د عمرو بن طُلّة د لښکرو ترمنځ خونړيزې معرکې پېل واخيست، د مدينې د انصارو د روايت له مخې چې دوی به ورسره د ورځې په خونړيزۍ بوخت او د شپې له مخې به يې بېرته په ميلمستيا بوخت وو، تبان اسعد دغې جريان هک پک او حيران کړی و چې دا خو ډېر عزتمند خلک دي!!

د جنګ ميدان لا همغسې تود و چې تبان اسعد ته د يهودانو دوه پياوړي او غښتلي عالمان راغلل، دواړو اوريدلي و چې تبان اسعد د مدينې ټول ميشت خلک له تيغه تيروي او مدينه ورانوي، دواړو ورته وويل: په مدينه له نظامي بريد او يرغل څخه لاس په سر شه، که زمونږ خبره ونه منې او هرومرو په مدينه يرغل وکړې، د دنياوي سختو شکنجو او ازار سره به مشت او ګرېوان شې.

تبان اسعد وويل: ولې؟ او دغه څنګه؟ يهودي عالمانو ورته وويل: په مکه کې به د قريشو په قبيله کې وروستنی پيغمبر راځي او مدينه به د دغه پيغمبر کور او سکون وي!

له يرغل څخه لاس په سر شو او دواړو عالمانو خبره يې ومنله، د دې سره سره يې د هغوی د دين پيروي يې هم پيل کړه.

چونکه مکه د تُبَّع (تبان اسعد) يمن ته لاره وه او تبع د خپل قوم په شمول بدپرستان وو، د يمن په لور روان شو، کله چې تبان اسعد د (عسفان) او د مدينې اړوند (امج) نومې کلي ته راورسېد، د هذيل بن مدرکة له قبيلې څخه څه خلک راغلل او ورته يې وويل: باچا سلامت! تا ته مونږ د ماليت نه ډکې خونې رهنمايي نه کوو چې له تا څخه مخکې تېر ل باچاهان له دغې خزانې څخه بې غوره او نا خبره وو؟ په دغې خونه کې لعلونه، ملغلرې، ياقوت، زبرجد، سره او سپين زر پراته دي.

باچا وويل ولې نه، تونددي وکړئ او په چټکه توګه يې راته وانښايئ، هغوی ورته وويل: په مکه کې يو کور دی چې د مکې خلک يې عبادت کوي او ترڅنګ يې لمونځونه اداء کوي!!

هذلينو غوښتل چې مکه او وريکې د الله پاک ودان کور د باچا په لاسونو ونړوي، چونکه د يهودو دواړو عالمانو ته معلومات وو چې په بيت الله که هر چا او هر تولواک بده اراده لرلې ده عذابونه يې خوړلي دي، نو باچا (تبان اسعد) د خپلې زيرکتيا له مخې دواړو يهودانو ته د هذلينو رواړی نظر وړاندې کړ او ورڅخه يې تفصيل هم وغوښت، يهودي عالمانو ورته وويل چې دغه هذلين تا او ستا جنګي ليکې نيست نابودول غواړي، مونږ په ګرده ځمکه کې له دغې خونې پرته د الله پاک بل کور نه پېژنو، او که د ويجاړولو اراده دې وکړه، ته او ستا ټوله جنګي قوه به د مرګ او هلاکت ښکار شئ.

باچا (تبان اسعد) ورته وويل: چې کله زه د الله پاک دغې خونې ته ورشم ستاسو راته وصيت او نېکه مشوره څه ده؟ بايد څه وکړم؟

دواړو ورته وويل: ته به هغه څه کوې چې د دغه ځای ميشت خلک يې کوي، په ډېر زيات درناوی، عزت او احترام به ترې طواف وکړې، د خپل سر وېښتان به لرې کړې، او تر هغه ګړۍ به په ډېره عاجزانه انداز د ژوند لمحات تېروې چې تر څو ترې راووځې.

باچا ورته وويل: تاسو ولې بيا د دغې عبادتونو لپاره خپله نه ورځئ؟

هغوی وويل: لوړه په رب لايزال چې دغه زمونږ د پلار ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ جوړ کړی کور دی، او حقيقت ټول ستا تر غوږ دی، خو زمونږ د نه ورتګ ستر لامل هم دا دی چې د مکې ميشتوالو وريکې بوت پرستي پېل کړې ده، د غير الله لپاره وريکې نذرانې او وينې تويوي، او د مشرکانو ترمنځ دوی حالاً ډېر پليت مشرکان دي.

تبان اسعد دواړو يهودان په ګفتار کې رښتوني وبلل او په کړي نصيحت يې عمل پېل کړ، هغه هذلين چې د بيت الله د تخريب اړوند يې غمازي کړېوه د خلکو په مخکې راوغوښتل، لاسونه او ښپې يې ترې غوڅې کړې، بيا مکې ته ولاړ له بيت الله څخه يې طواف وکړ او حلالکه يې وکړه، هلته شپږ ورځې پاتې شو، ذبحې به يې کولې او خلکو ته به يې خوراکونه هم تيارول، او په څښاک کې به يې ورته شهد ورکول.

بيا تبان اسعد خوب وليد چې بيت الله ته جامه واغوندي، هغه و چې بيت الله يې په پېرو قيمتي ورېښمين پوښاک باندې وپوښو.

بيا يې وروسته بل خوب وليد چې بيت الله په تور قيمتي پوښاک باندې هم وپوښي، د خوب ليدو سره سم يې دوباره بيت الله د يمن په ښائسته اعلی ترينو پوښاکو سمبال کړ.

د روايتونو له مخې تبع (تبان اسعد) لومړنی هستی ده چې بيت الله ته يې د لومړي ځل لپاره پوښاک اچولی دی، او د جرهم د قبيلې واکداره طبقه يې د بيت الله د صفايی په کولو مامور کړل، هغوی ته يې هدايت وکړ چې له دې وروسته به د بيت الله ترڅنګ د ښځو په مياشتني مرض لړل شوې ټوټې، ګندګي او خځلې او نورې مردارې نه اچول کيږي.

هغه د بيت الله لپاره دروازه او د دروازې کونجي هم جوړه کړه.

د ګردو مراسمو له اداء کولو وروسته تبان اسعد د خپلو لښکرو سره د دواړو يهودي عالمانو په شمول يمن ته مخه کړه، کله چې د يمن خاورې ته ننوتل د يمن د قلمرو ميشت خلک يې هغه دين ته راوبلل چې د نوي سفر په دوران کې يې د ځان لپاره غوره کړی و، د يمن خلکو يې د دعوت له منلو څخه سرغړونه اختيار کړه، بالاخره يې پرېکړه په يمن کې اور ته يوړه.

په يمن کې يو اور و چې کله به سره يمنيان خپل منځ کې مختلف او تريو تريخ شول اور به يې فيصله کوله، ظالم به يې وخوړ او مظلوم به بچ، روغ رمټ او سالم راووت.

د يمن خلک د خپلو بتانو او نذرانو سره راووتل او دواړه پيروانو (يهودي عالمانو) هم خپل کتابونه په ګرېوان راوځړول، چې له کوم ځای څخه به اور راوتو هلته يې د انتظار شيبې تيرې کړې.

هغه و چې اور راووت او خلکو په وړاندې رانږدې شو، خلک وېرې او هيبت ونيول، خو د پرېکړې انتظار ويستونکو ورته په صبر او زغم بار بار توصيه کوله، په صبر دومره کلک شول چې اور راغی او د حمير د قبيلې ټول بوتان، نذرانې، او دبتانو په عبادت کلک ولاړ خلک يې وخوړل، او داوړه يهودي عالمان له اور څخه په داسې حالت کې راپورته شول چې په تندې يې خولې راماتې وې، او کتابونه يې هم هغسې په ګرېوانونو کې اوېزان وو چې اور ورته هيڅ راز ځاني نقصان نه و اړولی.

د حقانيت د راښکارېدو سره سم ټولو د حمير د قبيلې خلکو د تبان اسعد راوړې دين ته غاړه کېښوده.

يمن ته يهوديت په اصل کې له دې لارې ننوتی و.

کله چې د واک واکې د تبان اسعد ځوی حسان ته په لاس ورغلې او د زور ځواک په ګدۍ

کېناست، د ټولو عربو او عجمو د ځمکې د لاندې کولو لپاره يې يمنيان په مسلح انداز له يمن څخه وويستل، کوم مهال چې د بحرين ځمکې ته د يمنيانو جنګي قوه ورسېده، حمير او د يمن نورو قبيلو نه غوښتل چې جنګي مهم يې نورو ځمکو ته هم وغځېږي.

د حسان بن تبان ورور عمرو بن تبان اسعد سره يې پټه خبره زمزمه کړه چې ته دې خپل ورور وواژه، مونږ به پخپل ځان د واک واګې تا ته درکړو، او ته به مو بېرته خپل ټاټوبي ته ستانه کړې.

عمرو د خلکو سره د خپل ورور د مرګ په هکله سلا مشوره وکړه خو د حمير د قبيلې نه (ذو رعين) ورسره موافقه ونه وکړه، او د ورور له مرګ څخه يې منعه کړ، خو د ذو رعين خبره يې و نه منله، ذو رعين دغه شعرونه وويل:

أَلاَ مَــنْ يَشْــتَرِيْ سَــهَراً بِنَــوْمٍ *** سَعِيْدٌ مَنْ يَبِيْتُ قَرِيْرَ عَيْنِ

فَإِمَّــا حِمْــيَرٌ غَــدَرَتْ وَخَانَــتْ *** فَــمَــعْـذِرَةُ الْإِلَهِ لِذِيْ رُعَـيْنِ

❁ ايا داسې څوک شته چې د شپې په خوب شبګېرې وپېرې؟ څوک چې په سوکالۍ سره د شپې ارام او خوب کوې ډېر نېکمرغه او نېکبخته دی.

❁ د حمير قبيلې دوکه او خيانت وکړ، خو ولې ذو رعين الله پاک ته د دغې دوکې په هکله خپل عذر وړاندې کوي.

دغه شعرونه يې وليکل او له لاسليک وروسته عمرو ته راغی او ورته يې ورکړل، ورته يې وويل: زما دا ليکل د ځان سره سمبال کړه، بيا لاړ او خپل ورور حسان يې وواژه او د يمن ټولې قبيلې يې بېرته يمن ته ستنې کړې، کوم مهال چې عمرو د يمني قبيلو د لښکرو په شمول د يمن قلمرو ته داخل شول له عمرو څخه خوب وتښتېد او سترګې يې بې خوبه شوې، دغې بې خوبۍ دومره ستومانه کړ چې په خپل قلمرو کې يې هېڅ پالګر او معالج پرې نه ښود خو د علاج لپاره يې راوغوښت، يو ورته پکې وويل:

لوړه په رب لايزال چې ستا په څېر هر څوک خپل ورور او يا هم بل خپل خپلوان بې ګناه په زياتي سره قتل کړي مګر له سترګو څخه يې خوب تښتي او بې خوبه کيږي.

هغه و چې د يمن په مخه ورو کې چې چا هم د ورور د قتل سلا مشوره ورکړې وه، ټول يې راغونډ او بيا يې قتل کړل، دا چې لاسونه يې د ذورعين ګرېوان ته وغځېدل هغه ورته وويل:: ستا د ورور د مرګ نه له تا سره زما براءت شتون لري، عمرو وويل: ستا براءت ما سره چرته دی؟؟ ذورعين ورته وويل: هغه خط چې ما تا ته درکړی و.

عمرو چې کله هم ليکل پړاو کړل وپوهېد چې ذورعين ورته نصيحت کړی دی، د وخت په تېرېدو سره عمرو هم ومړ، او د عمرو د مرګ سره سم دحمير د قبيلې دبدبه او شان شوکت هم اوبه شو، ټول سره جلا جلا شول.

په حمیر قبیلې باندې د (لخنیعة ینوف ذو شناتر) په نوم حمیري مسلط او د حمیر د قبیلې ټول مخه ور خلک یې ووژل، او د پاتې حمیرینو په کورنو یې لوبې وکړې، هېره دې نه وي چې دغه حمیري د حمیر د قبیلې د شاهانو له کورنۍ څخه نه و.

لخنیعه چې بخپله فاسق، فاجر او لوطي انسان و، د حسان بن تبان وړور زرعة ذي نواس بن تبان چې د خپل وړور د مړینې په مهال لا ماشوم و وپسې یې سوال ځواب وکړ، زرعة چې د ځوانۍ په موسم کې ښه په زور زبردستۍ کې و، د لخنیعه د استازي د راتګ سره زرعة وپوهېد چې ما د بدکارۍ لپاره ځان ته غواړي، په پېزار کې پټ یې د ځان سره چاړه (خنجر) ننویست، او په ناڅاپي برید کې یې لخنیعه له منځه یوړ، چې کله بهر خلکو ته راووت خلکو ورته وویل: دا چې تا مونږ له ځان سره او پلتې څېرې نه په ارام کړو، ته زمونږ باچا او ټولواک یې.

د حمیر قبیلې په شمول د یمن ټولو قبیلو یې حکم ته غاړه کېښوده، په واک او اقتدار تر ډېره مهاله پاتې شو، زرعه ذو نواس د حمیر د قبیلې اخرنی باچا دی، او دا هغه څوک دی چې د الله پاک په دین ولاړو ته یې د اور کندې کنستلې وې.خو بیا هم په نجران کې د عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په دین ولاړ طبقه خلک د ګوتو په شمېر شتون درلود چې مشري یې عبدالله بن تامر په غاړه لرله، ذو نواس باچا د خپل زور ځواک له مخې ټول عیسویان د یهودیت پر منلو مجبور کړل، او مجبوریت ته یې هم ورله دوه ډوله اختیار ورکړ چې یا خو به یهودیت ته غاړه ږدي او یا به قتلیږي.څوک یې په کندو کې په اور وسوځول او څوک یې له تیغه تېر او وربانډې یې مثله وکړه، نزدې شل زره مسلمانان یې ووژل.د ذو نواس او د جنګي قوې اړوند یې الله فرمايي: ﴿قُتِلَ أَصْحَٰبُ ٱلْأُخْدُودِ ۝٤ ٱلنَّارِ ذَاتِ ٱلْوَقُودِ ۝٥ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٞ ۝٦ وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ بِٱلْمُؤْمِنِينَ شُهُودٞ ۝٧ وَمَا نَقَمُواْ مِنْهُمْ إِلَّآ أَن يُؤْمِنُواْ بِٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَمِيدِ﴾[1].

د یو روایت له مخې ذو نواس په لاس شهیدانو کې د مسلمانانو سرلښکر ابن تامرهم و.

## په یمن باندې د حبشیانو د واک دور

د هغه وخت مومنانو نه د ذو نواس باچا د تعذیب د «دوس ذو ثعلبان» په نوم یو سړي بخپل اس باندې په شکلنه څمکه کې د روم باچا قیصر ته د انتقام او بدلې اخستنې لپاره د مرستې

(۱) سورت بروج: (٤-٨) ژباړه: د کندو ویستونکو والا هلاک او برباد او لعنتیان دی * د هغه اور والا چې بلېدونکی اور و * چې دوی خپله د اور او مسلمانانو د سوځولو سېل او تماشې ته ناست و * او دوی چې په مسلمانانو څه کول دوی پرې خپله ګواه دي * او دغو یهودانو انتقام نه اخست له دغو مسلمانانو نه مګر د دې چې دوی په الله پاک باندې چې زور اور او ستائلی شوی ذات دی ایمان راوړی و.

کولو پناه یوړه، او ترڅنګ یې ترې د ذو نواس باچا پر ضد د جنګیالو غوښتنه هم وکړه، قیصر ورته وویل: ستاسو کلي کورونه زمونږ څخه ډېر زیات لرې دي، شاید دغه لرېوالی د نه کومک کولو سترلامل وي، خو ستا د مرستې لپاره به زه تا ته د حبشې باچا ته ستا په لاس لیک واستوم شاید مرسته دې په دې خاطر وکړي چې هغه خپله هم د عیسی عَلَیْهِ السَّلاَمُ په دین دی.

قیصر د حبشې باچا ته د «دوس ذو ثعلبان» سره د مرستې او ورله د انتقام اخستلو امر وکړ.

دوس هم نجاشي ته د قیصر راستولی لیک په احترام وړاندې کړ، نجاشي فوراً د «دوس ذو ثعلبان» سره د «ارياط» په نوم قائد لاندې اویا زره جنګیالي یمن ته واستول، په دغې جنګیالیو کې «ابرهه» هم شمول درلود.

ارياط د دوس ذو ثعلبان په شمول خپلې جنګې لیکې د بحر له لارې د یمن خاورې ته ننویستې، د مقابلې لپاره ورته ذو نواس د حمیر د قبیلې په شمول د یمن ټولې قبیلې راوویستې خو بالاخره هم د جنګ پایله د ذو نواس او د هغه د لښکرو په شکست تمامه شوه.

کله چې ذو نواس د خپل جنګي لښکر شکست ولید، خپل اس یې تونـد د بحر په لور وځغلو، او په اوبو کې تر هغه حده ولاړ چې مرګ ترې طمعه توقع وه، هلته تباه او له منځه ولاړ.ارياط چې خپله حبشي و، د ذو نواس مرګ نه وروسته یې د یمن واک واکې سمبال کړې.

## په واک باندې د ابرهة او ارياط ترمنځ تریخوالی

ارياط لا هم هغسې د واک په ګدۍ ناست و چې د واک او اختیار د لاس ته راوړنې لپاره ورسره ابرهه کړې نسکورې شروع کړې، هغه و چې په یمن کې نیم حبشیان د ارياط او نور سم نیم یې د ابرهة پلوي وکړه، د دواړو لښکرو ترمنځ خونړیزه معرکه د پیل کېدو په حالت کې وه، چونکه ابرهه ډېر ځیرکه او دانا و، د بدن په لحاظ هم ښربه او ښه ودان و، په قد او قامت لنډ و، ارياط ته یې وویل: د واک د لاس ته راوړنې لپاره ولې حبشیان سره پخپل منځ کې له تېغه تېروو، خو د دواړو لښکرو په وړاندې به ما او تا د جنګ مېدان ته راوځو، څوک چې مړ شو د واک پر ګدۍ به یې قاتل کیني، ارياط چې له ونې څخه لوړ چاق او ښایسته سړی و، خبره یې ورله سمه وبلله، نیزه په لاس د مېدان په منځ کې ودرېد، ابرهه چې خپله هم نصراني و د «عتوده» په نوم غلام یې د ځان نه وروسته ودرو، ارياط په ابرهة یرغل وکړ غوښتل یې چې سر یې دوه پړقه کړي، خو ګوزار پرې سم ونه لګېد او تندی، پوزه، ورو ځې، سترګه او شونډې یې پرکنډ شوې، له وروسته څخه پرې د ابرهه غلام عتوده حمله وکړه او ارياط یې له منځه یوړ، هغه و چې په یمن کې ټول حبش د ابرهه تر ولقې لاندې په یو څپر راټول شول.

# د اصحاب الفیل قیصه

وخت لا په تېرېدو و چې ابرهه د قُلَيِّس په نوم بې نظيره او لا مثاله کليسا د يمن په صنعا ښار کې په دې خاطر ودانه کړه چې د عربو د حج په نوم د عبادت مراسم به ټول هلته ادا کولای شي، او نجاشي ته يې ليک واستو چې ستا لپاره مې داسې لا مثاله کليسا جوړه کړه چې ستا نه مخکې به د بل باچا لپاره دغسې عبادت خانه هېڅ چرته هم نه وي جوړه شوې، تر هغه دمه نه کېنم تر څو د عربانو د حج مراسم ورته راواړوم.

دغه مهال په يمن کې نسأي عرب[1] و، د ابرهه د شومې ارادې اورېدو سره يې سم په کليسا کې ډک اودس مات کړ او په چټکه توګه مکې ته ستون شو.

ابرهه ته د دغه جريان لړي واورول شوه، هغه وپوښتل چې د کليسا دغه بې عزتي چا کړېده؟

چا ورته وويل: دغه کار د مکې هغه هستوګن کړی دی چې په مکه کې يې د کور نه يې ټول عرب د حج د عبادت مراسم تره سره کوي، او دغه کار يې هغه مهال وکړ چې ستا دا خبره يې واورېده چې دې کليسا ته به زه د عربانو د حج مراسم راړوم، دغه عرب نژاد غصه شو او ستا د کليسا بې عزتي يې په دغې انداز وکړه چې يمني کليسا هيڅکله هم دومره قابل قدر نه شي کېدای چې د بيت الله مقابله پرې وشي.

ابرهه سوګند پورته کړ چې مکې ته به هرومرو ځي او بيت الله (کعبه) به له بنسټه نړوي، ټو ل حبشيان يې دغې معرکې ته چمتو کړل، ځان سره يې فيل هم روان کړ، د ابرهه په دغې کار چې کله هم عرب خبر شول ډېر زيات ګبراو شول او د ابرهه کړې ارادې ته يې په غټه سترګه وکتل، د بيت الله د ورانولو او ويجاړولو څخه د رابندولو په هکله يې ورسره جنګ جګړه ستر جهاد وباله، په يمن کې (ذونفر) د خپلې قوماندې لاندې د يمن د عربانو قبيلې دابرهه پرضد راپورته کړې، او د ابرهه خلاف د جهاد اعلان يې وکړ، زيات شمېر عربانو د د ذونفر قوماندې لاندې د ابرهه په ضد د جنګ مېدان ته ګامونه پورته کړ خو ولې د جنګ پايله د ذونفر په شکست تمامه شوه، او ذونفر يې د ځان سره بندي د مکې په لور روان کړ.

---

(۱) دويته ناسيئ څکه ويلې شي چې د مياشتو حرمتونه به يې تاخيرول، له منى څخه چې به ووتل د بنوکنانه څخه به هلته يو سړي کښېناست او ورته به يې وويل: زه عيب او تور نه لګوم، زما دعا هرومرو قبليږي، تولو به ورته وويل: ته رښتوني يې، له مونږ څخه د محرم د مياشتې حرمت صفر مياشتې ته واړوه، څکه چې مشرکانو به د دريو حرامو مياشو پرله پسې توب غندو چې يرغل به يې پکې نه شو کولای، او حالانکه د هغوی رزق اوخوراکونه په نورو قومونو باندې په بريدونو کې وو.

ابرهه د خپلې موخې د لاس ته راوړنې لپاره مخ په وړاندې روان و چې ناڅاپه د نفيل بن حبيب خثعمي په قيادت د خثعم د قبيلې دوه کندي (شهران او ناهس) د ابرهه پرخلاف د خثعميانو په څمکه ورسره د بيت الله د ويجاړولو څخه د رامنعه کولو لپاره جنګي مهم پیل کړ، خو له بده مرغه د نفيل بن حبيب برخليک شکست او ماتې وه، او د ذونفر په څېر ورته نفيل هم لاس تړلی او بندي راوستل شو، ابرهه نفيل له بند څخه خلاص او په بدل کې به يې ورته د مکې لارې او کږليچونه سمول.

کله چې ابرهه د طائف خاورې ته ننوت، مسعود بن معتّب ورته د ثقيف د قبيلې په مخه ورو کې د استقبال لپاره راووت، او ورته يې وويل: باچا سلامت! مونږ ټول لکه ستا د غلامانو په څېر يو، ستا د هرې خبرې اوريدونکي اوتابعدار يو، ستا سره مو هېڅ راز مخالفت نشته، ته زمونږ عبادت خانه (لات) نه ورانوې، بلکې ته په مکه کې موجود کور ورانول غواړې، ستا د مزيدې مرستې لپاره مونږ کولای شو درسره داسې څوک واستوو چې د مکې لارې کوڅې درته په نښه کړي.

د ې خبرو د اوريدو سره ترې ابرهه صرف نظر شو او ابورغال يې ورسره لارښود وليږدو، کله چې د ابورغال په شمول د ابرهه لښکرې د طائف او مکې ترمنځ (مغمّس) نوم ځای ته ورسېدې، ابو رغال مړ شو چې بيا به په مغمس کې به ټولو عربانو او خلکو د ابورغال قبر په تيګو او کاڼو ويشته.

مغمس ته په رسېدو سره ابرهه د خپلې جنګي قوې په شمول واړوله، او د (اسود بن مقصود) په نوم يې يو حبشي مکې ته واستو، اسود بن مقصود د تهامې د خلکو څاروي راپه مخه کړل چې د عبدالمطلب دوه سوه اوښان هم پکې وو، دغه مهال عبدالمطلب خپله د قريشو مشر، مخه ور اولوي جرګه مار هم و.

قريشو، بنو هذيل، اوبنوکنانه په دې کلک عهد وکړ چې د سختې جګړې له لارې د ابرهه مخه ونيسي خو چې کله په دې وپوهېدل چې د ابرهه د جنګې قواو پرضد يې د زور اوبه په بره نه ځي، بېرته ساړه او قلاره شول.

له دغې لړې وروسته ابرهه يو ځل بيا د (حناطة حميري) په نوم بل نفر مکې ته واستو تر څو د مکې د سيّد او مشر سره ليدل کتل وکړي او د ابرهه فرمان ورته واوروي چې: زه تاسو سره جګړه کول نه غواړم، زما موخه يواځې هم د دغې کور نړول دي، تر څو تاسو خپله زما د موخې د لاس ته راوړنې ترمنځ حائل واقع نه شئ، نو زما هم ستاسو وينو تويولو ته ته هېڅ اړتيا نشته.

او که د مکې مشر مونږ سره د جنګ کومه اراده نه لرله نو زما خوا ته يې راوله.

کله چې د ابرهه استازی حناطة مکې ته ننوت لومړی يې د مکې د سيد او مشرتابه په هکله پوښتنه وکړه، عبدالمطلب بن هاشم ورته په ګوته کړی شو، حناطه ورته د ابرهه د امر سره سم

فرمان واورو، عبدالمطلب ورته کړه: مونږ د ابرهه سره هېڅکله د جنګي ټکراو اراده نه لرو، او نه مونږ د هغه د جنګ وس او توان لرو، دا د الله کور دی او هغه به يې ترې خپله منعه کوي، او دا د هغه د خليل ابراهيم عَلَيْهِ السَّلاَمُ کور دی، که الله پاک يې ترې وګرځوي نو د هغه کور او حرم دی، او که الله پاک يې ورته پرېږدي، مونږ يې د دفاع هيڅ توان نه لرو.

حناطه ورته وويل: سمه ده، د ابرهه د امر سره سم ته زما سره د هغه حضور ته عارض شه، ځکه ما ته هغه امر کړی دی چې د مکې مشرتابه به د جنګ نه کولو په مهال ما ته راولې، عبدالمطلب ورسره د خپلو ځېنو بچو په شمول ولاړ، ان چې د ذونفر سره د هغه د بنديوانۍ په حالت مخامخ شو.

عبدالمطلب وويل: ايا په مونږ باندې د متوقع خطر د لرې مخه نه شې نيولای؟

ذونفر ورته کړه: هغه سړی به د مصيبت مخه څه ونيسي چې پخپله د باچا د بند په ولقه کې پروت دی، د دې معلومات ورته نشته چې سبا او که بېګاه به د مرګ ښکار کيږي؟؟

خو دومره ده د فيل واکوال مې يو اندازه ملګری دی، زه دی سره ستا د راروان مصيبت اړوند خبرې اترې کوم، او انيس (د فيل واکوال) به ستا له قومي رتبې او عظمت څخه هم خبر کړم شايد ستا لپاره د باچا سره د ملاقات او خبرو اترو اجازه وغواړي، او ورته به د خپل توان په اندازه ستا سفارش هم وکړي، عبدالمطلب وويل: ډېره ښه ده.

ذونفر د فيل واکوال انيس ته سوال ځواب وکړ چې عبدالمطلب په مکه کې د قريشو مشرتابه دی، عبدالمطلب هغه هستۍ ده چې په اواره کې خلکو ته او په لوړو کې وحشي ځناورو ته د خوراک څښاک غم کوي، او وس مهال ترې پاچا دوه سوه اوښان ترخپلې ولقې لاندې راوستي دي، لومړی خو د دې لپاره د باچا نه د ملاقات وخت واخله، او ورته د دې لپاره د خير او منفعت نه ډک سفارش او منځګړيتوب هم وکړه.

انيس وويل: ډېره ښه ده، انيس د ابرهه مقام ته حاضر شو او ورته يې وويل: باچا سلامت! عبدالمطلب په مکه کې د قريشو مشرتابه دی، په سمه او اواره کې د خلکو او په لوړو غرونو کې د وحشي ځناورو د خوراک او څښاک، او د لوږې او تندې د درد او غم پالنه کوي، هغه غواړي چې ستا سره خبرې اترې وکړي.

ابرهه ورته د هغه د اړتيا اړوند خبرو اترو اجازه ورکړه.

د قوارې او ښېرې په لحاظ عبدالمطلب ښايسته لوړ او په غوښه ډک انسان و، چې کله هم ابرهه وليد، د وقار او باعزته انسان په سترګه يې ورته وکتل، ابرهه يې د ميلمستيا له کبله دا هم مناسبه ونه ګڼله چې خپله پخپل پالنګ او عبدالمطلب لاندې کښېنوي، او نه يې دا مناسب وليدل چې له خپل ځان سره سره يې د خپل پاچاهۍ په تخت کښېنوي تر څو حبش يې و نه ويني.

ابرهه خپله هم له پالنګ څخه راښکته شو او د پالنګ لاندې په غوړېدلي ټغر یې د ځان سره کېنو، او ترجمان ته یې وویل: ورته ووایه غوښتنې دې پېل کړه.

عبدالمطلب: باچا سلامت، باید ما ته زما دوه سوه اوښان چې دې راڅخه نیولي دي بېرته را کړې!

ابرهه ترجمان ته وویل، ورته ووایه چې: زما په سترګو کې خو ته د یو باچا په څېر ما ته ښکاره، ته د خپلو دوه سوو اوښانو غم راخستی یې او یواځې د هغې اړوند وغږېدې، او هغه کور دې تر شاه کړ چې زه یې د نړولو په خاطر راوتی یم، سره له دې چې دغه کور ستا او ستا د پلار او نیکونو دین هم دی، ولې دې هېڅ ونه ویل او عبث دې پرېښود؟؟

عبدالمطلب وویل: زه د اوښانو څښتن یم، او دغه کور خپل مالک او څښتن لري، هغه یې ورانولو ته نه پرېږدي.

ابرهه وویل: کله هم هغه ما د کور له رانړولو څخه نه شي بندولای. عبدالمطلب ورته وویل: ته او هغه سره پوهه شئ، مونږ مو منځ کې مداخلت نه لرو.

ابرهه د غوښتنې سره سم عبدالمطلب ته خپل اوښان وسپارتل،، عبدالمطلب مکې ته ولاړ، او قریش یې په ټولې کهانۍ وخبرول او ورته یې امر وکړ چې د مکې هر اوسېدونکی دې د غرونو سرونو او لمنو ته د ابرهه له لښکره پناه یوسي، د څه شمېر کسانو په شمول عبدالمطلب کعبې ته نزدې راغی او د دروازې د ستګیر یې ونیو، د ابرهه او د هغه د لښکر د ماتې او شکست دعا یې له الله پاک څخه په ډېرې عاجزۍ سره وغوښته.

عبدالمطلب لا هم هغسې د کعبې د دروازې دستګیر نیولی و او دا شعرونه یې هم وویل:

لاَ هـــمَّ اِنَّ العَبْدَ يَمْنَــعُ رِحْلَهُ فَامْنَــعْ حِلَالِكَ

لاَ يَغْلَـــبَنَّ صَلِيْبُهُـــمْ وَ مِحَالُهُـــمْ غُـــدْوَاً مِحَالِكَ

اِنْ كُنْـــتَ تَارِكُهُـــمْ وَ قِبْلَتَنَـــا فَأَمْرٌ مَـــا بَدَا لَكَ

- په دې کې هېڅ شک نشته چې د کور څښتن د خپل کور نه کلکه دفاع کوي، ای الله! ته د خپل کور نه پخپله د راټولېدونکو خلکو دفاع وکړه.
- سبا دې د هغوی د صلیب زور ستا په زور او قوت غالب نه شي.
- او که ته هغوی ته کعبه د نړېدو لپاره پرېږدې، نو دا به داسې کار وي چې ته به پرې خوشحاله او راضي یې..ستا به خوښه وي.

عبدالمطلب بیا د کعبې د دروازې دستګیر پرېښود او د خپلو ملګرو سره یې د غرونو سرونو ته د ځان ساتنې په خاطر ګامونه پورته کړل، او تر څو ابرهه ووینې چې مکې ته د ننوتو په مهال د مصیبت او چور چپاول لړې په کوم ډول پېلوي.

کله چې د شپې تاريکي ونښوېدې او سهار شو، مکې ته يې د ننوتو لپاره تياري ونيو، د محمود په نوم يې خپل فيل د مکې طرف ته برابر کړ، لښکري يې هم صفونه صفونه سره ودرول، ابرهه غوښتل چې بالاخره هم بيت الله ونړوي او يمن ته په فاتحانه انداز ستون شي،

کوم مهال چې يې فيل د مکې اړخ ته تيار او برابر کړ، نفيل بن حبيب يې غوږ ته نزدې شو او ورته يې وويل: چې له کوم ځايه راغلی يې بېرته هم هلته ستون شه او يا ځای پر ځای ټينګ کېنه، ته د الله پاک په محترم ښار کې يې، د نفيل بن حبيب د خبرې سره فيل په ځمکه کلک کېناست او نفيل خپله د غر سر ته وښوت، دابرهه لښکر فيل په ډېرو دردناکو وهلو و زورو خو فيل مکې ته له ننوتو څخه خپل دريځ لا پسې نور هم ټينګ کړ، فيل يې بالاخره په سرکږې وسپنې ووهو خو فيل هم هغسې کلک ناست و، بيا يې ورله خېټه په خنجرونو تر وينې بهېدو زخمي کړه خو فيل په يو حالت و.

هسې د پاڅولو په خاطر يې د فيل مخ يمن ته کړ، فيل په منډو وهلو پېل وکړ، چې کله يې ورله مخ شام ته کړ بيا فيل منډې ووهلې، خو چې مخ به يې ورله مکې ته کړ بېرته به ځای پر ځای ميخ شو، دوی لا د فيل په چمتو والي بوخت وو چې الله پاک د بحر له اړخ نه د توتکرکو په څېر تور مارغان راوليږدول چې درې کاڼي يې رابار کړي وو، يو يې په خوله (مښوکه) کې او دوه دوه يې په پنجو کې نيولي و، دغه کاڼي د لوبيا او د دالو په څېر وو، چې هر څوک به پرې ولګېد سمدستي به هلاک او مړ شو، هېره دې نه وي چې دغه کاڼو باندې ټول قوم نه وو لګېدلی.

ټولو لښکرو د هغې لارې تالاش پېل وکړ چې په کومې راغلي وو، له ډېرې وارخطايي او د مرګ څخه له تېښتې نه په هر ځای راپرېوتل، په هر ځای کې به دم به دم مردارېدل، ابرهه هم د دغې کاڼو ښکار شوی و، او د دغې کاڼو له کبله مړ هم شو.

ابن اسحاق وايي: چې کله الله پاک محمد ﷺ د خپل رسول په توګه مخلوق ته راواستو، په قريشو يې خپل دغه نعمت هم ورياد کړ چې د دوی د بقاء او د زياتي عمر په خاطر يې د ابرهه لښکرې او د حبشو فوجونه تالا ترغی کړ، الله پاک فرمايي: ﴿أَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصۡحَٰبِ ٱلۡفِيلِ ١ أَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ فِي تَضۡلِيلٖ ٢ وَأَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا أَبَابِيلَ ٣ تَرۡمِيهِم بِحِجَارَةٖ مِّن سِجِّيلٖ ٤ فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٖ مَّأۡكُولِۭ﴾[1].

(۱) سورت فيل: (۱–۵). ژباړه: ايا ته نه ګورې چې ستا رب د فيل په څښتنانو څه وکړل؟ ايا د هغوی ترتيب شوي پراډونه يې تالا ترغې نه کړل؟ او لښکرې لښکرې مارغان يې پرې راوليږدول، او په اور پخ شوي کودنو يې وويشتل، او د حيواناتو د لړشن شوي خوراک په څېر يې وګرځول.

## د نزار بن معد د بچيانو سلسله

(نزار) درې بچيان زېږولي وو: مضر، ربيعة، انمار[1].

(مضر) دوه بچي زېږولي وو: الياس، عيلان.

(الياس) درې بچيان زېږولي وو: مدركه، طابخه، قمعه.

(مدركه) دوه بچيان زېږولي وو: خذيمه، هذيل.

(خذيمه) څلور بچي زېږولي وو: كنانه، اسد، اسدة، هون.

(كنانه) هم څلور بچي زېږولي وو: نضر، مالک، عبدمناة، ملكان[2].

(نضر) دوه بچي زېږولي و: مالک، يخلد.

(مالک) نه بيا فهر پېداشو.

(فهر) څلور بچي وزېږول: غالب، محارب، حارث، اسد.

(غالب) دوه بچي وزېږول: لؤي، تيم.

(لؤي) څلور بچي وزېږول: كعب، عامر، سامة، عوف.

(كعب) درې بچي وزېږول: مرة، عدي، هصيص.

(مرة) هم درې بچې وزېږول: كلاب، تيم، يقظه.

(كلاب) دوه بچي وزېږول: قصي، زهرة.

(قصي) څلور بچيان وزېږول: عبدمناف، عبدالدار، عبدالعزى، عبدقصي.

(عبد مناف) څلور بچي وزېږول: هاشم، عبد شمس، مطلب، نوفل.

## د عبدالمطلب بن هاشم بچيان

ابن هشام وايي: دعبدالمطلب نه لس زامن او شپږ لونې پيدا شوې:

عباس، حمزه، عبدالله، ابوطالب، زبير، حارث، حجلا، مقوم، ضرار، عبدالعزى (ابو لهب) صفيه، ام حكيم (بيضاء) عاتكه، اميمه، اروى، بره.

(۱) ابن هشام د (إياد) په نوم ورله څلورم هم ذكر كړی دی.

(۲) ابن هشام وايي: (نضر) قريش و، د دينه چې څوک پيدا دي ټولو ته قريش ويل سمه ده، او ځينې علماء وايي چې (فهر) قريش و.

## د نبي کریم ﷺ مور او پلار

بیا عبدالله بن عبدالمطلب نه د ټولو مخلوقاتو خیرخواه، د ادم عَلَيْهِ السَّلاَمُ د ټولو بچیانو سردار محمد بن عبدالله ﷺ پیدا شو.

او مور يې امنه بنت وهب بن عبد مناف بن زهرة بن کلاب بن مرة بن کعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالک بن النضر وه.

او د امنې مور بره بنت عبدالعزی بن عثمان بن عبدالدار بن قصي بن کلاب بن مرة بن کعب بن لؤي بن کلاب بن مره بن غالب بن فهر بن مالک بن النضر وه.

په ډاګه شوه چې نبي کریم ﷺ د مور او پلار دواړو له پلوه په نسبي سلسله کې د ټولو بني ادمو څخه بهتر اوغوره دی، له دواړو خواو پرې د شرافت او خیریت تمامه ده.

## د زمزم کوهي کنستنه او له عبدالمطلب سره تاو تریخوالی

عبدالمطلب د کعبې په خواکې ویده و، د زمزم د کوهي د راکنستو اړوند يې خوب ولید، عبدالمطلب وايي: زه د کعبې تر څنګ ویده وم، خوب کې څوک راغی او راته يې وویل: (طیبه) راوکنه، ماورته وویل: طیبه څه شی دی؟ بیرته راڅخه لاړ او هیڅ يې ونه ویل، د تیر په څیر سبا بیا هلته پخپل ځای ویده شوم، بیا راته په خوب کې څوک راغی او راته يې وویل (مضنونه) راوکنه، ما ورته وویل: مضنونه څه شی دی؟ بیا راڅخه ولاړ او هېڅ يې راته ونه ویل، د عادت په څیر بیا سبا په خپل ځای کې ویده شوم په خوب کې څوک راغی او راته يې وویل: (زمزم) راوکنه، ما ورته وویل: زمزم څه شی دی؟ هغه وویل: زمزم داسې اوبه دي چې نه بهیږي اونه خرابیږي، ته به ترېنه ټولو حاجیانو ته اوبه ورکوې، او دغه اوبه د وینې او خوشیانو ترمنځ موقعیت لري، په کوم ځای کې چې سپین کارغه ټونګې وهي[1].

(۱) د روایتونو له مخې داسې ویل کیږي چې عبدالمطلب د مېږانو او د سپین وزري کارغه د ټونګوهنې نښو سره د کوهي په کنستلو د پېل اراده وکړه، خو ولې خوشیان او وینه نه وه، هغه لا ولاړ و چې ناڅهانه له قصاب نه غوا راوتښتېده او عبدالمطلب ته په خوب کې د رسم شوي ځای سره يې راڅملوله او هم هلته يې ذبحه کړه، وینه او خوشیان دواړه ترې د ذبحې په مهال ووتل، سمدستي عبدالمطلب هم د ورته ښودل شوي ځای پرسر د کولنګ خوله کېښوده.

چې کله يې د حقيقت په سترګو هر څه وليدل چې په خوب کې راته خبره په رښتيا توګه شوېده، نو د سبا په ورځ يې کولنګ او جبل راواخست او د خپل ځوی (حارث) په شمول يې دکار پيل وکړ، دغه مهال عبدالمطلب له حارث پرته نور اولاد نه درلود.

چې کله يې کوهی وکنست او عبدالمطلب د کوهي په خوله ورغونده شوې تيګه وليده د تکبير اوازونه يې پورته کړل، د غږ د اورېدو سره سم ټول قريش وپوهېدل چې عبدالمطلب وس خپلې موخې ته ورسېد، ټول قريش راغلل او ورته يې وويل: عبدالمطلبه! دا زمونږ د پلار اسمعيل عَلَيْهِ السَّلاَمُ کوهی دی، ستا په شان مونږ هم د دې کوهي حقدار يو، مونږ د ځان سره شريک کړه.

عبدالمطلب وويل: دغه به هېڅکله هم ونه کړم، زه يواځې په دې فضيلت راته ځانګړتيا راکړل شوې ده.

هغوی وويل: انصاف وکړه، ورنه تر هغه دې نه پرېږدو تر څو درسره لاس ګرېوان نه شو.

عبدالمطلب وويل: که تاسو د پرېکړې لپاره هر څوک درېمګړی پسند کړئ، زه درسره په هغه فيصله کوم.

هغوی وويل: که دې خوښه وي د فيصلې اورېدو لپاره به د هذيم په نوم د بنوسعد کاهنې ته ولاړ شو.

عبدالمطلب: سمه ده، هېره دې نه وي چې دغه ښځه د شام د باندېو په دور دراز علاقو کې وه.

عبدالمطلب د بنو عبدمناف د ځېنو کسانو په ملتيا چې د قريشو له هرې قبيلې څخه ورسره يو يو غړی هم و د شام په لور رهی شول، دغه مهال د مکې او شام ترمنځ پرتې علاقې شاړې دشتې او مېرې وې.

په يوه مېره کې لا روان وو چې د عبدالمطلب او د هغه ملګرو سره د څښلو اوبه ختمې شوې، تر دې حده تږي ستومانه شول چې د تندې له امله يې په مرګ يقين راغی، د قريشو د ځينو قبيلو څخه يې د تندې د ختمېدو لپاره د څښلو اوبه وغوښتې، خو ولې هغوی ورته وويل: لا خو ټول په دشتو او مېرو کې روان يو، که تاسو ته اوبه درکړو شايد د تندې هغه سخته مونږ ته هم ورسيږي چې تاسو پرې اوسمهال اخته ياست، نو مرسته مو نه شو کولای.

عبدالمطلب چې د قريشو کردار وليد د خپل ځان او ملګرو په هکله يې د مرګ څخه وېره محسوس کړه، ملګرو ته يې وويل: وس مو څه رايه ده؟ هغوی وويل: مونږ ستا تابع يو او ستا خبره مو خبره ده، چې څنګه دې خوښه وي، امر کوه.

عبدالمطلب وويل: ما ته خو مناسب دا ښکاري چې د توان په اندازه دې هر يو نفر د ځان لپاره قبر وکني، چې کله هم له تندې ومري، پاتې ملګري به يې پخپل قبر کې ښخ کړي، تر دې چې اخر کې يو نفر پاتې شي، که يو نفر ضائع شي دا به له دې نه ډېره ښه وي چې ټوله قافله ضائع شي.

هغوی وویل: ډېره ښه خبره ده.

هر یو ویاځېد او د خپل ځان لپاره یې د قبر په کنستلو پیل وکړ، او هر یو د مرګ د راتګ په انتظار و، دغه مهال عبدالمطلب بیا خپلو ملګرو ته وویل: د مرګ په کومې کې خپله خپل ځان ورکول او په ځمکه کې د اوبو تالاش او پلټنه نه کول لوی حماقت دی، ځئ چې روانیږو، کیدای شي الله پاک مونږ ته چرته اوبه په لاس راکړي، پاځېږئ او د سفر دورانیه پیل کړئ.

هغو بیا د امر سره سم حرکت پیل کړ، چې څنګه عبدالمطلب سورلۍ ته راغی او ورباندې سپور شو، د ښې خپې لاندې یې چینه راوخټکېده، عبدالمطلب او د هغه ملګرو د تکبیر اوازونه پورته کړل، بیرته ټول له خپلو سورلیو څخه راکیوتل، سورلۍ او ځانونه یې په اوبو ښه خړوب کړل، له دېنه وړاندې د قریشو ټولو قبیلو د دې انتظار ویستو چې عبدالمطلب او ملیان به یې د تندې له لاسه څه کوي؟

عبدالمطلب او ملګرو یې نورو قریشو ته د ځانونو او سورلیو د خړوبولو دعوت هم ورکړ، له اوبو څخه ټول قوم خپل مشکونه او غړکۍ هم ډکې کړې، چې قریشو ځانونه کله ښه خړوب کړل عبدالمطلب ته یې وویل:

زمونږ د اختلاف پای ستا په سلامتیا او زمونږ په ملامتیا پای ته ورسېده، لوړه په رب لایزال چې د زمزم اړوند به درسره هیڅکله د شخړې اراده او میدان ګزي ونه کړو، د دې دښتې او میرې په کندو کپرو کې تا ته د الله پاک اوبه درکونه د دې دلیل دی چې زمزم یې هم درته په ځانګړې توګه درکړیدي، څه خپل زمزم ته دې په امن او اطمئنان ستون شه.

له دې میرې څخه بیرته ټول راستانه شول، او تر کاهنې ونه رسېدل، له دې وروسته قریشو د عبدالمطلب او د زمزمو ترمنځ لاره هواره پرېښوده.

## د عبدالمطلب د خپل ځوی د حلالولو نذر

د زمزم د کوهي د راکنستلو په مهال چې قریشو د عبدالمطلب بن هاشم سره کومه میدان ګزي وکړه، نو عبدالمطلب نذر ومنو چې که الله پاک ورته لس بچي په داسې حالت کې راځلمي کړل چې دفاع یې ورڅخه کولای شوه، نو یو به ترېنه د کعبې خوا ته د الله پاک لپاره ذبحه کوي.

چې کله یې لس بچیان پوره شول او خپله هم په دې ویوهېد چې وس راڅخه کلکه دفاع کولای شي نو بچیان یې راغونډ کړل او خپل منلی نذر یې ورته واورو، او د الله پاک لپاره یې د

نذر پوره کولو ته راوبلل، ټولو بچیانو یې پیروي وکړه او ورته یې وویل: څنګه باید وشي؟ هغه ورته وویل: هر یو دې غشی رواخلي او خپل نوم دې پرې ولیکي، بیا دې زما خوا ته راشي، هغوی هر یو د ځان لپاره غشی راواخست او نومونه یې پرې نویشته کړل او د پلار خوا ته راغلل، پلار یې ټول د هبل بوت په دربار کې وړاندې کړ، او دغه مهال د هبل بوت د کعبې په منځ کې د کوهي په غاړه ایښودل شوی و، او په دې کوهي کې به د کعبې لپاره تحفې او نذرانې جمع کېدې.

د هبل د بوت سره نزدې اووه غشي وو، په یو غشي یې (عقل[1]) لیکلی و، دا غشی چې به په چا راوښوت دیت به یې ورکو.

په بل غشي یې (نعم[2]) لیکلی و، چې کله به هم دا غشی راوښوت نو د کوم کار اراده چې به یې درلوده هغه به یې کو.

په بل غشي یې (لا[3]) لیکلی و، چې کله به دا غشی راوښوت نو د کوم کار اراده چې به یې درلوده هغه به یې نه کو.

په بل غشي یې د (منکم[4]) او په بل یې (ملصق[5]) او په بل یې (من غیرکم[6]) لیکلي و، په بل یې (المیاه[7]) لیکلي و، چې کله به یې کوهی کنستو، چې چرته غشی راووت هلته به یې دکوهي کنستل پیل کړل.

چې کله به یې ماشومان سنتول، یا به یې نکاحونه کول، یا به یې د چا په نسب کې شک او شبهه پیدا شوه، هبل ته به راغلل، سل درهم او اوښان به یې ورته د نذر نیاز وړاندې کړل، او چا چې به غشي وهل هغې ته به یې ورکړل، په چا باندې به یې چې څه اراده لرله هغه به یې د هبل مخ کې نزدې ودر وو، او خپله به یې ویل: ای زمونږ معبوده! دا پلانکی د پلانکي ځوی او مونږ پرې دغه اراده لرو، دې انسان اړوند سمه دمه فیصله وکړه.

بیا به یې د غشو والا ته وویل: غشی دې ووهه، که د (منکم) په نوم غشی به راووت نو سړی به یې سوچه او خالص خپل نسبي و، که د (من غیرکم) غشی به راووت هغه به یې حلیف و، او که د (ملصق) غشی به راووت هغه به په دوی کې پخپلې نسبي رتبې و، چې نه خو به په دوی کې نسب ثابت و او نه به یې حلیف جوړېدای شو، او که د (نعم) غشی به راووت په اراده کړي کار به یې پیل وکړ، او که د (لا) غشی به راووت اراده کړی کار به یې بل

(۱) عقل معنی: دیت.
(۲) نعم: یعني دا کار کول غواړي.
(۳) لا: یعني دا کار نه کول غواړي.
(٤) منکم: یعني دا ستاسو نسبي دی.
(٥) ملصق: دا ستاسو پسې پیوسته دی.
(٦) من غیرکم: دا ستاسو نسبي نه دی.
(۷) المیاه: اوبه.

کال ته تاخير کړ، تر څو دوباره د دغې کار لپاره هبل بيا راشي، لنډه دا چې خپل ټول کارونه به يې د غشو له لارې انجامول.

عبدالمطلب د غشو والا ته وويل: زماد بچو په غشو باندې نصيب معلوم کړه، او د هبل منجور ته يې دخپل نذر لړی هم بيان کړه، هر يو بچي يې مينجور ته خپل خپل غشی ورکړ، او عبدالله چونکه د پلار کشری ځوی و او په ټولو بچو کې ورته ګران هم و، د عبدالمطلب په ذهن کې دې خبرو چکر واهه چې که غشی د عبدالله څخه واوښت، داسې فرض کړه لکه ځوی چې يې نه وي حلال کړی.

دهبل مينجور لا دغشو په وهلو مصروف و او عبدالمطلب د هبل خو اته ولاړ و، او د الله پاک دربارکې يې د سوال زارۍ منګولې نيولې وې، دغشو والا چې غشي ووهل نو په عبدالله راوښوت، عبدالمطلب دنذر د تنفيذ لپاره چاړه راواخسته او عبدالله له لاس څخه ونيو، د ايساف او نائله ترمنځ يې د ذبحې اراده وکړه، سمدستي د قريشو مخور او جرګه مار راغلل، خپلو بچو او راغلو مشرانو ورته وويل: چې عبدالله هيڅ کله هم نه شې حلالولې، ځکه ستا نه وروسته به دا سنت جوړ شي چې د چا هم بچي کيږي يو نارينه به ترې نذراً ذبحه کوي تر دې چې هيڅ خلک به پاتې نه شي.

مغيره بن عبدالله بن عمرو بن مخزوم چې د دوي خورى هم کېده عبدالمطلب ته وويل: ته هيڅکله عبدالله نه شې ذبحه کولې، که عبدالله زمونږ د شتمنيو په فديه هم خلاصيدای شي مونږ يې فديې ورکولو ته چمتو يو.

قريشو او خپلو بچو يې هم ورته وويل چې د عبدالله په شمول حجاز ته ولاړ شه هلته ښځينه عرّافه ده او هغه خپل پيريان لري، له هغې څخه دخپل نذر اړوند وپوښته بيا ته پوهه شه او کار دې، که يې درته وويل چې حلال يې کړه نو حلال به يې کړې او که د بچاو ګنجائش يې درته په ګوته کړ نوترې قبول به يې کړې.

هغوی ټول راروان شول تر دې چې ښځه يې په خيبر کې پيدا کړه، عبدالمطلب ښځينه عرافې ته دخپلې کهانې لړۍ پيل کړه، او بيا يې ورته نذر اود ځوی د ذبحه کولو واقعه هم واوروله.

ښځينې عرافې ورته وويل: زما پيرې نن چرته تللی دی، چې سبا راشي زه به ترې پوښتنه وکړم، د سبا د ورځې د ورتګ نه مخکې عبدالمطلب د الله پاک نه ډېر سوال زاري وکړه تر څو يې ځوی له ذبحه څخه بچ او سالم پاتې شي، کله چې د سبا په مهال قريش ښځې ته راغلل، ښځې ورته وويل: ستاسو اړوند راته معلومات حاصل شول، ستاسو د مړي ديت څومره دی؟ دوی ورته وويل لس اوښان. ښځې عرافې ورته وويل: په عبدالله او لسو اوښاو باندې غشی ووهئ که په عبدالله غشی راووت لس اوښان پسې نور هم اضافه کړئ، اوکه په اوښانو راوښوت نو

نزدې خپل معبود ته يې ذبحه کړئ، او ستاسو معبود به هم له ستاسو نه خوشحاله وي او غړی به مو هم نجات بيامونديې.

د ښځينې عرافې له خوا نه راووتل او د مکې په لور روان شول تر دې چې مکې ته راورسېدل، بيا چې کله د هبل خوا ته راغلل او عبدالمطلب د سوال زاری لپکی الله ته پورته کړې تر څو غشی په اوښانو راوخيژي، څه ګوري چې غشی بيا په عبدالله راوښوت، لس اوښان يې نور زيات کړل دا مهال د اوښانو شمېر شلو ته ورسېد، عبدالمطلب بيا د سوال زاری لپکی الله ته پورته کړې غشی بيا په عبدالله راوښوت لس اوښان يې نور پسې زيات کړل اوښان دېرشو ته ورسيدل، عبدالمطلب بيا د الله پاک نه سوال زاري شروع کړه ګوري چې غشی بيا په عبدالله راوښوت لس اوښان يې پسې نور هم اضافه کړل اوښان څلويښتو ته رسيدګي وکړه، عبدالمطلب بيا د الله پاک دربار کې لاسونه پورته کړل غشی بيا په عبدالله راوښوت، لس اوښان يې پرې نور هم زيات کړل دا مهال د اوښانو شمېر پنځوسو ته ورسېد، عبدالمطلب لا هم هغسې الله پاک ته په سوال زاری ولاړ و چې غشی بيا په عبدالله راوښوت، لس اوښان يې نور هم اضافه کړل او اوښانو شمېر دا مهال شپېتوو ته ورسېد، عبدالمطلب د الله پاک نه د خپلو غوښتنو اړوند بوخت و چې غشی بيا په عبدالله راوښوت لس اوښان يې پسې نور اضافه کړل د اوښانو شمېر دا ځل اوياو ته ورسېد، بيا عبدالمطلب هم هغسې د سوال زاری په کيفيت کې و چې غشی بيا په عبدالله راوښوت لس اوښان يې پسې نور هم اضافه کړل دا وخت د اوښانو شمېر اتياو ته ورسېد، عبدالمطلب بيا د الله پاک نه د سوال زاری لړی پېل کړه ګوري چې غشی بيا په عبدالله راوښوت لس اوښان يې پسې نور هم زيات کړل دا ګړی د اوښانو شمېر نوي ته ورسېدل، عبدالمطلب لا د الله پاک نه سوال زاري کوله چې په لسم ځل بيا غشی په عبدالله راوښوت لس اوښان يې پسې نور هم اضافه کړل، دا مهال د اوښانو شمير سلو ته ورسېد، عبدالمطلب هم هغسې د الله پاک نه د خير غوښتنه کوله چې څه ګوري غشی په اوښانو راوښوت، قريشو او ټولو حاضرينو عبدالمطلب ته وويل چې نور بس دی، ستا رب له تا څخه راضي شو!!

داسې ويل کيږي چې عبدالمطلب وويل: په الله قسم که دې باندې بسنه وکړم تر څو درې ځل په اوښانو د غشي راوتل تکرار نه شي.

په عبدالله او اوښانو يې بيا غشي بازي وکړه نو غشی په اوښانو راوښوت، عبدالمطلب دتېر په څېر په دعا او خير غوښتنې بوخت و چې غشی بيا په اوښانو راوښوت، په دريم ځل بيا غشی په اوښانو راوښوت.

ټول اوښان يې ذبحه کړ او هر چا کولای شول چې استفاده ورڅخه وکړي.

## کوم مهال چې امنې بي بي په نبي کريم ﷺ حمل واخست

د خبر راويان داسې انګېروي چې امنه بنت وهب چې کله په رسول الله ﷺ امېدواره شوه وايي: هغه چې کله په رسول الله ﷺ امېدواره شوه راوستل شوه او ورته وويل شول: ته د دې امت په لوی او ستر مخور انسان باندې امېدواره يې، چې کله دې هم وزېږو دا کلمات به ووايې: د هر حاسد او کينه ګر انسان د شر نه د الله پاک پورې د دې پناه نيسم! او بيا به يې په محمد ونوموې[(۱)] او چې کله يې پرې حمل واخست نو د مور نه يې رڼا ووته چې په شام کې يې پرې د بصرى د ښار ماڼۍ وليدې.

بيا يې ډېر کم وخت پلار ژوندى و چې مړ شو او مور يې په ده حامله وه.

## د نبي کريم ﷺ زېږدنه

نبي کريم ﷺ د فيل د واقعې په کال د ربيع الاول د مياشتې په دولسمه ورځ د دوشنبې په ورځ زېږېدلى دى.

قيس بن مخرمه وايي: زه او رسول الله ﷺ دواړه په يو کال (د فيل په کال) زېږېدلي يو، زه او هغه سره دواړه همزولي يو.

حسان بن ثابت رضي الله عَنْهُ وايي: زه لوړ قدى اووه يا اته کلن هلک وم، د خبرې د اورېدو سره به په خبره پوهېدم، په يوه قلعه کې مې له يهودي څخه تر غوږ شول چې په لوړ اواز يې وويل:

اى يهودانو!! ټول يهودان ورته راغونډ شول او ورته يې وويل: ولې څه دروشول؟ هغه ورته کړه: نن شپه د احمد ستورى راښتلى و.

بيا چې کله يې مور وزېږو نو عبدالمطلب پسې يې استازى واستو چې راشه او لمسي دې پيدا شوى دى، لمسي ته دې وګوره.

(۱) په دې نوم باندې د رسول الله ﷺ نه مخکې درې کسان نور هم نومول شوي وو، هغه هم کله چې پلارانو دنوى پيغمبر په راتګ خبر شول په دې اميد چې دغه پيغمبر به زماڅوى وي په محمد يې ونومول، ځکه داسې به ويل کېدل چې دغه پيغمبر په حجاز کې راځي، يو يې محمد بن سفيان بن مجاشع چې دفرزدق شاعر د نيکه نيکه و، دوهم محمد بن احيحه بن الجلاح، دريم محمد بن حمران بن الربيعه، د دغي درېواړو پلاران د انجيل د علماوو سره مخامخ شوي وو او هغوى ورته ويلي وو چې نژدې به د محمد ﷺ په نوم له حجاز نه پيغمبر راشي، او له درېواړو نه خپلې خپلې بي بيانې امېدوارې پاتې شوې وې، او درې واړو وصيت کړى و چې که هلک بچى يې پيدا شي په محمد به يې ونوموي، او همدغسې وشول.

هغه راغی او ورته یې وکتل، امنې هم ورته د حمل په وخت د نور او رڼا د وتلو قیصه، او بیا د زېږېدلو په مهال ورته د الله پورې د حاسدینو د شر نه پناه غوښتنې لړې، او په محمد یې نومولو واقعه ولوسته، راویان داسې انګیروي چې عبدالمطلب واخست او کعبې ته یې یوړ، له الله پاک څخه یې ډېره شکریه ادا کړه چې لمسی یې ورته ورکړ.

عبدالمطلب بېرته امنې بي بي ته بچی وسپارت، او دایي (تېکرو) ښځو په لټنه یې پیل وکړ، تر دې چې په بنو سعد کې ورته د حلیمه بنت ابي ذؤیب په نوم زنانه د خپلې سینې شیده ورکړل.

## د حلیمې قیصه

حلیمه وايي: چې دخپل خاوندپه شمول د غیرې ورکوتي بچي (عبدالله بن الحارث بن عبدالعزی) سره د خپلې بانده چنې علاقې نه د ماشومانو ته د تې ورکولو د پلټنې لپاره راووتو چې ورسره دبنو سعد د قبیلې نورې دایانې (تېکرې) هم وې، په دغه کال کې د وچکالی له کبله د هېڅ شي درک مونږ سره نه و، زه هم پخپلې سوربخنې خرې باندې په داسې حالت کې سپره ووتم چې زمونږ اوښې څاڅکی شېده هم نه کول، د خپل ځوی د ولږې د ژړا فریاد نه مو دغه شپه په ارامه سترګې پټې نه کړې، نه ما کې دومره شیده و چې هغه پرې موړ شوی وای، او نه په اوښه کې شېده و چې هغې ته مې ورکړی وای، خو د دغې تنګې سختې سره سره بیا هم مونږ د ارام او سوکالی او د باران څخه نا امیده نه وو.

ما خپل د سفر ملګرې د خپلې خرې د ډېرې کمزورتیا له امله د سفر په دوران کې د یو لړ مشقت سره هم مخ کړل، خو روان وو تر څو مکې ته په تنګی سختی ورسېدو، او د رضاع لپاره مو د ماشومانو په پلټنه پیل واچوو، زما نه وړاندې نبي کریم ﷺ هرې دایي (تېکرې) ته وروړاندې شوی و خو د یتیم ولی له کبله ترې ټولو مخ اړولی وو، ځکه چې د رضاعت په بدل کې مونږ د بچي له پلار څخه مزدوري اخسته، او چې پلار به یې نه و نو د مور او نیکه نه به مو ورله د خیر څه طمعه توقع نه کوله، له ما پرته نورو ټولو تېکرو ماشومان پیدا کړې وو خو ما ته کوم ماشوم په لاس رانغی، چې کله بېرته مو کور ته د تګ اراده وکړه نو ما خپل خاوند -حارث بن عبدالعزی- ته وویل: لوړه په خدای چې که د همزولو ترمنځ کور ته خالي غېږه ستنه شم، دغه یتیم ولې نه دی خو زه یې راخلم، هغه راته وویل: څه ورشه، هېڅ خبره نشته، یتیم راواخله کېدای شي الله پاک ورېکې زمونږ لپاره خیراو برکت واچوي.

حليمه وايي: زه لاړم او يتيم مې په دې خاطر غېږ ته راپورته کړ چې بل څوک مې پيدا نه کړ، چې خپلې دمه ځای ته کله لاړم او هلک مې سينې ته واچو نو ډېر زيات شېده راپکې راغلل، دی خپله هم دومره شېده وخوړل چې موړ شو او بيا مې د هغه ورور ته شېده ورکړل هغه هم دومره وخوړل چې په پوره توګه پرې موړ شو، دواړه مې له مړښت څخه ورسته ويده کړل، هېره دې نه وي چې له دغې شپې نه مخکې مو هېڅ شپه په ارام نه وه تېره کړې.

زما خاوند اوښې ته ورپاڅېد څه ګوري چې غلانځه يې له شيدو څخه ډکه ده، او ښه يې ولوشله، هغه هم د شېدو په څښولو موړ شو او زه هم د شېدو په څښلو مړه شوم، شپه مو هم په ډېره زياته ارام او راحت سره تېره کړه.

حليمه وايي: د سهار په مهال راته همځولو وويل: د خير او برکت نه ډک ساه کښښ دې تر لاسه کړ! ما ورته وويل: د الله پاک نه مې همدغه طمع توقع ده.

بيا مو له مکې څخه سفر پيل کړ او محمد ﷺ مې له ځان سره پخپلې خرې غېږه کې سپور کړ، لوړه په رب لايزال چې زما خرې به زياته مسافه په لږ وخت کې په ډېره چټکې سره وهله، او د نورو همزولو ښځو سورلۍ به راته نشوې رارسېدلې، تولو به راته ويل: د ابن ابي ذؤيب لورې! مونږ ته لږه خپه نيولې شه، ايا دا ستا هغه کمزروې خره نه وه چې له کور څخه پرې راسپره شوې وې؟

ما ورته کړه: ولې نه!! هم هغه خره ده خو...!

هغوی وويل: دا خو ډېره زياته تېز رفتاره شوې ده! تر دې چې بنو سعد کې خپلو کلو کورونو ته راورسېدو.

د سهار په مهال به مو خپلو وچو کړسو ميرو ته څاروې بوتلل چې د ځمکې په مخ به بله دغسې وچه کړسه مېره نه وه، که به چا څه هم د سختريزې وچکالۍ له کبله له غلانځې شېده نه شول لوشلی، خو مونږ ته به مو څاروې هر ماښام ډکې غلانځې راتلل او دغه شېدې به مو څښلې.

هر چا به خپلو شپونکو ته ويل: غرق شئ!! د ابن ابي ذؤيب د لور شپونکي چې رمه کوم څړځای ته بوځي تاسو يې هم هلته بوځئ.

د دغې سره سره به بيا هم د هغوی رمۍ تشې غلانځې راستنېدې او زما د هغې به غلانځې له شېدو نه ډکې وې.

هره ورځ به راته د الله پاک له خزانې نوې نوې برکتونه او خيراتونه راتلل تر دې چې دوه کاله يې پوره شول او له سينې څخه مې وشکو.

ورځ تر ورځ به د نورو ماشومانو په پرتله ډېر غټېده، د دوه کلنۍ په موده کې تکړه او مضبوط ماشوم و، دوه کاله وروسته مې بېرته مور ته راوست خو د زياتو برکتونو له کبله مې زړه نه کېده چې ماشوم دې په مکه کې پاتې شي، دا چې بېرته يې دوباره خپل کور ته بوځم، مور ته مې ورله وويل: داسې نه چې د مکې رنځونه ماشوم خراب نه کړي، مور يې بېرته د لېږدلو لپاره راسره راضي شوه، بنو سعد ته د دوو مياشتو له راستنېدو وروسته زمونږ دکور تر شا يې د خپل ورور سره رمه څروله، څه ګورو چې ورور يې په ساه تيګاه کور ته راننوت، ما او پلار ته يې وويل: دوه سپين پوښاکه سړي راغلل او زما قريشي ورور يې تکيه کړ او خېټه يې ورله وڅيرله، وس لګيا دي د بدن غړي يې يو په بل وهي.

زه او د هلک پلار توند او چټک لاړو، څه ګورو چې هلک بې دمه ولاړ او رنګ يې تک ژېړ تختېدلی دی، ما او پلار يې سينې ته راجوخت کړ او ورته مووويل: څه پېښه وه؟ څوک؟

هغه وويل: دوه سپين پوښاکه سړي راغلل په ډډه يې واچولم او خېټه يې راله دوه پړقه کړه، زه وه نه پوهېدم چې د څه تالاش يې پکې کوو؟!

د وېرې سره مو کور ته روان کړ، خاوند مې راته وويل: حليمې! شايد په دې کې پيريان وي، وړاندې له دې چې پيريان پرې راښکاره شي پخپل کور يې وسپاره.

چې خپلې مور ته مو کله راوست راڅخه يې وپوښتل: تېګرې ولې؟ څنګه دې له تاکلې مودې مخکې راوست؟ تا خو ويل چې تر ډېره موده به ما سره وي؟؟

ما ورته وويل: د څېنو ستونزو څخه پرې وېرېدم، او ستا د مرضی سره سم مې درته حواله کړ.

مور يې وويل: خبره دا نه ده، حقيقت بدل دی، خبره به رښتيا رښتيا کوې.

حليمه وايي: مور يې نه پرېښودم تر دې چې ټوله لړي مې ورته واوروله.

مور يې: له شيطانانو څخه پرې و ډار شوې؟

ما وويل: هو.

مور يې وويل: شيطان هيڅکله هم دېته لاره نه شي موندی، زما ځوی لوی او بې سارې عظمت لري، د دې له عظمته دې خبره کړم؟

ما ورته کړه: هو، ولې نه!

هغې وويل: ما چې کله په دې حمل واخست زما څخه رڼا ووته او د بصرى د ښار ماڼۍ مې پرې وليدې[1].

او بيا د حمل په مهال مې پرې هم هيڅ تکليف نه دی محسوس کړی، او د زوکړې په مهال

(۱) بصرى وسمهال د دمشق ښار دی.

هم دی داسې وزرېد چې لاسونه يې په ځمکه اينښې وو، او اسمان ته يې سر پورته کړی و، مه ويرېږه او کور ته دې ښه په ډاډ ستنه شه.

## د سينې څيرنه

ابن اسحاق وايي: ثور بن يزيد راته د ځينو علماوو څخه روايت وکړ، زما په خيال چې د خالد بن معدان الكلاعي څخه يې راته نقل وکړ چې د نبي کريم ﷺ ځينو ملګرو يې ورته وويل: ای د الله پيغمبره! د خپل ځان اړوند راته ځينې معلومات راکړه، هغه ورته وويل: ولې نه، زه د خپل پلار ابراهيم عَلَيْهِ السَّلاَمُ دعا يم، د خپل ورور عيسی عَلَيْهِ السَّلاَمُ زيری يم، زما مور چې کله په ما باندې حمل واخست، نو يوه رڼاترې ووته او په شام کې يې د بصری د ښار ماڼۍ پرې وليدې، او په بنو سعد بن بکر کې راته د سينې شېده راکړل شويدي.

هلته مې يوه ورځ د کور تر شا د خپل ورور په ملتيا رمه څروله، دوه سپين پوښاکه سړي راغلل او د واورې نه ډک د سرورزو لوښی ورسره و، دواړو ونيولم او خيټه يې راله وځيرله، زړه يې ترې راوويست او دوه پرقه يې کړ، توره توکره يې ترې راوويسته او ويې غورځوله، زما زړه او خيټه يې په همدغې واورې ووينځل تر څو ښه يې پاک او صفا کړ، يو دی بل ملګري ته وويل: د لسو کسانو امتيانو سره يې وزن کړه، زه يې ورسره وزن کړم نو زه پرې درون شوم، بيا يې ورته وويل: د دې امت د سلو کسانو سره يې وتله، بيا يې د سلو کسانو سره وتللم زه پرې درون شوم، بيا يې ورته وويل: د زرو کسانو سره يې وتله، د زرو کسانو سره يې وتللم په هغوی هم درون شوم، نو هغه ورته وويل: پرېږده، که د ټول امت سره يې هم وزن کړې دا پرې درنيږي.

## د نيکه په څارنه کې

نبي کريم ﷺ لا هم هغسې د خپلې مور امنه بنت وهب او د نيکه عبدالمطلب بن هاشم سره د الله پاک په ساتنه کې و، ورځ تر بلې به الله پاک په عجيب او غريب او ښايسته انداز رالوی کو، تر څو يې الله پاک په خپلو کرامتونو ونازوي.

چې کله هم نبي کريم ﷺ شپږ کلن شو مور يې د (ابواء) نوم مقام د مکې او مدينې تر منځ وفات شوه، هغه مدينې ته د نبي کريم ﷺ د ماماګانو بنو عدي بن النجار د ملاقات لپاره تللې وه، او بېرته مکې ته د راستېندو په حالت کې وفات شوه.

د مور له مړینې وروسته نبي کریم ﷺ تر اته کلنې پورې د خپل نیکه عبدالمطلب بن هاشم تر څارنې لاندې و، د کعبې د سیورې لاندې به د عبدالمطلب لپاره د ناستې ځانګړې انتظام او بندوبست کېده، د ډېر تعظیم او احترام له مخې به يې یو څوک هم په تیار شوي پالنګ نه کېناست، بلکې شاوخوا به ترې کېناستل تر څو عبدالمطلب راووځي، نبي ﷺ چې په کوچنېتوب کې هم چست چالاکه او تونده ګرندی و، د عبدالمطلب له راتلو مخکې به په پالنګ هم کېناسته، ترونو به يې زیار ویستو چې یا خو يې په پالنګ له ناستې څخه رابند کړي او یا يې هم د پاڅولو بله کومه لار وسنجوي، عبدالمطلب چې به کله خپل زامن ولیدل چې نبي کریم ﷺ له پالنګ څخه رابندوي ورته به يې ویل: زما څوی پرېږدئ، دا د لوړې مرتبې څښتن دی.

بیا به يې د ځان سره په پالنګ کېناوه، او له ډېرې مینې به يې ورله په شا لاس راښکو، په ډېرې خوشحالۍ به يې ورله د کوچنیتوب لوبې او مشغولتیا استقبالوله.

د فیل کال نه وروسته د نبي کریم ﷺ اته کلنۍ موده کې عبدالمطلب هم ومړ.

## نبي کريم ﷺ دخپل تره په څارنه کې

نبي کریم ﷺ د نیکه نه وروسته د خپل تره په څارنه کې و.

بنو لهب قوم[۱] چې په پال کې ډېر زیات مشهور وو په دوی کې یو سړی و، کله چې به مکې ته راغی قریشو به ورته خپل ماشومان بچي د راروانو حالتونو د پېژندلو په خاطر راوستل، ابو طالب هم ورته نبي کریم ﷺ راوست، دغه مهال مذکوره عَيَّاف سړی په بل څه بوخت شو، خو چې کله هم وزګار شو ویویل: دلته چې ماشوم و څه شو؟ چابک يې راولئ، ابوطالب چې د یاد سړي باربار تکراري کلمات واورېدل ورڅخه يې پټ کړ، او عیاف به په یو اواز ویل: غرق شئ!! ما چې وس ولیدل هغه هلک راولئ، هغه د بې مثاله رتبې څښتن دی!!

## د بحيرا قيصه

ابو طالب غوښتل چې شام ته د تجارت په کاروان کې ګډون وکړي، د سفر لپاره چې يې چمتوالی ونیو نبي کریم ﷺ ورپورې کلک ونښت، په فراق يې د ابوطالب زړه هم درمند شو، سمدستي يې وویل: لوړه په رب کائنات چې هرومرو به دې د ځان سره بیایم، نه خو به تا له

(۱) دوی په پالګرۍ کې خورا مشهوره قبیله وه.

ځان څخه او نه به ځان له تا څخه جلا کړم، هغه و چې په تجارتي کاروان کې يې د ځان مل کړ، روان وو چې په شام کې د بصرى نوم ښار ته ننوتل، د بحيرا په نوم راهب چې دغه مهال لا پخپلې عبادتخانه کې په عبادت بوخت و، او د دغې وخت د نصرانيت د علم انتها هم دې ته وه، له بحيرا څخه وړاندې په دغې صومعه کې بل راهب لا نه و شته شوى، رهبانيت او د انجيل علم د بحيرا راهب کورنۍ مشغله وه چې خپلو مشرانو پرې روزلى و، د قريشو تجارتي کاروان به هميشه په دغې لار تلو راتلو، نه خو به دغې راهب ورسره خبرې کولې او نه به يې ورته د چاى ډوډۍ ست کو، په دغه کال د قريشو تجارتي کاروان د صومعې تر نزدې دمه ځاى کې واړوله، راهب ورله د ميلمستيا په خاطر خواړه هم تيار کړل.

د قريشو د تجارتي کاروان دنظر له مخې بحيرا راهب نبي کريم ﷺ د قريشو په تجارتي کاروان کې په داسې حالت کې وليد چې د لمر څخه پرې وريځې سيورى کيدې، هغه لا د قوم په منځ کې روان دى چې د راهب د صومعې تر نزدې ونې لاندې يې دمه واخسته نو وريځو ونه او نبي ﷺ دواړه سيورى کړل، دونې څانګې او پاڼې هم په نبي ﷺ باندې راښکته شوې، نبي ﷺ يې د سيورې لاندې ساه واخسته، د بحيرا راهب د حالاتو د ليدو سره سم ټولو قريشو ته سوال ځواب وکړ چې ما ستاسو د ميلمستيا په خاطر خوراک تيار کړي دى، هيله ده چې تاسو ټول، ستاسو کشر او مشر، ازاد او غلام ټول بايد دعوت قبول کړئ.

يو قريشي وويل: عجيبه خبره ده!! له ډېرې مودې راهيسې مونږ په دې لارې ځو راځو هيڅکله دې هم راته د دمې ست نه دي کړى او نن دې راله دومره ميلمستيا تياره کړه؟ خير خو دى؟ ولې؟

بحيرا وويل: هو همدغسې ده اوسمهال تاسو ميلمانه ياست او زه په دې خوښ يم چې تاسو په ښه ميلمستيا ونازوم، تر څو تاسو ټول زما ميلمستيا وخورئ.

ټو لو قريشو دعوت ته حاضري ورکړه خو د کشرولۍ له کبله نبي کريم ﷺ د ونې د سيورې لاندې له دعوت څخه پاتې شو.

په حاضر شوو خلکو کې چې کله بحيرا ته په معلومو صفتونو نبي کريم ﷺ تر سترګو نه شو ويويل: اى قريشو! زما له دعوت څخه دې هيڅ څوک هم نه پاتې کيږي.

قريشو وويل: د کشرولۍ له کبله يو ماشوم پاتې شوى دى ورنه نور ټول کاروان ستا دعوت ته حاضري ورکړېده.

بحيرا وويل: دغسې کار بايد هېڅکله ونه شي، هغه دې هم دعوت ته ستاسو په څېر حاضري ورکړي.

د بحيرا په ميلمستوب کې يو قريشي وويل: په لات او عزى مې دې قسم وي زمونږ سره په ملګرتيا کې د محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب د ميلمستيا د دعوت څخه ياتې کېدل د حيرت او ملامتيا... او څه بل ډول کار دى؟

کله چې يې نبي کريم ﷺ خوراک او څښاک ته حاضر شو، د بحيرا سترګې په هغه کې ميخ شوې، په دمه دمه يې ورله د بدن يو يو غړی په نظر کې ونيو.

کله چې ټول خلک له دستارخوان څخه پاڅېدل، د خوراک اوڅښاک مهم پای ته ورسېد، بحيرا نبي کريم ﷺ ته ورنږدې شو او ورته يې وويل: د لات او عزی په خاطر چې د څه باره کې درڅخه پوښتنې کوم بايد سم دم ځواب راکړې، بحيرا ورته د لات او عزی نوموونه ځکه په قسم کې کېښودل چې وړاندې ورباندې د هغه په مخکې قريشي لوړه پورته کړه.

هغوی داسې انګېروي چې نبي کريم ﷺ ورته وويل: په خاطر کې راته د لات او د عزی نوموونه مه بړده، لوړه په رب کائنات چې د دغې دواړو نه راته بل هېڅ شی ډېر مبغوض ترين نشته، بحيرا ورته وويل: د الله په خاطر چې د څه شي اړوند چې درڅخه پوښتنه کوم بايد سم دم ځواب راکړې.

هغه ورته وويل: پښتنو ته دې ادامه ورکړه.

بحيرا ورڅخه د هغه د خوب، د هغه د ژوند ژواک اړوند ټولو چارو په هکله پوښتنې شروع کړې، او نبي کريم ﷺ به يې پوښتنې ځوابولې، دغه ټول ځوابونه به د بحيرا د ادراک کړې صفتونو سره سمون خوړو، بيا بحيرا د پېژندلي صفت سره سم دنبي کريم ﷺ د وولو منځ وکتو، څه ګوري چې د نبوت مهر يې ترمنځ لرېدلی دی.

د دغې لړې د پای ته رسېدو نه وروسته بحيرا ابوطالب ته مخ واړو، او ورڅخه يې وپوښتل چې دا دې څه کېږي؟

ابوطالب: دا زما ځوی دی.

بحيرا: دا هېڅکله هم ستا ځوی نه شي کېدای، او نه د دې هلک سره ښايي چې پلار يې ژوندی وي.

ابوطالب: دا زما وراره دی.

بحيرا: پلار يې څه کول؟

ابوطالب: پلار يې لا مړ و او مور يې پرې اميدواره وه.

بحيرا: رښتيا دې وويل: بېرته په ارام او سم دم دې وراره خپل کلي ته ستون کړه، د دې اړوند له يهودو څخه په ډېر احتياط کې ووسه، لوړه په رب لا يزال که يهودانو دا وليد او په هغه صفتونو يې وپېژند چې ما پرې وپېژند هرومرو به پرې د شر اراده ولري، ستا وراره د لوی شان او د عظيمې مرتبې څښتن دی.

ابوطالب بېرته په ډېره تونديٍ نبي کريم ﷺ مکې ته راستون کړ.

# د فجار شخړه

نبي كريم ﷺ لا د شلو كالو په موده كې و چې د فجار د جنګ غېږې نه د اور لمبې پورته شوې(۱).

دغه لړايي په فجار ځكه شهرت لري چې وريكې (كنانه) او د (قيس عيلان) قبيلو ديني محارم د خپو لاندې كړل.

په دغې جنګ كې د قريشو او د كنانه جنګي سالار (حرب بن اميه) و، د ورځې په لومړيو كې كنانه مغلوب او د قيس عيلان قبيله برلاسې وه، خو د ورځې په نيمه كې قيس عيلان بېرته مغلوب او كنانه قبيله وروباندې برلاسې شوه.

# د نبي كريم ﷺ خديجه باندې نكاح

خديجه بنت خويلد رضي الله عَنْهَا اصيله نسبي، د عزت څښتنه او تاجره ښځه وه، د قريشو خلكو ته به يې خپله شتمني د ټاكلي مزدورۍ په بدل وركوله، د قريشو قبيله دغه مهال لا د تجارت په مشغله بوخته وه، چې كله خديجې رضي الله عَنْهَا ته د نبي كريم ﷺ د رښتيا، امانتدارۍ، نيک اخلاق، د سړي وښ په جامه كې انساني رويه، عادت او نور د نيكو صفتونو جريان تر غوږ ورسيد، نو خپل ماليت كې د تجارت كولو لپاره يې ورپسې استازې واستو، تر څو شام ته تاجر ولاړ شي، او دنور تجارانو په پرتله به ورته زياته بدله او ګټه وركړي، او د خديجې غلام ميسره به ورسره د سفر ملګرى وي.

نبي كريم ﷺ له خديجې رضي الله عَنْهَا څخه د تجارت اړوند غوښتنې قبولې كړې، او د ميسرة په شمول د شام په لور وتښتېد، تر دې چې شام ته ورسېدل.

(۱) ابن هشام ذكر كوي چې نبي كريم ﷺ هم د فجار د جنګ ځينې ورځې پخپل حضور مصروفه كړې وې، خپلو ترونو يې د ځان سره وېستلى و، نبي كريم ﷺ پخپله فرمايي: [كُنْتُ أَنْبُلُ عَلَى أَعْمَامِيْ] ما به مې ترونو ته د دښمن له پلوه راويشتلي غشي وروړل.

هېره دې نه وي چې دا وروستنى فجار و او په (فجار البراص) نومول كېده، له دېنه مخكې درې نورې شخړې هم تېرې شوې وې، لومړې شخړه يې د كنانه او د هوازن ترمنځ وه، دوهمه د قريشو او د هوازن ترمنځ، دريمه د كنانه او د هوازن ترمنځ وه، عقد الفريد او الأغاني كې د دې جنګونو ياد په تفصيلي ډول ذكر شوى دى.

د يو راهب[۱] د عبادتخاني نزدې ونې ته نبي كريم ﷺ دمه واخسته، راهب ميسره ته رانزدې شو او ترينه يې وپوښتل: دا سړی څوک دی؟ ميسره ورته وويل: دا د حرم څخه يو قريشي دی، راهب وويل: له نبي پرته له دې ونې لاندې نور څوک دمه نه كوي.

بيا نبي كريم ﷺ له مكې څخه وړلې توكې وپېرودې، او د مكې لپاره يې دنورو شيانو پلورلو ښه انتخاب هم وكړ، او مكې ته بېرته په تجارتي كاروان كې راستون شو، ميسره هم حيرت لاهو كړی دی چې كله هم د ماسپښين په مهال ګرمي سخته شي، څه ګوري چې دوه ملائكې ورباندې له ګرمۍ څخه سيوری كوي، او دا هم هغسې پخپل اوښ روان وي.

بيا چې كله نبي ﷺ خپل ټاټوبي (مكې) ته راورسېد په شام كې پېرودلې توكې يې په مكه كې وپلورلې، نزدې راس المال ته قريبه ګټه يې ترلاسه كړه.

يواځې دا نه بلكې ميسره خديجې رضي الله عَنْهَا ته د نبي كريم ﷺ په هكله د راهب (نسطورا) په مستقبل كې د نبوت خبره هم وكړه.چونكه خديجه رضي الله عَنْهَا خپله زياته هوښياره، ځيركه، او په عقل پوره ښځه وه، او الله پاک يې مزيد نور هم د سعادت او هدايت اراده كړېوه، د نبي كريم ﷺ پسې يې استازی واستو چې د تره ځويه! زما او ستا ترمنځ د قوميت له نګاه نه هم او بېرته په قوم كې ستا سره د قربت او د شرافت، ستا د امانتدارۍ او د نيكې رويې له كبله مې تا ته ميلان محسوس كړ، بيا يې ورته د نكاح وړانديز وكړ.خديجه رضي الله عَنْهَا دغه مهال د قريشو په زنانه و كې د ښه نسب، د ډېر عظمت، احترام او قدر، د ډېر ماليت او پانګې څښتنه هم وه، هر څوک يې نكاح كولو ته ډېر لېواله وو خو كه توان يې پرې درلوداى. هغه و چې كله نبي ﷺ ته دغه خبرې وكړی شوې نبي ﷺ خپلو ترونو ته دغه پيغام ورسو، حمزه رضي الله عَنْهُ د نبي ﷺ په شمول د هغې پلار خويلد[۲] بن اسد ته ولاړ او په نكاح يې ترې واخسته[۳] د ابراهيم[٤] پرته نور ټول بچيان يې له خديجې څخه دي.قاسم، طاهر طيب[٥]، زينب، رقيه، ام كلثوم، فاطمه رضي الله عَنْهُمْ أَجْمَعِيْنَ، قاسم او طيب دواړه له بعثت څخه وړاندې د جاهليت په درو كې وفات دي او لوڼو يې د بعثت دور راګير كړی و، هم يې پرې ټولو ايمان راوړی دی او هم يې ورسره هجرت كړی دی.

---

(۱) د راهب نوم (نسطورا) و.
(۲) د خديجې رضي الله عَنْهَا پلار خويلد بن اسد بن عبدالعزى بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي و.
(۳) نبي ﷺ ورته په مهر كې شل ځواني اوښې وركړې، خديجه رضي الله عَنْهَا يې لومړنۍ بي بي وه، د مرګ تر ورځې پورې يې پرې بن نه وه راوستې.
(٤) د ابراهيم مور ماريه قبطيه وه، د مصر اړوند د كوره انضا د سيمې متعلق د (حفن) د كلي وه، د قبطيانو باچا مقوقس ورته هديه كړې وه.
(٥) طاهر او طيب دواړه د (عبدالله) لقبونه دي، او دا د نبي كريم ﷺ اسم كنيه هم وه.

# د ورقه بن نوفل واقعه

کله چې میسره خدیجې رضي الله عَنْهَا ته د راهب نسطورا خبره وکړه، او په دې یې هم وپوهوله چې د لمر ګرمۍ نه به پرې دوو ملائکو سیورى کوو، دغه ټولې خبرې خدیجې رضي الله عَنْهَا ورقه بن نوفل ته چې ببرته یې د تره څوی هم کېده وکړې، ورقه بن نوفل چې پخپله نصراني و او په تورات یې پوره علم او عبور درلود، د خدیجې- رضي الله عنها – د خبرو د اورېدو سره سم لټکه وویل: که ستا خبرې رښتیا هم سم حقیقت ولري نو محمد به د دې امت پیغمبر وي، او زه په دې پوهه یم چې په نزدې وختونو کې به دې امت ته نوى الهي استازى رالیږدول کیږي:

ورقه بن نوفل به ویل چې دغه استازى به کله رالیږدول کیږي؟ نور لا پسې وروسته نه شي؟ بیا یې دا شعرونه وویل:

لَجَجْتُ وَكُنْـتُ فِيْ الذِّكْرَى لَجُوْجاً *** لِهَـمٍ طَالَمَـا بَعَـثَ النَّشِـيْجَا
وَوَصْفٌ مِـنْ خَدِيْجَةَ بَعْدَ وَصْفٍ *** فَقَدْ طَـالَ انْتِظَارِيْ يَـا خَدِيْجَا
بِبَطْـنِ المَكَّتَـيْنِ عَلَى رَجَـائِيْ *** حَدِيْثَـكِ أَنْ أَرَى مِنْـهُ خُرُوْجاً
بِمَـا خَبَّرْتِـنِيْ مِـنْ قَـوْلِ قِسٍ *** مِـنَ الرُّهْبَـانِ أَكْـرَهُ أَنْ أَعُوْجَا
بِـأَنَّ مُحَمَّـداً سَيَسُـوْدُ فِيْنَـا *** وَيَخْصِمُ مَنْ يَكُـوْنُ لَهُ حَجِيْجَا
وَيُظْهِـرُ فِيْ البِـلَادِ ضِيَـاءَ نُوْرٍ *** يُقِيـمُ بِـهِ البَرِيَّـةَ أَنْ تَمُوْجـا
فَيَلْـقَى مَـنْ يُحَارِبُهُ خَسَـاراً *** وَيَلْقَـى مَـنْ يُسَـالِمُهُ فُلُوْجاً
فَيَالَيْتَـنِيْ اِذَا مَـاكَانَ ذَاكُـمْ *** شَـهِدْتُّ فَكُنْتُ أَوَّلَكُـمْ وَلُوْجاً

- د یو څه سره مې دومره ټینګ سوچ پیدا شوی دی چې بیخي ورڅخه جلا کیدای نه شم، تر دې چې په سینه کې یې راله اوازونه پیدا کړل.
- د خدیجې د بار بار ذکر او یاد زما د انتظار شیبې نورې هم وږدې او ورپسې وغځولې.
- ستا د خبرې په تایید کې زما هم د مکې له لوړو ژورو څخه د هغه د راتګ امید و.
- د نسطورا د راهب قول نه چې دې خبر کړم، دهغه له خبرو څخه کږېدنه راته سمه نه برېښي.
- هغه دا چې محمد ﷺ به زمونږ مشرتابه وي، او ټول هغه څوک به پر کړي چې ورسره دلیل بازي کوي.

- هغه به په ښارونو کې ورانګیه رڼا راښکاره کړي، تر څوک د امن نیک قیادت وکړي او د خلکو چارې ګډې وډې نه شي.
- د ورسره مشت ګریوان خلکو پایله به زیان وي، او د ورسره د جوړې روغې پلویانو پایله به کامراني وي.
- های کاشکې زه هم دغې حالتونو ته پاتې شم، ترڅو په دغې دین کې لومړی ننوتونکی شم.

## د کعبې نوې رغونه

کله چې نبي کریم ﷺ پنځه دېرشت کلنې ته ورسېد، کعبه چونکه د ابادۍ له نګاه نه کمزورې شوې وه، قریش ویریدل تر څو ونه نړیږي، د بیا ابادونې هوډ یې وکړ، او دیوالونه یې دغه مهال هم هغه تړې تیرې وې چې ختین اخیړ یې هم نه درلود.

دغه وخت د روم د تجارانو د یو تجار کشتۍ د بحر څپې ساحل ته ویشتلې وه چې دکشتۍ د جوړښت نظم او ضبط یې د بیرته جوړونې څخه ویستلې وه، د مکې میشتوالو یې تختې دکعبې د چت لپاره برابرې کړې، دخپل ګمان سره سم یې په مکه کې یو میشت قبطي نجار ته مات ګوډ شیان راغونډ کړل، کعبې ته د هدیه شوي شیانو کوهې څخه به هره ورځ اژدها مار راوته او د کعبې پر دېوال به لمر ته پروت و، د مکې خلک به له دغې مار څخه ډېر ترسېدل، که څه به هم دوی لږ ورنږدې شول سر به یې راپورته کړ او د خوف او خطر نه ډک اوازونه به یې پېل کړل، د دغې ډارجنې سحنې سره سره به یې خوله هم وازه نیولې وه.

د عادت سره سم اژدها یوه ورځ د کعبې په دېوال لمر ته اوښته را اوښته چې الله پا ک وربانديې مارغه راوست، مار یې په پنجو کې پورته کړ، قریشو وویل: د کعبې د تجدید په نظریه شاید الله پاک مونږ سره رضا او له مونږ څخه خوشحاله وي، د تجدید لپاره راسره نجار او لرګي او نور دارتیا وړ توکې هم شتون لري، الله پاک د مار او د دغې لوی اژدها له کړاوجن حالت څخه هم خلاص کړو.

قریش مجبور وو چې د کعبې د تجدید په خاطر سابقه ابادي تر یو حده ونړوي، ابو وهب بن عمرو بن عائذ بن عبد بن عمران بن مخزوم په نړولو پېل وکړ، دکعبې له دېوال څخه یې تړه پورته کړه، څه ګوري چې تړې یې له لاس څخه توپ کړ او بخپل ځای بېرته ځای پرځای شوه، د سحنې د لیدو سره یې په لوړ اواز وویل: ای قریشو! د کعبې د بیا رغونې لپاره راټوله شوې مالي پانګه باید حلاله او پاکه وي، د زنا په بدل کې مالیت، سود، او له چا څخه په جبر زور اخستل شوی او دېته ورته د مالیت ګرد ډولونه باید پکې شتون ونه لري.

له دغې جريان وروسته قريشو سره خپل منځ کې د کعبې اړخونه د بيا رغونې لپاره وويشل.

زهره او بنو عبدمناف يې د دروازې اړخ واخست.

د حجر اسود او رکن يماني ترمنځ ابادي بنو مخزوم او د دوی پسې تل نورو د قريشو قبيلو په غاړه واخسته.

د حجر اسود پلو بنو عبدالدار، بنو اسد بن عبدالعزی، او بنو عدي بن کعب واخست.

د کعبې منځ بنوجمح او بنو سهم واخست.

بيا قريشو سره پخبل منځ کې ګنګوسې پيل کړ چې هسې نه د کعبې د ويجاړولو په مهال ورته نورې اسمانې ستونزې متوجه نه شي.

وليد بن مغيره وويل: زه يې په نړولو پيل اچوم، کولنګ يې راواخست او د رکنينو څخه يې د کعبې په نړولو پيل واچو، او دا يې وويل: ای الله! له خير پرته بله هېڅ اراده نه لرو.

له وليد پرته بل هېڅ قريشي د کعبې په نړولو پيل ونه کړ، او ويې ويل چې که نن شپه وليد د کومو ستونزو او نادودو ښکار شو، نو مونږ به هم ځانونه د کعبې له نړولو څخه راغونډ کړو او ورانه شوې برخه به يې بېرته ترميم کړو، خو که د سهار په مهال روغ رمټ راووت، الله پاک به له مونږ څخه خوشحاله وي او هر څوک به د تقسيم له مخې وررسېدلې برخه ونړوي.

د سهار په مهال (وليد) په عادي توګه له کور څخه راووت او د وليد بن مغيره په شمول ټولو قريشو د کعبې نړول پيل کړل، قريش چې کله د ابراهيم عليه السلام بنيادونو ته ورسېدل لکه د اوښانو د کوپو په څېر شنې شنې ګټې مخې ته راغلې، هغه يې په اجتماعې توګه يو له بل څخه راواخستې.

د کعبې د نړولو وروسته يې بېرته دکعبې په ابادولو پيل واچوو، چې کله هم په رکن کې د حجر اسود د کېښودو ځای ته ورسېدل، قبيلې سره پخپل منځ کې تروې ترخې شوې چې د حجر اسود په دېوال کې د کېښودو اعزاز به د چا لاس ته راوړنه وي، نږدې وه چې اختلاف په مرګونې منځنې يرغل تبديل شي، هرې قبيلې د جنګ لپاره چمتوالی ونيو.

د روايتونو له مخې ابو اميه بن المغيره چې دغه مهال په قريشو کې د زيات عمر څښتن و، وويل: ای قريشو! د سبا ورځې لپاره چې له دغې دروازې څخه هر څوک مخکې راننوځي، دا خبره به فيصله کړي، ټولو قريشو يې خبره تاييد کړه.

د سبا د ورځې په راتګ سره هر يو قريشي ګورې چې نبي کريم ﷺ له ټولو څخه مسجد حرام ته لومړی راغلی دی، دليدو سره سم قريشو وويل: محمد راغلی دی!! دا خو امين دی په دې ټول رضا يو.

ټول د نبي کریم ﷺ حضور کې عارض شول او پروني خبره يې ورله تر غوږه تېره کړه، هغه وويل: غټ څادر راته راوړئ، غټ څادر ورته راوړل شو، حجر اسود يې په خپل لاس په څادر کې کېښود او ټولو ته مخاطب شو: د هرې قبيلې مخور دې د څادر پلو ونيسي او په ټولنيزه توګه دې حجر اسود تر ديواله يوسي، کله چې يې کله تر خپل ځايه ورسوو ځپلو مبارکو لاسونو يې حجر اسود له څادر څخه راپورته کړ او په دېوال کې يې کېښود، له دې وروسته پرې نوره ابادي د تېر په څېر پيل واخست.

# د نبي کريم ﷺ په اسماني استازيتوب د عربو کاهنانو، يهودو عالمانو او نصراني عابدانو زيري

د نبي کريم ﷺ د بعثت په رانېږدو د يهودانو پېشواګانو، د نصرانيانو مذهبي رهنماګانو، او د عربانو د کاهنانو د نبي ﷺ له بعثت نه وړاندې د خبرو اشاعت په ډېره توندې سره روان و چې په نزديو کې اسماني پېغمبر راروان دی.

يهودانو او نصرانيانو خو يې بعثت او د بعثت د زماني پېژندګلو په خپلو کتابونو کې د مذکوره صفتونو او د وخت تعين له نصوصو څخه اخستی و، او يا يې پېژندګلو ورته خپلو انبياوو په دغې صفتونو کړې وه.

او عربانو کاهنانو ته خو به خپل شيطانان او پيريان چې د اسمان په دروازو کې به ناست وو، او خبرې به يې غلا کولې ورته دغې خبرې راوړلې، دغې نارينه او ښځينه کاهنانو به هم عربانو ته د بعثت او د نوی رسالت څه نا څه خبرونه ورکول، خو عربانو به ورته هېڅ اهميت نه ورکوو.

تر دې چې الله پاک نبي کريم ﷺ د نبي او رسول په صفت خلکو ته ورو‌پېژند، او هغه راتلونکي واقعات چې کاهنانو به پرې خلک خبرول په تدريجي توګه يې حقيقي وقوع پيل شوه.

نبي ﷺ ته د رسالت د دندې سپارښتنه چې کله هم نږدې شوه، د اسمان دروازې له شيطانانو څخه وتړل شوې، شيطانان هم په هغه ځايونو بند شول چې ورڅخه به يې فيصلې غلا کولې، که لږ به هم ورنږدې شول په ستورو به ويشتل کېدل، په دې سره پيريان وپوهېدل چې الله پاک په انسانانو کې نوې فيصله کوي.

## د نبي كريم ﷺ صفت

ابن هشام وايي:

د ابراهيم بن محمد بن علي بن ابي طالب نه د غفره د غلام (عمر) په روايت چې علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ به د نبي كريم ﷺ صفت په دې كلماتو بيانو چې:

نبي ﷺ نه ډېر لوړ دنګ و، او نه لنډې بوچې و، هغه په ټول قوم كې د ميانه رو قد و قامت څښتن و، نه يې ويښتان ډېر هوار او نه پېچ و تاو و، پېچ ويښتانو ته ورته ګمنځ كړي ويښته يې درلودل، نه ډېر ډک مخی چاق څربه و او نه وركوټې ګرد مخی و، هغه سور سپين خورا ډولي انسان و، ښايسته غټې تورې سترګې او اوږده باڼه يې لرل، د لېچو (مړوندونو) هډوكي يې لوي او په قوت كې وو، د اوګو ترمنځ يې پراښوالی و، له سينې څخه تر نامه پورې يې لږ ويښتان درلودل، د خپو او لاسونو ګوتې يې ځګې وې، توند او اوار مزل به يې كو لكه په كړه نسكوره ځمكه چې روان وي، په كتلو كې به يې ټول اړخ اړو، د نبوت مهر يې د اوګو ترمنځ و، نبي ﷺ خاتم النبيين دی، د ډېرې صدقې او د پراخه لاس څښتن و، په ګرد مخلوق كې زړه ور او مېړانه، په ګړ دود كې له هر چا رښتونی و، له هر چا څخه د نيكې روبې څښتن او په وعده كلک ولاړ هستې وه، د ښه ژوند څښتن، كه به نابېره چا وليد ترې به ډارېده، او كه به ورسره يو ځای شو مينه به يې ورسره كوله، علي رضي الله عَنْهُ فرمايي: د نبي ﷺ په څېر هستي مې نه مخكې او نه ورڅخه وروسته ليدلې ده.

صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرضي وَ أَنْعَمَ

## په انجيل كې د نبي ﷺ صفت

ما ته د رارسيدلي راپور او روايتونو له مخې چې كومه وحي عيسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ ته د الله پاک له پلوه راغلې وه چې هغه به اهل الانجيل ته هم ښوولې وه، حوارييڼو هم په يادداشت كې اخستې وه، دا ده چې عيسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ به ويل:

ما سره چې هر څوک تربګني كوي، ګويا كه د الله سره تربګني كوي، ما چې ستاسو له مخې كوم څه وكړل، كه له ما څخه وړاندې خلكو كړې وی هيڅ ګناه به يې نه وه، دومره وه چې له حق څخه ياغي شول او سرغړونه يې وكړه، دغه خلک په دې اند وو چې ګټې په ما او الله پاک به غالبه شي.

هرومرو به دا دين بشپړيږي، زما سره خلکو هېڅ په هيڅه کينه کشي وکړ، خو چې بيا کله هم (منحمنا) د الله پاک له پلوه داستازي په توګه امت ته ورولېږندل شي... هغه به په ما او تاسو ګواهي ورکوي، دا چې وروسته ګېلې قيصې ونه کړئ دا مو وخت دی[1].

په سرياني ژبه کې منحمنا د (محمد) ترجمه ده، او په روميه کې ورته (برقليطس) ويل کيږي.

## د نبي ﷺ اسماني استازيتوب

کوم مهال چې نبي کريم ﷺ خلويښت کلنۍ ته ورسېد نو الله پاک د ګرد بشريت او د ټول مخلوق لپاره د رحمت په توګه بشير او نذير راوليږدو.

د نبي کريم ﷺ له بعثت نه وړاندې الله پاک د ټولو هغو پيغمبرانو نه چې له دې څخه وړاندې تېر شوي وو کلکه وعده اخستې وه چې په محمد ﷺ به يې ايمان، په اسماني شرايعو کې يې تصديق، او ورڅخه يې د باغيانو پر ضد د ننګه کولو وعدې اخستې وې، ټولو پيغمبرانو دغه وعدې خپلو امتونو ته د امانت په ښه ډول رسولې وې.

د عائشې رضي الله عَنْهَا څخه روايت دی چې: کله چې الله رب کائنات د نبي کريم ﷺ دتکريم اراده وکړه، خپلو بندګانو ته يې د رحمت په نوم ورپېژندل غوښتل نو د نبوت د لومړي پړاوونو پيل يې د هغه په ښو او نيکو خوبونو ليدلو شروع کړ، چې هر څه به يې په خوب کې وليدل دسپين سهار په څير به شته شول، ددغې برسېره ورته الله پاک ګوشه شيني هم غوره کړه، نبي ﷺ ته له ځان ځانې څخه هېڅ شی هم ډېر محبوب نه و.

عبدالملک بن عبدالله وايي: کله چې الله پاک د نبي ﷺ په رسالت د نازونې اراده وکړه او نزدې وه چې د نبوت پړاوه پيل شي، دا و چې د قضاء حاجت لپاره به کله هم له کور ووت، دومره لرې به ولاړ چې کورونه به ترې لرې پاتې شول، د مکې خوړونو، غرونو او ناوچو ته به ولاړ، دتګ په دوران کې به ورته هرې ګټې بوټې اوازونه کول چې (السلام عليک يا رسول الله).

نبي ﷺ به وړاندې، وروسته، ښۍ اړخ، کيڼ اړخ ته وکتل، له ګټو بوټو پرته به ورته نور هېڅ په نظر نه ورتلل.

د الله پاک د ارادې سره سم دغه حالت په نبي ﷺ باندې تر يو حده تېر شو، د حراء په غار کې د رمضان په مبارکې مياشت کې د الله پاک له پلوه جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ په وحي راغی[2].

(۱) انجيل يوحنا: (۱۵ / ۲۳ - ۲۶).
(۲) حراء له مکې څخه درې ميله فاصله کې لرې د غر نوم دی.

عبید بن عمیر وايي:

نبي كريم ﷺ به په هركال كې يوه مياشت دحراء د غر په غار كې تېروله، په داسې حال كې چې قريش به په خپلو بوتانو راپراته وو، هغه به له بوتانو څخه د ځان ژغورنې په خاطر په غار كې عبادت كو، كه به ورته هلته خوار او ناداره ثوك راغی خواړه به يې هم ورته وركول، له غار څخه چې به كله بېرته راستون شو، وړاندې له دې چې كور ته لاړ شي لومړی به كعبې ته راغی اووه يا زيات كرته به يې ترې طواف وكړ او بيا به كور ته ولاړ.

د عادت په توګه د رمضان د مياشت د بعثت په كال كې د تېر په څېر يې غار ته ګامونه پورته كړ، چونكه په دغې مياشت كې يې الله پاک د رسالت په دندې دګمارلو او ورته د سعادتمندانه درجې وركولو اراده كړې وه، جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته د الله پاک له پلوه وحې راوړه.

نبي ﷺ فرمايي: زه لا ويده وم چې جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ د وربښمو په ټوټه كې نغښتلی كتاب راوړ، او راته يې وويل: ولوله. ما ورته وويل: څه ولولم[1]؟ هغه خپل ځان ته جوخت كړم، د زيات زور له كبله مې وانګيرول چې مرګ واخستم، بيا يې پرېښودم او راته يې وويل: ولوله، ما ورته وويل: څه ولولم؟ هغه يو ځل بيا ځان ته جوخت ونيولم او دومره زور يې راكړ چې ما د ډېر زيات زور له كبله وانګيرول چې مرګ واخستم، بيا يې پرېښودم او راته يې وويل: ولوله، ما ورته وويل: څه ولولم؟ هغه په دريم ځل بيا ځا نته دومره جوخت ونيولم او زور يې راكړ چې د ډېر زيات زور له كبله مې وانګيرول چې مرګ واخستم، بيا يې پرېښودم او راته يې وويل: ولوله، ما ورته وويل: څه ولولم؟ هغه راته وويل: ووايه: ﴿ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ﴾[2].

نبي ﷺ فرمايي: ما هم د امر مطابق دغه كلمات وويل، او بيا رانه هغه لاړ، چې له خوبه رابيدار شوم او دغه كلمات مې ګويا كه په زړه نويشته شوي وو.

بيا له غار څخه د باندې راووتم، د كور په لور روان شوم، نابېره مې تر غوږ شول: ای محمده! ته د الله استازی يې او زه جبريل يم.

خپل نظر مې د اسمان په لور پورته كړ څه ګورم چې جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ د اسمان په كنارو كې دی او راته وايي: ای محمده! ته د الله رسول يې او زه جبريل يم.

(۱) نور روايتونو كې راځي چې لوستوال (لوستونكی) نه يم.
(۲) سورت علق: (۱-۵). ژباړه: ای محمده! د خپل هغه رب د نوم په بركت ولوله چې ټول مخلوقات يې پيداكړيدي، هغه رب چې د وينې له ټوټې څخه يې انسان پيداكړی دی، ولوله په داسې حال كې چې ستا رب كريم دی، هغه رب چې انسان ته يې هغه څه وښودل چې پرې نه پوهېده.

ځای پر ځای ودرېدم، وړاندې او وروسته له تګ څخه بې غوره شوم چې په هر لور مخ اړوم د جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ شکل اوصورت مې تر سترګو کېږي، زه لا هم هغه شان ېخپل ځای ميخ شوی وم چې وروسته او مخکې مې د حرکت هېڅ توان نه درلود، ډېر ځنډ له کبله راپسې خديجې رضي الله عَنْهَا خپل استازي د پلټنې لپاره د مکې د غرونو لوړو سرونو ته هم راستولي وو، اوبېرته هغې ته ستانه شوي وو، او زه پخپل حالت وم چې له ځای څخه د حرکت راپکې ساه نه وه.

کور ته له ډار او ترس نه ډک ستون شوم تر دې چې خديجې رضي الله عَنْهَا ته مې ځان ورسو، او د هغې ورون ته کېناره شوم، هغې راځخه وپوښتل: ابوالقاسم!! چرته وې؟ له دومره وخته مې درپسې خپل استازي هم دراستولي وو تر څو تا وګوري، د مکې غرونه رغونه يې درپسې لټولي وو خو ستا په ليدو نه وو توانېدلي او بېرته تش تور راستانه راغلل.

ما يې د پوښتنې په ځواب کې خپل د سترګو ليدلی حالت واورو.

هغې وويل: بې غمه شه د تره ځويه! په هغه ذات مې دې قسم وي چې د خديجې دنفس واک يې په لاس کې دی، داسې برېښي چې ته به دې امت ته الهي استازی يې!!

خديجه رضي الله عَنْهَا پاڅېده، خپل کالي يې د ځان پسې راونغښتل او ورقه بن نوفل چې د خديجې رضي الله عَنْهَا دتره ځوی و او د نصرانيت په دين معتقد و، ددې ترڅنګ هغه د تورات اوانجيل پياوړی عالم هم و، خديجې رضي الله عَنْهَا ورته زما د سترګو ټول ليدلی حالت واورول او هغه يې پرې اګاه کړ.

ورقه بن نوفل ورته ويلي و: که ستا خبرې رښتيا هم دغسې وي لکه څنګه چې دې وويل نو په الله قسم چې دا ورته د وحې هغه ملائکه راغلې ده چې موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته به راتله[١] هرومرو به دا د دې امت پيغمبر وي، اوورته ووايه چې له سرښندنې کار واخله.

خديجه رضي الله عَنْهَا د نبي کريم ﷺ حضور ته عرض شوه او د ورقه بن نوفل ټوله خبره يې ورته کټ مټ وکړه، ورځ د ورځو نه نبي کريم ﷺ له کعبې څخه طواف کو څه ګوري چې ورقه بن نوفل ورسره مخامخ شو، ورقه ورته وويل:

وراره! ته دې خپل ليدلي او اورېدلي حالت اړوند لږ ما ته بشپړ راپور راکړه.

نبي کريم ﷺ ورته ټول راپور ورکړ.

ورقه وويل: په رب لايزال مې دې قسم وي چې زما نفس يې په لاس کې دی ته به د دې

(١) سهيلي وايي: ورقه موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ذکر کړ او عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ يې ذکر نه کړ سره له دې چې خپله نصراني هم و په دې خاطر چې نصرانيانو په عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ کې دنبوت عقيده نه ساتله چې ګنې جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وحي راوړله، بلکې هغوی د عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ باره کې ويل چې لاهوتي أقنوم د مسيح په ناسوتي اقنوم کې ننوتی دی، په دغه حلول کې نصرانيان خپلمنځي ديني اختلافات هم لري.

امت پيغمبر يې، تا ته د وحې هغه ملائک راغلې ده چې موسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ ته به راتله، ستا په دعوتي مشن کې به خلک تا تکذيبوي، تا ته به د زيان رسوني تول زيار باسي، له کلې څخه به دې د ويستلو کوښښ کوي، ټول قوم به درسره مشت او گرېوان کيږي، خو که تاسره د تاو تريخوالي وختونو ته زه ژوندى پاتې شم نو زه به د الله پاک د دين دومره مرستندويه جوړ شم چې اندازه يې الله پاک ته معلومه ده.

بيا ورقه بن نوفل سر راښکته کړ او د نبي کريم ﷺ سر يې ښکل کړ، له دې لړې وروسته نبي کريم ﷺ خپل کاله ته ستون شو.

## د قرانکريم د نزول پېل

په نبي ﷺ باندې د قرانکريم د نزول لړې د رمضان په مبارکه مياشت کې پېل شوه، الله فرمايي: ﴿شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَبَيِّنَـٰتٍ مِّنَ ٱلْهُدَىٰ وَٱلْفُرْقَانِ﴾(١).

او الله فرمايي: ﴿إِنَّآ أَنزَلْنَـٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ ۝١ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ ۝٢ لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ ۝٣ تَنَزَّلُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ ۝٤ سَلَـٰمٌ هِىَ حَتَّىٰ مَطْلَعِ ٱلْفَجْرِ﴾(٢).

الله پاک فرمايي: ﴿حمٓ ۝١ وَٱلْكِتَـٰبِ ٱلْمُبِينِ ۝٢ إِنَّآ أَنزَلْنَـٰهُ فِى لَيْلَةٍ مُّبَـٰرَكَةٍ ۚ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ۝٣ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ۝٤ أَمْرًا مِّنْ عِندِنَآ ۚ إِنَّا كُنَّا مُرْسِلِينَ﴾(٣).

او الله پاک فرمايي: ﴿إِن كُنتُمْ ءَامَنتُم بِٱللَّهِ وَمَآ أَنزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا يَوْمَ ٱلْفُرْقَانِ يَوْمَ ٱلْتَقَى ٱلْجَمْعَانِ ۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ﴾(٤).

او دغه ورځ د نبي کريم ﷺ او مشرکينو ترمنځ په بدر کې د مخامخ کېدو ورځ وه.

(١) سورت بقره: (١٨٥). ژباړه: رمضان هغه مياشت ده چې قرانکريم پکې نازل شوی دی چې د خلکو لپاره هدايت او ورپکې داسې دليلونه دي چې حق او باطل سره بېلوي.
(٢) سورت قدر: (١-٥). ژباړه: مونږ قرانکريم د قدر په شپه نازل کړی دی، تا ته څه پته ده چې د قدر شپه څه شی ده؟ د قدر شپه د زرو مياشتو نه هم غوره ده، په دې شپه کې جبريل عَلَيْهِ السَّلاَمُ او نور ملائکې د خپل رب په اجازه د هر حکم لپاره راښکته کيږي، د سبا تر ختو پورې دغه شپه له هر افته نه امان او سلامتيا ده.
(٣) سورت دخان: (١-٥). ژباړه: حم، په دغه کتاب مې دې قسم وي چې ديني احکام ښکاره کونکی دی، مونږ دغه کتاب په برکتناکه شپه کې نازل کړی دی په يقين سره چې مونږ ويروونکي يو، په دغې شپه کې هر د حکمت کار بېلاوی شي، زمونږ له پلوه حکم دی په يقين سره چې مونږ استازي ليږدونکي يو.
(٤) سورت انفال: (٤١). ژباړه: که تاسو په الله او د هغه په هغې ايتونو ايمان لرئ چې مونږ پخپل بنده نازل کړي دي په هغه ورځ چې د حق او باطل ترمنځ فيصله کونکې وه، په هغه ورځ چې دواړه ډلې سره مخامخ شوې، او الله پاک په هر څه باندې قدرت لرونکی دی.

# د خديجې رضي الله عَنْهَا اسلام

لومړۍ هستۍ خديجه رضي الله عَنْهَا وه چې په نبي كريم ﷺ يې ايمان راوړ، د الله پاک له پلوه په راوړې دين كې يې د هغه تصديق وكړ، هغه ناورين او زړه بوګنونكې سحنې چې د نبي كريم ﷺ زړه به پكې مرۍ ته راوښوت، يا به يې چا په ديني امورو كې تكذيب وكړ او هغه به پرې بې تابه شو، الله پاک به ورله ټول غمونه د خديجې رضي الله عَنْهَا ته په راتګ سره لاهو كړل، خديجې رضي الله عَنْهَا به ورته د سربښندنې، ډاډګېرنې، تصديق او ورته د دعوتي مشن په لړ كې د راپېښو ستونزو د اسانتياو پيغامونه وركول، الله پاک دې په دواړو رحم وكړي.

نبي كريم ﷺ فرمايي: په دې راته امر كړى شوى دى چې خديجې رضي الله عَنْهَا ته په جنت كې د تراشل شوې ملغلرې څخه په جوړ شوي كور زېرى وركړم، داسې كور چې هم به پر ارام وي، شور شرغب به پكې نه وي، او هم به پر امن وي ستړيا به پكې نه وي.

# د وحې ځنډېدل

بيا تر يو حده د وحې راتګ وځنډېدل، دغې ځنډېدنې نبي كريم ﷺ ډېر زيات نا ارامه كړ، هغه و چې جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته په سورت ضحى راتګ وكړ، الله پاک ورته په دې سورت كې سوګند پورته كوي چې د الله پيغمبره! الله پاک ته په ډېر قدر او احترام نازولى يې، اوسمهال نه الله پرېښى يې او نه يې درسره دښمني كړېده، الله پاک فرمايي: ﴿وَٱلضُّحَىٰ ۝١ وَٱلَّيۡلِ إِذَا سَجَىٰ ۝٢ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ۝٣ وَلَلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ لَّكَ مِنَ ٱلۡأُولَىٰ ۝٤ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ۝٥ أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ۝٦ وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ ۝٧ وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ۝٨ فَأَمَّا ٱلۡيَتِيمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ۝٩ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ۝١٠ وَأَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ﴾ (١)

له دې وروسته به نبي كريم ﷺ د الله پېرزوينې ښكېل ځان او په خلكو چې الله ورته دى راستولى دى په پټه توګه هغو ته بيانولې چې نبي كريم ﷺ به ورڅخه ډاډمن و.

(١) سورت ضحى (١-١١). ژباړه: قسم په څاښت او قسم په شپه چې كله ښه توره شي، چې ته الله پرېښې نه يې او نه يې تاسره دښمني نيولې ده، او خامخا له دنيا څخه ستا لپاره اخرت ډېر غوره دى، او خامخا به تا ته ستا رب هغه څه دركړي چې ته به پرې خوشحاله شې، ايا ته يې يتيم نه وى موندلى چې ځاى يې درته دركړ؟ او ته يې موندلى نه وې چې نه پوهېدې نو ښوونې يې درته وكړې؟ او فقير يې نه وې موندلى چې غني يې كړې؟ نو يتيم ته قهر مه كوه، او سوالګر مه رټه، او دخپل رب د نعمتونو بيان كوه.

# لومړی اسلام ته غاړه اېښودونکي

هغه هستي چې په نبي کريم ﷺ يې ايمان راوړ، ورسره يې يو ځای لمونځ وکړ، د الله پاک له پلوه په راوړي شريعت کې يې د نبي ﷺ پوره اوبشپړه تصديق وکړ، علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ دی چې د ايمان راوړنې په مهال يې عمر لس کاله و.

چونکه الله پاک به د علي رضي الله عَنْهُ برخليک کې دغه سعادت ليکلی و چې قريش د وخت ناورينو او د رزق د کمښت ناسم حالتونو سره مشت ګريوان شول، ابوطالب چې د زيات اولاد او د ډېرو بچو څښتن و، او له بلې خوا يې لاس هم پراخه نه و تنګ دسته و، هغه هم د نورو په څېر د ارتزاقي توکو د کمښت په جال کې ونښت، نبي کريم ﷺ خپل تره عباس رضي الله عَنْهُ ته وويل: ای تره! د خوراکي او ارتزاقي موادو د کمښت په ستونزو کې ښکيل وګړي خو ته بهتر پېژنې، تر څو ابوطالب ته ور اوختې ستونزې خطا شي، لاس يې پراخه شي، بايد له بچو څخه يې يو زه او بل ته واخلې، تر څو ما او تا ورڅخه دغه وربار درون پېتې سپک کړو، عباس رضي الله عَنْهُ وويل: ډېره ښه ده، دواړه سره د ابوطالب په حضور کې عرض شول، او ورته يې وويل: مونږ غواړو چې خلکو ته د رسېدلي ستونزې د اسانتيا په خاطر چې ته هم پکې ښکيل يې – ستا څخه ستونزې تر يو حده دفع کړو، هغه ورته وويل: هو، ولې نه، عقيل راته پرېږدې او نوره ستاسو خوښه ده.

نبي کريم ﷺ ترې علي رضي الله عَنْهُ او عباس رضي الله عَنْهُ ترې جعفر رضي الله عَنْهُ له ځان سره سمبال کړل، تر دې چې نبي کريم ﷺ د بعثت او رسالت په پاکه مقدسه دنده وګمارل شو، نو علي رضي الله عَنْهُ يې ملګرتوب، پر هغه ايمان او د هغه پيروي يې نوره لا هم پسې کلکه کړه.

ځېنې علماء ذکر کوي چې کله به هم د لمونځ وخت داخل شو، نبي کريم ﷺ به د مکې د غرونو ناونو ته وخوځېد، د ابوطالب نه په پټه توګه به ورسره علي رضي الله عَنْهُ هم ولاړ، د علي رضي الله عَنْهُ په ملګرتوب د هغه ټول ترونه او قوم ناخبره وو، دواړه به سره په شريکه د لمونځ عبادت تر پايه ورسوو او د ماښام له مخې به بېرته راستنېدل، د الله پاک د ارادې سره سم دغه عبادت تر ډېره دمه جريان ودرلود، يوه ورځ ابوطالب سره دواړه وليدل چې په لمونځ بوخت دي، سم دلاسه يې ورته وويل: وراره! دا کوم ديني شعائر دي چې پرې ومې ليدئ؟

هغه ورته وويل: ای تره! دا د الله پاک، د هغه د ملائکو، د هغه د ټولو پېغمبرانو، او زمونږ د پلار ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ دين دی، زه پرې الله پاک خلکو ته راستولی يم، دغې دين ته ستا

په رابلنې، ستا دغې دین ته غاړه کېښودنه او زما د نصیحت د منلو ویاړ هم باید لومړی ته ترلاسه کړې!!

ابوطالب وویل: وراره! د پلرونو او نیکونو څخه راپاتې دین نه په کناره کېدای نه شم، خو زما د ژوند تر پایه به د دیني مراسمو په انجامولو کې تا ته هېڅوک وچورلی هم تریو نه کړي.

په دوهم پړاو کې زید بن حارثه بن شرحبیل بن کعب بن عبدالعزی اسلام راوړ.

حکیم بن حزام بن خویلد چې په شام کې یې غلامان اخستي وو، مکې ته راوستل چې یو هم وریکې زید بن حارثه رضي الله عَنْهُ و.

خدیجه رضي الله عَنْهَا چې د حکیم بن حزام د پلاره له اړخه ترور او دغه مهال د نبي کریم ﷺ بي بي هم وه، د حکیم بن حزام کور ته لاړه، هغه ورته وویل: زماتروري! په دغې غلامانو کې دې چې هر یو غلام خوښ شو څان سره یې بوځه.

د خدیجې رضي الله عَنْهَا وریکې زید بن حارثه رضي الله عَنْهُ خوښ شو، خو چې کله نبي کریم ﷺ ولید له خدیجې څخه یې د هدیې په توګه وغوښت، د غوښتنې سره سم یې نبي کریم ﷺ ته ورکړ، د وحې د راتګ نه وړاندې نبي کریم ﷺ زید بن حارثه رضي الله عَنْهُ ازاد او په څوی ولی یې ونیو.

په دریم پړاو کې (ابوبکر بن عثمان [ابوقحافه]) رضي الله عَنْهُ چې په عتیق یې شهرت درلود ایمان ته غاړه کېښوده، داسلام د راوړنې سره سم ابوبکر رضي الله عَنْهُ اسلام ښکاره او ورته یې د بلنې پیل هم وکړ.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ چې قوم ورته ډېر زیات ګران وو، او قوم ته خپله هم په لوړه کچه محبوب و، په نسبي لحاظ هم په قریشو کې نسبي او د قریشو په خیر او شر ډېر ښه دانا انسان و، ابوبکر رضي الله عَنْهُ چې خپله د پلورلو او پېرودلو سره مینه لرله، تر څنګ یې د زیاتو نیکو اخلاقو اوانساني رویې څښتن هم و، د ابوبکر رضي الله عَنْهُ د علم او تجارت له کبله، د انساني پیاوړي او منلي اخلاقو او د سمې ناستې پاستې او د نېک کردار له کبله به ورسره خپل قوم ناسته او ورسره مینه کوله، دی به هم پخپلو ناستو پاستو کې د ده په ګومان د باور وړ خلکو ته د اسلامي دعوت پرته نوره څه دنده نه ترسره کوله.

د ابوبکر رضي الله عَنْهُ په دعوت باندې عثمان بن عفان، زبیر بن العوام، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص، طلحة بن عبیدالله رضي الله عَنْهُمْ أَجْمَعِيْن اسلام ته غاړه کېښوده، دغې اتوو کسانو[1] به په ټولنیزه توګه د لمونځ ادا کوله او د نبي کریم ﷺ تصدیق به یې کوو.

له دغې څخه وروسته بیا د مسلمانانو شمېره ورځ تر بله زیاتېده، ابوعبیده بن الجراح، ابو

(۱) لکه علي او زید بن حارثه او ابوبکر رضي الله عَنْهُ او نور هغه خلک چې د دې په لاس یې ایمان راوړی وو.

سلمة بن عبدالاسد، ارقم بن ابي الارقم[١]، عثمان ن مظعون، او د دې وروڼه قدامه بن مظعون او عبدالله بن مظعون، عبيدة بن الحارث، سعيد بن زيد بن عمرو او د هغه بې بې فاطمة بنت الخطاب د عمر رضي الله عَنْهُ خور، اسماء بنت ابي بكر، عائشه بنت ابي بكر، چې لا دغه مهال وړه وه، خباب بن الارت، عمير بن ابي وقاص، عبدالله بن مسعود، مسعود بن القارئ، سليط بن عمرو، عياش بن ابی ربيعه، او د عياش بې بې اسماء بنت سلامة، خنيس بن حذافه، عامر بن ربيعه، عبدالله بن جحش، او د عبدالله ورور ابو احمد، جعفر بن ابي طالب، او د جعفر بې بې اسماء بنت عميس، حاطب بن الحارث، او د حاطب بې بې فاطمة بنت مجلل، او د حاطب ورور حطاب بن الحارث، او د حطاب بې بې فكيهه بنت يسار، معمر بن الحارث، سائب بن عثمان بن مظعون، مطلب بن ازهر، او د مطلب بې بې رمله بنت ابي عوف، نعيم بن عبدالله چې په نحام يې شهرت درلود، عامر بن فهيرة، خالد بن سعيد بن العاص، د خالد بې بې امينه بنت خلف، خاطب بن عمرو، ابو حذيفه بن عتبه بن ربيعه، واقد بن عبدالله، د بكير بن عبدياليل زامن هر يو خالد، عامر، اياس، عمار بن ياسر، صهيب بن سنان رومي[٢] رضي الله عَنْهُمْ د اسلام پاک مقدس او مبارک دين ته په خوشحاله خوشحالۍ غاړه کېښوده.

## په ښکاره توګه اسلام ته رابلنه

له تېر پړاو څخه وروسته په اسلام کې نارينه او زنانه په ډلو ډلو ننوتل، په دې پړاو کې د مکې په ټول قلمرو کې د اسلام نوم زمزمه کېده.

نبي كريم ﷺ ته الله پاک په راستولې دين د څرګندولو او ښكاره دعوت د پېل امر وكړ.

نبي كريم ﷺ ته الله پاک راستولی دين درې کاله په پټ او سرّي دعوت مخ په وړاندې بوت، تر دې چې الله ورته د دې ايت په نزول د جهري دعوت امر وكړ ﴿فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ﴾[٣].

او الله پاک ورته و فرمايل: ﴿وَأَنذِرۡ عَشِيرَتَكَ ٱلۡأَقۡرَبِينَ ﴿٢١٤﴾ وَٱخۡفِضۡ جَنَاحَكَ لِمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾[٤].

---

(١) په مكه كې نبي كريم ﷺ د دې صحابي په كور كې اسلام ته پټه بلنه پېل كړه چې په صفا كې يې موقعيت درلود، چې كله د عمر رضي الله عَنْهُ په ايمان راوړنې شميره څلوېښتو ته ورسېده، بهر راووتل.

(٢) صهيب رضي الله عَنْهُ په اصل كې خپله عربي دی خو روميانو د كوچنيتوب په مهال غلام كړی و، هلته په بنو كلب كې يو سړي واخست او ازاد يې كړ، حديث كې هم راځي (صُهَيْب سَابِقُ الرُّومِ) د روم لومړنی مسلمان صهيب دی. هيره دې نه وي چې حديث مرسل دی.

(٣) سورت حجر: (٩٤). ژباړه: تا ته چې په څه امر كيږي هغه ښكاره كړه، او له مشركانو نه مخ واړوه.

(٤) سورت شعراء: (٢١٤-٢١٥). ژباړه: خپل نږدې خپل خپلوان ويروه، او كوم مومنان چې دې پيروي كوي ورته

د مخکنۍ عادت سره سم نبي کريم ﷺ يوه ورځ د خپلو ملګرو په شمول د مکې د غرونو په ناونو کې لمونځونه ادا کول و د مشرکانو له يلوه څو نفرو مسلمانان د عبادت د ادا کولو په مهال وليدل، دغه عبادت يې له سترګو بدي راغی تر دې چې له کړو نسکورو نه وروسته يې مسلمانانو ته د شخړې او راپرزولو لاسونه اوږده کړل، سعد بن ابي وقاص رضي الله عَنْهُ وريکې يو مشرک داوښ د ژامې په غاښ ووهو او په سر يې ټپي کړ او وينه ورڅخه روانه شوه، لومړی سعد بن ابي وقاص رضي الله عَنْهُ دی چې په اسلام کې يې له مشرک څخه وينه بهولې ده.

نبي کريم ﷺ چې کله هم اسلام ته ښکاره بلنه پيل کړه، تر هغه ورته خپل قوم په بده ونه کتل چې تر څو يې د هغوی باطل معبودان په واز کومي او په ډېرې اتلولۍ سره په حقيقي نيمګړتياو ياد کړل، د نبي کريم ﷺ د دعوت سره دغه ګړی مشرکانو د خپلو معبودانو په تاييد کې د نکارت، حسد او عداوت او د تربګنۍ لمحات پيل کړل، د مسلمانانو پر خلاف يې سخت غبرګون وښود، ډېر کم او د ګوتو په شمېر مسلمانان وو چې د اسلام د پټ ساتلو له کبله د مشرکانو له زيان څخه په امان کې وو.

ابو طالب چې د نبي کريم ﷺ خپل شقيق تره دی، د مسلمانانو د ربړولو د لړې پيل پرې بده اغېزه وکړه، د اسلام منلو پرته يې د نبي کريم ﷺ دفاع او محافظت، او د هغه د دعوت تاييد په ډاګه کړ، کله چې قريش وپوهېدل چې ابوطالب اګر که اسلام ته غاړه هم نه ږدي او نه به يې کيږدي خو دغې ستونزمنو حالتونو يې د نبي ﷺ او د هغه د ملګرو په اړه زړه نرم او د دلسوزۍ اظهار کوي، او د محاکمې لپاره يې مونږ ته هيڅکله هم په لاس نه راکوي، د يو وفد په شکل د ابو طالب په حضور کې عارض شول او ورته يې وويل: قدرمند ابوطالبه! ته ډېر ښه پوهېږې چې ستا وراره زمونږ معبودانو ته کنځاوې کوي، زمونږ دين نيمګړی بولي، زمونږ د بچو او په ځانګړې توګه د ځوانانو ذهن او فکر تخريبوي، زمونږ پلرونه او نيکونه ته بې لارې او خطا شوي وايي، يا خو دا چې د وراره د ژبې واګې دې په خپلې ولقه کې راوله، او يا زمونږ او د هغه له منځ څخه په کناره شه تر څو مونږ او هغوی سره پوهه شو.

ابوطالب ورته ډېرې ښې خبرې وکړې او په شريفانه انداز يې د هغوی پوښتنې ځواب کړې، تر دې چې د مشرکانو وفد ستون شو.

نبي کريم ﷺ هم هغسې خپل دين ته دعوت په ښکند ډول بې له کوم ځنډ څخه په زياته چټکې سره روان کړی و، تر دې چې خبره سره پخپلو کې بدله شوه، خلکو له يو بل سره تربګنې او کينه شروع کړه، او له يو بل څخه په جدايۍ او خپلولۍ شکولو هم رضا او خوښ شول.

قريش سره پخپل منځ کې د نبي کريم ﷺ د کلکې مقابلې شعارونه زمزمه کول، او يو بل به يې ورسره په مقابلې کولو هم ناز وو.

---

خپل اړخ ټينګ کړه.

قریش یو ځل بیا د ابو طالب په حضور کې عارض شول، او ورته یې وویل: په مونږ کې ته د ډېر عمر، د قدر او احترام، او د لوړې رتبې څښتن یې، په مخکنی ناسته کې مو درته وړاندېز وکړ چې وراره دې له مونږ څخه په قابو کې راوله، تر وسه دې وراره له مونږ څخه قابو نه کړ.

له دې څخه وروسته لوړه په رب لایزال چې زمونږ د ځواني طبقې د ذهنیت په تخریب او پلرونو ته کنځاوې نه شو زغملای، زمونږ معبودان په نېمګړتیاو یادولو باندې نور مونږ هم له قابو څخه وتلي یو.

یا خو دا چې له دې وروسته دې د وراره د ژبې مهار تر ولکې لاندې راوله، او یا هم د وراره په شمول دې ټوله کورنۍ د غوڅې پرېکړې په خاطر د جنګ مېدان ته راوباسه، تر څو یوه ډله تر اخره د مرګ او ځاني زیان له پړاو څخه ووځي.

د خبرو د اورېدو سره سم ابو طالب د نبي کریم ﷺ پسې استازی واستو چې ټخپل ځان او ما باندې نور ورحمېږه، ستا اړوند راته قریشو دغسې کړې نسکورې او لوړې ژورې وویلې، د ستونزو ستړیاو په حالت مې نور مه مجبوروه چې سرښندنه یې زما له توانه بهر ده.

د خبرو د اورېدو سره سم نبي کریم ﷺ ګومان وکړ چې شاید کاکا یې قریشو ته لاس په لاس ورسپاري، تر دې وروسته ورسره کېدای شي د مرستې لاس وا نه اړوي، هغه ته داسې وبرېښېدل چې کاکا یې نور د مزید کومک توان نه لري.

نبي ﷺ ورته وویل: ای کاکا! لوړه په رب کائنات.. که لمر راته په ښۍ لاس او سپوږمۍ راته په کیڼ لاس کې کېږدي، تر هغه پورې اسلام ته دعوت نه پرېږدم چې یا خو داسلام پلوشې خپرې شي او یا یې زه په دعوت کې په مرګ او مړینه قرباني شم.

بیا ترې نبي کریم ﷺ په ژړا روان شو.

ابوطالب پرې غږ پورته کړ چې وراره! لږ خوا ته مې راشه! نبي ﷺ ورته رانږدې شو، ابو طالب ورته وویل: پورته شه او چې اسلامي دین په دعوت کې درته څنګه اسلوب پسند وي په کار یې واچوه، هېڅکله دې مرګ ژوبلې ته نه شم ورکولی.

قریش چې کله وپوهېدل چې ابوطالب ورته کله هم نبي کریم ﷺ په لاس نه ورکوي، د ابوطالب سره یې د دښمنۍ او ورسره د مړي ژوندې په پرېښودلو سره یوه خوله شول.

د بیا ځل لپاره یې ورته عمارة بن الولید واستو او ورته یې په یو اواز وویل: عمارة بن الولید چې په ګردو قریشو کې د ډول ډال او د ښکلا، د زور او زبردستۍ په باب کې نظیر نه لري، تا ته به یې د نبي کریم ﷺ په بدل کې په ځوي ولۍ درکړو، او ستا وراره راته وسپاره چې ستا او

ستا د پلرونو د پاتې دين کلک مخالفت کوي، له بلې نګا نه يې د قريشو د قوم او قبيلې زور او ځواک هم اوبه کړ، د نوي راټوکېدلي نسل ذهنيت يې په بل پلو رهی کړ، مونږ ته راکړه ترڅو يې مونږ مړ کړو، سړی به د سړي په بدل کې واخلې.

ابو طالب ورته وويل: ډېره بده او ناوړه خبره مو وکړه، تاسو به راته خپل بچی په دې خاطر راکوئ چې ستاسو لپاره ورته وده ورکړم او خپل ځوی به تاسو ته د وژنې لپاره درسپارم!! په الله قسم چې دغه کار خو به هېڅکله هم ونه کړم.

مطعم بن عدي وويل: ابو طالبه! په رښتيا هم چې خلکو درته ډېره ښه خبره وکړه او نېکه مشوره يې درکړه، په دغې کار سره ټول قوم تا د درپېښې ستونزې څخه خلاصوي، خو های های ته هېڅ خبره هم نه منې!

ابوطالب ورته وويل: لوړه په رب لايزال چې سمه دمه مشوره يې نه ده راکړې، ته او ټول قوم خو ما ته د رسوايۍ او د شرم او عار پېټی راپه سروئ، ولاړ شئ خپل چل ول او زور ځواک مو وازموئ.

د مشرکينو دغه جرګه هم درې ورې او رېز مرېز شوه، د خونړيزو معرکو او د ژبو تاو ترېخوالي له ډېر څخه د انتقام او بېرته د کافر کېدنې نامراده هيلې راپورته کړې، قوم سره پخپل منځ کې نزدې د تورو او ډانګ په خوله خبرې پيل کړې وې.

خپل منځ کې سره مشرکانو يو بل په دې وهڅول چې بايد هر يو بايد له خپلې قبيلې څخه مسلمان شوي وګړي د ربړونو او ځورونو له لارې بېرته مخکنې دريځ ته را په شا کړي، خو الله پاک له دغې دردونکي لړې څخه نبي کريم ﷺ د خپل تره ابوطالب په وجه بچ اوسالم پاتې کړ.

د نبي کريم ﷺ پر ضد د قريشو ځغلنده لړې چې کله هم د ابوطالب تر سترګو شوه، بنوهاشم او بنو مطلب يې د خپل ځان په تاييد کې د نبي ﷺ د ناخوشګوارو مصيبوتو د لړې څخه د بچ کولو غوښتنه وکړه، هغه وو چې ټول يې د دفاع لپاره ترځنګ ودرېدل، او د لوی اسلامي دښمن ابو لهب پرته يې نورو ټولو غوښتنه قبوله کړه.

## د قرانکريم اړوند د وليد بن مغيره دريځ

وليد بن مغيره چې په قريشو کې د زيات عمر خښتن و، د قريشو مشرتابه طبقه خلک يې ځان ته راغونډ کړل، او ورته يې وويل: دا چې وسمهال د حج دوران رانږدې شو، شايد د عربو

د قبيلو خېل خېل ډلې خلک مکې ته راشي، د هغوی له راتګ څخه وړاندې هغوی پخپله د نبي کريم ﷺ اړوند تولې خبرې او د نبوت دعوه اورېدلې ده، مخکې له دې چې د مکې داخل ته دغه قبيلې او کورنۍ راننوځي، د نبي ﷺ په هکله سره خبره يوه کړئ، تر څو راغلو خلکو ته ستاسو خبرې د يو بل تکذيب ونه کړي، او يا هم سره خبرې خپل منځنۍ تضاد ونه لري.

ټولو ورته وويل: د نبي ﷺ پر ضد د يکجهتۍ لپاره ته راته دريځ غوره کړه.

وليد بن مغيره وويل: نا بلکې تاسو يې غوره کړئ او زه به يې اورم.

هغوی وويل: ټول به وايو چې دا کاهن دی.

وليد وويل: کاهن ويل وورته درست نه دي، مونږ کاهنان ليدلي دي، قران نه د هغوی د ګنګوسي په څېر دی او نه يې د سجعې په څېر.

هغوی وويل: بايد بيا ورته ليونی ووايو.

وليد: ليونی ويل ورته هم سم نه برېښي، مونږ ليونيان ليدلي دي، قراني اسلوب نه خو وسوسې ته ورتوالی لري، او نه پاګلتوب باسري ده.

هغوی وويل: راغلو خلکو ته به يې په شاعر و نوموو.

وليد وويل: شاعر هم نه دی، د شعرونو ټول ډولونه مونږ پېژنو، قران د شعر يوه نوعه هم نه ده.

قريشو وويل: ساحر به يې وبولو!

وليد وويل: ساحر ويل ورته هم کږه خبره ده، مونږ د ساحرانو سحر، دم دورهې او د هغوی چوپ شوپ ليدلی او اورېدلی دی، سحر هم نه دی.

قريشو وويل: ابوعبدالشمس!! څه بايد ورته وويل شي؟

وليد: قسم په الله چې خبرې يې خوږې او شکرې دي، ګويا که اصل يې د کجوري تنه ده، او څانګې يې مېوه دارې دي، که راروانو حاجيانو ته مو د قران اړوند هر څه وويل، هغوی پوهېږي چې ستاسو خبرې هيڅ بنسټ نه لري.

چونکه جادو ورته ويل نزدې خبره ده چې قران ورور له ورور نه، له قوم نه، له کورنۍ نه، او حتی له ښځې څخه په بله روانوي.

له دغې غونډې وروسته خواره واره شول او د خلکو په ټولنيز تګ ځايونو کې کښېناستل او حج ته رارواني قافلې به يې د محمد ﷺ او د هغه له اسماني دين څخه زړه توري کول، او په ځان ژغورنې به يې ورڅخه هر حاجي هڅوو.

هغه و چې د وليد بن مغيره په باره کې الله پاک دا ايتونه نازل کړل: ﴿ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا ۝١١ وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَّمْدُودًا ۝١٢ وَبَنِينَ شُهُودًا ۝١٣ وَمَهَّدتُّ لَهُ تَمْهِيدًا﴾[1].

وليد ورزده کړې مفکوره به دغې ګمارل شوو خلکو د وخت حاجيانو ته وروړاندې کوله او د حج په دغې موسم کې په ټوله عربي نړۍ کې د نبي کريم ﷺ او د هغه دعوت زيات شهرت تر لاسه کړ.

## نبي ﷺ ته د قريشو زيان رسونه

د نبي کريم ﷺ او د قريشو تر منځ د اسلامي دعوت پر خلاف رامنځ ته شوی اخ او ډب لا مخ په زياتېدو و، قريشو د مزيد تخريب لپاره خپل نوي راټوکيدلي ځوانان د نبي ﷺ او د مسلمانانو پسې د خندا بقاء، د اذيت او زيان رسوني لړي په توندولو نور هم و هڅول، د خنداګانو ترڅنګ به يې په نبي ﷺ د ساحر، کاهن، ليوني، او د شاعر اوازونه کول.

د قريشو پخپل کفر او دريځ کلک مقاومت او په اسلامي دين باندې بې بنسټه تور لګولو د نبي ﷺ د هغوی په بوتانو د عيب لګوني په مهم کې هېڅ سستوالی رانه وست.

عبدالله بن عمرو بن العاص وايي:

د حجر اسود سره نزدې د قريشو مشرتابه ټول راغونډ شوي وو، زه هم ورغلم، خپل منځ کې يې سره نبي ﷺ راياد کړ چې د دې سړي د دين په راوړنې خو مونږ دومره صبر او زغم هېڅ چرته او هېڅ چا ته نه دی کړی، زمونږ ځوانه طبقه يې بې لارې کړل، زمونږ ټول معبودان يې په ډېرو بدو ردو ياد کړل، په رښتيا هم چې له ډېر زغم څخه مو کار واخست.

هغوی لا په خبرو اترو بوخت وو چې نبي کريم ﷺ نابېره د کعبې په لور راغی، حجر اسود يې ښکل کړ، له کعبې څخه يې طواف پېل کړ خو چې د ناستو خلکو په مجلس کله هم تېرېده ټولو ورته ردې بدې وويلې.

عبدالله بن عمرو بن العاص وايي:

ما يې په مخ کې د خفګان اثرات وليدل.

د دوهم ځل لپاره چې د طواف په حالت کې بيا په مجلس تېرېده بيا يې ورته ردې بدې وويلې، ما يې په مخ د بدو خبرو اثرات بيا وليدل، د دريم ځل لپاره يې ورته بيا ردې بدې

(۱) سورت مدثر: (۱۱-۱٤) ژباړه: ما او هغه سړه پرېږده چې ځانله مې پيدا کړی دی، او ډېر مال او دولت مې هم ورکړی دی، حاضر (شته) بچي مې هم ورکړي دي، او ډېره پراخي مې پرې راوستې ده.

وويلې، هغه ورته ودرېد او ورته یې وویل: په هغه رب مې دې قسم وي چې زما روح یې په لاس کې ده، تاسو ته مې ذبحه(۱) (حلالکه) راوړېده.

د دې خبرې د اورېدو سره سم ټول داسې چوپ چاپ او ټیټ سرونه کښېناستل ګویا که په سرونو یې مارغان ناست دي.

هغه خلک چې چا ورته په اذیت رسونه کې نازیبا او ناوړه کلمات استعمالول، دغه مهال یې د نبي ﷺ د غصې د ټیټولو لپاره ښایسته او له سرېتوب څخه ډک کلمات وړاندې کړل، تر دې چې زیان رسونکو قریشو ورته خپله ویل چې: ابو القاسم! ځه خیر دی، لوړه په خدای چې ته هیڅ جاهل نه یې.

د نن په څېر سبا سره بیا راټول شول، زه هم ورسره ناست وم خپل منځ کې یې سره وویل: پرون مو ځان هم بې عزته کړ او هغه مو هم په خبرو غصه کړ، هغه چې د غصې په حالت کې تاسو په بده لهجه یاد کړئ ولې مو پرېښود؟!!

څه ګوري چې نبي کریم ﷺ بیا راغی، ټولو پرې لکه د یو سړي په شان د زبان درازۍ دروازه بېرته کړه، څلور اړخه ترې ودرېدل او ورته یې وویل: هغه زمونږ په معبودانو او دین باندې د نیمګړتیاو تورونه ته لګوې؟

نبي ﷺ ورته وویل: هو، هغه زه یم.

عبدالله بن عمرو بن العاص وایي: یو مې ولید چې له ګرېوانه یې ونیو، دا چې ابوبکر رضي الله عَنْهُ یې شا ته ولاړ و، په ژړا کې یې ورته وویل: ﴿أَتَقْتُلُونَ رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ ٱللَّهُ﴾(۲) له دې لړې وروسته ترې ټول قریش بېرته ستانه شول.

نبي کریم ﷺ ته دا د قریشو د زیان رسونې او تکلیفولو هغه درمند حالت و چې ما پخپلو سترګو ورڅخه بل درمند حالت نه و لیدلی.

## د حمزه رضي الله عَنْهُ اسلام

د بنو اسلم له قبیلې څخه راته یو هوښیار او عقلمند مسلمان د حمزه رضي الله عَنْهُ د اسلام اړوند وویل:

د صفا په مقام کې ابوجهل نبي کریم ﷺ ته سپورې ستغې وویلې، د نبي کریم ﷺ په ر اوري اسلامي شریعت یې د نیمګړتیاو او حیوانیت تورونه پورې کړ، هغه څه یې ورته وویل

(۱) د هلاکت نه کنایه ده، معنی: که دین ونه منئ هلاک به شئ.
(۲) سورت غافر: (۲۸). ژباړه: ایا تاسو داسې څوک وژنئ چې وایي زما رب الله دی؟

چې نبي کريم ﷺ پرې ډېر بې دمه او خفه شو، خو نبي کريم ﷺ ورته هيڅ هم ونه ويل، د ابوجهل ټولې سپکې سپورې د عبدالله بن جدعان وينځې واورېدې، ابوجهل د خپل ناپاکه مهم وروسته کعبې ته نږدې د قريشو په غونډه کې شامل شو.

حمزه رضي الله عَنْهُ چې د ظلم پر ضد غچ اخستنه کې خورا مشهور و، او په قريشو کې هم باعزته او قوي نوی تازه ځوان و، له ښکار څخه د راستنېدو په حالت کې توره او لينده يې هم هغسې په ګرېوان ځړولې وه، چې کله به هم له ښکار څخه راستون شو نو د قريشو د مجلسونو حضور او حال احوال به يې اخستل، نبي کريم ﷺ دغه مهال بېرته کور ته ستون شوی و، خو د حمزه رضي الله عَنْهُ لومړی لېدنه او کتنه د عبدالله بن جدعان د وينځې سره وشوه، هغې ورته وويل: ای ابو عماره! ستا له راتګ څخه لږ څه وړاندې ابو الحكم[1] ستا وراره محمد ﷺ ته سپکې سپورې او کنځاوې وکړې، هغه دلته ناست و، او ابو الحكم يې په دين او شريعت تورونه او الزامونه ولګول، او ستا وراره ورته هيڅ هم ونه ويل، د پوره خاموشتيا په حالت کې کور ته ستون شو.

چونکه الله پاک د حمزه رضي الله عَنْهُ د کرامت او اسلام قبلولو اراده کړېوه (وينو يې د انتقام الهام پورته کړ، غضب او غصې يې رنګ تغير او بدل کړ) له روغ بړ لپاره د هيڅ چا سره ونه دريد او نه تم شو، تر څو ځان ابو جهل ته ورسوي او انتقام ترې واخلي.

حمزه رضي الله عَنْهُ مسجد ته ننوت، څه ګوري چې ابو جهل د بنو مخزوم په مجلس کې په عزت سره ناست دی، دی په اس سپور د ابو جهل په سر ودرېد او سر يې ورله په ډال پرهار پرهار کړ (په لوړ ويرونکي اواز يې ورته) وويل: ته محمد ته کنځاوې کوې او حالانکه زه يې په دين کلک ولاړ يم، که رښتيا درېکې غيرت وي له ما څخه دې د سر د پرهارونو بدل واخله.

د بنو مخزوم حاضرين د حمزه رضي الله عَنْهُ خوا ته د انتقام اخستنې لپاره ورپورته شول، ابو جهل ورته وويل: ابو عماره پرېږدئ، خير دی ما يې هم وراره ته ډېرې ناروا سپکې سپورې ويلې دي، دا جريان د حمزه رضي الله عَنْهُ لپاره د نبي کريم ﷺ په پېروۍ تمام شو.

د حمزه رضي الله عَنْهُ اسلام راوړنې جريان چې کله د قريشو غوږونه وسکوندل، قريش وپوهېدل چې وس محمد ﷺ په مکه کې په قوت پياوړی شو، هغه و چې په زيان رسونې کې ورته څه نا څه نه بلکې ډېر خفت راغی.

## د نبي کريم ﷺ په راوړي شريعت کې د عتبه بن ربيعه فيصله

زه داسې خبر شوی يم چې:

(۱) ابو الحكم د ابوجهل اسم کنيه وه، او خپل نوم يې عمرو بن هشام بن مغيره بن عبدالله بن عمر بن مخزوم دی.

عتبه بن ربيعه چې يو مشرتابه و، يوه ورځ د قريشو په مجلس كې ناست و، او ويويل -دغه مهال نبي كريم ﷺ هم په مسجد كې يواځې ناست و- زه د محمد ﷺ سره كېنم، خبرې اترې ورسره كوم، كېداى شي څه خبرې ومني، كه څه يې خوښ ورته به يې وركړو، ګڼه به دا وكړو چې زمونږ معبودان به په سپكه نه يادوي.

عتبه دا خبرې هله وكړې چې حمزه رضي الله عَنْهُ په اسلام مشرف شوى و، ورځ تر بلې هم د مسلمانانو شمېر مخ په زياتېدو وه.

ټولو قريشو ورته په يو اواز وويل: ولې نه، ورشه، د روغې جوړې اړوند ورسره خبرې تبادله كړه.

عتبه بن ربيعه يې تر څنګ كښېناست او ورته يې كړه:

-: وراره: په قريشو كې ستا نسبي مكانت او نور عزت او شرف ته ښه پېژني، له دغې وروسته تا په خپل قوم كې د داسې دين د بالاترۍ اواز پورته كړ چې د هغوى يو والى دې پرې درې ورې كړ، د هغوى نو شده ځوانان دې بې لارې او بې زاره كړل، د هغو په پلرونو دې تورونه پورې كړ، د نېكې پايلې په خاطر درسره يو څه مذاكرات او درسره خيالات تبادله كوم، كېداى شي ځينې هغه شيان چې زه يې درته وس يادونه كوم ته يې ومنې او روغې ته سره ورسېږو.

-: نبي كريم ﷺ وويل: تا ته متوجه يم خبرې دې كوه.

-: عتبه: زما ګرانه وراره!

-: كه ستا له دغې دين راوړنې څخه موخه دا وي چې له مونږ څخه زمونږ شتمني واخلې تر ټو په مونږ لوى شتمن شمېر شې هم تيار يو، كولاى شو چې خپله شتمني درته راغونډه كړو.

-: كه مشري غواړې تا به مونږ د خپلو ځانونو واكدار كړو، ستا سره د خبرې شريكېدو پرته به مونږ هېڅ راز غوڅه پرېكړه نه كوو.

-: كه باچاهي غواړې سر د نن نه ته زمونږ ټولواك يې.

-: يا هغه پېرې چې تا ته دغه دين درزده كوي، او ته يې د شړلو هېڅ توان نه لرې، ستا د صحتمندۍ تر اخرې سحنې پورې به مونږ ټچپلو مالونو او شتمنيو ستا تداوي وكړو، كله ناكله پېرى په انسان ډېر زور اور وي نو تداوي يې هم كېداى شي.

عتبه خپلې خبرې تر پايه ورسولې او نبي كريم ﷺ ورته غوږ ايښى و، نبي كريم ﷺ ورته وويل: ابو الوليد: ته له خپلو خبرو څخه وزګار شوې؟

عتبه: هو.

نبي ﷺ ورته وويل: وس يې له ما څخه هم واوره.

عتبه: سمه ده، وايه.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: ﴿حمٓ ۝١ تَنزِيلٌ مِّنَ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٢ كِتَٰبٌ فُصِّلَتۡ ءَايَٰتُهُۥ قُرۡءَانًا عَرَبِيًّا لِّقَوۡمٍ يَعۡلَمُونَ ۝٣ بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعۡرَضَ أَكۡثَرُهُمۡ فَهُمۡ لَا يَسۡمَعُونَ ۝٤ وَقَالُواْ قُلُوبُنَا فِيٓ أَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ وَفِيٓ ءَاذَانِنَا وَقۡرٌ وَمِنۢ بَيۡنِنَا وَبَيۡنِكَ حِجَابٌ فَٱعۡمَلۡ إِنَّنَا عَٰمِلُونَ﴾[1]، يو ه حصه يې ورته واوروله، عتبه د نبي ﷺ څخه د سورت په اورېدو سره شاته لاسونو ته تکيه شو او غوږ يې کېښود، سورت کې سجدې ته په رسېدو نبي ﷺ سجده وکړه، بيا يې ورته وويل: ايتونه خو دې واورېدل!! وس ته او ستا ضمير!!

عتبه له اورېدو وروسته د ملګرو په لور رهی شو، ملګرو يې سره پخپل منځ کې وويل: لوړه په رب کريم چې ابوالوليد چې څنګه تللی و هغسې رانغی، خو چې کله ورسره کښېناست، ټولو ورته وويل: ابو الوليد! ولې؟ څه دروشول؟

عتبه وويل: قسم په الله چې دغسې خبرې مې هېڅ چرته نه وې اورېدلې، او نه مې ليدلې وې!! ای قريشو! قسم په الله چې دغه قران نه سحر دی، نه شاعري ده، او نه کهانت دی، خبره مې ومنئ چې نور د دغه پيغمبر او ديني شعائرو ترمنځ يې مانع واقع نه شئ، ما چې ترې څه واورېدل خامخا او هرومرو لوی شان او لوړ عظمت لري، خبره يې ومنئ، که نور عربان يې مد مقابل شول، ستاسو پرته به د بل چا په لاس ومري او که په نورو عربانو برلاسی شو نو د دې زور ځواک به ستاسو زور ځواک وي، د دې عزت او نېکمرغي به ستاسو عزت او نيمکرغي وي.

قريشو وويل: لکه چې ته يې هم د ژبې د تاثير لاندې راوستې!!

عتبه: نوره ستاسو خوښه چې څه کوئ خو زما مشوره همدغه ده.

## د نبي کريم ﷺ او قريشو مشرتابه وو ترمنځ په لويه کچه مذاکرات

چونکه اسلام ورځ تر بلې پياوړی کېده، نشر اشاعت يې په ډېره چټکۍ سره روان و، سړي او ښځې معلوم نه وو خو اسلام ته يې رښتنې غاړه ورکوله، قريشو چې د چا په بند او ازار توان درلود هغوی يې بنديان او يا هم ازار کړل.

بيا د قريشو د قبيلې ټول مشرتابه لکه: عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، ابو سفيان بن حرب،

(١) سورت فصلت: (١-٥) ژباړه: حم، دا کتاب د نهايت زيات او بې اندازه بښونکي ذات له پلوه نازل شوی دی، داسې کتاب دی چې ايتونه يې په نهايت زيات تفصيل سره بيان شوي دي، په عربي کې دی خو د هغه قوم لپاره چې پوهيږي، دا کتاب زيرې او ويره ورکونکی دی، له کافرانو څخه مخ واړوه دوی زياتره خبره نه اوري، دوی وايي زمونږ زړونه په پردو کې دي له هغه څه نه چې ته مو ورته رابلې...

نضر بن الحارث، ابو البختري بن هشام، اسود بن عبدالمطلب، زمعة بن اسود، وليد بن مغيره، ابو جهل بن هشام، عبدالله بن ابي اميه، عاص بن وائل، نبيه بن الحجاج، منبه بن الحجاج، امية بن خلف د لمر پرېوتو وروسته د کعبې تر څنګ راغونډ شول، او خپلمنځي خبرې يې شروع کړې چې تاسو محمد ﷺ ته يو ځل بيا استازی واستوئ، د بيا ځل لپاره ورسره خبرې اترې وکړئ، په دې خاطر که بيا کومه ناخوشګواره پېښه رامنځ ته شي تاسو به معذور وګڼل شئ.

د لومړي ځل لپاره يې ورپسې استازی ولېږدوو چې د قريشو ټول معزز هستۍ درته د مذاکراتو لپاره دعوت درکوي او راشه، نبي کريم ﷺ له ځنډ پرته په ډېره چټکۍ راغی، هغه داسې اټکل کړل چې ګنې کېدای شي هغوی ټول اسلام ته د غاړې ورکولو اراده کړې وي او نور له سرغړونې څخه په ډډه خوښ دي.

نبي کريم ﷺ د دغو مشرانو اسلام د ترخو شيبو لحظات تېرول تر څو له ضرر او زيان څخه يې نور په کناره شي.

نبي کريم ﷺ يې تر څنګ کښېناست، ټولو ورته وويل: د ځېنو خبرو اترو لپاره مو تا پسې استازی درواستو، قسم په الله چې د عربو په ګرد قوم کې مونږ داسې څوک نه دی ليدلی چې په خپل قوم او قبيلې هغه لوبې وکړي لکه تا چې وکړې!!

يوګونه او متحد قوم دې ريښې ريښې کړ، پلرونه دې راله وکنځل، زمونږ په دين دې د بطلان تورونه پورې کړل، زمونږ ګران معبودان دې په سپکه ياد کړل، زمونږ نوي غوټکي هلکان دې بې دينه او بې مينې کړل، د دنيا پر مخ چې څومره زره بدي کارونه دي تا زمونږ ترمنځ واقع کړل، که په دغه دين ته ماليت غواړې له خپلې شتمنۍ څخه به درته ستا په خوښه معلومه برخه راغونډه کړو، زمونږ ترمنځ به ته ډېر مالداره شې، که عزت او شرف غواړې نو د مشرۍ واګې سر له اوسه په لاس کې درواخله، که باچاهي غواړې ته زمونږ باچا يې، که در زده کونکی پېری دې درباندې ستا له توان نه بهر غلبه کړې وي نو حتی الامکان به درله تداوي هم وکړو، تر څو روغ رمټ شې، او يا هم مونږ درباندې معذور وګڼل شو.

نبي ﷺ ورته وويل: زه په هغې رنځونو ککړ نه يم چې تاسو مې پرې تورنوئ، زه ستاسو شتمنې، شرف او عزت، په تاسو مشري کول بيخي زما د دعوت موخه نه ده، الله پاک زه تاسو ته د اسماني استازي په توګه رالېږلی يم، ما ته يې د دليل لپاره کتاب راکړی دی، تر څو په جنتونو درته زيري او عذابونو څخه مو وډاروم.

ما تاسو ته پند او وعظ وکړ، ستاسو د نېکمرغه ژوند تلاش مې وکړ، د الله پاک پېغامونه مې دررسول، که زما نصيحتونه مو قبول کړئ او دين ته مو غاړه ورکړه، دغه مو دنيوي او اخروي برخه ده، او که مو ورڅخه سرغړونه وکړه تر هغه به زغم او صبر وکړم تر څو زما او ستاسو ترمنځ د الله پاک غوڅه پرېکړه راشي.

قریشو وویل: محمده! که ته زمونږ یوه غوښتنه هم نشې منلای، نو په دې خو ښه پوهیږې چې په ټولو خلکو کې مونږ د کورونو په لحاظ تنګ، د اوبو په لحاظ تږي او نار نهر یو، ژوند مو هم له هر چا څخه ناکاره دی، هغه رب چې ته یې مونږ ته راستولی یې ورڅخه وغواړه چې له مونږ څخه غرونه وخوځوي، زمونږ تنګستیا پراخه کړي، د شام او د عراق په څېر دې په مکه کې هم نهرونه او د اوبو چینې روانې کړې، زمونږ وفات شده پلاران او په ځانګړي توګه (قصي بن کلاب) را ژوندی کړي، دا چې قصي بن کلاب رښتني هستۍ وه تر څو ستا د رسالت تایید وکړي او مونږ دې هم د رسول په نوم وپېژنو، مونږ به ورڅخه وپوښتو چې ایا د ده دعواګانې حقیقت لري او که نه؟

که زمونږ غوښتنې دې په رښتیا وځوابولې، را ژوندي شوو مړو دې دعوت تایید کړ، مونږ به د الله پاک په وړاندې ستا مکانت او رتبه وپېژنو چې ته یې په رښتیا راستولی یې.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: زه تاسو ته د ګوڼي امورو د بدلون لپاره نه یم راستول شوی، زه درته الله پاک په هغه څه راستولی یم چې مې درته ښوولي دي، او د الله پاک پیغامونه مې تاسو ته در ورسول، که تاسو د الله پاک پیغامونه ومنئ دغه به مو د دنیا او اخرت د نېکمرغۍ برخه او حصه وي، او که زما دعوت ته مو شاه کړه، زه به د خپل ځان او ستاسو ترمنځ د الله پاک د غوڅې پرېکړې زغم وباسم.

قریشو وویل: که زمونږ غوښتنې دې له توان څخه بهر وي بیا نو د الله پاک څخه د ملائکې غوښتنه وکړه تر څو ستا دعوت راته تایید کړي، ستا پر ځای راته هغه د دعوت لړې پیل کړي.

ته دې له رب څخه وپوښته چې هرومرو تا ته په مکه کې بې مثاله ماڼۍ، باغونه، د سرو او سپینو زرو خزانې درکړي تر څو په بازار کې د خپل رزق طلبي پرېږدې او د نیک سم دم د ژوند نوی اغاز پیل کړې.

ته خو هم زمونږ په شان په ښارونو او بازارونو کې د پلور پېر جریانونه لرې، چې څنګه مونږ د ښه ژوند تالاش کوو ته یې هم کوې، خو که غیبي ګټه وته دې هم کله راته وښوده مونږ به د الله پاک به وړاندې ستا رتبه وپېژنو چې ته په رښتیا د الله رسول یې.

نبي ﷺ ورته وویل: زه کله هم له الله پاک څخه دغسې غوښتنې نه کوم،

او نه درته د دغې کارونو په شته کولو رالېږدول شوی یم، زه درته الله پاک په جنت د زیري ورکولو او له دوزخ څخه په وېرې ورکولو راستولی یم، که زما دین مو ومنو دغه به مو دنیوي او اخروي سعادت وي، او که مو سرغړونه وکړه نو د الله پاک د غوڅې پرېکړې انتظار به وباسم.

قریشو ورته وویل: که دا هم نه منې نو بیا راباندې اسمان توکړې توکړې راوغورځوه، څکه چې ته وایې چې زما رب چې څه وغواړي کولی يې شي.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: هو چې د الله پاک خوښه شي هم دغسې به وکړي.

قریشو ورته وویل: ایا ستا رب ته د دې علم نشته چې مونږ ستا د راوړي دين اړوند تا سره ناستې پاستې او ستا سره مو د مذاکراتو لړۍ پیل کړېده؟

ستا نه مو د څه شمېر شیانو غوښتنې وکړې مونږ پرې ډېره ښه پوهیږو چې د یمامې رحمان[1] تا ته د دې دعوت ښوونه کوي، او هغه دې په دې دعوت باندې روزي، تر هغه دې نه پرېږدو تر څو دې له منځه يوسو او يا هم مونږ له منځه لاړ شو.

ځینو قریشو وویل: مونږ خو د ملائکو عبادت کوو او ملائک د الله لوڼه دي.

ځینو نورو وویل: تر هغه درباندې د ایمان راوړنې اقرار نه کوو چې تر څو الله پاک او د هغه ملائک راته خپله نه وي راغلي.

نبي ﷺ د دې خبرو په اورېدو سره ودرېد او روان شو، عبدالله بن ابي امیه بن مغیره[2] چې د نبي ﷺ د پلار له اړخه تروړځوی کېده ورته وویل: محمده! له تا څخه خو قوم ډېر څه وغوښتل او ډېر څه يې درته وړاندې کړل، هېڅ دې ترې هم قبول نه کړل، بیا يې له تا نه د خپلو ځانونو لپاره د ځینو شیانو غوښتنې وکړې تر څو ستا د رسالت صدق پرې وپېژني، ستا تصدیق وکړي او تا ورته په ښوولې لار روان شي هغه دې هم ونه کړل.

بیا يې درڅخه وپوښتل چې ته دې د خپل رب نه د خپل ځان لپاره د ځینو شیانو غوښتنه وکړه ترڅو هغوی د الله پاک په وړاندې ستا لوړه رتبه او لوی شان وپېژني هغه دې هم ونه کړل.

قسم په الله چې تر هغه درباندې ایمان نه راوړم تر څو اسمان ته په پاړخنګ ونه خیژې په داسې حال کې چې زه درته په ټیټو ټیټو وګورم، او ته ورته ورسیږې، او بېرته له اسمان څخه په داسې حالت کې راشې چې څلور ملائکې دې په رسالت ګواهي ورکړي.

او قسم په الله که دغه کار ونه کړې فکر نه کوم که ایمان درباندې راوړم.

له دغه جریان څخه نبي کریم ﷺ بېرته د کور په لور له درد او غم نه ډک روان شو، هغه په دې سوچ راغلی و چې ګڼې قریش اسلام ته غاړه ږدي، او دې ورڅخه برخلاف نورې تېرې پاتې واورېدې.

(۱) د یمامې رحمان به د جاهلیت په دور کې (مسیلمة بن حبیب الحنفي) چې په مسیلمة الکذاب شهرت لري، ویل کېده.
(۲) ده بیا د مکې له فتحې نه مخکې ایمان راوړ.

## د ابو جهل غبرګون

نبي کريم ﷺ چې کله د قريشو له مجلس څخه و کوچېد، ابو جهل وويل: وس خو ټول وپوهيدئ چې محمد هم هغسې پخپل درېځ کلک ولاړ دی، زمونږ معبودان په سپکه يادوي، زمونږ دين نيمګړی بولي، زمونږ څوانه طبقه يې بې لارې کړل، زمونږ پلاران يې وکنځل، زما دې په الله قسم وي چې سبا به د ځان سره دومره وزن دار تړه (ګټه، تيګه) چې زه يې خپله د اوچتولو توان نه لرم راوړم، او چې کله محمد سجده وکړي، په سر به يې پرې ووهم، که تاسو مې دفاع کوئ او که نه يې کوئ خوښه مو، خو د بنو عبد مناف لاس دې ښکته پورته خلاص وي چې څه کولای شي خپل زور دې وازموي.

قريشو وويل: هېڅکله به دې ورته د غچ اخستنې لپاره پرې نه ږدو، زړه چې دې څه غواړي هغه وکړه.

د سبا د ورځې د سهار په مهال قريش په دې ننداره دي چې ابو جهل د نبي کريم ﷺ سره څه څه کوي؟

نبي کريم ﷺ د خپل عادت سره سم راغی او دغه ګړۍ قبله شام ته وه، د حجر اسود او رکن يماني ترمنځ ودرېد، قبله يې د ځان او د شام ترمنځ راوسته، نبي کريم ﷺ د لمونځ په کولو پيل وکړ، او قريش هم هغسې د نندارې په حال کې دي، د نبي ﷺ د سجدې کولو په دوران کې ابوجهل درنه تيګه په ډېر تکليف او مشقت پورته کړه، کوم مهال چې نبي ﷺ ته ورنږدې شو، له وېرې او ډار څخه ورنه تيګه وغورځېده، ټول قريش پاڅېدل او ورته يې کړه: ولې؟ ابوالحکم!! څه دروشول؟

ابوجهل وويل: د پرونۍ خبرې د رښتيا کولو لپاره زه ور پاڅېدم خو چې کله هم ورنږدې شوم نو د اوښانو د دارو او وازو خولو او لوړې غړۍ چې ما هېڅ نه وې ليدلي لکه وس چې مې وليدلې، که راروسته شوی نه وای نزدې وه چې زه يې خوړلی وم.

## د نضر بن الحارث واقعه

نضر بن الحارث چې کله د ابو جهل د خولې اقرار واورېد ودرېد او ويويل: ای قريشو! وس مهال تاسو د داسې ستونزې سره مش او ګرېوان ياست چې د بريا توان يې نه لرئ، محمد چې

ستاسو په مخ کې ماشوم راوټوکېد، ټول ترې خوشحاله وئ، په تاسو کې هغه د رښتني کړ دود او د امانت دارۍ سمبول و، خو چې په څڼو کې يې سپين ولګېدل او د اسلام په نوم يې درته دين راوړ نو په ساحر مو ونوموو؟؟ نا، لوړه په رب لا يزال چې ساحر نه دی، مونږ ساحران او د ساحرانو دم دورهې ليدلي دي.

تاسو ورته کاهن وايئ، خو نا لوړه په رب لايزال چې کاهن هم نه دی، مونږ کاهنان او د کاهنانو ګنګوسی او په قافيه وزن شوې جوړې سجعې اوريدلي دي.

تاسو يې شاعر بولئ خو نا شاعر هم نه دی، لوړه په رب لايزال چې مونږ شاعران او د شعر ټول ډولونه ليدلي او پېژندلي دي.

تاسو وايئ ليونی دی خو نا، ليونی او باسر هم نه دی، لوړه په رب لايزال چې مونږ ليونيان او ليونتوب پېژنو، دا خو نه وسوسې دي او نه ګډې وډې خبرې دي.

ای قريشو! لنډه دا چې د ستونزې د حل لارې پلټنه وکړئ، په رب لايزال قسم چې د ډېرې سترې ستونزې سره مخ ياست.

نضر بن الحارث چې د قريشو لوی شيطان و، د نبي ﷺ پر ضد به يې په عملي ميدان کې د ستونزې جوړولو لړې مخ په وړاندې بووله.

نضر بن الحارث چې په (حيره) کې يې د فرس د باچاهانو، د رستم او اسفنديار قيصې يادې کړې وې، چې کله به هم نبي کريم ﷺ خلکو ته وعظ او نصيحت لپاره غونډه دائره کړه، په مخکنو امتونو باندې د الله پاک د راليږلي عذابونو څخه به يې وډارول، خو چې کله به نبي کريم ﷺ له مجلس څخه پاڅېد، پر ځای به يې نضر بن ا لحارث کښېناست، او خلکو ته به يې ويل: ما ته رانږدې شئ چې زه درته له هغه نه ډېرې ښې او خوندورې خبرې وکړم، او خلکو ته به يې بيا د فارس د باچاهانو، د رستم او اسفنديار قيصې واورولې.

بيا به يې ووېل: زما د خبرو نه د محمد ﷺ خبرې په څه شي بهترې لرې؟

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا فرمايي: دنضر بن الحارث اړوند الله پاک په قرانکريم کې اته ايتونه نازل کړي دي ﴿إِذَا تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ﴾[1] په قرانکريم کې چې د اساطير کلمه په کوم ځای کې هم راشي د نضر بن الحارث اړوند به وي.

(۱) سورت قلم: (۱۵). زمونږ ايتونه چې پرې کله لوستل کيږي دا وايي: دا د مخکنو خلکو قيصې دي.

# په بې وسه او بې کسه مسلمانانو باندې د مشرکانو زور زياتی

مشرکانو د خپلو خپلو قبيلو څخه هغه بې وسه وګړي چې د نبي کريم ﷺ په دين نوی مشرّف شوي وو، هغوی به يې د بند، وهلو او د ولږې تندې په سزا ځورول، په سخته ګرمۍ کې به يې د مکې د لمر په تاو ګرمه شوې شګه باندې واچول، ځينو بې وسه خلکو د دغې سختو او ناورينو له کبله له اسلام راوړنې څخه ډډه وکړه، خو ولې نور بې وسه هم هغسې د سختيو په ګاللو د اسلام په دين ثابت قدم پاتې شول.

بلال بن ابي رباح چې ابوبکر رضي الله عَنْهُ اخستلی او ازادکړی غلام دی د مور نوم يې حمامه وه، خپله ډېر سپين نيتی او رښتيا په اسلام کلک ولاړ و، اميه بن خلف بن وهب بن حذافه بن جمح به د هرې ورځ د ماسپښين په مهال چې لمر به په خپل تاو شګې سرې لمبه کړې، بلال به يې د مکې شګلنې ساحې ته وويست، او په سينه به يې ورته درنه تيګه کېښوده او ورته به يې ويل:

لوړه په رب لايزال چې يا خو به دې په دې حالت ساه ووځي تر څو ومرې، او يا به بېرته په محمد ﷺ د کفر مخکنې درېځ اختيار وې، بېرته به د لات او عزی د عبادت لومړنۍ لړې پيل کوې.

بلال به د وريښنو مشکلاتو له ډېرې ځوريدلي انداز وروسته وويل: (احد، احد).

ورقه بن نوفل پرې يوه ورځ تېرېده او بلال يې د ځورونې په حالت کې وليد، هغه د (احد، احد) نارې وهلې، ورقه به ورته د مزيدې ډاډګېرنې لپاره ويل:: بلاله!! قسم په رب لايزال ای بلاله چې الله يو دی يو.

بيا به ورقه بن نوفل اميه بن خلف او د بنو جمح هغه خلکو ته مخ واړو چې د بلال په ځورولو به بوخت وو او ورته به يې کړه: زما دې په الله قسم وي که بلال مو په دې ځای مړ کړ، نو زه به په دې ځای تبرک ونيسم.

د ورځو نه يوه ورځ ابوبکر رضي الله عَنْهُ په لاره روان دی څه ګوري چې اميه بن خلف د بلال رضي الله عَنْهُ ځورولو ته پونده وهلې ده، ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته ووېل: ته د دې بې چاره اړوند له الله څخه نه ډارېږې؟ دا استبداد به تر څو وي؟

اميه ورته ووېل: دا خو تا بې لارې او بې چاره کړ!! وس يې له مصيبتونو څخه خلاص کړه کنه!!

ابوبکر ورته ووېل: ولې نه، ډېره ښه ده، ما سره يې زما په تور غلام تبادله کړه، زما غلام له دې څخه په قد او قامت کې ډېر بهتره دی، او بله دا چې هغه هم ستا په دين دی، زه به هغه درکړم.

اميه بن خلف ووېل: سمه ده، هغه مې په دې قبول دی.

ابوبکر وويل: هغه ستا شو، بلال يې ترې واخست او د اختو سره يې سم دواره ازاد کړ.

وړاندې له دې چې ابوبکر رضي الله عَنْهُ مدينې ته هجرت وکړي نور شپږ غلامان يې هم ازاد کړي وو چې بلال رضي الله عَنْهُ يې اووم غلام و.

عامر بن فهيره، ام عبيس، زنيره رضي الله عَنْهُمْ د دې سترګې لړ. وروسته بې ديده شوې او ړنده شوه، خلکو به ويل: لات او عزی ترې د سترګو ديد واخست، زنيرې رضي الله عَنْهَا به ويل: د کعبې په رب مې دې قسم وي چې دوی دروغ وايي، لات او عزی نه د چا د خير او ښېګړې مالکان دي او نه د ضرر او زيان، هغه و چې الله پاک ورته بېرته سترګې بينا کړې-.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ (نهديه) او دهغې لور هم ازاد کړي وو، دا دواړه د بنو عبدالدار د يوې ښځې وينځې وې، دواړه به د تعذيب په خاطر د غنمو وړه کولو لپاره لرې استول، او قسمونه به يې ورته کول چې تاسو دواړه به يې هېڅ چرته ازاد نه کړم.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: د سوګند کفاره دې ورکړه.

ښځې ورته وويل: وشوه!! تا په دواړو د فساد او زور زياتي دوران راوستی دی، وس يې ازاد کړه کنه!!

ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: دواړه په څو پلورې؟

ښځه: په دومره دومره.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ وويل: دواړه مې په همدغه قيمت شول، ما واخستل، او دا دواړه ازاد دي، بېرته ورته غنم ورکړې چې وړه يې نه کړې.

مور او لور: خير دی غنم به ورله وړه کړو او ورله به يې ورکړو!!

ابوبکر رضي الله عَنْهُ وويل: ستاسو خپله خوښه ده.

د بنو مؤمل په يوه وينځه بله ورځ تېرېده، څه ګوري چې عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ يې په څورولو بوخت دی، اخر وهلو ټکولو ستومانه کړ -هيره دې نه وي چې دا وخت هغه مشرک و- خو چې کله به ستړی ستومانه شو ورته به يې وويل: په څورولو دې ډېر ستړی شوم ځکه درنه قرار شوم.

وينځې به ورته وويل: ځکه خو الله پاک ستړی کړې چې له ما څخه قرار شې.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ ترې د پېرودلو غوښتنه وکړه، ترينه يې واخسته او ازاده يې کړه.

پلار يې ورته يوه ورځ وويل: ابوبکره! زه دې ګورم چې ډېر بې وسه او بې توانه غلامان ازادوې، که هرو مرو غلامان ازادوې نو که مضبوط او قوي ځوانان ازاد کړې ډېره به ښه وي تر څو له خلکو دې دفاع وکړی شي او ستا ملاتړ جوړ شي!!

ابوبکر وځوابو چې: زه په دې د الله رضا او خوشحالي غواړم.

ټولو بنو مخزوم به عمار د خپل مور او پلار رضي الله عَنْهُمْ په شمول درېواړه دماسپښين په تود او ګرم لمر کې په تودو ګرمو شګو واچول، دا په دې چې درېواړه مسلمانان وو، نبي ﷺ به ورته ويل: ای د ياسر کورنۍ! کړاونه وزغمئ ستاسو ځای جنت دی.

د عمار رضي الله عَنْهُ مور سميه رضي الله عَنْهَا يې په دغې حالت کې شهيده کړ، په داسې حال کې چې هغه په اسلام کلکه ولاړه وه.

ابو جهل فاسق چې به کله هم له يو چا څخه خبر شو چې اسلام ته يې تن ايښی دی، که سړي به کوم کورنۍ شرف او دفاعي ملاتړ درلود په خوله به يې ورته ډېرې بدې ردې وويلې چې تا خو د پلار او نيکه دين پرېښود، حالانکه ستا پلار او نيکه دې درڅخه بهتري او غوروالی لري، د اسلام په راوړلو مونږ تا ته بې وقوفه وايو، ستا لاره خطا او ناسمه ده ستا نسبي شرف هم مونږ ته هېڅ ارزښت نه لري.

او که اسلام ته غاړه اېښودونکی به تاجر و ورته به يې وويل:

لوړه په رب لايزال چې ستا تجارتي معاملات به له زيان سره مخ کړو، ستا ټوله پانګه به له منځه يوسو.

او که اسلام ته غاړه کېښودونکی به ناچاره، بې وسه او بې کسه و، په نورو خلکو به يې وهو ټکو.

سعيد بن جبير رَحِمَهُ الله فرمايي:

ما عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُ ته وويل: ايا مشرکانو به د نبي کريم ﷺ ملګري په داسې انداز ځورول چې تر څو بېرته يې کفري دريځ ته واړوي؟

هغه راته وويل: هو! په الله قسم چې مشرکانو به يو نفر تر دې حده ووهوو او تر دې حده به يې تږی وږی کړ چې د ناستې پاستې هېڅ توان به يې نه درلود، د دغې سختۍ څخه دخلاصون لپاره به يې ورته د کفر وړانديزونه کول، تر دې پورې به يې ورته ويل چې: ايا له الله پرته د لات او عزی الوهيت ته قائل او که نه؟

تر دې چې ګونګټه به يې ورته وړاندې کړه چې له الله پاک پرته دا ګونګټه په الوهيت مني او که نه؟

هغه به ورته ويل: هو، د لات او عزی او حتی د ګونګټې په الوهيت قايل يم.

دا به يې ځکه ويل چې تر څو ورېښو ستونزو او ازار کې پرې تخفيف راشي.

# حبشو ته لومړی هجرت

نبي كريم ﷺ چې الله پاک پخپله د مشركانو څخه هم ساتو او ابوطالب يې هم د نبي كريم ﷺ د حفاظت لوی لامل جوړ كړی و، خو ولې نور مسلمانان چې د مشركانو د زور زياتي او تودو ترخو څخه په ډېره زياته نا ارامۍ كې وو، نبي ﷺ وغوښتل چې حبشې ته يې د ارام ژوند لپاره واستوي، او ورته يې وويل: د حالاتو د ښه كېدو پورې تاسو حبشې ته لاړ شئ، د حبشې ځمكه رښتنې ځمكه هم ده او هم يې باچا عادل او منصف دی، د هغه په واک كې څوک په چا ظلم او زياتی نه شي كولای.

د نبي ﷺ د امر سره سم ځينې مسلمانان خپل دين د سالم حفاظت او د مشركانو نه د وروپېښو ستونزمنو حالتونو نه د بچاو لپاره د حبشې په لور كامونه پورته كړ، همدغه د مسلمانانو او په اسلام كې لومړی هجرت و.

له مكې څخه حبشو ته لومړني مهاجرين: عثمان بن عفان او دهغه بي بي رقيه بنت رسول الله ﷺ ابوحذيفه بن عتبه، او د هغه بي بي سهله بنت سهيل، زبير بن العوام، مصعب بن عمير، عبدالرحمن بن عوف، ابو سلمة بن عبدالاسد او د هغه بي بي ام سلمة بن ابى اميه، عثمان بن مظعون، عامر بن ربيعه او د هغه بي بي ليلى بنت ابي حثمه، ابو سبره بن ابي رهم،، سهيل بن بيضاء وو[۱].

حبشو ته هجرت لومړی همدې لسو كسانو كړی دی.

له دې وروسته جعفر بن ابي طالب له مكې څخه حبشو ته د مهاجرت لاره غوره كړه، د جعفر پسې ورځ تر بله خلک په روانېدو شول، څوک دخپلو ښځو او ماشومانو سره لاړل مهاجر شول او څوک له بچو پرته د حبشو په ځمكه مهاجر پرېوتل.

بالاخره حبشو ته له مكې څخه د مهاجرينو ټوله سر شمېرنه درې اتيا سړو ته ورسېده، بغير د خپلو هغې وړو ماشومانو بچو نه چې يا خو ورسره واړه تللي وو او يا هم په حبشو كې شوي وو.

## له حبشې څخه مكې ته بېرته د مهاجرينو راستونې لپاره د قريشو نجاشي ته پلاوې لېږدول

قريش چې كله وپوهېدل چې د نبي كريم ﷺ پيروانو ته د حبشې په ځمكه كې اطمئنان او د ډېرې سوكالۍ ژوند ورپه نصيب شو، خپل منځ كې سره راټول شول او په دې خبره سره اتفاق

(۱) ابن هشام وايي: په دې خلكو مشر عثمان بن مظعون و.

ته ورسېدل چې باید نجاشي ته دوه ژبه ور استازي واستوي، تر څو حبشو ته تللي مهاجرين بېرته مکې ته د تعذيب او تنګې سختې مخکنو حالتونو ته راستانه کړي.

هغه و چې د قريشو مشوره په عبدالله بن ابي ربيعه او عمرو بن العاص بن وائل باندې راغله، ټولو قريشو د نجاشي او دهغه ټولو لوړ پوړو چارواکو ته نايابه او قيمتي ډالۍ د دواړو استازو په لاس هم واستولې.

د نبي کريم ﷺ بي بي ام سلمه بنت ابي اميه بن المغيره رضي الله عَنْهَا وايي:

کله چې مونږ حبشو ته په خير خيريت ورسېدو، د نجاشي په څېر د ښو اخلاقو سمبول سره مو چم ګاونډ شو، د ديني شعيرو په انجامولو به مو له هېڅ چا څخه د درد او غم سحنې نه تر سترګو کېدې، مونږ هلته د الله پاک عبادت کوو، نه خو به راته د چا وچورلی تريو و، او نه به د چا د لاسه په زحمت او مشقت کې لويدو.

کله چې قريش زمونږ په سوکاله ژوند خبر شول هوډ يې وکړ چې نجاشي ته دوه تکړه خوله ورې هستۍ د قيمتي او نايابه تحفو په شمول راواستوي، چونکه د مکې اعلی ترين او ښه واردات د څرمنو او پوستکو نه جوړ سازوسامان و، ورته راوړل، په حبشه کې هېڅ لوړ پوړی چارواکی نه و مګر قريشو ورته ارزښتناکې تحفې راستولې وې، قريشو عبدالله بن ابی ربيعه او عمرو بن العاص ته د دې لارښوونه کړې وه چې د نجاشي سره د خيالاتو له تبادلې وړاندې هرو مرو مذهبي مشرانو سره وګورئ، او تحفې ورته لاس په لاس ورکړئ.

له دغې پړاو وروسته بايد تاسو د نجاشي سره تفصيلي خبرې اترې وکړئ، تر څو مهاجرين تاسو ته د هغوی سره دخبرو اترو نه مخکې لاس په لاس در ورسپاري، خو د نجاشي سره ستاسو ليدنه بايد د تحفو په ورکونه پيل شي.

مونږ لا هم هغسې په خير خيريت سره شپې سبا کولې چې د قريشو دواړه استازي حبشو ته راورسيدل، وړاندې له دې چې د نجاشي سره د ليدو کتو لړې پيل کړي، لومړی يې ټولو لوړ پوړو چارواکو سره وکتل، تحفې يې ورته ورکړې او ورته يې وويل:

ستاسو خاورې ته زمونږ څه شمېر بې عقله او بې شعوره خلک راغلي دي، هغوی د خپل پلار نيکه دين پرېښی دی، او له ځان څخه يې د تېر دين په بدل کې بل دين راوړی دی، داسې دين دی چې نه خو يې مونږ پېژنو او نه تاسو، د دغو خلکو د قوم شريفو او مخه ورو خلکو مونږ تاسو او ستاسو باچا ته راليږلي يو تر څو بېرته يې راسره مکې ته وليږدوئ، چې کله هم مونږ د دغو خلکو اړوند باچا سلامت سره خبرې اترې پيل کړو، تاسو زمونږ د دريځ کلک ملاتړ وکړئ، ځکه چې وسمهال هغوی تاسو ته پناه راوړېده، خپل قوم يې په کورني او عقلي حالت ډېر ښه پوهيږي، د دوی عيب جن حالتونه هغوی ډېر ښه پېژني، ټولو ورته وويل: سمه ده.

بیا د قریشو استازو نجاشي ته تحفې وړاندې کړې، نجاشي ترې تحفې قبولې کړې.

دواړو استازو نجاشي ته وویل: زمونږ د قوم څه خلکو ستا خاورې ته پناه راوړېده، د خپل قوم دین یې پرېښی دی او ستا په دین کې هم نه دي داخل شوي، له خپل ځان څخه یې د بل دین ایجاد کړی دی چې نه یې ته خپله پېژنې او نه یې مونږ پېژنو.

د دې خلکو مشرانو او مخه ورو خلکو، د دوی پلارانو او ترونو او قبیلو مونږ دواړه تا ته راواستولو چې ته یې مونږ ته بېرته مکې ته د ستنولو لپاره حواله کړې، د دې خلکو خپل خپلوان او ټول مشران د دوی په جنون او لیونتوب ډېر ښه پوهیږي، هغوی چې په دوی کې شته څومره خوګانې وینې نور څوک یې هغسې نه ویني.

ام سلمه رضي الله عَنْهَا وایي:

عبدالله بن ابي ربیعه او عمرو بن العاص ته دا ډېره نا پسنده وه چې هسې نه نجاشي یې خبرې واوري.

نجاشي ته خپلو لوړ پوړو چارواکو وویل: د دې خلکو خبرې سمې دي.

د راغلو خلکو قوم او کورني مشران په دوی ښه خبر دي، هغوی یې خوګانې له نورو څخه ډېرې ښې پېژني، دواړو ته ټول راغلي حواله کړه چې له ځان سره یې مکې ته بوځي.

نجاشي په غصه شو او ښه پسې غصه شو، بیا یې وویل: په الله مې دې قسم وي چې هېڅکله به دغسې کار ونه شي، داسې قوم چې ما ته یې پناه راوړې وي هېڅکله به یې ورته تسلیم نه کړم، زه یې په نورو خلکو غوره کړی یم، زما په قلمرو کې د میلمنو حیثیت لري، تر هغه به یې ورته تسلیم نه کړم تر څو یې راوغواړم او خبرې یې واورم، که هغوی رښتیا هم داسې وو لکه څنګه چې یې دوی وایي، ټول به له خپلې ځمکې څخه وباسم او دوېته به یې تسلیم کړم، او که خبره له دې څخه بدله وه، نو زه به ترې خپله دفاع نوره هم پسې پیاوړې کړم، نوره ننګه به یې هم وکړم، او قدر احترام به یې پسې لا زیات کړم.

ام سلمه رضي الله عَنْهَا وایي: نجاشي د مهاجرینو پسې خپل استازی راواستو، د استازي د راتګ سره مهاجرین خپل منځنۍ خبرې پیل کړې چې که باچا سلامت ته ورشو، باید څه څه ورته وویل شي، ځینو یې وویل: که د کړاونو هر ډول سره مخامخ کیږو مخامخ دې شو خو چې څنګه راته نبي کریم ﷺ دیني ښوونې کړې دي هم هغه به ورته ووایو.

مهاجرین چې کله د نجاشي دربار ته حاضر شول، نجاشي خپل ټول مذهبي مشران طلب کړل، ټول راغلل او خپل خپل کتابونه یې بېرته کړل، نجاشي له مهاجرینو څخه وپوښتل:

دا څنګه دین دی چې له کبله مو پرې خپل قوم قبیله پرېښې ده، زمونږ دین هم نه دی چې تاسو قبول کړی وي او نه نور هغه دینونه دي چې خلک یې پېژني؟؟

جعفر بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ چې د مهاجرينو مشري يې کوله ورته وويل: باچا سلامت! مونږ نا پوهه او ناخبره قوم وو، مونږ به د بوتانو عبادت کو، پليته او هر ډول مرداره به مو خوړله، د سرېتوب ضد فاحشه کارونه به مو کول، خپلولي به مو نه پالـله، ګاونډي به رانه تر دوو سپېړ.مو راغلی و، زوررور به د خپل ځواک له مخې ناچاره تر هډوکو خوړه، مونږ په دغې بې دينۍ کې وو چې الله پاک راته د خپل اړخه پېغمبر راواستو، مونږ د هغه نسب او رښتنی ګړدود ډېر ښه پېژنو، مونږ د هغه امانتدارۍ او پاک دامنۍ ته قايل يو، هغه مونږ د الله پاک توحيد او عبادت ته دعوت کړو، تر څو د هغې بوتانو عبادت پرېږدو چې لږ څه وړاندې مونږ او زمونږ پلارانو کوو، دغه پېغمبر مونږ ته د رښتيا خبرو په کولو توصيه کوي، مونږ د امانت په بېرته سپارتلو او د خپلولۍ په پالـلو، د ښه ګاونډيتوب، له ناروا او وينو تويلو څخه د ځان ژغورنې په نيکو اخلاقو روزي، هغه مونږ له بدو کارونو، د درواغو ويلو، د يتيم شتمنۍ د خوړلو او په پاک دامنو زنانوو باندې له تور لګونې څخه رابندوي.

دغه راغلی پېغمبر مونږ ته د الله پاک په عبادت امر کوي چې په عبادت کې ورسره هيڅ شريک مه جوړوۍ، مونږ ته د لمونځ کولو، د زکات په ورکولو او د روژې په نيولو امر کوي...

ام سلمه رضي الله عَنْهَا وايي: نور ديني شعاير يې هم نجاشي ته د بېلګې په توګه ياد کړل.

کله چې دغه پېغمبر راغی مونږ يې تصديق وکړ او ايمان مو پرې راوړ، د الله پاک له پلوه په راوړي شعايرو لمانځلو کې مو د هغه پېروي وکړه، د الله پاک د عبادت پېل مو داسې وکړ چې د هر راز شريک نه مو پاک کړ، له هغه شيانو نه مو ځان رابند کړ چې په مونږ يې حرام کړي وو، او هغه شيان مو زير استعمال کړل چې يې راته روا کړي وو، زمونږ قوم په مونږ لاس پورته کړ، زمونږ وهل او ډبول يې په دې خاطر شروع کړل چې له دين څخه مو بېرته کفر ته ستانه کړي، او تر څو د الله پاک سره بېرته په عبادتونو کې د برخه دار عقيده ولرو، بېرته هغه مردارې چې مونږ به ورته حلال ويل يو ځل ورته بيا حلال وو ايو.

زمونږ قوم چې کله زمونږ پر ضد خپل زور ځواک استعمال کړ، په مونږ يې د استبداد لړي پېل کړه، مونږ يې تنګ کړو، د ديني شعايرو ادا کولو ته يې نه پرېښودو، ته مو په نورو باچاهانو غوره کړې، ستا په ګاونډ کې مو د خير احساس وکړ، دغه دی چې ستا خاورې ته راننوتو، دا مو په ذهن کې وه چې شايد ستا په اقتدار کې څوک په مونږ ظلم ونه کړي.

نجاشي ورته وويل: ايا الله پاک چې ستاسو پېغمبر ته د څه وحي کړېده تا ته ترې څه ياد دي؟

جعفر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: هو ولې نه. نجاشي ورته کړه: ما ته يې واوروه.

جعفر رضي الله عَنْهُ ورته د سورت مريم ﴿كٓهيعٓصٓ﴾ لومړۍ برخه ولوسته.

ام سلمه رضي الله عَنْهَا وايي: نجاشي او د هغه مذهبي مشرانو د سورت د اورېدو سره سم د لاسه دومره وژړل چې ګیرې يې په اوښکو لوندې شوې، اود دېرې ژړا له کبله چې کوم مصحفونه او کتابونه يې پرانستي و هغه هم لانده شول.

بیا ورته نجاشي وويل: قسم په الله چې دا ايتونه او هغه څه چې عيسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ راوړي وو، له يو تاق (تاخچې) څخه راختلل شوي دي.

د قريشو استازو ته يې وويل: ځئ له دې ځای څخه ولاړ شئ، هېڅکله نه شي کېدای چې زه يې درته تسليم کړم.

ام سلمه رضي الله عَنْهَا وايي: کله چې دواړه د نجاشي له دربار څخه راووتل، عمرو بن العاص وويل: زما دې په الله قسم وي چې زه به سبا نجاشي ته بيا راځم او داسې خبرې به ورته وکړم چې د مهاجرينو جرړې پرې وباسم.

عبدالله بن ابي ربيعه ورته وويل: - په دواړو کې عبدالله بن ابي ربيعه زمونږ اړوند ډېر نرم و - لږ په ارام شه، که دوی څه هم زمونږ ضد دي خو ولې خپلولي سره لرو.

عمرو بن العاص وويل: قسم په الله چې زه به ورته سبا ووايم: دوی داسې انګیروي چې عيسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ انسان او د الله بنده دی.

بيا چې کله ورته سبا د ورځې دوباره راغلل، نجاشي ته يې وويل: باچا سلامت! دوی د عيسى بن مريم عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ اړوند ډېره بده عقيده لري که لږ يې بيا راغواړې او ورڅخه پوښتنه وکړې؟

نجاشي راغلو مهاجرينو پسې خپل استازی راواستو چې د باچا دربار ته حاضري ورکړئ.

ام سلمه رضي الله عَنْهَا وايي: دغسې مصيبت په مونږ چرته هم نه و راغلی، بيا سره مهاجرين راټول شول چې که باچا پوښتنه وکړه چې د عيسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ اړوند څه عقيده لرئ؟ نو ځواب به مو څه وي؟

هغوی وويل: د عيسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ اړوند به ورته ټول هغه څه ووايو چې الله پاک راته د نبي کريم ﷺ په خوله ويلي دي، او که هر څه راته راپېښ شول راپېښ شوي به وي.

چې کله ټول مهاجرين د نجاشي دربار ته حاضر شول، هغه وپوښتل: تاسو مسلمانان د عيسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ اړوند څه عقيده لرئ؟

جعفر بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ ورته وويل: د عيسى بن مريم عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ اړوند زمونږ عقيده ټول هغه څه دي چې زمونږ پيغمبر ﷺ راته ښوولي دي چې عيسى بن مريم عَلَيْهِ السَّلاَمُ د الله پاک بنده او د هغه سپيڅلی استازی دی، عيسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ د الله پاک روح ده

چې مريم عَلَيْهِ السَّلاَمُ ته يې راليږدولې وه.

د خبرې د اورېدو سره سم نجاشي باچا ځمکه په لاس ووهله، ورکوټې کوچنې ډکۍ (خځنۍ) يې راواخست او ويويل: لوړه په الله پاک چې د دې ډکي په اندازه هم عيسى بن مريم عَلَيْهَا السَّلاَمُ ستا له خبرې کم او زيات نه دی.

د نجاشي د خبرو د اورېدو سره سم ټولو مذهبي مشرانو خنار شروع کړل، هغه ورته وويل: لوړه په رب کريم چې خبره هم دا ده که هر څومره وخنېږئ، دوی په حق دي.

مهاجرينو ته يې وويل: زما په ځمکه کې ازاد ياست، د هغه چا به اجل راغلی وي چې تاسو وکنځي او يا مو د سپکوالي اراده ولري، ستاسو د اذيت او ستونزو ته د ورکولو په بدل کې د سرو زرو غر هېڅ ارزښتناک او قابل قدر نه بولم، دوی ته بېرته خپلې ډالۍ ورکړئ زه ورته هېڅ اړتيا نه لرم.

ام سلمه رضي الله عَنْهَا وايي: دواړه يې له دربار څخه ناهيلي نا مراده ووتل، راوړې ډالۍ ورته بېرته ورکړل شوې، مونږ د نجاشي سره په پر امنه ځمکه د پر امن زندګۍ پړاو پېل کړ.

ام سلمه رضي الله عَنْهَا وايي: مونږ لا په حبشو کې وو چې د نجاشي سره په زور ځواک د بل سړي انقلابي پاځون بد خبر مو تر غوږ شو، په الله مې دې قسم وي چې د دغې ورځې د خفګان په څېر خفګان په مونږ هېڅ چرته نه و راغلی، مونږ ويل هسې نه واک او اختيار د نجاشي ضد سړي ته په لاس ورشي او د ده په څېر به مو حقوق ونه پېژني، نجاشي يې مقابلې ته ووت، د دواړو ترمنځ د نيل نهر ساحل معرکه ځای و، د نبي ﷺ ملګرو وويل: د نجاشي د بريا يا شکست د خبر راوړنې لپاره به څوک د جنګ مېدان ته لاړ شي؟

زبير بن العوام رضي الله عَنْهُ وويل: زه به ولاړ شم، ټولو ورته وويل: ته ښه يې، ته لاړ شه.

زبير بن العوام رضي الله عَنْهُ دغه مهال نوی نوی ځوان و، په نهر د تېرېدو لپاره يې ورله شناز پوک کړ، د هغه د سينې پورې يې وتړو، په سيند د لامبو له لارې تېر شو او د دواړو لښکرو جنګ ځای ته يې ځان ورسو او د هغوی خونړيزې معرکې ته حاضر شو.

ام سلمه رضي الله عَنْهَا وايي: د نجاشي په دښمن باندې د بريا او په هېواد د هغه د حکمرانۍ د ټينګښت لپاره مو له الله پاک څخه ډېرې دعاګانې وکړې، لوړه په رب لايزال چې له الله پاک څخه مو طمع توقع داسې وه چې نجاشي به بريا مومي، نابېره زبير بن العوام رضي الله عَنْهُ مو وليد چې خورا تېز راځغليد، له ورايه يې په څادر اشارې کولې او نعرې سورې يې وهلې: زيری زيری!! نجاشي بری مند شو.

هغه و چې الله يې دښمن نيست نابود کړ، په هيواد کې يې حکمراني برحاله پاتې شوه،

حبش پرې سره نور هم باوري شول.

تر هغه مو ورسره د ژوند نيک لمحات تېرول چې بېرته مکې ته نبي ﷺ ته راستانه شول.

## د عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ اسلام راوړل

عمرو بن العاص او عبدالله بن ابي ربيعه چې د نجاشي له درباره قريشو ته راستانه شول، د نبي کريم ﷺ د ملګرو اړوند په تدبير جوړه کړې پلمه کې ناهيلي او نامراده شول، نجاشي په هغه سوغات راستانه کړل چې د دوی زړونه پرې چاودېدل، په دې کې عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ هم اسلام ته غاړه ورکړه، چونکه عمر رضي الله عَنْهُ د دښمن هر چل او پراډ بې ستونزې بوله، ټول مسلمانان د عمر او حمزه رضي الله عَنْهُمَا د اسلام په راوړلو په قريشو زړه ور او باتوران شول.

عبدالله بن مسعود رضي الله عَنْهُ وايي: د عمر رضي الله عَنْهُ له اسلام راوړو وړاندې مونږ د کعبې سره نزدې د لمونځ کولو هېڅ توان نه لرو، خو عمر رضي الله عَنْهُ چې کله اسلام راوړ د هغه سره په ملګرتوب کې مو دکعبې سره نزدې ايله بيله لمونځ وکړ، خو د عمر رضي الله عَنْهُ اسلام راوړنه حبشو ته د نبي کريم – صلى الله عليه وسلم – د ملګرو له هجرت کولو څخه وروسته وه.

ما ته د رارسيدلي راپور له مخې د عمر رضي الله عَنْهُ خور فاطمه بنت الخطاب او د هغې خاوند سعيد بن زيد رضي الله عَنْهُمَا دواړو د عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ نه پټ او پناه اسلام قبول کړی و، نعيم بن عبدالله النّحام چې خپله هم د عمر رضي الله عَنْهُ له قبيلې (بنو عدي) څخه و، دی هم د قوم له وېرې څخه خپل اسلام پټ ساتلی و.

خباب بن الأرت رضي الله عَنْهُ به فاطمه بنت الخطاب ته د قرانکريم ښوونې لپاره راتلو، يوه ورځ چې نبي کريم ﷺ او ملګري يې د صفا تر څنګ يو کور کې عمر رضي الله عَنْهُ ته په نښه کړی شوي وو، توره په لاس د هغوی پسې رهی شو، هغه ته په نښه شوي کور کې د نارينه او زنانه وو په شمول د مسلمانانو سر شمېرنه نزدې څلويښتو شاوخوا ته رسېده.

د نورو مسلمانانو په شمول د نبي کريم ﷺ سره د هغه تره حمزه بن عبدالمطلب، ابوبکر الصديق او علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُمْ هم ناست وو، تر څنګ يې نور هغه مسلمانان هم ناست وو چې حبشې ته يې هجرت نه و کړی، نعيم بن عبدالله ورڅخه وپوښتل: عمره! په کومه روان يې؟

عمر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: محمد پسې ځم تر څو يې ووژنم، د خپل پلار دين يې پرېښود، د قريشو ځوانان يې بې وقوفه کړل، د هغوی معبودان يې په سپکه سپوره لهجه ياد کړل، او لا هم د قريشو دين ته باطل دين وايي.

نعيم بن عبدالله رضي الله عَنْهُ ورته وويل: عمره! ځان دې غره او دوکه کړی يې، ته څه ګومان لرې چې محمد ووژنې نو بنو عبدمناف به دې په ځمکه ژوندې پرېږدي!!

ولې لومړی دې د خپل کور غم ولې نه خورې؟

عمر: ولې؟ د کوم کور؟!! د چا غم؟!

نعيم بن عبدالله رضي الله عَنْهُ ورته وويل: ستا د اووښي او د کاکا ځوی سعيد بن زيد او ستا د خور فاطمة بنت الخطاب رضي الله عَنْهُمَا هغوی دواړو خو هم اسلام راوړی دی کنه! لا ړ شه لومړی د دوی غم وخوره بيا...(١)

عمر رضي الله عَنْهُ دخپلې خور او اووښي په لور روان شو، دغه مهال خباب بن الارت رضي الله عَنْهُ هم ورسره ناست و، او سورت (طه) يې دواړو ته ورزده کوله، درېواړه چې کله د عمر رضي الله عَنْهُ په راتګ وپوهېدل خباب بن الارت رضي الله عَنْهُ خو د کور په ځينې پټه برخه کې پټ پناه شو او فاطمې رضي الله عَنْهَا ليکل شوی سورت د خپل ورون لاندې کړ، له ننوتو وړاندې عمر رضي الله عَنْهُ د خباب بن الارت رضي الله عَنْهُ اواز اورېدلی و، عمر رضي الله عَنْهُ وويل: دا د څه شي ګنګوسی و؟

فاطمې او سعيد بن زيد رضي الله عَنْهُمَا دواړو ورته وويل: مونږ خو ګنګوسی نه دی کړی، مونږ نه پوهيږو چې تا به څه اوريدلي وي؟

عمر رضي الله عَنْهُ وويل: په لوی الله مې دې قسم وي چې زه وخبرېدم چې تاسو دواړو اسلام راوړی دی، او د محمد ﷺ پيروکار جوړ شوي ياست، سمدستي يې د سعيد بن زيد ګريوان ته لاس وغځاو په ځمکه يې خطا کړ، فاطمې رضي الله عَنْهَا توندې وکړه تر څو ترې خپل خاوند خلاص کړي، په سر يې ووهله او ټپي شوه، له سر څخه يې وينې په مخ رودنه شوې، عمر رضي الله عَنْهُ چې کله د خور په مخ وينې وليدې، زړه يې پرې وسوځېد دواړو ورته وويل: هو مونږ اسلام راوړی دی، مونږ په الله پاک او د هغه په رسول ايمان راوړی دی، دا چې د فاطمې رضي الله عَنْهَا په مخ پرتو وينو پښېمانه کړل، ورته يې وويل: هغه کتاب مو را کړئ چې لږ وړاندې مې د ګنګوسي په صورت کې واورېد، تر څو د محمد راوړی دين پخپله ووينم، که څه هم عمر رضي الله عَنْهُ په ليک لوست ډېره ښه پوهېده خو خور يې ورته وويل: زه وېرېږم چې هسې نه ببرته يې رانه کړې!!

(١) دا دواړه يې ورته ځکه ياد کړل تر څو له نبي کريم ﷺ څخه يې پام واوړي، او ددوی دواړو تکليف د نبي ﷺ ته د تکليف په پرتله ډېره کم دی.

عمر رضي الله عَنْهُ ورته پخپلو معبودانو سوګند پورته کړ چې د صحيفې اړوند د ضياع هيڅ خوف او خطر مه لره.

د دې خبرې د اورېدو سره يې خور د اسلام راوړنې امېد ودرلود او ورته يې وويل: ته لا پخپل شرک او کفر ياتې يې نجس يې[1]، عمر رضي الله عَنْهُ سم دواره پاڅېد او غسل يې وکړ، بيا ورته فاطمې رضي الله عَنْهَا صحيفه ورکړه چې سورت (طه) پکې ليکل شوی و.

عمر رضي الله عَنْهُ چې کله لومړني ايتونو ولوستل، ويويل: دا څومره خوندور او ښايسته کلام دی!! د دې خبرې اورېدو سره خباب بن الارت رضي الله عَنْهُ په بېړه راووت او ورته يې کړه: امېد لرم چې الله پاک د خپل پيغمبر په دعا ستا د خېر اراده کړې وي، پرون مې ورڅخه واورېدل چې: ای الله! په ابو الحکم عمرو بن هشام او يا په عمر بن الخطاب د اسلام مبارک دين پياوړی کړه، تاخير ونه کړې او د الله دين ومنه!

عمر رضي الله عَنْهُ وويل: خبابه! محمد ﷺ وسمهال چرته دی تر څو لاړ شم او خپل اسلام اعلان کړم.

خباب رضي الله عَنْهُ ورته وويل: هغه د صفا تر څنګ کور کې دخپلو ځېنو ملګرو په شمول شتون لري.

عمر -رضي الله عنه- له تيکې څخه بيا توره راوويسته او د نبي ﷺ په لور رهی شو، کوم مهال چې يې دروازه ټک ټک کړه يو صحابي راغی، د دروازې په چاو کې يې پام وکړ څه ګوري چې عمر رضي الله عَنْهُ له تيکې څخه توره راويستې ولاړ دی، صحابي توند د نبي ﷺ حضور ته لاړ او په روان جريان يې خبر کړ چې عمر رضي الله عَنْهُ په دروازه توره په لاس ولاړ دی.

حمزه رضي الله عَنْهُ ورته وويل: دروازه ورته خلاصه کړه، که د خير اراده يې درلوده په خير به يې ونازوو، او که د شر اراده يې درلوده په خپلې تورې به يې ووژنو.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: دروازه ورته خلاصه کړئ، صحابي راغی او دروازه يې خلاصه کړه، په خونه کې پسې نبي کريم ﷺ ورپاڅېد، له بدې يا له ګرېوان نه يې کلک ونيو، او ورته يې وويل: عمره! په کوم نيت راغلی يې؟!! په الله پاک مې دې قسم وي وړاندې له دې چې له موخې دې وزګار شې الله به درباندې سخت عذاب راوليږدوي.

عمر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: غواړم چې په الله پاک او د هغه په رسول او په ټولو هغه څه چې الله پاک راستولي دي ايمان راوړم.

(۱) په طهارت باندې د قرانکريم په (مس) کولو کې اختلاف دی، څوک وايي فرض دی او څوک وايي مندوب دی.

نبي ﷺ په لوړ اوازو د تکبیر ناره ووهله، په کور کې شته خلک وپوهېدل چې عمر رضي الله عَنْهُ اسلام ته غاړه کېښوده.

د نبي کریم ﷺ ټو ل ملګري د عمر او حمزه رضي الله عَنْهُمَا د اسلام راوړلو سره سم خواره واره شول، او د مشرکانو د زور زیاتي څخه د بچاو لپاره په عمر رضي الله عَنْهُ ډاډمند او نور هم پسې زړه ور شول.

عمر رضي الله عَنْهُ خپله وايي: له کله راهیسې چې مې اسلام راوړ په همدغه شپه مې سوچ وکړ چې په ټوله مکه کې به د نبي کریم ﷺ کلک او قوي دښمن څوک وي تر څو ښخپل ایمان يې وخبروم، ومې ویل چې لوی دښمن يې ابوجهل دی، د سهار په مهال مې ورته دروازه ټک ټک کړه، ابوجهل چونکه ښخپله راووت راته يې وویل: زما خورى دې هر کله او ښخیر راشي[١]، ولې څنګه راغلې؟

ما ورته وویل: تا ته راغلم تر څو دې وخبروم چې په الله او د هغه په رسول مې ایمان راوړ او د نبي کریم ﷺ راوړی دین مې تصدیق کړ.

عمر رضي الله عَنْهُ وايي: ابو جهل راپسې دروازه په کړنګیدلي اواز راپورې کړه او ویویل: تا دې هم الله تباه کړي او ستا راوړی خبر دې هم الله تباه کړي.

## قریشو ژمنلیک اړوند معلومات

قریش چې کله وپوهېدل چې د نبي کریم ﷺ پیروکار په داسې خاوره واوښتل چې د امن او ډاډ خزانه ده، نجاشي هم پرې کلکه ننګه وکړه او دفاع کې يې واخستل، عمر او حمزه رضي الله عَنْهُمَا هم اسلام ته غاړه کېښوده او د نبي ﷺ او د ملګرو سره يې یو ځای شول، ورځ تر بلې اسلامي نظام د بېلابېلو قبیلو ترمنځ نشرو اشاعت پیدا کوي، په دې پرېکړې سره یو خوله شول چې د بنو عبدالمطلب او بنو هاشمو سره به دواړه اړخیزې ازدواجي اړیکې هم وشکوي او پلور او پیر به هم ورسره پرېږدي.

د مکې کفارو له غبرګون ښودو وروسته متفقه ژمنه لاسلیک کړه او پر لیکلي عهد يې د ملي پاڅون مضبوط لوظونه وکړل، د زیات باور او ښخپلو خبرو کلک ودرېدو لپاره يې لیکلې فیصله د کعبې په منځ کې دېوال پورې اویزان کړه.

(١) د عمر رضي الله عَنْهُ مور حنتمه بنت هشام بن المغيره د ابو جهل خور کېده.

منصور بن عکرمه چې دغه پرېکړه لیکلې وه د نبي ﷺ ورته کړې ښېراه له مخې یې دواړه لاسونه شل فشل شول.

دغې پاڅون ته چې قریشو کله عملي بڼه ورکړه ټول بنو هاشم او بنو عبدالمطلب د ابوطالب بن عبدالمطلب په مشرۍ د غرو لمنو او ناونو ته ننوتل، د بنو هاشم له کورنۍ څخه ابولهب عبدالعزی بن عبدالمطلب قریشو ته وویل: محمد راسره د هغه څه لوظونه کوي چې د سترګو په نظر کې مې نه راځي چې دغه ټول هر څه به له مرګ نه وروسته وي، له مړینې وروسته به هغه ما ته څه راکړي؟

ابولهب به بیا د دواړو لاسونو ترمنځ اسوېلي وکړل او دا به یې وویل: ای لاسونو!! تاسو کې مې هغه څه ونه لیدل چې محمد یې درسره ژمنه کوي، نو الله پاک دا سورت نازل کړ ﴿تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ۝١ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ۝٢ سَيَصْلَىٰ نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝٣ وَٱمْرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلْحَطَبِ ۝٤ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ﴾[1].

دوه یا درې کاله دغې ستونزمنې لړۍ دوام لرو تر دې چې زیات وخپل شول، هغه قریش چې په لیکلې پرېکړې خوښ نه وو، مسلمانانو او ورسره نورو خلکو ته به یې خوراکي توکي په پټه توګه انتقالولې.

## نبي ﷺ د خپل قوم له لاسه د ناورینو سره مخامخ کېدل

له قریشو څخه چې کله الله پاک خپل استازی محفوظ وساته، د هغه تره او په بنو هاشم او بنو مطلب کورنۍ یې هغه ته د ورپېښو ستونزو نه مانع کړل، هغوی ورپسې د ملنډو مسخرو، د رشخن او خنداګانو، د جنګ او جدل او حق د زبان درازۍ لاره غوره کړه.

هغه وچې د قرانکریم زیاتره برخه د هغه چا په حق کې وغږېده چې د نبي کریم ﷺ سره یې د دښمنۍ او تربګنۍ لاره غوره کړېوه، ځینې دښمنان داسې دي چې په قرانکریم یې الله

(۱) سورت مسد: (۱-۵). ژباړه: د ابولهب دواړه لاسونه دې برباد شي او برباد شوي دي، هغه ته خپلې شتمنۍ او کسب کار هېڅ ګټه ونه رسوله، د غومبرو والا اور ته به ډېر زر ننوځي، او د هغه ښځه به هم ورسره اور ته ننوځي چې د لرګو والا ده، په غاړه کې به یې د کجورو د پټو رسۍ وه.

ځینې روایتونه دا هم په ګوته کوي چې د دې سورت سبب نزول دا دی چې کله هم (وَأَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْأَقْرَبِيْنَ) ایت نازل شو، نبي کریم ﷺ د صفا غونډۍ ته راغی او د (يَا صَبَاحَاه) لوړ غږ یې وکړ، کله چې ورته ټول قریش راغونډ شول ورته یې وویل: که د دې غونډۍ نه پناه دښمن دربانديې د یرغل اراده لري او زه مو پرې وخبروم، ایا زما خبره تاسو تصدیقوئ؟ ټولو ورته وویل: تر وسه مو په دروغو ویلو نه یې پېژندلی، هغه ورته وویل: له سخت دردونکي عذاب وړاندې درته وېره او ډار درکوم، ابو لهب ورته وویل: هلاک او برباد شې، د دې لپاره دې راغونډ کړي وو، نو الله پاک دا سورت نازل کړ (تَبَّتْ يَدَا...)

پاک یادونه کړېده، او ځېنې نور داسې دي چې د عامو کافرانو په جمله کې یې ذکر کړیدي.

د قریشو د هغه کافرانو له جملې نه چې قرانکریم بیخي په نوم یاد کړیدي، یو هم د نبي ﷺ تره ابولهب بن عبدالمطلب او د هغه ښځه ام جمیل بنت حرب بن امیه چې قران کریم په (حمالة الحطب) یاده کړېده دي.

د ابو لهب ښځې ام جمیل به د نبي کریم ﷺ په تګلاره کې د غنو ازغو لوی لوی باروونه پاشل، الله پاک د ابو لهب او د ام جمیل په باره کې دا سورت نازل کړل ﴿تَبَّتۡ يَدَآ أَبِي لَهَبٖ وَتَبَّ ۝١ مَآ أَغۡنَىٰ عَنۡهُ مَالُهُۥ وَمَا كَسَبَ ۝٢ سَيَصۡلَىٰ نَارٗا ذَاتَ لَهَبٖ ۝٣ وَٱمۡرَأَتُهُۥ حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ ۝٤ فِي جِيدِهَا حَبۡلٞ مِّن مَّسَدِۭ﴾[1].

ابن اسحاق وایي: زه خبر شوم چې ام جمیل کله خبره شوه چې دې او د خاوند په باره کې یې څه نازل شوي دي، د لاس ورغوی یې له خاورو ښځلو ډک کړل، نبي ﷺ او ابوبکر دواړه د کعبې سره نزدې ناست وو، د رانزدې کېدو سره ترې الله پاک د سترګو دید واخست او نبي ﷺ یې ونه لید، ابوبکر رضي الله عَنْهُ څخه یې وپوښتل: ملګری دې څه شو؟ زه خبره شوې یم چې هغه ما په سپکه سپوره لهجه یادوي!! او بېرته لاړه.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ وویل: ای د الله رسوله! ولې هغې ته نه لیدلې؟ نبي کریم ﷺ وویل: هغه ما باندې الله پاک ړنده کړه، زه یې نه شوم لیدلای.

امیه بن خلف بن وهب بن حذافه بن جمح چې به نبي ﷺ ولید، په ښکاره به یې ورته بدې ردې ویلې، پیشه شا به یې وریسې ډېرې ناروا خبرې کولې، د هغه په باره کې الله دا سورت نازل کړل ﴿وَيۡلٞ لِّكُلِّ هُمَزَةٖ لُّمَزَةٍ ۝١ ٱلَّذِي جَمَعَ مَالٗا وَعَدَّدَهُۥ ۝٢ يَحۡسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخۡلَدَهُۥ ۝٣ كَلَّاۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِي ٱلۡحُطَمَةِ ۝٤ وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ۝٥ نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ۝٦ ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ۝٧ إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٞ ۝٨ فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ﴾[2].

بل هغه کافر چې په قرانکریم کې یې الله پاک یادونه کړېده عاص بن وائل السهمي دی.خباب بن الارت رضي الله عَنْهُ اهنګر و، هغه به تورې جوړولې، د عاص بن وائل لپاره یې د هغه په پشنهاد (ارډر) تورې جوړې کړې وې، د دغې مزدورۍ په بدل کې یې عاص بن وائل ډېر پور وړی و، خباب بن الارت –رضي الله عَنْهُ– راغی او خپله مزدوري یې ترې وغوښته، عاص بن وائل ورته وویل: محمد چې ته یې په دین کلک ولاړ یې، تاسو سره د دې وعده نه کوي چې په

(۱) سورت مسد: (۱ – ٥).

(۲) سورت الهمزة: (۱–۹). ژباړه: هلاکت دی هر غیبت ګر او عیب ګر لره، هغه غیبتګر او عیبګر چې شتمني جمع کوي، بار بار یې شماري او ذخیره کوي، ګومان کوي چې شتمني به یې تل ژوندی وساتي، نا داسې نه ده، په قسم سره چې په هغه څه کې به یې وغورځوو چې ماتونکی او بربادونکی دی، ته څه پوهېږې چې دغه بربادونکی او ماتونکی شی څه شی دی؟ د الله بل کړی شوی اور دی چې په زړونو باندې خیژي، او دغه اور به په دوي رابند وي (د وتلو لاره یې ترې نشته) داسې اور چې په راښکلې شوو اوږدو ستنو کې به وي.

جنت کې سره او سپین زر، حورې او غلمان دي؟ خباب رضي الله عَنْهُ ورته وويل: ولې نه، هو.

عاص ورته وويل: که دغه وعدې رښتیا وي تر قیامته دې غوښتنه وځنډوه، تر څو جنت ته لاړ شم او تا ته ستا حق په پوره توګه دروسپارم، په لوی الله قسم چې ستا او ستا له ملګري نه پرې زه ډېر حقدار یم، الله پاک یې په حق کې دا ایتونه نازل کړل ﴿أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى كَفَرَ بِـَٔايَـٰتِنَا وَقَالَ لَأُوتَيَنَّ مَالًا وَوَلَدًا ﴿٧٧﴾ أَطَّلَعَ ٱلْغَيْبَ أَمِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَـٰنِ عَهْدًا ﴿٧٨﴾ كَلَّا ۚ سَنَكْتُبُ مَا يَقُولُ وَنَمُدُّ لَهُۥ مِنَ ٱلْعَذَابِ مَدًّا ﴿٧٩﴾ وَنَرِثُهُۥ مَا يَقُولُ وَيَأْتِينَا فَرْدًا ﴿٨٠﴾ وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لِّيَكُونُوا۟ لَهُمْ عِزًّا ﴿٨١﴾ كَلَّا ۚ سَيَكْفُرُونَ بِعِبَادَتِهِمْ وَيَكُونُونَ عَلَيْهِمْ ضِدًّا ﴿٨٢﴾ أَلَمْ تَرَ أَنَّآ أَرْسَلْنَا ٱلشَّيَـٰطِينَ عَلَى ٱلْكَـٰفِرِينَ تَؤُزُّهُمْ أَزًّا ﴿٨٣﴾ فَلَا تَعْجَلْ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّمَا نَعُدُّ لَهُمْ عَدًّا ﴿٨٤﴾ يَوْمَ نَحْشُرُ ٱلْمُتَّقِينَ إِلَى ٱلرَّحْمَـٰنِ وَفْدًا ﴿٨٥﴾ وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا ﴿٨٦﴾ لَّا يَمْلِكُونَ ٱلشَّفَـٰعَةَ إِلَّا مَنِ ٱتَّخَذَ عِندَ ٱلرَّحْمَـٰنِ عَهْدًا ﴿٨٧﴾ وَقَالُوا۟ ٱتَّخَذَ ٱلرَّحْمَـٰنُ وَلَدًا ﴿٨٨﴾ لَّقَدْ جِئْتُمْ شَيْـًٔا إِدًّا ﴿٨٩﴾ تَكَادُ ٱلسَّمَـٰوَٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنشَقُّ ٱلْأَرْضُ وَتَخِرُّ ٱلْجِبَالُ هَدًّا ﴿٩٠﴾ أَن دَعَوْا۟ لِلرَّحْمَـٰنِ وَلَدًا ﴿٩١﴾ وَمَا يَنۢبَغِى لِلرَّحْمَـٰنِ أَن يَتَّخِذَ وَلَدًا ﴿٩٢﴾ إِن كُلُّ مَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ إِلَّآ ءَاتِى ٱلرَّحْمَـٰنِ عَبْدًا ﴿٩٣﴾ لَّقَدْ أَحْصَىٰهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا ﴿٩٤﴾ وَكُلُّهُمْ ءَاتِيهِ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ فَرْدًا﴾[(١)].

ابوجهل یوه ورځ د نبي کریم ﷺ سره مخامخ شو، اوورته یې وویل: لوړه په رب لا یزال چې یا خو به زمونږ د معبودانو په رابطه سپکې سپورې پرېږدې او یا به ستا معبود هم په سپکه لهجه یاد کړو! نو الله پاک دا قول نازل کړل ﴿وَلَا تَسُبُّوا۟ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّوا۟ ٱللَّهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾[(٢)]، زه داسې خبر شوم چې نبي کریم ﷺ د هغوی د معبودانو څخه راستون شو، او د الله طرف ته به یې بلنه ورکوله.بل غټ کافر چې قرانکریم یې له خباثت نه پرده پورته کړېده، نضر بن الحارث بن کلدم بن عبدمناف بن عبدالدار بن قصي دی، کله چې به هم نبي کریم

(١) سورت مریم: (٧٧–٩٥). ژباړه: ایا تا هغه څوک لیدلی دی چې زمونږ په ایتونو یې کفر غوره کړ او وایي چې په اخرت کې به راته ضرور مال او بچي راکړل شي، ایا دغې کافر په غیبو پوهیږي او که نه الله نه یې وعده اخستې ده، نا هېڅکله داسې نه ده، دا چې څه وایي مونږ یې لیکو او عذاب به ورته ډېر زیات اوږد کړو، ورسره شته مال او دولت به ترې په مرګ سره واخلو او مونږ ته به ایکې یواځې راشي، دغو کافرانو له الله پرته نور باطل معبودان نیولي دي چې دوی ته به پرې عزت ورکړل شي، نا داسې نه ده بلکې دغه معبودان به یې په عبادتونو زر منکر شي او برعکس د دوی دښمنان به جوړ شي، ایا ته نه ګورې چې مونږ شیطانان په کافرانو مسلط کړي دي چې دوی نور هم تیزوي، ته پرې تلوار مه کوه مونږ یې په شمېرلو سره شمېرو، هغه ورځ رایاده کړه چې پرهېزګاره بندګان به پکې رحمن ذات ته میلمانه او سپاره راوستل شي، او په شدت سره به مجرمان جهنم پلو ته وشړوو، د شفاعت واک به نه لري مګر هغه څوک چې د رحمن ذات سره یې وعده اخستې وي (په نیکو عملونو او صالحه عقیدې سره)، او دوی وایي چې رحمن ذات ځوی نیولی دی، په تحقیق سره چې د ګناه لویه خبره مو راوړه، نزدې ده چې د نسبت له کبله یې اسمان وچوی او ځمکه پرې ټوټې ټوټې شي او غرونه ترې ډېرکی ډېرکی شي، له دې کبله چې وایي رحمن ذات ځوی نیولی دی، الله سره نه دي مناسب چې ځوی ونیسي، نه دې په اسمانونو او ځمکو کې هېڅوک مګر الله ته به د بنده په صفت راشي، الله پرې احاطه کړېده او دوی یې شمارلي دي په شمارلو سره، او ټول به هغه (الله پاک) ته ایکې یواځې راشي.

(٢) سورت أنعام: (١٠٨). ژباړه: تاسو هغه چا ته ردې بدې مه وایئ چې له الله پرته نور معبودان رابلي، هسې نه هغوی الله ته په ناپوهۍ سره سپورې ستغې ونه وایي.

ﷺ په يو مجلس کې د الله پاک اړخ ته بلنه ورکوله او قرانکريم به يې خلکو ته ورزده کو، د تېرو امتونو د هلاکت او بربادي به نبي کريم ﷺ قريشو ته نمونې يادولې، د نبي کريم ﷺ له پاڅېدو وروسته به يې په ځای کې کښېناست، د رستم او اسفنديار او د فارس د باچاهانو د قيصو لړې به يې پيل کړه، بيا به يې وويل: محمد له ما څخه په خبرو کې څه بهترې لري؟ ما هم دغه قيصې د ځان لپاره داسې ليکلي دي لکه محمد چې د ځان لپاره ليکلي دي، نو الله پاک دا ايتونه نازل کړل ﴿وَقَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٱكۡتَتَبَهَا فَهِيَ تُمۡلَىٰ عَلَيۡهِ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا ۝٥ قُلۡ أَنزَلَهُ ٱلَّذِي يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ غَفُورٗا رَّحِيمٗا﴾[١]، دا ايت يې هم په هکله نازل شوی دی ﴿وَيۡلٞ لِّكُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٖ ۝٧ يَسۡمَعُ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُتۡلَىٰ عَلَيۡهِ ثُمَّ يُصِرُّ مُسۡتَكۡبِرٗا كَأَن لَّمۡ يَسۡمَعۡهَاۖ فَبَشِّرۡهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٖ﴾[٢].

اخنس بن شريق بن وهب الثقفي هم هغه لوی کافر و چې د قوم د ور په غاړې مشری سره سره به يې د نبي کريم ﷺ نه دين هم اورېد، خو په رسول الله ﷺ به يې ردونه کول، او ورته به يې زيان او تکليفونه رسول، الله پاک يې په حق کې دا ايت نازل کړ چې ﴿فَلَا تُطِعِ ٱلۡمُكَذِّبِينَ ۝٨ وَدُّواْ لَوۡ تُدۡهِنُ فَيُدۡهِنُونَ ۝٩ وَلَا تُطِعۡ كُلَّ حَلَّافٖ مَّهِينٍ ۝١٠ هَمَّازٖ مَّشَّآءِۭ بِنَمِيمٖ ۝١١ مَّنَّاعٖ لِّلۡخَيۡرِ مُعۡتَدٍ أَثِيمٍ ۝١٢ عُتُلِّۢ بَعۡدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ﴾[٣].

وليد بن مغيره به ويل: د وحي د نزول په فضيلت به نبي کريم ﷺ نازول کيږي او زما په څېر هستي چې د قريشو سردار او مخه ور يم پرېښودل کيږم، او په طائف کې د ې ابو مسعود عمرو بن عمير ثقفي چې دروند او مشرتابه دی ورته دې دغه منقبت نه ورکول کيږي؟ زه او هغه دواړه د لويو لويو سترو کليو مشرتابه يو[٤] نو الله پاک يې اړوند دا ايت نازل کړ ﴿وَقَالُواْ لَوۡلَا نُزِّلَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانُ عَلَىٰ رَجُلٖ مِّنَ ٱلۡقَرۡيَتَيۡنِ عَظِيمٍ ۝٣١ أَهُمۡ يَقۡسِمُونَ رَحۡمَتَ رَبِّكَۚ نَحۡنُ قَسَمۡنَا بَيۡنَهُم مَّعِيشَتَهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۚ وَرَفَعۡنَا بَعۡضَهُمۡ فَوۡقَ بَعۡضٖ دَرَجَٰتٖ لِّيَتَّخِذَ بَعۡضُهُم بَعۡضٗا سُخۡرِيّٗاۗ وَرَحۡمَتُ رَبِّكَ خَيۡرٞ مِّمَّا يَجۡمَعُونَ﴾[٥].

ابي بن خلف او عقبه بن ابي معيط چې دواړه سره ګرم دوستان او تاوده ملګري وو،

(١) سورت فرقان: (٥-٦). ژباړه: دوي وايي چې دا د مخکنو خلکو قيصې دي چې ليکلي يې دي او سهار ماښام ورته لوستلی شي، ورته ووايه چې دا خو هغه ذات نازل کړې دی چې په اسمانونو او ځمکو کې ټول پټ او پناه باندې پوهيږي، او هغه بښونکی او بې اندازه مهربانه دی.

(٢) سورت جاثيه (٧-٨). ژباړه: هر لوی دروغجن او غټ ګناهکار لره هلاکت دی، د الله ايتونه اوري چې لوستل کيږي پرې، په ډېر تکبر ترې داسې ستون شي لکه چې اورېدلی يې نه وي، دوی ته په دردناک عذاب زېرې ورکړه.

(٣) سورت قلم: (٨-١٣). ژباړه: د دروغو ګڼونکو خبره مه منه، دوی دوسته ګڼي که ته ورسره نرمي وکړې دوی هم درسره نرمي کوي، او مه د هر قسم خور او سپک انسان خبره منه، داسې انسان چې عيبونه لګوي او چغلي کوي، د هر خير کار منعه کونکی، له حده تجاوز کوي او ډېر ګناهکار دی، بد خوي او له دې ټولو وروسته حرام زاده هم دی.

(٤) له لويو کليو څخه موخه يې مکه او طائف دي.

(٥) سورت زخرف: (٣١-٣٢). ژباړه: او دوی وايي: دغه قران ولې د دوو کلو (مکه او طائف) په لويو خلکو (وليد بن مغيره، او ابو مسعود عمرو بن عمير ثقفي) باندې نه نازليږي؟ ايا د الله د رحمت تقسيم او توزيع دوی خپله کوي؟ د دنيا په ژوند کې د دوی معيشت مونږ تقسيمو، او ځينې مو په ځينو نور باندې په مرتبو کې اوچت کړي دي، د دې لپاره چې ځينې (غنيان) يې نور ځينې (فقيران) تابعداران ونيسي.

خپلمنځنۍ ټينګې اړيکې يې سره درلودې، يو وخت عقبه د نبي کريم ﷺ په مجلس کې ناست و او ورڅخه يې څه نا څه واورېدل، د دې ګډون خبر ابی بن خلف ته ورسېد، عقبه ته راغی او ورته يې وويل: زه وخبرېدم چې د نبي کريم ﷺ په مجلسونو کې د ناستې پاستې ارادې لرې؟ د قسم په سختو کلماتو يې ورته وويل: ستا مخ په ما حرام دی او تر هغه درسره خبرې نه کوم چې د محمد ﷺ په مخ دې توکاڼې نه وي اچولې، دې او دېته په ورته نورو خبرو او قسمونو يې و ډار و، عقبه بن ابي معيط -لعنه الله- لاړ او د ابي بن خلف شرط يې پوره کړ، نو الله پاک يې په حق کې دا ايت نازل کړ ﴿وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا﴾(١).

د تېر په څېر ابي بن خلف په خپل لاس کې ريښې ريښې او وړه وړه هډوکی نيولی د رسول الله ﷺ حضور کې عرض شو او ورته يې وويل: ای محمده! دې عقيدې ته ته دومره ژمن يې چې دا ډول هډوکي به الله راژوندي کړي؟؟

بيا يې هډوکی په دواړو لاسونو کې ومښو او په فضا کې يې د نبي کريم ﷺ مخې ته ذره ذره وشيند.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: هو زه وايم چې دا هډوکی به الله پاک ستا په شمول راژوندی کړي وروسته له دې چې ته هم ذره ذره شې او بيا به دې الله پاک اور ته داخل کړي.

نو الله پاک يې اړوند دا ايت نازل کړل ﴿وَضَرَبَ لَنَا مَثَلٗا وَنَسِيَ خَلۡقَهُۥۖ قَالَ مَن يُحۡيِ ٱلۡعِظَٰمَ وَهِيَ رَمِيمٞ ٧٨ قُلۡ يُحۡيِيهَا ٱلَّذِيٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٖۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلۡقٍ عَلِيمٌ ٧٩ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلشَّجَرِ ٱلۡأَخۡضَرِ نَارٗا فَإِذَآ أَنتُم مِّنۡهُ تُوقِدُونَ﴾(٢).

ما ته د يو بل رارسيدلي راپور له مخې اسود بن مطلب بن اسد بن عبدالعزی، او وليد بن مغيره، امية بن خلف، عاص بن وائل السهمي چې د قريشو په قوم قبيل کې زيات لحاظ درلود، نبي کريم ﷺ ته ورغلل، او هغه له کعبې څخه طواف کو، ټولو ورته وويل: مونږ به ستا او ته به زمونږ د معبودانو عبادت پيل کړې، که ته په حقه وې نو تر يو حده به مونږ د خير کار کړی وي، او که چرته مونږ په حقه وو تر يو حده به تا خير وړی وي، نو الله پاک دا سورت نازل کړ ﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡكَٰفِرُونَ ١ لَآ أَعۡبُدُ مَا تَعۡبُدُونَ ٢ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ٣ وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٞ مَّا عَبَدتُّمۡ ٤ وَلَآ أَنتُمۡ عَٰبِدُونَ مَآ أَعۡبُدُ ٥ لَكُمۡ دِينُكُمۡ وَلِيَ دِينِ﴾(٣).

---

(١) سورت فرقان: (٢٧). ژباړه: هغه ورځ ياده کړه چې ظالم به په دواړو لاسونو د ندامت خولې لګوي او وايي به کاشکې د رسول لاره مې نيولی وای.

(٢) سورت يس: (٧٨-٨٠). ژباړه: او مونږ پسې د وراسته هډوکي مثال تړي او خپل پيدائښت يې هېر کړی دی او دا وايي چې دا وراسته هډوکي به څوک راژوندي کړي؟ ورته ووايه ای محمده ﷺ هغه ذات به يې راژوندي کړي چې د اول ځل لپاره يې پيدا کړي وو، او دغه الله د پيدائښت په هر ډول عالم دی، دغه ذات هغه څوک دی چې له شنې ونې څخه يې درته اور پيدا کړی دی چې تاسې ورڅخه اور بلوئ.

(٣) سورت کافرون: (١-٦).ژباړه: ورته ووايه ای کافرانو! تاسو چې د څه عبادت کوئ زه يې عبادت بيخي نه کوم، او نه تاسو د هغه ذات عبادت کوئ چې زه يې عبادت کوم، او نه زه عبادت کوونکی د هغه معبودانو يم چې تاسو يې عبادت کوئ، او نه تاسو د هغه ذات عبادت کونکي ياست چې زه يې عبادت کوم، ستاسو

او کله چې الله پاک مشرکانو ته تخويفاً د زقوم ونه ورياده کړه، ابو جهل ابن هشام قريشو ته وويل: ای خلکو! تاسو ته پته شته چې محمد ﷺ مو د زقوم له کومې ونې څخه ډاروي؟ هغوی وويل: نا، ابو جهل ورته وويل: د يثرب (مدينې) د اعلی ترينو کجورو سره د کوچو خوړلو مو ډاروي، خو په الله مې دې قسم وي که چرته وتوانيدو نو هرومرو به د کوچو سره د يثرب کجوري وخورو، نو الله يې اړوند دا ايت نازل کړ ﴿إِنَّ شَجَرَتَ ٱلزَّقُّومِ ۝٤٣ طَعَامُ ٱلْأَثِيمِ ۝٤٤ كَٱلْمُهْلِ يَغْلِى فِى ٱلْبُطُونِ ۝٤٥ كَغَلْىِ ٱلْحَمِيمِ﴾[1].

يعنې د زقوم ونه داسې نه ده لکه ابو جهل چې يې وايي.

يوه ورځ نبي ﷺ سره وليد بن مغيره ولاړ و، خبرې اترې پخپل منځ کې کولې د خبرو اترو څخه يې نبي کريم ﷺ د اسلام راوړلو طمع ولرله، عبدالله بن ام مکتوم چې ړوند او نابينا صحابي و له نبي کريم ﷺ څخه يې د ځينو اياتونو د زده کولو غوښتنه وکړه، نبي ﷺ په دې ورته چې د وليد بن مغيره ته د دعوت ورکولو زرينه موقعه دې خرابه کړه. عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عَنْهُ به ورته بار بار له هر اړخه راتلو او نبي ﷺ به ورڅخه مخ اړو، نو الله پاک دا ايتونه نازل کړل ﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ۝١ أَن جَآءَهُ ٱلْأَعْمَىٰ ۝٢ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ۝٣ أَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ ۝٤ أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ ۝٥ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ۝٦ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ۝٧ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسْعَىٰ ۝٨ وَهُوَ يَخْشَىٰ ۝٩ فَأَنتَ عَنْهُ تَلَهَّىٰ ۝١٠ كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ۝١١ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ۝١٢ فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ۝١٣ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ﴾[2].

معنی دا شوه چې الله پاک ورته وويل: ما خلکو ته زيری ورکونکی او ويره وروړونکی استولی يې، په دعوتي مشن کې ستا يو امتي بل باندې هيڅ ځانګړنه او برتري نه لري، څوک چې د دين لټونوال وي، له زده کړې څخه يې مه منعه کوه او مه ورته شوونه ځنډوه، او څوک چې يې پرواګير نه وي وخت دې پرې مه خرابوه.

پاتې نور هغه کافران چې نبي ﷺ ته به يې د کور په داخل کې د ظلم او ستم سلسله واره زيانمنه لړې جاري ساتله هغوی: ابولهب، حکم بن ابي العاص، عقبه بن ابي معيط، عبدي بن حمراء الثقفي، ابن الأصداء الهذلي، دا ټول د نبي ﷺ ګاونډيان وو، د رارسيدلي راپور له مخې د حکم

لپاره خپل او زما لپاره خپل دين دی.

(۱) سورت دخان: (۴۳-۴۵). ژباړه: په يقين سره د زقوم ونه به د ډېر ګناهګار انسان خوراک وي، لکه د ويلي شوي مسو په شان به يې په خيټو کې خوټکيږي،

(۲) سورت عبس: (۱-۱۴). ژباړه: وچورلی يې تريو کړ، او مخ يې وګرځاوه، ددې له امله چې ورړوند ورته راغی، او ته څه شي پوهه کړې شايد هغه (ورړوند) پاک شي، او يا به ذکر پند واخلي او ورته به خير او ګټه ورسوي دغه پند، او هغه څوک چې د هدايت هيڅ پروان نه کوي نو ستا قصد هغه دی؟ او په تا هيڅ الزام نشته که هغه په اسلام راوړنې سره پاک نه شي، او هغه څوک چې په تلوار سره تا ته راشي او حال دا چې له الله څخه ويريږي نو ته له هغه نه مخ ګرځوې، داسې بيا مه کوه، دا سورت يو پند دی، که څوک دغه سورت پند منل غواړي ودې مني، دغه قراني اياتونه په عزتناکو پاڼو کې ليکل شوي دي، چې هم پورته کړی شوي دي او هم په قدر او عظمت کې پاک کړې شوي.

بن ابي العاص نه پرته پکې بل هېڅ چا ایمان نه دی راوړی، دې به هم پیروانونه په نبي کریم ﷺ راغورځول، دوی به زیات کله په نبي کریم ﷺ باندې کثافات هم له بره راوړول، نبي ﷺ د ځان ساتنې په خاطر پخپل کور کې چوپالګی جوړ کړ، له دې وروسته چې به کله هم دغو ظالمانو مردارې او پلیتي وروغورځوله، نبي کریم ﷺ به په امسا باندې له کوره رابهر کړه او د ورغورځونکي په دروازه به ودرېد او ورته به یې کړه: ای د عبدمناف کورنۍ! ایا ګاونډیتوب داسې وي؟

بیا به یې دغه ګندګي په لاره کې وارتوله.

## له حبشې نه د مهاجرینو ستنېدل چې کله خبر شول چې د مکې والا اسلام اعلان کړ

په حبشو کې پرتو مهاجرینو ته راپور ورسېد چې د مکې اوسېدونکو ټولو اسلام ته غاړه ایښې ده، د خبر د اورېدو سره ټولو مهاجرینو مکې ته د بېرته ستنېدو هوډ وکړ، مکې ته د نږدې کېدو په مهال یې خبر غوړېونه وسکوندل چې تاسو اورېدلی خبر ناسم دی.

ځینې مهاجرین د چا په ذمه کې او ځینې نور یې مکې ته پټ او پناه ننوتل.

له حبشې نه بېرته مکې ته راستانه شوې مهاجرینو شمېر درې دېرشت کسانو ته رسېده.

زمونږ د علم له مخې چې نومونه یې راته یاد شویدي: عثمان بن مظعون بن حبیب الجمحي د ولید بن مغیره په جوار کې مکې ته ننوت، ابوسلمة بن عبدالاسد بن هلال بن عبدالله بن عمر بن مخزوم د ابو طالب بن عبدالمطلب چې بېرته د ابوسلمة ماما کېده په ذمه کې ننوت، ځکه ام سلمه چې خپل نوم (برّه) و د عبدالمطلب لور وه.

## د غوڅ ژمنلیک ماتول

هغه پرېکړه چې قریشو د بني هاشمو او بني عبدالمطلب په ضد کښلې وه له قریشو څخه څه شمېر کسانو یې پر ضد اغیزمن ګامونه پورته کړ، په دغې انقلابي پاڅون کې هاشم بن عمرو چې د مور له اړخه د نضله بن هاشم بن عبدمناف وراره کېده مثبت ترین رول ولوباو.

هشام بن عمرو به د ترون لاسلیک باوجود بیا هم خپلولي پالــله، هشام بن عمرو چې پخپل قوم کې خورا مخور او د مکانت څښتن و، ما ته د رارسیدلي راپور له مخې به یې د شپې په اوښ د خوراکي توکو درووند بار یوړ، چې کله به د ناوچې تر خولې ورسېد له اوښ څخه به یې واګې لرې کړې او اوښ به یې د ناو په منځ کې خوشې کړ، اوښ به نیغ په نیغه ځان متاثرینو ته ورساو.

هشام بن عمرو به د دواړو کورنیو سره د همدردۍ پاللو لپاره پوښاک هم په اوښ بار او د شپې له مخې به یې ورته واستول.

څه وخت وروسته هشام بن عمرو زهیر بن ابي امیه بن المغیره ته چې د عاتکه بنت عبدالمطلب ځوی و –یعنې زهیر د ابوطالب خورې کېده– ورغی او ورته یې وویل: ایا دا درته پسنده ده چې دښه او پسند خوراک او څښاک څښتن یې، د ښځو سره نکاحونه کوې، او د خپلو ماماګانو درته ښه پته ده چې وږي تږي او نهر دي، نه ترې څوک څه اخلي او نه پرې څوک څه شی پلوري، نه ورسره څوک نکاحونه کوي او نه ترې څوک نکاحونه کوي، زما دې په لوی الله سوګند وي که دغه خلک چرته د ابو الحکم بن هشام (ابوجهل) ماماګان یا نور خپل خپلوان وای، او دغسې غوڅې پرېکړې ته دې رابللی وای، هېڅ کله به یې درسره نه وه منلای!!

زهیر ورته وویل: خوار شې! زه به څه وکړم؟ یک تنها او یو سر یم، لوړه په رب لایزال چې که دوهم سړی راسره پیدا شي او په دغې پرېکړې ناخوښ وي، زه به یې لومړی د مخالفت غږ پورته کړم.

هشام ورته وویل: دوهم سړی درسره مل شته کنه! زهیر کړه: څوک دی؟ هشام وویل: زه یم.

زهیر وویل: د دریم پلټنه هم وکړه.

هشام په بېړه مطعم بن عدي ته ولاړ او ورته یې وویل: مطعمه! ایا ته په دې خوښ یې چې د عبدمناف د خاندان دوه لوی لوی کندي (کورنۍ) د مرګ کومې ته ولویږي؟؟ او ته ورته ګورې؟! د دوی پر ضد دې د قریشو سره یکجهتي اعلان کړېده؟!!

زما دې په الله قسم وي که ته د ستونزې روانه لړې ته نور هم ژمن شې نو قریش یې ژمنتیا ته هم شنه ناست دي.

مطعم بن عدي ورته وویل: خوار شې!! زه یو سر یم، په تنهایي کې به زه څه وکولی شم؟ د دوهم نفر پلټنه هم وکړه، هشام ورته وویل: دوهم درسره شته دی، هغه ورته وویل: څوک دی؟ هشام ورته کړه: زه یم کنه.

مطعم ورته وویل: دریم هم وګوره، هشام ورته وویل: دریم هم شته دی، مطعم وپوښتل: څوک دی، هشام وویل: زهیر بن ابي امیه، مطعم وویل: څلورم هم وګوره.

هشام ابو البختري پسې ولاړ او ټول هغه څه یې ورته کټ مټ وویل چې مطعم ته یې ویلي و.

ابوالبختري ورته وويل: په دې کار کې زمونږ نور مرستندويان څوک شته؟ ايا تر شا نور څوک لرې او که نه؟

هشام ورته کړه: هو. ابو البختري ورته وويل: څوک څوک دي؟

هشام: زهير بن ابي اميه، مطعم بن عدي، او زه هم د رسره کلک ژمن يم.

ابوالبختري ورته د پنځم نفر د تالاش غوښتنه هم وکړه.

هشام زمعه بن اسود بن المطلب ته ولاړ، د هغه سره يې د خبرو اترو په ترڅ کې د ورسره خپلې خپلولۍ او نزدېکت يادونه هم وکړه.

زمعه بن الاسود ورته وويل: د کوم مهم بشپړونې لپاره مې چې څه ته راغواړې نور دې تر شا څوک شته؟

هشام ورته وويل: هو، بيا يې ورته د ورسره ملګرو او د ملاتړ نومونه ورياد کړل.

پنځول منځ کې سره يې د شپې له مخې په (حَجون) غر کې راټولېدل نېټه کړه.

کوم مهال چې سره دوی د حجون د غر په لوړه برخه کې راغونډ شول او د ليکلې کلکې ژمنې په څېړلو يې سره د يو بل هراړخيزه ملاتړ کې توافق ته ورسېدل، زهير بن اميه وويل: د ليکلې ژمنې د منځپانګې د ماتولو اړوند به لومړی خبرې زه پيلوم.

شپه چې کله رڼه شوه د سهار په مهال هر يو ژمن تر خپلې سايې ورسېد، زهير بن اميه هم د کړې وعدې په بنسټ په داسې انداز راغی چې چپن پرې پرته وه، له بيت الله څخه يې اووه ګشته طواف وکړ، بيا يې خلکو ته مخ راواړو وېويل: ای د مکې ميشتوالو!! ايا مونږ به خوراک او پوښاک څخه په لويه کچه برخمن يو او بنو هاشم به په ناوونو کې د ولږې تندې له درده د مرګ ښکارکيږي؟ نه پرې څه پلورل کيږي او نه ترې څه پېرودل کيږي؟

په الله مې دې قسم وي چې تر هغه نه قلارېږم تر څو مې د ظلم او ستم، د تېرو پاتو دغه لوظنامه نه وي څيرلې.

ابوجهل چې د مسجد په يو اړخ کې ناست و ورته وويل: په الله قسم چې دروغ دې وويل، هېڅکله يې نه شې څيرلی.

زمعه بن الاسود ورته وويل: ابو جهله! نا بلکې ته دروغجن يې، د دې عهدنامې د ليکلو په مهال مونږ هم خوښ نه وو.

ابوالبختري پرې غږ کړ: هو، زمعه سمه خبره وکړه، کوم مهال چې دا پاڼه ليکل کيده مونږ پرې نارضا وو.

مطعم بن عدي وويل: تاسو داوړه په سمه غږيږئ، له ما تېدو پرته نورې ټولې خبرې ناسمې

دي، ددغې لوظ منځ پانګې څخه مونږ الله پاک ته خپل برائت اعلانوو.

هشام بن عمرو پرې راغبرګه کړه او دېته نزدې خبرې اترې یې وکړې.

ابو جهل وويل: په دې خبره د شپې له مخې پوره غور شوی دی، او د دې ځای پرته به پل ځای کې د پوره تصمیم سره پټ پناه یوه خوله شوي دي.

ابوطالب چې خپله هم د مسجد په یوې برخې کې ناست و په حضور کې یې مطعم بن عدي وپاڅېد تر څو راځړول شوی ژمن لیک ټوټې ټوټې کړي څه ګوري چې د (باسمک اللّهُمَّ) پرته نور ټوله منځپانګه وینو چڼ چڼ کړې وه.

منصور بن عکرمه چې دغه لوظ یې لیکلی و په دواړو لاسونو شل او فشل شو.

## له اراشي څخه د ابوجهل د اوښ پېرلو لړې

ابن اسحاق وايي: عبدالملک بن عبدالله بن ابي سفيان چې خورا ځیرک او هوښیار و راته وویل:

د بابل له اراش څخه یو سړي مکې ته اوښان د پلورلو لپاره راوستل، ابو جهل ورڅخه اوښان وپېرل او د ورباندې پلورل شوو اوښانو د قیمت په ادائیګي کې یې ورسره ټیل مټال وکړ، اراشي هم سم د لاسه د قریشو ناستې یوې غونډې ته راغی، دغه مهال نبي ﷺ د مسجد حرام په یوه ساحه کې هم ناست و، اراشي وويل: ای قریوشو! دا چې زه یو مسافر، بې وسه او بې کسه یم، ابوالحکم بن هشام څخه زما د حق اخستنې باره کې به راسره څوک مرسته وکړي؟ هغه زما په پاکه برخه خېټه اچولي ده.

د نبي کریم ﷺ پسې د ټوقو او مسخرو په شکل یې ورته اشاره وکړه چې ورشه هغه سړی به درله ترې پوره حق واخلي، ځکه قریشو ته د ابوجهل د نبي کریم ﷺ د دښمنۍ او تربګنۍ لویه کچه معلومه وه.

نبي کریم ﷺ ته ناست و چې اراشي یې په سر ودرېد او ورته یې کړه چې: ای عبدالله! ابوالحکم بن هشام چې زما په حق یې خېټه اچولې ده او حق نه راته سپاري، د دې برسېره زه غریب، بې وسه اوبې کسه او مسافر هم یم، د قریشو هاغې ناستو کسانو ته ورغلم ترڅو زما حق ورڅخه واخلي، هغو تا ته راواستولم، په تا دې الله ورحمیږي زما حق ورڅخه واخله او ما ته یې وسپاره!

نبي ﷺ ورته وویل: ما پسې راځه.

د قریشو د مجلس څخه هم یو نفر د دواړو پسې وروسته روان شو تر څو ناست قریش په

روانه لړي وخبر وي.

نبي ﷺ له مسجد څخه د ابوجهل د کور په لور رهی شو، چې کله يې ورته د دروازه ټک ټک کړه ابوجهل غږ کړ: څوک يې؟ هغه ورته وويل: محمد يم، لږ بهر راوځه.

ابوجهل له کور څخه په داسې حالت کې راووت چې له بدن څخه يې ساه، او له رګونو څخه يې وينه تختېدلې وه، رنګ يې هم تک ژېړ اوښتی و، ورته يې وويل: په توندۍ سره دې سړي ته خپل حق ورروسپاره.

ابوجهل وويل: ښا ښا وس سمدستي به يې ورته وسپارم.

کور ته ننوت او په رښتيا يې هم په ډېرې توندۍ سره ورته خپل حق ورکړ.

نبي کريم ﷺ اراشي ته وويل: په کار پسې دې مخه کړه، اراشي بېرته د قريشو په هغه مجلس ودرېد چې چا ورته د نبي کريم ﷺ په لور اشاره کړېوه، او ورته يې وويل: الله دې ورله خير ورکړي، محمد ته د کتلو سره سم يې راله حق راکړ، قريش څه ګوري چې د هغوی استازی هم راغی، ټولو ورته وويل: خوار شې!! څه څه دې وليدل؟

هغه ورته وويل: د حيرانتيا وړ جريان مې وليد، قسم په الله چې دروازه يې ورته ووهله، ابوجهل بهر ته رنګ تختيدلی تک ژېړ راووت، دومره يې ورته وويل چې دې سړي ته خپل حق ورکړه، ابوجهل ورته وويل: ښا ښا، په ډېره چټکۍ به ورته حق وسپارم، چټک ننوت اووخت لا تېر نه و چې رښتيا هم په ډېره توندۍ له کوره رابهر شو او اراشي ته يې خپل حق ورکړ!!

لږ وخت وروسته ابوجهل خپله مسجدحرام ته راغی، ټولو قريشو ورته وويل: ورک شې!! خوار شې!! څه دروشول؟ تر ننه مو له تا څخه دومره ډار نه و ليدلی!

هغه وويل: لوړه په الله چې کله يې راته دروازه ټک ټک کړه، د دروازې د اواز سره له هول هيبت څخه ډک شوم، بيا چې کله ورته راووتم د سر له پاسه يې د اوښانو لوی لوی ډارونکې دارې وې، د اوښانو دغسې سرونه او څټونه او دارې ما نه وې ليدلې، قسم په الله که لږ زره هم په شا تللی وی نو زه به يې خوړلی وی.

## د اسراء لړۍ

د شپې له مخې نبي کريم ﷺ له مسجد حرام څخه مسجد اقصی ته بوتلل شو[(۱)]، هېره دې نه وي چې مسجد اقصی د ايلياء په خاوره شتون لري، دغه مهال اسلام په قريشو او د عربانو په قبيلو کې په لوړه کچه قبوليت پيدا کړی و.

(۱) سهيلي وايي: داسې ويل کيږي چې د اسراء واقعه له هجرت څخه يو کال وړاندې وه.

ما ته د عبدالله بن مسعود رضي الله عَنْهُ څخه راپور رارسېدلی چې هغه به ويل: نبي كريم ﷺ ته بُراق راوستل شو، براق هغه سورلی ده چې له دې ورانديې پرې نور پېغمبران هم سپاره شوي وو، د خپل ديد په اندازه يې يو قدم دی، نبي ﷺ پرې سپور کړی شو، د براق والا په فضاء کې روان کړ، د اسمان او ځمکې ترمنځ يې پرې د الله د وحدانيت نښې نښانې وليدې تر دې چې بيت المقدس ته ورسېد، په بيت المقدس كې يې ابراهيم، موسی، عيسی او نور پېغمبران عَلَيْهِمُ السَّلاَمُ چې ددې لپاره راټول کړی شوي وو ورسره ليدل كتل وكړل، ټولو پېغمبرانو ته يې پخپل امامت كې لمونځ هم وركړ.

كوم مهال چې لمونځ تر پاي ورسېد څه لوښي ورته راوړل شول، په يو كې شېدې، په بل كې شراب، او په بل كې اوبه وې.

نبي كريم ﷺ فرمايي: يو چا اواز وكړ چې كه اوبه يې واخستې نو خپله او امت دواړه به په اوبو غرق شي، كه شراب يې واخستل خپله او امت به يې بې لارې او بې مهارې شي، او كه شېده يې واخستل نو دی او امت دواړو ته به يې هدايت او نيكې لارې الهام شي.

هغه وايي: ما د شېدو لوښی راپورته كړ او شېده مې وڅښل، جبريل عَلَيْهِ السَّلاَمُ راته وويل: ته او ستا امت دواړه د هدايت په لور رهې شوئ.

ابن اسحاق وايي: له حسن څخه راته راورسېدل چې هغه ويل:

نبي ﷺ به فرمايل: د مقام ابراهيم ترڅنګ ويده ملاست وم چې جبريل عَلَيْهِ السَّلاَمُ په قدم ووهلم، راپورته شوم هېڅ مې ونه ليدل، بېرته څملاستم بيايې ووهلم چې راويخ شوم هېڅ مې و نه ليدل، بيا وملاستم بيا يې په قدم ووهلم چې راپورته شوم له لاس څخه يې ونيولم او له مسجد څخه يې بهر كړم، څه ګورم چې د اس او خر ترمنځ تكه سپينه سورلی ولاړه وه، په خپو كې يې وزرې وې، دغې سورلۍ به خپل لاس هغه ځای كېښوده چې تر كومه يې د ستركو ديد رسېده، زه يې پرې سپور كړم هغه له ما څخه تېرو پاتې نه و او زه له هغه نه تېرو پاتې نه وم...

حسن وايي: نبي ﷺ د جبريل عَلَيْهِ السَّلاَمُ په ملګرتوب تر مسجد اقصی ورسېد، هلته يې ابراهيم، موسی او عيسی او د نورو پېغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلاَمُ په شمول وليدل او ټولو د ده په امامت كې لمونځ وكړ.

بيا ورته دوه لوښي راوړل شول په يو لوښي كې شېده او په بل لوښي كې شراب وو، نبي ﷺ د شېدو لوښی راپورته كړ او شېدې يې وګوټلې، جبريل عَلَيْهِ السَّلاَمُ ورته وويل: په سم دم فطرت روان شوې، ای محمده! امت دې هم په سمه روان شو، له نن څخه دربانديې شراب حرام شول.

بيا چې كله نبي كريم ﷺ مكې ته راستون شو او قريشو ته يې د سهار په مهال لړې واوروله، زياتره خلكو به ويل چې دا خو زړه بګنونكي قيصه ده؟ له مكې څخه تر شام پورې قافله په

پوره مياشت كې رسيدګي كولی شي او د پوره مياشتې په موده كې بېرته راستنيږي، خو ولې محمد دعوه لري چې په يوه شپه كې ولاړ او بېرته راغی؟!!

حسن وايي: زياتره نوي مسلمان وګړي بېرته كفر ته هم ستانه او په شا وګرځېدل، ځېنې خلک ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته ولاړل او ورته يې وويل: له ملګري دې وخبرېدې؟ هغه انګيروي چې ګڼې نن شپه بيت المقدس ته تللی و، هلته يې لمونځ هم وكړ او په شپه كې بېرته راستون هم شو؟

ابوبکر رضي الله عَنْهُ وويل: تاسو ته په هغه دروغ تړل خوند دركوي.

هغوی ورته وويل: وسمهال هم په مسجد كې ناست دی، او خلكو ته د قيصې په بيان بوخت دی.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: كه رښتيا يې هم دا خبره كړې وې نو سمه ده، زما دې په الله قسم وي چې هغه كله هم ما ته څه بيانوي چې دا راته الله پاک وحي كړې ده، او حتا چې د شپې او ورځې ډېر لږ وخت تشكيلوي او زه يې تصديقوم، نو شپه خو لا ډېر لويه ده، په دې كې د حيرانتيا وړ څه خبره ده؟؟

ابوبکر رضي الله عَنْهُ د مسجد په لور د نبي كريم ﷺ اړخ ته ورغی او ورته يې كړه: ای د الله رسوله! رښتيا دې خلكو ته ويلي دي چې نن شپه بيت المقدس ته تللی وې، هغه ورته وويل: هو. ابوبکر رضي الله عَنْهُ وويل: د دغې خبرې لپاره راغلم لږ ما ته هم جريان واوروه، نبي ﷺ وفرمايل: بيت المقدس راته راپورته شو ګويا كه زه ورته ګورم، جريان چې كله تر پايه ورسېد ابوبکر رضي الله عَنْهُ وويل: چې څه دې وويل رښتيا دې وويل، زه په دې ښكاره ګواهي وركوم چې ته د الله رښتنې استازی يې.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ چې كله خپلې خبرې تر پايه ورسولې نبي ﷺ ورته وويل: ابوبکره! ته صديق يې، له دغې ورځې څخه راپدېخوا په صديق ونومول شو.

سعيد بن المسيب وايي: د دغې شپې د جريان ځېنې برخه دا هم وه چې نبي كريم ﷺ خپلو ملګرو ته ابراهيم، موسی او عيسی عَلَيْهِمُ السَّلاَمُ داسې توصيف كړل چې: ابراهيم عَلَيْهِ السَّلاَمُ هو بهو ستاسو د پيغمبر او ستاسو پيغمبر هو بهو د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلاَمُ په څېر دی، او موسی عَلَيْهِ السَّلاَمُ لوړ، غنم رنګی او كم غوښی و، پوزه يې خورا لوړه ښائسته وه، ته به وايې لكه د شنوءه قبيلې وګړی چې وي.

او عيسی عَلَيْهِ السَّلاَمُ د منځنې قدو قامت څښتن او ښائسته سور سړی و، اوار او ګڼ وېښتان يې درلودل، پر مخ يې ځوانكی وې، ته به وايې چې ګڼې تازه له غسل خانې څخه راوتی دی، له سر څخه يې اوبه قطرې قطرې څڅېدې، هغې ته په رنګ كې ورته سړی په تاسو كې عروة بن مسعود الثقفي دی.

# د معراج لړۍ

ابن اسحاق وايي:

له ابو سعيد خدري رضي الله عَنْهُ څخه راته يو رښتيا ګويه انسان قيصه کوله چې:

ما له نبي کريم ﷺ څخه اوريدلي دي، هغه ويل:

په بيت المقدس کې چې کله تر يو حده وزګار شوم نو ځينه (پارخنګ) راوړل شوه دومره ښائسته وه چې بل ښائسته شی ترې ما نه و ليدلی، او دغه پوړۍ هغه شی دی چې د زنکدن په وخت کې ورته انسان براندې سترګې ګوري.

زه پرې خپل ملګري د (باب الحفظه) تر نوم لاندې د اسمان دروازې ته وخېژولم، په دروازه باندې د (اسمعيل) په نوم ملائکې د مشرې لاندې دولس زره ملائک وو، او هرې ملائکې د نورو دولس زره ملائکو مسؤليت درلود، په دې وخت کې نبي ﷺ دا ايت ولوست ﴿وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ﴾[1].

چې کله دروازې ته ورنږدې شول هغه ورته وويل: جبريله! دا څوک دی؟

جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وويل: دا محمد دی، هغه وويل: ولې په اسماني استازيتوب ونازول شو؟ جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته کړه: هو.

نو اسمعيل ملائکې زما لپاره د خير او سعادت دعاګانې وکړې.

چې کله اسمان ته وختلم يو ناست سړی مې وليد چې د انسانانو روحونه ورته وروړاندې کيږي،، ځينې روحونو ته ښه او نيک کلمات وايي او ورته ډېر خوشحاله شي، بيا ورته وايي: نيکه اروا وې او له نيک بدن څخه راوتلې يې.

او چې کله ورته نورې ارواګانې راوړل شي ورته وايي: اف اف، او وچورلی پرې راغونډه کړي، دا هم ورته وايي: پليته او نجسه اروا وې او له پليت او نجس بدن څخه راوتلې يې.

ما ويوښتل: جبريله! دا څوک دی؟ هغه وځوابولم: دا ستا پلار ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ دی، چې کله ورته د مومن مسلمان سړي اروا راوړل شي نو پرې خوشحاله شي، او ورته وايي چې نيکمرغه اروا وې او په نيکمرغه بدن کې وې.

او چې کوم مهال ورباندې د کافر بې دينه انسان اروا وليدل شي نو ورته وايي: پليته اروا وې او په پليت جسد کې وې.

بيا مې هلته نور خلک وليدل لکه د اوښانو په څېر غټې غټې شونډې يې وې او په لاسونو کې يې د اور لوی بڅرکي وو، خولو ته به يې دغه بڅرکي اچول او د بولو په ځای به ترې وتل،

(۱) سورت مدثر: (۳۱). او ستا د رب لښکرې نه پېژني مګر هغه يې خپله پېژني...

ما وپوښتل: دا څوک دي؟ جبریل عَلَیْهِ السَّلاَمُ وویل: دا هغه خلک دي چې په ظلم زیاتي د یتیمانانو شتمني خوري.

بیا مې نور غټ خیټي ولیدل، چې کله به فرعونیان سزا ته بوتلل کېدل، دوی به یې لکه د تږي اوښانو په څېر د خپو لاندې پایمالول، دغسې غټ خیټي ما هېڅ چرته نه و لیدلي، د ډېر غټوالي له کبله یې حرکت هم نه شو کولی، ما وپوښتل دا څوک دي؟ جبریل عَلَیْهِ السَّلاَمُ ځواب راکړ: دوی سود خواره دي.

بیا مې نور خلک ولیدل چې یو اړخ ته یې ښائسته چاقه غوښه پرته وه او بل اړخ ته یې مرداره بد بویه غوښه پرته وه، مرداره به یې خوره او مزیداره به یې پرېښوده، ما وپوښتل: دا خلک څوک دي؟

جبریل عَلَیْهِ السَّلاَمُ راته وویل: دا هغه خلک دي چې الله پاک ورته حلالې کړې ښځې به یې پرېښودې او حرامو ښځو پسې به ګرځېدل.

بیا مې نورې ښځې ولیدې چې له تیونو څخه راځړول شوې وې، ما وپوښتل: داڅوک دي؟ جبریل عَلَیْهِ السَّلاَمُ وځوابولم: دا هغه ښځې دي چې خپلو خاوندانو ته یې د هغو بچو نسبت کوو چې له خاوندانو څخه یې نه وو پیدا شوي.

بیا دوهم اسمان ته ولاړم، هلته مې دواړه ترورځوی عیسی او زکریا عَلَیْهِمَا السَّلاَمُ ولیدل.

بیا دریم اسمان ته لاړم، هلته مې یو سړی ولید چې په ډول ډال کې لکه د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر و، ما وپوښتل: جبریله! دا څوک دی؟ هغه راته وویل: دا ستا ورور یوسف عَلَیْهِ السَّلاَمُ دی.

تر دې چې پنځم اسمان ته ورسېدم، هلته مې ډولي او ښکلي مزېدار سپینږیری چې د سر وینښتان یې هم سپین و ولید، لویه ښائسته ګیره یې درلوده، پخپله ټوله زندګۍ کې مې دغسې ښائسته بوډا نه دی لیدلی، ماوپوښتل چې دا څوک دی؟ جبریل عَلَیْهِ السَّلاَمُ راته ځواب راکړ چې دا قوم ته خوښ هارون بن عمران عَلَیْهِ السَّلاَمُ دی.

بیا شپږم اسمان ته وښتم، هتله مې د لوړ قدوقامت څښتن، غنم رنګی ښائسته ډولي د مزېدارې پوزې والا ولید، ته به وایې لکه د شنوءه د قوم کوم وګړی چې وي، ما وپوښتل: دا څوک دی؟ جبریل عَلَیْهِ السَّلاَمُ راته وویل: دا ستا ورور موسی بن عمران عَلَیْهِ السَّلاَمُ دی.

بیا یې اووم اسمان ته پورته کړم، هغه بیت المعمور چې کوم ملائک ورڅخه یو ځل طواف وکړي تر قیامت به بیا ورته د بیا طواف موقعه ورنه شي، تر څنګ یې ښائسته سپین ږیرې سړی ناست و، هو بهو ستاسو پیغمبر ته یې ورته والی درلود، او ستاسو پیغمبر هغه ته ورته والی لري، ما وپوښتل: داڅوک دی؟ جبریل عَلَیْهِ السَّلاَمُ راته وویل: دا ستا پلار ابراهیم عَلَیْهِ السَّلاَمُ دی.

بیا جنت ته ننوتم هلته مې ښائسته په ډول ډال پوره (حوره) ولیده، د ډېر ښائست له کبله یې شونډې توروالي ته ورته وې، ما ترې وپوښتل: ته د چا يې؟ هغې راته وویل: زه د زید بن حارثه یم.

د بېرته د راستنېدو په حالت کې چې کله هم تر موسی عَلَيْهِ السَّلاَمُ راورسېدم هغه ستاسو په حق کې ډېر خېرخواه و – را څخه یې وپوښتل: څومره لمونځ درباندې فرض شو؟ ما ورته وویل: روزمره راته پنځوس لمونځونه راکړل شول.

هغه راته وویل: د لمونځ په ادا کولو پابندي ډېره ګرانه ده، بېرته دې رب ته ستون شه چې په تا او امت دې تخفیف راولي.

بېرته مې رب ته ستون شوم چې زما د امت لپاره په لمونځ کې اسانتیا راوله، لس لمونځونه یې راته معاف کړل.

چې بیا د موسی عَلَيْهِ السَّلاَمُ تر خوا راورسېدم، بیا یې په ورستنېدو ټینګ کړم، زه بیا الله ته ستون شوم او لس لمونځونه یې راته مزید نور معاف کړل.

چې د موسی عَلَيْهِ السَّلاَمُ تر څنګ بیا راورسېدم، بیا یې الله پاک ته په ورستنېدو وهڅولم، او زه هم الله ته بیا ورستون شوم، بیا یې راته لمونځونه معاف کړل، خو بس هر دفعه به هغه الله پاک ته د تخفیف لپاره په ورستنېدو توصیه کولم، او په هر دفعه به یې راته لمونځ بخشش کو تر دې چې په شپه اوورځ کې یې شمېر تر پنځوو راورسېد، بیا یې راته په ورستنېدو امر وکړ، ما ورته وویل: بس دی بارها ډېر ځل ورغلم نوره حیا راته راځي، که چا دغه لمونځونه د الله پاک باندې د ایمان په غوښتنې او د ثواب او اجر په خاطر وکړل، الله پاک به ورله د پنځوسو لمونځونو اجر او ثواب ورکړي.

## د ابو طالب او خدیجې رضي الله عَنْهَا مړینه

دوخت په تېرېدو سره ابوطالب او خدیجه بنت خویلد رضي الله عَنْهَا دواړه په یو کال کې ومړ.

په نبي کریم ﷺ د خواشیني لړي یو په دوه شوه، خدیجه رضي الله عَنْهَا د اسلام په نشر اشاعت کې د نبي ﷺ ریښتوني کلکه ملاترې وه، له قوم څخه به یې همدې ته ګیلې شکوې کولې.

د ابو طالب په مړینه یې هم زړه ولړزېد، په اسلامي دعوت کې ابوطالب د نبي کریم ﷺ په ثبات قدمۍ او سربښندنې کې لکه د پیاوړي بدني غړي مثبت ترین رول لوباو، هغه د نبي کریم

ﷺ ډېر نېک مرستندويه او ورڅخه د نورو لاس نيونکی و.

د ابوطالب مړينه مدينې ته له هجرت کولو څخه درې کاله وړاندې وه.

ابوطالب چې کله ومړ د قريشو له پلوه نبي ﷺ د هغه ناورينو او نا خوښو سره مشت ګرېوان شو چې په سوچ کې يې هم نه راتلل، د قريشو له بې وقوفه ګروپ څخه ورته يو بې وقوف په سر خاورې وشيندلې، نبي کريم ﷺ کور ته ننوت او خاورې يې په سر پرتې وې، يوه لور يې راوپاڅېده په ژړا ژړا يې ورڅخه خاورې ووينځلې، او رسول الله ﷺ به ورته ويل: لورجانې! مه ژاړه، الله پاک ستا د پلار مرستندويه دی.

بيا به يې وويل: د ابوطالب له مړينې راپدېخوا راته له قريشو هغه څه رارسيږي چې ما ډېر خفه کوي.

د ابوطالب د زنکدن له حالت څخه چې کله قريش وخبرېدل يو بل ته يې وويل: له يو اړخه عمر او حمزه رضي الله عَنْهُمَا اسلام راوړ، او له بل پلوه اسلام هم د قريشو په قبيلو کې په خورا تېزۍ سره روان دی، ابوطالب ته به ولاړ شوو، زمونږ له پلوه څه قيودات به په محمد ﷺ کيږدي، او څه قيودات به په مونږه کيږدي، ورنه هر څه به رانه خپل کړي.

د قريشو ټول مخه ور لکه: عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، ابوجهل بن هشام، اميه بن خلف، ابو سفيان بن حرب د قريشو نورو مخه ورو په شمول د ابوطالب در کې حاضر شول، ټولو ورته وويل: زمونږ په زړونو کې ستا قدر او احترام ته ښه پېژنې، ته د مرګ په وړومبني حالتونو کې يې، په تا مو ډار محسوس کړ، زمونږ او ستا د وراره ترمنځ کشمکش او ناخوښو باندې ته ډېر ښه خبر يې، هغه تر خپل څنګ راوغواړه تر څو ستا په ژوند کې له مونږ څخه د هغه لپاره او له هغه نه زمونږ لپاره د روغې جوړې دستاويزات او لاسليکونه واخلې، له مونږ څخه به هغه ځان راونغاړي او مونږ به له هغه نه ځانونه راونغاړو، هغه دې مونږ او زمونږ دين پرېږدي مونږ به هغه او د هغه دين پرېږدو.

ابوطالب ورپسې استازی واستو او ورته يې وويل: وراره! دا راغلي هستۍ ستا د قوم قبيل ښاغلي دي، دوی غواړي چې ستا او د دوی ترمنځ د روغې جوړې ژوندۍ وسنجوي، دواړه خواوې به يو بل ته له ځينو خپلو غوښتنو څخه سر په څنګ شئ.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: ډېرې نه يوه خبره مې ومنئ ټول عرب او عجم به مو د لاس لاندې رعيت وي، ابو جهل وويل: ولې نه لس خبرې خو به دې ومنو.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: د (لا اله الا الله) کلمه ووايئ او د نورو معبودانو له عبادت څخه په شا راشئ.

ټولې پلاوې لاسونه سره په ومښل او پړکا يې ترې وويسته او ورته يې وويل: محمده! ته دا غواړې چې له ټولو معبودانو څخه يو معبود جوړ کړې؟ دا خو د حيرانتيا وړ خبره ده؟ دا څه

وايي او څه نه وايي؟

بيا يې سره خپل منځ کې يو بل ته وويل: دا سړی نه څه درکوي او نه درڅخه څه قبلوي، پخپلو معبودانو کلک درېځ اختيار کړئ، تر څو وګورو چې الله پاک زمونږ او د دی ترمنځ څه پرېکړه کوي؟

د قريشو راغلي پلاوي چې ستنه شوه ابو طالب رسول الله ﷺ ته وويل: لوړه په خدای چې د انصاف خبره دې ورته وکړه.

د دې خبرې سره سم نبي کريم ﷺ د ابوطالب د ايمان طمع ګير شو، ورته يې وويل: ای تره! ته خو يې ووايه کنه!! د قيامت په ورځ به ستا لپاره شفاعت او سفارش پرې وکړم.

ابوطالب چې کله د نبي کريم ﷺ حرص وليد، ورته يې وويل: که زما څخه وروسته ستا او ستا د پلار په کورنۍ د کنځاوو وېره او پېغور نه وای ما به هرومرو دغه کلمه ويلې وه، هسې نه چې قريش ووايي: د مرګ له وېرې يې کلمه وويله، خو زه کلمه ستا د خوشحالۍ په خاطر وايم په بل خاطر نه.

په ابوطالب چې د مرګ جتکي کله پېل شوې عباس رضي الله عَنْهُ يې د شونډو په حرکت پوهه شو، خپل غوږونه يې ورښکته کړل بيا يې نبي ﷺ ته وويل: وراره! ابوطالب خو هغه څه وايي چې تا ورته پرې امر وکړ!!

نبي ﷺ ورته وويل ما ترې هيڅ نه دي اورېدلي.

د قريشو د هغې پلاوي اړوند چې د نبي ﷺ سره خبرو اترو ته کېناستل او بې نتيجې ولاړل، نبي ﷺ چې ورته څه وويل او هغوی کوم غبرګون وښود؟ الله پاک دا ايتونه نازل کړل: ﴿صٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ ١ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي عِزَّةٖ وَشِقَاقٖ ٢ كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ فَنَادَواْ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٖ ٣ وَعَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡۖ وَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٞ كَذَّابٌ ٤ أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ٥ وَٱنطَلَقَ ٱلۡمَلَأُ مِنۡهُمۡ أَنِ ٱمۡشُواْ وَٱصۡبِرُواْ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٞ يُرَادُ ٦ مَا سَمِعۡنَا بِهَٰذَا فِي ٱلۡمِلَّةِ ٱلۡأٓخِرَةِ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا ٱخۡتِلَٰقٌ﴾[1].

---

(۱) سورت ص: (۱–۷). ژباړه: ص، په قران مې دې قسم وي چې د پند او ذکر څښتن دی، بلکې هغه خلک چې کافران شوي دي په سرکشۍ او کبر کې دي، له دوی څخه وړاندې مونږ څومره پېړۍ پېړۍ خلک برباد کړي دي که څه يې هم ډېرې نارې چېغې ووهلې خو ولې موقعه او وخت د نجات او خلاصون نه و، دوی له دېنه په حيرانتيا کې دي چې د دوی له جنس نه ورته ويره ونکی پيغمبر راغی او کافران وايي چې دا پېغمبر کوډګر او دروغجن دی، ايا له ډېرو معبودانو څخه يې يو معبود جوړ کړ؟ دا خو ډېره د حېرانتيا وړه خبره ده؟ او مشران يې په تلوار سره لاړل او يو بل ته يې وويل: د خپلو معبودانو په عبادت صبر وکړئ، ځکه چې دغه (توحيد) درڅخه خامخا غوښتل کيږي، مونږ خو د توحيد اړوند په وروستني دين کې هيڅ هم نه دي اورېدلي، نه دي دا مګر له ځانه جوړ شوي دروغ دي.

# له ثقيف قبيلې څخه د رسول الله ﷺ د مرستې اپيل

د ابوطالب له مړينې وروسته چې محمد ﷺ ته قريشو کوم زيانونه واړول دغسې غبرګون يې د ابوطالب په ژوند کې نه و ښودلی.

ددغې عکس العمل د ممکن مخنيوي لپاره نبي کريم ﷺ طائف ته د ثقيف قبيلې سره د ليدو کتو لپاره لاړ تر څو ورڅخه مرسته وغواړي او د قوم څخه د وړپېښو حالتونو کلکه دفاع وکړي.

او دا يې په زړه کې تلل راتلل چې کېدای شي هغوی الله پاک ورکړی اسلامي دين ته غاړه کېږدي نو يک او يواځې ووت.

طائف ته د ثقيف قبيلې ته رسېدلو سره سم لومړی يې د ثقيف د قبيلې مشرانو درېواړو ورونو عبدياليل بن عمرو بن عمير، مسعود بن عمرو بن عمير، او حبيب بن عمرو بن عمير سره د خبرو اترو لړۍ پيل کړه.

يو ورور ته يې لا پکې د قريشو د قبيلې بنو جمح نه ښځه هم په نكاح ناسته وه، نبي ﷺ ورسره په خبرو کې اسلام ته دعوت او د اسلام مرسته وغوښته، او د اسلام په ضد د ولاړو خلکو د ظلم زياتې په لاس نيولو يې وخبرول.

يو پکې ورته وويل: ايا الله پاک له کعبې څخه پوښاک وباسي چې تا خلکو ته استازی راليږدوي؟

بل ورته وويل: ولې ستا پرته نور څوک نه و چې ته يې راليږدولې؟!

دريم ورته وويل: لوړه په رب لايزال چې زه درسره بيخي خبرې نه کوم، که په رښتيا استازی يې له دې کبله دې خبرې نه ځوابوم چې د ستونزو پنډ يې، او که په الله درواغ وايې نو خبرې درسره بيخي مناسب نه وينم.

نبي کريم ﷺ ورڅخه راوپاڅېد او ورته يې وويل: تاسو چې د ما سره کومه رويه وکړه غټه تيره پرې کېږدئ، هېڅوک پرې مه خبروئ.

نبي ﷺ دا خوښه ونه ګڼله چې قريش په دې غبرګون وپوهيږي هسې نه چې نور يې هم په تعذيبولو زړه ور شي.

درېواړو انکار وکړ او د طائف بې وقوفه او بې عقله يې ورپسې راپاڅول، د نبي ﷺ پسې يې توقي ملندې، اوازونه او شپيلې پيل کړل، له طائف څخه يې د عتبه بن ربيعه او شيبه بن ربيعه تر باغ پورې په سپورو ستغو راورسو، دغه مهال عتبه او شيبه دواړه پخپل باغ کې موجود وو، د باغ تر رسېدنې وروسته ترې د ثقيف بې وقوفه د طائف په لور ستانه شول، او نبي کريم ﷺ د باغ تر څنګ د انګورو ونې لاندې دمه واخسته.

ربيعه او شيبه دواړو ورته كتل چې د طائف ماشومانو پرې څه لوبې او ساعتېرى وكړ.

د بني جمح ځخه په طائف كې واده شوې ښځه چې نبي كريم ﷺ وليده ورته يې وويل: ستا د ليورونو له لاسه د ډېرې سترې سره مخامخ شوم!!

ما ته د رارسېدلي راپور له مخې چې كله نبي ﷺ د ساه تيګاه مرحله تر پايه ورسېده ويويل: اى الله! د خپلې بې وسۍ او ناتوانۍ ګيله درته كوم، خلك راته په ډېره سپكه راګوري، اى د ډېر رحم والا ذاته! ته د بې وسه او بې كسه خلكو رب يې اى الله! ته زما رب يې چا ته مې سپارښتنه كوې؟ ايا پردې ته مې سپارې چې د ستړياو او غلظت چال چلند راسره وكړي؟ او كه نه دښمن ته مې سپارې چې زما واك او اختيار به د هم هغه په لاس كې وي، خو كه ته راباندې قهرېدلې نه يې په رارسېدلو ستونزو بې باكه يم، ستا ښښنه ډېره پراخه ده، ستا د مخ په نور باندې ستا له غضب نه پناه غواړم چې ټولې تاريكې يې تښتولې دي، د دنيا او اخرت كړې نسكورې پرې سمې سيده كيږي، تا ته مې پناه ده ستا له قهر او غصې نه مې په ډه ډه كړه، ستا تر رضا پورې له هرې بدبختۍ نه په شاه يم، د پسند كار كول او له بدو څخه ډډې ته كېدل ستا په توفيق كيږي.

د ربيعه دواړه زامنو چې يې درمند حالت وليد د قوميت له كبله يې پرې زړونه وسوځېدل، د «عداس» په نوم خپل نصراني غلام هلك ته يې غږ كړ چې دا انګورو دا زنګوركى په پاكه كاسګۍ كې كيږده او د سيوري لاندې ناست سړي ته ووايه چې دا وخوره.

عداس د امر سره سم لاړ د انګورو زنګوركى يې په كاسګۍ كې كېښود او د نبي ﷺ مخې ته يې وړاندې كړ، او ورته يې وويل: دا انګور وخوره.

نبي ﷺ د لاس وروړو سره سم (بسم الله) وويله او په خوراك يې پيل وكړ، عداس يې مخ ته كتل او ناګهانه يې وويل: د دې كلي او ځاى خلك خو (بسم الله) نه وايي!! نبي ﷺ ورته وويل: عداسه! ته د كوم ځاى يې؟ هغه ورته كړه: زه نصراني يم، په عراق كې د موصل د ښار اړوند د نينوا اوسيدونكى يم.

نبي ﷺ ورته وويل: خا.. د نيكمرغه انسان يونس بن متى كليوال يې!!

عداس وويل: ته يونس بن متى څه پيژنې؟ نبي ﷺ ورته وويل: هغه زما ورور دى، زه او هغه دواړه پيغمبران يو، د خبرې د اورېدو سره سم عداس د نبي ﷺ سر لاس اوښپې ښكل كړې.

د ربيعه دواړو زامنو يو بل ته وويل: لكه چې غلام يې درله بې لارې كړ!!

غلام چې كله باغ كې دواړو ته راستون شو، دواړو ورته وويل: هاى تباه شې!! د هاغې سړي سر لاسونه او ښپې دې ولې وښكلولې؟

هغه ورته وويل: مشره! په ځمكه كې له دې ځخه بل هېڅوك غوره نشته، زه يې په داسې څه خبرولم چې له نبي پرته پرې نور هېڅ څوك نه پوهيږي.

دواړو ورته وویل: له خپل دین نه دې وانه اړوي، ستا دیانت یې له دیانت څخه بهتر دی.

## د نصیبین د پېریانو قیصه

نبي کریم ﷺ چې کله د طائف څخه د مکې په لور په ډېرې خواشینۍ راروان و، د ثقیف له خیر او برکت نه نا امیده راستون شو، د شپې له مخې په نخله مقام[1] کې تهجدو ته راوپاڅېد، ما ته د رارسېدلي خبر له مخې پیریان تېرېدل چې د نصیبین[2] د کلي اوسیدونکي وو، هغوی یې قرائت ته خاموش شول، چې کله هم له لمونځ څخه وزګار شو پېریانو پرې ایمان راوړ او دعوت یې ورله قبول کړ، د دې برسېره یې په خپل قوم کې د دعوت مشن هم پیل کړ.دا هغه پیریان دي چې الله پاک یې په دې ایتونو کې یادونه کړېده: ﴿وَإِذۡ صَرَفۡنَآ إِلَيۡكَ نَفَرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ يَسۡتَمِعُونَ ٱلۡقُرۡءَانَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوٓاْ أَنصِتُواْۖ فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوۡاْ إِلَىٰ قَوۡمِهِم مُّنذِرِينَ ٢٩ قَالُواْ يَٰقَوۡمَنَآ إِنَّا سَمِعۡنَا كِتَٰبًا أُنزِلَ مِنۢ بَعۡدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلۡحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٣٠ يَٰقَوۡمَنَآ أَجِيبُواْ دَاعِيَ ٱللَّهِ وَءَامِنُواْ بِهِۦ يَغۡفِرۡ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمۡ وَيُجِرۡكُم مِّنۡ عَذَابٍ أَلِيمٖ﴾[3].

د مذکوره پیریانو لړې الله پاک په سورت جن کې په تفصیلي انداز هم بیان کړې ده.

## بېلابېلو قبیلو ته د اسلامي دعوت وړاندېزونه

کله چې نبي کریم ﷺ له طائف څخه بېرته مکې ته راستون شو، د تېر په څېر ورته خپل قوم سخترین عذابونه او له دین څخه کرکه او نفرت لا پسې زیات کړ، یو څه شمېر بې وسه خلک چې په نبي کریم ﷺ یې ایمان درلود ورسره پټ یکجهته وو، د حج په موسم کې به نبي کریم ﷺ د عربو راز راز بېلابېلو قبیلو ته هغه دین چې الله ورباندې خلکو ته راستولی و

(۱) د دوو خوړونو ترمنځ د یو خوړ نوم دی، له مکې څخه د یوې شپې په اندازه لرې پروت دی، یو ته نخله شامیه وایي او بل ته یې نخله یمانیه وایي.
(۲) نصیبین د موصل او عراق ترمنځ پرتې جزیره کې د یو کلي نوم دی.
(۳) سورت احقاف: (۲۹-۳۱) ژباړه: او هغه وخت رایاد کړه چې تا ته مو د پېریانو یو ټولګی دراوړو، کله چې هغوی د قران کریم اورېدو ته حاضر شول خپل منځ کې یې یو بل ته وویل چې خاموش شئ، د قران کریم تلاوت چې کله ترپایه ورسېد دوی خپل قوم ته په داسې حالت کې ستانه شول چې ورته یې ویره ورکوله، دغې پېریانو به ورته ویل: ای زمونږ قومه! مونږ داسې کتاب واورېد چې د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وروسته نازل شوی دی او د ټولو مخکنو دینونو تصدیق کوي، حق او سمې لارې ته بلنه ورکوي، ای زمونږ قومه! د الله د داعي خبره ومنئ او ایمان پرې ولرئ نو تاسو ته به ستاسو ګناهونه دربخښش کړي او له دردونکي عذاب څخه به مو وژغوري.

رادعوت کول، تر څو دین ته د تصدیق او مرستې اوړه ورکړي.

ربیعه بن عباد وایي: زه چې ځوان جان هلک وم، په منی کې مې د خپل پلار سره ولاړ وم، د عربو بېلابېلو قبیلو ته به نبي ﷺ بلنه ورکوله، او ورته به یې ویل:

ای د پلانکۍ قبیلې راغلو! زه درته الله پاک په دې راستولی یم چې یک یواځې به د الله پاک عبادت کوئ او هېڅ راز برخه دار به ورسره نه جوړوئ، دغه بوتان چې د معبودانو په نوم مو منلي دي تر شا کړئ، د دغې عبادتونه مه کوئ، په ما ایمان ولرئ او زما رسالت تصدیق کړئ، زما څخه د ظالمانو لاس ونیسئ تر څو د الله پاک راوړی شریعت او دین په ښه توګه واضحه او څرګند کړم.

د نبي ﷺ تر شا سور سپین سړی چې خپل ویښته یې شاته دوه کوڅۍ کړي و، عدنیه چپن پرې پرته وه ولاړ و، د نبي کریم ﷺ د خبرو له وزګارېدو وروسته به یې ویل: ای د پلانکۍ قبیلې راغلو! د دې سړي دعوت پایله دا ده چې تاسو په لات او عزی خپله کلکه عقیده ماته کړئ، د بني مالک بن اقیش[1] چې ستاسو مشران دي د هغوی زور ځواک درباندې ماتوي، پام کوئ چې نه خو یې خبرې ومنئ اونه یې دعوت قبول کړئ.

ما مې پلار څخه وپوښتل: د دغې هلک خبرې چې ردوي دا څوک دی؟

هغه وویل: دا یې خپل تره عبدالعزی بن عبدالمطلب (ابولهب) دی.

ابن اسحاق وایي: ابن شهاب زهري راته وویل چې نبي کریم ﷺ

- د کنده قبیلې کلي کورونو ته تشریف یوړ، هلته یې دقبیلې خورا مشر مخور اوسید (ملیح) په نوم جرګه مار اسلام ته وباله، ټولو یې دعوت په کلکه رد کړ.
- د بنو عامر بن صعصعه کورنۍ یې اسلام ته راوبلله، د دعوت لپاره ورته خپله ورغی د بَیحَره بن فِراس په نوم د قبیلې یو وګړي ورته وویل: لوړه په رب لایزال چې که د قریشو د دغې زلموټې لمن کلکه ونیسم، ټول عرب به پرې د ځان تابع کړم!!

بیا یې ورته وویل: دا راته ووایه که مونږ ستا سره ستا په دین بیعت وکړو او ستا پر ضد ولاړ خلکو باندې بریالي شوو، ایا ستا نه وروسته به مشري زمونږ وي؟

نبي ﷺ ورته وویل: دا د الله پاک ځانکړتیا ده چې مشري چا ته ورکوي، هغه پوهه شه او کار یې پوهه شه.

بَیحَره ورته وویل: ایا ستا په دفاع کې به مونږ د عربو تورو ګوزارونو ته ورمیږونه نیسو او

(۱) دا د پېریانو لویه قبیله ده، اقیشیه اوښان چې له هر څه شي ویرېږي دوی ته یې نسبت کیږي.

مشري به بيا د بل چا وي؟! څه خپل کارکوه مونږ تا ته هېڅ اړتيا نه لرو.

بنو عامر چې له حج وروسته خپلو کورونو ته ستانه شول د خپلې قبيلې زوړ سپينږيري بوډا ته ورغلل چې د ډېر عمر له کبله به دغې بوډا د حج د بشپړې ادا لپاره مکې ته نه شو تللای، د عادت له مخې چې بنو عامر به کله هم له مکې څخه خپل ټاټوبي ته ستنېدل د قبيلې د سپينږيري بوډا زيارت به يې لومړی کو، د ملاقات په پېل کې ترې بوډا وپوښتل چې د حج په دوران کې مو نوې زړې څه وليدې؟

هغوی ورته وويل په قريشو کې د بنو عبدالمطلب له کورنۍ څخه يو ځوان راجلا شو او راته يې وويل: چې زه تاسو ته پيغمبر راستول شوی يم، زما تصديق وکړئ، زما حمايت ته اوږه ورکړئ او د ځان سره مې بوځئ.

د خبرې د اورېدو سره سم يې په سر لاسونه کېښودل، له ډېره افسوسه يې غږ کړ چې ای بنو عامره! دغه تېره موقعه به راګېره نه کړئ؟ ايا د دغې سرو زرو مرغۍ پلټنه به بيا ونه شي؟

لوړه په رب لايزال چې د پلانکي ساه يې په لاس کې ده، د اسمعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ بچيان په درواغو د نبوت د عوې نه کوي، ستاسو نه عقل او دماغ چرته تللي دي؟

- عبدالله بن کعب وايي: رسول الله ﷺ د بنوحنيفه کورونو ته راغی او د الله پاک د راليږلي دين په لور يې راوبلل، بخپله يې ورسره بېلابېل ليدل کتل هم وکړل، په بلل شوي خلکو کې همدوی د سترې سرغړونې ناروا ځواب ورکړ.

د دغې بدنيتۍ او اعراض سره سره نبي ﷺ خپل دعوتي مشن څخه نا اميده نه شو، او لا پسې يې په بشپړه تسلۍ دعوت ته وده ورکړه، د حج په موسم کې چې به کله هم قبيلې د حج د ادا کولو لپاره راروانې شوې، نبي ﷺ به ورته په لاره کې کېښناست او الله پاک او د هغه راليږلي دين ته به يې رابلل.

- د بنو عامر بن عوف له کورنۍ سويد بن صامت د حج او يا عمرې د ادا لپاره حرکت وکړ، د سويد د راتګ خبر چې کله د نبي کريم ﷺ تر غوږ ورسېد، الله پاک او د هغه راستولي دين ته يې راوبله، سويد ورته وويل: شايد ستا دعوت د ماسره چې څه دي ورسره ورته والی ولري؟ نبي ﷺ ورته وويل: ولې تا سره څه دي؟ سويد ورته وويل: ما سره د لقمان حکمتونه دي.

نبي ﷺ ورته وويل: که ما ته يې واوروې ښه به وي!!

سويد ورته د لقمان د حکمت ځينې بېلګې واورولې.

نبي ﷺ ورته وويل: که څه هم دغه سمې او ارزښتناکې خبرې دي خو ما چې درته څه

وويل ورباندې خيريت او غوروالی لري.

ما باندې خو الله پاک قران نازل کړی دی، دغه قران د منونکي لپاره خورا هدايت او لويه رڼا ده، نبي ﷺ ورته قران کريم ولوست، او بيا يې اسلام ته راوبله، سويد يې له خبرو لرې و نه خوځېد او روان شو او مدينې کې خپل قوم ته راستون شو، وخت لا تېر نه و چې د بعاث[۱] د شخړې او خونړيزې معرکې نه يوه ورځ وړاندې خزرج مړ کړ، د قوم ځينې خلکو به ويل چې زمونږ په ګومان هغه د اسلام په حالت کې مړ شوی دی.

## د انصارو د اسلام راوړلو پېل

کله چې الله پاک د خپل دين د خپرېدو اراده وکړه، الله پاک وغوښتل چې خپل پېغمبر ته اعزاز او د دعوتي مشن پرمختګ نوره مزيده پياوړتيا ورکړي، د هغه د بالاترۍ او سربالاتوب نيټه يې نزدې کړه، د عادت سره سم نبي کريم ﷺ د حج په موسم کې د انصارو څه شمېر خلکو سره ليدل کتل وکړل، د تېر په څېر د عربو بېلابېلو قبيلو ته يې ځان ورښکاره کړ، ناګهانه رسول الله ﷺ د عقبې[۲] سره نزدې د خزرج د قبيلې چې الله پاک يې د خير اراده کړېوه څه خلکو سره ليدل کتل وشول[۳].

د ليدو په پېل کې ورته رسول الله ﷺ وويل: تاسو څوک ياست؟

هغوی وويل: د خزرج د قبيلې څه خلک يو.

-: د يهودو باداران ياست؟

-: هو.

-: که لږ وخت راسره کينئ څه خبرې اترې درسره کول غواړم.

-: ولې نه.

ټول کښېناستل، د الله پاک دين ته يې راوبلل، اسلام يې ورته ورووړاندې کړ، او د قران کريم څه حصه يې هم ورته واوروله.

خزرجيانو اسلام ته ځکه زړه خوښ کړ چې په مدينه کې د دوی سره يهودان ميشت وو،

(۱) بعاث د مدينې له ځايونو څخه د يو ځای نوم دی، دلته د اوس او خزرج د قبيلو تر منځ ناروا معرکه پېل شوې وه.
(۲) عقبه د منی او مکې ترمنځ ځای دی، له مکې څخه د دوو ميلونو په فاصله لرې پرته ده.د عقبې جمره له همدغه ځايه ويشتل کيږي.
(۳) دا کار د نبوت په لسم کال وشو.

چونکه هغوی د علم معرفت او پوهې څښتنان وو او دوی د شرک او بوتانو په عبادت اخته وو، د دوی سره به يې په کلي کې جنګونه او زياتې شخړې راتلې يهودانو به ورته ويل چې په دې ورځو شپو کې نږدې يو پېغمبر راستول کيږي، مونږ به د هغه لښکر جوړېږو د هغه په مشرې کې به تاسو د فرعونيانو او عاديانو په څېر وژنوو.

له کله راهيسې چې نبي کريم ﷺ دوی الله پاک ته راوبلل او خبرې اترې يې ورسره پېل کړې، ځينو خزرجيانو ورته وويل: دا هغه پېغمبر دی چې په يثرب کې پرې يهودان تاسو ډاروي، په توندۍ سره يې ومنئ، ګورئ چې يهودان درنه پرې مخکې نه شي.

ټولو خزرجيانو د نبي کريم ﷺ د عوت ومنو، اسلام يې ترې قبول کړ، او د هغه نبوت يې تصديق کړ، ټولو ورته وويل: زمونږ قوم په مدينه کې دی، څومره بد نيتي او تربګني چې دوی لري بل هيڅ څوک خپلمنځنۍ دومره تربګني نه لري، ستا دا دعوت به مونږ هلته نورو ته وړاندې کړو، که هغوی هم مونږ قبول کړي دين ته غاړه کېښوده، او ستا په دعوت الله پاک ټوله دښمني له مونږ څخه وويسته، له تا پرته به مونږ او هغوی ته بل هيڅ څوک محبوب نه وي، او اميد دی چې الله پاک يې ستا په دعوت يو ځای کړي.

ما ته د رارسيدلي راپور له مخې خزرجيان خپل قوم قبيل ته په داسې حالت کې ولاړل چې ايمان او په نبوت يې تصديق کړی و، دوی خپله شپږ کسان وو.

مدينې ته د رارسېدو په مهال له مکې څه راغلو د نبي کريم ﷺ دعوت ته وده ورکړه، هغه و چې اسلام خپور شو، د انصارو په کورونو کې هېڅ کور پاتې نه شو مګر د نبي کريم ﷺ ذکر او ياد به ورپکې کېده.

## د عقبې لومړی بيعت

راراون کال کې د حج د ادا لپاره له انصارو څخه دولس نارينه د نبي کريم ﷺ سره د عقبې په مقام کې خوله په خوله شول، نبي کريم ﷺ ورسره د ښځو د بيعت په څېر بيعت وکړ(۱)، خو دا هله چې د جنګ اړوند د فرضيت حکم شتون نه درلود له دغې ژمنو کسانو نه: اسعدبن زراره، رافع بن مالک، عبادة بن صامت، ابوالهيثم بن تيهان رضي الله عَنْهُمْ وو.

عبادة بن الصامت رضي الله عَنْهُ وايي:

(۱) د ښځو سره بيعت د مکې د فتحې په دوهمه ورځ د صفا غونډۍ په سر وشو، وروسته له دې چې نبي کريم ﷺ د سړو سره له بيعت څخه وزګار شو.

مونږ دولس کسان وو، زه هم له هغې کسانو له جملې څخه یم چې د عقبې بیعت ته مې حضور کړی و، لکه د ښځو د بیعت په څېر مو د نبي کریم ﷺ سره د جهاد له فرضیت نه وړاندې په دې بیعت وکړ چې:

د الله پاک سره به په هیڅ راز برخه دار اقرار نه کوو، غلا او زنا به نه کوو، د خپلو بچیانو وژلو څخه به ډډه کوو، د بهتان او تور لګونې څخه به ځان رانغاړوو، د هېڅ راز خیر ښیګړې خلاف ورزي به نه کوو، که چېرته خپلو وعدو ته ژمن پاتې شوو نو له جنت پرته به مو بله بدله نه وي، او که مو سرغړونه (وعده شکني) وکړه، د الله سره مو معامله ده، که د هغه خوښه وه وبه مو بښي او که یې خوښه وه عذاب به راته راکړي.

ابن اسحاق وایي:

له دغې تړون وروسته انصار بېرته د یثرب په لور د ستنېدو په مهال وو نو نبي کریم ﷺ ورسره مصعب بن عمیر بن هاشم بن عبدمناف انصارو ته په یثرب کې د قران کریم د زده کړې او د اسلام پوهنې او د دیني ښوونو لپاره واستو، په مدینه کې به ورته خلکو (مقرئ) ویل.

چونکه په امامت باندې اوس او خزرج سره خپل منځ کې نه جوړېدل د ټولو امامت به هم مصعب بن عمیر رضي الله عَنْهُ کو.

## د عقبې دوهم بیعت

مصعب بن عمیر رضي الله عَنْهُ له مدینې څخه مکې ته راستون شو د مدینې د انصارو له جملې څخه شمېر خلک د خپلو مشرکانو په ملتیا د حج د ادا کولو لپاره د مکې په طرف وتېېدل تردې چې مکې ته ورسېدل، د نبي ﷺ سره یې د خیالاتو د تبادلې لپاره د ایام التشریق په دوهمه ورځ د عقبې نوم ځای ټنبه کړ، تر څو الله پاک د خپل نبي د کرامت لپاره خپله کړې اراده بشپړه کړي، د دعوت د پرمختګ لپاره د خپل نبي مرستندویان د دین په مینه وپالي، اسلام او مسلمانانو ته اعزاز او شرافت برخلیک کړي.

کعب بن مالک رضي الله عَنْهُ فرمایي:

د براء بن معرور رضي الله عَنْهُ چې زمونږ مخه ور او درنه هستي وه، په ملتیا یې له مدینې څخه د مکې په لور د حج لپاره د خپل قوم د مشرکانو په شمول ووتو، په لاره کې مو لمونځونه کول، علمي خبرې اترې به مو سره خپل منځ کې تبادله کولې، د مدینې څخه د وتلو په مهال براء بن معرور وویل: ای خلکو! زما په زړه کې یوه خبره ده خو نه پوهېږم چې تاسو به راسره پرې موافقت وکړئ او که نه؟

مونږ وويل: څه خبره ده؟ هغه وويل: زړه مې نه غواړي چې د لمونځ د ادا په مهال کعبې ته شاه او بيت المقدس ته مخه کړم.

مونږ ورته وويل: د رارسيدلي نبوي ارشاداتو له مخې خو زمونږ پيغمبر تر اوسه شام ته لمونځ کوي[1]، او مونږ يې هېڅ سرغړونې ته تيار نه يو.

هغه وويل: زه خو ورته لمونځ کوم، مونږ ورته وويل: مونږ خو کعبې ته لا لمونځ نه کوو، د لمونځ وخت چې به کله داخل شو مونږ به شام او هغه به د کعبې په لور مخ کړ.

تر دې چې مکې ته راورسېدو، که څه هم مونږ پرې بارها زور هم راوړ خو هغه له خپله دریځه تېر نه شو او په خپل موقف کلک ولاړ و.

مکې ته د رسېدو په مهال يې راته کړه: وراره! راځه چې د نبي کريم ﷺ در ته ورشو او مکې ته د سفر په دوران کې رامنځ ته شوې لړې ورته واوروو، عبادتونو مې په زړه کې شک او شبهات راوپارول حالانکه تاسو ترې بارها هم رابندولم خو ولې زه پرې کلک پاتې شوم.

کعب بن مالک رضي الله عَنْهُ وايي: مونږ نبي کريم ﷺ نه و ليدلی او نه مو پېژنده، د هغه د مندلو لپاره مو له يو او بل نه پوښتنې وکړې، د مکې له يو ميشتوال څخه مو د هغه اړوند وپوښتل هغه راته وويل: ايا تاسو دواړو هغه ليدلی دی؟ مونږ وويل: نا. هغه وويل: د هغه تره عباس رضي الله عَنْهُ پېژنئ؟ مونږ وويل: هو. هغه مو ځکه پېژنده چې مدينې ته به د تجارت لپاره زيات تلو راتلو.

هغه وويل: چې کله هم مسجد ته ننوتئ د عباس رضي الله عَنْهُ سره ناست سړی به محمد ﷺ وي، چې کله مسجد ته ننوتوو څه ګورو چې نبي کريم ﷺ او عباس رضي الله عَنْهُ دواړه ناست دي، مونږ ورنزدې شول لومړی مو پرې سلام وکړ بيا کېناستو، نبي کريم ﷺ عباس رضي الله عَنْهُ ته وويل: دا دواړه پېژنې؟ هغه ورته وويل: هو، دا براء بن معرور د خپل قوم سردار او مخه ور دی، او دا کعب بن مالک دی، لوړه په رب ذوالجلال چې د نبي ﷺ دا خبره به مې هېره نه شي چې: هغه شاعر؟ ما ورته وويل: هو هغه شاعر زه يم.

براء بن معرور رضي الله عَنْهُ ورته وويل: د الله پيغمبره! زه الله پاک اسلام ته په هدايت نازولی يم، مکې ته د سفر په جريان کې ما نه غوښتل چې لمونځ شام ته وکړم او کعبې ته مې شاه وي، نو ټول لمونځونه مې د کعبې په لور مخامخ کړي دي، ټولو هم سفرو ملګرو ترې که څه هم بارها منعه کړم خو ولې زه په خپل دريځ کلک ودرېدم، اوس مهال مې ترې په زړه کې شکونه او شبهات راپورته شول، زما په دغې کړې عمل کې ته څه وايې؟

هغه ورته وويل: همدغه دې قبله ده خو که لږ زغم دې ويستلی وی!!

(۱) شام يعني بيت المقدس په لور لمونځ کوي.

کعب بن مالک رضي الله عَنْهُ وايي: براء بن معرور رضي الله عَنْهُ بېرته د رسول الله ﷺ قبلې ته واوښت او مونږ سره يې د شام په لور يو څېر لمونځونه کول.

د ايام التشريق په دوهمه ورځ په منی کې مو د عقبې نوم ځای سره نښه کړ او مونږ ترې د حج د ادا کولو لپاره بېرته ستانه شول.

کله چې مونږ له حج څخه وزګار شول د نبي ﷺ سره ټاکلې شپې باندې مو عقبې لور ته ګامونه پورته کړل، دغه مهال ابوجابر عبدالله بن عمرو بن حرام هم له مونږ سره و، چونکه هغه زمونږ مشرتابه او پیاوړي هستي وه د ځان سره مو مل کړ، خو ولې د خپلو مديني مشرکانو نه مو لا د عقبې د نوي تړون خبره پټه پناه کړېوه، د خبرو اترو په ترڅ کې مو ورسره غږ يو کړ چې ابو جابره! ته ښه پوهېږې چې ته زمونږ نېک او شريف انسان يې، زمونږ مشرتابه يې، په تا مو نه لورېږي چې سبا ته د اور خس اوخشاک شې.

بيا مو اسلام ته رادعوت کړ او د نبي ﷺ سره په کړې ژمنه مو وخبرو، زمونږ سره يو ځای د عقبې مقام ته ولاړ او حتی نقيب هم وګمارل شو.

د خپل قوم قبيل سره د ارام لپاره په دغه شپه کې مونږ هم پرېوتول، چې کله د شپې دريمه برخه تېره شوه، دنبي کريم ﷺ سره د تړون لپاره مو د عقبې مقام ته تشريف يوړ او هلته سره راغونډ شول، مونږ درې اويا سړي او دوه ښځې نُسَيْبه بن کعب او اسماء بنت عمرو بن عدي وه(۱).

کعب بن مالک رضي الله عَنْهُ عنه وايي: د شپې له مخې تعين شوي ځای ته ولاړوو، د نبي کريم ﷺ د راتګ په انتظار وو، څه ګورو چې خپل تره عباس رضي الله عَنْهُ هم ورسره و، اګر چې عباس رضي الله عَنْهُ دغه مهال لامسلمان نه و خو ولې دا ورته پسنده وه چې د وراره لپاره کلکې ژمنې واخلي.

لومړۍ خبرې عباس رضي الله عَنْهُ پېل کړې هغه وويل: ای خزرجيانو!! (عربانو به د اوس او خزرج دواړو قبيلو ته خزرج ويل) د محمد اړوند تاسو ډېر ښه معلومات لرئ چې مونږ يې د قوم له زيان څخه کلکه دفاع کوو، اوس مهال دا له قوم څخه په کلکه دفاع او پخپل کور کلي کې په ډاډ او اطمئنان کې دی، خو د شته دفاع او ډاډ باوجود بيا هم غواړي چې تاسو سره لاړ شي او هلته درسره ووسيږي، که په ربښتيا هم تاسو خپلو ژمنو ته وفادار ياست، د اغيارو له زيانونو څخه يې ژغورلی شئ، د کوم باک خبره نه ده دا تاسې او دا محمد، او که له دفاع څخه يې بيا ناتوانه ياست او يا يې هم وروسته د دعوت مخالفينو منګولو ته سپارئ پخپله خاوره يې له نن راهيسې

(۱) ابن اسحاق وايي: د بيعت اخستنې په مهال به نبي کريم ﷺ د ښځو سره لاس په لاس نه ږده، بلکې اقرار به يې ترينه اخست چې ښځې به کله اقرار وکړ هغه به ورته وويل: ځه ولاړه شه تاسره بيعت پوره شو.

پرېږدئ څکه ټخپله خاوره کې د دفاع او امن په لمن کې دی څوک ورته څه نه شي ويلای.

مونږ ورته وويل: ستا خبرې مو واورېدې، ای د الله رسوله! ته هم د خپل ځان او د رب لپاره له مونږ نه ژمنې واخله.

نبي ﷺ د خبرو لړې پېل کړه قران کريم يې ولوست، اسلام ته يې مزيد نور هم دعوت کړو، بيا يې وويل: په دې به راسره کلک ژمن ياست چې د خپلو بچو او بي بيانو په څېر به رانه دفاع کوئ!!

براء بن معرور رضي الله عَنْهُ ورپورته شو، له لاس څخه يې ونيو او ورته يې کړه: هو ولې نه، په هغه رب مې دې قسم وي چې ته يې په حقه توګه راستولی يې داسې دفاع به درڅخه کوو لکه د خپلو بچيانو او بي بيانو نه چې يې کوو، ای د الله پېغمبره! ته راسره بيعت وکړه نور نو مونږ قسم په الله چې د جنګ جګړو ماهرين يو، جګړېز مهارتونه راته د پلرونو او نيکونو څخه راپاتي دي.

براء بن معرور رضي الله عَنْهُ او رسول الله ﷺ لا خبرې اترې کولې چې ابوالهيثم بن تيهان ورته د خبرو په منځ کې وويل: زمونږ او د يهودانو ترمنځ درنې اړيکې دي، مدينې ته د ستنېدو سره سم مونږ دغه اړيکي شکوو، هسې نه چې الله پاک تا په فتح نصرت او برياوو ونازوي، څه انګيروې چې بيا به مکې ته راستنېږې او مونږ به پرېږدې؟

نبي ﷺ وخندل او ورته يې وويل: نا نا چې ستاسو وينه څوک تويوي لکه زما وينه چې تويوي، هغه ځای کې به مې ناسته پاسته او قبر وي چې چرته ستاسو ناسته ولاړه او قبرونه وي.

زما لاس به د هغه چا تر ګرېوانه رسېږي چې ستا ورسره شخړه وي، او د هغه چا سره به روغ بړ کوم چې ستاسو ورسره روغ بړ وي.

بيا نبي کريم ﷺ وويل: له تاسو څخه دې دولس مشران راووځي تر څو کړې ژمنې ټخپل قوم کې په ښه توګه تنفيذ کړي، هغه و چې د اوس له قبيلې ورته درې او د خزرج له قبيلې ورته درې مشران په ګوته کړی شول[(١)].

لومړی بيعت براء بن معرور رضي الله عَنْهُ وکړ او بيا په قوم کې د بيعت کولو نوې لړې پېل شوه،

د بيعت د سر ته رسېدو سره سم شيطان لوړ غږ پورته کړ چې: ای په کورونو کې وېدو پرتو!! د مذمم او صابئه[(٢)] وو اړوند خپل مهم نه دومره ناخبره ياست؟

هغوی ستاسو سره د لوی جنګ ترتيبات نيسي، نبي ﷺ وويل: دا د ازب بن ازب په نوم د

(١) د خزرج ګمارل شوي نهه واړه مشرانو نومونه په دې توګه دي: اسعد بن زرارة، سعد بن الربيع، عبدالله بن رواحه، رافع بن مالک، براء بن معرور، عبدالله بن عمرو بن حرام، عبادة بن الصامت، سعد بن عبادة، منذر بن عمرو رضي الله عَنْهُمْ وو، او د اوس ګمارل شوي درې مشران اسيد بن حضير، سعد بن خيثمه، رفاعة بن المنذر رضي الله عَنْهُمْ وو، ابن هشام وايي: ځېنې اهل علم د رفاعة بن المنذر په ځای ابو الهيثم بن التيهان مشر بولي.

(٢) مشرکانو به ورته د محمد په ځای مذمم ويل او نوی مسلمانانو ته به يې صباة ويل، د صابئ جمعه ده.

عقبې لوی سرکشه شیطان دی.

بیا نبي کریم ﷺ وویل: خپلو ارامګاونو ته په ډاډ لاړ شئ، عباس بن عبادة بن نضله ورته وویل: په هغه الله مې دې قسم وي چې ته یې په رښتیا راستولی یې که دې خوښه وي د منی میشتوال به سبا په توره نېغ تېغ کړو، نبي ﷺ ورته وویل: نا لا تر اوسه راته په جنګ کولو امر نه دی شوی، خپلو خوب ځایونو ته ولاړ شئ.

مونږ هم په ارام ارام خپلو خپلو ځایونو ته ډېره شوو او بېده شول، خو چې کله هم سبا شو نو د قریشو مخه ور راغلل او راته یې وویل: ای خزرجیانو! مونږ ته راپور راورسېد چې تاسو دغه سړی تاسو د ځان سره بوځئ او زمونږ پر ضد جنګ باندې مو ورسره ژمنې او کلک تړونونه کړي دي، لوړه په رب لایزال چې د عربو د ګردو قومونو قبیلو سره که لاس ګرېوان شوو دومره بده به نه وي لکه د تاسو سره چې مشت ګریوان شوو.

د قریشو د راغلې پلاوې په ځواب کې زمونږ د قوم مشرکان ورپورته شول او لوړې یې ورته پورته کړې چې تاسو ته در رسېدلی راپور هېڅ حقیقت نه لري، خو ولې مونږ به یو بل ته کتل.

له منی څخه خلک خواره واره شول، دحقیقت ته ځان رسونې لپاره قریشو بیا د بیعت اړوند ګرندۍ هڅې پیل کړې، په پای کې وپوهېدل چې د بیعت خبره رښتیا هم هغسې وه چې څنګه ورته رسېدلې وه، د انصارو دګرفت لپاره یې له مکې څخه سورلې چابکې راوځغلولې، مکې ته نږدې د اذاخر نوم ځای کې یې سعد بن عباده او منذر بن عمرو را لاندې کړل حالانکه دواړه په قومونو مشران هم ګمارل شوي وو، منذر بن عمرو خو ځان له قوم څخه خلاص کړ خو ولې سعد بن عباده یې لاس تړلی په وهلو ډبولو او په راښکلو مکې ته ستون کړ، چونکه سعد بن عباده په سر ګڼ ویښته درلودل نو د سر وښتانو څخه به یې راښکو.

سعد بن عباده رضي الله عَنْهُ وایي: زه لا د دوی په لاس کې بندیوان وم چې د قریشو د قبیلې څه خلک راغلل یو پکې لوړ ښائسته سور سپین مزېدار سړی و، د ځان سره مې وویل: د دېنه دخیر ښېګړې امېد لرم، خو چې رانږدې شو ډېره سخته ناروا څپېړه یې راکړه، د ځان سره مې وویل: چې په دې کې خیر نه و نو د بل هیڅ قریشي کافر څخه د خیر طمعه نه لرم.

زه لا د وهلو ډبولو په دام کې پروت وم چې د یو راباندې زړه ودردېد، راته یې وویل: خوار شې په قریشو کې دې چا سره د خیر ښېګړې او پېژندګلو هېڅ اړیکې نشته؟ ما ورته وویل، ولې نه، ما به پخپل ګلې خاوره کې د جبیر بن مطعم بن عدي بن نوفل بن عبد مناف تجارتي قافلې د شوکمارو څخه ژغورلې، د حارث بن حرب بن امیه بن عبد شمس بن عبد مناف تجارتي مهماتو تحفظ او له ډاکوانو څخه به مې خلاصول.

هغه راته وویل: هله تباه شې! په چټکه د دواړو په نومونو غږ پورته کړه، او ورسره دې خپلې اړیکې یادې کړه.

سعد رضي الله عَنْهُ وايي: په لوړ اواز مې د هغوى نومونه ياد كړل او ټينګې اړيكې مې هم ورسره ذكر كړې، سمدستي يو سړى لاړ او دواړه يې په مسجد حرام كې راخبر كړل چې د ابطح په مقام كې يو خزرجي وهل كيږي او ستاسو د دواړو نومونه يادوي او درسره د ټينګو اړيكو دعوه لري.

هغوى وويل: څوك دى؟ سړي ورته وويل: سعد بن عباده رضي الله عَنْهُ.

دواړو وويل: هو ولې نه، والله چې هغه رښتيا وايي، هلته به يې زمونږ تجارتي قافلې د ظالمانو او شوكمارو نه خوندي كولې.

وايي: سعد رضي الله عَنْهُ په دغه طريقه له قريشو څخه راخلاص شو او مدينې ته ولاړ.

## د دوهمې عقبې د بيعت شروط

كله چې الله پاک د جهاد حكم راواستو د لومړي بيعت له شروطو پرته يې د عقبې په دوهم بيعت كې يې پرې د جنګ جدال شروط هم كېښودل، لومړى بيعت د ښځو سره دبيعت په څېر و څكه چې هغه مهال الله پاک خپل پيغمبر ته د جنګ او جهاد اجازه نه وه وركړې، چې كله يې ورته د جهاد په كولو حكم وكړ نو د عقبې په دوهم بيعت كې نبي كريم ﷺ د تور او سور په ضد جنګ باندې له ګډونوالو څخه بيعت واخست، د خپل ځان لپاره يې ترې امان واخست او د الله لپاره يې ترې هم وعدې واخستې، او ورسره يې ومنله كه خپلو ژمنو ته وفادار شوئ له جنت پرته به مو بله بدله نه وي.

عبادة بن صامت رضي الله عَنْهُ وايي: مونږ د نبي كريم ﷺ سره په جهاد كولو بيعت وكړ، د خبرې په اورېدو او منلو، په راحت او زحمت، كه خوښه مو وي او كه نه وي، په ځان مهاجرين غوره ګڼلو باندې، په دې چې د چارواكو سره به په واک تاوتريخوالى نه كوو، او كه هر چرته وو حق به وايو او د الله لپاره به د هيڅ چا له خبرو او پيغور څخه نه ډاريږو په دې ټولو مو ورسره بيعت كړى و.

## د الله پاک له پلوه د جهادي مشن په پيل اجازه

د عقبې د تړون نه وړاندې نبي ﷺ ته د مخالفينو په وژلو او د هغوى په ځپلو او وينې تويولو اجازه نه وه شوې بلكې د نبوت په دغې جريان كې نبي ﷺ او ملګري يې اسلام ته په دعوت

کولو او د مخالفینو له پلوه په سپکو او درنو تکلیفونو او په ناخوالو ډېر زغم وویست، او د ناپوهه انسان په ناپاکه رویه باندې خاموش پاتې کېدلو مکلف وو.

که څه هم قریشو خپله نوې مسلمانه شوې طبقه د زړه بګونکو لړزه خېزو عذابونو او له دین څخه په رابندولو حیرت انګیز وهلو ډبولو وازمول، ځینې یې مهاجر شول مشرکینو ته یې کلي کور پرېښود، او ځینې یې هم هغسې په لاسونو کې بندیوان پاتې شول، څوک حبشې او څوک مدینې ته ولاړل، او څوک نورو نورو ځایونو ته...

کله چې قریشو د الله پاک ورته د ورکړې لوې عزت او نعمت ناشکري وکړه، هغه خلک چې د الله پاک یک او یواځې عبادت یې کو او محمد ﷺ یې د الله پاک د رالیږلي استازي په صفت پېژنده هغوی یې وځورول او نبي ﷺ ته یې د تکذیب نوې سلسله لا پسې ګړندۍ کړه، الله پاک خپل استازي ته د ظالمانو څخه په انتقام اخستلو او د هغوی د ځپلو او وینې تویولو ازاده اجازه ورکړه.

د عروه بن الزبیر رضي الله عَنْهُ په روایت په نبي کریم ﷺ باندې د جهاد لومړي ایتونه نازل شول ﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ٣٩ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ صَوَٰمِعُ وَبِيَعٞ وَصَلَوَٰتٞ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ٤٠ ٱلَّذِينَ إِن مَّكَّنَّٰهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَمَرُواْ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَنَهَوۡاْ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۗ وَلِلَّهِ عَٰقِبَةُ ٱلۡأُمُورِ﴾[١].

دغه تېر ایتونه په همدې وغږېدل چې د مسلمانانو د مظلومیت له کبله ورته جهادي بنه روا شوېده، ورنه د دوی او د خلکو ترمنځ هېڅ راز تېرې پاتې نه وې، او دغه مسلمانان دومره اسلام پاله دي که د واک په ګدۍ هم کېني نو لمونځونه به ادا کوي او زکاتونه به ورکوي، په نېکیو به خلکو ته امر کوي او له بدو څخه به یې رابندوي، همدغه خلک د نبي کریم ﷺ وفادار ملګري وو.

له دې څه وروسته الله پاک بیا د ایت نازل کړل ﴿وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ لِلَّهِۖ فَإِنِ ٱنتَهَوۡاْ فَلَا عُدۡوَٰنَ إِلَّا عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ﴾[٢].

---

(١) سورت حج: (٣٩-٤١). ژباړه: هغه اسلام پاله وکړي چې نور خلک ورسره جنګ جدل کوي دوی ته هم د جنګ اجازه وشوه، ځکه چې دوی مظلومان دي، او الله پاک یې په مرسته او ملاتړ توانا دی * هغه مسلمانان چې د هېڅ جرم پرته له کورونو څخه ویستلی شوي دي سوا له دینه چې دوی وایي الله زمونږ رب دی، خو که الله پاک ځینې خلک په ځینو نورو خلکو نه دفع کولی نود یهودانو او نصرانیانو عبادتخانې او د مسلمانانو مسجدونه به نړېدلی وی چې د الله یاد او ذکر پکې کیږي، خو الله پاک به د هغه چا مرسته وکړي چې حق پرست او الله پلوه وي، الله پاک ډېر قوي او سخت انتقام اخستونکی ذات دی * هغه خلک چې که د ځمکې واک او اختیار ورته ورکړو نولمونځونه به قائموي او زکاتونه به ورکوي، خلکو ته به په نېکیو باندې امر کوي او له بدو څخه به یې رابندوي، او حالانکه د ټولو کارونو انجام الله پاک ته معلوم دی.

(٢) سورت بقره: (١٩٣). ژباړه: تر هغه ورسره جنګ وکړئ چې فتنه پاتې نه شي او دین خالص د الله لپاره شي، که له شرک نه رابند شول نو له ظالمانو پرته به په نور جا تېری نه کیږي.

معنی دا شوه چې مومن مسلمان به په خپل دین نه ځورول کیږي، په ځمکه به یک او یوائې د الله عبادت کیدای شي او ټول ورسره جوړ شوي برخه داران به شاته غورځول کیږي.

## مسلمانانو ته مدینې ته په هجرت کولو اجازه

کوم مهال چې الله پاک خپل استازي محمد ﷺ ته د جهاد په پیل کولو اجازه ورکړه او له بلې خواه ورسره د انصارو دواړو قبیلو په اسلام او د دوی په مرسته او مسلمانانو ته د ځای په ورکولو کلک تړون وکړ، نبي ﷺ له حبشې نه راستانه شوي مهاجرو او نور کمزورو بې وسه او بې کسه مسلمانانو ته مدینې ته د بیا ځل لپاره په هجرت کولو امر اواجازه وکړه چې تر انصارو ځان ورسوئ، او ورته یې وویل: الله پاک ستاسو لپاره د بهرنیو ورونو او کورونو بندوبست کړی دی، هلته به د خیر سره ښه په ډاډ او اطمئنان کې یاست.

هغه و چې د مهاجرینو نوې لړي بیا پیل شوه، پرله پسې جماعتونه او ډلې ډلې مدینې ته روانې شوې، نبي ﷺ خپله هم د دې انتظار ویسته چې الله پاک به ورته له مکې څخه مدینې ته په هجرت کولو کله امر کوي؟

## مدینې ته د مهاجرینو کاروانونه

د نبي ﷺ په ملګرو کې له مکې څخه مدینې ته لومړی هجرت ابوسلمه بن عبدالأسد رضي الله عَنْهُ وکړ، د عقبې له تړون نه یو کال وړاندې یې هجرت کړی و، ابو سلمه رضي الله عَنْهُ له حبشې څخه بېرته مکې ته راستون شوی مهاجر و، په مکه کې چې ورته کله د مشرکانو د زیان رسونې راز راز ډولونه متوجه شول مجبور شو د بیا ځل لپاره یې مدینې ته هجرت وکړ.

د ابو سلمه رضي الله عَنْهُ نه وروسته مدینې ته په دوهم پړاو کې عامر بن ربیعه او د هغه بي بي لیلی بن ابي حثمه رضي الله عَنْهُمَا راغلل، بیا عبدالله بن جحش د خپل د کور ټولو غړو په شمول او د هغه ورور عبد بن جحش او ابواحمد چې په سترګو هم معذور و هجرت وکړ، ابو احمد هغه صحابي دی چې د مکې بره اوښکته کې به له قائد پرته ګرځېده او شاعر هم و رضي الله عَنْهُ.

بیا عمر بن الخطاب او عیاش بن ابي ربیعه مخزومي دواړو مدینې ته هجرت وکړ، له دې څخه وروسته بیا د مهاجرینو لړي په پرله پسې توګه جریان وموند.

# د نبي ﷺ هجرت

د نبي ﷺ د ملګرو د هجرت کولو نه وروسته هغه د دې شيبو انتظار ويسته چې کله به ورته په هجرت کولو امر کيږي، په مکه کې نبي کريم ﷺ او ابوبکر او علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُمَا په شمول څه شمېر هغه بې کسه صحابه چې د قريشو په بند کې پراته وو نور څوک نه وو پاتې، ابوبکر رضي الله عَنْهُ د تل لپاره د نبي ﷺ نه بار بار د هجرت اجازه غوښته خو هغه به ورته ويل لږ زغم وباسه کېدای شي الله پاک دې د هجرت ملګرى پيدا کړي.

د خبرې د اورېدو سره ابوبکر رضي الله عَنْهُ په طمعه و چې کېداي شي خپله به وي!!

د قريشو سر چې کله په دې خلاص شو چې د نبي ﷺ په در خو داسې کلک ملاتړ پيدا شو چې د مکې باشندګان نه دي او د مکې مسلمانان هم د مه په دمه مدينې ته چې د امن او پوره ډاډ لمن ده ور روان دي، قريش وډارېدل چې داسې نه نبي ﷺ د خپلو ملګرو نه جوړه جنګي ليکه د دوی په ضد ونه کاروي.

د دارالندوه په نوم د قصي بن کلاب هغه کور چې د قريشو ټولې غوڅې پرېکړې به پکې ترسره کېدې پکې غونډ شول او د نبي ﷺ له پلوه د متوقع خطر او لوی ستونزې د دفع کولو لپاره يې د خيالاتو تبادله او فيصله کن دريځ غوره کولو سلا مشورې پيل کړې.

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وايي: کله چې د قريشو جرګه ماران په دارالندوه کې د نبي ﷺ په باره کې د يو بل سره يوه خوله شول او د راغونډېدو ورځ يې سره وټاکله، په کومه ورځ چې به يې پکې خپله پرېکړه اعلانوله يوم الزحمه به يې ورته ويله، د يو سلاکار په صفت يې په جرګه کې ابليس هم د زوړ بوډا سړي په هيئت کې چې چپن پرې پرته وه ګډون وکړ، کله چې د دروازې په درشل ودرېد د ليدو سره ورڅخه قريشو وپوښتل: څوک يې؟ او له کوم ځای څخه دې تشريف راوړی دی؟ ابليس ورته وويل: د نجد هستوګنوال[1] يم ستاسو د غونډې اړوند مې خبر غوږونه وسکوندل په دې خاطر مې حضور وکړ تر څو ستاسو نېکې مشورې واورم او يا هم درته د خيرښېګړې نيکه مشوره درکړم.

هغوی ورته وويل: ولې نه په خير راشې او هر کله راشې.

د قريشو د مخه ورو جرګه مارانو او مشرتابه وو په څنګ کې کېناست، څېنو راغلو نورو ته

(۱) سهيلي وايي: شيطان نجد ځکه ياد کړه چې قريشو دمعلومو کسانو پرته د تهامه ټول خلک د غونډې نه په ناخبرو کې شمېرلي وو، په دې خاطر چې زړه يې اسلام ته ورته دی، نو د نجدي انسان په شکل کې يې ځکه خپل شکل اختيار کړ.

وويل: د دې سړي محمد ﷺ رامنځ ته کړي کشمکش اړوند خو تاسو ټول ښه خبر یاست که زمونږ د قریشو پرته نور یې پیروي پیل کړي نزدې ده چې په مونږ یرغل وکړي، نور باقي د دې سړي اړوند د غوښې پرېکړې کلک غبرګون او عملي اقدام څرګند کړئ.

له همدې ځای څخه یو تر بله ګنګوسې شروع شو، یو راغلي پکې وویل: په وسپنیزو زنځیرونو به یې وتړو او د اوسپنیزو دروازو تر شا به یې بندیوان کړو تر څو د سابقه شاعرانو زهیر او نابغه په څېر ساه ورکړي او مړ شي.

شیخ نجدي وویل: نانا، لوړه په رب لایزال چې دا مشوره هېڅ ارزښت نه لري، که رښتیا هم تاسو هغه بندیوان کړئ نو دعوتي اغېزې به یې له بندو دروازو تر شاه بهر راوځي، شاید پلویان یې دربانديې برید وکړي او له منګولو څخه به یې درنه رها کړي، او که رها شي ستاسو په ضد به د عملي نظامي پاڅون لارې وسنجوي او په تاسو به بریالی شي، نو هیله ده چې دا مشوره مو بېرته واخلئ او د بلې خبرې پلټنه وکړئ.

بیا یې سره خپلمنځنۍ ګنګوسی پیل کړ، یو پکې وویل[1]: له خپلې خاورې څخه به یې وشړو چې چرته ځي لا ړ دې شي او چې څه پرې تیرېږي تېر دې شي خو مونږ به ترې بې غمه یو، هېڅ پروا به پرې ونه کړو چې چرته لاړ؟ د ورکېدو سره سم به خپلمنځنۍ رامنځ ته شوې کړېږې نسکورې اصلاح کړو.

شیخ نجدي ورته وویل: دا هم ارزښتناکه مشوره نه ده، ایا تاسو یې ښې خبرې او بارسوخه ګړدود نه اورئ؟ چې په کوم انداز زړونه خپلوي؟ لوړ په رب لایزال چې که داسې مو وکړل لکه چې یې وایئ نو د عربو بلې قبیلې ته به ولاړ شي او د خپلو خبرو تر اغېز لاندې به یې راولي او ستاسو پر ضد پاڅون ته به یې وهڅوي، نزدې ده چې ستاسو قلمرو یې په ولقه کې ولوېږي او هغه څه به دربانديې وکړي چې تاسو یې طمع توقع نه لرئ، زر کوئ د بلې مشورې پلټنه وکړئ.

ابو جهل بن هشام وویل: ما سره یوه ځانګړې رایه ده شاید ستاسو د ګډونوالو هېڅ چا هم ورته سوچ نه وي، ټولو ورته وویل: ابو الحکم! وایه کومه مشوره لرې؟ ابو جهل وویل: د قریشو له هرې قبیلې څخه به باتوره ننګیالی او اصیل لوړ نسبه تکړه ځوان غوره کړو او د هر ځوان سره به څېرونکې توره په لاس وي، د یو سړي په شان به پرې ټول مرګونی برید وکړي تر څو یې مړ کړي، په دې وژلو سره به خو له یو اړخه مونږ هم په ارام شو ساه به واخلو او له بل پلوه به یې وینه په قبیلو کې وویشل شي، چونکه بنو عبدمناف به د هرې قبیلې سره د جنګ کولو نه عاجز وي په دیت به راضي شي دیت به ورته ورکړو.

(۱) دا مشوره ابوالاسود ربیع بن عامر ورکړې وه.

شيخ نجدي وويل: د دې سړي خبره سمه دمه ده، له دې پرته بله هېڅ چاره وړ نه برېښي، په همدې پرېکړې ټولو راپنډ شوو مشرانو د شورا مجلس پای ته ورسو او خلک خواره واره شول.

جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغی او نبي ﷺ ته يې وويل: د خپل عادت له مخې دې نن په هغه ځای مه ويده کېږه چې لږ څه وړاندې به پرې ويده کېدې.

د شپې په مهال غوره کړی شوي قريشي ځوانان د شوي ائتلاف په بنسټ د نبي کريم ﷺ په دروازه ودرډېدل، او د دې انتظار يې کوو چې کله به ويده کيږي، نبي کريم ﷺ چې کله دوی ورته په وحې کړي شوي حالت وليدل علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ ته يې وويل: زما په ځای ويده شه او زما د حضرموت په شين څادر کې ځان راونغاړه، د راغلو دښمنانو له پلوه به درته هېڅ راز ځاني زيان در ونه رسيږي.

او د عادت له مخې به نبي کريم ﷺ هر کله په دغه څادر کې استراحت کو.

محمد بن کعب قرظي وايي: د نبي کريم ﷺ د وژنې لپاره راغلو کې يو ابوجهل هم و، ټولو يې د عملي پاڅون لپاره په دروازه ولاړ وو، ابوجهل به پټې نورو ته ويل: محمد داسې انګيروي چې که تاسو يې پلوي وکړئ د عربانو او عجمو ستر واکداران به جوړ شئ، او له مرګ وروسته بيا راپاڅېدني نه به درته د اردن په څېر لوی لوی شنه او غټ باغونه درکړل شي، او که يې پلويان جوړ نه شي هلاک برباد او وبه وژل شئ.

نبي کريم ﷺ له کور څخه په داسې حالت کې راووت چې په لاس کې يې خاوره وه او ويويل: هو. زه درته همدغه خبرې کوم او ته له دغې د وژخيانو څخه يو دوزخي يې خاوره يې پرې وشيندله، الله پاک يې د سترګو ديد واخست، نبي کريم ﷺ دا ايتونه لوستل: ﴿يسٓ ١
وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ٢ إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٣ عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٤ تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ٥ لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أُنذِرَ
ءَابَآؤُهُمۡ فَهُمۡ غَٰفِلُونَ ٦ لَقَدۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَىٰٓ أَكۡثَرِهِمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ٧ إِنَّا جَعَلۡنَا فِيٓ أَعۡنَٰقِهِمۡ أَغۡلَٰلٗا فَهِيَ إِلَى
ٱلۡأَذۡقَانِ فَهُم مُّقۡمَحُونَ ٨ وَجَعَلۡنَا مِنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ سَدّٗا وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ سَدّٗا فَأَغۡشَيۡنَٰهُمۡ فَهُمۡ لَا يُبۡصِرُونَ﴾[1].

دا ايتونه نبي کريم ﷺ لوستل او خاورې يې پرې وشيندلې په داسې حالت کې ترې روغ رمټ ووت چې هېڅ کافر ونه ليده، او د امر سره سم هلته ولاړ چې ورته ښوول شوی و.

يو کس چې د قاتلانو سره نه و راغلی ورڅخه يې وپوښتل: دلته څه کوې؟ هغوی ورته

(۱) سورت يس: (۱–۹). ژباړه: يس * په دغه محکم قران مې دې قسم وي * چې ته د هغه اسماني استازو څخه يو يې * چې په سمه لاره ليږدول شوي دي * تا ته دغه قران د زبردست او رحم والا ذات نه نازل شوی دی * د دې لپاره چې هغه قوم ويروې چې پلرونو ته يې وېره نه وه ورکړل شوې دوی هم له توحيد نه غافله دي * په يقين سره چې په زياتره خلکو يې د عذاب پرېکړه ثابته شوې ده دوی نو نور ايمان نه راوړي * مونږ د دوی په غاړو کې تر زنو پورې طوقونه ګرځولي دي نو دوی لاندې نه شي کتلی (سرونه يې پورته نيولي دي) * مونږ له دوی څخه مخکې او وروسته ديوال ګرځولی دی، ړانده کړي مو دي دوی هېڅ نهويني.

وويل: محمد وژنو، هغه ورته وويل: په وژنه يې بريالي نه شوئ، لوړه په رب لايزال چې محمد درڅخه تللی دی، تاسو خپلو ځانونو ته نه ګورئ چې په سر مو خاورې ايرې پرتې دي؟

هر يو سر ته لاس يوړ څه ګوري چې د هر چا په سر خاورې پرتې دي، له دېوال تر شا په قدمونو ريښې بوخې شول علي رضي الله عَنْهُ يې د نبي کريم ﷺ په څادر کې خوبه وړی وليد، يو بل ته يې وويل: نا محمد نه دی تللی، هاغه دی په خپل څادر کې پروت او ويده دی، دوی يې لا هم هغسې په انتظار وو چې علي رضي الله عَنْهُ له خوب څخه رابېدار شو، خپل منځ کې يې سره يو بل ته وويل: سړي راته رښتيا وويل هغه خو تللی دی.

ابن اسحاق وايي: ابوبکر رضي الله عَنْهُ خپله مالداره و، چې کله به يې هم د نبي کريم ﷺ څخه د هجرت کولو اجازه وغوښته هغه به ورته ويل: لږ زغم وباسه کېدای شي الله پاک درته ملګری درکړي، ابوبکر رضي الله عَنْهُ لږ څه ويوهېد چې کېدای شي د هجرت ملګری يې هغه پخپله وي، نو دوه سورلۍ يې واخستې.

په کور کې به يې دواړه ساتلې او ښه بوتاوه به يې ورته کوله.

عائشه رضي الله عَنْهَا وايي: نبي کريم ﷺ به د ابوبکر کور ته د سهار او ماښام پرته نورو وختونو کې نه راته، په کومه ورځ چې ورته د هجرت امر وشو تر څو د قريشو او مکې له قلمرو نه وړاندې لاړ شي نو د ابوبکر رضي الله عَنْهُ کور ته د غرمې په مهال راغی، ابوبکر رضي الله عَنْهُ د ليدلو سره سم وويل: د چټک کار پرته نبي کريم ﷺ هېڅ کله په داسې وخت کې مونږ ته نه دی راغلی، د راننوتو سره ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته خپل ځای پرېښود، نبي ﷺ ورته وويل: پردي څوک که وي وېې باسه، هغه ورته وويل: زما مور او پلار دې درڅخه زار شي څوک!! يواځې زما دواړه لورګانې دي، نبي کريم ﷺ ورته وويل: له مکې څخه په تللو او هجرت کولو راته اجازه وکړی شوه، هغه ورته وويل: د الله رسوله! ملتيا ته دې بيخي چمتو يم، هغه ورته وويل: ملګرتيا ملګرتيا وي.

عائشه رضي الله عَنْهَا وايي: له دغې ورځې نه مخکې ما هېڅ څوک نه و ليدلي چې له خوشحالۍ وژاړي لکه ابوبکر رضي الله عَنْهُ چې په دغه ورځ له خوشحالۍ وژړل.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: ای د الله پېغمبره! د هجرت د سفر لپاره مې دغه دواړه سورلۍ تيارې کړې دي، عبدالله بن ارقط چې خپله دغه مهال مشرک هم و په مزدورۍ يې ونيو او دواړو ته يې لاره ښووله، دواړو ورته خپلې سورلۍ ورکړې تر څو د معلوم وخت لپاره يې ورته روغې رمټې وساتي او هغه به ورله د خوراک او څښاک بندوبست هم کو.

ابن اسحاق وايي: ما ته د رارسيدلي راپور له مخې د نبي کريم ﷺ له مکې څخه په وتلو او هجرت کولو باندې له علي رضي الله عَنْهُ ابوبکر رضي الله عَنْهُ او کورنۍ پرته يې نور هېڅ څوک نه وو خبر.

علي رضي الله عَنْهُ يې په دې پوهه کړی و چې زه هجرت کوم او ته به زما له هجرت وروسته تېول هغه امانتونه چې ما ته خلکو راکړي دي خپلو خپلو څښتنانو ته وسپارې.

هغه شيان چې په مکه کې به يې خلک له ضياع څخه ډاريدل نبي ﷺ سره به يې کېښودل ځکه چې هغوي يې په امانتدارئ او رښتنولۍ خبر وو.

کله چې رسول الله ﷺ د هجرت په کولو هوډ وکړ د ابوبکر رضي الله عَنْهُ له کور څخه د غتې کړکۍ له لارې ووت او د ثور په غر کې لوی غار ته ننوتل[١].

ابوبکر رضي الله عَنْهُ خپل ځوی عبدالله په دې وګماره چې د خلکو له پلوه د ورپسې شوې خبرو کلکه څارنه وکړي او د ورځې ټولې کړی شوې خبرې د شپې له مخې دواړو ته راوړي.

او عبدالله بن فهيره چې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ غلام و په دې يې ګمارلی و چې د ورځې يې رمه وڅروي او د شپې له مخې غار ته راشي، او اسماء بنت ابي بکر به ورته د شپې له پلوه د خوراک او څښاک غم کو[٢].

د ابوبکر رضي الله عَنْهُ په شمول نبي کريم ﷺ په غار کې درې ورځې تېرې کړې له هغې راهيسې چې دواړه له مکې نه راوتلي وو، قريشو يې په مرګ يا ژوبلې او يا هم که چا په ژوندۍ بڼه راوستل سل اوښان نقدي جائزه ټاکلي وه.

عبدالله بن ابي بکر به خپله ټوله ورځ د قريشو سره تېروله، د هغوی چل او پراډونه، جرګې مرکې به يې ټولې واورېدې او د شپې له پلوه به غار ته ولاړ او دواړو ته به يې ټول ورځنی راپور واورو.

د ابوبکر رضي الله عَنْهُ غلام عامر بن فهيره به د مکې په څړځايونو کې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ رمه څروله او د شپې له مخې به يې ټوله رمه تر غاره راوسته او غوښه او شېدې به يې دواړو وخوړل.

هغه لاره چې عبدالله بن ارقط ورته دواړه سورلۍ او يوه يې د خپل ځان لپاره وه راوستې، اسماء بنت ابي بکر هم ورته د سفر د دورانيې اړوند خوراک او څښاک راوړ، دا چې د ګوډې د خولې لپاره ترې تار هېر شوی و د سفر په دوران کې اسماء رضي الله عَنْهَا وليد چې د ګوډې خوله خلاصه ده خپل ملابند يې راخلاص کړ او په منځ يې دوه وشکو په يوه برخه يې د ګوډې خوله وتړله او په بله يې خپله ملا وتړله، له همدې کبله ورته (ذات النطاقين) ويل کيږي.

په دواړه سورليو کې يې ښه او اعلی ترينه چاغه څربه سورلۍ نبي کريم ﷺ ته وړاندې کړه، هغه ورته وويل: زما مور او پلار دې درنه زار او قربان شي په دې سورلۍ سپور شه، نبي

(١) ثور د مکې په ښکته برخه کې د غر نوم دی.
(٢) ابن هشام د حسن بصري څخه نقلوي چې د شپې په مهال نبي کريم ﷺ او ابوبکر رضي الله عَنْهُ دواړه غار ته ننوتل، ابوبکر رضي الله عَنْهُ ترې مخکې په دې خاطر ننوت چې غار له زيانمنو حشراتو (مار لړم وغيره) څخه پاک کړي، په خپل ځان به يې د نبي کريم ﷺ حفاظت کو.

ﷺ ورته وویل: زه په هغه اوښ نه سپرېږم چې شخصي مې نه وي، ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وویل: اوښ چورلټه ستا شو، نبي ﷺ ورته وویل: په څومره دې پېرلی دی؟ ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته کړه چې په دومره دومره...

نبي کریم ﷺ ورته وویل: په دغه نرخ زما شو، ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وویل: نرخ او اوښ دواړه ستا شول.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ او نبي کریم ﷺ دواړه په خپلو خپلو اوښانو سپې واړولې د لارې د خدمت لپاره ابوبکر رضي الله عَنْهُ د ځان سره عامر بن فهیره هم شاته سپور کړ.

اسماء بنت ابي بکر رضي الله عَنْهُمَا وايي: د نبي کریم ﷺ او ابوبکر رضي الله عَنْهُ له وتلو وروسته د ابوجهل په ملتیا ځینې قریش راغلل د کور په دروازه ودرېدل زه ورغلم راشخه يې وپوښتل: پلار دې چرته دی؟

ما ورته کړه: والله نه پوهېږم چې پلار به مې چرته تللی وي؟ ابوجهل چونکه پلیت او سپور سپیره سړی و، دومره زور داره څپېړه یې راکړه چې راشخه غوږوالی هم پرېوتې او بیا لاړ.

درې ورځې شپې تېرې شوې خو مونږ په دې نه پوهېدو چې نبي کریم ﷺ به د خپل ملګري په شمول چرته او په کومه تللي وي؟

تر دې چې د مکې د لاندې برخې نه یو پېری راغی او په بره برخه ووت، که څه هم چا نه لید خو د اواز پسې يې خلک روان وو او دا يې زمزمه کول چې:

جَزَى اللهُ رَبُّ النَّاسِ خَيْرَ جَزَائِهِ *** رَفِيقَيْنِ حَلاَّ خَيْمَتَيْ أُمِّ مَعْبَدِ
هُمَا نَزَلاَ بِالْبِرِ ثُمَّ تَرَوَّحَا *** فَأَفْلَحَ مَنْ أَمْسَى رَفِيقَ مُحَمَّدِ
لِيَهْنَ بَنِيْ كَعْبٍ مَكَانُ فَتَاتِهِمْ *** وَمَقْعَدُهَا لِلْمُؤْمِنِيْنَ بِمَرْصَدِ

ژباړه: هغو دواړو دوستانو ته دې الله خپله د خير بدله ورکړي چې د ام معبد خيمو ته ننوتل.

دواړه په سعادت او پوره سلامتيا هلته ورسيدل، هغه څوک به رښتونی بريمن وي چې د محمد ﷺ ملتيا کوي.

بنو کعب دې هغه وياړ ولمانځي چې د ځواني خور هستوګن ځای يې د مومنانو تم ځای او دمه ځای جوړ شو.

---

(۱) د ام معبد خپل نامه (عاتکه بنت خالد) وه، د بنوکعب له خاندان څخه وه، نبي کریم ﷺ او ابوبکر او عامر بن فهيره او عبدالله بن ارقط ورسره ميلمانه شوي وو.

د پېرودلو لپاره يې ترې د کجورو او غوښې غوښتنه وکړه خو هېڅ ورسره نه و، د خيمې دننه نبي کريم ﷺ بزه وليده چې وچه وه، غلانځه يې ورله په لاس مسح کړه نو ډېر زيات شيدې پکې راغلل نو ښځې ورسره سم د لاسه په اسلام بيعت وکړ.

مونږ چې کله دغه شعرونه واورېدل وپوهېدو چې رسول الله ﷺ د مدينې په لور تللی دی.

سراقه بن مالک بن جعشم وايي: له کله راهيسې چې نبي کريم ﷺ له مکې څخه مدينې ته د هجرت کولو دورانيه پيل کړه د هغه د مرګ او يا بنديوانۍ لپاره قريشو سل اوښان جائزه اعلان کړه.

زه لا دخپل قوم په جلسه ګاه کې ناست وم نابېره يو سړی راغی او په سر مو و درېد او ويويل: وس درې نفره ما وليدل چې لاړل تېر شول او د محمد او د هغه له ملګرو پرته مې په بل چا ګمان نه کيږي.

هغه ته مې په سترګو اشاره وکړه چې خاموش شه، بيا مې ورته وويل: خا خا تا هغه فلانکی او فلانکی ليدلي دي، له هغوی څخه اوښان ورک شوي دي د هغه پلټنه کوي، هغه راته وويل: بس کېدای شي هغوی به وي.

د دې خبرې د اورېدو سره سم هغه هم خاموش شو، لږ ځند وروسته پاڅېدم او کور ته ننوتم، کور کې مې وويل: زما اوښ سمبال کړئ، زين پرې کيږدئ او د خوړ کنډو کپرو پناه يې راته وسپارئ، د کور تر شا مې غشي او لينده له خلکو څخه هم پټ پنا راواخستل، د رواج سره سم ما د خپل کار د خير او شر پايلې معلومو لپاره غشي استعمال کړه څه ګورم هغه غشی راوخوت چې ما ته پسند نه و، خپله زغره او جنګي لباس مې واچو بيا مې په غشو د برخليک پېژندلو لپاره دوهم ځل شروع وکړه څه ګورم چې بيا هغه غشی راوخوت چې ما ته خوښ نه و، او زه په دې کلک باوری وم چې شايد دواړه قريشو ته ژوندي راولم او په انعام ګټلو غازي شم، د اس ښپې وښوېدې او زه ترې پرېوتم، ځان سره مې وويل: دا څه وشو؟

غشي مې د بيا ځل د برخليک معلومو لپاره د تېر په څېر استعمال کړه څه ګورم چې هغه غشی بيا راوخوت چې ټنډه مې پرې بدېده، د غشي تقسيم مې شا ته کړ او چټک مزل ته مې دوام ورکړ، خو چې څنګه مې تر سترګو شول د اس مخکنۍ ښپې (لاسونه) په ځمکه کې ښکته لاړل زه ترې ولوېدم، اس چې بېرته راپورته شو او ښپې يې خلاصې شوې څه ګورم د باد په څېر لوی لوګي راڅخه هغوی پټ پناه کړل، دغلته زه وپوهېدم چې دواړه به هرومرو برى مومي.

په لوړ غږ مې ورته وويل: زه سراقه بن جعشم يم، لږ زغم وکړئ درسره خبرې اترې کوم، زما څخه به درته داسې څه در ونه رسيږي چې ستاسو ټنډه پرې تروه ترخه شي، نبي ﷺ ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته وويل: ورته ووايه چې د څه غوښتنه لري؟ هغه وويل: د څه غوښتنه لرې؟ ما ورته وويل: ما ته له خپل اړخه ليک راکړئ چې زما او ستا ترمنځ نښه وي، ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته يې وويل ليک ورته ورکړه.

هغه راته په هډوکي يا د پوستکي په مخ ليکلی خط وغورځو او هغوی لاړل، ما خط راواخست او د غشو په چاتۍ کې مې د ځان سره محفوظ کړ، د دوی اړوند مې هېڅ چا ته هم راز افشا نه

کړ د مکې او طائف او د حنين له فتح وروسته ورسره د طائف او مکې تر منځ جِعِرَانه نوم ځای کې مخامخ شوم، د انصارو په جم کې ورته ورغلم هر چا به ټومبلم چې څه کوې؟ څه کوې؟

هغه چې پخپلې سورلۍ سپور ناست و او زه ورنږدې شوم، لوړه په رب لايزال چې پنډۍ يې په زين کې لکه د خرما د ګردې په څېر سپينې ځليدلې.

کوم ليک چې را ته هغه راکړی و په لاس کې مې اوچت کړ او غږ مې کړ چې ای د الله رسوله! زه سراقه بن مالک بن جعشم يم او دا را سره ستا راکړی ليک دی، نبي کريم ﷺ وويل: نن د خير ښيګړې او وفادارۍ ورځ ده لږ رانږدې شه، زه ورنږدې شوم او خپل اسلام مې اعلان کړ، بيا مې ترې د څه شي غوښتنه لرله خو هېر مې شول چې څخه مې ترې غوښتل خو دومره مې ورته وويل: ای د الله رسوله ﷺ ما خپلو اوښانو ته د اوبو ډنډونه ډک کړي دي پردې اوښان راځي او اوبه ورڅخه څښي، ايا د هغه په خړوبولو کې زما ثواب او نېکه بدله شته؟

هغه وويل: هو د هر ځيګر لرونکي او پيوسانو والا زنده سر په خړوبولو کې اجر دی.

بيا خپل قوم ته ستون شوم او نبي ﷺ ته مې صدقات راوړل.

ابن اسحاق وايي: عبدالله بن ارقط دواړه له غار څخه راوويستل او لومړی يې د مکې د ښکته پرتې برخې څخه د عُسفان مقام د لاندېنۍ برخې نه د بحر ساحل ته يوړل، د عسفان نه په تېرېدو يې د اَمج په ښکته برخه روان کړل تر څود قُديد نوم ځای يې هم په مزل ووهو، او له همدغې لارې د خَرَّار نوم ځای ته ورسېدل، بيا د لِقَف او ان د لقف د ښته يې هم ووهله، او د همدې لارې څخه د مَجاج نوم ځای ته ورسېدل، د مَجاج له کونج څخه يې د ذي الغَضَوَين کونج ته رسيدګې وکړه، بيا ذِي ګَشَر ته او بيا جَداجِد ته ورسېدل، او له دغې ځايه د اَجْرَد مقام ته لاړل، بيا يې د تِعْهِنْ د دښتې په وهلو ذاسلم ته ورسول بيا عَبَابِيْد نوم ځای ته او بيا هم تر فاجَّه نوم ځای ته ورسېدل.

ابن هشام وايي: له فاجې څخه بيا عِرج مقام ته ورسېدل، خپله او سورلياني يې هم ډېرې ستړې ستومانه شوې وې، د اسلم له قبيلې څخه د اوس بن حَجَر په نوم صحابي نبي ﷺ پخپل اوښ چې ابن الرِّدا به ورته ويل کېده سپور کړ او د مسعود بن هنيده په نوم خپل غلام يې ورسره کړ او تر مدينې يې ورسول.

بيا يې له عرج څخه ثنية العائر او بيا يې د رِيْم نومې درې ته ښکته کړل، بالاخره د سفر د دورانيې پای د دوشنبې په ورځ د ربيع الاول د مياشتې په دولسم تاريخ چې د لمر تودوخه په ختمېدو وه په قباء کې بني عمرو بن عوف ته ورسېدل.

# قباء ته رسېدل

عبدالرحمن بن عويمر بن ساعده وايي: د نبي کريم ﷺ د ملګرو ښخه راته خپل ځينو قوميانو وويل: له کله راهيسې چې د مکې نه د نبي کريم ﷺ په راتګ وخبرېدو، د سهار په مهال به د هغه د ښه راغلاست لپاره د ماسپښين تر سختې تکندې غرمې پورې په انتظار وو، د ونو بوټو سيورې به هم د سخت لمر له کبله خورا زيات ګرم شول خو چې کله به هېڅ سيورى پاتې نه شو کورونو ته به ستانه شول.

دغه د ګرمۍ سخترينې ورځې شپې وې د نبي کريم ﷺ د راتګ په ورځ د عادت په څېر بيا ووتوو، لمر د اسمان منځ ته راغى او سيورې ورک شول، د ګرمۍ د ډېرې تودوخې له کبله بيا کورونو ته ننوتوو، نبي ﷺ په داسې حالت کې راورسېد چې مونږ کورونو کې وو، يو يهودي چې مونږ به يې هره ورځ څارلوو چې د چا په انتظار يو په لوړ غږ وويل: اى د قيلې لمسيانو! ستاسو برخليک او نصيب راورسېد.

چونکه زمونږ زياتره خلکو رسول الله ﷺ نه و ليدلى ټول ورته راووتوو، ابوبکر رضي الله عَنْهُ هم ورسره و چې د عمر په لحاظ يې دومره توپير ترمنځ نه و، دواړه د کجورې د ونې سيورې لاندې ناست وو، چې کله سيورى ختم شو ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته څادر سيورى کړ، بيا وپوهېدو چې دا ابوبکر رضي الله عَنْهُ او بل نبي کريم ﷺ دى.

ابن هشام وايي: د ځينو معلوماتو له مخې د لومړي ځل لپاره نبي کريم ﷺ د کلثوم بن هدِم او د نورو ځينو راپورونو له مخې د سعد بن خيثمه سره ميلمه شو، د کلثوم بن هدم راويان وايي:

د کلثوم بن هدم له کور ښخه چې به کله نبي کريم ﷺ راووت د سعد بن خيثمه په جونګړه کې به ناست و ځکه چې دا لونډ و واده يې نه و کړى.

او د نبي کريم ﷺ مهاجر شوي بې واده به هم ټول هلته ناست پاست وو.

او د ابوبکر رضي الله عَنْهُ اړوند راپورونه وايي چې هغه به د حُبَيْب بن اساف سره ميلمه و، او ځينې نور معلومات ښايي چې د خارجه بن زيد سره به ميلمه و.

علي رضي الله عَنْهُ په مکه کې درې شپې او درې ورځې وځنډېد تر څو د رسول الله ﷺ سره خلکو ايښې امانتونه حقدارو ته وسپاري، چې کله د امانتونو له سپارلو ښخه وزګار شو د نبي کريم ﷺ سره يو ځاى او په کلثوم بن هدم باندې ميلمه شو.

په بني عمرو بن عوف د قباء مقام کې نبي کريم ﷺ دوشنبه، سه شنبه، چهارشنبه او پنج شنبه ورځې تيرې کړې او خپل مسجد يې پکې ودان کړ.

# مدينې ته رسېدل

د جمعې په ورځ د الله پاک د امر سره سم له قباء څخه مدينې ته ولاړ، د جمعې د ورځې لمونځ يې په بني سالم کې د رانوناء په خوړ کې ادا کړ، دا د نبي ﷺ لومړنی جمعه وه چې په مدينه کې يې ادا کړه.

د بني سالم بن عوف له قبيلې څخه ورته د عتبان بن مالک او عباس بن عباده بن نضله په شمول څه خلک راغلل او ورته يې وويل: ستا د حفاظت او ساتنې لپاره زمونږ د ځوانانو قوه او دفاعي وژونکې اسلحه بسنه کوي، هغه ورته وويل: اوښې ته لار پرېږدئ دې ته امر شوی دی چې چرته لاړه شي، نو ستړګو په لار خلکو ورته لاره پرېښوده، د بنو بياضه قبيلې کورونو ته په رسيدګۍ ورته د بنو بياضه د قبيلې مشرانو زياد بن لبيد او فروة بن عمر په شمول خلک راووتل او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! ستا د حفاظت او ساتنې لپاره زمونږ د ځوانانو جګړيزه ډله او وژونکې اسلحه بسيا کوي، هغه ورته وويل: اوښې ته لاره پرېږدئ دې ته حکم کړی شوی دی چې چرته لاړه شي، اوښه روانه وه د بنو ساعده تر قبيلې چې ورسېده نو د بنو ساعده د قبيلې د سعد بن عباده او منذر بن عمر په شمول ورته خلک راووتل او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! ستا د ښه حفاظت لپاره زمونږ جنګيالي ځوانان او زور داره اسلحه کفايت کوي دلته تم شه، هغه ورته وويل: اوښې ته لاره پرېږدئ دې ته امر شوی دی چې د هر چا کره لاړه.

اوښه روانه وه تر دې چې د بني الحارث بن خزرج قبيلې کورونو ته روسېده، د دې قبيلې د مشرانو سعد بن الربيع او خارجه بن زيد او عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُمْ په شمول ورته خلک راووتل او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! ستا د مزيد حفاظت لپاره زمونږ جنګيالي ځوانان او پياوړې اسلحه بسنه کوي، دلته پاتې شه، هغه ورته وويل: اوښې ته لاره پرېږدئ دې ته امر شوی دی چې د هر چا کور ته لاړه.

اوښه روانه شوه او د بنو عدي بن نجار قبيلې کورونو ته ورسېده، د دې قبيلې د مشرانو د سليط بن قيس او د ابو سليط اسير بن ابي خارجه په شمول ځينې نور خلک هم راووتل او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! د خپلو ماماګانو کره دې تم شه د ځوانانو جنګيالو او وسلوالو نوميالو په حفاظت کې به يې -د ام عبدالمطلب سلمی بنت عمر- له اړخه يې ماماګان کېدل.

هغه ورته وويل: اوښې ته لاره پرېږدئ دې ته امر شوی دی چې چرته لاړه شي، اوښه روانه شوه او د بنو مالک بن نجار قبيلې کورنو ته ورسېده او د نبوي مسجد په لويه دروازه اوښه چو شوه، هېره دې نه وي چې د اوښې دغه تم ځای د دوو يتيمانانو چې د بني نجار سره يې کورنی

اړيکې وې د خورماوو د وچولو ځای و، او دغه دواړه هلکانو سهل او سهيل نومونه درلودل، د معاذ بن عفراء پرکتيان وو.

نبي ﷺ له اوښې څخه رانښکته نه شو، اوښه بېرته پاڅېده لږ څه وړاندې لاړه بېرته يې شاته وکتل او د دوهم ځل لپاره بيرته په لومړي ځای چو شوه، نبي کريم ﷺ مهار پرېښی و خو بيا هم نبي ﷺ ترې رانښکته نه شو.

اوښې په ملاستې حرکتونه پيل کړل او اوازونه يې شروع کړل او د سينې او حلق لاندينۍ برخه يې په ځمکه جوخته ولګوله.

ابو ايوب انصاري رضي الله عَنْهُ يې په ډېرې چټکۍ سره سامان له دروازې دننه کړ هغه و چې نبي ﷺ ورسره ميلمه پاتې شو، داوښې د چو ځای اړوند يې وپوښتل چې د چا دی؟

معاذ بن عفراء رضي الله عَنْهُ ورته وويل: زما د دوو پرکتيانو سهل بن عمرو او سهيل بن عمرو دی، هغه دواړه به زه راضي کړم خو ه په دې ځای مسجد جوړ کړه، نبي کريم ﷺ پر ځاې د مسجد جوړولو امر وکړ او د ابوايوب رضي الله عَنْهُ سره تر هغه په کور کې پاتې شو چې مسجد او تر څنګ يې خپل کور هم سر ته ورسېد.

په مسجد کې د مسلمانانو کار کولو ته په ترغيب کې هغه خپله هم کار کو، د دې له امله د ټولو مهاجرو او انصارو ورونو په کار کې اخلاص نور هم پسې زيات شو.

د کار کولو په وخت کې يو مسلمان وويل:

لَـئِنْ قَعَدْنَـا وَ النَّـبِيُّ يَعْمَـلُ *** اِذْ ذَاكَ مِنَّـا عَمَـلٌ مَضَلَّـلُ

که پيغمبر په کار بوخت وي او مونږ تش خوشې ناست يو، نو دا به مو له اړخه ډېر ناوړه کار وي.

او نورو مسلمانانو به ويل چې:

لاَ عَيْـشَ الاَّ عَيْـشُ الآخِـرَةِ *** اللّٰهُمَّ ارْحَمِ الأَنْصَـارَ وَالْمُهَاجِرَةَ

د اخرت پرته نور هېڅ نېکمرغه زندګي نشته، ای الله انصارو او مهاجرينو باندې ته رحم وکړه.

د مسجد او کورونو د منصوبې پای ته رسېدو سره سم نبي کريم ﷺ د ابو ايوب رضي الله عَنْهُ له کور څخه نقل مکاني وکړه، الله دې پرې رحم وکړي.

ابو ايو ب رضي الله عَنْهُ وايي:

له کله راهيسې چې نبي کريم ﷺ زما کور ته راغی، هغه دکور په لاندې برخه کې ميشت شو، زه او ام ايوب دواړه د کور په بره برخه کې ميشت وو، ماورته وويل: په طبيعت مې ښه نه لګېږي چې ته په کوزه برخه او مونږ په باندې برخه کې يوو، ته باندې ووسېږه او مونږ به د کور لاندې برخې ته لاړ شو.

هغه راته وويل: مونږ د کور په ښکته برخه کې خوښ يوو.

هغه وايي: نبي کريم ﷺ د کور په لاندې برخه او مونږ دکور په لوړه برخه کې وو په دې کې زمونږ د اوبو چاټی ماته شوه، له يوې کمبلګۍ پرته مو نور څه نه درلودل په تونديـ مو اوبه وچې کړې هسې نه بام په نبي کريم ﷺ ونه څځيږي او تکليف کې نه شي.

هغه وايي: د ماښام خوراک به مو ورته واستو چې له کوم ځای څخه چې به نبي کريم ﷺ خوراک کړی و ما او ام ايوب به له هم هغه ځايه خوراک پورته کوو تر څو الله پاک مو له خير او برکت نه ډک کړي.

يوه شپه مو ورته د ماښام په ډوډۍ کې وره (هوږه) او پياز واچول خو چې لوښي او کالي کښدولي تر کوره راغلل د هغه د خوراک پرې هيڅ اثر نه ليدل کيده، په خوفزده حالت ورغلم او ورته مې وويل: ای د الله رسوله! هر شپه به ما او ام ايوب ستا نه پاتې خوراک د برکت لپاره خوړه او اوس مهال تا بيرته راليږلي خوراک کې ستا د خوراک هيڅ اثر نه و، هغه راته وويل: زه د ملائکو سره خبرې اترې کوم او په خوراک کې د دغې بوټي خوند و، تاسو يې وخورئ زه يې نه شم خوړی.

هغه وايي: مونږ تيار کړی خوراک بيرته مونږ وخوړه او د بيا ځل لپاره به مو ورله د خوراک په تيارۍ کې د هوږې او پيازو هيڅ بندوبست نه کوو.

ابن اسحاق وايي: په مکه کې له بنديوان او په امتحان کې له ګير مسلمانانو پرته نورو ټولو مسلمانانو مدينې ته د نبي ﷺ څنګ ته هجرت وکړ.

له مکې څخه مدينې ته مهاجرينو د ځان سره خپل ټول اهل او شتمنی په راوړولو په بشپړه توګه ونه توانيدل له بني جمح څخه بنو مظعون، او د بنو اميه حليفګان (ملګري) بنو جحش بن رئاب، او له بنو سعد څخه بنو البُکَير د بنو عدي بن کعب حليفګان وو، په مکه کې يې کورونه وتړل شول کنډې کيږې شول چې هيڅ څوک پکې نه شو اوسيدای.

## په مدينه کې د نبي ﷺ خطبې او نوي تړونونه

مدينې ته په رارسيدلي کال کې نبي کريم ﷺ د ربيع الاول له مياشتې څخه د راراوان کال د صفر د مياشتې پورې چې د هغه د مسجد او کورونو د ابادۍ منصوبه په کې په بشپړه توګه تکميله شوه او له بل پلوه په کې د مدينې ټولو اوسيدونکو اسلام ته غاړه هم کيښوده، د اوس قبيلې پورې تړلي

څه شمېر قبيلو لکه خطمه، واقف، وائل او اميه کورنيو اسلام نه و قبول کړی، دوی هم هغسې په شرک پاتي وو، له دوی پرته د ټولو انصارو په کورنو کې اسلامي بېرغ ځپاند رپېده.

ما ته د ابوسلمه بن عبدالرحمن په روايت رارسيدلي معلومات وايي چې نبي کريم ﷺ په مدينه کې لومړی خطبه دا وکړه، او زه د الله پاک پورې له دې نه پناه غواړم چې په رسول الله ﷺ باندې هغه څه ووايم چې هغه نه وي ويلي:

لومړی يې د الله پاک حمد او ثناء وويله چې څنګه يې د شان سره ښائېده او بيا يې وويل: د نفس د نجات لپاره نېک اعمال توخه کړئ، قسم په رب لايزال چې هرومرو به هر څوک بې هوشه شي او خپله رمه به بې سرپرسته او بې سرنوشته پرېږدي، د دغه انسان او د الله ترمنځ به هېڅ ترجمان او څوکېدار نه وي مخامخ به ترې وپوښتل شي: ايا تا ته زما پېغمبر نه و راغلی او دين يې درته نه و رسولی؟ ما تا ته شتمني نه وه درکړې او پېرزو مې درباندې نه وه کړې؟ د ځان لپاره دې څه توښه کړي دي؟

پوښتل شوی به کيڼ او ښي اړخونو ته وګوري هېڅ به ونه ويني، خو چې وړاندې او مخې ته وګوري له جهنم پرته به نور څه ونه ويني، که څوک د جهنم له اور څخه ځان په نيمه کجوره هم بچ کولای شي نو ځان دې بچ کړي او که د چا سره څه نه وي په ښه خبره او نېکه رويه دې ځان له اور څخه وژغوري، ښه او پاکه خبره الله پاک په لس چنده تر اووسوه چنده پورې قبلوي، والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

بيا په بل ځل نبي کريم ﷺ خطبه وکړه او خلکو ته يې وويل:

کامل حمد او بشپړه ثناء الله لره ده، د هغه ثناء بيانوم او مرسته ترې غواړم، د خپلو ناپاکو او بدو علمونو او د نفس د شرونو څخه د الله پاک پورې پناه غواړو، الله پاک چې څوک په سمه لار روان کړي هېڅ څوک يې نه شي بې لارې کولی او څوک چې بې لارې کړي د سمې لارې ښوونکی يې څوک نه وي، په دې کلک اقرار کوم چې د الله پاک پرته بل هېڅ څوک معبود برحق نشته، ښې او خوندورې خبرې د الله خبرې دي، هغه څوک کامياب او سربالا دی چې الله پاک ورته قران په زړه کې ښايسته کړی وي او د کفر نه وروسته الله پاک په اسلام کې ننويستلی وي او ښه هغه څوک دی چې قران ورته ښې خبرې ښکاري، قران کريم په رښتيا هم ښايسته او له بلاغت نه ډک دی.

د ځان لپاره هغه څه پسند بولي چې د الله پاک خوښ وي او د زړه له کومې الله پاک سره مينه او رښتنی محبت ولرئ، د الله پاک په کلام او ذکر ځان سترې مه بولئ او مه ورڅخه خپل زړونه سختوالي ته پرېږدئ، الله پاک چې څه شی پيدا کوي ځينو ته پکې په نورو غوره والی ورکوي، د الله ذکر او د قران تلاوت ډېر غوره دی، په اعمالواو بندګانو کې د غوره ترينو نومونه الله درښوولي دي او ښې خبرې يې هم درښودلي دي، خلکو ته چې کوم رزق – حلال وي او که حرام – ورکړل شوی وي الله درښودلی دی چې دا رزق حلال او دغه حرام دی، يواځې د الله عبادت وکړئ او هېڅ راز شريک

ورسره مه جوړوئ، په کامله او حقه توګه له الله څخه وډار شئ او د الله په خاطر سمې روغې خبرې وکړئ، او د الله په خاطر خپل منځ کې سره مینه ګرکې جوړ شئ، الله پاک په دې ډېر زیات غصه کیږي چې وعدې ورسره ماتې شي، والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.

د مهاجرینو او انصارو ترمنځ هم نبي کریم ﷺ عهد نامه لاسلیک کړه، دمعاهدې لاسلیک تر څنګ د یهودو سره هم موافقې ته ورسېد هغوی ته یې دیني او او مالي پوره حفاظت او ډاډ ورکړ، دا نه بلکې د هغوی لپاره یې په ځان او د ځان لپاره یې په هغوی شرطونه کېښودل اوورسره یې ولیکل چې:

بسم الله الرحمن الرحیم

دا ژمنه د الله پاک نبي محمد ﷺ د قریشو او یثرب د مسلمانانو او مومنانو ترمنځ ترسره کړه، په دې حکم کې هغه مسلمانان هم داخل دي چې دمسلمانانو پیروکاران او ورسره یو ځای وي او په یو صف کې ورسره جهاد کوي چې دوی ټول:

- ځانګړې او مستقل خلک دي، له قریشو څخه راغلي مهاجرین به د تېر په څېر د اسلام نه مخکې د ورسره خپملنځني دیتونه ورکوي، او د نورو مومنانو ترمنځ به د عدل او انصاف له لارې د بندیوان فدیه ورکوي.
- بنو عوف به هم په مخکني نظام خپل منځني دیتونه ورکوي او هره کورنۍ او قبیله به دخپل بندیوان فدیه ورکوي.
- بنو ساعده به هم د خپل وړاندیني نظام سره سم د یتونه ورکوي، او د مسلمانانو سره به په عدل او انصاف د خپلې قبیلې اړوند بندیوان فدیه ورکوي.
- بنو الحارث به هم د خپل سابقه قانون په بناء د یتونه ورکوي او د مسلمانانو سره به د عدل او ډېر انصاف له لارې د قبیلې د بندیوان فدیه ورکوي.
- بنو جعشم به هم د خپل تیر دستور له مخې دیت ورکوي او د مسلمانانو سره به د عدل او انصاف له لارې د قبیلې د بندیوان فدیه ورکوي.
- بنو عمرو بن عوف به د خپل سابقه نظام د بندونو د غوښتنې سره سم د مړي دیت ورکوي او د مسلمانانو سره به د انصاف له لارې د قبیلې اړوند بندیوان بند ازادوي.
- د مسلمانانو ترمنځ به هره مسلمانه کورنۍ د خپل بندیوان د بند د لرې کولو غم پخپله خوري.
- بنو النبیت به دخپل قانوني نظام له مخې د مړو دیتونه ورکوي او د خپل بندیوان د ازادولو فدیه به ورکوي.
- بنو اوس به د خپل سابقه نظام په رڼا کې د یتونه ورکوي او دمسلمانانو ترمنځ به په عدل او انصاف د بندیوان فدیه ورکوي.

د دوی هره کورنۍ به د خپل بندیوان د بند د خوشې کولو فدیه په نیکه طریقه ورکوي.

مسلمانان به هېڅ کله خپل منځ کې د دیت یا فدیې ورکولو په مهال تنګ دسته مسلمان یواځې نه پرېږدي، د خپلمنځيي ګردو ناخوالو لاملونه ستر ظلم او عدوان دی، د کافر په ضد ټول مسلمانان یو موټی دي ولو که کافر یې ځوی هم وي، په کافر به هیڅ مسلمان نه شي وژل کېدای او نه به د مومنانو په ضد د کافرانو مرستندویه جوړېدای شي، د الله پاک ذمه یوه ده په دغې ذمّې سره پرې هر څا ته امان ورکولای شي ولو که پناه ادنی مسلمان هم ورکړې، له نورو خلکو پرته یو مسلمان د بل مسلمان کلک دوست دی، د مونږ سره عهد او په ژمنه ولاړ یهودانو سره زمونږ د مرستې او کومک اعلان دی نه به پرې څوک ظلم کوي او نه به پرې د نورو خلکو مرستندویه جوړېږي، د مومنانو د صلحې او سلا خبره یوه ده.

د الله پاک په لاره کې د جنګ په مهال به مسلمان د بل مسلمان له سلا مشورې پرته د دښمن سره روغه بړه نه کوي، زمونږ سره په غزا وتلي خلک ځېنې د نورو پل دی، د الله پاک په لاره کې د سر او وینې د بې مثاله ارزښت په بنسټ مسلمان په مسلمان قصاص اووژلی شي.

مومنان رښتیا په روغه سیده لاره روان دي، قریشي کافر ته به هېڅ څوک د سر اومال پناه نه ورکوي او نه یې د مسلمان د تالاترغۍ کولو څخه څوک ساتلی شي، که د ګواهۍ او شهادت له لارې په چا د چا قتل ثبوت شي نو قصاصاً به پرې وژلی شي مګر هغه مهال چې د مقتول کورنۍ یې بخشش اعلان کړي، ټول مسلمانان مومنان به د مقتول د غچ لپاره یوه خوله او یو لاس وي.

په دې ټولګه کې چې کوم بندونه لیکل شوي دي په الله پاک او د اخرت په روځ چې څوک باور لري له اقرار وروسته به هېڅ بدعتي انسان ته پناه او دمه ځای نه ورکوي، او نه به یې کومک او مرسته کوي، خو بیاه هم که څوک ورته ځای ورکړي او یا یې مرستندویه جوړ شي د قیامت په ورځ به پرې د الله پاک لعنت او غصه وي، د هېڅ فرضي یا نفلي عبادت برخه به ترې قبوله نه شي.

د هرې شخړې او تاو تریخوالي غوڅه پرېکړه د الله او د هغه د رسول محمد ﷺ اخرنۍ فیصله ده.

یهودان چې تر څو محاربین وي مالي لګښتونه به خپله سمبالوي، د بنو عوف یهودان د مسلمانانو سره یو لاس دي، د یهودو خپل دیانت او مسلمانان به په خپل دین وي، د هغوی د غلامانو دین د هغوی دین دی، برید او بربریت کول ځان ته زیان او ستونزه جوړول دي، د بنوالحارث، د بنو ساعده، د بنو جشم، د بنو اوس او د بنو ثعلبه یهودانو ته هغه حقوق حاصل دي کوم چې د بنوعوف یهودانو ته حاصل دي، که څوک تېری وکړي زیان یې خپل ځان او کور والاو ته دی، جفنه کورنۍ هم د بنوثعلبه اړوند قبیله ده، د بنوعوف یهودانو د حقوقو په شان بنو شُطیبه

هم حقوق لري، وفا وفا وي او دوکه دوکه وي، د بنوثعلبه ماتحت د بنو ثعلبه په څير دي، د يهودانو راز دارو ته ټول هغه حقوق حاصل دي چې يهودانو ته حاصل دي، د محمد ﷺ له اجازې پرته به هيڅ يهودي له مديني څخه نه وځي، د ټپونو غچ هيڅ څوک نه شي نيولای، که څوک ورانکاري کوي زور به يې ځان او کورنۍ ته وځي مګر هغه څوک چې ظلم زياتی ورباندې شوی وي.

په دې پريکړه الله پاک او د هغه مومنان بندګان راضي دي.

يهودان به خپله مالي پانګه او مسلمانان به د خپلې مالي پانګې نه لګښتونه کوي، دواړه خواوې به هغه څوک ماتوي چې د تړونوالو په يوې خوا يرغل او بريد وکړي، له خودغرضۍ پرته به دواړه خواوې د يو بل مرستندوی وي.

د ملګري د جرم په ارتکاب د مجرم پرته نور ټول بري دي، د بې وسه او بې کسه مرسته به هرو مرو کيږي.

يهودان چې تر څو محاربين وي د مسلمانانو سره به جنګي لګښتونه په شريکه سمبالوي(۱)، د تړون په دواړو خواو په مدينه کې تاو تريخوالی ناروا دی.

که د تړون له دواړو خواو څخه د فساد او خطر ويره حس کړی شي غوڅه پريکړه به پرې الله پاک او د هغه رسول محمد ﷺ کوي، د دې ژمنې په حق او صدق منځ پانګه باندې الله پاک راضي او خوشحاله دی، قريش او ګردو مرستندويانو ته يې پناه ورکول سرغړونه ده، که قريش چرته په مدينه يرغل وکړي د تړون دواړه خواوې به ورسره کلک مقاومت کوي، د صلحې سلامتيا په دوران کې به ورسره صلحه کولی شي او که دېته ورته نور اړينو حالتونو کې سره خيالات تبادله کېدل نو دوی هم د مومنانو د حقوقو په څېر ثابت حقوق لري.

خو که د دين په ضد څوک لاس بره کړي له دغې حقوقو څخه مستثنی دی، ټول خلک بايد هغه څه ته غاړه کيږدي چې دواړه خواوې پرې اتحاد رايه وکړي.

د اوس د قبيلې ملاتړي يهودان او غلامان يې هغه حقوق لري چې د ژمنليک دواړه خواوې يې لري، وفا د جفا په څېر نه ده، هر سړی به د خپل عمل سره مخامخ کيږي، د دې ژمنليک رښتنې او پاکيزه ويناوې الله پاک بخپل کومک تاييدوي، له ظلم او تيري پرته که له مدينې څخه څوک ووځي او يا په کې ووسي په امن کې به وي.

د وفادار او پرهيزګار انسان مل الله پاک دی او محمد ﷺ يې رښتنې استازی دی.

(۱) دا حکم د جزيې له فرضيت وړاندې او د اسلام د ضعف په حالت کې و، يهودانو چې به کله د مسلمانانو په شراکت کې جنګ وکړ په غنيمت کې به ورته پوره برخه هم ورکړل کيده، له دې کبله يې پرې په دې تړون کې د جنګي مالي لګښتونه انجامول ځکه فرض کړي وو.

# د مهاجرینو او انصارو ترمنځ وروري

ابن اسحاق وايي: په نبي کريم ﷺ باندې له درواغو ويلو نه الله پورې پناه غواړو خو د رارسيدلي راپور له مخې نبي کريم ﷺ د خپلو مهاجرينو او انصارو ملګرو ترمنځ د ورولی لړۍ پيل کړه، هغه وويل:

د الله لپاره ټول سره خپل منځ کې دوه دوه وروڼه وروڼه شئ.

بيا يې علي رضي الله عَنْهُ له لاسه راونيو او ويويل: دا زما ورور دی.

نو د الله پاک ربښتنی استازی او د الله پاک د استازو سربراه او د پرهيزګارانو امام او علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ وروڼه وو.

د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ کلک مرستندويه زمری حمزة بن ابي طالب د نبي ﷺ تره او د نبي ﷺ غلام زيد بن حارثه رضي الله عَنْهُ وروڼه وو، د احد په ورځ يې وصيت وکړ که زه شهيد شوم وارث به مې زيد بن حارثة رضي الله عَنْهُ وي.

جعفر طيار او د بنو سلمه د قبيلې ځوان معاذ بن جبل –رضي الله عَنْهُمَا– دواړه وروڼه شول.

ابوبکر بن ابي قحافة او خارجة بن زهير رضي الله عَنْهُمَا دواړه وروڼه شول.

عمر بن الخطاب او عتبان بن مالک رضي الله عَنْهُمَا دواړه وروڼه شول.

ابوعبيده بن الجراح او سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُمَا وروڼه وروڼه شول.

عبدالرحمن بن عوف او سعد بن ا لربيع رضي الله عَنْهُمَا وروڼه شول.

زبير بن العوام او سلمة بن سلامة – رضي الله عَنْهُمَا وروڼه شول.

عثمان بن عفان او اوس بن صامت رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

طلحة بن عبيدالله او کعب بن مالک رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

سعيد بن زيد او ابي بن کعب رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

مصعب عمير او ابو ايوب انصاري رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

ابوحذيفه بن عتبه او عباد بن بشر رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

عمار بن ياسر او حذيفة بن اليمان رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

ابوذر الغفاري او منذر بن عمرو رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

حاطب بن ابي بلتعه او عويم بن ساعده رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

سلمان فارسي او ابو الدرداء رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

د ابوبکر رضي الله عَنْهُ غلام بلال او ابو رويحة رضي الله عَنْهُمَا وروڼه دي.

دا د ځينو هغو خلکو نومونه دي چې نبي کريم ﷺ يې مونږ ته د رارسيدلي معلوماتو له مخې وررولی اعلان کړې وه.

## د اذان قيصه

نبي ﷺ چې په مدينه کې کله ښه ډاډمند شو، مهاجرين ورونه ورسره يو ځای شول، انصار هم په خپلو پښو ټينګ ودرېدل، د لمونځ، زکات، روژې او د حدودو د تنفيذ او د حلالو او حرامو ترمنځ بشپړ توپير په مسلمانانو فرض کړی شو، اسلام يې په منځ کې ښه پياوړی شو.

په رښتيا هم د ټولو ترمنځ اسلام په سمه معنی شتون درلود، مدينې ته د نبی کريم ﷺ د راتګ سره سم به خلک د لمونځ لپاره د اذان نه بغير راتلل، نبي کريم ﷺ په مدينه کې وغوښتل چې د لمونځ د ادا کولو لپاره د يهودانو په څېر شپېلۍ يا ښکر کې اواز وپوکوي او يا هم د نصرانيانو په څېر د لمونځ لپاره ګړينګی وشرنګوي، له لرګي څخه يې ګړينګی هم وتراشو، دوی لا په دې حالت کې وو چې عبدالله بن زيد بن ثعلبه رضي الله عَنْهُ د بلحارث بن خزرج ورور اذان په خوب کې وليد، نبي کريم ﷺ ته راغی او ورته يې وويل: ای د الله پيغمبره! نن شپه مې خوب کې يو سړی وليد، شين رنګ پوښاک باندې سمبال و، په لاس کې ورسره ښکر و ما ورته وويل: ای سړيه! ښکر خو نه پلورې؟ هغه راته وويل: په دې څه کوې؟ ما ورته وويل: د لمونځ لپاره پرې خلک راټولوم، هغه راته کړه: د ښکر نه درته بل ښه شی دروښايم؟ ما ورته وويل: راته يې وښايه څه دي؟ هغه راته وويل: (اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ * اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ * أَشْهَدُ أَنْ لاَ اِلَهَ اِلاَ الله * أَشْهَدُ أَنْ لاَ اِلَهَ اِلاَ الله * أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً رَّسُوْلُ اللهِ * أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً رَّسُوْلُ اللهِ * حَيَّ عَلَى الصلاَةِ حَيَّ عَلَى الصَّلاَةِ * حَيَّ عَلَى الفَلاَحِ حَيَّ عَلَى الفَلاَحِ * اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ * لاَ اِلَهَ اِلاَ الله).

چې کله يې نبي کريم ﷺ په دې خوب وخبرو ورته يې وويل: ورشه بلال ته يې ورزده کړه هغه ستا نه لوړ غږی دی او په دغې کلماتو دې اذان وکړي او خوب دې هم رښتيا او حقيقي خوب دی.

په دغې کلماتو چې کله بلال رضي الله عَنْهُ اذان وکړ عمر رضي الله عَنْهُ په خپل کور کې واوريد، نبي ﷺ ته چټک راغی او څادر يې د ځان پسې راښکو او ورته يې وويل: ای د الله پيغمبره! په هغه الله مې دې قسم وي چې ته يې په حقه توګه راستولی يې چې د عبدالله بن زيد رضي الله عَنْهُ د خوب په څېر خوب ما هم ليدلی دی.

نبي ﷺ ورته وويل: په دې د الله حمد او ثنا ده.

## په مدینه منوره کې د نبي کریم ﷺ د ځېنو ملګرو رنځورېدل

عایشه رضي الله عَنْهَا فرمايي: كله چې د الله پاک استازی محمد ﷺ مدينې ته راغی نو مدينه د الله په ځمكه كې تر ټولو زياته تبناكه ځمكه وه، نو ملګري يې هم په رنګارنګ رنځونو اخته شول، خو الله پاک ترې پېغمبر روغ رمټ او بچ وساتو.

ابوبكر رضي الله عَنْهُ او د هغه دواړه غلامان عامر بن فهيره او بلال بن ابي رباح په كور كې د رنځ په حالت كې اخته پراته وو، د حجاب د فرضيت نه وړاندې زه ورغلم او د هغوی بيمارپرسي مې كوله، هغوی په دومره سخته تبه اخته وو چې د الله پاک پرته پرې څوک خبردار نه وو، ابوبكر رضي الله عَنْهُ ته ورنږدې شوم او ورته مې وويل: اوس ښنګه يې؟ هغه وويل:

كُلُّ امْـرِئٍ مُصَبَّـحٌ فِيْ أَهْلِهِ *** وَالْمَوْتُ أَدْنَى مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ

ژباړه: هرڅوک د خپلې كورنۍ غړو سره په صحت او روغتيايي كې خوښ دی خو ولې مرګ ورته د څپلۍ له وندني هم زيات نژدې دی.

د ځان سره مې وويل: په خدای چې د دېرې تبې له كبله مې پلار په ځان نه پوهيږي.

بيا عامر بن فهيره رضي الله عَنْهُ ته ورغلم او ورته مې كړه چې ښنګه يې؟ هغه وويل:

لَقَدْ وَجَدْتُ الْمَوْتَ قَبْلَ ذَوْقِهِ *** اِنَّ الْجُبَـانَ حَتْفُهُ مِـنْ فَوْقِهِ

كُلُّ امْـرِئٍ مُجَاهِـدٌ بِطَوقِهِ *** كَالثَّـوْرِ يَحْمِـيْ جِـلْدَهُ بِـرَوْقِـهِ

ژباړه: د مرګ تريخ حالت مې د مرګ له راتګ ښخه مخكې و ښكو، د بوزديله سړي مرګ د هغه د پاسه وي.

هر سړی تر خپل توان پورې ګرم دی، لكه غويا چې په خپلو ښكرونو باندې خرمن ګروي.

ځان سره مې وويل: په خداي چې عامر د ډېر تبې له كبله په ځان نه پوهيږي.

خو په بلال رضي الله عَنْهُ چې به كله تبه راغله ديوال ته به تكيه شو او ويل به يې:

أَلاَ لَيْتَ شَعْرِيْ هَلْ أَبِيْتَنَّ لَيْلَةً *** بِفَخٍ وَحَـوْلِيْ اِذْخِـرٌ وَجَلِيْلُ

وَهَـلْ أَرِدَنْ يَوْماً مِيَـاهَ مَجَنَّةٍ *** وَهَلْ يَبْدُوَنْ لِيْ شَـامَةٌ وَطَفِيْلُ

(۱) فخ له مكې ښخه بهر د مقام (ځای) نوم دی.
(۲) (مجنه) په جاهليت كې دعربانو مشهوره ميله وه.
(۳) شامه او طفيل په مكه كې غرونو نومونه دي.

ژباړه: ارمان ارمان چې مکه کې د فخ ځای ته ولاړ شم اود سرګړي او د نورو ګیاګانو په منځ کې شپه تېره کړم.

او هغه به لا کومه ورځ وي چې د مجنې بازار (مېلې) ته ولاړ شم او د شامې او طفیل غرونه را ته ښکاره شي.

له دوی څخه تولې اورېدلې خبرې مې په زبر زیر نبي کریم ﷺ ته وکړې او ورته مې وویل: هغوی په ځان نه پوهیږي او هغه دغه وایي.

نبي کریم ﷺ وفرمایل: ای الله! د مکې د مینې او یا د هغې نه هم راته مدینه زیاته محبوبه کړه، او د مدینې په صاع او مُد کې راله خیر او برکت واچوه، او رنځونه ورڅخه مَهْيَعَه[1] ته واستوه.

## د هجرت تاریخ

نبي کریم ﷺ مدینې ته د دوشنبې په ورځ چې تکنده غرمه په سرېدو وه راورسېد چې د ربیع الاول د میاشتې دولس ورځې تېرې شوې وې، دغه مهال د نبي کریم ﷺ عمر درې پنځوس کاله و چې دیارلس کاله عمر یې ترې د الله پاک په استازي توب کې تیر کړي و، هغه مبارک د ربیع الاول پاتې ورځې او د ربیع الاخر، جمادی الاولی، جمادی الثانیه، شعبان، رمضان، شوال، ذی القعده، ذی الحجة او د محرم په میاشتو کې په مدینه منوره کې پاتې شو.

## لمړی غزا

نبي کریم ﷺ مدینې ته له راتګ څخه په دولسمه ورځ د صفر په میاشت کې د ودان غزا وکړه، کله چې د ودان مقام ته ورسېد موخه یې قریش او بنوضمره بن بکر بن عبدمناة بن کنانه وو، بنوضمره ورسره مذاکرات وکړل او سره صلحه شول خو قریشو سره د جنګ جګړې موقعه په لاس رانغله او بېرته مدینې ته راستون شو.

د صفر د میاشتې پاتې ورځې یې د ربیع الاول تر لومړنی ورځو په شمول مدینه کې تېرې کړې.

---

(۱) مهیعه جحفې ته ویل کیږي او جحفه د اهل شام میقات دی.

## د عبیدة بن الحارث رضي الله عَنْهُ جنګي لیکه چې د نبي کریم ﷺ لومړی جنګي کاروان و

نبي کریم ﷺ له مدینې څخه عبیدة بن الحارث بن عبدالمطلب بن عبدمناة بن قصي رضي الله عَنْهُ د شپېته یا اتیا مهاجرینو جهادي اتلانو په ملتیا واستو چې د انصارو څخه په کې هېڅ څوک نه وو، د ثنیة المرة نوم ځای اوبو ته په رسېدو د قریشو د لوي غټ لښکر سره مخامخ شول، که څه یې هم ترمنځ جنګ جګړه ونه شوه خو ولې سعد بن ابي وقاص رضي الله عَنْهُ په کې غشی وار کړ، په اسلام کې لومړی غشی سعد بن ابي وقاص رضي الله عَنْهُ ورولی دی.

## د بحر غاړې ته د حمزه رضي الله عَنْهُ جنګي کاروان

بیا نبي کریم ﷺ حمزه بن عبدالمطلب بن هاشم رَضيَ الله عَنْهُ د دېرشو مهاجرینو چې هېڅ انصاري په کې نه و د بحر تر ساحله واستو، ابوجهل بن هشام چې د مکې د درې سوه کسیزه قافلې مشري یې کوله ورسره د عیص په مقام کې مخ تر مخ شول، د دواړو ډلو ترمنځ مجدي بن عمرو الجهني چې د دواړو خواوو سره یې ټینګې اړیکې درلودلې منځګړتوب وکړ، دواړه خواوې د خیالاتو د تبادلې له مخې شا پر شا شوې او جنګ جګړه ونه شوه.

## د بواط غزا

بیا نبي کریم ﷺ د ربیع الاول په میاشت کې د قریشو د کاروان[1] د مخنیوی لپاره د غزا په نیت ووت تر دې چې رضوي د غر له لارې بواط[2] ته ورسېد خو هېڅ جنګ جګړه ونه شوه او بیرته مدینې ته راستون شو، په مدینه کې یې د ربیع الاول پاتې ورځې د جمادی الاولی د ځینو ورځو په شمول تېرې کړې.

(۱) په دې مهال یې په مدینه باندې عثمان بن مظعون امیر ګمارلی و.
(۲) بواط د ینبع سره نږدې د جهینې د غر نوم دی.

## د عشيرې غزا

بيا يې د قريشو سره د جنګ کولو ېخه اراده وکړه[١] د بنو دينار د قبيلې له لارې يې پېل وکړ ان چې فيفاء الخبار ته ورسېد، هلته يې د ابن ازهر په ميدان کې د ونې د سيورې لاندې دمه واخسته او لمونځ يې هم وکړ تر اوسه يې مسجد دغلته شته دی، د خوراک لپاره ورله بندوبست وکړی شو، خپله يې هم خوراک وکړ او نورو خلکو هم خوراک وکړ، د مشترب نومې چينې څخه ورته اوبه راوړل شوې اوبه يې وڅښلې او بيا رسول الله ﷺ د خلائق مقام په کيڼ اړخ لا ړ[٢]، له دې وروسته د عبدالله په نوم مشهورې لارې روان شو ان چې له کيڼ اړخ نه يې د يَلْيَل مقام کې ځای پر ځای شو، د خپل تللي جهادي اتلانو سره يې د ضبوعه نوم ځای کوهي څخه اوبه وڅښتلې، بيا په فرش مَلَل باندې رهی شو تر دې چې د يمامې غونډکيو ته ورسېد، بيا د بطن ينبع له لارې عشيرې مقام ته ننوت، هم هلته د جمادی الاولی او د جمادی ثانيه د څه ورځو په شمول پاتې شو، د بنو مدلج او د هغوی ملاتړې قبيله بنوضمره سره يې امن ليک نوشته کړ، بېرته مدينې ته راستون شو او د چا سره پکې جنګ جګړه ونه شوه.

## د سعد بن ابي وقاص رضي الله عَنْهُ جنګي کاروان

د دغې حالاتو په ترڅ کې نبي کريم ﷺ سعد بن ابي وقاص رضي الله عَنْهُ د مهاجرينو په اته کسيزه پلاوي کې واستو تر دې چې د حجاز د ځمکې خرار نوم ځای ته ورسېد، هېڅ جنګ جګړه ونه شوه او بېرته مدينې ته راستون شو.

## د سفوان يا د بدر لومړنی غزا

د عشيرې د غزا له راستنېدو وروسته نبي ﷺ په مدينه کې ډېرې کمې ورځې تېرې کړې چې لسو ته هم نه رسېدې، په دې جريان کې کرز بن جابر الفهري د مدينې په څړځايونو د

(١) په دې مهال يې په مدينه باندې ابوسلمه بن عبدالاسد امير ګمارلی و.
(٢) خلائق په مدينه کې د عبدالله بن احمد بن جحش ځمکه وه.

اوښانو او ګډو بزو په رمو حمله وکړه، نبي کريم ﷺ يې پلټنې پسې ووت ان چې د بدر ترڅ سفوان نوم ځای ته ورسېد(١)، خو کرز بن جابر خپې سپکې کړې وې، دې ته د بدر لومړنۍ غزا هم ويل کيږي، نبي کريم ﷺ بېرته مدينې ته راستون شو او د جمادى الاخره، رجب او شعبان مياشتې يې په مدينه کې تېرې کړې.

## د عبدالله بن جحش رضي الله عَنْهُ جنګي کاروان

د بدر لومړنۍ غزا وروسته نبي کريم ﷺ اته کسيزه پلاوې چې مشري يې د عبدالله بن جحش رضي الله عَنْهُ په غاړه وه او د انصارو څخه پکې هېڅ څوک نه وو ټول مهاجرين وو، د ورکړل شوې ليک په ترڅ کې واستول او ورته يې امر وکړ چې بايد له دوو ورځو مزل مخکې د ليک مخ کتنه ونه کړي او بايد هلته ولاړ شي چې چرته ورته په ليک د تللو امر شوی دی په دې شرط چې خپل ملګري به د جبر زور له مخې په تللو نه مجبوروي.

عبدالله بن جحش رضي الله عَنْهُ له دوو ورځو وروسته د ورکړل شوي ليک مخ کتنه وکړه، په ليک کې داسې ښکل شوي وو:

کله چې زما ليک پرانيزئ نو د مکې او طائف ترمنځ نخله نوم ځای ته ولاړ شه، له هم هغه ځايه د قريشو تيټ او پاس ټول معلومات مونږ ته راوړه.

عبدالله بن جحش رضي الله عَنْهُ چې کله ليکل ولوستل ويويل: ستا خبره مې واورېده او ستا خبره منم.

بيا يې ملګرو ته وويل: نبي کريم ﷺ راته امر کړی دی چې د نخلې مقام ته ولاړ شم تر څو د قريشو حالات کشف کړم او نبي کريم ﷺ پرې وخبروم، په راکړي ليک کې يې له دې نه منعه کړی يم چې د جبر زور له لارې له ځان سره بوځم د شهادت مرګ چې څوک د ځان لپاره غوره بولي هغه دې راسره لاړ شي او که د شهادت مرګ چا ته پسند نه وي مدينې ته دې ستون شي، خو زه پخپله د نبي کريم ﷺ د امر سره سم هرومرو ځم.

د ورسره ملګرو په شمول ټول روان شول هېڅ څوک ترې پاتې نه شول.

د حجاز په لويه لاره د بحران نوم ځای کې د سعد بن ابي وقاص او عتبه بن غزوان رضي الله عَنْهُمَا اوښه چې دواړه به پرې وار په وار سپرېدل ورکه شوه، د اوښې پسې تالاش او پلټنې له

(١) په دې وخت کې يې په مدينه زيد بن حارثه -رضي الله عَنْهُ- امير ټاکلی و.

کبله دواړه وروسته شول او عبدالله بن جحش رضي الله عَنْهُ د باقي ملګرو سره ځانونه د نخلې مقام ته ورسول، څه ګوري چې د قريشو تجارتي قافله چې د مميزو او خرمنو په شمول پکې نورې خوراکي توکي هم وې د تيرېدو په مهال وه.

په تجارتي قافله کې عمرو بن الحضرمي، عثمان بن عبدالله بن المغيره او د ده ورور نوفل بن عبدالله، حکم بن کيسان هم وو، قريشو چې کله مسلمانان وليدل ګبراو شول حالانکه چې دوي ته نږدې يې دمه ايښې وه، عکاشه بن محصن رضي الله عَنْهُ چې سر يې خرولی و ورپورته شو هغوی وليده، يو بل ته يې وويل: په ارام شئ ونه ډارېږئ، دا خلک عمرې ته روان دي.

په دې جريان کې مسلمانان سره خپل منځ کې سلا مشوره شول چې که له قافلې څخه نن شپه لاس ونيسو نو نږدې ده چې حرم ته ننوځي او که لاس وربانديې پورته کړو نو د محرم د مياشتې بې حرمتي راڅخه کيږي، بايد څه وکړو؟ حالانکه د رجب اخرنۍ ورځ ده.

د خيالاتو د تبادله کولو په ترڅ کې يې عزم لوړ کړ چې که په دښمنانو کې په هر چا وتوانيدل مړ به يې کړي او ورسره مال به ترې واخلي.

واقد بن عبدالله الليثي رضي الله عَنْهُ په عمرو بن الحضرمي غشي وار کړل او هغه يې وواژه، عثمان بن عبدالله بن المغيره او حکم بن کيسان يې بنديوان کړل او نوفل بن عبدالله يې له منګولو څخه په تيښته بريالی شو، عبدالله بن جحش رضي الله عَنْهُ تجارتي قافله او دواړه بنديان تر مدينې راوستل او په رسول الله ﷺ يې وسپارتل.

کله چې نبي ﷺ قافله او بنديان وليدل ورته يې وويل: په حرامه مياشت کې خو ما تاسو ته د جنګ امر نه و کړی!!

تجارتي قافله د بنديانو په څنګ کې ولاړه وه، تر دغه مهاله يې ترې هيڅ هم وانه اخستل، د نبي ﷺ د خبرې سره صحابه کرام رضي الله عَنْهُم ډېر پښېمانه شول او داسې يې وانګيرول چې ګڼې غرق پرق شول او مسلمانانو ورونو يې هم ورته ډېرې تيرې پاتې خبرې وکړې.

قريشو به هم ويل: محمد ﷺ او ملګري يې حرامه مياشت حلاله کړه، وينې يې پکې توی کړې، پردي مالونه يې پکې واخستل، ازاد خلک يې په کې بنديان کړل، خو ولې په مکه کې شته مسلمانانو به په دې ځوابول چې هغوی خو دغه کړنه په شعبان کې کړېده.

د دې پېښې په منځ ته راتګ خلکو ډېرې کړې نسکورې خبرې پيل کړې هغه و چې الله پاک خپل پيغمبر ﷺ باندې دا ايت نازل کړ ﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ قِتَالٍ فِيهِ ۖ قُلْ قِتَالٌ فِيهِ كَبِيرٌ ۖ وَصَدٌّ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَكُفْرٌۢ بِهِۦ وَٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ وَإِخْرَاجُ أَهْلِهِۦ مِنْهُ أَكْبَرُ عِندَ ٱللَّهِ ۚ وَٱلْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ ٱلْقَتْلِ ۗ وَلَا يَزَالُونَ يُقَٰتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ ٱسْتَطَٰعُوا۟ ۚ وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُو۟لَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۖ وَأُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ﴾[۱]

---

(۱) سورت بقره: (۲۱۷). ژباړه: دوی ستاسو څخه د حرامې مياشتې اړوند پوښتنې کوي چې جنګ جدل ور

مطلب دا شو چې که تاسو دوی په حرامې میاشت کې ووژل نو دوی هم تاسو په حرامو میاشتو کې په الله پاک باندې د کفر سره سره له مسجد حرام څخه رابند کړې یئ او په دې میاشت کې مو د الله پاک له دین څخه رابندوي، خو د مکې نه ستاسو ویستل سره له دې چې تاسو په اصل کې د مکې باشندګان یئ د الله په نېز له دې څخه لویه ګناه ده چې تاسو یې ووژنئ.

د (وَالْفِتْنَةُ أَكْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ ) مطلب دا شو چې په اسلام باندې د مسلمان زورول تر دې چې کفر ته تسلیمې ورکړي او ایمان بېرته شا ته پرېږدي د الله په نېز د قتل نه هم لویه ګناه ده.

او د (وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا) دې ته اشاره کوي چې دوی دغه ګنده او لا پسې پلیت عمل ته ادامه ورکونکې دي چې نه خو ترې توبه اوباسي او نه دغه پېشه پرېږدي.

چې کله الله پاک دغه ایتونه نازل کړل مسلمانانو ته رسېدلې وېره او ډار په زوال شو.

نبي کریم ﷺ دواړه بندیان او تجارتي قافله واخستل، د عثمان بن عبدالله او حکم بن کیسان اړوند قریشو فدیه وړاندې کړه، نبي کریم ﷺ ورته وویل: تر هغه ستاسو فدیه نه شو قبلولی تر څو زمونږ ملګري سعد بن ابي وقاص او عتبه بن غزوان رضي الله عَنْهُمَا نه وي راغلي، ځکه چې د هغوی اړوند یې ډار احساس کړ چې هسې نه تاسو یې چرته مړه کړئ، که تاسو هغوی وژلي وي نو مونږ به دوی په هغوی قصاصاً ووژنو.

په دې جریان کې سعد او عتبه رضي الله عَنْهُمَا دواړه راغلل نو نبي کریم ﷺ ترې فدیه قبوله کړه.

بیا حکم بن کیسان اسلام ته غاړه کېښوده او ډېر ښه ایمان یې په برخه شو او تر هغه د نبي کریم ﷺ په صحبت کې پاتې شو چې د بئر معونې په پېښه کې شهید شو.

او عثمان بن عبدالله مکې ته ستون او هلته کافر ومړ.

## کعبې ته د قبلې راوړېدل

داسې ویل کیږي چې مدینې ته د نبي کریم ﷺ له راتګ وروسته په اتلسمې میاشت کې قبله د کعبې په لور واوښته.

---

پکې ډېره لویه سرغړونه ده، ورته ووایه چې جنګ کول او په دې میاشت کې د الله پاک له دین څخه خلک رابندول او په الله کفر او ورسره شرک جوړول او په دې میاشت کې د مکې هستوګنوال له کورونو ویستل د الله په نېز ډېره لویه ګناه ده او خلک په ازمېښتونو کې له دې کبله اچول چې ایمان رانه وړي له قتل څخه لویه ګناه ده او دوی همیشه د تاسو سره په جنګ دي تر څو د توان په اندازه مو بېرته کفر ته ستانه کړي، خو که له دین څخه څوک ارتداد وکړي او د کفر په حالت کې مړ شي نو په دنیا او اخرت دواړو کې یې نیک عملونه برباد شول او دوی د اور والا دي همیشه به په کې وي.

# د بدر لومړنۍ غزا

نبي کريم ﷺ ته راپور راورسېد چې د ابوسفيان بن حرب رضي الله عَنْهُ په مشرۍ له شام څخه د قريشو لويه تجارتي قافله راروانه ده، په دې قافله کې د قريشو زيات مالونه او غټه سرمايه کارې ده، قافله د دېرشو يا څلوېښتو کسانو د ابوسفيان رضي الله عَنْهُ په مشرۍ را روانه ده، د دغسې کسانو له جملې څخه په کې مخرمه بن نوفل او عمرو بن العاص هم وو، په لوړ غږ مسلمانانو ته اواز وکړی شو چې د شام څخه د قريشو لويه تجارتي قافله چې د ژوند ژواک هر خېل توکې په کې شتون لري را روانه ده مخه يې ونيسئ شايد الله پاک به درته ډېر څه په لاس درکړي، ځينې خلک پراته پاتې شول او او ځينو نور راولاړ شول، هغوی داسې انګېرول چې جنګ جګړه به واقع نه شي.

له بل پلوه حجاز ته په رارسېدو ابوسفيان رضي الله عَنْهُ هم خپله استخباراتي شبکه پياوړې کړه چې څوک به هم ورسره په لاره مخامخ کېدل ډېرې پوښتنې به يې ترې کولې، له ځينو خلکو څخه يې واورېدل چې ستا تجارتي قافلې ته نبي کريم ﷺ په کمين کې دی، د سفر لړې دې په ډېر محتاط انداز تر سره ورسوه، هغه سم د لاسه ضمضم غفاري د ډېر ماليت په بدل کې مکې ته واستو ترڅو قريش زر وخبروي چې خپل مالونه او سرمايه کاري د محمد ﷺ څخه د متوقع يرغل له خطره وژغوري او هغه ورته د خپلو ملګرو په شمول په لاره کې کمين نيولی دی، ضمضم په چټکه توګه مکې ته ځان رسی وکړ.

مکې ته د ضمضم له راتګ څخه درې شپې وړاندې عاتکې بنت عبدالمطلب خوب ليدلی و چې په ډېر ډار او خوف کې يې اچولې وه، عباس بن عبدالمطلب رضي الله عَنْهُ ته يې استازی واستو چې وراره! نن شپه مې له ډار څخه ډک خوب وليد، خوف او ترس لرم چې قوم دې د مصيبتونو په لومو کې ونه ولوېږي خو خبره د ځان سره پټه وساته، هغه ورته وويل: څه دې ليدلي دي؟

عاتکه: د ابطح نوم ځای ته اس باندې سپور سړی راشي او په لوړ اواز چغه کړي چې په اسلحو سمبال ووځئ ورنه په درېو ورځو کې به غرق او تباه شئ.

څه ګورم چې ټول خلک ورته راغونډ شول، بيا مسجد حرام ته په داسې حالت کې ننوتل چې ګڼ شمېر خلک ورپسې وو، هلته د کعبې په سر وخوت او لوړ غږ يې وکړ چې: په اسلحو سمبال ووځئ ورنه تباه کېږئ، بيا د ابوقبيس په غر وخوت او همدغه چغه يې پورته کړه، له بره څخه يې په ښکته لويه ډبره راخطا کړه د غر بيخ ته د رارسېدو سره درې ورې شوه، د دغې ماتې شوې ډبرې څخه يوه يوه توکړه د مکې هر کور ته ولويده.

عباس ورته وويل: دا خو خورا ډېر ډارونکی خوب دی، ته يې هم له خلکو څخه پټ کړه چا ته يې مه وايه.

چونکه ولیدبن عتبه بن ربیعه د عباس نزدې دوست و په دې شرط چې چا ته به یې نه وایي د عاتکې لیدلی خوب یې ورته واورو، هغه دغه خوب خپل پلار عتبه ته ورياد کړ او له دې څخه وروسته په مکه کې خوب د مزید شهرت مقام تر لاسه کړ، بیا به د قریشو په هر مجلس کې د دغې خوب ذکر او یاد کېده.

عباس وايي: د سهار په مهال د کعبې څخه د طواف لپاره ولاړم، د قریشو یو مجلس چې د عاتکې د لیدلي خوب ذکر او یاداشت پکې کېده، ابوجهل هم ورپه کې ناست و چې کله یې په ما سترګې برابرې شوې را ته یې وویل: ابوالفضل! چې له طواف څخه وزګار شوې ډېر مهرباني وکړه لږ زما پلو راشه.

زه چې له طواف نه وزګار شوم د ابوجهل مجلس ته ورغلم او ورسره کښېناستم، هغه راته وویل: ای عبدالمطلب زوا! په تاسو کې دغه پېښه له کله منځ ته راغلې ده؟ ما ورته کړه: کومه پېښه؟ هغه وویل: د عاتکې خوب لیدنه. ما ورته کړه: ولې هغه څه لیدلې دي؟ هغه وویل: عبدالمطلب زوا! د نارینه و د پېغمبرۍ په دعوه ونه شوئ چې اوس مو زنانه وو د نبوت دعواګانې پیل کړې؟ عاتکه د خپل لیدلي خوب په ترڅ کې انګیروي چې که په دریو ورځو کې دننه مسلّحانه پاڅون ونه کړو نو مات مات به شو، کولای شو چې دغه درې ورځې شپې انتظار هم وباسو، که خوب یې رښتیا و ټول هغه څه به وشي چې یې لیدلي دي، خو که خوب یې د حقیقت پرته نور څه و هرومرو به د دې لیکنې پیل وکړو چې په عربو کې تاسو لوی ستره دروغجنه کورنۍ یاست.

عباس رضي الله عَنْهُ وايي: په رب ذوالجلال قسم چې هېڅ ټېټه پورته مې ورته ونه ویله او له دې منکر شوم چې هغې څه نه دي لیدلي او بیا سره جلا شول.

د ماښام په مهال راته د عبدالمطلب زو هره زنانه راتله او راته به یې ویل: دغه پلیت او فاسق ته دې ولې ځواب نه ورکو چې د کورنۍ سرېو پسې یې درله خبرې کولې؟ هغه د زنانه و بې عزتي پیل کړه او تا ورته کتل؟ تا کې دومره غیرت نه و چې اورېدلو خبرو ته دې ځواب ویلی وی!!

ما ورته کړه: دا خو دومره لویه خبره نه وه او زه به ورسره هرومرو لیدل کتل کوم، که دغه خبرې یې بیا وکړې ایله به مو ورڅخه خلاص کړم.

د عاتکې د لیدلي خوب په دریمه ورځ سهار بیا د قهره او غوصې په حالت کې ووتم په دې خاطر چې د فوت شوې موقعې جبیره وکړم مسجد ته ننوتم او هغه مې تر سترګو شو، لوړه په رب لایزال چې بارها یې ترځنګ لاړم راغلم خو تر څو د تېر په څېر راته خبرې وکړې او زه پرې فوراً ورغوټه شم، د مسجد د دروازې له پلوه ابوجهل هم زما پلو ته په چټکې راروان و، چونکه ابوجهل خپله تېره مخی، غونج غونی بد زبانه سړی و، ما وویل: لعنتي بیا ځنګه تېز روان دی؟ ایا تاته له کنځاو به زه څه وډار شم؟

ما لا نه و اورېدلي چې دې د ضمضم بن عمرو غفاري اواز تر غوږ شو چې د کلي په منځ کې په خپلې سورلۍ سپور ولاړ و، د اوښ پوزه یې غوڅه کړېوه، بار یې پړ مخ او کمیس یې په بشپړه توګه څېرلی و او دا اواز یې کو چې: ای قریشو!! په خوراکي توکو سمبال قافله مو سر خوري، د ابوسفیان سره ستاسو مالونه محمد ﷺ او ملګرو یې لوټ مار کړل، فکر نه کوم که څه لاس ته درشي، چټکه مرسته وکړئ، په مرستې کې توندي وکړئ.

دغې نوې پېښې زه له هغه او هغه یې له ما څخه په نور څه مشغول کړو.

په ډېره بېړه خلکو جنګي تیارۍ ونیو او ویل به یې: زمونږ په تجارتي قافلې یې د ابن الحضرمي د تجارتي کاروان ګومان وکړ(۱) لږ ځنډ وروسته به وپوهیږي چې څه څه ورسره کیږي، ټول د مکې میشتوال دوه ډوله شول، یا به خپله تللو او یا به یې د ځان پر ځای بدیل استو.

ټول قریش د غوڅې پرېکړې لپاره د جنګ په تکل ووتل، د ابولهب پرته نور هېڅ مشرتابه په مکه کې پاتې نه شو او هغه هم خپل بدیل عاصي بن هشام بن المغیره په دې خاطر ولیږدو چې څلور زره درهمه یې پور وړی و، د پور له ادا کولو څخه عاجز و په دې خاطر چې پور یې ادا شي د ابولهب په ځای جنګ ته ولاړ.

امیه بن خلف چې چاغ څربه لوی سړی و، عقبه بن ابي معیط ورته راغی او دا د خپل قوم قبیلې څه کسانو سره ناست و، خوشبویي ورته په سکروټو لوګی کېده، ورته یې وویل: ای ابوعلي! خوش بوي ته کېنه ته خو ښځه وختلې!! هغه ورته وویل: الله دې تباه کړه ډېره بده خبره دې وکړه، بیا یې تیارۍ ونیو او د جنګي محاذ په لور وکوچېد.

کله چې ټولو قریشو جنګي تدابیر ونیول، نو د بنوبکر بن عبد مناف سره یې خپله پخوانۍ دښمني یې رایاده کړه چې هسې نه دوی راباندې له شا پلو برید ونه کړي نزدې چې دا خبرې یې له جنګ څخه پاتې کړي، شیطان ورته د سراقه بن مالک بن جعشم المدلجي رضي الله عَنْهُ په شکل راغی او ورته یې وویل: ښه په ډاډ لاړ شئ د دې ذمه واري زه په غاړه اخلم چې کنانه به په تاسو هېڅ ډول داسې یرغل نه کوي چې ستاسو د اندک خفګان سبب هم وګرځي، ددې خبرې په اورېدو سره ټول په زیاتې چټکۍ ووتل.

له بل پلوه نبي کریم ﷺ د رمضان په میاشت کې چې څه شپې ورځې یې تېرې شوې وې له مدینې څخه ووت، د خلکو لپاره یې د لمونځ امیر عبدالله بن ام مکتوم وګماره او بیا یې د روحا مقام نه ابو لبابه رضي الله عَنْهُ راستون کړ ترڅو په مدینه کې د خلکو امیر پاتې شي او بیرغ چې سپین رنګ یې درلود مصعب بن عمیر رضي الله عَنْهُ ته یې ورکړ.

(۱) عمرو بن الحضرمي هغه څوک دی چې د عبدالله بن جحش رضي الله عَنْهُ په جنګي عملیاتو کې یې سر خوړلی و.

د نبي کريم ﷺ نه دوه بيرغونه مخکي وو دواړه له رنګه تور وو، يو يې علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ وه چې په عقاب يې نومو او بله جنډه يې د بل انصاري سره وه.

دغه مهال د نبي کريم ﷺ ملګرو سره اويا اوښان وو، نبي کريم ﷺ علي بن ابي طالب او مرثد بن ابي مرثد الغنوي رضي الله عَنْهُمَا درېواړه به په يو اوښ وار په وار سپرېدل.

حمزه بن عبدالمطلب، زيد بن حارثه، ابو کبشه او انس رضي الله عَنْهُمْ چې د نبي کريم ﷺ غلامان وو څلور واړه به په يو اوښ هم وار په وار سپرېدل.

ابوبکر، عمر او عبدالرحمن بن عوف رضي الله عَنْهُم به هم په يوه سورلۍ وار په وار سپرېدل.

نبي ﷺ د خپلو ملګرو په شمول له مديني څخه د عقيق په مقام ورواوښت، بيا ذوالحليفي او بيا اولات الجيش ته ورسېد، له دې نه وروسته تُرْبان او بيا په ملل ان چې تر غميس الحمام ته ورسېد، د يمامې کندې کيږې يې ترستر ګو شوې او هلته ورسېد، له دې ځايه وروسته سيَّاله نوم ځای ته او بيا روحا ته او بيا شنوکه ته ورسېد، هلته په عرق الظبيه کې يې يو سړی وليد د قريشو اړوند يې ترې پوښتنې پيل کړې خو د سړي سره هېڅ معلومات نه وو.

خلکو سړي ته وويل: د الله پاک د استازي سره سلام وکړه.

هغه وويل: ولې په تاسو کې د الله پاک استازی هم شته؟ دوی ورته وويل: هو، هغه راغی او سلام کلام يې ورسره وکړ او ورته يې وويل: که ته په رښتيا د الله پاک استازی يې نو د زما اوښې په خيټه مې وخبروه چې بچی يې نر او که ښځه ده؟

سلمة بن سلامه بن وقش رضي الله عَنْهُ ورته وويل: ما ته رامخامخ شه دغسې پوښتنې له ما څخه وکړه، ته دې په اوښه واقع شوی يې ستا نه په اوري بلاربه ده، نبي ﷺ ورته وويل: نا نا داسې مه کوه ډېرې غلطې خبرې دې ورته وکړې او بيا يې له سلمه بن سلامه -رضي الله عَنْهُ- څخه مخ واړو.

بيا نبي کريم ﷺ د روحا په مقام کې سَجسَج نوم کوهي سره دمه واخسته، لږ ځنډ وروسته يې مزل پيل کړ، مکه يې کيڼ لاس ته پرېښووده او د نازيې د مقام په ښيې اړخ د بدر په لور رهی شو.

د نازيې له لارې څه د رحقان نوم ځای خوړ ته ورسېد چې دغه خوړکی (دره) د نازيې او صفراء په منځ کې پرته ده، نبي ﷺ بسبس بن عمرو الجهني او عدي بن ابي الزعباء – رضي الله عَنْهُمَا – بدر ته د ابوسفيان -رضي الله عَنْهُ- او د نورو حالاتو د معلومولو لپاره واستول،، د دوی پسې وروسته نبي ﷺ هم وتپېد.

دغه مهال نبي کريم ﷺ وخبرېد چې ګرد قريش د تجارتي کاروان د خلاصون لپاره راخوځېدلي دي، خلک يې د قريشو په راتګ وخبرول تر څو خپلمنځې سلا مشورې وکړي.

ابوبکر رَضيَ الله عَنْهُ وياڅېد او ښايسته خبرې يې وکړې.

بیا مقداد بن عمرو رضي الله عَنْهُ وپاڅېد او ویویل: ای د الله رسوله! چې کوم ځای دې خوښ وي مونږ ورته بوتللای شې، ستا سره به اوږه په اوږه روان یو، مونږ درته د بنو اسرائیلو په څېر هغه څه نه وایو چې موسی عَلَیْهِ السَّلاَمُ ته یې ویلي وو چې ﴿فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ﴾[۱].

بلکې ته او رب دې جنګ ته ولاړ شئ مونږ هم ستاسو په ملتیا کې جنګ کوو، لوړه په رب لایزال چې که برک الغماد ته مو هم بوځې تر هغه به دې په خپلو وینو او بریدونو ورسوو تر څو ورسېږو.

نبي کریم ﷺ یې خبرې ښې استقبال کړې او د خیر دعا یې ورته وکړه.

نبي کریم ﷺ بیا خلکو ته رامخ کړ او ویویل: ای خلکو د قریشو په مقابله کې تاسو څه وایاست؟

له خلکو څخه یې موخه انصار وو ځکه چې په مهاجرینو باندې یې سرشمېرنه هم زیاته وه او د عقبې په تړون کې یې ژمنه کړې وه چې تر هغه مو ستا له دفاع څخه غاړه خلاصه ده ترڅو مدینې ته نه یې راغلی، مدینې ته په راتګ سره به ستا څخه دومره کلکه دفاع کوو لکه د خپلو بچو او ښځو څخه چې یې کوو.

نبي کریم ﷺ هسې په زړه کې تېرېدل چې انصار به له مدینې څخه د باندې دوښمن ته مخامخ کلک ونه دریږي او داسې نه چې ورته ووایي له مدینې څخه به مو بهر د جنګ جګړې لپاره نه بوځې.

خو د دې خبرې د کولو سره سم سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ وویل: په تا کلک باور او د تصدیق عقیده لرو، په دې هم کلک باوري یو چې ستا راوړی دین حق او حقیقت دی، د دغې په قبلولو او منلو مو د تاسره کلکې ژمنې او پېښې وعدې کړیدې، ستا په ملتیا مونږ د هر ځای تګ ته تیار یو، په هغه چا مې دې قسم وي چې ته یې په حق راستولی یې که په بحر کې د غوپه کولو امر هم راته وکړې او ته په کې غوپه شې نو مونږ به هم درسره غوپه شو او هېڅ څوک به راڅخه پاتې و نه وینې او نه راته په دې خفګان راولاړېږي چې دشمن سره مو مخامخ کړې.

مونږ ډېر بازغمه جنګیالي او رښتني اتلان یو، شاید زمونږ په لاسونو به درته الله پاک هغه څه دروویني چې سترګې او خواه دې پرې یخه شي، د الله په برکت مو چې چرته بوځې هلته مو بوځه.

د سعد –رضي الله عَنْهُ– خبرو نبي کریم ﷺ ته ډېره خوښي او خوشحالي ورکړه، هغه یې نور هم نشیط کړ، بیا یې وویل: زېری مې درباندې، ښه په ډاډ او اطمئنان ولاړ شئ په دوو ډلو کې

(۱) سورت مائده: (۲٤). ژباړه: ته او رب دې دواړه جنګ ته ولاړ شئ مونږ به درته دلته تم یو.

راسره الله پاک د یوې ډلې وعده کړېده[۱] او زما دې په الله قسم وي چې زه له اوسه راهیسې د قریشو د مړینې ځایونو ته ګورم.

د بدر سره نژدې نبي کریم ﷺ وارولہ، هغه او یو ملګری یې په سورلۍ سپاره ولاړل[۲] او عربي نژاد یو سپین ږیری یې ولید، د محمد او د هغه د ملګرو او بیا یې ترې د قریشو اړوند پوښتنې وکړې، هغه ورته وویل: تر هغه دې پوښتنې نه ځوابوم تر څو راته دواړه خپل ځانونه را ونه پېژنئ.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: سمه ده که معلومات دې راکړل ځانونه به هم درته معرفي کړو.

هغه ورته وویل: سمه ده دا په دې شوه، نبي کریم ﷺ ورته وویل: هو.

سپین ږیري وویل: داسې خبرېدلی یم چې محمد او ملګري یې په فلانکۍ ورځ راوتي دي، که ما ته راپوروال رښتیا ویلي وي اوس مهال به هغوی په فلانکي ځای کې وي او هغه ځای یې وښود چې چرته نبي کریم ﷺ او ملګري یې تم وو.

او د راپور له مخې خبرېدلی یم چې قریش په فلانکۍ ورځ راوتي دي، که راپوروال رښتیا ویلي وي نو قریش به اوس مهال په فلانکي ځای کې وي او هغه ځای یې نښه یاد کړ چې چرته قریش تم وو.

بیا یې نبي کریم ﷺ څخه وپوښتل: تاسو دواړه څوک یئ.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: مونږ د ماء (قبیلې) غړي یو.

سپین ږیري وویل: د کوم ماء؟ د عراق د ماء څخه یاست؟؟ او بیا سپین ږیری ولاړ.

نبي کریم ﷺ هم بېرته خپلو ملګرو ته راستون شو.

د ماښام په مهال یې علي بن ابي طالب، زبیر بن العوام، سعد بن ابي وقاص رضي الله عَنْهُم د ځینو نورو ملګرو په شمول د بدر اوبو ته د نوي راپور راوړلو لپاره ولېږدول، هلته یې د قریشو دوه مشکیان بندیان کړل، یو یې د اسلم په نوم چې د بنو الجمح غلام و او بل یې د عریض ابویسار په نوم چې د بنو العاص بن سعد غلام و، دواړه یې خپل کیمپ ته راوستل، نبي ﷺ په لمونځ ولاړ و او دوی ورڅخه تحقیقاتي پوښتنې کولې چې تاسو څوک یاست؟ هغوی وویل: مونږ د قریشو مشکیان یو، د اوبو وړلو لپاره یې دې چینې ته راستولي یو، دوی نه منله چې ګنې په رښتیا دې د قریشو مشکیان وي، داسې یې انګېرول چې ګنې دوی به د ابوسفیان د

(۱) یو ډله د ابوسفیان رضي الله عَنْهُ تجارتي قافله چې په خوراکي توکو سمبال وه، او بله د قریشو جنګي لیکه وه چې مشري یې ابوجهل په خپله غاړه درلوده چې د قوت او عدد څښتنان وو.

(۲) ملګری یې ابوبکر رضي الله عَنْهُ و.

ډلې خلک وي نو په وهلو ډبولو يې ورله پېل وکړ، چې کله يې ښه ووهل هغوی ورته وويل: هو مونږ د ابوسفيان د ډلې خلک يو، د دې خبرې سره ترې قلار شول.

نبي ﷺ چې رکوع او دواړه سجدې وکړې سلام يې وګرځو او ورته يې وويل: چې رښتيا يې درته ويل پرې ومو وهل او چې دروا‌غ يې درته وويل خوشې مو کړل!! په رب لايزال قسم چې دوی په رښتيا د قريشو مشکيان دي.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: د قريشو اړوند راته نوی څه ووايئ.

هغوی: قريش د مخامخ غونډۍ تر شا پراته دي.

نبي ﷺ : شمېر يې څومره دی؟

هغوی: نه يو خبر چې څومره به وي؟

نبي ﷺ : هره ورځ څو مالونه حلالوي؟

هغوی: يوه ورځ نهه او بله ورځ لس اوښان حلالوي.

نبي ﷺ : داسې برېښي چې خلک د نهه سوه او زرو ترمنځ دي.

نبي ﷺ : د قريشو مخه ور پکې څوک دي؟

هغوی: عتبه بن ربيعه، شيبه بن ربيعه، ابوالبختري بن هشام، حکيم بن حزام، نوفل بن خويلد، حارث بن عامر بن نوفل، طعيمه بن عدي بن نوفل، نضر بن الحارث، زمعه بن الاسود، ابوجهل بن هشام، امية بن خلف، د حجاج دواړه زامن نبيه او منبه، سهيل بن عمرو، عمرو بن عبد ود.. نو نبي ﷺ خلکو ته مخ راواړو اوورته يې وويل: مکې درته د خپل زړه ټولې ټوټې راغورځولې دي.

بسبس بن عمرو او عدي بن ابي الزعباء رضي الله عَنْهُمَا دواړه تر بدره ولاړل، اوبو ته نژدې غونډۍ لاندې يې خپلې اوښې چو کړې، د اوبو څښلو لپاره دواړو خپل مشک راواخست په داسې حال کې چې مجدي بن عمرو د اوبو پر غاړه ولاړ و.

عدي او بسبس رضي الله عَنْهُمَا دواړو په چينه کې له حاضرينو څخه د دوو جينکو نه چې يوه د بلې پور وړې وه او پور يې ترې غوښت په ځواب کې وويل: سبا يا بل سبا دلته تجارتي قافله راروانه ده، زه به يې مزدوري وکړم او تا ته به پور ادا کړم.

مجدي رضي الله عَنْهُ ورته وويل: سمه خبره دې وکړه، او بيا مجدي بن عمرو رضي الله عَنْهُ له دواړو څخه ولاړ، دغه ټولې خبرې اترې عدي او بسبس رضي الله عَنْهُمَا واورېدې، دواړه په خپلو اوښانو سپاره شول او په خپلو اورېدلو معلوماتو يې نبي کريم ﷺ وخبرو.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ هم خپله تجارتي قافله په وړه وړه تر دغې اوبو راورسوله، مجدي بن عمرو ته يې وويل: څوک خو دې ونه ليدل؟ هغه ورته وويل: لا خو مې څوک نه دي ليدلي خو د دغې غونډۍ تر شاه دوه په اوښ سپاره راغلل، اوښان يې چو کړل، له اوبو څخه يې غړکۍ ډکې کړې او لاړل.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ د دوارو اوښانو چوڅای ته ورغی او د اوښ پچه يې په منځ دوه کړه نو زړې په کې و، ويويل: لوړه په رب لايزال چې د يثرب بوتاوه ورته شوې ده.

خپلو لاروي ملګرو ته چټک ستون شو او د قافلې مخه يې په بلې لارې کړه، د بدر مقام يې ګڅ لور ته پرېښود او په زياته تونديۍ يې خپې سپکې کړې.

د ابوسفيان رضي الله عَنْهُ زړه چې کله په دې اوبه وځښلي چې اوس مهال يې تجارتي قافله د مسلمانانو له برید څخه په څنګ کړه و قريشو ته يې استازی واستو چې له مکې څخه تاسو د تجارتي قافلې او وګړو د تحفظ لپاره راغلې وئ هر څه الله پاک راخلاص کړل، تاسو هم بېرته ستانه شئ.

ابوجهل بن هشام وويل: لوړه په رب لايزال چې تر هغه به ستانه نه شو چې تر بدره لاړ نه شو - او هر کال به په بدر کې د عربانو مېله لګېده - هلته به درې ورځې شپې تېرې کړو، اوښان به ذبحه کړو، خلکو ته به خواړه ورکړو، هلته به شراب خوري وکړو او سندرغاړې به راته سندرې ووايي، ټول عرب به زمونږ په راتګ او تم کېدو وخبرېږي، تر ابده به راڅخه ترس او ډار ولري، هېڅ څوک بايد ستانه نه شي بايد تر بدره هرومرو لاړ شئ.

قريش تر هغه ولاړل چې د بدر لرې پرتې غونډۍ سره يې واړول، الله پاک باران راښکته کړ، د بدر مقام چې خاوره او شګوګل و په کفارو دومره تېز ووريد چې له مزل او تګ څخه يې وويستل او په نبي کريم ﷺ او ملګرو يې دومره لطف انداز او نرم ووريد چې د خپو لاندې خاوره يې ورته د تګ راتګ جوګه کړه، نقل مکاني هم ورته اسانه شوه او د قريشو نقل مکاني يې په ټپه ودروله، نبي کريم ﷺ د وخت نه په ګټه اخستلو سره د بدر اوبو ته ځان ورسو.

حباب بن المنذر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: ای د الله پېغمبره! ايا په دې ځای کې د الله پاک د راليږلي وحې سره سم تم شوې؟

که چرته درته په دې باندې وحې شوې وي نو مونږ ترې مخکې وروسته کيږو نه او که نه په دې ځای کې تم کېدل ستا خپل جګړيز تکتيک دی؟

هغه ورته وويل: نا بلکې دلته تم کېدل زما خپل جنګي تکتيک دی.

حباب رضي الله عَنْهُ ورته وويل: نا بيا بايد مونږ وړاندې ولاړ شو، هلته به د ځان لپاره د

اوبو ژور حوض جوړ کړو، د هغوی اوبه به هم مونږ ته راروانې وي، د جنګ په تود ډګر کې به بيا هغوی اوبه نه لري نو ځنبلای به يې هم نه شي، چونکه مونږ به اوبه لرو نو خړوب به يو.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: ډېره زياته قابل قدره مشوره دې را کړه.

نبي کريم ﷺ د خپلو ملګرو په شمول قريشو ته نزدې د اوبو په ځنګ کې واړوله، د ژورو کوهيانو دکنستلو امر يې وکړ، ډېر کوهيان وويستل شول او بيا يې اوبو ته لوی لوی حوضونه جوړ کړل، له اوبو څخه يې ډک کړل او د اوبو لوښي يې په کې واچول.

په دې جريان کې سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ ورته وويل: ای د الله پېغمبره! ستا لپاره مونږ يو څپر نه جوړوو؟ ستا ترڅنګ به سورلۍ تيارې ولاړې وي، مونږ به د دښمن سره مټ په اټۍ شو، که په دښمن برېمن شو نو همدغه مو موخه ده او لاس ته مو راوړه او که د شکست سره مخ شو نو په چمتو ولاړو سورليو به له مونږه وروسته پاتې قوم ته په خير خيريت ستون شې، ځکه په مدينه کې داسې خلک پاتې دي چې زمونږ نه يې تاسره مينه ډېره ده، که د هغوی سر په دې خلاص وای چې ته به د کافرانو سره جنګېږې له تا څخه به وروسته نه وو پاتې شوې، د هغوی په ملاتړ او تا سره ملګرتيا به يې هرومرو جهاد کې برخه اخستې وه.

نبي کريم ﷺ د سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ صفت وکړ او د هغه لپاره يې د خير او نېکبختۍ دعاګانې وکړې، هغه و چې د نبي ﷺ لپاره څپر ووهل شو او له هم هغه ځايه يې د جنګ رهبري کوله.

د سهار په مهال قريشو حرکت وکړ او له برنۍ غونډۍ کۍ نه د بدر ميدان ته راښکته شول، نبي کريم ﷺ چې کله وليدل وېويل: يا الله! قريش په ډېر زيات تکبر او کبريا راغلي دي، تا نه منې، ستا د استازي تکذيب او بې احترامي کوي د کوم نصرت او مرستې ژمنه چې دې راسره کړېده ما پرې ونازوه، ای الله!! نن سهار يې تالا ترغۍ کړه.

د قريشو څه شمېر خلک د نبي کريم ﷺ جوړ کړي حوض ته راغلل چې يو په کې حکيم بن حزام رضي الله عَنْهُ هم و، حوض ته چې څومره خلک راغلي وو له حکيم بن حزام رضي الله عَنْهُ پرته نور ټول ووژل شول، ده بيا وروسته اسلام راوړ او ښه ديندراه هستي ترې جوړه شوه، چې کله به يې د اسلام په دور کې لوړه پورته کوله ويل به يې: په هغه ذات مې دې قسم وي چې د بدر په ورځ يې نجات را کړی دی.

قريش چې کله په خپل تم ځای کې قراره او دمه شول، عمير بن وهب الجمحي يې د نبي کريم ﷺ د ملګرو د سرشمېرنې معلومولو لپاره واستو، هغه يې تر شاو خوا اس وځغلو بېرته ولاړ، د خپل ځغلند نظر په بنسټ يې ورته د نبي ﷺ د ملګرو شمېر د درې سوه يا لږ څخه زيات او کم اټکل کړ، بيا يې ورته وويل: تاسو لږ زغم وباسئ تر څو زه په نښه کړم چې نور څوک خو به يې پټ او پناه نه وي ساتلي؟ يا خو ورته نور افرادي قوت راروان نه دی؟

په مېره کې ډېر تېز وړاندې لاړ خو هېڅ یې تر سترګو نه شول، بېرته راستون شو او ورته یې وویل: د هغوی هېڅ افرادي مزید نور قوت تر دید رانغی، خو ای قریشو! داسې ولاړې اوښې او چارپایان مې ولیدل چې مرګونه او ژوبلې یې رابار کړې دي، د یثرب اوښانو درته له مرګ او وژلو نور هېڅ نه دي راوړي، هغوی مې داسې وکتل چې له تورې او نېزې پرته نور هېڅ دفاعي قوه نه لري، قسم په الله چې که یو سړی ورڅخه ووژنئ بېرته درنه یو وژني، که هغوی درنه د خپل شمېر په اندازه مرګونه وکړي نو د قریشو په ژوند کې به څه خوند پاتې شي، یو ځای شئ او نېکه مشوره وکړئ.

حکیم بن حزام رضي الله عَنْهُ د خبرې اورېدو سره سم عتبه ته ورغی او ورته یې وویل: ابوالولیده! ته د قریشو سردار، مشرتابه او مخه وره هستي یې، ته نه غواړې چې په یو کار ټول عمر کور په کور نېک نامی یاد شې؟

هغه ورته وویل: ولې نه! کوم کار دی؟ حکیم بن حزام رضي الله عَنْهُ ورته وویل: قریش بېرته مکې ته ستانه کړه او د خپل انډیوال او حلیف عمرو بن الحضرمي دیت په خپله ادا کړه.

هغه وویل: دې ته خو تیار یم، خو د حضرمي د کور له پلوه ضامن ته شه، په رښتیا چې ښه انډیوال مې و، دیت او د ټول ورک شوي مالیت تاوان یې زما پر غاړه شو.

خو ته د حنظلیه[۱] ځوی ته ورشه، له هغه پرته مې په بل چا ګومان نه شي چې د جنګ جګړې ډول نغارې به ګرمې کړي، هغه و چې عتبه بن ربیعه د پیاوړي خبرخواه په حیث ودرېد، او ورته وېویل: ای قریشو! لوړه په رب لایزال چې د محمد او د هغه د ملګرو په ضد هېڅ هم نه شئ کولای، سوګند په الله که تاسو ورڅخه څوک ووژنئ تاسو به بېرته یو بل ته بد اوبرګ ګورئ چې د تره ځوی یا ماما ځوی او یا یې ورله د قام قبیلې نور څوک وژلي دي، محمد نورو عربانو ته پرېږدئ او تاسو ترې خپل خاطر راغونډ کړئ، که نورو عربانو وواژه ستاسو موخه به پوره او بشپړه شي او که پایله بله وه نو محمد به د تاسو سره په داسې حالت مخ په مخ شي چې تاسو به ورته بد نه وي رسولي.

حکیم بن حزام رضي الله عَنْهُ وایي: زه ابوجهل ته ورغلم او هغه د خپلې زغرې په سمبالولو بوخت و، ما ورته وویل: عتبه تا ته راستولی یم چې... او ټول هغه څه مې ورته وویل چې عتبه ته مې ویلي وو.

ابوجهل وویل: سوګند په الله چې د محمد او د ملګرو د لیدو سره د عتبه پپوسان پړسیدلي دي[۲] تر هغه به د بېرته ستنېدو په اړه ونه غږېږو تر څو الله زمونږ او د محمد ترمنځ غوڅه

(۱) ابوجهل ته یې ابن الحنظلیه ځکه وواېو چې مور یې د حنظله بن مالک لور وه.
(۲) دا یې د بوزدیلۍ نه کنایه وکړه.

پرېکړه نه وي کړې او عتبه د بېرته ستنېدو خبرې ځکه کوي چې د محمد په پېروانو کې يې ځوی دی، مقابل لور ته ول لري خواره دي خيال کوئ عتبه مو هسې ډاروي.

بيا ابوجهل عامر بن حضرمي ته استازی واستو چې عتبه غواړي بېرته مکې ته ستون شي، ته په خپلو سترګو وينې چې ستا د ورور د غچ اخستنې زرينه موقعه ده، ته پورته شه او له قريشو څخه د هغوی د کړې ژمنې په غوښتنه د ورور وژل راياد کړه.

عامر بن الحضرمي وپاڅېد او عورت يې لوڅ کړ، په لوړ غږ يې وويل: افسوس! افسوس زما وروره (عَمْرَه)، های های عَمْرَه! د جنګ جګړې ميدان راګرم شو، په دې کلماتو سره خلک د شر په ارادې راتاوده شول او هغه مشن چې عتبه يې مشري کوله په ټپه ناکام او ځای پر ځای ودرېد، په دې جريان کې اسود بن عبدالاسد مخزومي - چې ډېر بد اخلاقه او بد نيتی و - وويل: د الله سره مې په دې کلکه ژمنه ده چې يا به د دې حوض نه اوبه څښم او يا به يې ورانوم او يا به پرې سر ورکوم.

د راتلو سره ورته حمزه رضي الله عَنْهُ وړپورته شو او د مخامخ کېدو سره يې ترې ښپه په پونده کې ووهله چې لا حوض ته نه و رسيدلی، د ګوزار سره په شا راپرېوت له ښپو څخه يې وينې سيلاب رواني وې، اسود په خپلې ژمنې دومره کلک ولاړ و تر څو ځان حوض ته ورسوي په خپړو خپړو يې حوض ته د ځان رسونې زيار وويست خو حمزه رضي الله عَنْهُ پرې دوباره غوټه شو او دومره مرګونی ګوزار يې پرې وکړ چې حوض ته له رسيدو وړاندې يې وواژه.

بيا عتبه بن ربيعه د خپل ورور شيبه او د خپل ځوی وليد بن عتبه جنګې مبارزې ته يو په يو راووتل، د مبارزې لپاره ورته درې انصار عوف او معاذ د حارث زامن او دريم يې عبدالله بن رواحه راووتل، هغوی وپوښتل: تاسو څوک ياست؟!! دوی ځواب ورکړ: مونږ انصار يو.

درېواړو ورته وويل: مونږ تاسو ته هېڅ اړتيا نه لرو، يو په کې اواز وکړ: ای محمده! زمونږ د قوم په نسب او شرف مساوي خلک راواستوه.

نبي ﷺ وفرمايل: عبيدة بن الحارث! حمزه! علي! پاڅېږئ.

درېواړه وپاڅېدل او ورنږدې شول، هغوی وپوښتل: تاسو څوک ياست؟

عبيده وويل: زه عبيده يم. حمزه وويل: زه حمزه يم او علي وويل: زه علي يم.

هغوی وويل: په قبيلې او نسب ښه قوي او مناسب همزولي دي.

عبيدة بن الحارث رضي الله عَنْهُ چې پوخ عمری و د عتبه بن ربيعه سره مخ اتې شو، حمزه رضي الله عَنْهُ د شيبه بن ربيعه سره او علي رضي الله عَنْهُ د وليد بن عتبه سره مش او ګرېوان شو، حمزه او علي رضي الله عَنْهُمَا له درنګ پرته خپل حريفان له تيغه تېر کړل خو ولې عبيده او

عتبه دواړه په خپل منځ کې په یو بل دوه دوه مرګوني ګوزارونه وکړل او دواړو یو بل ټپي کړ، حمزه او علي رضي الله عَنْهُمَا دواړه پر عتبه ورغوړه شول او له تن څخه یې ورله سا وویسته او خپل ژوبل انډیوال یې د نورو ملګرو غېږې ته راوړ.

د دې لړې له تېرېدو وروسته حریفان یو تربله نږدې شول، نبي کریم ﷺ خپل ملګري له برید څخه تر خپل امر وځنډول.

ورته یې وویل: که کفار دربانديږ هم راشي په غشو یې وولئ خو في الحال لا نبي کریم ﷺ د ابوبکر رضي الله عَنْهُ په ملتیا په وهلي څپر کې ناست و.

د بدر واقعه د رمضان د میاشتې د جمعې په اولسمه ورځ د سهار په مهال واقع شوې وه.

نبي کریم ﷺ راغی او جنګي لیکې یې تیارې کړې او بېرته څپر ته ستون شو، په څپر کې ورسره له ابوبکر رضي الله عَنْهُ پرته نور څوک نه وو، نبي کریم ﷺ له الله څخه د ورسره کړې وعدو غوښتنې او زارۍ پیل کړې، نبي کریم ﷺ وویل: ای الله! که دا خلک (صحابه کرام) ووژنې له نن څخه وروسته به دې عبادت ونه شي! او ابوبکر رضي الله عَنْهُ به ورته ویل: ای د الله پیغمبره! همدومره غوښتنه د الله پاک نه بسنه کوي، الله پاک درسره هرومرو کړې ژمنې بشپړوي.

د غه مهال د نبي کریم ﷺ په څپر کې سترګې پټې شوې او خوب یوړ، له خوب څخه رابیدارېدو سره یې غږ کړ: ابوبکره! زېرى مې د ربانديږ، جبریل عَلَيْهِ السَّلاَمُ د آس واګې نیولې دي او راروان دی، د آس په تندي یې ګرد غبار هم پروت دی.

په دې کې نبي کریم ﷺ بیا له څپر څخه رابهر شو، خلک یې په جنګ تېز او ټینګ کړل، ورته یې وویل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې د محمد ﷺ روح یې په لاس کې ده چې که هر چا د مشرکانو سره د صبر او حوصلې سره د الله پاک نه د اجر او ثواب د غوښتنې لپاره داسې ټینګ جنګ وکړ چې په شا ونه تښتي، نو هرومرو به یې الله پاک په جنتونو ونازوي.

د بنو سلمه د قبیلې غړی عمیر بن الحمام چې په لاس کې یې کجورې وې وویل: واه واه، خا نو زما او جنت ته د تګ فاصله همدومره ده چې مشرکان مې مړ کړي!

کجورې یې له لاسه خطا کړې او چټکه یې توره راوویسته، د مشرکانو سره تر هغه مټ اتی و چې په شهادت ورسېد.

په دې جریان کې نبي کریم ﷺ یوه لپه خاورې راواخستې او د قریشو مخونو ته یې وویشتې او غږ یې کړ چې (شَاهَتِ الوُجُوْهُ) ستاسو مخونه دې کاږه نسکور او تېرو بیر شي.

بیا یې خپلو ملګرو ته امر وکړ چې مضبوط او کلک ورشئ، هغه و چې کافرانو شکست

وخوړ چې له يو طرفه د قريشو ټول مشرتابه له منځه لاړل او له بله پلوه پکې د قريشو د مخه ورو لاسونه تر زنځيرونو ولوېدل.

د عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا په روايت نبي كريم ﷺ دغه ورځ وفرمايل: زه ښه پوهېږم چې د بنوهاشمو او له نورو قبيلو څخه څه خلک په جبر زور راوستل شوي دي، هغوی مونږ سره د جنګ په کولو خوښ نه دي، له تاسو څخه که د هر چا په کېږ کې راشي له وژلو يې ډډه وکړئ.

که ابوالبختري بن هشام بن الحارث بن اسد د چا په کېږ راغی نه دې وژني.

که عباس بن عبدالمطلب چا وليد مړ يې نه کړي، هغه هم د جنګ ډګر ته په جبر زور راوستل شوی دی.

دغه مهال ابو حذيفه رضي الله عَنْهُ وويل: خا!! مونږ به خپل پلاران، وررونه او قام قبيل وژنو او عباس ته به هېڅ نه وايو؟

لوړه په رب لايزال چې که په کېږ مې راشي نو په توره به يې غوښې غوښې کړم.

د ابوحذيفه رضي الله عَنْهُ دغه خبره نبي كريم ﷺ ته ورسېده، عمر رضي الله عَنْهُ ته يې وويل: ابو حفصه! ايا د نبي ﷺ د کاکا مخ به په توره وهل کيږي؟

عمر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: ما لږ ځنډ پرېږده چې د ابوحذيفه سر قلم کړم، دا خو منافق شوی دی!!

بيا به ابوحذيفه رضي الله عَنْهُ ويل: ما چې د بدر په ورځ کومه خبره کړې وه تر ننه بې ډاډه يم او له دغې ډار څخه به راته امان په شهادت ترلاسه شي او بس.

د بدر له غزا پرته ملائکو په نورو غزاګانو کې جنګي ګډون نه دی کړی، په نورو غزاګانو کې ملائکو د کومک مرستي مهم انجام کړی دی خو خرپول ترپول يې نه دي کړي.

نبي كريم ﷺ چې کله دښمن ته له شکست نه وزګار شو د کفارو په مردار شوو کې يې د ابوجهل د تالاش قرار صادر کړ.

عبدالله بن مسعود رضي الله عَنْهُ وايي: ما تالاش پيل کړ څه و چې له تن څخه مې ورله سر پرېکړ او نبي كريم ﷺ ته مې راوړ، ما ورته وويل: ای د الله پيغمبره! دا د الله د دښمن ابوجهل ککره ده.

هغه وويل: الله الَّذِيْ لاَ اِلَهَ غَيْرُهُ... دا کلمات د نبي كريم ﷺ لوړه اوقسم و، ما ورته وويل: هو د الله پيغمبره! هم دا دی.

بیا مې د ابوجهل سر د نبي کریم ﷺ مخې ته وغورځاوه او هغه يې په مړینه د الله ثنا وویله.

وروسته نبي کریم ﷺ امر وکړ چې د بدر مردار په کوهي کې وغورځوئ، د امیه بن خلف نه پرته نور ټول یې کوهي ته واچول.

هغه داسې چې امیه په خپلې زغره کې پړسېدلی و که څه هم مسلمانانو پرې ډېر زیار وویست خو پرې ونه توانېدل په څمکه یې پړسېدلی پرېښود، دومره خاورې او کاڼ کمر یې پرې واچول چې امیه یې پټ کې پټ او پناه کړ.

صحابه کرام رضي الله عَنْهُمْ چې کله ټول مردار شوي کافران په کوهي کې خطا کړل، د شپې له مخې نبي کریم ﷺ ورغی، صحابه کرامو ترې واورېدل چې ویل یې: ای په کوهي کې پرتو!! ای شیبه بن ربیعه!! ای عتبه بن ربیعه!! ای امیه بن خلف!! ای ابوجهله!! په کوهي کې د پرتو نور مشرکانو نومونه یې هم واخستل... ایا هغه څه درته درکړل شول چې ژمنه یې درسره شوې وه؟ ما سره چې الله د څه شي ژمنه کړېوه راته یې را کړه!!

مسلمانانو ورته وویل: د الله رسوله! ایا ته د داسې قوم سره خبرې کوې چې بد بوي شوي دي؟

هغه ورته وویل: دوی زما خبرې له تاسو څخه هم ښې اوري خو د ځواب توان نه لري.

بیا نبي کریم ﷺ امر صادر کړ چې په غنیمت کې څه هم تر لاسه شوي وي باید یوځای کړی شي، ټول غنیمتونه راغونډ کړی شول په دې جریان کې سره مسلمانان خپل منځ کې نیغ او برګ شول، چا چې راټول کړي وو ویل یې غنیمت زمونږ ځانګړې برخه ده، خو ولې نور مسلمانان چې د دښمن سره په اخ و ډب او وژلو بوخت وو دعوه یې لرله چې که مونږ دښمن نه و مات کړی تاسو به څه راټول کړی وای؟ ستاسو لاسونو ته غنیمت څکه درورسېد چې دښمن مونږ په جنګ بوخت ساتلی و!!

کوم صحابه کرام چې د نبي کریم ﷺ په څوکېدارۍ مشغول وو ویل یې: لوړه په رب لایزال چې له مونږ څه پرې تاسو د برخې وړ نه یاست، د دښمن د ماتې ورکونې توان الله پاک مونږ ته هم راکړی و، د دښمن له ماتولو او ورسره د خرپ ترپ یا د غنیمتونو د راټولو له مهم نه مونږ په ډېر زیات اړین کار مشغول وو، له تاسو څخه پرې مونږ ډېر د برخې خاوندان یو.

په دې جریان کې نبي کریم ﷺ د مدینې پورتنۍ برخې ته عبدالله بن رواحه او د مدینې لاندې طرف ته زید بن حارثه رضي الله عَنْهُمَا د زیري لپاره واستول تر څو د فتحې زیری میشتوالو ته واوروي.

بیا له بدر څخه د مدینې په لور روان شول او د قریشو څخه ورسره عقبه بن ابي معیط، نظر بن الحارث د نورو بندیوانو په شمول لاس تر ګریوان تړلي روان وو، له مشرکانو څخه

ترلاسه کړې غنیمتونو یې خوندي کړل او عبدالله بن کعب بن عمرو رضي الله عَنْهُ یې پرې څارندوی وګماره.

د سفر په دورانیه کې چې کله نبي کریم ﷺ د صفرا له وادي څخه ووت د صفراء او نازیه ترمنځ یې په لوړه برخه (غونډۍ) واړوله، له مشرکینو څخه غنیمت شوي مالونه یې د مسلمانانو ترمنځ برابر توزیع کړل.

له دې ځایه بیا نبي کریم ﷺ د لږ ارام وروسته خپل سفر ته ادامه ورکړه چې کله د روحاء مقام ته ورسېد مسلمانان ورته د مبارکۍ لپاره په استقبال ولاړ وو او مبارکیاني یې ورکولې، سلمة بن سلامه رضي الله عَنْهُ ورته وویل: د څه شي مبارکي راته راکوئ؟ مونږ خو لکه د تړل شوو اوښانو په څېر زړو پړوسو سره مخ شوي وو، مونږ صرف دومره وکړل چې د قصاب په څېر مو حلالول!!

د دې خبرې د اورېدو سره نبي کریم ﷺ مسکی شو او ورته یې وویل: وراره!! داسې نه وه هغوی هم څوک وو!!

د صفراء نوم ځای ته په رارسیدو نضر بن الحارث د علي رضي الله عَنْهُ په لاس ووژل شو او په عرق الظبیه کې یې عقبة بن ابي معیط وواژه.

نبي کریم ﷺ چې کله د عقبة بن ابي معیط د وژنې قرار صادر کړ، عقبه ورته وویل: **محمده** ﷺ ! بچي به مې څه کوي؟ هغه ورته وویل: اور به خوري.

هغه و چې عاصم بن ثابت بن ابي افلح انصاري رضي الله عَنْهُ ته یې امر وکړ او سر یې ترې قلم کړ.

بیا نبي کریم ﷺ سفر ته دوام ورکړ تر دې چې د بندیانو څخه یوه ورځ وړاندې مدینې ته ورسېد، کله چې بندیان تر مدینې راورسېدل نبي کریم ﷺ په خپلو ملګرو باندې یو یو تقسیم کړ او ورسره یې د پسندې روېې کولو وصیت وکړ.

مکې ته د قریشو د ماتې پیغام د لومړي ځل لپاره حسیمان بن عبدالله یوړ.

قریشو په خپلو مړو ډېر زیات وژړل بالاخره یې وویل: مه ژاړئ، هسې نه **محمد** ﷺ او ملګري یې درنه خبر شي په ژړا به مو لا پسې خوشحاله شي.

د بندیانو اړوند خبرې اترې ورسره هم وځنډوئ، فدیه هم وروسته کړئ، تر څو **محمد** ﷺ او ملګري یې درسره په فدیه کې سختي نه وکړي.

د بدر په غزا کې د اسود بن المطلب درې بچیان له تیغه تېر شوي وو: زمعة بن اسود، عقیل بن اسود، حارث بن زمعه، د دوی په مړینه یې د غم وېر او ژړا ته ډېر زړه شوی و، هغه د غم

په دروند حالت کې و چې د شپې له مخې يې ژړا تر غوږ شوه، خپل غلام ته يې وويل: ورشه او وپتيله چې قريشو په غم د ژړا وېر ناغه ماته کړه او که څنګه اواز راځي؟ ايا قريشو په خپلو وژل شوو د وېر ژړا سلسله شروع کړه او که نه؟ که ناغه ماته شوي وي چې زه هم په ابوحکيمه، زمعه باندې د ژړا پيل وکړم، له غمه مې نوره خېټه دوه پرقه کيږي، هېره دې نه وي چې اسود بن المطلب وړوند او بې ديده هم و.

چې کله يې غلام بېرته راستون شو ورته يې وويل: وير کونکې ښځه وه چې په خپل ورک شوي اوښ يې ژړل.

نور اسود ټينګ نه شو او ويويل:

أَتَبْـكِي أَنْ يَضِـلّ لَهَـا بَعِيرٌ *** وَيَمْنَعُهَـا مِنْ النّوْمِ السّـهُودِ
فَلَا تَبْـكِي عَلَى بَكْرٍ وَلَكِنْ *** عَلَى بَـدْرٍ تَصَاغَـرَتْ الْخُدُودِ
عَلَى بَدْرٍ سَرَاةِ بَـنِي هُصَيْصٍ *** وَمَخْـزُومٍ وَرَهْـطِ أَبِي الْوَلِيدِ
فَبَكّي إنْ بَكَيْـت عَلَى عَقِيلٍ *** وَبَكّـي حَارِثًا أَسَـدَ الْأُسُودِ
وَبَكّيهِـمْ وَلَا تَسَـمِي جَمِيعًا *** وَمَا لِأَبِي حُكَيْمَـةَ مِنْ نَدِيدِ

❁ افسوس!! چې دغه ښځه په دې ژاړي چې اوښ يې ورک شوی دی او ورک شوي اوښ د خوږ خوب نه بې ارامه کړې ده.

❁ په اوښ مه ژاړه! په بد نصيبه بدر وژاړه چې برخليک يې بې ځايه کړ.

❁ په هغه بد نصيبه بدر وېر وکړه چې د بنوهصيص، بنو مخزوم او د ابوالوليد غونډ ملاتړ پکې مات او نسکور شو.

❁ که په رښتيا وېر کوې نو په عقيل وېر وکړه او د زمريانو په باچا حارث باندې وېر وکړه.

❁ په ټولو غم خوړلو باندې وژاړه او په ابوحکيمه وژاړه چې هم نامی او ثاني نه لري.

بيا قريشو د بنديانو د ازادولو په بدل کې د فديې ورکولو لړۍ پيل کړه، مکرز بن حفص د سهيل بن عمرو د خوشې کېدو فديه برداشت کړه، مکرز چې کله د سهيل اړوند د مسلمانانو سره ژبه او غوږ نزدې کړل او د مسلمانانو رضا پرې هم وشوه، مسلمانانو ترې د متفقې فديې غوښتنه وکړه هغه ورته وويل که د سهيل پر ځای ولچکې زما خپو ته راواچوئ تر څو هغه درته خپله فديه پخپله درکړي.

مسلمانانو سهيل خوشې کړ او پر ځای يې مکرز بنديوان کړ.

عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ وپاڅېد او نبي ﷺ ته يې وويل: د الله پيغمبره! اجازه وکړه

چې د سهیل بن عمرو دواړه مخکني غاښونه وباسم، د خبرو په مهال به یې ژبه بهر راوځي نو ستا اړوند به تېزې پاتې خبرې نه شي کولی.

هغه ورته وویل: نا زه هېڅکله هم په چا مثله نه کوم هسې نه الله پاک په ما مثله وکړي اګر که پیغمبر یې هم یم.

د بدر د بندیوانو په جمله کې یو هم ابوالعاص بن الربیع د نبي کریم ﷺ زوم او د زینب رضي الله عَنْهَا خاوند و چې د زینب رضي الله عَنْهَا د اسلام له کبله دواړه په خپل منځ کې سره جلا شوي وو، خو نبي کریم ﷺ یې ترمنځ د مفارقت احکام ونه شو بیانولی، زینب رضي الله عَنْهَا د خپل اسلام او ابوالعاص بن الربیع د خپل کفر سره دواړه د یو بل ښځه او خاوند وو.

چې کله نبي کریم ﷺ هجرت وکړ او د قریشو سره د هجرت په مهال دغه خونړیزه معرکه منځ ته راغله هغه و چې د ابوالعاص لاسونو ته په کې هم ولچکې ولویدې او د بند په حالت کې یې ثارنه نبي کریم ﷺ پخپله کوله.

د مکې خلکو چې د بندیانو د رهایۍ لپاره د فدیې د لیږدولو لړۍ پیل کړه، زینب رضي الله عَنْهَا په کې د ابو العاص د رهایۍ لپاره خپل د غاړې هار چې د واده په مراسمو کې ورته خدیجې رضي الله عَنْهَا ورکړی و مدینې ته فدیه راواستو، نبي ﷺ یې کله د غاړې هار ولید زړه یې وردرېد او صحابه کرامو رضي الله عَنْهُمْ ته یې وویل: څه مشوره لرئ که زینب رضي الله عَنْهَا ته خپل بندیوان د راستولې فدیې سره ولیږدوئ نو ډېر ښه به وکړئ!!

ټولو وویل: ولې نه!! ای د الله رسوله! همدغسې به وکړو، هغه و چې ابوالعاص بن الربیع یې خوشې کړ او راستولې فدیه یې هم ورکړه.

ابوالعاص بن الربیع مکې ته ستون شو خو ولې زینب رضي الله عَنْهَا په مدینه کې پاتې شوه، د دواړ ترمنځ اسلام بېلتون راوست.

د فتح مکې واقعې ته نزدې شو ورځې مخکې شام ته د قریشو په تجارتي قافله کې برخوال لاړ د قریشو تجارتي توکې هم ورسره وې د خپل مستقل تجارت په شمول یې د قریشو سره هم په ځینومالونو کې ونډه درلوده، خو ابو العاص خپله امانتګر او ځیرکه سړی و، د تجارت څخه له راوزګارېدو وروسته پرې د نبي کریم ﷺ لیږلي کمین یرغل وکړ، که ابو العاص څه هم په تېښته بریالی شو خو ولې مال او دولت یې د مجاهدینو په لاس کې غنیمت ولوید، صحابه کرامو دغه ټول مالیت مدینې ته روغ رمټ او سالم راوړ، د شپې له مخې ابوالعاص بن الربیع د زینب –رضي الله عَنْهَا– په امان کې مدینې ته پټ پناه راغی، هغې ورته امان ورکړ، د سهار لمونځ لپاره نبي کریم ﷺ مسجد ته ولاړ، نبي کریم ﷺ او صحابه وو تکبیر وکړ، د سکون فضا د خورېدو سره زینب رضي الله عَنْهَا غږ کړ چې ای خلکو!! ابوالعاص بن الربیع ته ما پناه ورکړېده.

کله چې نبي کریم ﷺ له لمونځ څخه فارغ شو خلکو ته رامخامخ شو او ویویل: ایا ما چې څه واورېدل تاسو هم واورېدل؟ هغوی وویل: هو. نبي کریم ﷺ وویل: لوړه په رب لایزال چې زه هم په دې قضیه له دې لحظې وړاندې اګاه نه وم، خا!! ابوالعاص په ادنی مسلمان پناه نېولې ده!! بیا نبي کریم ﷺ لاړ او خپلې لور زینب ته ورغی ورته یې وویل: لورکۍ! ته ګوره هغه ته نه یې حلاله چې کوروالی درسره ونه کړي.

عبدالله بن ابي بکر رضي الله عَنْهُ وايي: نبي کریم ﷺ د غازیانو هغه ګروپ ته چې د ابوالعاص بن الربیع مال او تجارت یې غنیمت کړی و استازی واستو او ورته یې وویل: د ابوالعاص سره زمونږ خپلولي له تاسو څخه پټه او پناه نه ده، تاسو یې مال او تجارت په غنیمت کې اخستی دی، که تاسو هغه ته خپل مال او تجارت بېرته ورکړئ نو ښه به وي او که نه یې ورکوئ نو ستاسو حق او درله حلال دی الله درله غنیمت درکړی دی.

ټولو وویل: ای د الله پیغمبره! په دې خوښ یو چې ابوالعاص ته د هغه مال او تجارت ورکړو تر دې چې چا سره د هغه لوښي او کالي هم وو هر څه یې ورته وسپارل، ټول مالیت او تجارت چې هېڅ زره بره کمی په کې نه و لاس په لاس یې ورته ورکړ.

ابوالعاص بن الربیع خپله ټوله پانګه له مدینې څخه مکې ته نقل کړه، هر قریشي ته یې ترې خپل حقوق او برخې ورکړې، بیا یې غږ کړ: ای قریشو! ما سره د چا حق پاتې دی؟ ټولو وځوابو چې جزاک الله خیرا.

ټولو ته ستا په ذمه پاتې حقوق په بشپړه توګه ورسېدل، په رښتیا چې ډېر وفادار او نېک خویه نارینه یې، هغه ورته وویل: زه په دې ګواهي ورکوم چې له الله پرته د عبادت لائق هېڅ څوک نشته او محمد ﷺ د الله استازی او بنده دی، د ایمان د راوړو مخه مې یواځې دې نیولې وه چې تاسو به بیا ویل چې ګنې ستاسو مالي پانګې مې ولوټلې خو چې کله هم ستاسو حقوق راڅخه الله پاک ادا کړل دا دی ایمان مې راوړ.

بیا یې د تېرو مهاجرینو په څېر د نبي کریم ﷺ حضور ته هجرت وکړ.

ټول هغه بندیان چې له فدیې څخه پرته رها شوي دي د ابوالعاص بن الربیع رضي الله عَنْهُ په شمول راپور زیاتوي چې مطلب بن حنطب، صیفي بن ابي رفاعه، ابوعزة عمرو بن عبدالله بن عثمان بن اُهَیب بن حذافة بن جمح هم وو.

ابوعزه چې نادار بې وسه او د ډېرو لوڼو پلار و، نبي ﷺ ته یې وویل: ای د الله رسوله! زما په بې وسۍ او ناچارۍ ته ډېر ښه خبر یې، د لوڼو پلار او تنګ دسته یم، د فدیې پرته مې رها کړه، نبي ﷺ په دې شرط رها کړ چې په ضد به یې د هېڅ چا مرستیال نه وي.

ابوعزه په قوم کې د نبي ﷺ لوړ مکانت او د انسانيت نيکه رويه د شعر په ژبه په دې الفاظو کې ياده کړه:

مَـنْ مُبَلِّغٌ عَـنِّي الرَّسُـولَ مُحَمَّدًا *** بِـأَنَّـكَ حَـقٌّ وَالْمَلِيكُ حَمِيدُ

وَأَنْتَ امْرُؤٌ تَدْعُو إِلَى الْحَقِّ وَالْهُدَى *** عَلَيْكَ مِنَ اللهِ الْعَظِيمِ شَهِيدُ

وَأَنْـتَ امْـرُؤٌ بُوِّئْتَ فِينَـا مَبَاءَة *** لَهَا دَرَجَـاتٌ سَهْلَةٌ وَصُـعُـودُ

فَإِنَّـكَ مَـنْ حَارَبْتَـهُ لَمُحَارَبٌ *** شَـقِيٌّ وَمَـنْ سَالَمْتَهُ لَسَعِيدُ

- زما له اړخه به محمد ﷺ ته دا پيغام څوک ورسوي چې ته په حقه توګه پېغمبر يې او الله په رښتيا د ستايلو وړ ذات دی.
- ته د حق او هدايت په لور رښتنی بلونوال يې، ستا حق ته په بلنې د الله پاک له پلوه ګواهان ګواهي ورکوي.
- ته په مونږ کې د لوړې رتبې څښتن وې، تا ګټلې منزلت ته ډېرې تيټې او پاس کړې نسکورې سترياوې مخې ته دي.
- هغه به ډېر غټ بد نصيب وي چې ته ورسره مټ اتی يې او هغه به ډېر خوش نصيب وي چې ته ورسره روغه او سلا وکړې.

له مشرکانو څخه اخستل شوې فديې د سر په بدل کې له زرو درهمو څخه تر څلور زره درهمو پورې اندازه وه، خو که کوم بندي به بې وسه و نو نبي کريم ﷺ له عوض پرته د احسان په شکل رها کو.

د نبي کريم ﷺ سره وتلي مهاجرين چې په غنيمت کې برخوال وو درې اتيا ته يې شمېره رسېده.

د بدر په معرکه کې د نبي کريم ﷺ سره د انصارو د اوس له قبيلې څخه چې په غنيمت کې يې برخه درلوده يو شپېته ګډونوال وو.

او له خزرج څخه په جمله توګه يو سل او اويا اتلانو شرکت کړی و.

# په کُدَر کې د بنو سُليم سره غزا

له بدر څخه په راستنېدو سره نبي ﷺ اوه شپې وروسته په خپله د بنو سليم سره جنګ ته لاړ[1]، د کُدر نوم ځای چينو ته يې ورسېد، هلته يې درې ورځې تيرې کړې چونکه د جنګ موقعه

(۱) د دې غزا په دوران کې د مدينې امير عرفطه الغفاري رضي الله عَنْهُ و او ځينې نور روايتونه وايي چې امير ابن ام کلثوم رضي الله عَنْهُ و.

مساعده نه شوه بېرته مدينې ته راستون شو، د شوال پاتې ورځې او د ذوالقعدې ټوله مياشت يې په مدينه کې تېره کړه او په دې دورانيه کې يې د قريشو د ګڼ شمېر بنديانو فديې هم واخستې.

## د سويق غزا

د ذوالحجې په مياشت کې ابوسفيان بن حرب رضي الله عَنْهُ د سويق[1] نوم غزا لپاره بهر ووهلې، مکې ته چې کله د بدر شکست زده ورسېدل، ابوسفيان منښته وکړه چې تر هغه به له جنابت څه په سر اوبه وانه اړوي تر څو يې د محمد ﷺ سره جنګ نه وي کړی[2]، د خپل سوګند د پوره کولو لپاره يې د دوه سوه جنګياليو په شمېر شاسواران له ځان سره واخستل او د نجديه مقام له لارې د وادي قنات په مخ د ثيب نوم غر ته ورسېدل چې له مدينې څخه د يو ميل يا لږ څه زيات او کم په اندازه لرې پروت دی.

د شپې له مخې يې د حيي بن اخطب حضور ته عرض يوړ، دروازه يې ورته وټکوله، د ډېر زيات ډار له کبله يې ورته دروازه خلاصه نه کړه نو د سلام بن مشکم په لور رهی شو او دغه مهال سلام بن مشکم د بنونظير د قبيلې مخه ور او خزانچي هم و[3]، هغه ورته دروازه خلاصه کړه، د هغه يې دروند ميلمستوب وکړ او شراب يې پرې هم وڅښل، بيا يې ورته د مدينې د ميشتوالو پټ او پناه رازونه وښودل، ابوسفيان رضي الله عَنْهُ بېرته په چټکۍ خپل ځای ته ولاړ او په مدينه يې چيريکي بريد لپاره ځوانان په دندو وګمارل، ځوانانو د ورته کړی شوي امر سره سم د عُرَيْض مدينې اړوند نوم ځای باندې يرغل وکړ، هلته يې د کجورو باغيچه په اور لمبه کړه او وريکې يې دوه کسان هم قتل کړل او نور په مخه لاړل وتښتېدل، چې کله وربانديې مسلمانان ويوهېدل نو نبي کريم ﷺ ورپسې ووت تر څو راګېر يې کړي او تر (قرقرة الکُدر) پورې پسې تېز وځغلېد خو ابوسفيان رضي الله عَنْهُ د خپلو ملګرو په شمول په تېښته بريالي شوي وو او په دغه وخت کې د مدينې چارې بشير بن عبدالمنذر رضي الله عَنْهُ ته سپارتل شوي وې.

صحابه کرامو رضي الله عَنْهُمْ څه وکتل چې قريشو د تېښتې او خلاصون لپاره خپلې توخې چې زياتره برخه يې د سطوان وه غورځولې و ترخو پيتې يې سپک شي.

(۱) سويق د غنمو او وربشو وره چې د شهدو يا غوړو يا شېدو سره خوړل کيږي، د اوبو سره هم خوړل کيږي او د سويق غزا دې جنګ ته ځکه ويل کيږي چې د قريشو عوامو په دې جنګ کې د خواړو لپاره ستوان سره راټول کړي و.
(۲) د جاهليت په دور کې د حج او نکاح په څېر له جنابت څخه غسل کول هم معمول وو.
(۳) دوی به د تنګو سختو لپاره خپل منځنۍ چانده راماتوله او سلام د دغې راماتې امين و.

د بېرته راستنېدو په مهال صحابه کرامو رضي الله عَنْهُمْ نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ چې اى د الله رسوله! ايا دا هم زمونږ لپاره غزا شمېرل کيږي؟ هغه ورته وويل: هو دا غزا ده.

## د ذي امر غزا

د سويق له غزا څخه وروسته نبي کريم ﷺ د ذوالحجې پاتې مياشت ټوله يا لږ څه ورځې په مدينه کې تېره کړه، بيا يې نجد ته مخه کړه تر څو بنوغطفان سره غزا وکړي(١).

نجد ته په رسېدو يې د صفر ټوله يا نږدې زياته مياشت تېره کړه، د دواړو خواو جنګي ليکي يو بل سره مخامخ نه شوې او نبي کريم ﷺ بېرته مدينې ته راستون شو، په مدينه کې يې د ربيع الاول زياته برخه يا ټوله مياشت تېره کړ.

## په بحران کې د فُرُع غزا

نبي کريم ﷺ يو ځل قريشو سره مبارزې لپاره راووت تر دې چې بَحران ته ورسيد، هلته يې د فُرُع تر څنګ د حجاز چې معدني برخه ده واړوله(٢) د ربيع الاخر او جمادى الاولى دواړه مياشتې يې تېرې کړې خو د جنګي محاذ سحنه برابره نه شوه بېرت مدينې ته راستون شو.

## د بنو قينقاع پېښه

د بنو قينقاع پېښه داسې وه چې د عربانو يوې ښځې د بنوقينقاع بازار ته د خرڅ لپاره څه شيان وړي وو او د زرګر سره ناسته وه، ټولو د مخ په لوڅولو مجبوره کړه خو هغې ورته مخ ښکاره نه کړ، زرګر يې لمن تر اوږې پورې (په چل ول) وتړله، ښځه چې کله وپاڅېده شرمګاه يې لوڅه شوه، نو ټولو يهودانو وريسې په بق بق وخندل، ښځې نعرې سورې کړې په موقعه کې يو مسلمان په زرګر ورټوپ کړ او مړ يې کړ، يهودانو عکس العمل وښود د زرګر په بدل کې يې مسلمان وواژه،

(١) د ذي امر د غزا په دوران کې د مدينې واړه چارې عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ ته سپارل شوې وې.
(٢) د دې غزا په دوران کې د مدينې امير ابن ام مکتوم رضي الله عَنْهُ و.

د مسلمان سړي کورنۍ له نورو مسلمانانو څخه مرسته وغوښته ترڅو غچ واخلي، مسلمانان د ډېرې غصې له مخې ورغلل او د يهودانو اومسلمانانو تر منځ تاو تريخوالی مخ په ډېرېدو شو.

په يهودانو کې بنوقينقاع لومړني يهودان دي چې د نبي ﷺ سره يې ژمنې ونه پاللې، نبي کريم ﷺ تر هغه محاصره کړل چې بالاخره يې ورله پرېکړې ته غاړه کېښوده او راښکته شول، يهودان چې کله د نبي کريم ﷺ په لاس کې ترلي لاسونه ولوېدل عبدالله بن ابي بن سلول راولاړ شو او ويويل: محمده!! زمات دوستانو سره ښه او نېکه رويه وکړه.

نبي کريم ﷺ يې غوښتنه لا وباله وګڼله، بيا يې ورته وويل: محمده! زما دوستانو سره نېکه رويه وکړه.

نبي کريم ﷺ ورڅخه خپل مخ تاو کړ تر دې چې د زغرې په جيب کې يې ورته لاس ننويست، نبي ﷺ ورته وويل: پرېږده.. ماخوشې کړه..

د نبي کريم ﷺ مخ مبارک له ډېرې غصې نه تور شو، بيا يې ورته وويل: هلاک او تباه شې پرېږده!! هغه ورته وويل: نا تره هغه دې له زغرې لاس نه اوباسم تر څو زما د دوستانو اړوند پرېکړه کې بدلون رانه ولې، ای محمده! څلور سوه پياوړي مضبوط ځوان جنګيالي او درې سوه زغره دار چې زه يې له تور او سپين څخه ساتلی يم ته يې په يو سهار کې له تيغه تېروې؟

لوړه په رب لايزال چې زه شخصاً د ورځو شپو له ترخو شيبو څخه ډار محسوسوم.

نبي ﷺ ورته وويل: ستا له کبله مې رها کړل.

عبادة بن الصامت رضي الله عَنْهُ چې د نبي کريم ﷺ سره د عبدالله بن ابي بن سلول په څېر ملاتړ اعلان کړی و، راغی او ورته يې وويل: زه د الله پاک او دهغه د رسول ﷺ او د مسلمانانو ملاتړي خوښوم، او له کافرانو له ملاتړو څخه يې لاس په سر يم.

د عبادة بن صامت رضي الله عَنْهُ او د عبدالله بن ابي بن سلول اړوند الله پاک دا ايتونه راوليږل ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾ فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَىٰٓ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأْتِىَ بِٱلْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِۦ فَيُصْبِحُواْ عَلَىٰ مَآ أَسَرُّواْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ نَٰدِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقْسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهْدَ أَيْمَٰنِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ فَأَصْبَحُواْ خَٰسِرِينَ ﴿٥٣﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِۦ فَسَوْفَ يَأْتِى ٱللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ۚ ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾ إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَهُمْ رَٰكِعُونَ ﴿٥٥﴾ وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَإِنَّ حِزْبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ﴾[1].

---

(١) سورت مائده: (٥١-٥٦) ژباړه: ای مومنانو! هيڅ يهودان اونصرانيان په دوستانه ونه نيسئ هغوی ځينې د نور ځينو دوستان دي، خو که څوک يې هم دوستان وبولي نو دا يې هم له جملې څخه شو او الله پاک ظالم قوم ته لارښونه نه کوي * د کفر او نفاق په رنځ رنځوران به وګورې چې د هغوی سره تېټ اوپاس کيږي او دا

د الله پاک او رسول ﷺ او د مومنانو سره په رښتني محبت کې الله پاک د عبادة بن صامت رضي الله عَنْهُ تصديق وکړ او د بنوقينقاع د يهودانو له دوستانې څخه يې واقعاً بېزار وګڼه.

## د نجد قَرَده ته د زيد بن حارثة رضي الله عَنْهُ جنګي کاروان

د بدر رامنځ ته شوې درنې پېښې د قريشو شام ته د تجارتي کاروانونو موړالونه مخ په ټيټه کړل، له ډاره يې شام ته د عراق له لورې د تګ د نوي تاداو کېښودو هوډ وکړ، د ابوسفيان بن حرب رضي الله عَنْهُ په مشرئ د ډېرو سپينو زرو چې خورا درووند تجارت و، د نورو قريشو په ملتيا خوځښت وکړ، چونکه خپله نابلده و د لارښوونې لپاره يې د بنوبکر بن وائل له قبيلې څخه د فرات بن حيان په نوم سړی په مزدورئ نيولی و.

نبي کريم ﷺ زيد بن حارثة رضي الله عَنْهُ واستو، هغه وچې د (قرده) نوم چينې ترڅنګ ورسره مخامخ شول، ټوله تجارتي قافله يې تر ولکې لاندې راواسته خو ولې ځينې کاروان تړې خپې سپکې کړې او په تېښته بريالي شول، زيد رضي الله عَنْهُ څه زيار وويست خو د هغوی ځغلنده چټکه وه رالاندې يې نه کړی شول، زيد رضي الله عَنْهُ ټول غنيمت په نبي کريم ﷺ باندې وسپارت.

## د احد غزا

د بدر په ورځ چې کفارو ته کوم درد او غم رسېدلی و، شکست زده يې مکې ته نامراده ستانه شوي وو، د ابوسفيان رضي الله عَنْهُ تجارتي کاروان هم مکې ته دننه ولاړ، عبدالله بن ابي ربيعه، عکرمة بن ابي جهل، صفوان بن اميه د قريشو د څه کسانو په شمېر چې د بدر په ورځ

واېي هسې نه چرته ستونزو سره مخامخ نه شو، ډېره نږدې ده چې الله پاک مسلمانانو ته غلبه ورکړي او يا خپله بله پرېکړه وکړي بيا به دغه منافقين ډېر تيټ او خړ سترګي خفه او پښېمانه وي * او مومنان وايي چې ايا دغه پاخه قسم خواره چې په الله سوګندونه پورته کوي ايا دوی هم مومنان دي؟ نا بلکې د دوی عملونه برباد شوي دي اودوی به ډېر زر بې طبعه او پښېمانه شي * ای مسلمانانو که هر څوک ستاسو نه خپل دين ته شا کړي مرتد شي نو الله به داسې خلک راولي چې د الله پاک به هم خوښ وي او د دوی به الله پاک خوښ وي، په مسلمانانو به زړه سوانده او په کافرانو به سخت زړي وي، د الله پاک په لاره کې به جهادونه کوي او له هېڅ چا نه به نه ډارېږي او نه به د چا د ملامتيا نه وېرېږي، دغه ثبات او ايمان د الله پاک ورکړه او احسان دی، د خپلې پېرزو له مخې يې ورکوي او الله پاک پراخي راوستونکی او پوهه ذات دی * ستاسو دوست الله پاک او د هغه رسول ﷺ او مومنان دي او هغه خلک ستاسو دوستان دي چې لمونځونه کوي، زکاتونه ورکوي او د رکوع په حالتونو کې وي * او څوک چې هم د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ او مسلمانانو سره دوستانه کوي نود الله پاک ډله کامیابه او سربالا ده.

يا له پلار او يا له ورور يا د ځوی په غم او فراق دردېدلي وو ابوسفيان رضي الله عَنْهُ ته ولاړل او ورسره يې خيالات تبادله کړل چې د محمد له لاسه نيست نابود شوي يو، ستاسو مشرتابه او مخه وريې يې ټول ووژل، تاسو بايد دغه پاتې مالي پانګه د محمد ﷺ په ضد مرستندويه جوړه کړئ تر څو ورڅخه غچ واخلو، په دې خبره سره رضا او خوښ شول.

د ابوسفيان رضي الله عَنْهُ په مشرۍ د ټولو قريشو او نورو انډېوالو قبيلو د نبي ﷺ په ضد د کلک نظامي پاڅون اظهار وکړ.

د بنوکنانه او د تهامه ميشتوالو په شمول ټولو د ځان سره خپلې ښځې هم وويستې تر څو له خپلو ابروګانو څخه کلکه دفاع وکړي او له مېدانه ونه تښتي.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ چې د کاروان د مشرۍ واکې هم ورسره وې له ځان سره هند بنت عتبه رضي الله عَنْهَا وويسته، عکرمه رضي الله عَنهُ له ځان سره ام حکيم بنت هشام بن المغيره رضي الله عَنْهَا وويسته، صفوان بن اميه خپله بي بي ريطة بنت منبه بن الحجاج رضي الله عَنْهُمَا وويسته.

د سبخه مقام د غر په دننه برخه کې د عينَين نوم ځای د درې په غاړه تونل و هلته تم شول.

نبي کريم ﷺ چې له مشرکانو څخه کله وخبرېد چې مدينې ته نزدې يې اړولې ده، مسلمانانو ته يې وويل: لوړه په رب لايزال چې ډېر قابل غور خوب مې وليد، ومې ليدل چې غويا حلاليږي او د خپلې تورې په تېرو کې مې پرکنډ وليد او ومې ليدل چې لاس مې په خورا خوندي زغره کې ننويستی دی[1] خو تعبير مې ترې په مدينې وکړ.

تاسو څه فکر لرئ چې چرته هم قريش په خپل تم ځای کې پريږدئ؟ که تم کېدل يې لا پسې زيات کړ نو تم کېدنه د هغوی په زيان ده، که مدينې ته د راننوتو زيار يې ويست نو ورسره به مخامخ جنګ وکړو.

عبدالله بن ابي بن سلول چې د نبي کريم ﷺ په دريځ کلک ولاړ او بارها به يې ورله رايه تاييدوله خو نبي کريم ﷺ خپله هم د جنګي تکتيک له مخې قريشو ته په وتلو خوښ نه و، خو ولې نور هغه مسلمانان چې د احد په غزا کې يې د شهادت لوړه رتبه وګټله او له بدر څخه نور بې ونډه شول، په دې ټينګ وو چې په بدر کې ونډوال هم نه وو چې هرومرو د ګز او مقابلې مېدان ته ووځي.

هغوی ورته وويل: ای د الله پيغمبره! هرومرو مو د اغيارو مقابلې ته بوځه، هسې نه هغوی وانګيروي چې مونږ يا بې وسه شوي يو او يا بوزديله يو.

(۱) نبي کريم ﷺ فرمايي: د غويانو ذبحه زما ملګري دي چې په شهادت به رسيږي، او د تورې په تېرو کې پرکنډ زمان د کورنۍ د يو غړي شهادت دی.

عبدالله بن ابي بن سلول وویل: نا، ای د الله رسوله! هېڅ کله ونه وځې بلکې په مدینه کې تم شه، زما له یاده چې کله هم مونږ له مدینې څخه دښمن پسې وتلي یو مونږ شکست خوړلی دی او چې کله هم دښمن راغلی دی مونږ ورته مرګ ژوبله اړولې ده، ای د الله پېغمبره! هغوی خپلې طبعې ته پرېږده، که تم وو تم کېدنه زمونږ نه بلکې د هغوی لپاره زیانمنه ده، او که دلته راغلل مخ په مخ به ورسره خلک وجنګیږي او له بره خوا به یې ماشومان او ښځې هم په کاڼو وولي او که هغوی بې جنګه لاړ شي نو د هغوی لپاره عیب او داغ دی.

خو بهر حال له بدر څخه بې برخه صحابه له دښمن سره د مقابلې په درېځ ټینګ ولاړ وو، نبي کریم ﷺ کور ته ننوت او خپله زغره یې واچوله، په جنګي الاتو یې ځان سمبال کړ او د همدغې جمعې په ورځ د لمونځ نه وروسته یې په جنګي تدابیرو پیل وکړ.

هېره دې نه وي چې په دغه ورځ د عوف بن مالک رضي الله عَنْهُ په نوم صحابي هم وفات شوی و، په هغه یې د جنازې لمونځ وکړ او خلکو ته راووت، خو ولې په ټینګ درېځ ولاړو صحابه کرامو ټنده هم ترخه تروه شوه چې مونږ ولې نبي کریم ﷺ دښمن سره د مقابلې لپاره په وتلو مجبور کړ او ډېر پښېمانه شول، ټولو ورته وویل: ستا څنګه خوښه ده؟ که دې خوښه وي مدینه کې به پاتې شو، مونږ سره دا مناسب نه وو چې دومره ټینګار مو کړی وی، نبي کریم ﷺ ورته وویل: له هېڅ نبي سره نه ښايي چې د جنګ لپاره زغره واچوي تر هغه به یې نه لرې کوي تر څو یې جنګ نه وي کړی.

نبي کریم ﷺ د زرو کسانو په شمېر د دښمن مقابلې ته ولاړ، د احد او مدینې ترمنځ د شوط نوم ځای ته په رسېدګۍ کې ترې عبدالله بن ابي بن سلول خپل ملګري چې د ټولې شمېرنې دریمه حصه یې تشکیلوله بېرته مدینې ته ستانه کړل او ویویل: زه یې خبره منم او دا مې خبره نه مني، ای خلکو! ولې هېڅ په هېڅه خپل ځانونه مرګ ته ورکوئ؟

عبدالله بن عمرو بن حرام رضي الله عَنْهُ وریپسې ورغی او ورته یې کړه: د دښمن سره د مقابلې په مېدان کې د الله رسول او خپل قوم ولې شرم او شکست ته ورکوې؟ هغوی ورته وویل: که مونږ پوهېدای چې تاسو ځانونه مرګ ته ورکوئ مونږ بیخي نه راتلو، مونږ خو ویل چې جګړې شخړې به نه وي!

منافقانو چې د کلکې سرغړونې لاره اختیار کړه او د بېرته ستنېدو هرمرو هوډ یې کړی و ورته یې وویل: ای د الله د ښمنانو! الله پاک مو سپک او ذلیله کړه، ډېر زر به الله پاک خپل پیغمبر له تاسو څخه بې احتیاجه کړي.

د احد په ورځ ځینې انصارو نبي کریم ﷺ ته وویل: ای د الله پېغمبره! له یهودانو څخه جنګ ته خپل ملاتړې نه راغواړو؟ هغه ورته وویل: نا، هغوی ته هېڅ اړتیا نه لرو.

نبي کریم ﷺ خپل جنګي کاروان د احد د غر په ناو کې مخ په وړاندې بوت، احد غر ته يې شا او دښمن ته يې مخه کړه، مجاهدينو ته يې وويل: زمونږ له اجازې پرته به هيڅ څوک د جنګ پيل نه کوي، قريشو د څربولو لپاره خپل اسونه او اوښان احد ته نږدې د صمغه نوم ځای کې څرول چې لا د مسلمانانو د واک لاندې و.

نبي کريم ﷺ چې کله جنګ تر خپلې اجازې منحصر کړی و، يو انصاري وويل: بنوقيله[١] لا ژوندي دي او په ځمکه يې خلک رمې څروي!!

نبي کريم ﷺ خپل اووه سوه کسيزه جنګي کاروان ليکه ليکه کړ، د غشو وارولو قومانده يې عبدالله بن جبير رضي الله عَنْهُ ته ورکړه، دغه مهال يې نښه سپين پوښاک و، د غشو وراونکو شمېره تر پنځه سوه ته رسيده، نبي کريم ﷺ ورته وويل: له شا پلوه راځخه په غشو ورولو د اسونو مخه ونيسئ، شکست که د هغوی او يا زمونږ و خو ته په خپل ځای ثابت ولاړ اوسه، بايد بېدار اووسئ چې ستاسو له پلوه راباندې بريد ونه شي.

نبي کريم ﷺ خپله هم د جنګ لپاره دوه زغرې واچولې او بېرغ يې د بنو عبدالدار قبيلې اړوند مصعب بن عمير رضي الله عَنْهُ ته ورکړ.

د احد په جنګ کې نبي کريم ﷺ سمره بن جندب او رافع بن خديج رضي الله عَنْهُمَا ته هم اجازت ورکړی و، چونکه دواړه پنځلس کلن وو نو په لومړي ځل يې اجازه ورنه کړه، چا ورته وويل: چې رافع بن خديج پياوړی نښه باز دی نو هغه ته يې اجازه ورکړه، بيا ورته وويل شول چې سمره بن جندب رضي الله عَنْهُ په رافع بن خديج رضي الله عَنْهُ باندې راپرځولو کې باندې دی، نو هغه ته يې هم اجازه ورکړه.

قريشو هم خپلې جنګي ليکې ليواله کړې وې چې د ټولو جنګيالو سرشمېرنه يې زرو ته رسېدګې کوله، د شاهسوارانو د ښي اړخ دنده خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ او په کيڼ لور يې عکرمه رضي الله عَنْهُ مشر ګمارلی و.

نبي کريم ﷺ توره پورته کړه او ويويل: دې تورې ته به څوک خپل حق ورکړی شي؟ ډېرو خلکو لاسونه اوږده کړل خو اخره بيا هم ابودجانه رضي الله عَنْهُ ورپورته شو او ويويل: د الله رسوله! ولې د تورې حق څه شی دی؟ هغه ورته وويل: د تورې حق دا دی چې د دښمن مخونه پرې تر هغه ووهل شي چې کږه او نسکوره شي.

ابودجانه رضي الله عَنْهُ وويل: ما ته يې راکړه زه به يې حقوق په رښتيا چې پوره کړم، هغه و چيض توره يې ورته ورکړه.

ابودجانه رضي الله عَنْهُ چې خپله هم خورا زيات اتل، بهادر او دلاور و، د جنګ جګړې په

(١) بنو قيله به خلکو اوس او خزرج ته ويل او قيله يې د مور نوم و.

مهال به یې په متکبرانه ناز او انداز قدمونه پورته کول، چې کله به یې سر په ټوټه وتړه خلک به پوهه شول چې د ابودجانه رضي الله عَنْهُ د سختې جګړې کولو اراده لري.

له نبي کريم ﷺ څخه چې یې کله توره تسلیم کړه خپله ټوټکۍ یې راواخسته او له سره یې تاو کړه، د مسلمانانو او کافرانو ترمنځ خالیګاه ته ووت او د خپل متکبرانه ناز او مکیز اظهار یې وکړ، نبي کريم ﷺ د لیدو سره سم وویل: له جهاد پرته دغسي ناز مکیز الله پاک نه خوښوي.

په بنوعبدالدار کې د بیرغ والا وته ابوسفیان رضي الله عَنْهُ چې په سخته جګړه یې راتېزول وویل: ای بني عبدالدار! د بدر په ورځ هم بیرغ ستاسو په لاسو کې و او د بدر ځپل درته ښه یاد دي، یا خو بیرغ لوړ رپاند وساتئ او یا یې مونږ ته راکړئ مونږ او بیرغ پوهه شه، ځکه که بیرغ مات شي خلک مات او مورال یې په ټیټه شي، هغوی ورته د کلکې ژمنې په ورکولو وویل: مونږ درته بیرغ نه شو درکولای، سبا به په میدان وويني چې مونږ څومره بهادر یوو.

چې کله هم لښکرې سره مخامخ شوې، هند بن عتبه -رضي الله عَنْهَا- د نور هغې ښځو په شمول چې په ملتیا یې ولاړې وې ډول ډبلي راواخستل او له خلکو څخه یې وروسته په جنګ کې د تیزولو لپاره وغږول، هند رضي الله عَنْهَا به په لوړ اواز ویل:

وَيْهــاً بَــنِيْ عَبْدِالدَّار *** وَيْهــاً حُمَــاةَ الأَدْبَارِ
ضَرْباً بِكُلِّ بَتَّارِ

ای بنو عبدالدار! چوست چالاکه او بیدار شئ * ویښ شئ له خپلو ابرو څخه دفاع وکړئ * او په غوڅاندو تورو کلک ګوزارونه وکړئ.

او دا شعرونه به یې هم زمزمه کول:

إِنْ تُقْبِلُــوا نُعَانِــقْ *** وَنَفْــرِشُ النَّمَارِقْ
أَوْ تُدْبِــرُوا نُفَارِقْ *** فِــرَاقَ غَــيْرَ وَامِقْ

ژباړه: که په جنګ کې مخکې ولاړئ درسره غاړه غړۍ به شو او پالنګونه به درته جوړ او خواره کړو، او که په شکست شوئ نو داسې به درڅخه راجلا شو چې هیڅ مینه او محبت مو درسره نه وي.

د احد په ورځ د نبي کريم ﷺ د صحابه کرامو شعار (أَمِتْ، أَمِتْ) مړ یې کړه مړ یې کړه و.

د دواړو خواو له پلوه جګړه توده شوه، ابودجانه رضي الله عَنْهُ په زیاته توندۍ د خلکو په منځ کې ننوت چې هر څوک به مخې ته ورتو د توري په خوند به یې پوهو، زبیر بن العوام رضي الله عَنْهُ وايي: په مشرکانو کې یو سړی و چې زمونږ هر زخمي به یې واژه، ابو دجانه رضي الله عَنْهُ دا او هغه سره دواړه یو بل ته نژدې شول ما له الله څخه وغوښتل چې دواړه سره مخ اتې

کړي، هغه و چې دواړه سره مخامخ شول په یو بل یې ګوزارونه تبادله کړل، مشرک په ابو دجانه رضي الله عَنْهُ ګوزار وکړ خو ابو دجانه رضي الله عَنْهُ پر ځان ډال سپر کړ، څه و چې ابو دجانه رضي الله عَنْهُ پرې لاس پورته کړ او مشرک یې وواژه، لږ شیبې وروسته مې ولید چې د هند بن عتبه رضي الله عَنْهَا په سر یې توره پورته کړه خو ولې بېرته یې ترې واړوله[1].

حمزه رضي الله عَنْهُ هم خپله اتلولي ښکاره کړه او ارطأة بن عبد شرحبیل بن هاشم بن عبد مناف بن عبدالدار یې له تېغه تېر کړ، ارطأة هغه څوک و چې جنګي بېرغ یې لوړ رپاند نیولی و، دا چې ترڅنګ یې سباع بن عبدالعزی غبشاني تېر شو نو حمزه رضي الله عَنْهُ پرې غږ کړ چې: د ګلابۍ زویه!! دې خوا ته راشه.. د (ګلابۍ زویه) باندې یې غږ ورته ځکه وکړ چې مور به یې په مکه کې ماشومان سنتول.

د جبیر بن مطعم غلام وحشي رضي الله عَنْهُ وایي: لوړه په رب لایزال چې حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عَنْهُ مې ولید چې مقابل خواوې به یې غوښه غوښه کړ، لکه د خړ اوښ په څېر یې خونړیز بریدونه کول، سباع بن عبدالعزی ورته له ما څخه مخکې ورغی ورته یې غږ کړ چې د سنت ګرې ښځې زویه ما ته راشه، په سر یې ورله داسې تندریز ګوزار ورکړ چې بیخي ترې غلط نه شو، خپله نیزه مې ځان ته راجوخته کړه خو چې ښه په ډاډ شوم د نیزې ګوزار مې پرې وکړ د خیټې نه لږ لاندې ولګېد او شا ته ترې د خپو په منځ کې نیزه ووته، زما په لور یې قدمونه راپورته کړ خو ونه شو توانېدای او راپرېوت، لږ ځنډ وروسته ورغلم ساه ورڅخه وتلې وه، نیزه مې ترې راوویسته بېرته خپل نظامي ځای ته راغلم، د حمزه رضي الله عَنْهُ له وژلو پرته مې بله موخه په دې نه وه چې په مرګ یې ما سره د ازادۍ وعده شوې وه، چې مکې ته ستون شوم نو ازاد شوم.

تر هغه مهاله په کې پاتې شوم چې نبي کریم ﷺ فتحه کړه له ډېره ډاره طائف ته وتښتېدم، د طائف خلکو چې کله د رسول الله ﷺ حضور ته د اسلام راوړلو لپاره لاړل، لارې ګودرې او لورې ژورې راڅخه ورکې شوې، زه لا د وهم خیال څپو لاهو کړی وم چې یمن ته او که شام ته وتښتم؟ او که د عربانو نورو قبیلو او قامونو ته پناه یوسم، لوړه په رب لایزال چې یو سړی چټک راغی او راته یې وویل: لوړه په رب لایزال چې څوک هم د نبي کریم ﷺ په راوړې دین کې ننوځي او کلمه ووایي هیڅ څوک هم نه وژني.

ما هوډ وکړ تر دې چې نبي کریم ﷺ سره مې په مدینه کې لیدل کتل وشول، په سر یې ولاړ وم او د شهادت کلمه (لَآ اِلَهَ اِلَّآالله مُحَمَّدَالرَّسُوْلُ الله) مې وویله.

(۱) ابودجانه رضي الله عَنْهُ وایي: یو څوک مې ولید چې په جنګ یې خلک تونډول، ما یې د مرګ پښنه اراده وکړه خو چې توره مې پرې پورته کړه ښځه وه، د نبي کریم ﷺ د تورې عزت او شرف خیال مې وساته چې د هغه په توره دې ښځه ووژنم.

خو چې پورته يې راوکتل راته يې وويل: ته وحشي نه يې؟ ما ورته وويل: هو ولې نه د الله رسوله وحشي يم.

هغه راته وويل: د حمزه د وژنې ټوله لړۍ راته واوروه چې څنګه دې شهيد کړی شو؟ کله چې مې ورته تېره شوې ټوله لړۍ واورووله نو راته يې وويل: خوار شې! له مخې مې پناه شه چې ودې نه وينم، زه تر هغه نبي کريم ﷺ ته مخامخ نه ورتلم چې روح يې الله قبض کړه.

مصعب بن عمير رضي الله عَنْهُ هم د نبي کريم ﷺ په دفاع کې تر هغه وجنګېد چې شهيد شو، ابن قمئه چې کله مصعب بن عمير رضي الله عَنْهُ ووواژه هغه پرې د رسول الله ﷺ ګومان وکړ او بيا يې شهيد کړ، د مصعب بن عمير رضي الله عَنْهُ له شهادت وروسته نبي کريم ﷺ بيرغ علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ ته ورکړ، د احد په غزا کې علي رضي الله عَنْهُ او نور ګډونوالو صحابه وو د ډېرې ښې مېړانې اظهار وکړ، خو ولې ابن قمئه چغې نارې پورته کړې چې محمد مې مړ کړ ﷺ.

کله چې جنګ ښه ګرم شو نبي کريم ﷺ د انصارو له بيرغ لاندې کښېناست او علي رضي الله عَنْهُ پسې يې استازی واستو چې بيرغ نور هم مخکې يوسه، علي رضي الله عَنْهُ نور هم مخکې شو او ويل به يې: زه د وژلو پلار يم[١].

ابو سعدبن ابي طلحه چې د مشرکانو د جنډې دنده ورسره وه ورته غږ کړ چې ابوالقُصَم! راځه که لاس په لاس مقابله کولای شې! هغه ورته وويل: ولې نه بالکل تيار يم.

د صفونو ترمنځ دواړه سره مخ ته اتې شول علي رضي الله عَنْهُ وواهه او چپه يې کړ خو ولې مړ يې نه کړ او ترې لاړ، خپلو ملګرو ورته وويل: ولې دې مړ نه کړ؟!!

هغه وويل: شرمګاه يې راته راواړوله زړه مې پرې وسوځېد خو ولې زه داسې پوهه شوم چې ګڼې الله مردار کړ.

د جنګ په دوران کې عاصم بن ابي الافلح رضي الله عَنْهُ د ځرګندې باتورۍ اظهار وکړ، مسافع بن طلحه او جلاس بن طلحه دواړه وروڼه يې له تېغه تېر کړل او د غشو ګوزارونو ښې يې پکې جوړې کړې وې، مور يې ورځخه وپوښتل: په غشو باندې چا وويشتئ؟ ځوی يې ورته وويل: چا راباندې ګوزار وکړ او غږ يې کړ چې زه ابن ابي الافلح يم او ګوزار مې درواخله.

مور يې منښته وکړه چې که په عاصم يې توان بر شي په سر کې يې به ورله شراب وڅښي.

حنظله رضي الله عَنْهُ هم د ابوسفيان رضي الله عَنْهُ سره مخ ته اتې و هغه و چې ابوسفيان رضي الله عَنْهُ يې رالاندې کړ خو شدّاد بن اوس ابوسفيان رضي الله عَنْهُ د حنظله بن عامر رضي الله عَنْهُ لاندې وليد له بره يې پرې ګوزارونه وکړ او حنظله رضي الله عَنْهُ يې شهيد کړ.

(١) د جنګ پلار يې ځکه ځان ته وويل چې ابوسعد غږ کړ چې زه مرګ او تباهي يم، ايا د مقابلې څوک شته؟

نبي کريم ﷺ وفرمايل: د حنظله رضي الله عَنْهُ د غسلو مراسم به ملائک انجاموي تاسو يې له کور وداني ښځه وپوښتئ چې ولې؟ له کور وداني ښځه چې خلکو کله وپوښتل هغې يې ورته راز ووايه چې ښځکه يې جنګ خبر واورېد نو له غسل پرته د جنابت په حالت کې درووت.

بيا الله پاک د مسلمانانو په تاييد کې خپله مرسته راواستوله چې مشرکان يې بيخي له تېغه تېر کړل، وعده يې ورسره رښتيا کړه او په دې کې هېڅ شک نشته چې کفارو شکست وخوړ.

زبير رضي الله عَنْهُ وايي: لوړه په رب لايزال چې هند بنت عتبه رضي الله عَنْهَا او ټولې ملګرې يې ما په تېښته وليدې، دا چې منډه تونده کړي د ځان پسې يې پايڅې پورته نيولې وې، ما ته يې په وژلو او بندي کولو کې هېڅ سترې نه وه خو چې خلک مو په درد او غم ښه وځپل، زمونږ غشي وارونکي له مېدان ځخه رابښکته شول، قريش په مونږ له وروسته راغلل او لوړ غږ پورته شو چې محمد مړ شو ﷺ.

له دې ځخه مخکې مو د هغوی بېرغ ټينګونکی شل اوفشل کړ خو د غږ اورېدو سره مونږ هم نا امېده راستانه شول.

د هغوی بېرغ نيونکي زمونږ وارونو دومره بې ساه او بې دمه کړل چې د بېرغ د بېرته راپورته کولو لپاره چا تېنده نه شوه برابروله، هغه و چې عمرة بنت علقمه الحارثيه بېرغ راپورته کړ او ټول قريش ترې سم د لاسه راټاو شول.

دغه مهال د مسلمانانو ريښې لړ زره وښويدې، د احد ورځ په رښتيا هم د سخت ازمېښت ورځ وه، ځېنې مسلمانان ورپکې الله پاک د شهادت په لوړو درجو ونازول، مشرکان هم نبي کريم ﷺ ته ورخلاص شول او په کاڼې کمر يې د مخ مبارک ځېنې برخه ولګېده چې مخامخ غاښونه مبارک او شونډې يې زخمي شوې، دغه ګوزار پرې عتبه بن ابي وقاص وکړ، خپله به يې له مخ مبارک نه وينې لرې کولې او ويل به يې **(هغه قوم به څه برېمن شي چې د خپل پېغمبر مخ په وينو سور کړي حالانکه چې هغه ورته د الله په لور بلنه ورکوي)**، نو الله پاک دا قول ناز کړ ﴿لَيۡسَ لَكَ مِنَ ٱلۡأَمۡرِ شَيۡءٌ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡ أَوۡ يُعَذِّبَهُمۡ فَإِنَّهُمۡ ظَٰلِمُونَ﴾[١].

ابوسعيد الخدري رضي الله عَنْهُ وايي: داحد په ورځ د نبي کريم ﷺ غاښونه مبارک عتبه بن ابي وقاص شهيدان کړي وو او لاندې شونډې يې ورله هم زخمي کړې وه او عبدالله بن شهاب الزهري په تندي مبارک ژوبل کړی و او ابن قمئه يې اننګي ټپي کړي وو، د نبي کريم ﷺ د زغرې دوه کړۍ د ګوزار له کبله په اننګو کې ورننوتې.

په دغه ورځ نبي کريم ﷺ په هغه ځاه کې پرېوت چې ابو عامر د مسلمانانو د شکست

(١) سورت ال عمران: (١٢٨). ژباړه: په دې کې ستا هېڅ واک او اختيار نشته چې يا خو الله پاک به د توبې توفيق ورپه برخه کړي او يا به يې دظلم له کبله سزاوار کړي.

لپاره كنبلې وه، په داسې انداز کې څاه کنستې وه چې مسلمانان پرې نه پوهېدل، علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ نبي كريم ﷺ له لاسه ونيو او طلحه بن عبيدالله رضي الله عَنْهُ راپورته کړ تر دې چې لوړه غړې هسک ودرېد.

د ابو سعيد الخدري رضي الله عَنْهُ پلار مالک بن سنان رضي الله عَنْهُ د نبي كريم ﷺ وينه مبارکه ورودله، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: د چا وينې سره چې زما وينه خلط شي هيڅ کله به ورته د جهنم اور ونه رسيږي.

قريش چې کله له نبي كريم ﷺ څخه کېره واچوله نبي كريم ﷺ وويل: کوم باتور او اتل به جنت وګټي؟ زياد بن سکن رضي الله عَنْهُ د پنځه نورو انصارو په ګډون دومره بې سارې مېړانه وښوده چې پنځه واړه يو د بل پسې شهيدا شول چې اخرنې شهيد يې زياد يا عمارة بن يزيد بن السکن رضي الله عَنْهُمَا و، د ژوند تر اخره دمه يې دومره سخته مقابله وکړه چې د ډېرو زخمونو له کبله نور راپرېوت، له دې وروسته د مسلمانانو بله ډله راغله او اغيار يې و تمبول، نبي كريم ﷺ وويل: ژوبل شوی ما ته رانزدې کړئ، ژوبل شوی صحابي ورته نزدې کړی شو خپل قدم مبارک يې د هغه د مخ بالښت کړ په داسې حالت کې شهيد شو چې مخ يې د نبي كريم ﷺ په قدم مبارک ايښی و.

د نبي كريم ﷺ د بچاو لپاره ابودجانه رضي الله عَنْهُ هم خپل ځان سپر کړی و، ځان يې په نبي كريم ﷺ ورغونډ کړی و او غشي پرې ورېدل، د نبي كريم ﷺ په دفاع کې سعد بن ابي وقاص رضي الله عَنْهُ هم ډېر غشي وورول، سعد رضي الله عَنْهُ فرمايي: نبي كريم ﷺ به راته غشي راکول او راته به يې ويل: زما پلار او مور درنه قربان شه سم يې ووله، تر دې چې هغه غشی به يې هم راکو چې تيره به يې نه درلودل (غوڅه به يې نه شوه کولای).

د نبي كريم ﷺ د مړينې خبر له خپرېدو او شکست وروسته تر ټولو لومړی صحابي چې نبي كريم ﷺ يې وپېژند کعب بن مالک رضي الله عَنْهُ و، هغه وايي: ما يې سترګې وليدې چې د زغرې لاندې ځلېدې، زه هم ټينګ نه شوم اوپه لوړ اواز مې غږ کړ چې ای مسلمانانو! نبي كريم ﷺ دا دی ژوندی دی، هغه راته اشاره وکړه چې غلی شه.

مسلمانانو چې کله نبي كريم ﷺ وليد ټول ورپاڅېدل او د ابوبکر، عمر، علي بن ابي طالب، طلحه بن عبيدالله، زبير بن العوام، حارث بن الصمة رضي الله عَنْهُمْ د غر په لور رهی شول چې نور مسلمانان هم ورسره وو.

ابي بن خلف ورته د غر له سره راپورته شو او ويويل: محمد چرته دی؟ يا به هغه ژوندی وي او يا به زه ژوندی يم!! خلکو نبي كريم ﷺ ته وويل: خوښه دې نه ده چې زمونږ باتور يې تس او نس کړي؟ نبي كريم ﷺ ورته وويل: پرېږدئ چې رانږدې شي، دغه مهال نبي كريم ﷺ د حارث بن الصمة رضي الله عَنْهُ نه نېزه واخسته، ما ته د رارسيدلي راپور له مخې نبي كريم ﷺ

په هوا کې وخوزوله، مونږ یې له شاو خوا داسې اخوا دېخوا شول لکه اوښان چې ورغړي او له ځان نه مچان والوځوي، په څټ کې یې دومره زوردرا ګوزار ورکړ چې له خپلې سورلۍ څخه په څو څو وار راپرېوت.

په مکه کې به ابي بن خلف هر وخت نبي کریم ﷺ ته د لیدو په وخت ویل: محمده! ﷺ له ما سره عَوَذْ[۱] دی، هره ورځ پرې دولس رطله بتاوه خورم هرومرو به پرې تا مړ کوم، نبي کریم ﷺ به ورته ویل: زه به دې مړ کوم ان شاء الله.

ابي بن خلف چې څومره هم ځان په راښکلو تر ملګرو ورسو که څه هم ګوزار سم نه و لګېدلی خو دواړه یې په زخم وینه غوټه شوه، ملګرو ته به یې ویل: لوړه په رب لا یزال چې محمد مړ کړم.

هغوی به ورته ویل: ته هسې وېرېدلی یې، نور نو روغ رمټ یې، هغه به ورته ویل: نا نا په مکه کې یې راته ویلي وو چې زه به دې وژنم، لوړه په رب لا یزال چې که هسې توکاڼې یې هم راګوزار کړی وی زه به یې وژلی وم.

قریشو لا د ځان سره مکې ته بار کړی و چې د سرف[۲] نوم ځای کې مردار شو.

کله چې نبي کریم ﷺ بېرته د غر خولې ته ورسېد علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ ولاړ او په خپل ډال کې یې له مرداس[۳] څخه اوبه راوړې تر څو نبي کریم ﷺ ورڅخه ځان خړوب کړي، چونکه اوبه بدبویه وې نو ویې نه څښلې خو مخ او سر یې پرې ومینځل او دا به یې ویل: چا چې د الله د پیغمبر مخ ویني کړی وي الله دې په خپل غضب او غصه اخته کړي.

نبي ﷺ وغوښتل چې د غر لوړې کمر سرته وخیژي چونکه جنګي مراحلو نبي کریم ﷺ ستړی او بې دمه کړی و که هر څومره یې زیار وویست خو په پورته کېدو ونه توانېد او دواړه زغرې یې هم اچولې وې، طلحه بن عبیدالله رضي الله عَنْهُ ترې لاندې کښېناست او هغه په تیکه ورپورته شو، طلحه بن عبیدالله رضي الله عَنْهُ د بې ساري مېړانې له کبله ورته نبي کریم ﷺ وویل: طلحه جنتي دی.

د احد د شهیدانو له جملې څخه یو هم مُخَیْرِیق رضي الله عَنْهُ و چې له بني ثعلبه بن فِطْیُون سره یې قبیلوي اړیکې لرلې، د احد په ورځ یې وویل: ای یهودانو! قسم په الله چې محمد ﷺ به هرومرو په تاسو بریمن وي، هغو ورته وویل: نن خو د شنبې ورځ ده! مخیریق رضي الله عَنْهُ

(۱) عوذ یې د اس نوم و.
(۲) سرف له مکې څخه د شپږ میلو په اندازه لرې پرته سیمه ده دی.
(۳) مرداس یا په احد کې د چینې نوم دی او یا هغه کمره کېره ده چې د کوهې تر غاړې ایښې وي منځ یې ژور وي اوبه پکې ساتل کېږي.

ورته وويل: شنبه شنبه نشته، خپله توره او جنګي ارتياوې يې واخستې او ويويل: که زه وفات شوم زما ټوله شتمني د محمد ﷺ ده، لګښت به يې د هغه په خوښه کيږي او بيا نبي کريم ﷺ ته راغی او د هغه په ملتيا يې د ژوند تر اخرې مرحلې پورې جنګ وکړ او شهيد شو، نبي کريم ﷺ وويل: په يهودانو کې خورا غوره او ډېره ګټوره هستي مخيريق رضي الله عَنْهُ دی.

ابوهريرة رضي الله عَنْهُ به خلکو ته ويل: دا به څوک وي چې جنت ته تللی دی او هيڅ لمونځ يې نه دی کړی؟ چې خلکو به نه پېژنده پوښتنه به يې ورڅخه وکړه چې څوک دی؟ هغه به ورته وويل: د بني عبدالاشهل د قبيلې اصيرم يعنې عمرو بن ثابت بن وقش رضي الله عَنْهُ دی.

حصين بن عبدالرحمن وياځېد او له محمد بن اسد څخه يې وپوښتل چې د اصيرم څه کهاني ده؟

هغه ورته وويل: اصيرم د خپل قوم په اسلام راوړنې تريو تريخ و، خو چې د احد په ورځ نبي کريم ﷺ غزا ته ووت، اسلام يې ډډ ته ننوت او مسلمان شو، خپله توره او نېزه يې راواخسته او د خلکو په منځ کې يې خپل اتلوال بريدونه وکړل هغه و چې د ټپونو په خوګلن کې پروت و، چونکه د بنو عبدالاشهل د قبيلې يو غړي په ټپيانو کې خپل زخميان پلټل څه ګوري چې اصيرم هم ټپي پروت دی، په ډېرې حيرانتيا يې ترې وپوښتل چې ته څنګه راغلی يې؟ د قوم سره د ملتيا په منظور او که اسلام ته دې غاړه ايښې ده؟

هغه وځوابو چې نا بلکې اسلام ته د غاړې کيښودنې له کبله راغلی وم، په الله پاک او د هغه په رسول مې د رښتني ايمان اظهار وکړ، بيا مې تورې ته لاس کړ او په پاکه مينه مې په دومره مېړانه جنګ وکړ او هغه څه راورسېدل چې تاسو مې وينې!! ډېر لږ ځنډ وروسته يې سترګې پټې شوې.

د اصيرم ټول غمزده نبي کريم ﷺ ته راغلل او د اصيرم ټوله تېره شوې لړې يې ورته واوروله، هغه ورته وويل: اصيرم جنتي دی.

عمرو بن الجموح رضي الله عَنْهُ چې خپله ګوډ شل هم و او په سرښندنه کې يې د زمري په څېر څلور زامن هم درلودل، د نبي کريم ﷺ سره به يې ټولو جنګي مراسمو ته د نر په څېر حاضري ورکوله، ټولو بچو ته يې د احد په ورځ جنګ ته له تللو څخه په دې عذر چې د الله له لورې په جنګ مکلف نه يې منعه کړ، عمرو بن الجموح رضي الله عَنْهُ په خپلې ګوډې خپې نبي کريم ﷺ ته عرض شو او ورته يې وويل: ستا سره د جنګ ډګر ته له تللو څخه مې د ګوډوالي له کبله بچيان پاتې کوي او زما دې په الله قسم وي چې په جنت کې په خپلې ګوډې خپې ګوډ شل تلل راته ډېر خوښ دي، نبي کريم ﷺ ورته وويل: ته معذور يې د الله پاک له لورې تا ته جهادي حکم نه دی متوجه.

او بچو ته يې ورله وويل: ولې يې له جهاد څخه رابندوئ؟ پرېږدئ کېدای شي الله پاک ورله د شهادت لوړه مرتبه ورکړي، هغه و چې په معرکه کې شهيد شو.

هند بنت عتبه رضي الله عَنْهَا او ورسره نورو مشرکانو ښځو به د نبي کریم ﷺ په شهید شوو ملګرو مثله (غوږ بوچي) کوله، غوږونه او پوزې به یې له شهیدانو نه پرېکولې، تر دې حده چې هند بنت عتبه رضي الله عَنْهَا د شهیدانو له غوږونو او پوزو نه پانزیبونه او امیل هم جوړ کړي و، دغه امیلونه یې بیا د جبیر بن مطعم غلام وحشي رضي الله عَنْهُ ته ورکړ، هېره دې نه وي چې هند بنت عتبه رضي الله عَنْهَا د حمزه رضي الله عَنْهُ خیټه هم څېرلې وه، په دې خاطر یې ترې زړه راوویست چې وینه ترې وڅکي خو پرې ونه توانېده او په ځمکه یې خطا کړ.

حلیس بن زبان چې د حبشیانو سردار و ابوسفیان رضي الله عَنْهُ یې ولید چې د حمزه رضي الله عَنْهُ خوله یې د نیزې په تیرو ښکته پورته کوله، هغه ورته وویل: ازاري!! د ازار خوند دې وڅکو؟ حلیس غږ پورته کړ چې ای بني کنانه! د قریشو لوی سردار وګورې چې په مړ وررور څه کوي؟

ابوسفیان رضي الله عَنْهُ ورته وویل: خوار شې چپ شه، پام کوه چا ته یې ونه وایې زما دا کار لوی حماقت دی.

بیا ابوسفیان رضي الله عَنْهُ لوړې غونډۍ ته پورته شو او په جګ اواز یې وویل: زما د خوښې کار درباندې وشو، جنګ جګړه موقعه ده، بریاوې به کله زمونږ او کله ستاسو وي، ای هبله!! دین دې نور هم سر لوړی کړه.

نبي کریم ﷺ عمر رضي الله عَنْهُ ته وویل: پورته شه او ځواب ورکړه.

عمر رضي الله عَنْهُ پورته شو او ورته یې وویل: الله پاک ډېر لوی ذات دی، مونږ او تاسو سره هېڅ کله برابر نه یو، زمونږ وژل شوي شهیدان او په جنت کې دي خو ولې ستاسو وژل شوي مرداران او په جهنم کې دي.

د عمر رضي الله عَنْهُ په خوله چې کله ابوسفیان رضي الله عَنْهُ وځوابول شو ورته یې غږ کړ: عمره! خوا ته مې راشه، عمر رضي الله عَنْهُ چې کله ورنزدې شوه ورته یې کړه: ستا دې په الله قسم وي چې رښتیا راته ووایه: ایا په رښتیا مو محمد ﷺ وژلی دی؟

عمر رضي الله عَنْهُ ورته وویل: ناهېڅکله هم تاسو نه دی وژلی، اوس مهال هغه زما او ستا خبرې اوري، ابوسفیان رضي الله عَنْهُ ورته وویل: د ابن قمئه څخه راته ته ډېر رښتونی ښکاري، ابن قمئه خو د جنګ په دوران کې رمبارې وهلې چې محمد مې وواژه.

ابوسفیان د بیا ځل لپاره په لوړ غږ وویل: ستاسو په وژل شوو باندې غوږبوچي شوې ده خو ولې زه پخپله پرې نه خوشحاله یم او نه مې پرې چا ته امر کړی دی خو څوک مې ترې رابند کړي هم نه دي.

له دې پړاو وروسته نبي کریم ﷺ علي رضي الله عَنْهُ په دې وګماره چې د قریشو حال او احوال راوړه، په ځیر وګوره چې هغوی نور څه کوي؟ هدایات یې ورته وکړ چې که قریش په اوښانو سپاره او اسونه یې خالي روان کړي وو پوهه شه چې مکې ته د تلو هوډ یې کړی دی او که په اسونو ناست او اوښان یې رامخکې کړي وو پوهه چې په مدینې د برید اراده لري، خو لوړه په رب

لا يزال که په مدينه د يرغل اراده ولري زه به ورته د ډېرې اتلولۍ او بهادرۍ سخت ځواب ورکړم.

علي رضي الله عَنْهُ وايي: زه هم د امر سره سم د قريشو د حالاتو کشف لپاره رهی شوم، څه ګورم چې په اوښانو سپاره او اسونه يې خوشې د مکې په لور روان کړي دي.

د جنګ جګړې څخه چې کله خلک وزګار شول نبي کريم ﷺ وفرمايل: د سعد بن الربيع رضي الله عَنْهُ اړوند به غوڅ راپور څوک راوړي؟ چې ژوندی به وي او که مړ به وي؟ يو انصاري[1] وويل: دغه راپور به زه راوړم، د څه لټون وروسته يې وليد چې ټپي ټپي پروت دی، انصاري ورته وويل: نبي کريم ﷺ ستا اړوند چې ژوندی به يې او که مړ؟ د غوڅو معلوماتو لپاره راستولی يم، هغه ورته وويل: زه خو لا په مړو کې شمېر يم، زما له پلوه به نبي کريم ﷺ ته ټولې نېکې هيلې او پيرزوينې وړاندې کړې، اوورته به ووايې چې ستا اړوند راته سعد بن الربيع وويل: زمونږ له پلوه دې الله په ګرد خير او سعادت ونازوه، او زما له پلوه به دې قوم او قبيلې ته هم نېکې هيلې تقديم کړې، ټولو ته به ووايې: ترڅو چې مو سترګې رپيږي تر هغه به د نبي کريم ﷺ په غوڅې ساتنې کلک او مضبوط ولاړ اوسئ ورنه الله پاک ته مو هيڅ عذر زاري قبوله نه ده، بيا لږ ځند ورسته يې ساه ورکړه او شهيد شو.

ما د سعد بن الربيع رضي الله عَنْهُ ټوله لړې نبي کريم ﷺ ته واوروله.

ما ته د رارسيدلي راپور له مخې نبي کريم ﷺ د خپل تره حمزه رضي الله عَنْهُ د لټون لپاره ووت، د خوړ په منځ کې يې وليد چې خيټه يې دوه څېرل شوې وه، زړه هم ورڅخه راوستل شوی و او مثله (غوږبوږی) هم پرې شوی و.

د حالاتو په ليدو سره يې وويل: که زما ترور صفيه رضي الله عَنْهَا د خفګان باعث نه جوړېدای نو حمزه رضي الله عَنْهُ به مې همداسې پرېښی و چې دريندګانو په خيټو او د مرغانو په ججورو کې وای، يا له ما څخه وروسته د شهيدانو د ښخولو وېره نه وای ما به پرېښی وای، خو که په کوم جنګ جګړه کې راته الله په قريشو بريا راکړي په بدل کې به يې په دري ديرشت کسانو مثله وکړم.

صحابه کرامو رضي الله عَنْهُمْ اَجْمَعِيْن چې کله په حمزه رضي الله عَنْهُ باندې د نبي کريم ﷺ خفګان او د هغه غوصه او قهرجنه سحنه وليده وويل: قسم په رب لا يزال که چرته هم يوه روځ مونږ په قريشو غازيان شوو داسې غوږبوچې به پرې وکړو چې په ټولو عربانو کې به چا نه وي کړی.

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وايي: د نبي کريم ﷺ او د صحابه کرامو له دغې خبرو وروسته الله پاک دا قول نازل کړ ﴿وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّـٰبِرِينَ ﴿١٢٦﴾ وَٱصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُ فِى ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُونَ﴾[2].

---

(۱) دا سړی محمد بن مسلمه رضي الله عَنْهُ و.

(۲) سورت نحل: (۱۲۶-۱۲۷). ژباړه: که چا ته سزا ورکوئ نو دومره ورکړئ چې په تاسو يې ظلم کړی دی خو که له زغم څخه مو کار واخست نو د صبرناک انسان لپاره زغم ډېر ښه دی * او له الله پاک پرته نور په هيڅ چا

هغه و چې نبي کريم ﷺ عامه بخشش اعلان کړ او له غوږ بوچې نه يې پرېکنده ممانعت وکړ.

د نبي کريم ﷺ د امر سره سم حمزه رضي الله عَنْهُ په څادر کې راونغښتل شو او د اوو تکبيرونو د جنازې لمونځ يې پرې وکړ، بيا يې نور شهيدان راوړل او د حمزه رضي الله عَنْهُ ترڅنګ به يې کېښودل او د جنازې لمونځ به يې پرې کو، تر دې چې دوه اويا لمونځونه يې پرې وکړل.

ابن اسحاق وايي: ما ته د رارسيدلي راپور له مخې صفيه رضي الله عَنْهَا وغوښتل چې د حمزه رضي الله عَنْهُ اخري ديدار وکړي او ورته وګوري ځکه چې له مور او پلار څخه يې خپل سکه ورور دی، نبي کريم ﷺ زبير بن العوام رضي الله عَنْهُ ته چې د صفيه رضي الله عَنْهَا ځوی و وويل: ورشه او مور دې ستنه کړه که په دې حالت کې يې وليد شايد ډېره زياته خفه شي.

زبير رضي الله عَنْهُ ورته وويل: د نبي کريم ﷺ په امر که بېرته ستنه شې!

هغې ورته وويل: ولې؟ زه پخوا خبره شوې يم چې په ورور مې غوږبوچې شوی دی، دومره ده چې هغه هر څه د الله رضا لپاره په ځان منلي و، لوړه په رب لا يزال چې زه به هرومرو صبر او حوصله کوم ان شاء الله.

زبير بن العوام رضي الله عَنْهُ نبي کريم ﷺ ته راغی او د صفيې رضي الله عَنْهَا فرمان يې ورته راوړ، هغه ورته وويل: بيا يې پرېږدئ چې د ورور ديدار وکړي.

صفيه رضي الله عَنْهَا چې کله حمزه رضي الله عَنْهُ ته وکتل اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ يې وويل اود بخشش لپاره يې ورله دعا وغوښته، له دې مرحلې وروسته نبي کريم ﷺ د حمزه رضي الله عَنْهُ په تدفين امر وکړ.

ځينو خلکو خپل شهيدان مدينې ته د ښخولو لپاره د ځان سره راپورته کړل خو ولې نبي کريم ﷺ ورڅخه منعه کړل اوورته يې وويل چې دوی به هلته خاورو ته سپارتلی شي چرته چې شهيدان شوي دي.

عبدالله بن ثعلبه رضي الله عَنْهُ وايي: نبي کريم ﷺ چې کله د احد شهيدان وليدل ويويل: د دې خلکو لپاره زه ګواهيورکوم چې د الله رضا په خاطر ټوک ويني ويني شي د قيامت په ورځ به يې الله پاک داسې راپورته کړي چې ټپونه به يې تازه وينه تويوي، د وينې رنګ به سور خو ولې بوي به يې د مشک په څېر وي، کومو شهيدانو ته چې د قران ډېره برخه ياده وي هغوی په تدفين کې له نورو مخکې کړئ، صحابه کرامو به په قبر کې دوه دوه او درې درې سره يو ځای کول.

له دې پړاو وروسته نبي کريم ﷺ د مدينې په لور وکوچېد، د حمنة بنت جحش – رضي الله عَنْهَا – سره مخامخ شول د ورور له مرګ څخه يې خبره کړه هغې اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ

صبر حوصله مه غواړه، او مه د کفارو له کرداره خفګان محسوسوه او د هغوی په چل پراږ ټنډه هم مه خرابوه.

کلمات وویل او د بخشش دعاګانې یې ورله وکړې، لږ ځنډ وروسته د خپل ماما حمزه رضي الله عَنْهُ له مرګ وخبرېده بیا یې اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ وویل او د بخشش دعا یې ورله وکړه، خو چې د خپل خاوند مصعب بن عمیر رضي الله عَنْهُ له مرګ وخبرېده بې ټنده او بې چروټه شوه، بې اختیاره یې چغې سورې پورته کړې، سمدستي نبي کریم ﷺ وویل: خاوند د ښځې په زړه کې ځانګړی مقام لري، دا خبره یې هله وکړه چې حمنه - رضي الله عَنْهَا - د خپل ورور او ماما په غم څومره صبر وکړ او د خاوند په مرګ څومره بې چرته او بې خاطره شوه.

په مدینه کې چې د بنو عبدالاشهل په قبیلې نبي کریم ﷺ تېرېده څه کوري چې له هر ټاټوبي څخه د غم ویر او ژړا اوري، نبي کریم ﷺ هم په ژړا شو او له سترګو مبارکو یې اوښکې رواني شوې، او بالاخره یې وویل: په حمزه د وېر ژړا هېڅ څوک هم نشته.

بنوعبدالاشهل ته چې سعد بن معاذ او اسید بن حضیر -رضي الله عَنْهُمَا- بېرته راستانه شول ښځو ته یې امر وکړ چې ولاړې شئ او د نبي کریم ﷺ د تره حمزه رضي الله عَنْهُ په شهادت دغم اظهار وکړئ، د بنو عبدالاشهل د قبیلې ښځو د مسجد په دروازه د غم وېر ژړا پیل کړه نبي کریم ﷺ ورته راغی او ویویل: الله دې په تاسو ټولو رحم وکړي ډېره ښه غم پالنه مو راسره وکړه بېرته لاړې شئ.

د بنودینار څخه یوه ښځه چې پلار، ورور او خاوند درېواړه یې په شهادت رسیدلي وو ورته د شهادت مبارکي وویل شوه، هغې وویل: د نبي کریم ﷺ روغتیایي حالت څنګه دی؟ هغوی ورته وویل: ستا چې څنګه ارزو وي هاغسې دی! ښځې ورته وویل: تاسو یې ما ته وښایئ چې زه یې ووینم، چا ورته اشاره وکړه چې هغه دی، ښځې چې نبي کریم ﷺ ولید ویویل: د غم ټولې لحظې اساني دي خو چې ته روغ یې.

کور ته په رسېدو نبي کریم ﷺ خپله توره فاطمې -رضي الله عَنْهَا- ته ورکړه او ورته یې وویل: لورجانې! دا واخله او له وینې څخه یې ووینځه نن مې پرې ایله بیله خپله میړان وښوده.

علي رضي الله عَنْهُ ورته هم خپله توره ورکړه اوورته یې وویل: زما توره هم واخله ما پرې هم نن خپله اتلولي ښکاره کړېده.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: که تا هم ښه میړانه وښوده خو سهل بن حنیف او ابودجانه هم د زیاتې اتلولۍ اظهارات وکړل.

د احد خونړېزه معرکه د شوال د میاشتې د شنبې په ورځ رامنځ ته شوې وه.

د شوال د میاشتې په اولسمه د یکشنبې په ورځ د نبي کریم ﷺ مؤذن خلکو ته ددښمن د بېرته راپرځولو اعلان وکړ او ورته یې وویل: نن ورځ به جنګ ته مونږ سره هغه څوک ځي چې پرون د احد د جنګ ګډونوال وو.

جابر بن عبدالله بن عمرو بن حرام - رضي الله عَنْهُمَا - ورته وویل: ای د الله رسوله! زه خو مې پلار اوو خوېندو ته پرېښی وم او راته یې ویلي وو چې ځویه! دا ښه خبره نه ده چې زه او ته دواړه جهاد ته لاړ شو او زنانه په کور کې بې سرپرسته پرېږدو، او دا مې هم نه دي خوښ چې د نبي کریم ﷺ په ملتیا جهاد کولو کې تا په ځان غوره وبولم، دا به ډېره ښه وي چې ته دې د خویندو په خدمت کې پاتې شې نو په دغې بنیاد زه په کور کې پاتې شوم.

د مقبول عذر په بنسټ ورته نبي کریم ﷺ اجازه ورکړه.

نبي کریم ﷺ په دې خاطر جنګ لپاره بیا ووت تر څو دښمن وډاروي او تر غوږونو یې ورسوي چې د جنګي هلو ځلو څخه تر اوسه هم مسلمانان ستړي ستومانه نه دي، اوس هم د اغیارو په لټون او تالاش کې دي.

نبي کریم ﷺ له مدینې څخه ووت او تر حمراء الاسد چې له مدینې څخه نزدې اته میله لرې پرته ده ورسېد، په مدینه یې عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عَنْهُ امیر وګماره او په حمراء الاسد کې یې درې ورځې (دوشنبه، سه شنبه او چهارشنبه) تېرې کړې او بېرته مدینې ته راستون شو.

بنو خزاعه چې کافر او مسلمان دواړه یې د نبي کریم ﷺ کلک تابع وو ورته راغونډ شول، چونکه دغه مهال معبد بن ابی معبد خزاعي د نبي کریم ﷺ سره مخ شو ورته یې وویل: لوړه په رب لایزال چې ستاسو حالت ډېر درمند کړو خو بېرته په دې ډېر خوشحاله یو چې ته روغ رمټ یې، نبي کریم ﷺ د معبد بن ابي معبد له ستنېدو هم هغسې په حمراء الاسد کې پاتې شو، د روحاء[1] په مقام کې معبد او ابوسفیان رضي الله عَنْهُ سره مخامخ شو، هغوی د بیا ځل لپاره په نبي کریم ﷺ او ملګرو یې د یرغل هوډ کړی و، خپل منځ کې یې سره وویل: که څه هم مونږ د نبي کریم ﷺ خورا زړور او باتوره ملګري ووژل د هغوی زور ځواک مو اوبه کړ خو ولې بیخ کني مو ورله ونه کړه، تر څو ترې په بشپړه توګه وزګار شو باید د بیا ځل لپاره د یرغل پوره امادګي ونیول شي.

ابوسفیان رضي الله عَنْهُ چې کله معبد ولید ورته یې وویل: وایه کنه معبده خلک څه وایي؟

معبد ورته وویل: ستا د رالاندې کولو په خاطر بېرته د داسې ملګرو سره راغلی دی چې دومره ګڼه جنګې لیکه ما په زندګۍ کې نه ده لیدلې او له غصې نه درته ډک خوټکیږي، اوس ورسره نور هغه هم مل او تړل شوي دي چې پرون یې ستاسو پر ضد جنګ کې ګډون نه و کړی او په خپلې ناستې ډېر بې تنده و، د هغوی غصه به تا ته زه څنګه تعبیر کړم دومره په قهر دي.

ابوسفیان رضي الله عَنْهُ ورته وویل: های غرق شې! دا څه وایې؟ هغه ورته وویل: که تاسو لږ نور هم ځنډ شئ ټخپله به یې د اسونو تندي ووینئ.

(۱) روحاء مقام له مدینې څخه د دوو شپو په فاصله کې لرې پروت دی.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ ورته وويل: مونږ خو د هغه د بيخ کنى لپاره د بيا يرغل کلک هوډ کړى دى دا به څنګه شي؟

معبد ورته وويل: پام کوه چې بيا بريد ته زړه نه ښه نه کړئ، ما چې کله وليدل نو څېنې شعري بيتونه مې هم وويل، ابوسفيان رضي الله عَنْهُ وپوښتل: کوم شعرونه دې ويلي دي؟ معبد ورته کړه:

كَادَتْ تُهَدُّ مِــنَ الْأَصْوَاتِ رَاحِلَتِي *** إِذْ سَالَتْ الْأَرْضُ بِالْجُرْدِ الْأَبَابِيـلِ

تَـــرْدِى بِأُسْـدٍ كِـرَامٍ لَا تَنَـابِلَـةٍ *** عِـنْـدَ اللِّقَـاءِ وَلَا مِيلٍ مَعَازِيــلِ

فَظَلْتُ عَدْوًا أَظُــنُّ الْأَرْضَ مَائِلَةً *** لَمَّـا سَمَـوْا بِرَئِيسٍ غَيْـرِ مَخْــذُولِ

فَقُلْتُ: وَيْلَ ابْنِ حَرْبٍ مِنْ لِقَائِكُمْ *** إِذَا تَـغَطمطتِ الْبَطْحَاءُ بِالْجِيـلِ

إِنِّي نَذِيرٌ لِأَهْــلِ الْبَسْلِ ضَاحِيَـةً *** لِـكُلِّ ذِي إِرْبَـةٍ مِنْهُـمْ وَمَـعْـقُـولِ

مِنْ جَيْشِ أَحْمَــدَ لَا وَخَشٍ تَنَابِلَةٍ *** وَلَيْسَ يُـوصَفُ مَا أَنْـذَرْتُ بِالْقِيـلِ

۞ نږدې وه چې سورلۍ مې په ځمکه هغه وخت د ګڼ شمېر وړو ويښتانو والا اسونو اوازونو له کبله راپرېوتی وی کوم مهال چې پرې دغه لا تعداد اسونه راغلل.

۞ په ډېره توندۍ ورسره معزز او باقدره اتلان راروان دي، چې نه بې زړه دي، نه له زين څخه راوليږي او نه بې سلاحه دي.

۞ له هيبته په دومره توندۍ راروان شوم چې ځمکه راته کږه نسکوره ښکارېده، او هغه مشرتابه يې هم ورسره و چې بې قدره او بې احترامه نه دی.

۞ له ځان سره مې وويل چې ابن حربه که خلکو سره په جنګ کې مخامخ شوې نو غرق او تباه به شې.

۞ زه په ښکاره ډول د حرم هستوګنوال او د هغوی هر عاقل او دانا له جنګ کولو ډاروم.

۞ د احمد له جنګي لښکر څخه يې ډاروم چې هېڅ ګډونوال يې بې زړه نه دی، او زه چې مو له څه شي ډاروم نو له برداشت نه بهر دی.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ چې د عبدالقيس روانه ډله يې وليده ترې وپوښتل: چرته ځئ؟

کاروان: مديني ته ځو.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ: په څه خاطر.

کاروان: د خوراکي توکو د پېرودلو په خاطر.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ: که محمد ﷺ ته زما يو سوال ځواب ورلې شئ نو زه به درته په عکاظ کې دومره مميز چې ستاسو کاروان يې ورلی شي درکړم.

کاروان: سمه دمه ده.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ: چې د محمد ﷺ سره کله مخامخ شوئ ورته به ووايئ مونږ قريشو يې د بيخ کنې کلک هوډ کړی دی.

نبي کريم ﷺ لا په حمراء الاسد کې و چې کاروان ورته د ابوسفيان رضي الله عَنْهُ د تبليغاتي جنګ خبره وکړه، نبي کريم ﷺ سمدستي وويل (حَسْبُنَا الله وَ نِعْمَ الوَكِيْلُ) الله پاک زمونږ لپاره بس او هغه ډېر ښه ذمه وار دی.

وړاندې له دې چې نبي کريم ﷺ مدينې ته ستون شي معاوية بن المغيرة بن ابي العاص او ابوعزة جمحي يې ونيول، ابوعزه چې نبي کريم ﷺ د بدر په غزا کې هم ژوندی نيولی و خو د زياتو لوڼو له کبله چې ترځو پالنه يې وکړې او د بې وسۍ او ناچارۍ له کبله يې احساناً له کوم عوض پرته رها کړ، يو ځل بيا يې نبي کريم ﷺ ته وويل: احسان راسره وکړه او خوشې مې کړه! نبي کريم ﷺ ورته وويل: دومره هوښيار شوې يې؟ بيا په مکه کې په بريتو لاسونه راکاږې او خلکو ته به وايې چې محمد مې دوه ځله دوکه کړ، زبيره! پاڅېږه او ورميږ ترې ووهه، هغه و چې سر يې ترې قلم کړ.

نبي کريم ﷺ چې کله مدينې ته راورسېد عبدالله بن ابي بن سلول چې په خپل قوم قبيل کې يې مکانت درلود مخه ور او د هغوی دروند سړی و، کله چې به نبي کريم ﷺ په ممبر ورپورته شو او په ځانګړې توګه د جمعې په ورځ نو عبدالله بن ابي بن سلول به پورته شو او ويل به يې: تاسو ته مخامخ هستي د الله ربښتني استازی دی، د دې په برکت درته الله قدر او احترام درکړی دی، ګلکه مرسته يې وکړئ او ملاتړی ته يې مضبوط ودرېږئ، خبرې يې واورئ او خبرې يې ومنئ او بيا به کښېناست.

خو د احد د جنګ په ورځ چې ده کوم ناوړه کردار ادا کړ او خلک يې د جنګې ليکې څخه بېرته مدينې ته راستانه کړل، يو ځل بيا په مسجد کې وپاڅېد او د خپل تېر عادت سره سم يې د جمعې په ورځ خپلې خبرې تکرار کړې، مسلمانانو له لمن څخه ونيو او ښکته يې پرې زور کړ چې د الله دښمنه! ته د دې خبرو کولو جوګه نه يې تا خو د احد په ورځ ډېره بده رويه وکړه.

د خلکو په څټونو يې خپې واړولې او بهر ووت لګيا و او ويل يې: ولې؟ ما خو څه بدې خبرې ونه کړې؟ زه خو د هغه مرستې اړوند وغږېدم، د مسجد په دروازه ورته يو انصاري وويل: تباه شې! بيا څه شوي دي! هغه ورته وويل: ما يې د مرستې اړوند ويناوې وکړې او ملګرو يې په کيناستلو مجبور کړم، لکه زه چې ورته د شر او فساد خبرې کوم!!

انصاري ورته وويل: ورشه چې د الله رسول درله د الله نه بخښش وغواړي، هغه ورته وويل: زما يې بخښش او ببښنې نه دي په کار.

ابن اسحاق وايي: په رښتيا چې احد ورځ د مسلمانانو په حق کې کړاوجنه او له ازميښت نه ډکه ورځ وه، د احد ورځ مسلمانان او منافقان سره جلا کړل.

الله پاک په کې مسلمانان او منافقان دواړه وازمول، په دغې ورځ الله پاک هغه منافقان ډېر ښه خلکو ته راښکاره کړل چې کفر یې په زړه کې پټ کړی و او په ژبه یې د ایمان کلمې ویلې، د احد ورځ هغه ورځ وه چې الله پاک په کې خپلو دوستانو ته مډالونه ورکړل.

## د هجرت په دریم کال د رجیع پېښه

د عضل[١] او قاره نومې قبیلو نه د نبي کریم ﷺ په حضور کې څه شمېر خلک عارض شول او ورته یې وویل: ته ښه پوهېږې چې مونږ مسلمانان یو، که ستا له ملګرو څخه راسره څوک واستوې چې هلته راته قران کریم، دیني احکام او مسئلې رازده کوي نو ډېره به ښه وي.

نبي کریم ﷺ د مرثد بن ابی مرثد غنوي، خالد بن بکیر، عاصم بن ثابت، خبیب بن عدي، زید بن الدثنة او د عبدالله بن طارق رضي الله عَنْهُمْ په ملتیا څه شمېر نفر واستول، د قوم سره د استول شو کسانو مشري نبي کریم ﷺ مرثد بن ابي مرثد غنوي رضي الله عَنْهُ ته ورکړه، قوم د منزل په لور رهی شو نزدې د رجیع نومې ځای ته ورسېدل.

رجیع په حجاز کې د هذیل د قبیلې اوبه وې چې تقریبا د (هدأة) څخه چې د عسفان او مکې ترمنځ موقعیت لري سرچینه اخسته، هلته قوم د سختې دوکې او پراږ له مخې د هذیل له قبیلې څخه د مسلمانانو په ضد د نظامي عملیاتو غوښتنه وکړه، د ګوتو په شمېر خلکو پرته نوره ټوله قبیله توري په لاس راولاړه شوه، صحابه رضي الله عَنْهُمْ چې کله وپوهېدل چې زمونږ سره خو دوکه وشوه، توري یې له تیکو څخه راوویستې، د هذیل قبیلې ورته وویل: مونږ ستاسو د وژلو هېڅ اراده نه لرو خو ولې مونږ غواړو چې ستاسو په بدل کې له مکې والاو څخه خپل بندیان ازاد کړو، دا مو درسره کلک عهد دی چې نه به مو وژنو.

مرثد بن ابي مرثد غنوي، خالد بن بکیر، عاصم بن ثابت رضي الله عَنْهُمْ درېواړ انکار وکړ او ورته یې وویل: مونږ هېڅکله د مشرکانو ژمنو ته غاړه نه ږدو او نه پرې باور لرو، په دې اړه عاصم رضي الله عَنْهُ وویل:

مَا عِلَّتِي وَأَنَـــا جَلْــدٌ نَابِلُ *** وَالْقَــوْسُ فِيهَا وَتَــرٌ عُنَابِلُ

تَزَلُّ عَنْ صَفْحَتِهَــا الْمَعَابِلُ *** الْمَوْتُ حَــقٌّ وَالْحَيَــاةُ بَاطِلُ

وَكُلُّ مَا حَـــمَّ الْإِلَـــهُ نَـازِلٌ *** بِالْمَــرْءِ وَالْمَــرْءُ إِلَيْهِ آئِـــلُ

---

(١) عضل او قاره دواړه د هون بن خزیمه بن مدرکه قبیلې دي.

- ولې؟ په ما څه شوي دي چې په ځوانه ځوانۍ کې چې غشي هم راسره دي، د لیندۍ تار مې هم پیاوړی دی او زه دې تسلیم شم!!
- داسې لینده چې لوی او پلن غشي ترې په اسانه وریږېدی شي، مرګ حق او ژوند د زوال سره مخ کېدونکی دی.
- د الله پرېکړې انسان ته هرومرو راتلونکي دي او انسان هم دغې پېښو ته ورتلونکی دی.

بیا یې تر هغه د قوم په ضد د خپلې ایماندارۍ او بهادرۍ اظهار وکړ چې د دواړو ملګرو په ملتیا شهیدان شول.

د عاصم رضي الله عَنْهُ په شهادت هذیل وغوښتل چې د عاصم رضي الله عَنْهُ سر مکې کې په سلافه بنت سعد بن شُهید باندې وپلوري، ځکه چې هغې نذر منلی و چې که د ژوند په هره لمحه کې ورته موقعه په لاس ورشي د احد په جګړه کې د عاصم رضي الله عَنْهُ په لاس د خپلو دواړو زامنو د مړینې په بدل کې به د عاصم رضي الله عَنْهُ په سر کې شراب وڅښي، خو د عاصم رضي الله عَنْهُ د شهادت په حالت کې یې په سر مچۍ او ډمبرې کښیناستې، د هذیل قوم وویل: تر شپې یې پرېږدئ تر څو مچۍ ورڅخه والوځي بیا به یې سر له تن څخه جلا کړو، د شپې له مخې الله پاک د اوبو لوی سیلاب راوست او عاصم رضي الله عَنْهُ یې له هغوی څخه پټ او پناه کړ.

عاصم رضي الله عَنْهُ په ژوند د الله پاک سره ژمنه کړې وه چې د مشرک د پلیتۍ له کبله ورته د ژوند په هېڅ مرحله کې لاس نږدې نه کړي.

عمر رضي الله عَنْهُ ته چې کله په عاصم رضي الله عَنْهُ د ډمبرو د څوکیدارۍ راپور ورسېد ویویل: په دغه خبر الله پاک مسلمانه هستي هر مهال ساتي، عاصم بن ثابت رضي الله عَنْهُ چې په ژوندینه د مشرک سره له لاس لګونې نه زړه توری و، په مړینه هم الله پاک د مشرکانو له لاسونو خوندي وساته.

زید بن الدثنه، خبیب بن عدي او عبدالله بن طارق رضي الله عَنْهُمْ درېواړو زړه نرم کړ، د دنیا ژوند پرې لږ څه خوږ ولګېد ځانونه یې دښمن ته ورکړ، هغوی درېواړه د ځان سره په بند محکوم کړل او مکې ته یې د پلورلو لپاره واستول، ظهران نوم ځای ته په رسیدو عبدالله بن طارق رَضِيَ الله عَنْهُ خپل لاسونه له اتکړو وویستل او توره یې لاس کړه، دا چې هذیل قبیله ترې وروسته شوه نو تر اخرو سلګو پورې یې په کاڼو کېږو وویشت، د عبدالله بن طارق رضي الله عَنْهُ قبر په ظهران کې دی.

خبیب بن عدي او زید بن الدثنه رضي الله عَنْهُمَا یې دواړه لاس تړلي مکې ته ورسول او په مکه کې یې د دوو هذلینو په بدل کې ورکړل او خپل یې پرې ازاد کړل.

خبيب رضي الله عَنْهُ خو حجير بن ابی اهاب د خپل پلار عقبه بن الحارث بن عامر په بدل کې چې خبيب رضي الله عَنْهُ د بدر په ورځ مردار کړی وی واخست.

او صفوان بن اميه د خپل پلار د غچ اخستلو لپاره زيد بن الدثنة رضي الله عَنْهُ وپېرود او د خپل غلام نسطاس په لاس يې له حرم څخه د باندې په تنعيم نوم ځای کې په شهادت ورسو رَضيَ الله عَنْهُ.

مرګ ته يې خورا زيات قريش راغونډ شوي وو چې يو هم په کې ابوسفيان بن حرب رضي الله عَنْهُ و، د وژل کېدو وړاندې لږ شيبې مخکې ورته ابوسفيان رضي الله عَنْهُ وويل: زيده! ستا دې په رب لايزال قسم وي چې رښتيا ووايه چې ايا ته غواړې چې ستا په ځای اوس مونږ سره محمد ﷺ په دار ځړول شوی وی؟ او يا يې سر قلم کېدی؟ او د هغه پر ځای ته په کور کې ناست وې؟

هغه ورته وويل: لوړه په رب لايزال چې دا مې له برداشت نه بهر دي چې د غنې قدرې درد هم ورته ورسيږي او زه دې په کور کې بې درده د خپلې کوروداني سره ناست يم!!

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ وويل: د محمد ﷺ د ملګرو په څېر محبت ما په هېڅ چا کې نه دی ليدلی، له دې وروسته نسطاس راوپاڅېد او په شهادت يې ورسو.

د حُجير بن ابي اهاب وينځه ماويه رضي الله عَنْهَا چې وروسته يې ايمان هم راوړ وايي: خبيب رضي الله عَنْهُ زما سره په کور کې بنديوان و، يوه ورځ مې ورته د بند پرځای سر ورپورته کړ چې د انګور لوی زنګورکې چې يوه دانه يې د انسان د سر په اندازه لوی وه وليد چې خوراک يې ورڅخه کو، سره له دې چې دغه مهال په مکه کې بيخي انګور نه وو.

چې کله يې په دار ځړو راته يې وويل: د وېښتانو د خرېيلو لپاره څه راواستوه تر څو زه هم د مرګ لپاره تياری ونيسم، ما ماشوم ته د وېښانو لرې کولو پتری ورکړ او ورته مې وويل: دا پتری دغې کور ته دننه يوسه او بنديوان ته يې ورکړه، هلک پتری واخست او لاړ، د ځان سره مې وويل: ډېره تېروتې! هسې نه چې هلک راڅخه ووژني ګنې سر به په سر کې لاړ شي!

ماشوم ورته د پترې ورکول لپاره لاس نږدې کړ، لومړی يې ترې پتری واخست او بيا يې وويل: تا ته چې دې مور پتری درکو نو پر ما له غدر او دوکې څخه وډار شوه؟ او بيا يې راپرېښود.

د تنعيم نوم ځای ته خلکو خبيب رضي الله عَنْهُ د مرګ لپاره روان کړ، وړاندې له دې چې په دار يې پورته کړي خبيب رضي الله عَنْهُ ورته وويل: که له مرګ وړاندې راته د دوو رکعتونو لمونځ وخت راکړې نو ښه به وي!

هغوی ورته وويل: دوه رکعته دې هم وکړه، خبيب بن عدي رضي الله عَنْهُ په ډېر بې نظيره کيفيت دوه رکعته لمونځ بشپړ کړ او بيا يې خلکو ته مخ راوګرځو او ورته يې وويل: که دا وېره

مې نه محسوسوله چې تاسو به وایئ د مرګ له ډاره یې لمونځ لا پسې اوږد کړ نو ما به ډېر اوږد لمونځ کړی وی، له مرګ وړاندې د مسلمان دوه رکعته کول د خبیب رضي الله عَنْهُ سنت دي.

بیا یې د دار په لرګي ورپورته کړ او کلک یې وتړه، خبیب رضي الله عَنْهُ وویل: ای الله! مونږ خو ستا د استازي مشن مخ په وړاندې روان کړی و ته یې زمونږ په روان لړې ډېر زر وخبروه.

بیا یې وویل: ای الله! دا خلک یو یو شمار کړې، او بېلابېل یې تباه کړې، ای الله! بې له هلاکته یو هم پرې نه ږدې! او بیا یې په شهادت ورسو رضي الله عَنْهُ.

معاویة بن ابي سفیان رضي الله عَنْهُمَا وایي: زه هم د پلار سره د خبیب بن عدي رضي الله عَنْهُ د مرګ سېل ته تللی وم، د خبیب رضي الله عَنْهُ د ښېراه په مهال مې پلار ځمکه باندې په ډډه واچولم، هغه وخت داسې مشهوره وه چې د ښېراه کولو په وخت کې څوک په ډډه څملي ښېراه پرې نه لګېږي.

عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ د خپل واک په دور کې سعید بن عامر جمحي رضي الله عَنْهُ د شام په ځېنو برخو ګورنر ګمارلی و، د قوم او خلکو ترمنځ به ناڅاپه بېهوشه او بې حاله شو، عمر رضي الله عَنْهُ ته شکایت راورسېد چې راستولی ګورنر دې روغ نه دی داسې بریښي چې دماغي توازن یې له لاسه ورکړی دی، یو ځل عمر رضي الله عَنْهُ شام ته لاړ او ورته یې وویل: د خپل بې حاله کېدو اړوند څه اټکلوې؟

هغه وویل: په دماغي توازن کې هېڅ ستونزه نه لرم خو زه د خبیب رضي الله عَنْهُ د دار ځړونې سیالګری وم، د هغه د ښېراه اواز مې اوس هم تر غوږ غوږ کېږي، چې د ښېراه لړې یې رایاده کړم بې هوشي راباندې راشي، د عمر رضي الله عَنْهُ په کتاب کې د سعید رضي الله عَنْهُ دغې تقوا لا پسې حیثیت اضافه کړ.

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وایي: د رجیع په درمنه پېښه کې چې کله مرثد غنوي او عاصم رضي الله عَنْهُمَا په شمول نور صحابه کرام رضي الله عَنْهُمْ په شهادت ورسېدل منافقانو به ویل: دا خلک څومره بې عقله دي؟ په څومره بې رحمانه توګه ووژل شول بیا هم نه کور کې قلار د خپلو بچو سره کیني او نه یې د خپل ملګري دعوتي مشن تر پایه ورسو!!

هغه و چې الله د منافقانو اړوند دا ایتونه نازل کړل: ﴿وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يُعۡجِبُكَ قَوۡلُهُۥ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيُشۡهِدُ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا فِي قَلۡبِهِۦ وَهُوَ أَلَدُّ ٱلۡخِصَامِ ﴿٢٠٤﴾ وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُفۡسِدَ فِيهَا وَيُهۡلِكَ ٱلۡحَرۡثَ وَٱلنَّسۡلَۗ وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ ٱلۡفَسَادَ ﴿٢٠٥﴾ وَإِذَا قِيلَ لَهُ ٱتَّقِ ٱللَّهَ أَخَذَتۡهُ ٱلۡعِزَّةُ بِٱلۡإِثۡمِۚ فَحَسۡبُهُۥ جَهَنَّمُۖ وَلَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٢٠٦﴾ وَمِنَ ٱلنَّاسِ مَن يَشۡرِي نَفۡسَهُ ٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ رَءُوفُۢ بِٱلۡعِبَادِ﴾[1]

(۱) سورت بقره: (۲۰٤–۲۰۷). ژباړه: ځېنې داسې خلک به وګورې چې د ژوند په رابطه به درسره غوڅې خبرې کوي چې ته پرې خوشحالېږې او تا ته په خپل زړه الله ګواه کوي حالانکه خپله به لوی جګړاو او زبان درازه وي *

خبیب رضي الله عَنْهُ چې کله وپوهېد چې قریشو یې د وژلو غوښه پرېکړه کړې ده دا شعري بیتونه یې وویل:

لَقَـدْ جَمَّعَ الْأَحْزَابُ حَـوْلِي وَأَلَّبُوا *** قَبَائِلَهُـمْ وَاسْـتَجْمَعُوا كُلَّ مَجْمَعِ
وَكُلُّهُمْ مُبْـدِي الْعَدَاوَةَ جَـاهِدٌ *** عَـلَيَّ لِأَنِّي فِي وِثَـاقٍ بِمَضْيَـعِ
وَقَدْ جَمَّعُـوا أَبْنَاءَهُمْ وَنِسَـاءَهُمْ *** وَقُرِّبْـتُ مِنْ جِذْعٍ طَوِيـلٍ مُمَنَّعِ
إِلَى اللهِ أَشْـكُو غُرْبَتِي ثُمَّ كُرْبَتِي *** وَمَا أَرْصَدَ الْأَحْزَابُ لِي عِنْدَ مَصْرَعِ
فَذَا الْعَرْشِ، صَبِّرْنِي عَلَى مَا يُرَادُ بِي *** فَقَدْ بَضَّعُوا لَحْمِي وَقَدْ يَاسَ مَطْمَعِي
وَذَلِـكَ فِي ذَاتِ الْإِلَهِ وَإِنْ يَشَـأْ *** يُبَارِكْ عَـلَى أَوْصَالِ شِـلْوٍ مُمَزَّعِ
وَقَدْ خَيَّرُونِي الْكُفْرَ وَالْمَوْتُ دُونَهُ *** وَقَدْ هَمَلَتْ عَيْنَايَ مِنْ غَيْرِ مَجْزَعِ
وَمَـا بِي حِذَارُ الْمَـوْتِ، إِنِّي لَمَيِّتٌ *** وَلَكِنْ حِـذَارِي جَحْمُ نَار ملفّع
فوالله مَـا أَرْجُو إِذَا مِتُّ مُسْـلِمًا *** عَلَى أَيِّ جَنْبٍ كَانَ فِي اللهِ مَصْرَعِي
فَلَسْـتُ بِمُبْـدٍ لِلْعَـدُوِّ تَخَشُّـعًا *** وَلَا جَـزَعًا إِنِّي إِلَى اللهِ مَرْجِـعِي

❁ زما ارد ګرد د سیال لپاره ډېرو خلکو خپل خیلونه کورنۍ په خورا ګڼ شمېر راټولې کړې دي.

❁ هر سیالګر راسره د تربګنۍ اظهار کوي په دې چې زه په اتکړو کې په زیاته بې رحمانه توګه ترل شوی یم.

❁ ټولو خپل بچیان او ښځې راوستلې دي او زه یې د کجورې د لوی او غټې تنې ته نژدې کړی یم.

❁ د خپلې بې وسۍ او بې کسۍ فریاد الله پاک ته کوم چې د دارځړونې په وخت کې خلکو زما لپاره څه څه نه دي کړي؟

❁ ای د عرش لوی ښتنه! د ستونزې په روانه لړې سرښندنه راپه برخه کړه، غوښه یې راله ټوټه ټوټه کړه او خوراک مې هم ناوړه دی.

❁ په الله پاک باندې د باور لرو په خاطر په دار ځېژولی شم، خو که د الله رضا وي زما په توکړه توکړه شوي اندامونو کې به خیر او برکت واچوي.

---

او کله چې ستا له خوا ولاړ شي په ځمکه کې يې د خورا ډېر فساد او تخریبکارۍ هلې ځلې کوي په دې خاطر چې زرغونه او راټوکېدلی فصل او نوی نسل بې جرړې کړي او الله پاک ته هېڅ نوعه تخریب کاري پسنده نه ده * او چې کله ورته وویل شي چې له الله پاک څخه وډار شه نو دعصبیت غیرت یې ونیسي جهنم ورلره بس دی او جهنم د دوی لپاره ډېر بدترین ځای دی * او په خلکو کې داسې هم شته چې د الله پاک د خوشحالولو لپاره یې ځان په الله خرڅ کړی وي او الله پاک په خپلو بندګانو باندې ډېر د رحم او مهربانۍ والا دی.

- که څه هم د ژوند په بدل کې يې راته د کفر اختيار هم راکړ خو ولې مرګ ترې راته ډېر پسند دی او له ډار پرته مې سترګې بقې راوتې دي.
- لوړه په رب لايزال چې که مسلمان ومرم نو د الله پاک په لاره کې په مرګ او د مرګ په هېڅ کيفيت مې پروا نشته.
- اغيار او غليم ته به هيڅکله سر ټيټ نه کړم ځکه چې د ژوند پای مې الله ته په ورتګ ده.

حسان بن ثابت رضي الله عَنْهُ په خبيب رضي الله عَنْهُ وژړل او دا بيتونه يې وويل:

مَا بَــالُ عَيْنِكَ لَا تَرْقَــا مَدَامِعُهَا *** سَحًّا عَلَى الصَّدْرِ مِثْلَ اللُّؤْلُؤِ الْقَلِقِ
عَلَى خُبَيْبٍ فَتَى الْفِتْيَانِ قَدْ عَلِمُوا *** لَا فَشَــلٍ حِينَ تَلْقَاهُ وَلَا نَـــزِقِ
فَاذْهَبْ خُبَيْبُ جَــزَاكَ الله طَيِّبَةً *** وَجَنَّةُ الْخُلْدِ عِنْــدَ الْحُورِ فِي الرُّفُقِ
مَاذَا تَقُولُــونَ إِنْ قَالَ النَّبِيُّ لَكُمْ *** حِينَ الْمَلَائِكَةِ الْأَبْرَارِ فِي الْأُفُقِ
فِيــمَ قَتَلْتُمْ شَــهِيدَ الله فِي رَجُلٍ *** طَاغٍ قَدْ أَوْعَثَ فِي الْبُلْدَانِ وَالرُّفَقِ

- د سپينو ملغلرو په څېر دې سترګې په سينه باندې غټې غټې اوښکې سيلابونه ولې نه تويوي؟
- ولې د اتلانو په خورا لوی اتل خبيب رضي الله عَنْهُ باندې نه ژاړې؟ داسې ځوک چې د جنګ په وخت کې نه بوزديله او نه بد اخلاقه و.
- خبيبه! رضي الله عَنْهُ په جنت الفردوس کې دې الله پاک په حورو او ډېرو ښو نېکو ملګرو ونازوه.
- چې ملائک د اسمان په څنډو کې وي او پيغمبر درته ووايي چې خبيب رضي الله عَنْهُ مو ولې د داسې سړي په بدل کې وژلی و چې بديل يې په کلو ښارونو او حتی په ملګرو هم سرغړونکی او ورانکاری و؟ نو ستاسو د مشرکانو به بيا څه ځواب وي.

## د هجرت په څلورم کال د بئرمعونې دردناکه پېښه

نبي کريم ﷺ په مدينه کې د شوال د پاتې ورځو په شمول د ذی القعده او ذي الحجې او محرم مياشتې تېرې کړې، دغه کال د حج اړوند مراسم د مشرکانو تر ولکې لاندې وو.

د احد له پېښې څلور مياشتې وروسته نبي کريم ﷺ د بئرمعونې ښکار شوې ملګرې واستول.

د پېښې لړې داسې وه چې مشهورترین نېزه باز ابوبراء مالک بن جعفر مدینې ته راغی او د نبي کریم ﷺ سره یې لیدل کتل وشول.

د ملاقات په دوران کې ورته رسول الله ﷺ د اسلام بلنه ورکړه، ابوبراء نه خو اسلام ته غاړه کېښوده او نه یې کوم عکس العمل وښود، خو نبي کریم ﷺ ته یې دومره وویل: محمده! ﷺ که ځینې ملګري دې راسره نجدیانو ته واستوې او دوی هلته ستا دین ته بلنه ورکړي، زیات امید مې دی چې شاید ستا دین ته غاړه کېږدي.

نبي کریم ﷺ وځوابو چې له نجدیانو څخه مې په ملګرو ډار محسوسوم.

ابوبراء ورته وویل: ستا د ملګرو د امن او امان ذمه داري زما په غاړه ده خو چې ستا دین ته خلک راوبلي.

د بنوساعده د «مرګ لټونوال» په لقب غازي منذر بن عمرو رضي الله عَنْهُ په شمول یې د خپلو ملګرو څخه څلوېښت خورا درانه او مخه ور ملګري واستول لکه حارث بن الصمة، حرام بن ملحان، عروة بن اسماء، نافع بن بدیل بن ورقاء، د ابوبکر غلام عامر بن فهیره او داسې نور.. رضي الله عَنْهُمْ تر دې چې د معونې نوم ځای تر څاه ورسېدل.

معونه د بنو عامر او بنوسلیم د قبیلو ترمنځ پرته ځمکه وه، اګر که نورې قبیلې هم وره نزدې وې خو ولې نسبةً بنو سلیم ورته ډېر نزدې وو.

د مسلمانانو ضد جګړې ته عامر بنو سلیم په توندۍ راوبلل، ټول قوم راغی او مسلمانان یې په خپل تم ځای کې راګېر کړل، کله چې مسلمانان پوهه شول چې خلکو ارادې خو بدلې دي، خپلې تورې یې له تېکو څخه راوویستې، له کعب بن زید چې شم کور هم و پرته نور ټول شهیدان شول رضي الله عَنْهُمْ کعب بن زید رضي الله عَنْهُ یې د شهیدانو له منځ نه ټپي ټپي راوویست او بیا د خندق په غزا کې شهید شو.

عمرو بن امیه الضمري او د انصارو د بنوعمرو بن عوف له قبیلې څخه یو بل نفر چې منذر بن محمد بن عقبه نومېده رضي الله عَنْهُمَا دواړه د مرغانو له کبله چې په هوا کې په شهیدانو چورلیدل خبر شول، دواړو وویل: دغه مرغان بې مقصده نه چورلیږي، دواړه راغلل څه ګوري چې صحابه په وینو کې لت پت پراته دي او اسونه یې د ښمن په لاسونو کې ولاړ دي، انصاري عمرو بن امیه رضي الله عَنْهُ ته وویل: وایه اوس باید څه وکړو؟ هغه ورته وویل: زه وایم چې باید رسول کریم ﷺ ته حضور یوسو تر څو په پېښه یې وخبروو.

انصاري ورته وویل: منذر بن عمرو رضي الله عَنْهُ چې په کومه خاوره وژل شوی دی تر مرګه به له هغه ځایه هېڅ چرته لاړ نه شم، بیا د غلیم سره تر هغه لاس او ګرېوان شو چې شهید شو.

عمرو بن اميه الضمري رضي الله عَنْهُ د مقابل سره ژوندی غلام پاتې شو، عامر بن الطفیل چې کله وپوهېد چې بندیوان خو د مضر د قبیلې دی په دې نیت چې مور يې د مضري غلام د ازادولو منښته کړې وه د سر ویښتان يې ورله وکلول او ازاد يې کړ.

عمرو بن اميه رضي الله عَنْهُ بېرته مدينې ته د راستنېدو په مهال د قنات پورتنۍ برخې قرقره[1] نوم ځای ته راورسېد د بنوعامر قبیلې د دوو غړو سره یې د ونې لاندې دمه واخسته، که څه هم د بنوعامر دواړ غړو له نبي کريم ﷺ نه امان هم اخستی خو عمرو بن اميه رضي الله عَنْهُ پرې ناخبره و، وړاندې له دې چې ارام وکړي عمرو بن اميه رضي الله عَنْهُ ترې وپوښتل چې څوک یاست؟ دواړو وویل: د بنوعامر غړي یو.

تر هغه ورته عمرو بن اميه رضي الله عَنْهُ تم شو چې په شيرين خوب دواړه ويده شول، هغه راوپاځېد او دواړه يې په دې اند ووژل چې د نبي کريم ﷺ د ملګرو غچ واخلي.

مدينې ته په رارسېدو چې کله عمرو بن اميه رضي الله عَنْهُ تولهٔ لړې نبي کريم ﷺ ته واروله نو ورته يې وويل: تا خو دوه داسې نفر وژلي دي چې هرومرو به يې زه ديت ورکوم.

بيا نبي کريم ﷺ وويل: دا د ابوبراء کارونه دي، له پېله يې استولو باندې خوشحاله نه وم، او د هغه څه ډار مې محسوسو چې وشول.

د عامر بن الطفيل په بې وفايۍ او د نبي کريم ﷺ د ملګرو په بې رحمانه انداز وژلو باندې هغه ډېر بې تنده و.

د معونې د څاه په پېښه کې عامر بن فهيره رضي الله عَنْهُ هم شهيد شوی و.

هشام بن عروه له خپل پلار څخه نقلوي چې عامر بن الطفيل وويل: يو سړی مې له مړينې وروسته د ځمکې او اسمان ترمنځ وليد او تر هغه پورته روان و چې اسمان يې د خپو لاندې کړ، چې دا به څوک وي؟ خلکو ورته وويل: هغه عامر بن فهيره رضي الله عَنْهُ و.

## په څلورم هجري کال کې د بنو نظير شړل

د بنو عامر هغه دوه وګړي چې عمرو بن اميه رضي الله عَنْهُ په تېروتنه کې وژلي وو د ديت ورکولو لپاره يې نبي کريم ﷺ له بنونظيرو سره د دوستانې لاسليک په بنسټ په ديت کې د مرستې غوښتنې لپاره ورغی، هېره دې نه وي چې بنونظير او بنو عامر سره هم خپل منځ کې

(١) قرقره له مدينې څخه اته ميله فاصله کې لرې پرته ده، او قنات د قرقرة الكدر نه په راښکته بهيږي.

دوستانه لیک درلود.

د نبي کریم ﷺ د راتګ سره ورته ټولو وویل: ابوالقاسم! ﷺ مونږ به تا ته دومره برخه درکړو چې تا ته به پسنده وي.

لږ وروسته بنو نظیر سره خپل منځ کې ببل شول او مشوره یې وکړه چې سړی په ډېر ښه موقعه دی، د مرګ به یې بله داسې موقعه هېڅ چرته په لاس رانشي.

دا چې نبي کریم ﷺ د هغوی د کورونو دېوالونو لاندې دمه اخستې وه، سره یوه خوله شول چې د کور له بره پرې څوک لویه ډبره راګوزار کړي تر څو مو ترې غوږونه په ارام شي!

دعمرو بن جحاش په نوم یهودي راولاړ شو چې د ډبرې راخطا کول زما دنده شوه، عمرو بن جحاش یهودي د خپلې موخې د عملي کولو لپاره د کور په سر ورپورته شو، نبي کریم ﷺ ابوبکر، عمر او علي رضي الله عَنْهُمْ ټول د دېوال لاندې ناست وو.

د یهودانو د وژنې پراډ او منصوبه الله بې نقابه کړه، نبي کریم ﷺ ته پېغام راغی، په توندۍ سره وپاڅېد او د مدینې په لور رهی شو.

صحابه کرام رضي الله عَنْهُمْ یې مدینې ته په بېرته ستنېدو هېڅ ونه پوهېدل، له مدینې څخه چې له یو راروان نه یې پوښتنه وکړه هغه ورته وویل چې ومې لید مدینې ته لاړ.

په بنو نظیرو کې د نبي کریم ﷺ پاتې ملګري هم د مدینې په لور وتپېدل تر دې چې د هغه حضور ته یې تشریف راوړ، د لیدو سره سم ورته نبي کریم ﷺ د یهودانو د جوړه کړې منصوبه او غدر واورو، نبی کریم ﷺ د بنونظیرو سره د خونړیزې معرکې لپاره د چمتوالي اعلان وکړ ټول صحابه کرام رضي الله عَنْهُمْ په جنګي لباس پوښل شوې د بنونظیر ودانیو ته ورغلل، هغوی ترې په خپلو ماڼو، بنګلو او لویو لویو قلاونو وردننه شول، نبی کریم ﷺ قرار صادر کړ چې د یهودانو ولاړې کجورې په اور لمبه کړئ، له ماڼو څخه دننه بنونظیرو غږونه پورته کړل چې محمد! ﷺ دغه خو ته ورانکاري ده او په نورو یې تور بولې، د کجورو ونې په اور مه سوځوه.

د بنو عوف بن الخزرج څخه عبدالله بن ابي بن سلول، ودیعه، مالک بن ابي قوقل، سوید، داعس او څه شمېر نور خلک بنونظیرو ته ولاړل او په خپل دریځ یې لا پسې کلک کړل چې خاطر مو راغونډ کړئ، مونږ مو ملاتړ کوو، هېڅکله به ورته تاسو یواځې نه پرېږدو، که چا درسره جنګ کو مونږ مو به جنګ کې ملتیا کوو او که له مدینې څخه یې د باندې ویستئ مونږ به هم درسره ووځوو.

که بنو نظیر هر څومره د مالي او ځاني مرستې وږي وو ډېر انتظار یې وویست خو له هېڅ کوم پلوه ورته کومک رانغی، بلکې الله پاک د بنونظیرو په ګوګل او زړه کې ډار لاپسې اضافه

کړ، له نبي کريم ﷺ څخه يې غوښتنه وکړه چې وينه يې توي نه کړي په دې شرط چې له اسلحې پرته به نور دومره کورنی ساز وسامان پورته کړي چې اوښان يې وړلی شي.

نبي کريم ﷺ يې عرض ومنو، د ځانونو سره يې دومره څه يوړل چې اوښانو يې بار وړلی شو، ځينو يهودانو د ځان سره د کورونو دروازې او درشلې هم يوړې او د خيبر په لور وتپېدل او ځينې خو يې بيخي شام ته لاړل، د بنونظيرو د مخه ورو له جملې څخه چې لنډ خيبر ته ستانه شول سلام بن ابي الحقيق او کنانة بن الربيع بن ابي الحقيق او حيي بن اخطب وو.

د دې مشرانو په خيبر کې د پاتې کېدو سره کوز پاتې خلکو کلکه ملتيا پيل کړه.

عبدالله بن ابي بکر راته وويل: د يهودانو دغو مشرانو خپلې ښځې، بچيان او شتمني خورا مستقله کړه، دوی مخکې او ورپسې خلکو به باجې او ډولکې سوربنې وهل، سندرغاړو يې هم په خورا زړه راښکونکو اوازونو غزلی او سندرې ويلې، د عمرو بن عبدود بې سارې حسينه وينځه هم ورسره وه چې دوی ورڅخه پلورلې وه[1].

په دومره ناز او مکېز يې سوربنې باجې وهلې چې ساری يې نه درلود.

بنونظيرو خپل مالونه نبي کريم ﷺ ته پرېښودل، هيڅ چا هم وريکې حق نه درلود، نبي کريم ﷺ پخپل شامل اختيار اړتيا مناسب لګښتونه پيل کړل، په لومړي پړاو کې يې له انصارو ورونو وراندې هغو خلکو ته چې لومړی هجرت يې کړی و، برخې ورکړې، خو دا چې سهل بن حُنيف او ابودجانه سماک بن حرب رضي الله عَنْهُمَا د خپل فقر او فاقت ځانګړې يادونه وکړه د هغوی لپاره يې هم پکې برخې ورکړې.

د بنونظيرو اړوند الله پوره سورت حشر نازل کړل، په سورت کې په بنونظيرو باندې الله پاک خپل عذاب، په هغوی د نبي کريم ﷺ مسلّط کېدل او دغوځې پرېکړې يادونه کړې ده.

الله پاک فرمايي ﴿سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝١ هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا

(١) د عمرو بن عبد ود د دغې وينځې نوم سلمی و، سلمی پخپله د لومړي ځل لپاره په مزينه قبيله کې واده وه، عمرو بن عبدو په مزينه قبيلې بريد وکړ او سلمی يې په کې وينځه وکړه، عمرو بن عبد ود د بنونظيرو سره د پلور پېر او د پور تېنګې اړيکې لرلې، بنونظيرو چې کله سلمی وليده د پېر اړوند يې د عمرو بن عبد ود سره خبرې وکړې خو هغه کلک انکار وکړ، په دې جريان کې پرې شراب وڅښل بيا يې ترې وغوښته چې سلمی خرڅوې؟ نو هغه پرې سلمی خرڅه کړه او ګواهان يې پرې هم ونيول، عمرو بن عبدو د دې پېښې اړوند دا شعرونه وويل:

سَقَـوْنِي الْخَـمْـرَ ثُمّ تَكَنّفُـونِي ** عُـدَاةُ اللهِ مِنْ كَـذِبٍ وَزُورِ
فَيَا لِلنّاسِ كَيْفَ غَلَبْت نَفْسِي ** عَلَى شَيْءٍ وَيَكْرَهُهُ ضَمِيرِي

❁ شراب يې راباندې وڅښول او دغه د الله دښمنان راباندې په دروغو او بهتان په داسې څه راټول او ګواه شول چې زما ضمير يې نه مني خو ولې حيران دې ته يم چې په نفس څنګه غالبه شوی يم؟

مِنْ أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ مِن دِيَٰرِهِمْ لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ ۚ مَا ظَنَنتُمْ أَن يَخْرُجُوا۟ ۖ وَظَنُّوٓا۟ أَنَّهُم مَّانِعَتُهُمْ حُصُونُهُم مِّنَ ٱللَّهِ فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ
مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا۟ ۖ وَقَذَفَ فِى قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعْبَ ۚ يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِى ٱلْمُؤْمِنِينَ فَٱعْتَبِرُوا۟ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٢﴾
وَلَوْلَآ أَن كَتَبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمُ ٱلْجَلَآءَ لَعَذَّبَهُمْ فِى ٱلدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِى ٱلْءَاخِرَةِ عَذَابُ ٱلنَّارِ ﴿٣﴾ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَآقُّوا۟ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ۖ
وَمَن يُشَآقِّ ٱللَّهَ فَإِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴿٤﴾ مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَآئِمَةً عَلَىٰٓ أُصُولِهَا فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ وَلِيُخْزِىَ
ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٥﴾ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْهُمْ فَمَآ أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن
يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿٦﴾ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ
وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ كَىْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْ ۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ
شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ﴾[1].

په دې معنا چې فيئ د غنيمت ځانګړې مستقله نوعه ده او کوم مال چې غنيمت وي د الله پاک د ښودلي تقسيم سره سم به په معلومو اصولو تقسيميږي.

بيا لړ وروسته الله پاک فرمايي: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ نَافَقُوا۟ يَقُولُونَ لِإِخْوَٰنِهِمُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْ
أَهْلِ ٱلْكِتَٰبِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ وَلَا نُطِيعُ فِيكُمْ أَحَدًا أَبَدًا وَإِن قُوتِلْتُمْ لَنَنصُرَنَّكُمْ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ
إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿١١﴾ لَئِنْ أُخْرِجُوا۟ لَا يَخْرُجُونَ مَعَهُمْ وَلَئِن قُوتِلُوا۟ لَا يَنصُرُونَهُمْ وَلَئِن نَّصَرُوهُمْ لَيُوَلُّنَّ ٱلْأَدْبَٰرَ ثُمَّ لَا
يُنصَرُونَ ﴿١٢﴾ لَأَنتُمْ أَشَدُّ رَهْبَةً فِى صُدُورِهِم مِّنَ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ ﴿١٣﴾ لَا يُقَٰتِلُونَكُمْ
جَمِيعًا إِلَّا فِى قُرًى مُّحَصَّنَةٍ أَوْ مِن وَرَآءِ جُدُرٍۭ ۚ بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ ۚ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ
لَّا يَعْقِلُونَ ﴿١٤﴾ كَمَثَلِ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَرِيبًا ۖ ذَاقُوا۟ وَبَالَ أَمْرِهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿١٥﴾ كَمَثَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ إِذْ قَالَ لِلْإِنسَٰنِ
ٱكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّى بَرِىٓءٌ مِّنكَ إِنِّىٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦﴾ فَكَانَ عَٰقِبَتَهُمَآ أَنَّهُمَا فِى ٱلنَّارِ خَٰلِدَيْنِ
فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُا۟ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾[2]

---

(۱) سورت حشر: (۱-۷). ژباړه: الله هغه ذات دی چې د لومړي حشر لپاره يې د اهل کتابو کافران له خپلو کورونو نه وويستل، ستاسو هم غالب ګومان دا و چې دوی به هېڅکله ونه وځي او د هغوی هم کلکه عقيده وه چې زمونږه لوړې ماڼۍ به مو بچ او پټ پناه کړي، له هغه ځای څخه ورته الله پاک راغی چې د دوی پرې ګومان هم نه و، الله پاک ورته په زړونو کې ډار واچو چې خپل کورونه به يې په خپلو او د مومنانو په لاسونو نړول، ای د پوهې او عقل څښتنانو! لږ عبرت ورڅخه واخلئ * که دغه شړل ورته الله جزا نه وه ورکړې نو بل دنياوي عذاب به يې ورته ورکړی و، چې د هغوی وژل او سرونه ترې قلم کول دي، او د دې سره به ورته اخروي اورنی عذاب هم ورکول کيږي * کومې کجورې چې تاسو يا پرې کړې او يا مو ولاړې پرېښودې نو دا تاسو ته د الله امر و، په دې خاطر چې فاسقان او سرغړونکي سپک او تالاترغۍ کړي * د بنونظيرو کومه شتمني چې الله خپل پېغمبر ته بې جنګه او بې تورې ورکړې ده چې هېڅ اوښ او اس پرې نه دی ځغلول شوی، خو الله پاک د خپل مشيئت سره سم خپل استازي مسلط کوي چې په چا يې خوښه شي او الله پاک په هر شي توان لري * او نوره هغه دنيا مال او دولت چې الله پاک پرې مسلمانان د اسونو او اوښانو په ځغلولو مسلمانان غازيان کړي دي نو دغه مال او غنيمت د الله پاک لپاره او د هغه د رسول ﷺ لپاره او د رسول الله ﷺ د خپلو خپلوانو لپاره، د بې پلاره (يتيم) لپاره، او د ناداره او د مسافرو لپاره دی، په دې خاطر چې د شتمنو ترمنځ تقسيم او توزيع نه شي، د الله پاک استازی چې درته څه درکوي هغه واخلئ او چې له څه شي مو رابندوي ورڅخه کلک رابند شئ او له الله څخه وډار شئ هغه د سخت عذاب والا دی.

(۲) سورت حشر (۱۱-۱۷). ژباړه: د عبدالله بن ابي بن سلول منافق او د هغه په څېر نورو منافقانو ته ستا فکر

# په څلورم هجري کال کې ذات الرقاع غزا

د جمادی الاولی د میاشتې د ځینو ورځو په شمول او د ربیع الاول په ټوله میاشت کې نبي ﷺ د بنو نظیر له غزا وروسته په مدینه کې پاتې شو.

له دې وروسته یې د غطفان د قبیلې بنومحارب او بنوثعلبه سره د غزا کولو تصمیم ونیو او پر مدینه یې ابو ذرغفاري رضي الله عَنْهُ امیر وګماره.

د صحابه و جنګي لیکې تر هغه حرکت وکړ چې د نخل مقام ته ورسېدل[۱]، د نجد دې غزا ته ذات الرقاع غزا هم ویل کیږي[۲].

هلته د بنوغطفان د خورا ډېرو جنګیالو سره مخامخ شول، وېره او ډار دومره عام شول چې نبي کریم ﷺ د خپلو ملګرو لپاره صلاة الخوف وکړ خو نصیب دا و چې د دواړو خواو ترمنځ هېڅ اخ اوډب رامنځ ته نه شول.

جابر بن عبدالله رضي الله عَنْهُ وايي: د نخل په مقام کې د ذات الرقاع رامنځ ته شوې جنګي غزا ته زه هم د نبي ﷺ په ملتیا په خپل کمزوري اوښې ولاړم.

د ببېرته راستنېدو په مهال به راڅخه ملیان تېز ولاړل او زه به ټپ شوم تر دې چې نبي کریم ﷺ راونیولم، راته یې وکړه: جابره! ولې ټپ شوې؟ ما ورته وویل: د الله رسوله! اوښ مې مزل نه شي کولی، هغه راته وویل: اوښ دې چو کړه، ما خپل اوښ چو کړ، نبي ﷺ راته وویل: یا خو

نه دی چې د اهل کتابو له جملې څخه هم پلوه کافرانو ته وايي چې که تاسو له دې ځایه وویستل کیږئ مونږ به هم درسره ووځو، او که چا درسره جنګ جدل کو نو مونږ مو مرستندویان یو، الله پاک په دې ګواهي ورکوي چې دوی په خپلو خبرو کې دروغجن دي * که هغوی وویستل شي نو دوی به ورسره هېڅکله هم ونه وځي او نه به ورسره په جنګ جګړو کې هېڅ مرسته وکړي، خوکه بیا هم مرسته یې وکړي نو هرومرو به شکست زده وي او بیا به یې هېڅ چرته مرستې ته تنده ښه نه کړي * دا ځکه چې تاسو د هغوی په زړونو کې ډېر رعب داب لرئ ولې چې هغوی بې وقوفه خلک دي * د دېوال تر شاه او یا له خوندې ځای پرته مخامخ تاسو سره هېڅ کله هم جګړه نه شي کولای ځکه چې هغوی ډېر بې شعوره دي * دوی هم د لږ څه وړاندې تېر شوو په څېر بې عقله دي او ډېر زر به خپل انجام او پای وګوري او د دوی لپاره درد ناک عذاب دی * لکه د شیطان په څېر چې انسان ته د کفر دعوت ورکړي اوبیا د کفر کولو وروسته ورته ووایي چې زه درڅخه بېزراه یم زه د مخلوقاتو له پالونکي نه ډارېږم * له اور پرته ددغې دواړو بل ځای نشته، دواړه به په اور کې وي او اور د ظالمانو ځای دی.

(۱) نخل په نجد کې د غطفان د قبیلې د ځای نوم دی.

(۲) ویل کیږي چې ذات الرقاع ځکه دې غزا ته ویل کیږي چې مجاهدینو په کې خپل بیرغونه څیرلي وو. ځینې نور وايي: ذات الرقاع ورته ځکه وايي دا هلته د ونې نوم و او ونې ته نږدې پېښه رامنځ ته شوه، ځینې نور وايي: ذات الرقاع ورته ځکه وايي چې د مجاهدینو خپې وریکې په کانو کېږو سورې ورې شوې وې.

له ونې ځخه راله لښته غوڅه کړه او يا دې ته څپله لښته دوه ځای کړه.

ما هغه وکړل چې نبي کريم ﷺ راته ويلي و، نبي کريم ﷺ راځخه لښته واخسته او څو وار يې پرې اوښه وټومبله، بيا يې راته وويل: په اوښ دې سپور شه.

زه په اوښ سپور شوم، لوړه په رب لا يزال چې هغه يې په ربښتونې توګه استازی راستولی دی چې د هغه له اوښ هم زما اوښ تېز رفتاره و.

بيا مې نبي کريم ﷺ سره خبرې اترې کولې هغه راته وويل: جابره! اوښ دې راباندې نه پلورې؟ ما ورته کړه: د الله رسوله! خوښه دې نه ده چې درته يې ډالۍ کړم؟ هغه راته کړه چې په ډالۍ کولو دې خوښ نه يم خو که راباندې يې پلورې نو ورته تيار يم، ما ورته وويل: د الله رسوله! نرخ راته ووايه.

هغه وويل: په يو درهم مې شو، ما ورته وويل: په يو درهم خو يې نه خرڅوم، هغه راته کړه: په دوه درهم يې راکړه، ما ورته وويل: په دغې يې هم نه خرڅوم، هغه يو يو درهم په بره روان تر دې چې يوې اوقيې[١] ته ورسېد، ما ورته کړه: د الله رسوله! په يوې اوقيې راسره خوښ يې؟

هغه وويل: هو، ما ورته وويل: د يوې اوقيې په بدل کې مې اوښ په تا وپلورو، هغه وويل: زما شو.

بيا يې راته وويل: جابره! ښځه دې کړې ده؟ ما ورته وويل: هو.

هغه وويل: ثيبه ده که باکره؟ ما ورته وويل: ثيبه ده.

هغه وويل: ولې دې باکره نه کوله چې دواړو سره لوبې لوبالې کولې؟ ما ورته وويل: د الله رسوله! د احد په ورځ چې مې پلار شهيد شو اووه لورګانې ترې پاتې وې، په دې خاطر چې د خورګانو مې ښه پالنه وشي ثيبه مې له نظره ښه راغله.

هغه وويل: ان شاء الله چې ډېر ښه کار دې کړی دی، که صرار ته[٢] په خيرخيريت ورسېدو، هلته به اوښان ذبحه او ورځ به هم تېره کړو، ستا بي بي به له مونږ ه خبره شوي يې نو تکې ګانې به يې تيارې کړي وي، ما ورته وويل: د الله پېغمبره! مونږ تکې ګانې نه لرو، هغه وويل: پيدا به شي خو ته دې خپل کارونه پياوړي کړه.

صرار ته په رسېدو د نبي ﷺ په امر اوښان ذبحه شول، ټوله ورځ مو تېره کړه، د شپې له مخې نبي کريم ﷺ خپل ارام ځای او مونږ خپلو ارام ځايونو ته ننوتو، د شپې له پلوه مې د نبي کريم ﷺ سره ټول تېر جريان خپلې بي بي ته واورو، هغه راته وويل: ډېره ښه ده خبره يې اورو او منو يې.

(١) يوه اوقيه څلوېښت درهمه وي. (ژباړن) وګوره: ترتيب مختار الصحاح: (٨٧٦).
(٢) صرار له مدينې څخه درې ميله اندازه کې لرې دی.

د سبا د راختو سره سم مې اوښ له مهار ونيو او د نبي کريم ﷺ په دروازه مې چو کړ، او مسجد کې يې ترڅنګ نزدې کښېناستم، نبی کريم ﷺ چې کله اوښ وليد پوښتنه يې وکړه: دا څه دي؟ هغوی ورته وويل: دا اوښ جابر رضي الله عَنْهُ راوست او دلته يې چو کړ، هغه وويل: جابر څه شو؟ ما ته اواز وکړی شو زه ورغلم راته يې وويل: وراره! اوښ دې دروخله، مخکې هم اوښ ستا او اوسمهال هم ستا دی او بلال رضي الله عَنْهُ ته يې وويل: جابر د ځان سره بوځه او يوه اوقيه ورته ورکړه.

هغه روان کړم او له اوقيې څخه يې راته څه اندازه زياته هم را کړه، لوړه په رب لايزال چې اوښ به ورځ تر بلې ښه غټېده او د خير او برکت نښې نښانې به يې پې درپې څرګندېدې تر دې چې د يوم الحره په واقعه کې مو له لاسه ووت.

د تېر په څېر جابر رضي الله عَنْهُ وايي: د ذات الرقاع په غزوه کې چې کله مونږ د نبي کريم ﷺ سره له نخل مقام څخه راووتو، يو مسلمان د مشرک سړي ښځه وينځه کړه، د ښځې خاوند چې کله راغی او د خپلې ښځې اړوند راپور ورته ورسېد، نبي کريم ﷺ بېرته د خپل کاروان په شمول د راستنېدو په دوران کې و، مشرک لوړه پورته کړې وه چې تر هغه به ارام نه کېني تر څو يې د محمد ﷺ په ملګرو کې خرپ ترپ او وينه يې نه وي روانه کړي.

هغه و چې سړي د نبي کريم ﷺ په پل پسې پل پورته کړ، يو ځای ته په رسېدو نبي کريم ﷺ له ملګرو څخه وپوښتل چې د شپې څوکيداري دنده به څوک په غاړه واخلي؟ د دندې د انجامولو لپاره يو مهاجر او انصاري د قربانۍ ورکولو څرګندوني وکړې، نبي ﷺ ورته وويل: د ناو په خوله کې نېغ او بېدار ووسئ.

د ناوچې خولې ته په رسېدو انصاري مهاجر ته وويل: د شپې د کومې برخې څوکېداري درته اسانه ده؟ لومړنۍ برخه او که وروستنۍ؟ مهاجر ورته وويل: د شپې لومړنۍ برخه ته وکړه او زه به د شپې وروستنۍ برخه ورونوم، مهاجر د ارام لپاره ډډه شو او انصاري په لمونځ ودرېد.

مشرک هغې دی چې راورسېد چې څنګه يې انصاري د ديد لاندې راغی و يې پتيله چې دا خو د محمد ﷺ جانشين دي، غشی يې پرې وار انصاري يې وويشت، بيا يې پرې بل او بيا يې پرې بل غشی وار کړ او انصاري په لمونځ ولاړ و او له ځانه به يې غشي لرې کول، بالاخره مجبوره شو او رکوع او بيا سجدې ته ولاړ، اخر يې هم په ارام بوخت ملګری رابېدار کړ او ورته يې وويل: داسې ټپي شوم چې حرکت ترې نه شم کولای..

مهاجر راپورته شو، مشرک چې وپوهېد دواړه راباندې پوهه شول لاړ وتښتېد.

مهاجر چې کله په انصاري باندې راماتې بې دريغه وينې وليدې ورته يې وويل: سبحان الله! د لومړنۍ ګوزار سره دې ولې نه رابېدارولم؟ انصاري ورته وويل: ما په لمونځ کې سورت

لوست او دا مې له خاطره روغه نه لیده چې سورت نیمه کې پرېږدم تر څو اخر ته یې ورسوم.

خو چې هغه راباندې په مسلسله توګه ګوزارونه پیل کړل ما رکوع وکړه تر څو ته ویوهیږې، او زما دې په الله قسم وي چې که د نبي کریم ﷺ د امر سره سم راباندې د مورچې ساتنه لازمه نه وه نو یا خو به یې زما ساه په ولاړه ویستلې وه او یا به مې سورت تر پایه رسولی و.

ابن اسحاق وایي: نبي کریم ﷺ چې له ذات الرقاع له غزوې څخه مدینې ته راستون شو نو د جمادی الاولی د پاتې ورځو په شمول یې د جمادی الاخره او رجب دواړه میاشتې په مدینه کې تېرې کړې.

## په څلورم هجري کال کې د بدر دوهمه غزا

د ابوسفیان رضي الله عَنْهُ سره د ایښې وعدې په بنسټ نبي کریم ﷺ د شعبان په میاشت کې د بدر مقام ته د بیا ځل لپاره ووت.

نبي کریم ﷺ په بدر کې ابوسفیان رضي الله عَنْهُ ته اته شپې ورځې ځنډ وویست.

ابوسفیان رضي الله عَنْهُ هم د مقابلې لپاره د مکې د ځوانانو په شمول تر بدره منزل لنډه و تر دې چې د ظهران د مجنې اوبو ته راورسېد بېرته یې زړه ستنېدو ته ښه شو او ملګرو ته یې وویل: قریشو! ستاسو د بریمنې شخړې لپاره راته خربه کال چې مالونه مو ښې ګیاګانې وخوري او تاسو پرېمانه ماسته شېدې وخوړای شئ راته نیک بریښي، چونکه سږکال وچکالي ده، د جګړې پایلې به ښې نه وي، زه اټکلوم چې بېرته ولاړ او باید هرومرو ستانه شوو.

د مکې میشتوالو به په مکه کې بېرته راستون شوي لښکر ته حلوا خواره ویل، هغوی به ورته ویل: تاسو جنګ ته نه بلکې حلوا خورې ته تللي وئ.

نبي کریم ﷺ لا هم هغسې د ابوسفیان رضي الله عَنْهُ راتګ ته د انتظار شیبې لنډولې څه ګوري چې مَخْشِي بن عمرو الضمري یې په حضور کې عارض شو، هېره دې نه وي چې مخشي بن عمرو الضمري هغه هستي ده چې د ودَّان په غزا کې یې د خپل قوم او نبي ﷺ ترمنځ سولیز تړون لاسلیک کړی و، ورته یې وویل: محمده! ﷺ څه کوې؟ ایا قریشو ته ځنډ وباسې؟

هغه ورته وویل: هو. او که دې خوښه وي چې ستا تړون هم بېرته درکړو!! او په تورو به مو ترهغه ووهو چې الله پاک زمونږ او ستاسو ترمنځ فیصله وکړي.

هغه ورته وویل: مونږ جنګ ته اړتیا نه لرو.

نبی کریم ﷺ لا هم هغسې په انتظار کې و چې معبد بن ابي معبدالخزاعي راغی حالانکه هغه د نبي کريم ﷺ اوښه د تېز رفتارۍ په حالت کې ولیده نو دا شعرونه يې وويل:

قَـدْ نَفَرَتْ مِنْ رُفْقَـتَيْ مُحَمَّدِ *** وَعَجْوَةٍ مِنْ يَـثْرِبَ كَالعَنْجَدِ
تَهْوَى عَلَى دِيـنِ أَبِيهَا الْأَتْلَدِ *** قَدْ جَعَلَتْ مَاءَ قُدَيْدٍ مَوْعِدِي
وَمَاءَ ضَجْنَانَ لَهَا ضُحَى الْغَدِ

❁ د محمد ﷺ او د هغه د ملګرو او د يثرب د تورو انګورو په شان کجورو نه زما اوښه ډېره وداريده.

❁ د خپل مخکني پلار په څېر يې رفتار تېز کړ او د قُديد اوبه يې راسره اوس مهال او د ضجنان اوبه يې راسره سبانۍ وعده ده.

عبدالله بن رواحه رضي الله يې اړوند دا شعرونه وويل:[١]

وَعَدْنَا أَبَا سُفْيَانَ بَدْرًا فَلَمْ نَجِدْ *** لِمِيعَـادِهِ صِدْقًا وَمَـا كَانَ وَافِيَا
فَـأُقْسِمُ لَـوْ وَافَيْتَنَـا فَلَقِيتَنَا *** لَأُبْتَ ذَمِيمًـا وَافْتَقَدْتَ الْمَوَالِيَا
تَرَكْنَـا بِـهِ أَوْصَالَ عُتْبَةَ وَابْنَهُ *** وَعَمْـرًا أَبَا جَهْلٍ تَرَكْنَـاهُ ثَاوِيَا
عَصَيْتُمْ رَسُولَ اللهِ أُفٍّ لِدِينِكُمْ *** وَأَمْرِكُـمُ السَّيْءِ الَّذِي كَانَ غَاوِيَا
فَـإِنِّي وَإِنْ عَنَّفْتُمُـونِي لَقَائِلٌ *** فِدًى لِرَسُـولِ اللهِ أَهْـلِي وَمَالِيَا
أَطَعْنَـاهُ لَـمْ نَعْدِلْهُ فِينَـا بِغَيْرِهِ *** شِـهَابًا لَنَا فِي ظُلْمَةِ اللَّيْلِ هَادِيَا

❁ ابوسفيان رضي الله عَنْهُ مونږ سره بدر کې د جنګ لوظ ايښی و، نه خو هغه پخپل لوظ ولاړ دی او نه په لوظونو کې وفادار او رښتونی دی.

❁ لوړه په رب لايزال که ته په رښتيا هم جنګ ته راغلی وې ستا شان او شوکت او ټوله دبدبه به ناسته وی او له خادمانو به بې برخې شوی وې.

❁ په بدر کې د عتبه او د هغه د ځوی په څېر لوی کفر کټې مو ښې پرېښې دي او ابوجهل هم اوس مهال په بدر کې شته دی.

❁ ستاسو دين او هغه بې وقوفانه بدترين راج به هرومرو ريزمريز شي چې په بدل کې مو د الله د استازي سرغړونه وکړه.

❁ اګر که تاسو به ما په دې ملامته کوئ خو زما شتمني او کورني غړي دې له رسول الله ﷺ نه قربان وي.

❁ مونږ د هغه خبره داسې منو چې د خپلو هيڅ ډول مشرانو سر يې برابر نه بولو، بلکې دا خو په تروکمني شپه کې ځلانده ستوری دی.

(١) ابن هشام وايي: دا شعرونه ابو زيد انصاري ما ته د کعب بن مالک رضي الله عَنْهُ په نوم اورلي وو.

# په پنځم کال کې د دومة الجندل غزا

له دې جريان وروسته نبي کريم ﷺ بېرته مدينې ته ستون شو، هلته يې د ذوالحجې مياشت پوره تېره کړه، په دغې کال کې د حج مراسم د مشرکانو په لاس کې وو، هېره دې نه وي چې دغه مياشت او د حج مراسم مدينې ته د نبي کريم ﷺ له راتګ څخه د څلورم هجري کال احصائيه ده.

بيا نبي کريم ﷺ د دومة الجندل[1] غزا وکړه، د دواړو خواوو جنګي ليکې يو تر بله مخامخ نه شوې، وراندې له دې چې هلته ورسيږي بېرته مدينې ته راستون شو او پاتې ټول کال يې په مدينه کې تېر کړ.

# په پنځم هجري کال کې د خندق غزا

د خندق غزا د هجرت په پنځم کال د شوال په مياشت کې واقع شوې وه.

د پېښې د رامنځ ته کېدو لړې داسې وه چې د بنووائل او بنو نظير ځينې مخه ورې هستۍ لکه سلام بن ابي الحقيق النضري، حيي بن اخطب النضري، کنانة بن ابي الحقيق النضري، هوذة بن قيس الوائلي، ابوعمارة الوائلي او څه نور چې د نبي کريم ﷺ پر ضد يې جنګي پلان جوړ کړی و، مکې ته ولاړل او د قريشو سره يې د نبي کريم ﷺ په ضد د پرېکنده شخړې غوښه پرېکړه وکړه او ورته يې وويل: تر هغه به په جنګ کې ورسره ملتيا ته دوام ورکوي تر څو مسلمانان له بيخه يوسو.

قريشو مکې ته راغلو يهودانو ته وويل: ای د يهودانو ښاغلو! تاسو وايئ چې زمونږ او د محمد ترمنځ پرته ديني تربګني او تاو تريخوالي کې څوک په سمه او څوک په ناسمه دي؟ چونکه تاسو اهل کتاب ياست او د علم معرفت ښتنان ياست په دې مو وپوهوئ چې د چا دين ښه او په حق برخمن څوک دي؟

يهودانو وځوابول چې له هغوی څخه ستاسو دين ښه او له هغوی څخه تاسو په حق ډېر برخمن ياست.

---

(١) دومة الجندل د مدينې منورې برخه ده، دواړو ترمنځ پرته فاصله نږدې پنځلس شپې اندازه ده، په دې غزا کې نبي کريم ﷺ سباع بن عرفطه رضي الله عَنْهُ په مدينې امير ګمارلی و.

هاغه و چې الله پکې د قران کريم دا ايتونه نازل کړل ﴿أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُواْ نَصِيبٗا مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡجِبۡتِ وَٱلطَّٰغُوتِ وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ هَٰٓؤُلَآءِ أَهۡدَىٰ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ سَبِيلًا ﴿٥١﴾ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَمَن يَلۡعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا ﴿٥٢﴾ أَمۡ لَهُمۡ نَصِيبٞ مِّنَ ٱلۡمُلۡكِ فَإِذٗا لَّا يُؤۡتُونَ ٱلنَّاسَ نَقِيرًا ﴿٥٣﴾ أَمۡ يَحۡسُدُونَ ٱلنَّاسَ عَلَىٰ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦۖ فَقَدۡ ءَاتَيۡنَآ ءَالَ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَءَاتَيۡنَٰهُم مُّلۡكًا عَظِيمٗا ﴿٥٤﴾ فَمِنۡهُم مَّنۡ ءَامَنَ بِهِۦ وَمِنۡهُم مَّن صَدَّ عَنۡهُۚ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا﴾[1].

قريش چې کله د يهودانو په کلکې ملاتړ وپوهېدل ډېر خوشحاله او جنګ ته هم له زړه نه ليواله شول تر څو د رسول الله ﷺ په ضد کلکه جګړه وکړي، بالاخره يې د جنګ لپاره نيټه هم سره معلومه کړه او اتفاق ته پرې ورسېدل.

مذکوره يهودان له مکې وروسته بنو غطفان ته ولاړل او د نبي کريم ﷺ په ضد جګړه يې راتيز او لا يې پسې وهڅول، په دې يې قانع کړل چې دوی به يې کلک ملاتړ کوي او قريشو سره هم موافقې ته رسيدلي دي، د دې خبرو په اوريدو ورسره بنوغطفان اتفاق رايه وکړه.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ چې د قريشو جنګي قيادت وريه غاړه و عيينة بن حصن چې د بنوفزاره مشري يې کوله او حارث بن عوف بن ابي حارثة المري چې د بنومرة قيادت يې په غاړه درلود، مسعود بن زحيله چې د بنواشجع د قبيلې مشري يې کوله په ټاکلې نيټه د نبي کريم ﷺ ضد د خونړيزې جګړې په نيت راوخوځېدل.

نبي کريم ﷺ چې کله د بېلابېلو قبيلو د راتګ خبر تر غوږ شو، له مدينې څخه يې د لوی غټې کندې د کنستلو امر وکړ، تر څو مسلمانان په کې د زيات اجر د ګټلو لپاره يو تربله زياته ونډه واخلي خپله يې هم په کې د کار پيل وکړ.

نبي کريم ﷺ خپله هم ستړی ستومانه او صحابه کرام رضي الله عَنْهُمْ هم ډېر ستړي ستومانه شول.

د نبي کريم ﷺ سره په خندق کنستلو کې ګرد منافقان په شا ولاړل او د خدمت نه کولو ته به يې اندکه بهانه جوړوله، د نبي کريم ﷺ له اجازې پرته به پټ پټ کورونو ته ستنېدل، د خندق د کنستلو په دوران کې که به کوم رښتني مسلمان ته کورنۍ اړتياوې مخې ته راغلې

(۱) سورت نساء: (۵۱–۵۵). ژباړه: ايا ستا هغه چا ته سوچ او خيال دی چې په بوتانو ساحرانو يقين او ايمان لري او کافرانو ته وايي چې تاسو د مسلمانانو په نسبت په نيغه لاره روان يئ * په دغې خلکو الله لعنت نازل کړی دی او په چا چې الله خپل لعنت نازل کړي نو هيڅ راز مرستندويه به ونه ويني * که دوی لږ هم واک او اختيار درلودای نو د کجورې د داغ په اندازه به يې هم هېڅ چا ته نه و ورکړی * بلکې دوی د الله پاک په احسان او فضل (نبوت) باندې ورکړل شوو سره کينه بغض کوي، د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په کورنۍ کې خو مونږ ډېرو ته اسماني کتاب او نبوت ورکړی دی او هغوی ته مو د دې سره ډېره لويه بادشاهي هم ورکړې وه * له دوی څخه ځينو پرې ايمان راوړ خو ولې ځينو نورو يې ورڅخه خلک رابندول او د سوځولو لپاره ورله جهنم بس دی.

له نبي کريم ﷺ نه به يې اجازه وغوښته او بيا به د خپل اړتيا د حل او فصل په نيت وتپېد.

خو د اړتيا د بشپړېدو سره سم به يې بېرته د مسلمانانو کومک او ورسره مرستې ته په ډېر جديت حاضري ورکوله، تر څو دلوی خير او سترې اخروي بدلې نه محروم نه شي، د دغې رښتني مومنانو اړوند الله دا ايتونه نازل کړل: ﴿إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَإِذَا كَانُوا۟ مَعَهُۥ عَلَىٰٓ أَمْرٍ جَامِعٍ لَّمْ يَذْهَبُوا۟ حَتَّىٰ يَسْتَـْٔذِنُوهُ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ ۚ فَإِذَا ٱسْتَـْٔذَنُوكَ لِبَعْضِ شَأْنِهِمْ فَأْذَن لِّمَن شِئْتَ مِنْهُمْ وَٱسْتَغْفِرْ لَهُمُ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾(١).

دا ايتونه الله پاک د هغه چا متعلق وغږول چې په رښتيا هم د خير او اجر طلب ګار وو او د زړه په خوښه يې د الله پاک او د هغه د رسول اطاعت ته غاړه ايښې وه.

او هغه منافقان چې نه خو يې د خندق په کنستلو کې ونډه درلوده او له بل پلوه به د نبي ﷺ له اجازې پرته کورونو ته ستنېدل، الله پاک دا اياتونه نازل کړل: ﴿لَّا تَجْعَلُوا۟ دُعَآءَ ٱلرَّسُولِ بَيْنَكُمْ كَدُعَآءِ بَعْضِكُم بَعْضًا ۚ قَدْ يَعْلَمُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا ۚ فَلْيَحْذَرِ ٱلَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِۦٓ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦٣﴾ أَلَآ إِنَّ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ۖ قَدْ يَعْلَمُ مَآ أَنتُمْ عَلَيْهِ وَيَوْمَ يُرْجَعُونَ إِلَيْهِ فَيُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌۢ﴾(٢).

نبي کريم ﷺ د خندق له وزګارېدو سره سم د قريشو جنګي لس زره کاروان د قريشو او د هغوی له ملاتړ بنو کنانه او اهل تهامه څخه جوړ و، راورسېدل او د جرف او زعابه ترمنځ د رومې مجتمع الاسيال سيمه کې يې واړوله، غطفان هم د نجديانو په ملاتړ خوځښت پيل کړ او د اُحد ترڅنګ ذنب نقمی کې تم شول.

نبي کريم ﷺ د ورسره مسلمانانو په شمول چې درې زره ته يې شمير رسيدګي کوله ميدان ته ووت، جبل سلع ته يې شاه کړه او هلته يې جنګي محاذ ونيو، هېره دې نه وي چې خندق د مسلمانانو او راغلو کفارو ترمنځ فاصله وه.

ګرد ماشومان او زنانه يې په خورا خوندي لويو قلعه ګانو کې ځای پر ځای کړل، د الله ستر

(١) سورت نور: (٦٢). ژباړه: رښتني مومنان چې په الله او رسول رښتنی ايمان لري هغه څوک دي چې بغېر له اجازې نه خپل شخصي کارونو پسې نه شله کيږي، څوک چې هم له تا څخه اجازه غواړي هغوی په رښتيا په الله او د هغه په رسول باوري دي، که هغوی درڅخه کله هم د ځينو اړتياو د پوره کولو لپاره اجازه غواړي نو ورته اجازه ورکړه او الله پاک څخه ورته بخشش هم وغواړه، الله پاک بخشش کونکی او د رحم والا دی.
(٢) سورت نور: (٦٣-٦٤). ژباړه: د نبي ﷺ رابلنه د خپل منځی بلنې په څېر مه ګڼئ، هغه خلک چې پټ او پناه وخې الله يې ډېر ښه پېژني، د الله او د هغه د رسول ﷺ سرغړونکي دې په دې وپوهيږي چې الله پاک به يې په سخت دنيوي عذاب ونيسي او په اخرت کې به ورته هم دردناک عذاب ورکړي * په دې ښه وپوهيږئ چې ټول اسماني او ځمکني مخلوقات د الله په واک کې دي، ستاسو د درواغو او رښتياو معلومات الله پاک ته شته دی او د دې په انجام به مو الله پاک هغه ورځ وخبروي چې تاسو ورته ورشئ او الله پاک په هر څه باندې عليم او دانا دی.

دښمن حيي بن اخطب نضري د کعب بن اسد حضور کې عرض شو او کعب د نبي ﷺ سره کلک ژمن ليک ايښی و چې په ضد به يې د هېڅ چا مرسته نه کوي، کعب پرې له دننه دروازه کلکه رابنده کړه او حيي بن اخطب ته يې د ننوتلو هېڅ اجازه ورنکړه، حيي په لوړ غږ وويل: تباه شې کعب! دروازه خلاصه کړه! هغه ورته وويل: حيي! رب دې خوار کړه ته بدنصيبه انسان يې ځه په مخه دې ځه، ما د محمد ﷺ سره تړون لاسليک کړی دی او هغه په ژمنه ولاړ او رښتونی وفادار دی او زه ورسره هيڅکله هم خپله کړې ژمنه نه ماتوم.

هغه ورته بيا اواز وکړ چې تباه شې دروازه خلاصه کړه په خبره دې مازغه خلاصوم، خو کعب انکار وکړ او دروازه يې خلاصه نه کړه.

حيي ورته بالاخره وويل: تا راباندې د خپلې قلعه دروازه په دې خاطر راپورې کړې ده چې درسره په درستارخوان څه ونه خورم.

هغه و چې کعب بن اسد ورته له غيرت نه دروازه خلاصه کړه، حيي ورته وويل: کعبه خوار شې!! د ټولې زمانې د عزت سورلۍ مې ستا په دروازه چو کړېده، لوی اژدها بې ساری څپاند سيند مې راخوشې کړی دی، قريش مې د ګردو مشرانو او مخه ورو په شمول په مجتمع الاسيال کې کينولې دي او غطفان مې هم د واکداره او لويانو په شمول د احد لمن ذنب نقمَی سره تم کړې دي او په دې يې راسره ژمنه کړې ده چې تر هغه به بېرته نه ستنيږي تر څو يې محمد د خپلو ملګرو سره له تيغه نه وی تېر کړی.

کعب ورته وويل: دزمانې دوامداره عزت نه بلکې زما لپاره دې ابدي شرم زما په کور چو کړی دی، ستا راغلې لښکرې هغه وريځ ده چې ګړه زاری او بريښنا لري خو اوبه نه لري.

ای حيي! غرق او تباه شې د محمد سره مې په خپل کړې لوظ ولاړ پرېږده، هغه په لوظ وفادار او عهد کې رښتونی دی، حيي د کعب په شاه تر هغه لاس وهو چې د لوظ ماتونې ته يې په دې شرط تيار شو چې قريشو او غطفان که محمد ﷺ او ملګري يې ونه وژل زه به تر هغه ستا سره ستا په خوندې کلا کې يم تر څو د دواړو انجام يو څېر وي، هغه و چې کعب خپل لوظ مات کړ او د نبي کريم ﷺ سره له لاسليک کړې تړون څخه په شا شو.

د بنوقريظه عهد شکنۍ خبر چې کله د نبي کريم ﷺ او دمسلمانانو غوږونه وسکوندل، نبي کريم ﷺ د پېښې د سپيناوۍ په لړ کې د سعد بن معاذ –چې دغه مهال د اوس قبيلې مشر و، سعد بن عبادة بن دليم– چې دغه مهال يې خزرج د قبيلې مشري لرله، عبدالله بن رواحه او خوَّات بن جبير – رضي الله عَنْهُمْ – تحقيقاتي پلاوې وليږدول او ورته يې وويل: ولاړ شئ او پلټنه وکړئ که هغوی په رښتيا ژمنه له خپو نه لاندې کړې وه ما به په اشاره کې وخبروئ او که په ژمنه کلک ولاړ وو نو د خلکو په مخکې به يې وفاداري په لوړ غږ اعلان کړئ.

منتخب شوې پلاوې چې کله هدف ته ورسېده څه ګوري چې قیصه د وررسیدلي راپور څخه لا پسې بهر وه، د دوی په لیدو یې نبي کریم ﷺ ته سپورې ستغې هم وویل او ویې پوښتل: د الله رسول څوک دی؟ زمونږ او د محمد ترمنځ هېڅ راز تړون نشته!! سعد بن معاذ چې تیزه لهجه یې درلوده د نبي کریم ﷺ ته د سپکو سپورو په بدل کې بېرته سپکې سپورې وویلې خو ولې هغوی بېرته په تورو او نسکورو ځوابونه ورکول.

سعد بن عباده رضي الله عَنْهُ ورته وویل: کنځاوې ورته مه کوئ، خبره له کنځاو پورته ده.

سعد بن عباده او سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُمَا دواړه نبي کریم ﷺ ته عرض شول او ورته یې وویل: عضل او قاره!!

یعني د عضل او قاره چې د رجیع والاو سره څه کړي وو نو خبره د هغه په څېر ده، نبي کریم ﷺ غږ کړ چې الله اکبر! مسلمانانو مبارک مو شه!!

دغه مهال په مسلمانانو د غم پرته لړي نوره هم وده وکړه، ځینې دښمنان پرې له باندې او نور ځینې پرې له لاندې راغلل، خلکو په الله راز راز ګومانونه پیل کړل، د ځینو منافقانو نفاق سم صحیح راڅرګند شو تر دې چې معتب بن قشیر وویل: محمد خو به مونږ سره د کسرا او قیصر د خزانو وعدې کولې او اوس هېڅ څوک له ډېره ډاره اودس ماتي ته نه شي تللای؟

اوس بن قیظي نبي کریم ﷺ ته وویل: د الله رسوله! زمونږ کورونه د ښمن ته تش خالي پراته دي او له مدینې څخه هم بهر دي ما ته اجازه راکړه چې کور ته لاړ شم.

څه کم یوه میاشت د خندق جنګ دوام ودرلود، که څه هم دواړه خواوې سره مخ اتې نه شوې خو ولې دواړو خواو په یو بل غشي وورول، په خلکو باندې بدترین حالت نور هم پسې لوی شو، نبي کریم ﷺ په دې جریان کې د غطفان دوه مخه ورو او جنګي مشرانو هر یو عیینه بن حصن او حارث بن عوف ته استازي واستول چې په دې شرط به مونږ تاسو ته د مدینې د میوو دریمه برخه درکړو که خپلې لښکرې مو له جنګي محاذ څخه ستنې کړې، د نبي کریم ﷺ او د هغو ترمنځ د جوړ جاړی خبرې رواني وې، دواړه خواوې سره رضا شوې، تړون هم لاسلیک شو خو ګواهان او د لوړې پورته کولو مراسم یې نه درلودل.

نبي کریم ﷺ د صلحې روانه لړي سعد بن معاذ او سعد بن عباده - رضي الله عَنْهُمَا - ته واوروله تر څو دواړه د روان جریان اړوند نېکه مشوره ورکړي، دواړو ورته وویل: د الله رسوله! که ته په خپله دا صلحه کوې ستا له وجې ورته مونږ هم تیار یو او که په دې صلحه درته الله امر کړی وي هرومرو به یې عملي کوو، او که نه ته زمونږ له کبله یې کوې؟

نبي کریم ﷺ ورته وویل: نا ستاسو د خیر له کبله صلحه کول غواړم، لوړه په رب لایزال چې عرب مې له کله راهیسې ولیدل چې په تاسو له یوې لیندې څخه غشي وروي او له هر

اړخه يې دربانديې اسمان راښکته کړی دی، په دې خاطر چې د هغوی اتحاد ونړوم تر يو حده مې دغه صلحه له نظره ښه راغله.

سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ ورته وويل: د الله رسوله! ستا له راتګ وړاندې مونږ مشرکان او بوت پرست خلک وو، نه مو الله پېژنده او نه مو ورله چرته عبادت کړی و، دا کجورې به دې خلکو له مونږ څخه يا پلورلې او يا به يې په مېلمه پالنه کې قرباني کولې، ستا په راتګ چې الله پاک مونږ په اسلام او هدايت باندې ونازولو او عزت او وقار يې راته راکړ، ايا اوس به د عزت په وخت مونږ هغوی ته کجورې ورکوو؟؟ دغې صلحې ته مونږ هېڅ اړتيا نه لرو، تر هغه ورسره توره په توره خبرې کوو تر څو زمونږ او د هغوی ترمنځ الله پاک خپله غوڅه پرېکړه وکړي.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: ته او دوی سره پوهه شئ.

سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ ليکلی تړون راواخست او ټول يې بېرته مټاو کړ او بيا يې وويل: لاس مو ښکته پورته خلاص، ټول هغه څه وکړئ چې توان يې لرئ.

نبي کريم ﷺ او نور ټول مسلمانان لاهم هغسې دښمنانو تر ګېرې لاندې راوستلي وو، د دواړو خواو ترمنځ هېڅ راز مخامخ جګړه نه وه خو عمرو بن عبد ود او عکرمه رضي الله عَنْهُ او هبيره بن ابي وهب او ضرار بن الخطاب نور جنګ ته ليوني شول، په خپلو اسونو باندې سپاره د بنو کنانه په تم ځای ورتېر شول او غږ يې کړ: ټول بنو کنانه بايد د جنګ لپاره تصميم ونيسي ترڅو په دې دعوه ښه وپوهيږئ چې شاه سواران څوک دي؟؟

له دې وروسته بيا په ډېرې چټکۍ د مسلمانانو اړخ ته رارهي شول څه ګوري چې ترمخ يې لوی خندق کنستل شوی دی، د ليدو سره يې وويل: د جنګ په دې ډول عربانو هېڅ عبور نه درلود[۱].

بيا يې په ډانګه ډيچ خپل اسونه تر خندق او جبل سلع ترمنځ نزدې ساحې ته راوستل تر څو بل پلو ته واوړي.

علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ د ځينو مسلمانانو په ملتيا په چټکۍ سره هغه خامې مورچې ته ورغلل چې يرغل ترې اسان برېښېده، تر څو يې خوله وتړي.

د قريشو شاه سواران يې هم ترمخ پلوه ښه راتوند شول، عمرو بن عبد ود چې د بدر په ورځ د خورا تندريزو ګوزارونو ښکار شوی هم و چې د ټپونو د ناجوړتيا له کبله يې په اُحد کې هم ونه وه اخستې په بدل کې يې د خندق په ورځ جنګ ته سرتړلی ووت تر څو په ښه جنګي کار کردګۍ باندې ونازول شي، په لوړ اواز يې غږ کړ چې څوک جنګ ته تيار دی؟ علي رضي

(۱) ابن هشام وايي: نبي کريم ﷺ ته د خندق د کنستلو مشوره سلمان فارسي رضي الله عَنْهُ ورکړې وه.

الله عَنْهُ د مبارزې لپاره وروot او ورته یې وویل: ایا له الله سره دې خپله ژمنه نه ده یاده؟ چې که هر قرشي په دوو خویونو کې یو ته رادعوت کړم هرورمرو به ترې یو ته غاړه ږدې.

عمرو وویل: ولې نه، راته یاده ده، علي رضي الله عَنْهُ ورته وویل: زه دې الله او د هغه رسول او اسلام باندې باور لرلو ته رابولم هېله ده چې غاړه ورته کیږدې!

عمرو: دغې کارونو ته هېڅ اړتیا نه لرم.

علي رَضِي الله عَنْهُ: بیا نو مقابلې ته راووځه.

عمرو: وراره! ما ته د جنګ خبرې مه کوه، دا راته پسنده نه ده چې له تېغه دې تېر کړم.

علي رضي الله عَنْهُ: ما ته خو دې وژل ډېره مزه راکوي!

د دې خبرې اورېدو سره عمرو احساساتي شو له اس څخه راښکته شو، لومړی یې اس ټپي او په مخ یې ویني ویني کړ او بیا د علي رضي الله عَنْهُ په لور راروان شو، دواړه سره په یو بل ګوزارونه وکړل بالاخره پرې علي رضي الله عَنْهُ غازي شو او هغه یې مردار کړ.

له خندق څخه یې پاتې اسونه او شاه سواران په شاه وتمبېدل، په دغه ورځ عکرمه بن ابي جهل رضي الله عَنْهُ خپله نېزه له ډاره وغورځوله او په شا وتښتېد، د عکرمه رضي الله عَنْهُ دغې کړنې اړوند حسان بن ثابت رضي الله عَنْهُ وویل:

فَـرَّ وَ أَلْـقَى لَنَـا رُمْحَـهُ *** لَعَلَّـكَ عِكْـرِمَ لَـمْ تَفْعَلِ
وَوَلَّيْـتَ تَعْدُو كَعَـدْوِ الـ *** ظَّلِيمِ مَا إِنْ تَجُورُ عَنْ الْمَعْدِلِ
وَلَمْ تَلْـقَ ظَهْرَكَ مُسْتَأْنِسًـا *** كَأَنَّ قَفَـاكَ قَفَـا فُرْعُـلِ

۞ عکرمه په شا وتښتېد او له ډاره یې نېزه هم مونږ ته راوغورځوله، خو کاشکې عکرمه چې دا کار دې نه وی کړی.

۞ د کوچني سخي په څېر دې دومره سمه سیده منډه ووهله چې له لارې څخه بېخي کوږ او نسکور نه شوې.

۞ د کوم ښه کار له کبله دې راته شا نه ده راړولې او د شا راړونې په وخت کې هو بهو کوچنۍ سمساره ښکارېدې.

د خندق او د بنوقریظه په ورځ د مسلمانانو یو تربله د پېژندلو ښه نښانه (حم. لاَيُنْصَرُوْنَ) کلمه وه.

نبي کریم ﷺ او ملګري یې د خندق په ورځ د دومره ډار ښکار شول چې الله پاک یې حالت مونږ ته په قران کریم کې ذکر کړی دی، چې دښمن ترې لاندې باندې راغی او دوی یې ترمنځ راګېر شول.

د جنګ په دې دوران کې نعیم بن مسعود رضي الله عَنْهُ راغی او نبي کریم ﷺ ته یې وویل: ما اسلام ته غاړه ایښې ده او له قوم څخه مې هېڅ څوک په اسلام خبر نه دي، د خپلې تندې مطابق راته امر وکړه چې باید اوسمهال څه وکړم؟

نبي کریم ﷺ ورته وویل: ته خو یو سړی یې څه به وکړې شې خو راغلي قومونه سره په خپل منځ کې اخته کړه تر څو له مونږ څخه بې فکره شي او جنګ هم دوکه ده.

نعیم بن مسعود رضي الله عَنْهُ لاره ونیوله او بنوقریظه وو ته ورغی، نعیم بن مسعود رضي الله عَنْهُ یې د شرک په مهال نزدې او خوږ ملګری و، هغوی ته یې وویل: ای بنوقریظه! زما او ستاسو ترمنځ له حده تېرې مینې باندې تاسو ډېر ښه واقف یاست! هغوی وویل: هو بالکل مونږ ته ستا شان او شوکت معلوم دی ته دروغجن نه یې.

نعیم رضي الله عَنْهُ ورته وویل: دا ځای مو کلی کور دی، دلته ستاسو شتمني، ستاسو بچي او کورنۍ ده، دلته ستاسو ښځې او بې بیانې دي، قریش او غطفان ستاسو په څېر نه دي، تاسو د خپلو کورونو نقل مکاني نه شئ کولی او قریش او غطفان د محمد ﷺ په ضد جګړې ته راولاړ شوي دي، دلته د هغوی شتمني، بچیان او ښځې نشته، په دې کې هغوی له تاسو څخه جلا دي، که هغوی ته موقعه په لاس ورغله او څه یې وکړل کړي به یې وي او که د جنګ موقعه په لاس ورنه شي په ارام به بېرته خپل کلي تېر ته ستانه شي، چونکه مدینه ستاسو هستوګنځای دی بیا به تاسو او دوی سره مش او ګریوان یاست.

خو که محمد ﷺ او ملګرو ته یې یواځې شوئ نو هېڅکله یې مقابله نه شئ کولی، تر هغه خپل لاسونه د محمد ﷺ تر ګرېوانه مه غځوئ تر څو مو له قریشو او غطفان مشران خلک له ځان سره ګانه کړي نه وي چې محمد ﷺ او ملګري یې ټول ووژل شي.

بنوقریظه وویل: ډېره ښه مشوره دې راکړه.

بیا نعیم بن مسعود رضي الله عَنْهُ ابوسفیان بن حرب رضي الله عَنْهُ خوا ته چې د ځینو نورو قریشو په ملتیا سره ناست و ورغی او ورته یې وویل: زما او ستاسو ترمنځ د مینې محبت مستې څپو خو تاسو ته ډېر ښه معلومات دی او د محمد ﷺ څخه هم را په شا شوی یم، خو یو راپور مې غوږونه وسکوندل او ستاسو خبرول مې پرې لازمه دنده وبوله، څکه چې په تاسو مې خیر پېرزو دی خو چې ما چا ته ونه ښایئ.

نعیم بن مسعود رضي الله عَنْهُ ورته وویل: وخبرېدم چې یهود پخپلې کړنې ډېر زیات پښېمانه شوي دي، هغوی محمد ﷺ ته خپل استازي لیږدولي دي چې د قریشو څخه به درته د هغوی مخه ور خلک به پراد کې راولوو او ستا په وړاندې به د هغوی له تن څخه سرونه قلم کړو او بیا به تر هغه ستا په قومانده د هغوی په ضد وجنګېږو چې ټول له منځه یوسو، په دې

خاطر چې زمونږ او ستا ترمنځ ښېرته د خوندور ژوند ځوانۍ پړاو بیا پیل شي.

خو که یهودانو له تاسو څخه د مشرانو د ګڼې کولو طلب او غوښتنه وکړه پام کوئ چې څوک ورنه کړئ باید بېدار ووسئ.

بیا له هغوی څخه وپاڅېد او غطفان ته ولاړ او هغوی ته یې وویل: تاسو خو زما قام قبیل او نسب یاست، په ټولو خلکو کې راته ګران هم دا تاسو یاست، ګومان مې نه شي که دروغجن راته وواییئ.

هغوی ورته وویل: ښه خبره دې وکړه ته دروغجن نه یې.

هغه ورته وویل: زما نوم به چا ته هم نه یادوئ؟

غطفان: نا، ستا نوم هېڅ چا ته نه یادوو، ستا هېڅ ذکر به نه کوو.

نعیم بن مسعود رَضِيَ الله عَنْهُ ورته ټول هغه څه وویل چې قریشو ته یې ویلي و او له یهودانو څخه یې وډارول.

د هجرت په پنځم کال د شوال د میاشتې د هفتې په شپه – د الله پاک تقدیر و چې ابو سفیان رضي الله عَنْهُ او غطفان د عکرمه رضي الله عَنْهُ د ځینو قریشو په شمول بنو قریظه ته استازي واستول چې د محمد ﷺ د بیخ کنې لپاره باید هرومرو سبا د هفتې په ورځ غوځ یرغل وکړو تر څو خبره فیصله شي.

نور مونږ دلته تم کېدونکي نه یو، اسونه او اوښان مو نږدې نور د مرګ په کومې کې لوېدونکي دي.

هغوی ورته پیغام راواستو چې سبا خو د هفتې ورځ ده او سبانۍ ورځ کې مونږ هېڅ هم نه شو کولای او په تاسو هم پټ او پناه نه ده چې زمونږ هر چا چې د هفتې په ورځ څه کړي دي د عذابونو ښکار شوي دي، د دې برسېره مو پام دې ته هم راړول غواړو چې د محمد ﷺ ضد جګړه ستاسو په ملتیا تر هغه نه شو کولای تر څو مو راته مشران خلک په ګڼه کې نه وي راکړي په دې خاطر چې جنګ بیخي یقیني شي، ولې چې مونږ په دې وډارېدو چې که جنګ ګرم شي او شکست مو نصیب شي نو تاسو خو به خپلو کورونو ته ستانه شئ او مونږ به دې سړي ته یواځې پرېږدئ او تاسو ډېر ښه پوهېږئ چې مونږ یې د مقاومت هېڅ توان نه لرو.

قریش او غطفان چې کله ورته په مخکې کړی شوې خبرې په بنسټ په نوې خبر وخبرېدل قریش او غطفان دواړو وویل: د نعیم بن مسعود رضي الله عَنْهُ خبره خو کټ مټ رښتیا وه، ښېرته یې بنوقریظه ته استازي ولېږدول چې که خوښه مو وي د جنګ لپاره چمتوالی ونیسئ چې جنګ ورسره وکړو او په ګڼه کې مشران لا څه چې عام خلک هم نه شو درکولای.

بنوقريظه ته چې د هغوی استازو راپور واورول شو ټولو وويل: د نعيم بن مسعود رضي الله عَنْهُ خبره زره بره هم کړه نه ده.

خلک خو په رښتيا جنګ کوي که موقعه په لاس ورشي نو خرپ ترپ به وکړی او لاړ به شي خو که موقعه په لاس ورنه شي نو خپل کور ته به روغ جوړ ستانه شي او د محمد ﷺ او ستاسو ترمنځ به ورسره ستاسو په کور کلي کې جنګ جګړه وي.

بيا يې ورته استازي وليږدول چې تر څو مو د سرخلک په ګاڼه کې نه وي راکړي تر هغه مو په جنګ کې ملتيا نه کوو.

قريشو او غطفان د بيا ځل لپار انکار وکړ، هغه و چې الله پاک لاپسې نور هم رسوا کړل.

د ژمي کنګل موسم کې پرې الله پاک طوفاني باد راوالوځو ټول ديګونه او په اور باندې کټوئ يې ورله نسکورې کړې.

د راغلو جنګي ډلو ټپلو ترمنځ راپيدا شوې کړکېچ او بېلابېل راپورونه چې د نبي کريم ﷺ ترغوږ ورسېدل حذيفه بن اليمان رضي الله عَنْهُ يې وليږدو تر څو د خلکو د تېرې شپې احوال راوړي.

محمد بن كعب القرظي رضي الله عَنْهُ وايي: د کوفې يو ميشوال حذيفة اليمان رضي الله عَنْهُ ته وويل: ابوعبدالله! تاسو په رښتيا د نبي کريم ﷺ ملګری او ورسره په صحبت کې پاتې شوي ياست؟ هغه وويل: هو وراره، بالکل دغسې ده.سړي وويل: تاسو به ورسره څه کول؟ حذيفه رضي الله عَنْهُ ورته وويل: مونږ به يې لا په خدمت کې ستړي کېدو هم.

سړي وويل: لوړه په رب لايزال چې که د محمد ﷺ سره الله پاک زمونږ صحبت راوستی وی مونږ به په اوکو ګرځولی وی.

حذيفه رضي الله عَنْهُ ورته وويل: لوړه په رب لايزال چې د خندق په ورځ نبي کريم ﷺ د شپې له مخې لږه اندازه لمونځ وکړ او بيا يې مونږ ته مخ کړ او ويويل: د راغلو جنګيالي ليکو بشپړ معلومات به څوک ښه راغونډ کړي چې د شپې له مخې بېرته ځان هم په چټکۍ راورسوي؟ که هر څوک وي زه به له الله څخه وغواړم چې جنت کې يې زما همسايه جوړ کړي.

د ډېرې سختې يخنې او ولږې او د بې سارې وېرې او ډار له مخې هيڅ څوک هم ونه پاڅېد، نبي کريم ﷺ ما ته اواز وکړ، نو زما مجبوري وه چې ورغلی وم ځکه چې په نوم يې راته اواز وکړ او راته يې وويل: حذيفه!! ولاړ شه او په راغلو خلکو کې ځان ننباسه، وګوره چې خلک نورې څه ارادې لري؟ له راپور راټولو پرته نور په هيڅ چا غم او غرض ونه لرې.

زه لاړم او د خلکو په صفونو کې ننوتلم او الله پاک را پورته کړی طوفاني باد پرې های

ناتار جوړ کړی و، په اور باندې ايښې کټوۍ او د هغوی اوروونه او تم ځايونه يې ارې ارې کړل.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ ولاړ ويې ويل او غږ يې کړ: هر څوک خپل ملګري ته وګوري هسې نه پردي څوک مو جنګي ليکې ته داخل نه شي.

حذيفه رضي الله عَنْهُ وايي: ما دستي خپل دواړه اړخ واله وپوښتل چې څوک ياست؟[۱] هغوی وويل: فلانکی د فلانکي ځوی يم.

بيا ابوسفيان رضي الله غږ کړ چې ای قريشو! نور دلته مونږ نه تم کيږو، اسونه او اوښان مو تباه او برباد شول او بنو قريظه وو هم راسره په کړې ژمنه وفا ونه کړه، د سترې بدمرغۍ او د بې سارې باد او طوفان سره مخامخ شول، نه خو مو ترې اور لمبې پورته کولی شي او نه مو ترې په نغري کټوۍ ټينګېدای شي، ټول تم ځايونه يې هم ونړول، زه خو مکې ته د ستنېدو اراده لرم بايد ستانه شوو.

د ابوسفيان رضي الله عَنْهُ اوښ لا ولاړ و چې ورته يې ورټوپ کړ، د اوښ پړی يې هله له غوټې خلاص شو چې ابوسفيان رضي الله عَنْهُ هغسې ولاړ و، خو که د نبي کريم ﷺ راته (د راپور راټولولو پرته نور د هيڅ مه کوه) ويلي نه وو نو په غشي به مې وژلی وی.

حذيفه رضي الله عَنْهُ وايي: بېرته په داسې حالت کې راستون شوم چې نبي کريم ﷺ لا د خپلو ځينو بي بيانو په يمني لباس کې د لمونځ په حالت کې ولاړ و، چې زه يې وليدم خپلو خپو ته يې نژدې په پوښاک کې ننويستم او هغه يې راباندې خپور کړ، زه لا په کمبل کې پټ وم چې هغه رکوع او سجده هم پوره کړه، خو چې کله يې سلام وګرځو په ليدلي ټول راپور مې خبر کړ.

د قريشو بېرته ستنېدو نه چې غطفان وخبرېدل دوی هم خپلو کورونو ته ستانه شول.

د شپې له تېرېدو سره د سهار په مهال د نبی کريم ﷺ په شمول ټول مسلمانان بېرته مدينې ته سالم او غانم راستانه شول او خپل جنګي اوزار يې ځای پرځای کړل.

## په پنځم هجري کال کې د بنوقريظه غزا

ورځ چې تر ماسپښينه ورسېده جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ له غټو وريښمو نه پټکی وهلی په زين پوښل شوي قچر باندې راغی او نبي کريم ﷺ ته يې وويل: ای د الله رسوله! ايا تا خپل جنګي

(۱) په شرح المواهب کې ليکلي دي چې ښي اړخ وال ته مې وويل: څوک يې؟ هغه وويل: معاوية بن ابي سفيان رضي الله عَنْهُ يم، بيا مې کڼ اړخوال ته وويل: ته څوک يې؟ هغه وويل: عمرو بن العاص رضي الله عَنْهُ يم.

لباس ويستلی دی؟ هغه ورته وویل: هو، جبريل عَلَيْهِ السَّلاَمُ ورته وويل: راغلو ملائکو لا تر اوسه خپل جنګي اوزار نه دی ايښی، ملائک خو ايله بيله اوس د شکست زده قوم له څارنې څخه راستنې شوې.

الله پاک تا ته د بنو قريظه و سره په جنګ کولو امر کوي زه هم اوس هلته روان يم تر څو زړونه او هوډونه يې ونړوم.

نبی کريم ﷺ علي بن ابی طالب رضي الله عَنْهُ ته بيرغ ورکړ تر څو ځان بني قريظه ته زر ورسوي، هغه و چې خلکو يې په پل پسې ګړندی پل پورته کړ او ځانونه يې تر بنوقريظه ورسول، علي رضي الله عنه چې کله د هغوی تر لويو قلاونو ورسېد د نبي کريم ﷺ اړوند يې ورڅخه سپکې سپورې واورېدې بېرته تر هغه راستون شو چې د نبي کريم ﷺ سره مخامخ شو او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! بنوقريظه و ته نژدې مه ورځه، هغه ورته وويل: ولې؟ زما اړوند دې ترې سپورې ستغې واورېدې؟ هغه وويل: هو، نبي کريم ﷺ ورته وويل: تر هغه چپ شي چې ما ووينې.

کله چې نبي کريم ﷺ د هغوی تر ماڼو نژدې ورسېد ورته يې غږ کړ: ای د شادوګانو ورونو! ايا الله ونه شرمولئ؟ ايا الله درباندې خپل عذاب رانښکته نه کړ؟

هغوی ورته وويل: ته ډېر پوهه او هوښيار يې نبي کريم ﷺ بنو قريظه و ته د رسېدو سره سم د هغوی چارپايانو ته نژدې د (أَنَّا) نومې کوهي سره واړوله.

ځينو خلکو د مازديګر لمونځونه له ماسخوتن په مهال د نبي کريم ﷺ د امر سره سم هلته وکړل چې بايد هر سړی دمازديګر لمونځ بنوقريظه و ته ورسوي، او دوی د جنګ په هغې سختو کې وو چې لمونځ يې ادا نه کړی شو نه په دغې کړنه الله پاک ملامته کړل او نه هم ورته رسول کريم ﷺ څه وويل.

ترينځه ويشت شپو ورځو پورې يې پرې بنديز ولګو تر څو خپله سترې شول او الله پاک يې زړونه له ډار او وېرې څخه هم ډک کړل.

د قريشو او غطفان له ستنېدو وروسته حيي بن اخطب هم د کعب بن اسد سره يځپلې ژمنې د وفا په خاطر د بنو قريظه و سره شريک ماڼې ته ننوت، بنوقريظه چې کله وپوهېدل چې نبي کريم ﷺ ترې له جنګ پرته بيخي نه ستنيږي نو کعب بن اسد ورته وويل:

ای يهودانو! په راغلې حالت خو تاسو ډېر ښه خبر ياست، زه درته درې مشورې درکوم د عقل په تقاضی ترې يوه هرومرو ومنئ.

ټولو ورته وويل وايه بايد څه وکړو؟ هغه وويل:

۱ بايد د دې سړي پيروکاري او پوره تصديق وکړو، لوړه په رب لايزال چې تاسو اوس په

دې ډېر ښه وپوهېدئ چې دا رښتونی نبي او د الله پاک له اړخه راستول شوی دی او دا هغه پیغمبر دی چې ستاسو کتاب پرې هم ګواه دی، د ایمان سره به ستاسو وینه او ځان او شتمني او ښځې همدا ستاسو په ولکه کې پاتې شي.

هغوی وویل: مونږ هېڅکله هم د تورات د حکمونو مخالفت نه شو کولای او نه یې پرې استبدال ته کومه اړتیا لرو.

۲ بیا یې ورته وویل: که دې مشورې ته غاړه نه ورکوئ نو راځئ چې خپلې بې بیانې او بچې په خپلو لاسونو ووژنو بیا به د محمد او ملګرو په ضد میدان ته د خونړیزې معرکې لپاره ووځوو تر څو الله پاک زمونږ او د هغه ترمنځ غوڅه پرېکړه وکړي، ځکه چې بچیان خو به زمونږ نه مخکې تللي وي نو د بچو اړوند به هېڅ ډول ډار نه احساسوو، که پرې بریمن شوو او مېدان مو وګټو نو له دې ښخه غوره بچیان او ښځې به په لاس راشي.

هغوی و ځوابو چې دې مسکینانو څه کړي دي؟ د دوی له مرګ نه وروسته به په ژوند کې هېڅ خوند او مزه پاتې نه وي.

۳ هغه ورته وویل: چې دا مشوره مې هم نه منئ نو وس خو د هفتې شپه ده، هغوي یقیني دي چې دوی د ورځې جنګ نه کوي ناڅاپه به پرې خونړیز یرغل وکړوو کېدای شي زړونه مو پرې یخ شي!!

هغوی وویل: ولې اوس دې ته راورسېدو چې د هفتې د ورځې تقدیس د خپو لاندې کړوو؟ او دهغې سزاګانو وړ وګرځوو چې مشران مو یې ښکار شوي وو!

او تا ته ښه معلومات دي چې هغوی د بې حرمتۍ له کبله مسخه شوي وو!!

کعب ورته وویل: د مور له زېږولو وروسته مو یوه شپه هم په عقل کې نه ده تېره کړې.

بیا حصار شوي یهودانو نبي کریم ﷺ ته استازی واستو چې ابولبابة رضي الله عَنْهُ راته راواستوه تر څو مونږ ترې مشوره واخلو.

نبي کریم ﷺ ورته ابولبابة رضي الله عَنْهُ واستو یهودانو چې کله ولید تول ورته راولاړ شول، ماشومانو او ښځو یې ورته په وېر ژړا شروع وکړه، بیا ورته یهودانو وویل: څه فکر لرې که نبي کریم ﷺ ته د هغه د فیصلې په تقاضی تسلیم شو؟[۱]

(۱) بنوقریظه چې له کله راهیسې محاصره شول او دخپل ځان په هلاکت یې یقین راغی، شأن بن قیس یې د نبي کریم ﷺ سره د خبرو اترو لپاره واستو چې بنوقریظه به هم لکه د بنونظیر په څېر د اوښ بار په اندازه د خپلو ماشومانو او بچو سره له کورونو څخه کډوال شي، نبي کریم ﷺ ترې غوڅ انکار وکړ، بیا یې ورته وویل: مونږ او زمونږ ښځو او بچیانو ته امان راکړه، جنګي او کورني ساز اوسامان دې هم دریاتې وي، نبي کریم ﷺ ترې بیا انکار وکړ تر څو یې پرېکړې ته غاړه کېږدي، شأن بن قیس د نبي کریم ﷺ غوڅ دریځ

ابولبابة رضي الله عَنْهُ ورته په خپلې مرۍ لاس راښکو او ورته يې وويل: ډېره ښه ده[1].

ابولبابة رضي الله عَنْهُ وايي: وړاندې له دې چې له يهودانو څخه پل پورته کړم وپوهېدم چې د الله او د هغه د رسول ﷺ سره مې خيانت وکړ.

ابولبابة -رضي الله عَنْهُ- د مسجد په لور رهي شو او هلته يې ځان د ستنې پورې وتړو او ويويل: تر هغه به تړل شوی يم چې الله پاک مې توبه قبوله کړي او هېڅکله به نور بنوقريظه ته ولاړ نه شم، په هغه ځمکه هېڅکله پل نه ږدم چې ما پرې د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ سره جفا کړې وي.

نبي کريم ﷺ چې کله د هغه راپور واورېد ويويل: ولې زما خوا ته نه راتلو چې د الله پاک نه مې ورله بخشش غوښتی وی؟ چې اوس يې ځان تړلی دی تر هغه دې زغم وباسي تر څو يې الله توبه قبوله کړي.

ام سلمة -رضي الله عَنْهَا- وايي: نبي کريم ﷺ وفرمايل: د ابولبابة توبه قبوله شوه، ما ورته وويل: د الله پېغمبره! زېری ورته نه ورکوم؟ هغه وويل: ولې نه که ستا خوښه وي زېری ورکړه.

د ستر او پردې د اسماني حکم نه وړاندې ام سلمة رضي الله عَنْهَا د خپل کور په دېوال مسجد ته ورپورته شوه، ورته يې عرض کړ چې زېری مې درباندې توبه دې قبوله شوه.

ام سلمة رضي الله عَنْهَا وايي: خلک په چټکۍ راولاړ شول تر څو يې بند وسپړي هغه ورته وويل: نا، تاسو به مې د بند غوټې نه خلاصوئ تر څو نبي کريم ﷺ مې په خپلو لاسونو د بند غوټې وسپړي.

کله چې نبي کريم ﷺ د سبا ورځې سهار لمونځ ته ووت بند يې ترې لرې کړ.

ابن هشام وايي: ابولبابة رضي الله عَنْهُ شپږ شپې ځان په جومات کې د کجورې تنې پورې تړلی و، د لمونځ په وخت کې به يې ښځې راخلاصو او د لمونځ نه وروسته به يې بيا ځان بند ته ورکو.

بهر کيف بالاخره هم بنو قريظه د نبي کريم ﷺ غوښې پرېکړې ته تيار شول، د اوس قبيلې خلک نبي کريم ﷺ ته راغلل او ورته يې وويل: بنوقريظه زمونږ ملاتړي وو، پرون چې تا زمونږ د خزرجيانو ورونو د ملاتړو سره کومه رويه کړې وه تا ته عرض کوو چې دوی سره هم هغه رويه وکړې!!

---

(۱) په شرح المواهب کې ليکي: ابولبابة رضي الله عَنْهُ به د نبي کريم ﷺ غوڅ دريځ د هغوی وژل معلوم کړل چې ذبحه کوي به يې، ځکه يې ورته په لاس اشاره وکړه.

يهودانو ته راپور يوړ. (شرح المواهب دزرقاني ليکنه).

بنو قینقاع چې د خزرجیانو ملاتړي وو نبي کریم ﷺ محاصره کړي وو، هغه و چې ځانونه یې د نبی کریم ﷺ پرېکړې ته ورکړل، بیا ترې عبدالله بن ابي بن سلول ټول وغوښتل هغه ته یې ډالۍ کړل.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: ایا دا به ښه نه وي چې د بنوقریظه اړوند غوڅه پرېکړه ستاسو د قبیلې یو نفر وکړي؟ ټولو وویل: ولې نه، د الله رسوله ډېره ښه ده.

نبی ﷺ ورته وفرمایل: دا پرېکړه به سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ کوي، نبي ﷺ د سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ له ټپي کېدو وروسته د اسلم قبیلې متعلق د رُفَیْدَه رضي الله عَنْهَا په خېمه کې د سمبالولو امر وکړ، رُفَیدې رضي الله عَنْهَا به د الله د رضا په خاطر د ټپیانو علاج معالجه کوله.

له کوم راهیسې چې سعدبن معاذ رضي الله عَنْهُ د خندق په غزا کې ټپي شو، نبي کریم ﷺ صحابه کرامو ته وویل: سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ د رُفَیْدَه رضي الله عَنْهَا په خیمه کې دېره کړئ تر څو زه یې له نزدې پوښتنه وکولی شم.

بیا چې کله د بنو قریظه د پېښې اړوند د پرېکړې دنده سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ ته ورکړل شوه، خپل ټول قام قبیل یې پسې راغی، په خر یې د هغه لپاره د څرمن څادر خپور کړ، هېره دې نه وي چې سعد رضي الله عَنْهُ ټکپله ښایسته مزېدار او چاغ انسان و، چې کله یې قوم د نبي ﷺ تر حضوره راورسو په لاره کې به ورته خپل هر قومي بار بار ویل: ابوعمره! د خپلو ملاتړو اړوند باید هرومرو نېکه مشوره ورکړې، نبي کریم ﷺ په دې اند غوره کړې تر څو ته یې پلوي وکړې، د بار بار تکرار له کبله ورته سعد رضي الله عَنْهُ وویل: اوس به سعد د الله پاک د رضا په خاطر د چا له ملامتیا هیڅ پرواګیر نه وي.

د دې خبرې داورېدو سره څېنې قوم یې د بنو عبدالاشهل کورونو ته د بنو قریظه د مرګ اوازه یوړه او لا سعد رضي الله عَنْهُ بنوقریظه و ته نه و رسېدلی.

کله چې سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ د نبي کریم ﷺ مجلس ته ورسېد، خلکو ته یې وویل: خپل مشر ته مو وپاڅېږئ، د خبرې اورېدو سره مهاجرینو وویل چې نبي کریم ﷺ انصارو ته وویل چې ورته وپاڅېږئ، او انصارو ویل: نا، نبي کریم ﷺ ټولو ته وویل چې سعد رضي الله عَنْهُ ته وپاڅېږئ، ټول ورته پاڅېدل او ورته یې وویل: ای ابوعمره! نبی کریم ﷺ تا ته د خپلو ملاتړو پرېکړه ځکه دروسپارتله چې ښه رویه ورسره وکړې!

سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ ورته وویل: ایا د الله په نوم مو راسره لوظ دی چې پرېکړه به مې اخرنۍ پرېکړه وي؟

هغوی وویل: هو، بیا یې ورته وویل: دلته شته خلک به یې ټول مني؟ چرته چې نبي ﷺ ناست و ورته یې اشاره وکړه.

نبي کريم ﷺ ځواب ورکړ چې هو، زه يې هم منم.

سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ وويل: د بنوقريظه اړوند زما پرېکړه دا ده چې بايد لويان يې ووژنئ، شتمني يې په مسلمانانو تقسيم کړئ، ښځې او ماشومان يې وينځې او غلامان کړئ.

نبي کريم ﷺ سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ ته وويل: داوو اسمانونو پورته د الله پاک په فيصله دې فيصله وکړه.

بيا بنوقريظه له قلاوونو څخه راښکته کړی شول او په مدينه کې د کيسه بنت الحارث په کور کې يې بنديوان کړل، بيا نبي کريم ﷺ د مديني بازار ته ووت او هلته يې ډېرې کندې کويان وکنستل، استازی به يې پسې ليږدول او ډلې ډلې قرظيان به راوستل کېدل او په ويستل شو کندو کې به ترې کېرې قلم کېدې، په دغې مردارانو کې د الله ستر دښمن حيي بن اخطب او د بنو قريظه و مشر کعب بن اسد هم وو.

په دغې ورځ له تېغه تېر شوو شمېره شپږ سوه يا اووه سوه کسان وو، نور ځينې تاريخ پوهان اټکلوي چې د بنوقريظه يهودان د اته سوه او نهه سوه ترمنځ وو.

کعب بن اسد چې لاس تړلی يې نبي کريم ﷺ ته په لويه ډله کې روان کړی و خپلو خلکو ورته وويل: کعبه! چرته يې روان کړي يو؟

هغه ورته وويل: تر اوسه مو عقل ځای ته رانغی، تاسو نه وينئ چې هېڅ څوک د بلونوال مخه نه نيسي، څوک چې راڅخه لاړ شي بېرته نه راځي، خووپوهېږئ چې مرګ ته روان يو.

د مرګ او قتل دغه لړي تر هغه جاري او ساري وه تر څو ترې رسول الله ﷺ بيخي وزګار شو.

د الله لوی دښمن حيي بن اخطب چې لاسونه يې تر څټ کلک تړل شوي وو راوستل شو، په تن پروت کميس يې ګوتې په ګوتې په دې خاطر څېرلی و چې په غنيمت کې چا ته پاتې نه شي، نبي کريم ﷺ ته په کتلو يې دواړه ورته وويل: تاسره په دښمنۍ ځان نه ملامتوم خو الله پاک د هغه چا مرسته نه کوي چې څوک د الله مرسته نه کوي.

بيا يې خلکو ته مخ راواړو او ويويل: خاطر مو جمع کړئ، دا د الله پرېکړه ده چې بني اسرائيل د داسې غوښې غوښې پېښو سره مخ کيږي، بيا کښېناست او له تن څخه يې ورله سر قلم کړ.

ام المؤمنين عايشه رضي الله عَنْهَا وايي: له يوې زنانه پرته د قرظيانو بله هېڅ زنانه نه ده قتل شوې او هغه هم له ماسره ناسته وه خبرې اترې يې کولې او په بق بق به يې خندل خو ولې د نارينه وو نه يې په ډېره لږه فاصله کې سرونه قلم کېدل.

نا څاپه غږ شو چې فلانکۍ زنانه چرته ده؟ هغې وويل: دا يم، ما ورته وويل: غرقه شې تا څه کړي دي؟ چرته ځې؟ هغې راته وويل: دوی مې مړه کوي کنه! ما ورته وويل: ولې؟ هغې

وويل: ما يو څه کړي وو[1] بيا بوتلل شوه او ووژل شوه.

عايشه – رضي الله عَنْهَا – وايي: دغه ښځه مې بيخي له ياده نه وځي چې په خپل مرګ خبره هم وه او دومره خوشحاله وه چې په بق بق يې خندل.

نبي کريم ﷺ د هر بالغ په وژلو عام امر صادر کړ.

عطية القرظي رضي الله عَنْهُ وايي: نبي کريم ﷺ د ټولو هغه قرظيانو په مرګ فيصله وکړه چې له نامه لاندې يې ويښتان راټوکيدلي وو، زه د هغه خلکو په چم کې وم چې له نامه لاندې ويښتان يې نه وو راټوکيدلي نو هېڅ يې هم راته ونه ويل.

ايوب بن عبدالرحمن وايي: سلمی بنت قيس رضي الله عَنْهَا چې د نبي کريم ﷺ د مور له اړخه ترور هم کېده، د نبي کريم ﷺ سره يې دواړو قبلو ته لمونځ هم کړی و، لکه د عامو مسلمانانو ښځو په څېر يې ورسره په اسلام بيعت کړی و، ورځخه يې د رفاعة لاس ته راوړلو هيله څرګنده کړه حالانکه چې رفاعه سلمی بنت قيس -رضي الله عَنْهَا- ته د پناه ورو ړلو هيله کړې وه، سلمی رضي الله عَنْهَا راغله، او نبي کريم ﷺ ته يې وويل: ای د الله پيغمبره! زما پلار او مور دې درځخه قربان شي رفاعه ما ته ډالۍ کړه، هغه داسې وايي چې لمونځ به هم کوي او د اوښ غوښه به هم خوري.

نبی کريم ﷺ ورته رفاعه په ډالۍ کې ورکړ او ژوندی پرېښودل شو.

بيا نبي کريم ﷺ د بنو قريظه ښځې او بچيان په مسلمانانو وويشل، له دې وروسته نبي کريم ﷺ د بنو عبدالاشهل د قبيلې غړي سعد بن زيد انصاري رضي الله عَنْهُ ته له بنوقريظه ټول وينځې او غلامان شوي زنانه او نارينه ورکړل تر څو نجد ته يې بوځي او هلته پرې اسونه او نور جنګي سازو سامان واخلي.

په وينځو شوو ښځو کې نبي کريم ﷺ د ځان لپاره ريحانه بنت عمرو بن خناقه رضي الله عَنْهَا خوښه کړه او تر هغه يې په ولکه کې وه چې ورځخه وفات شو.

نبي کريم ﷺ اراده لرله چې يې ازاده او بيا يې په نکاح واخلي خو ريحانې رضي الله عَنْهَا ورته وويل چې که په خپل حالت مې پرېږدې نو زما او ستا لپاره به له نکاح څخه بهتره وي، نو نبي کريم ﷺ په وينځې توب کې پرېښوده.

له کله راهيسې چې ريحانه رضي الله عَنْهَا وينځه شوه نبي کريم ﷺ ورته د اسلام دعوت ورکړ، خو ريحانه پخپل يهوديت کلکه پاتې شوه او اسلام ته غاړې ورکولو ته تياره نه شوه نو

(١) ابن هشام وايي: دغې ښځې په خلاد بن سويد رضي الله عَنْهُ باندې د ژرندې پل راغورځولی و او هغه يې پرې شهيد کړی و.

نبي كريم ﷺ ترې د انكار په سبب خفه او ناراضه و پرېښوده، يوه ورځ د خپلو ملګرو سره ناست و څه ګوري چې ثعلبه بن سعية رضي الله عَنْهُ دومره توند راروان و چې د خپو ترپار يې نبي كريم ﷺ واورېد، ويويل: لكه چې ثعلبه رضي الله عَنْهُ ما ته دريحانې رضي الله عَنْهَا په اسلام زيرى راكوي؟

رښتيا هم د رارسېدو سره سم يې ورته د هغې د اسلام زيرى وركړ او نبي كريم ﷺ يې په اسلام راوړو بې تحاشا خوشحاله شو.

د خندق او د بنوقريظه اړوند الله پاک د سورت احزاب روښانه ايتونه نازل كړل، په دغې ايتونو كې الله پاک په مسلمانانو د خپرې غميزې لړي بيان كړېده، په دغو ايتونو كې الله پاک د خپل نعمت او احسان يادونه هم كړې ده چې د غم او خفګان پرته لړي يې بيخي له منځه يوړه، د كافرانو په ضد الله پاک مسلمانانو لره بس او كافي شو، د سختى په دغه مهال الله پاک د منافقانو ناوړه عقايد هم پسې ښه راڅرګند كړل.

الله پاک فرمايي: ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ جَآءَتۡكُمۡ جُنُودٞ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا وَجُنُودٗا
لَّمۡ تَرَوۡهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرًا ٩ إِذۡ جَآءُوكُم مِّن فَوۡقِكُمۡ وَمِنۡ أَسۡفَلَ مِنكُمۡ وَإِذۡ زَاغَتِ ٱلۡأَبۡصَٰرُ وَبَلَغَتِ
ٱلۡقُلُوبُ ٱلۡحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِٱللَّهِ ٱلظُّنُونَا۠ ١٠ هُنَالِكَ ٱبۡتُلِيَ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَزُلۡزِلُواْ زِلۡزَالٗا شَدِيدٗا ١١ وَإِذۡ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ
وَٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ مَّا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ إِلَّا غُرُورٗا ١٢ وَإِذۡ قَالَت طَّآئِفَةٞ مِّنۡهُمۡ يَٰٓأَهۡلَ يَثۡرِبَ لَا مُقَامَ لَكُمۡ فَٱرۡجِعُواْۚ
وَيَسۡتَـٔۡذِنُ فَرِيقٞ مِّنۡهُمُ ٱلنَّبِيَّ يَقُولُونَ إِنَّ بُيُوتَنَا عَوۡرَةٞ وَمَا هِيَ بِعَوۡرَةٍۖ إِن يُرِيدُونَ إِلَّا فِرَارٗا ١٣ وَلَوۡ دُخِلَتۡ عَلَيۡهِم مِّنۡ أَقۡطَارِهَا ثُمَّ
سُئِلُواْ ٱلۡفِتۡنَةَ لَأٓتَوۡهَا وَمَا تَلَبَّثُواْ بِهَآ إِلَّا يَسِيرٗا ١٤ وَلَقَدۡ كَانُواْ عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ مِن قَبۡلُ لَا يُوَلُّونَ ٱلۡأَدۡبَٰرَۚ وَكَانَ عَهۡدُ ٱللَّهِ
مَسۡـُٔولٗا ١٥ قُل لَّن يَنفَعَكُمُ ٱلۡفِرَارُ إِن فَرَرۡتُم مِّنَ ٱلۡمَوۡتِ أَوِ ٱلۡقَتۡلِ وَإِذٗا لَّا تُمَتَّعُونَ إِلَّا قَلِيلٗا ١٦ قُلۡ مَن ذَا ٱلَّذِي يَعۡصِمُكُم
مِّنَ ٱللَّهِ إِنۡ أَرَادَ بِكُمۡ سُوٓءًا أَوۡ أَرَادَ بِكُمۡ رَحۡمَةٗۚ وَلَا يَجِدُونَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ١٧ ۞ قَدۡ يَعۡلَمُ ٱللَّهُ ٱلۡمُعَوِّقِينَ مِنكُمۡ
وَٱلۡقَآئِلِينَ لِإِخۡوَٰنِهِمۡ هَلُمَّ إِلَيۡنَاۖ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلۡبَأۡسَ إِلَّا قَلِيلًا ١٨ أَشِحَّةً عَلَيۡكُمۡۖ فَإِذَا جَآءَ ٱلۡخَوۡفُ رَأَيۡتَهُمۡ يَنظُرُونَ إِلَيۡكَ تَدُورُ
أَعۡيُنُهُمۡ كَٱلَّذِي يُغۡشَىٰ عَلَيۡهِ مِنَ ٱلۡمَوۡتِۖ فَإِذَا ذَهَبَ ٱلۡخَوۡفُ سَلَقُوكُم بِأَلۡسِنَةٍ حِدَادٍ أَشِحَّةً عَلَى ٱلۡخَيۡرِۚ أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يُؤۡمِنُواْ فَأَحۡبَطَ
ٱللَّهُ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ وَكَانَ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٗا ١٩ يَحۡسَبُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ لَمۡ يَذۡهَبُواْۖ وَإِن يَأۡتِ ٱلۡأَحۡزَابُ يَوَدُّواْ لَوۡ أَنَّهُم بَادُونَ فِي
ٱلۡأَعۡرَابِ يَسۡـَٔلُونَ عَنۡ أَنۢبَآئِكُمۡۖ وَلَوۡ كَانُواْ فِيكُم مَّا قَٰتَلُوٓاْ إِلَّا قَلِيلٗا ٢٠ لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ
لِّمَن كَانَ يَرۡجُواْ ٱللَّهَ وَٱلۡيَوۡمَ ٱلۡأٓخِرَ وَذَكَرَ ٱللَّهَ كَثِيرٗا ٢١ وَلَمَّا رَءَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ
وَرَسُولُهُۥۚ وَمَا زَادَهُمۡ إِلَّآ إِيمَٰنٗا وَتَسۡلِيمٗا ٢٢ مِّنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ رِجَالٞ صَدَقُواْ مَا عَٰهَدُواْ ٱللَّهَ عَلَيۡهِۖ فَمِنۡهُم مَّن قَضَىٰ نَحۡبَهُۥ وَمِنۡهُم
مَّن يَنتَظِرُۖ وَمَا بَدَّلُواْ تَبۡدِيلٗا ٢٣ لِّيَجۡزِيَ ٱللَّهُ ٱلصَّٰدِقِينَ بِصِدۡقِهِمۡ وَيُعَذِّبَ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ إِن شَآءَ أَوۡ يَتُوبَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ
غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٢٤ وَرَدَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِغَيۡظِهِمۡ لَمۡ يَنَالُواْ خَيۡرٗاۚ وَكَفَى ٱللَّهُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱلۡقِتَالَۚ وَكَانَ ٱللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزٗا ٢٥
وَأَنزَلَ ٱلَّذِينَ ظَٰهَرُوهُم مِّنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ مِن صَيَاصِيهِمۡ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ ٱلرُّعۡبَ فَرِيقٗا تَقۡتُلُونَ وَتَأۡسِرُونَ
فَرِيقٗا ٢٦ وَأَوۡرَثَكُمۡ أَرۡضَهُمۡ وَدِيَٰرَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُمۡ وَأَرۡضٗا لَّمۡ تَطَـُٔوهَاۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٗا﴾(١)

---

(١) سورت احزاب: (٩-٢٧). ژباړه: اى مومن صفته خلكو! د الله پاک هغه لورينه په ځان رايادہ كړئ چې دښمن او اغيار

د بنوقريظه و څخه چې خلک راوزګار شول د سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ ټپ لا پسې ناسور شو او له کبله يې په شهادت ورسېد.

حسن بصري رَحِمَهُ الله وايي: سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ درون او جسيم انسان و، خلکو

دربانديې لاندي باندې راغی، مونږ وربانديې خپلې لښکرې (ملائکې) راواستولې چې تاسو لا نه ليدلې او تاسو چې څه کوئ الله مو ويني * په تاسو چې کله دښمن (بنوقريظه) له برنه او ځينې دښمن (قريش او غطفان) له لر نه راغلل، ستاسو سترګې کږې نسکورې شوې او له ډاره مو زړونه تر مرئ ورسېدل او تاسو په الله راز راز ګمانونه وکړل * د غزا او خپور ډار په دغه مهال مومنان ښه وازمول شول او سخت ولړزول شول * د خپور ډار په مهال منافقانو او نورو هغو وګړو چې په نفاق رنځوران وو ويل: مونږ سره د الله پاک او د هغه رسول ﷺ کړې ژمنې له ټګۍ برګۍ پرته نور څه نه دي * او ځينو منافقانو (معتِّب بن قشير) دا هم ويل: ای د يثرب ميشتوالو! تاسو په راغلو جنګي ډلو نن ورځ هېڅ توان نه لرئ، بېرته خپلو هستوګنځايونو ته ستانه شئ او ځينو نورو منافقانو (اوس بن قيظي) به د کورونو د ځانلوالي په بهانه اجازې غوښتې، په رښتيا يې کورونو يواځې نه وو خو له جنګ څخه تښتېدل * خو که د کفارو جنګي ليکي فرضاً د مديني له شاو خوا راغلې وای او له دوی څخه يې کفر کول غوښتلی وی دوی به بېرته کفر هم کړی وی او د زړې په اندازه به يې وروستوالی نه و کړی * او ځينې منافقانو (بنو حارثه) د الله پاک سره ژمنه کړې وه چې نور به په جنګ کې شکستونه نه اچوي او الله به ترې هرومرو د خپلې ژمنې پوښتنه کوي * ای پېغمبره! ورته ووايه چې تاسو ته به له مرګ ژوبلې څخه تېښته هېڅکله ګټه ونه رسوي، خو که تاسو وتښتئ او په شا ولاړ شئ له ډېرې لږې او ترې فائدې پرته به نور هېڅ درنه کړل شي * دا هم ورته ووايه چې که الله پاک تاسو ته زيان رسونه وغواړي څوک به مو ترې وژغورلای شي؟ او که درته ګټه رسول وغواړي نو څوک به د الله مخه ونيولای شي؟ او حالانکه چې منافقانو لره د الله په ضد هېڅ مرستندويه اوملاتړي نشته * الله پاک له جنګ څخه ناست او منعه کونکي خلک ښه پېژني چې همزولو او منافقانو او نورو خلکو ته وايي چې جنګ ته مه ځئ او خپله هم جنګ ته يا د دفاع لپاره او هغه هم کله نا کله ځي * د کينې له کبله په تاسو ډېر زيات تېره ژبي دي، خو چې کله هم د خوف او ترس وخت راشي ته به ورته ګورې لکه مرګ نيولي په خېر به سترګې خوارې اړوي راړوي، خو چې د ډار وخت ترپايه ورسيږي نو ستاسو په حق کې به نازيبا الفاظ ا ستعمالوي، دوي په الله باور نه لري ځکه خو ورله الله ټول عملونه برباد کړي دي او دمنافقانو نېک عملونه بې ثوابه کول په الله ډېر اسان دي * دوی داسې انګېرول چې راغلې جګړه ماران به تر اوسه نه وي تللې، خو که احزاب د دوهم ځل لپاره بيا هم راشي نو دوی ته به پسنده دا وي چې په لرو پرتو بانډو کې پراته وی او ستاسو له روانو حالاتو څخه يې له نورو نه پوښتنې کولې، خو که د دوهم ځل لپاره هغوی راشي او منافقان مو ترڅنګ وي نو په جنګ به يې ونډوال ډېر لږ وي * د الله د رسول خبرو په منلو کې ستاسو لپاره د نېکې اقتدا درس دی، د هغه چا لپاره چې په الله او د قيامت په ورځ ايمان لري او الله پاک هم ډېر ډېر يادوي * او مومنانو چې کله د راغلو اغيارو جګړه ماري ډلې وليدلې سمدستي يې وويل: دا مونږ سره د الله او د هغه رسول د کړې ژمنې رښتنولي ده اوالله پاک او د هغه رسول په خپلو ژمنو کې رښتني دي، په دې يې حق ته تسليمي اوباور لا پسې زيات شو * او په مومنانو کې ځينې هغه باتوره اوتوريالي وو چې د الله پاک سره يې په خپلې کړې ژمنې وفا وښودله، ځينو يې خپله موخه (شهادت) تر لاسه کړ او ځينې يې د لاس ته راوړنې په انتظار دي او دغو باتورانو د موخې لاس ته راوړلو کې هېڅ راز تردد نه دی کړی * دا په دې خاطر چې الله پاک رېښتنومومنانو ته د رښتونې ايمان په بنسټ نېکه بدله ورکړې او دخپل مشيئت او خوښې په بنسټ منافقانو ته عذاب او يا د توبې ويستلو توفيق ورکړي، ځکه چې الله بښونکی او د زياتې پېرزو والا دی * ټول کافران (قريش او غطفان) په غم او غصې ډکې سينې بېرته الله ستانه کړل چې خپل هېڅ هدف ته ونه رسېدل او د جنګ په روان لړۍ کې الله پاک د مومنانو لپاره کافي شو ځکه چې الله پاک ډېر زيات قوی او زوراور دی * او د اهل کتابو ځينې خلک (بنوقريظه) الله پاک له خپلو لوړو بروجونو څخه راښکته کړل چې د کفارو مرستو ته يې دوام ورکړی و، ځينې تاسو ووژل او نور ځينې مو غلامان کړل * د هغوی ځمکې او کورونه اوټوله شتمني الله پاک تاسو ته په غنيمت کې درکړه، او الله به نوره ځمکه هم په غنيمت کې درکړي چې تر اوسه مو لا د خپو لاندې نه ده راغلې او الله پاک په هر شي باندې قدرت لرونکی دی.

يې جنازه اوړو ته سپکه پورته کړه، منافقانو به ويل: دا لا چاغ او باډېدار و، دومره سپکه جنازه مونږ هېڅ چرته نه وه ليدلې!!

کله چې نبي کريم ﷺ ته د منافقانو راپور ورسېد ويويل: نور چا هم درسره جنازه پورته کړې وه، د دې په روح ملائک ډېر زيات خوشحاله شو او له ډېرې مينې ورته عرش هم په خوځښت کې راغی.

له مشرکانو څخه د جنګ په روانه لړۍ کې درې نفرو سرونه وخوړل، منبه بن عثمان بن عبيد چې په غشي ټپي شوی و اوپه مکه کې ومړ.

له بنو مخزوم بن يقظه څخه په کې نوفل بن عبدالله بن المغيره هم وژلی شوی و، هغه غوښتل چې کنې له خندق څخه به په اسانه تېر شي، هغه و چې پکې راپرېوت او مردار شو، مسلمانانو يې جثه (لاش، نعش) راپورته کړ، مشرکانو له نبي ﷺ څخه ويوښتل چې نوفل ورباندې په مړينه وپلورې، نبي کريم ﷺ يې ورته مړی ورکړ او ويويل: نه مو ورله مړی په کار دی او نه مو ورله پېسې ټکې په کار دي.

له بنو عامر بن لؤي نه په کې عمرو بن عبد ود هم سر خوړلی و، علي رضي الله عَنْهُ په خپل لاس و واژه.

له مسلمانانو څخه په کې يو خلاد بن سويد رضي الله عَنْهُ شهيد شوی و چې د بنو قريظه په ورځ پرې يوې يهودنې له بره د ژرندې پل راخوشې کړ او شهيد شو، داسې ويل کيږي چې نبي کريم ﷺ يې اړوند وويل: (اِنَّهُ لَهُ لَأَجْرُ شَهِيْدَيْنِ) خلاد رضي الله عَنْهُ ته به د دوو شهيدانو ثواب ورکړل کيږي.

بل ابوسنان بن محصن بن حرثان رضي الله عَنْهُ و چې نبي کريم ﷺ لا د بنو قريظه و حصار نه و مات کړی چې وفات شو او هلته د بنوقريظه و په مقبره کې يې دفن کړ.

ماته د رارسيدلي پېښليد له مخې چې نبي کريم ﷺ کله له خندق څخه مدينې ته راستون شو ويويل: له دې کال وروسته نور قريش له تاسو سره جنګ نه شي کولی بلکې تاسو به ورسره جنګ کوئ.

ربښتيا هم چې له دغې سحنې وروسته قريشو د مسلمانانو سره جنګ ته زړه نه ښه کو خو مسلمانانو به ورسره جنګونه کول تر دې چې الله ورته د مکې فتحه ورکړه.

## د بنو لحيان غزا

د بنوقريظه له غزا وروسته نبي کريم ﷺ د ذوالحجې، محرم، صفر، ربيع الاول او ثاني مياشتې په مدينه کې تېرې کړې، د جمادی الاولی د مياشتې په لومړيو کې د بنو لحيان سره غزا ته راپورته شو تر څو د رجيع د پېښې ملزمان ګرفتار کړي او د خبيب بن عدي او ملګرو رضي

الله عَنْهُمْ غچ واخلي، خلکو ته يې واورول چې شام ته تلونکی دی په دې خاطر چې اغيار په خپل غفلت او ناخبرۍ کې د تېر په څېر پاتې شي.له مدينې څخه د غُراب په لاره رهی شو[1] غراب چې له مدينې څخه شام ته شاهراه او لويه غريزه سيمه ده له لارې يې مَحِيْض او بيا هم بتراء ته ورسېد، له دې ځايه بېرته راستون او مدينې ته نزدې د (بِيْن) علاقې ته او بيا د يمام کاږجنې ساحې ته يې ځان ورسو، له دې ځايه يې د مکې په لور چابک ګامونه واخستل تر څو د بنو لحيان هستوګنځايونو (غُران) ته ورسيږي او غُران د (امج او عسفان) ترمنځ پرته علاقه ده، بنو لحيان د خبرېدو سره سم په ډېرې زياتې تېزۍ د غرونو سرونو ته پناه وړې وه، کله چې دښمن له نبي کريم ﷺ څخه وتښتېد ويويل: که عُسفان ته هم لاړ شو ښه به وي!! تر څو د مکې خلک ويوهيږي چې مونږ تر مکې راغلي وو.د دوه سوه شاه سوارانو په شمول نبي کريم ﷺ عُسفان ته ولاړ اونور دوه سوه سپاره يې کراع الغميم ته واستول، له دې پړاو وروسته نبي کريم ﷺ بېرته مدينې ته راستون شو.

جابر بن عبدالله رضي الله عَنْهُ وايي: کله چې نبي کريم کريم ﷺ بېرته مدينې ته راستنېدو ما ترې واورېدل: (آيِبُوْنَ تَائِبُوْنَ اِنْ شَاءَ الله لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ، أَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ وَعْثَاءِ الْسَّفَرِوَ كَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ وَسُوْءِ الْمَنْظَرِ فِيْ الأَهْلِ وَ الْمَالِ).

# د ذي قرد غزا

نبی کريم ﷺ په مدينه کې ډېرې لږې شپې تېرې کړې چې عيينة بن حصن بن حذيفة بن بدر الفزاري د غابه مقام کې د نبي ﷺ د شيدو او نزدې لنګېدونکو اوښانو باندې د چور چپاول لړۍ پیل کړه، په بانډه کې د بنوغفار د قبيلې (ابن ابي ذر) يو تن يې وواژه او د اوښانو سره يې ترې ښځه هم روانه کړه.

سلمة بن عمرو بن الاکوع سلمي رضي الله عَنْهُ لومړی هستي وه چې په چورچپاول ويوهېد، خپله لينده او غشي يې راواخستل او د طلحة بن عبيد الله رضي الله عَنْهُ د غلام په شمول يې چې يو اس ورسره و ورپسې شول، د ثنية الوداع له ځای څخه يې چپاولګر وليدل، د سلع نو ځای ته ورپورته شو او په لوړ غږ يې وويل: واصباحاه، او د چپاولګرو پسې نور ګړندی شو، د پړانګ په څېر تېزې منډې سره يې راګير کړل، غشي يې پرې وورول او د هر ګوزار سره به يې ويل: د ابن الاکوع ګوزار ته تيينګ شه، نن د بوزديلانو د مړينې ورځ ده.

(۱) ددې غزا په دوران کې پر مدينه باندې امير عبدالله بن ام مکتوم رضي الله عَنْهُ ګمارل شوی و.

که هغوی پسې راستانه شول دا به ترې تر هغه بېرته راستون شو چې د غشي ګوزار ته به جوړ شول، بیا به یې پرې د غشو ورول شروع کړل او پرې غږ به یې کړ چې د ابن الاکوع ګوزار ته ټینګ شه نن د بوزدیلانو د مرګ ورځ ده.

چپاولګرو به سره وویل: اویکع خو د ورځې لومړۍ برخې ته وایو.

تر ټولو لومړی د سلمة بن الاکوع رضي الله عَنْهُ اواز نبي کریم ﷺ واورېد، هغه غږ کړ چې (الفزع الفزع) د اواز سره ورته صحابه او اسونه رامات شول لومړی ورته مقداد بن عمرو او بیا عباد بن بشر بن وقش، بیا سعدبن زید او بیا اسید بن ظهیر او عکاشه بن محصن او محرز بن نضله او ابوقتادة الحارث بن ربعي او ابو عیاش بن عبدید بن زید رضي الله عَنْهُمْ راورسېدل.

سعد بن زید نبي کریم ﷺ په ملګرو امیر وګماره او ورته یې وویل: تاسو ځئ ولاړ شئ زه به د ځان سره نور درولم.

دوی چې کله چپاولګر په لار کې رالاندې کړل ابوقتاده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په کې د عیینة بن حصن ځوی حبیب ووژه او په خپل څادر کې راونغښت او د دښمن د مزید شکست لپاره مخ په وړاندې لاړ تر څو ځان د ملګرو سره یو ځای کړي.

نبي کریم ﷺ چې د خپل لښکر سره په څمکه پروت لاش ته راورسېد خلکو د (اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ) کلمات تکرار کړل چې ګڼي ابوقتاده رضي الله عَنْهُ وفات شوی دی، نبي کریم ﷺ ورته وویل چې دا د ابوقتاده رضي الله عَنْهُ لاش نه دی، بلکې په خپل څادر کې یې څکه رانغښتی دی ترڅو تاسو وپوهوي چې هغه وژلی دی.

عکاشه بن محصن رضي الله عَنْهُ اوبار او ځوی یې تر ولکې لاندې راوستل چونکه دواړه په یو اوښ سپاره وو نو د نېزې په یو ګوزار یې دواړه مړه کړل خو د اوښانو نزدې څه اندازه یې ترې بېرته رالاندې کړه، نبي کریم ﷺ او نور خلک د ذي قرد غرته ورسېدل او هم هلته یوه ورځ او یوه شپه تم شول.

سلمة بن الاکوع رضي الله عَنْهُ وویل: که د سلو شاه سوارانو په ملتیا دې د اغیارو پسې واستولم نو پاتې اوښان به ترې هم راولم او چپاولګر به هم راولم، نبي کریم ﷺ ورته وویل: اوس مهال به هغوی په غطفان کې د شپې له مخې شوده څښني.

بیا په وتلو ملګرو باندې رسول کریم ﷺ په هرو سلو نفرو یو اوښ ورکړل او بېرته نبي کریم ﷺ مدینې ته راستون شو.

د ابن ابي ذر کور ودانه چې په اوښ سپره په مدینه کې نبي کریم ﷺ ته ټوله لړۍ واورله، بیا یې ورته وویل: ما نذر منلی و که ما ته الله خلاصون راکړ نو دا اوښه به حلالوم!

نبي کریم ﷺ ورته په خندا وویل: ولې له اوښ سره دومره بد کوې؟ الله پاک ورباندې روغه رمټه تر مدینې راورسولې او اوس یې حلالوې؟ کوم نذر چې د الله معصیت وي او یا

ستا خپله شتمني او ملکیت نه وي پوره کول يې لازم نه دي، اوښه زما اوښه ده او ته دې په خپلې مخه کور ته لاړه شه.

# د مصطلق یا د مریسیع غزا

له تېرې پېښې وروسته نبي کریم ﷺ د جمادی الاخر پاتې ورځې او درجب ټوله میاشت په مدینه کې تېره کړه او د هجرت په شپږم کال د شعبان په میاشت کې يې د خزاعه قبیلې له بنو مصطلق سره د غزا لپاره ولاړ.

نبي کریم ﷺ ته راپور ورسېد چې جویریة بنت الحارث ام المؤمنین رضي الله عَنْهَا د نبي کریم ﷺ بي بي د پلار حارث بن ابي ضرار د جنګي قیادت لاندې بنو مصطلق د مسلمانانو په ضد د جګړې هوډ کړی دی.

نبي کریم ﷺ يې د غزا لپاره لومړی ووت، هغه و چې دواړه خواوې د مریسیع نوم اوبو سره چې د قدید سره نږدې پرتې دي مخامخ شوې او دواړو خواو ترمنځ جګړه د تودوالي انتها ته ورسېده، د جګړې پایله د بنو مصطلق په شکست تر پایه ورسېده او د هغوی ښچیان او ښځې او ټوله شتمني الله پاک خپل استازي ته په غنیمت کې ورکړه.

له مسلمانانو څخه په کې د کعب بن عوف له قبیلې څخه هشام بن صبابة رضي الله عَنْهُ شهید شوی و او هغه هم داسې چې د عبادة بن الصامت رضي الله عَنْهُ له جهادي ګروپ څخه یو انصاري داسې وانګېرول چې ګني دښمن دی نو په تېروتنه کې يې مړ کړ.

نبي کریم ﷺ لا د غزا په میدان کې تم و چې د عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ د بنوغفار څخه مزدور يې په اس تر چینې راغی اود جهجاه بن سنان رضي الله عَنْهُ سره يې په اوبو اندازه ترخه تروه شوه، دواړو سره سخت الفاظ تبادله کړل او په شخړه شول، جهجاه رضي الله عَنْهُ غږ پورته کړ چې مهاجرینو پرې راځئ او جهني اواز کړ چې انصارو ترې راتاو شئ.

د مهاجر او انصار ترمنځ تلخ کلامې باندې په عبدالله بن ابي بن سلول کې جاهلي بې غیرتي په خوټکېدو شوه او ویویل: اوس يې لا راسره جنګونه هم پېل کړل!! دوی څه اټکلوي چې راباندې زوراور او ډېر شول!! قریشو راشړلو ته نوره زمونږ حوصله ختمه شوه، دا متل رښتیا دی چې (که سپي څربه کړې لومړی تا داړي) د عبدالله بن ابي بن سلول سره په ناستو کې کشر زید بن ارقم رضي الله عَنْهُ هم و، د دې خبرو کولو وروسته يې تر شاوخوا ناستو ته مخ واړو او ورته يې وویل: چې مدینې ته څنګه ستانه شول نو عزتمند به نور دغه خوارېرق او

ذليله خلک بېرته له مدينې اوباسي، زه خو په جنګ خوشحاله يم، دا ټول کارونه ستاسو له لاسه منځ ته راغلل، تاسو ورته په يثرب کې ځای ورکړ کنه!!

خپلې شمتنۍ مو ورسره وويشلې، تاسو پرې د خپلو مالي لګښتونه مخه لرې ونيسئ دوی به خپله له مدينې څخه په بله لاره شي!!

زيد بن ارقم رضي الله عَنْهُ دابن سلول ټولې خبرې نبي کريم ﷺ ته په داسې حالت کې وکړې چې دښمن شکست زده و، عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ هم ورسره نزدې ناست و ورته يې وويل: د الله پېغمبره! عباد بن بشر رضي الله عَنْهُ ته يې د وژلو اجراءات وسپاره.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: عمره!! څنګه يې ووژنم او بيا به خلک سورنۍ غږوي چې محمد ﷺ د خپلو ملګرو په وژلو پيل وکړ.

خو په لوړ غږ د ستنېدو اواز وکړه، خو ولې دا داسې وخت و چې نبي کريم ﷺ به په کې سفر نه کو، خلکو مزل ته ملا وتړله او روان شول.

ابن سلول وپوهېد چې نبي کريم ﷺ ته زيد بن ارقم رضي الله عَنْهُ ټولې خبرې کړي دي راغی او ورته يې وويل: لوړه په رب لايزال چې تا ته رارسېدلی راپور ناسم دی، له دغې خبرو څخه مې په يوه کلمه هم تلفظ نه دی کړی او نه ترې خبر يم.

ابن سلول چې په خپل قوم کې خورا شريف او مخه ور و قوم يې هم نبي کريم ﷺ په وړاندې د هغه براءت تاييد وکړ او ورته يې مزيد وويل چې زيد بن ارقم رضي الله عَنْهُ کشر هلک دی شايد په خبره يې سر سم نه وي خلاص شوی او يا به يې تا ته د منځ ته راغلې پېښې څخه تعبير دغسې کړی وي، دا ټولې هڅې په دې خاطر چې ابن سلول له تور څخه بري اعلان کړي.

نبي کريم ﷺ چې تر يو حده بې تمه او يوائې هم روان و اسيد بن الحضير رضي الله عَنْهُ ورته راغی او د نبوت په نوم يې پرې سلام وکړ او ورڅخه يې وپوښتل چې د الله رسوله! په داسې وختونو کې خو به تا ته لومړی سفر کول بيخي پسند نه وو ولې دې په ناپسند حالت کې سفر ته ادامه ورکړه؟ لامل يې څه دی؟

نبي کريم ﷺ ورته وويل: ولې ته دې انډيوال له خبرو څخه ناخبره يې؟

هغه وويل: کوم انډيوال؟ نبي کريم ﷺ ورته وويل: ابن سلول!!

هغه ورته وويل: ولې څه يې ويلي دي؟ نبي کريم ﷺ ورته وويل: هغه فکر کوي چې مدينې ته له رسېدو سره سم به د مدينې باوقاره عزتمند خلک ټول راغلي ذليله بېرته له مدينې څخه اوباسي!

هغه ورته وويل: زما دې په الله قسم وي چې ته عزتمند به دغه ذليله له مدينې څخه وباسې، ته عزت لرې او هغه ذليله دی.

بیا یې وویل: د الله رسوله! لږه ساه واخله! خیر دی، هغه ځکه بې وزله اخلاق انجامويي چې ستا له راتګ وړاندې یې قوم د ده په بادشاهۍ پرېکړه کړې وه او د بادشاهۍ تاج یې ورله تیار کړی و، هغه داسې اټکلوي چې دغه مشري ترې تا لاس ته راوړه.

تر ټوله شپه او ورځ نبي کریم ﷺ سفر ته ادامه ورکړه، د ماسپښین په مهال یې د دمې اراده وکړه خلک لا ځمکې ته نه وو رسیدلي چې بیا په مړ خوب ویده وو.

نبي کریم ﷺ د سفر دغې ستړې دورانیې ته ځکه ادامه ورکړه چې ابن سلول راپورته کړې نعره د خلکو له ذهن څخه اووځي.

له لږ ارام وروسته نبي کریم ﷺ د سفر دورانیه بیا پیل کړه تر دې چې د نقیع په لوړ سر د بقعاء نوم چینې سره په حجاز کې واړوله، نابېره تېزترین طوفان راوالوت ټول وډارېدل چې عذاب راغی، نبي کریم ﷺ ورته وویل: مه ډارېږئ دا طوفاني باد د لوی کافر د مړینې زېری دی، کله چې د سفر دورانیه مدینې ته په راتګ تر پایه ورسېده په رښتیا هم چې بنو قینقاع د یهودانو لویه ستنه رفاعه بن زید بن التابوت چې د منافقانو لوی مرستندوی و مرګ ته غاړه ورکړې وه.

مدینې ته په راتګ سره الله پاک د ابي بن سلول او د هغه په پل روانو منافقانو اړوند د سورت المنافقون ایتونه رانازل کړل، د ایتونو د راتګ سره نبي کریم ﷺ د زید بن ارقم رضي الله عَنْهُ غوږ ونیو او ویویل: دې غوږونو د الله حق ادا کړی دی.

د عبدالله بن ابي بن سلول ځوی عبدالله رضي الله عَنْهُ چې خورا غوره مسلمان و نبي کریم ﷺ ته راغی او ورته یې وویل: زه وخبرېدم چې د منافقت له کبله ته زما پلار وژلو اراده لرې، که دې خوښه وي په مرګ یې ما وګماره زه به یې درته سر راوړم، قسم په الله چې په ټول خزرج کې داسې هېڅ څوک نشته چې زما په څېر ورته خپل پلار ګران وي، په ځان ډار محسوسوم چې که بل څوک زما د پلار په مرګ وګمارې نو قاتل به یې زما په مخکې ګرځي راګرځي هسې نه زه یې ووژنم، تاوان به دا وشي چې ښایسته روغ کامل مسلمان به د لوی کافر او منافق په بدل کې سره وخوري او زه به پرې هم اور ته هرومرو ځم.

نو نبي کریم ﷺ ورته وویل: نا، تر څو چې هغه مونږ سره ژوندی وي تر هغه به ورسره نېکه رویه کوو.

له دې وروسته بیا خپل قام قبیل ابن سلول په هر څه رټو او ملامته کو به یې، چې کله دغه راپور نبي کریم ﷺ ته ورسېد عمر رضي الله عَنْهُ ته یې وویل: تا چې راته ویلي وو نو په هغه ورځ مې ځکه قتل نه کړ خو اوسمهال ورته د هر چا ویني دومره خوټیږي که مې هر چا ته وویل مړ به یې کړي.

په دې جریان کې مِقیس بن صبابه راغی او اسلام یې اعلان کړ او نبي ﷺ ته یې وویل: د الله پیغمبره! ما اسلام راوړی دی او ما ته د خپل ورور چې په تېروتنه کې وژل شوی دی دیت راکړه، نبي کریم ﷺ ورته د هشام بن صبابه چې رښتیا په تېروتنه کې وژل شوی و دیت ورکړ، ډېر لږ

وخت په مدينه کې پاتې شو چې د خپل ورور په قاتل يې برید وکړ او بېرته مکې ته مرتد ستون شو.

په دغه ورځ د بنومصطلق نه زيات خلک وژل شوي و[1] علي رضي الله عَنْهُ پکې دوه نفر مالک او ځوی يې وژلي وو، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عَنْهُ هم په کې د بنو مصطلق د احمر يا احيمر په نوم لوی شاه سوار وژلی و.

نبي کريم ﷺ په راغلې پېښه کې د بنومصطلق زياتې ښځې وينځې کړې وې چې يوه هم په کې د نبي کريم ﷺ بي بي جويريه بنت الحارث بن ابي ضرار وه.

عايشه -رضي الله عَنْهَا- وايي: نبي کريم ﷺ چې کله وينځې د مسلمانانو ترمنځ ويشلې جويريه -رضي الله عَنْهَا- په کې د ثابت بن قيس بن شماس يا د هغه د تره ځوی -رضي الله عَنْهُمَا- په برخه کې ورسېده، جويريه رضي الله عَنْهَا ورسره د ازادۍ اړوند خبرې شريکې کړې، چونکه د جويرې رضي الله عَنْهَا حسن او جمال دلکش او زړه راښکونکی و، نبي کريم ﷺ ته راغله تر څو په ازادولو کې ورسره مرسته وکړي، خو چې په دروازه ودرېده زه ويرېدم چې هسې نه په نکاح يې واخلي! او ومې ويل: چې زما دومره خوښه شوه نو د نبي کريم ﷺ به څومره خوښه شوې وي!!

په دروازه ورته ودرېده او غږ يې کړ: زه د حارث بن ابي ضرار د بنو مصطلق د قوم سردار لور جويريه يم او ته ښه پوهېږې چې په راغلې ازميښت کې مبتلا يم، زه د ثابت بن قيس بن شماس او يا يې د تره د ځوی رضي الله عَنْهُمَا په برخه کې رسېدلې يم، د هغه سره مې د ماليت په معلومې اندازې هوکړه کړې چې په بدل کې به يې ما ازادوي، ما سره مالي مرسته وکړه.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: له دغې نه بل ډېر ښه کار ته چمتو نه يې؟

هغې وويل: د الله رسوله! څه شي ته؟ ولې نه!! هغه ورته وويل: ستا معلوم کړی مقدار به زه هغه ته وسپارم او زه به دې په نکاح واخلم.

جويرې رضي الله عَنْهَا ورته وويل: ډېره ښه ده، نبي کريم ﷺ ورته وويل: ستا د پور خلاصول په ما شول.

کله چې خلک د نبي کريم ﷺ او د جويرې رضي الله عَنْهَا د کورنۍ په نوي اړيکو وخبرېدل د سخرګنې په نوم يې د لاس لاندې د بنو مصطلق ګڼ شمېر غلامان او وينځې ازادې کړې.

عايشه رضي الله عَنْهَا وايي: د جويرې رضي الله عَنْهَا د نبوت د کورنۍ سره د نوی ازدواجي اړيکو په بنسټ سل سرونه ازاد شول، په ټول بنی مصطلق کې د جويرې رضي الله عَنْهَا په څېر له خير او برکت نه ډک نور څوک نه وو.

(١) ابن هشام وايي: د بنو مصطلق په غزا کې د مسلمانانو شعار (يا منصور أَمِتْ أَمِتْ) کلمه وه.

یزید بن رومان وايي: د بنو مصطلق د اسلام له اعلانولو وروسته ما نبي کریم ﷺ ولید چې ولید بن عقبه بن ابي معیط يې رضي الله عَنْهُ يې د صدقاتو او زکات د راټولو لپاره واستو، هلته قوم وخبرېد چې د نبي کریم ﷺ استازی راروان دی د پرته پاک استقبال لپاره يې مخې ته راغلل، ولید رضي الله عَنْهُ اټکل کړل چې شاید ټول يې د وژلو لپاره راوتلي وي، له ډار څخه بېرته نبي کریم ﷺ ته په څغلند مزل راغی او ورته يې وویل: ټول قوم مې د مرګ لپاره راوتلی و او ارادې يې بدلې وې، له زکات ورکوني څخه هم انکاري وو.

د راپور اورېدو سره سم زیاترو مسلمانانو نبي کریم ﷺ ته د بنومصطلق سره د غزا بار بار یادونه کوله.

په دې کې د بنومصطلق پلاوې تر مدینې راورسېده او نبي کریم ﷺ ته يې وویل: ستا د استازي د شاندار او جاندار استقبال لپاره مونږ له کلي څخه بهر راوتلي وو، تر څو د هغه اکرام او قابل احترام وکړو او ورته هغه زکات او صدقات ورکړو چې تاسره مو منلي دي، د لیدو سره هغه تا ته چابک راستون شو، مونږ وروسته وخبرېدو چې استازي دې داسې اټکل کړي دي چې ګڼې مونږ يې د وژلو پسې راوتي وو، یقین دې وشه چې له احترام پرته مو ورته په زړه کې هېڅ نه لرل.

الله تعالی دا ایتونه نازل کړل ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوٓاْ أَن تُصِيبُواْ قَوْمًۢا بِجَهَـٰلَةٍ فَتُصْبِحُواْ عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَـٰدِمِينَ ٦ وَٱعْلَمُوٓاْ أَنَّ فِيكُمْ رَسُولَ ٱللَّهِ ۚ لَوْ يُطِيعُكُمْ فِى كَثِيرٍ مِّنَ ٱلْأَمْرِ لَعَنِتُّمْ وَلَـٰكِنَّ ٱللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ ٱلْإِيمَـٰنَ وَزَيَّنَهُۥ فِى قُلُوبِكُمْ وَكَرَّهَ إِلَيْكُمُ ٱلْكُفْرَ وَٱلْفُسُوقَ وَٱلْعِصْيَانَ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ﴾[1].

نبي کریم ﷺ له سفر څخه بېرته راستون او مدینې ته راروان شو، مدینې ته په نږدې کېدو کې چې عایشه رضي الله عَنْهَا هم ورسره وه، منافقانو پرې هغه تور ولګو چې د عقل نه بهر و.

## د هجرت په شپږم کال د بنومصطلق په غزا کې په عایشې رضي الله عَنْهَا باندې د تور غمجنه پېښه

عایشه رضي الله عَنْهَا وايي: د نبي کریم ﷺ عادت و چې کله به يې هم سفر کو نو د خپلو بي بیانو تر منځ به يې خځنې (قرعه اندازي) وکړ، چې د هر چا خځنې به راوښوت د څان سره

(۱) سورت حجرات: (۶-۷). ژباړه: ای د ایمان والاو! که چرته یو تېروتلي درته کوم خبر راوړي نو له پلټنې پرته يې په مقابل لورې اقدام مه کوئ، هسې نه چې قوم ته بې ځایه مرګ ژوبله واړوئ!! چې بېرته به په خپلو کړو وړو پښېمانه یاست * په دې هم وپوهېږئ چې که د الله رسول زیاتره ستاسو خبرې ومني، نو تاسو به په تکلیف او سترې باندې ککړ شئ، خو د الله رحم دی چې ایمان يې درته محبوب کړی دی او نافرماني يې تاسو ته بده معرفي کړې ده چې تاسوترې کرکه کوئ او د دغه صفت خلک ډېر ښه او هوښیاران دي

به يې د سفر ملګرې کوله، د بنو مصطلق په غزا کې چې يې قرعه اندازي وکړه زما نوم راووت او هم زه يې د ځان سره په سفر کې بوتلم.

ښځينه عادت چونکه دا و چې دغه مهال به ښځو په دې خاطر چې چاغې نه شي ډېر لږ خواړه به يې کول.

د سفر په دوران کې به خپلې کيجاوې کې کښېناستم زما اوښ به راته راوستل شو او زما په خدمت ګمارل شوو به اوښ ته پورته کړم او د اوښ په شا به يې زما د ناستې پالنګ ټينګ په رسو تړلی و، بيا به يې د اوښ مهار ونيو او سفر به پيل شو.

د بنومصطلق د غزا نه د نبي کريم ﷺ له راوزګارېدو وروسته د سفر په جريان کې نبي کريم ﷺ مدينې ته نزدې دمه واړوله او د شپې ځينې برخه يې هم تېره کړه، زه چې د خپل ځينې حاجت د پوره کولو لپاره تر لږه اندازه لرې لاړم، نبي کريم ﷺ خلکو ته د سفر په کولو امر صادر کړی و او زه لا په ناخبرۍ کې هم هغسې د خپل ورک شوي يمني (ظفري) اميل په لټون بوخته وم.

چې کله بېرته راستنه شوم ګورم چې هېڅوک هم نشته او ټول خلک تللي دي، بېرته هغه ځای ته لاړم چې چرته راڅخه هار بې درکه شوی و چې بالاخره يې په لاس ته راوړو هم وتوانېدم.

له عادت سره سم په اوښ باندې زما په سمبالښت ګمارل شوي نفرو راغلي دي، کيجاوه يې په اوښ سمباله ايښې ده او اټکل کړې يې دي چې ګڼې زه پکې يم او د اوښ په شا يې د قانون سره سم کيجاوه په رسو کلکه تړلې ده، له مهاره يې اوښ نيولی او په خپله مخه روان شوي دي.

زه چې کله خپل دمه ځای ته راستنه شوم چونکه مسافر ټول تللي وو ما وېتيله چې که هغوی هر چرته له اوښ څخه کيجاوه راښکته کړي او زه پکې نه يم هرومرو به بېرته ما پسې دلته راځي نو ما خپل ځان په پړونې کې روانغاړه او تر کانې تکيه شوم.

ناګهانه صفوان بن معطل رضي الله عَنْهُ راغی، د حجاب له فرضيت وړاندې يې زه ليدلې وم، خو چې زه يې وليدم چې په پړوني کې مې ځان رانغښتی دی پوهه شو چې زه عايشه يم، هېره دې نه وي چې هغه هم د خپلو اغراضو په خاطر له قافلې څخه ټپ شوی و، بهر کيف زماد ليدلو سره يې وويل (اِنَّا لِلهِ وَ اِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُونَ) د نبي ﷺ بي بي!

بيا يې راته وويل: ولې پاتې شوې يې؟ چا پرېښې يې؟ خو ما يې هېڅ پوښتنه ځواب نه کړه.

بيا يې خپل اوښ رانږدې کړ او غږ يې کړ چې اوښ ته ورپورته شه، هغه له ما څخه لږ وروسته شو، زه اوښ ته پورته شوم او د اوښ مهار يې ونيو او دومره چټک سفر يې پيل کړ چې تر څو يې هغوی رالاندې کړل، هغوی هلته ويوهېدل چې مونږ خو اوښ تش تور راروان کړی

دی!! خلکو چې ولیدل چې زه د صفوان په اوښ سپره او هغه یې واګې نیولې وې، زه لا خبره نه وم چې تور ته خلکو دومره وده ورکړې وه چې ګرد مخلوق یې یو نه په دوو کې اچولي وو.

مدینې ته په رسیدګۍ زه رنځ ونیولم، هېڅ چا مې غم نه خوړه چې دا ناجوړه ده، په ما د لړیدلي تور اوازه د نبي ﷺ او زما مور او پلار ته هم رسیدلې وه، خو هغوی چا هم راته د تور اړوند هېڅ اه هم نه و کړی.

دومره ویوهېدم چې نبي کریم ﷺ به وراندې چې زه کله بې طبعه او ناجوړه شوم په ما به یې ډېر رحم راتله خو اوس راڅخه بالکل بې پروا او د ناجوړتیا پوښتنه به یې هم راله سمه نه کوله، زه ترې په زړه کې هم په دې لړه خفه وم، د نبي ﷺ کره وړه چې ما ولیدل، اجازه مې ترې واخسته چې د پلار کور ته به لاړه شم تر څوم مور مې غم وخوري.

هغه راته وویل: کولای شې چې لاړه شې.

زه مې د مور کور ته لاړم هغه مې خدمت کو، نزدې څه د پاسه شلو ورځو کې روغه جوړه شوم او تر دغه مهال لا زه په تور هېڅ خبره نه وم.

دا چې د عجمو په څېر به مونږ کورونو کې د قضاء حاجت ځایونه د کراهت او بدبوي له کبله نه جوړول، د شپې له پلوه به دمدینې ټولې زنانه قضاء حاجت لپاره مېرو ته وتلې.

یو شپه زه او د مسطح مور دواړه د قضاء حاجت لپاره ووتو، هغه پر خپل پړونې راولویده، د غورځېدو سره یې وویل: مسطحه هلاک شې!

ما ورته کړه: تا خو د هجرت او د بدر غزا پیاوړی ونډوال په ډېره بده یاد کړه!!

هغې راته وویل: د ابوبکر څاوزاده! ولې ته لا تر اوسه ناخبره یې؟

ما ورته کړه: ولې څه پېښه ده؟ نو هغې راته د تور او تورلګونکو اړوند تفصیلي راپور را کړ.

ما ورته وویل: خا! پېښه دا ده؟ هغې وویل: هو والله چې دا خبره ده بله نه ده!!

عایشه رضي الله عَنْهَا وایي: د دې خبرې اورېدو سره مې د قضاء حاجت کولو توان هم له لاسه ورکړ، کور ته راغلم دومره مې وژړل چې نزدې له ژړا څخه ومرم او زړه مې وچوي، مور ته مې وویل: زما اړوند خلک د تور لګونې دومره خبرې کوي او ته راته هېڅ هم نه وایې؟

هغې راته وویل: له برداشته مه ووځه، خاطر دې راټول کړه، ځینې وختونو کې د یو سړي مېرمن په ډول ډال کې ساری نه لري نو خپله ښکلا ورته غم شي، نارینه او زنانه ورپسې خبرې کوي او تورونه پرې لګوي.

عایشه رضي الله عَنْهَا وایي: زه لا ناخبره وم چې نبي کریم ﷺ خلکو ته تقریر وکړ، لومړی یې د الله ثنا صفت بیان کړ او بیا یې وویل: ځینې خلک ولې ما په خپلې کورنۍ ځوروي؟

زما په هغې کور ودانې ولې تورونه لګوي چې له خير او اسلام پرته ترې نور هېڅ طمع توقع نه کيږي؟ او د داسې چا سره يې تورنوي چې زه مې هر کور ته ننوځم هغه راسره وي.

د تور د خپرولو زيار کې عبدالله بن ابي بن سلول په شمول د خزرج د قبيلې ځينو نورو وګړو لکه مسطح، حمنة بنت جحش هم برخوال وو.

حمنة بنت جحش په خپلې خور زينب بنت جحش رضي الله عَنْهُمَا باندې غېرت ونيوله ځکه چې د نبي کريم ﷺ په بي بيانو کې له دې پرته راسره په حسن او مکانت کې بله نه وه مساوي، نو خبرو ته يې ځکه زور ورکړ.

خو زينب -رضي الله عَنْهَا- د بنتوب سره په خپل ايماني توفيق الله پاک وساتله، او زما اړوند يې له خير پرته نور هېڅ نه و ويلي، خو حمنه رضي الله عَنْهَا په خپلې خور دومره غيرت ونيوله چې د تور خپرولو کې يې خپل ټول توان په کار واچو، په دغې خاطر مې ترې په زړه باندې خفګان هم لره.

د نبي کريم ﷺ د دغې خبرې کولو سره اسيد بن حضير رضي الله عَنْهُ وپاڅېد او غږ يې کړ: اى د الله رسوله! که د اوس د قبيلې اړوند چا په خپل کور او ابرو ځورولې يې زه درله د وژلو لپاره بس يم.

او که ځورونکي زمونږ د خزرج ورونه وي نو ستا خوښه، که هر څوک دي خو د دې لائق دي چې سرونه يې قلم شي.

سعد بن عبادة رضي الله عَنْهُ وپاڅېد، له دې خبرو مخکې په هغه ډېر ښه ګمان کېده او اسيد بن الحضير رضي الله عَنْهُ ته يې وويل: لوړه په رب لايزال چې درغ دې وويل، هېڅکله به يې سر قلم ته پرې نه ږدو، د سر قلم کولو خبرې ته په ډېر يقين کوې چې ځورونکي خلک خزرجيان دي، خو که دوى په رښتيا ستا ملاتړ واى، دا خبرې به دې هېڅکله نه وى کړې!!

اسيد رضي الله عَنْهُ ورته وويل: زه نه، ته دروغجن يې چې د مافقينو ننګه کوې، دا د دې دليل دى چې خپله منافق يې.

عايشه رضي الله عَنْهَا وايي: دواړه قومونه يوبل ته دومره تريو تريخ شول چې نزدې وه لويه شخړه منځ ته راغلې وه.

په دې جريان کې نبي کريم ﷺ له منبر ښخه راښکته شو او زما کور ته راغى، علي بن ابي طالب او اسامة رضي الله عَنْهُمَا يې د سلا مشورې لپاره راوغوښتل، اسامه رضي الله عَنْهُ خو زما اړوند له خير او توثيق پرته هېڅ ونه ويل، هغه کړه: اى د الله رسوله! عايشه ستا ابرو او عزت دى، او اړوند خپره فضا غير حقيقت، باطل او ټول منګهړت دى.

علي رضي الله عَنْهُ ورته وويل: د بلي ښځې توان دې شته دی او ستا لپاره ښځې ډېرې، عايشه نه بله ښځه، خو که بريرة رضي الله عَنْهَا راوغواړې په رښتيا رښتيا به درته وګړيږي.

نبي کريم ﷺ د سوال او ځواب لپاره بريرة رضي الله عَنْهَا راوغوښته، علي رضي الله عَنْهُ ورپاڅېد او ورانه ورانه يې ووهله، چې نبي کريم ﷺ ته به رښتيا رښتيا وايې، هغې ورته کړه: په عايشې لګېدلی تور باطل دی.

ما ته د عايشې خو (کمي) دومره معلومه ده چې ما به خمبير تيار کړ، بيا به مې ورته وويل خمبير (وړو) ته خيال کوه هغه به ويده شوه او وزه به بزې خوړلي وو.

راغوښتل شوې پلاوې سره له جرګې مرکې وروسته نبي کريم ﷺ زما کور ته رانټوت، مور او پلار مې هم راسره ناست وو، ترخنګ مې يوه انصارۍ مېرمن هم وه، چې دواړو له غمه ژړل، لومړی يې په الله حقه ثنا وويله او بيا يې ما ته کړه: د خلکو ترمنځ خپور شوی داغ که رښتيا هم له تا څخه صادر شوی وي نو له الله پاک نه وډار شه او توبه اوباسه، الله پاک د خپلو بندګانو څخه توبه قبلوي.

لوړه په رب لايزال چې د دې خبرې اورېدو سره مې له سترګو اوښکې ودرېدې، نه مې احساسول چې اوښکې راڅخه رواني دي، په دې انتظار چې مور او پلار به مې نبي کريم ﷺ ته ځواب ورکړي، چپ او خاموش پاتې شوم، خو ولې دواړو ځواب ورنه کړ.

قسم په الله چې دا خو مې بيخي په ذهن کې نه وو چې زما اړوند به الله پاک د قرانکريم سپيڅلي روڼ اياتونه نازلوي چې خلک به يې په مسجدونو کې لولي اولمونځ به پرې کوي، خو دا امېد مې و چې الله پاک خو زما په براءت عالم، پوهه او خبردار ذات دی شايد الله پاک ورته په خوب کې زما براءت وروښايي، خو زما د پيښې اړوند قراني اياتونه راتلل زما په تصور کې هم نه وو.

زما مور او پلار چې کله خاموش شول ما ورته کړه: تاسو دواړه ولې نبي کريم ﷺ ته ځواب نه ورکوې؟

هغوی راته وويل: مونږ نبي کريم ﷺ په څه شي وځوابوو؟ او په دې مې دې هم په الله قسم وي چې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ په کورنۍ چې د غم او درد کومه لړۍ راغلې وه، په دغومره سوز او ګداز به هېڅ څوک دغه مهال نه وو ازمول شوي.

د بيا ځل لپاره مې خبرې په شونډو ودرېدې او د ژړا لړۍ مې پيل کړه، خو ولې دومره تعبير مې وکولای شو چې: زه هېڅ کله هم الله ته توبه نشم ويستلای، زما دې په الله قسم وي که د خلکو له تړلي تور څخه توبه وباسم، سره له دې چې الله مې په براءت ښه عالم دی، نو بيا زما توبه له داسې ګناه څخه ده چې ما نه ده کړې، او که ستاسو په وړاندې په ما لګېدلي تور څخه انکار وکړم چې ما دغه فاحشي نه ده کړې، نو تاسو مې انکار سم نه بولئ.

عایشه رضي الله عَنْهَا وايي: که څه مې د یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ د نوم د رایادولو هڅه وکړه خو ونه شوم توانېدای بالاخره مې وویل: زه هم د ابویوسف په څېر دومره ویلای شم چې ﴿فَصَبْرٌ جَمِيلٌ وَٱللَّهُ ٱلْمُسْتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ﴾(۱).

هغه مزید وايي: زما دې په الله قسم وي چې د تېر په څېر نبي کریم ﷺ باندې د وحي نازلېدو سلسله شروع شوه، په خپل پوښاک (څادر) کې راونغښتل شو او د سرلاندې ورته د څرمني پوس بالښت کېښودل شو، د دغې حالاتو په راتګ زما ټنډه بیخي ترخه تروه نه شوه، ځکه چې ما ته مې برائت معلوم و، او په دې مې عقیده وه چې الله پاک په ما هېڅکله ظلم نه کوي، خو له بلې خوا مې مور اوپلار دومره وډار شول چې نزدې له دواړو څخه ساه وتلې وی چې هسې نه الله پاک د خلکو ګنګوسي اوتور اړوند تصدیقي وحي راو نه لیږي.

عایشه رضي الله عَنْهَا وايي: بیا نبي کریم ﷺ کښېناست او د ژمي په یخ کنګل ورځ کې ترې د لالونو په څېر غټ غټ د خولو څاڅکي روان وو، له خپل تندي مبارک څخه یې خولې وچولې او راته یې وویل: عایشې!! مبارک شه، الله ستا د براءت اړوند وحي نازله کړه، ما وویل: الحمدلله.

بیا خلکو ته ووت او ټول هغه ایتونه یې ورته واورول چې تازه پرې نازل شوي وو، حسان بن ثابت، مسطح بن اثاثة او حمنة بنت جحش رضي الله عَنْهُمْ یې راوغوښتل او د قذف په ټاکلي حد یې محکوم کړل.

ابن اسحاق وايي: د بنونجار ځینو خلکو ویل چې ابو ایوب ته خپلې کوروداني وویل: د عایشې رضي الله عَنْهَا اړوند خو له خلکو ونه خبرېدې چې خلک څه وايي؟ هغه ورته وویل: نور څه دي خو خلکو پرې بهتان او داغ لګولی دی، خو هغه پرېږده ایا زما په نکاح کې ته دغسې فاحشي د بل چا سره کوې؟ مېرمن یې وویل: نا، نا، زما دې په الله قسم وي چې زه به هېڅ چرته هم فاحشي ونه کړم.

ابوایوب رضي الله عَنْهُ ورته وویل: عایشه له تا څخه په خپل ایمان ډېره غېرتمنده ده.د قرانکریم ایتونو د تور او داغ خپرونکو یاد داسې وکړ: ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ جَآءُو بِٱلْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَّكُم بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ لِكُلِّ ٱمْرِيٍٕ مِّنْهُم مَّا ٱكْتَسَبَ مِنَ ٱلْإِثْمِ وَٱلَّذِى تَوَلَّىٰ كِبْرَهُۥ مِنْهُمْ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾ لَّوْلَآ إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ ٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بِأَنفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا۟ هَٰذَآ إِفْكٌ مُّبِينٌ﴾(۲).

---

(۱) سورت یوسف: (۱۸). ژباړه: بس زما کار صبر جمیل دی، او له الله څخه کومک د هغه څه اړوند غوښتلی شي چې تاسو یې وایئ.

(۲) سورت نور: (۱۱-۱۲). ژباړه: ستاسو څخه چې کومې ډلې د دروغو له مخې بهتان او تور ته کوم زور او شور ورکړی و نوهېڅکله یې د ځان لپاره درنه او شرم ونه ګڼئ، بلکې دا ستاسو لپاره د خیر خبره ثابته شوه، چا چې په کې څومره ونډه اخستې وې هومره یې ګناه کړې ده، خو کوم چا چې د تور لګولو ذمه واري اخستې وه د هغه لپاره ډېر لوی عذاب دی * تاسو چې کله د غه تور واورېد نو ولې مو د نورو مومنانو سړو او ښځو په څېر به مو پرې د خپل ځان په شان د خیر ګومان کړی وی، چې هغوی د اورېدو سره وویل: دا په عایشې

له دې څخه حسان بن ثابت او ملګري يې مراد دي، دوی هغه څه ويلي وو چې څه يې ويلي وو.

بيا الله وفرمايل: ﴿إِذۡ تَلَقَّوۡنَهُۥ بِأَلۡسِنَتِكُمۡ وَتَقُولُونَ بِأَفۡوَاهِكُم مَّا لَيۡسَ لَكُم بِهِۦ عِلۡمٞ وَتَحۡسَبُونَهُۥ هَيِّنٗا وَهُوَ عِندَ ٱللَّهِ عَظِيمٞ﴾[١].

او فرمايي: ﴿وَلَا يَأۡتَلِ أُوْلُواْ ٱلۡفَضۡلِ مِنكُمۡ وَٱلسَّعَةِ أَن يُؤۡتُوٓاْ أُوْلِي ٱلۡقُرۡبَىٰ وَٱلۡمَسَٰكِينَ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۖ وَلۡيَعۡفُواْ وَلۡيَصۡفَحُوٓاْۗ أَلَا تُحِبُّونَ أَن يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٌ﴾[٢].

له دې ايتونو له نزول وروسته ابوبکر رضي الله عَنْهُ پرېکړه وکړه چې د الله پاک رحم او د هغه درګزري راته ډېره زياته پسنده ده، بېرته يې د تېر په څېر په مسطح بن اثاثة باندې خپله خرچه نفقه پيل کړه، اوويويل: په مسطح باندې له نفقې څخه به هېڅکله تېر راتېر نه شم.

ابن اسحاق وايي: دحسان بن ثابت او مومنو ملګرو په حد کې ځينو مسلمانانو دا بيتونه وويل:

| | | |
|---|---|---|
| لَقَـدْ ذَاقَ حَسَّــانُ الَّذِي كَانَ أَهْلَهُ | *** | وَحَمْنَــةُ إِذْ قَالُــوا هَجِيرًا وَمِسْــطَحُ |
| تَعَاطَوْابِرَجْـمِ الْغَيْــبِ زَوْجَ نَبِيِّهِمْ | *** | وَسَخْطَةَ ذِي الْعَرْشِ الْكَرِيمِ فَأُتْرِحُوا |
| وَآذَوْا رَسُــولَ الله فِيهَــا فَجُلِّلُــوا | *** | مَخَازِيَ تَبْــقَى عُمِّمُوهَــا وَفُضِّحُوا |
| وَصُبَّــتْ عَلَيْهِمْ مُحْصَــدَاتٌ كَأَنَّهَا | *** | شَــآبِيبُ قَطْرٍ مِنْ ذُرَا الْمُزْنِ تُسْفَحُ |

۞ حسان بن ثابت او حمنة بن جحش او مسطح بن اثاثة رضِيَ الله عَنْهُمْ دخپلې ناوړې وينا له کبله د وينا وړ سزا وليده.

۞ د پيغمبر پاک سرتوره يې هسې د ګومانونو له مخې تورنه کړې وه او د عرش واکدار غصې او غضب ته يې ځان جوړ کړی و.

۞ دوی نبي کريم ﷺ په تور لګونې وځورو او له ځان نه وروسته يې تل پاتې شرمندګي پرېښوده.

۞ د دورو ګوزارونهورباندې لکه د ورېځې له بره نه د باران د غټو ځاځکو د بار بار څپو په شان پاکونکي راوورېدل.

---

دروغ او تور تړل شوی دی لکه ابو ايوب او مېرمن يې.

(١) سورت نور: (١٥). ژباړه: کومې د تور خبرې چې تاسو له يو بل څخه اورېدلې او له علم پوهې پرته به مو پرې خوله خوځوله، تاسو ته خو به ډېره وړه ګناه ښکارې خو خو ولې د الله په وړاندې دغه تور لګونه ډېره لويه ګناه ده.

(٢) سورت نور: (٢٢). ژباړه: په تاسو کې شتمن دې په دې سوګند نه پورته کوي چې د الله په لار کې به په اړينو خلکو، خپلو خپلوانو او مهاجرينو باندې نفقه خرچه نه کوي، ايا تاسو ته دا پسنده نه ده چې الله پاک درته بخشش وکړي، الله پاک ښښونکی او درحم والا دی.

# د هجرت په شپږم کال د حديبيې سوله

د رمضان او شوال دواړه مياشتې نبي کريم ﷺ په مدينه منوره کې تېرې کړې او بيا د ذي القعدې په مياشت کې د جنګ جګړې لپاره نه بلکې دعمرې د ادا لپاره د زياتو عربانو او بانډه چيانو په شمول د مکې په لور خوځښت وکړ[١]، هغه د قريشو له هغې کړو وړ وېره محسوسوله چې هسې نه يا ورسره جنګ وکړي او يا يې له عمرې څخه مخه ونيسي، که څه هم ډېر بانډه چيان ترې وروسته شول خو ولې انصار اومهاجرين او نور هغه عرب چې ورپسې تلل شول د مکې په لور روان او د قرباني ځاروي هم ورسره وو[٢] په عمره يې احرام په دې خاطر وتړه چې خلک يې له جګړې څخه بچ پاتې شي، او تر څو په دې هم خبر شي چې د جنګ لپاره نه بلکې د عمرې لپاره مکې ته روان دی.

عُسفان[٣] ته په رسيدګۍ نبي کريم ﷺ سره بِشر بن سفيان کعبي مخامخ شو او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! ستا مکې ته د راتګ اوازې د قريشو تر غوږه رسيدلې دي، د خپلو بچه دارو او لنګو اوښو سره راوتي دي او په ذي طوی[٤] کې درته تم دي، او د الله سره يې په دې کلکه ژمنه کړې ده چې ته به ترې هېڅکله مکې ته ونه ننوځې.

او ځينې قريشيان د خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ په جنګي قيادت کې درته په کراع الغميم[٥] کې مسلّح پراته دي.

نبي کريم ﷺ وويل: قريشو!! خوار شئ!! خونريزو جګړو ريزمريز کړئ او غلي نه شوئ!! ما او نور عربان سره منځ کې پرېږدئ، که هغوی ووژلم تاسو ته به ستاسو موخه له ستومانۍ او زيار پرته په لاس درشي، او که الله پاک پرې بريمن کړم نو په اسلام کې به خلک ډلې ډلې پوره پوره داخل شي، او که هېڅ هم ونه شي کم از کم د دوی جګړيز قوت خو به خوندي پاتې شي!!

ولې؟ قريش څه اټکلوي؟ تر هغه به ددې دين د کاميابۍ لپاره جګړه ايزې هاندې او هڅې کوم تر څو يې الله پاک په نورو دينونو سرلوړی کړي او يا به هم په دې لار کې له سره تېر شم.

بيا يې وويل: له هغوی مورچه کړې لارې به مو د هدف په لور څوک په بله لاره بوځې؟

د اسلم له قبيلې څخه يوسړي وويل: زه به موبوځم.

(١) ابن هشام وايي: د دې سفر په دروان کې يې د مدينې د واک واکې نميله بن عبدالله الليثي رضي الله عَنْهُ ته ورکړې وې.
(٢) د قربانۍ ځاروي اويا اوښان وو، او خلک اووه سوه وو، په هره اوښه کې لس تنه ګډونوال وو.
(٣) عُسفان له مکې څخه په لرې فاصله کې د چينې نوم دی.
(٤) ذي طوی مکې ته نژدې پرته سيمه ده.
(٥) کراع الغميم د عسفان د درې مخې ته د اته ميلو په اندازه لرې پرته سيمه ده.

هغه و چې د لاربښووني زيار مذکور سړي په غاړه واخست، او خلک يې د ناون له ستونزې څخه ډکه په کاړجنه لاره روان کړ، که څه هم د نوې لارې مزل کاروان ډېر ستړی کړ خو بيا هم اوارې او اسانې لارې ته ووتل، نبي ﷺ ټولو ته وويل: د (اَسْتَغفِرُ اللهَ وَ أَتُوبُ اِلَيْهِ) کلمات بار بار تکرار کړئ، لوړه په رب لايزال چې دا هغه پړاو دی بني اسرائيلو ته پرې امر صادر شوی و او هغوی نه و ويلې، ټول کاروان د استغفار کلمات پيل کړل.

بيا نبي کريم ﷺ خلکو ته امر وکړ چې د حمض په ښۍ اړخ رهي شي ترڅو د ثنية المرار له لارې د حديبې ميدان چې دمکې ښکته برخه تشکيلوي ورته ورسيږي.

قافلې هم د امر سره سم هغه لاره ونيوله چې کومه ورته په نبوي ارشاداتو کې ښوولی شوې وه، خو د قريشو جنګياليو چې کله د مسلمانانو د قافلې لوړ غبار په بله لار وليد چې لاره يې بدله کړې ده، بېرته قريشو ته په بېړه ستانه شول، خو نبوي قافله چې څنګه ثنية المرار ته ورسېده د نبي کريم ﷺ اوښه خپله چو شوه، خلکوويل: لکه چې اوښه ځاي په ځاى کښيناسته! چو شوه اونوره تللو ته چمتو نه ده، نبي کريم ﷺ وفرمايل: اوښه نه کمزورې شوې ده او نه له تللو څخه بې وسه ده، بلکې الله رابنده کړه، سستوالی يې عادت نه دی.

بيا يې وفرمايل: که قريش مې نن هر خصلت او جوړجاړي ته چې خپلولي او پېژندګلو په کې پالل کيږي راوغواړي زه ورته غاړه ږدم.

بيا يې خلکو ته وويل: همدلته واړوئ، خلکو ورته وويل: د الله رسوله! څنګه ټول دلته تم شو او د اوبو هيڅ درک نه لګيږي؟ نبي کريم ﷺ له خپل تيرکښ څخه غشی راواخست او يو صحابي ته يې ورکړ، هغه غشی په يو کوهي کې نال کړ، دومره اوبه يې ترې راوخوټېدې چې ټول جل نيولي کاروان هم وڅښلې او اوښان يې هم خړوب کړل.

نبي کريم ﷺ چې لږ دمه او ساه واخسته د قريشو له خوا ورته د خزاعه د قوم په شمول بديل بن ورقاء خزاعي سفير راغی او د نبي کريم ﷺ سره يې ټول خيالات تبادله کړل چې ستا د راتګ باعث څه شی دی؟

نبي کريم ﷺ وخبرول چې زه د جنګ لپاره نه يم راغلی، زما د راتګ يواځني لامل د بيت الله زيارت او د هغه په حرمت او برابې اعتراف کول دي، هغه خبرې چې وړاندې يې بشر بن سفيان ته کړې وې د بيا ځل لپاره يې پرې د بديل بن ورقاء غوږونه هم خلاص کړل.

د قريشو راغلي پلاوې بېرته قريشو ته ستنه شوه اورته يې وويل: ای قريشو! هسې مو د محمد ﷺ د جنګ لپاره تياری نيولی دی!! هغه خو دلته د جنګ په خاطر نه بلکې د بيت الله زيارت په خاطر راخوځيدلی دی.

قريشو بديل بن ورقاء کم عقل اولاشعوره وباله، په سختو ناوړه کلماتو يې د هغه راوړی فرمان بې معنی کړ، او قريشو ژمنه وکړه چې محمد ﷺ به هيڅکله هم مکې ته په جبر زور

داخل نه شي ولو که د جنګ په نیت هم نه وي راغلی، تر څو عربان زمونږ اړوند قیصو باندې خپل بنداروونه تاوده ونه ساتي.

چونکه د خزاعه قبیلې مسلمان او مشرک دواړه د نبي کریم ﷺ راز دار وو د مکې په روانو کړکیچونو به یې خبرو.

د استازیتوب په دوهم پړاو کې قریشو د مزید وضاحت لپاره مکرز بن حفص ابن الاخیف راواستو، نبي کریم ﷺ چې کله ولید وېویل: دا خو ټګ برګ او لوی دوکه باز دی.

کله چې مکرز د نبي کریم ﷺ تر حضوره راورسېد او خیالات دواړو سره یو تربله تبادله کړل، نبي کریم ﷺ ورته خپل هغه دریځ وړاندې کړ چې کوم یې بدیل بن ورقاء ته وړاندې کړی و.

مکرز له مذاکراتو وروسته بېرته قوم ته ستون شو او په راز یې وپوهول.

بیا ورته ددریم ځل لپاره حُلَیّس بن علقمه – یا – ابن زبان – راواستو چې دغه مهال یې د حبشو زعامت هم درلود، نبی کریم ﷺ چې کله ولید وېویل: دا د داسې قوم غړی دی چې د الله عبادتونه کوي، تاسو باید هرومرو د هغوی مخې ته د قربانۍ اوښان راوپاځوئ، چې لږ رانږدې شول څه ګوري چې د قربانۍ اوښانو ته په غاړو کې نښې پرتې دي او د خوړو له لورې راپورته شوې، د حلالکې لپاره راوستل شوي څاروي مخ په خرابېدو دي، د قربانۍ د څاروو لیدو سره سم ستون شو او د نبي کریم ﷺ سره یې هېڅ راز خبرې ونه کړې او قریشو ته یې وویل: د هغه سره خو د قربانۍ اوښان او ګډان دي!

قریشو ورته وویل: ته نادان او بې شعوره یې، ته بانده چې په دې خبرو نه پوهېږې!!

د دې خبرو په اورېدو حُلَیّس ډېر وځورېد او ورته یې کړه: ای قریشو! واورئ چې د بیت الله د زیارت څخه د خلکو په رابندولو مو درسره ملاتړي نه ده اعلان کړې او نه په دې خوښ یو چې د بیت الله د تعظیم او بړایي لپاره دلته څوک راځي ولې یې مخه ونیولای شي؟ په هغه ذات مې دې قسم وي چې د حلیس د نفس واک یې په لاس کې دی چې ستاسو په مقابل کې به ټول حبش د یو نفر په څېر راولم او د یو نفر په څېر به دربانديې برید وکړي او یا به محمد ﷺ ته لاره خلاصوئ چې د کعبې زیارت وکړي.

قریشو ورته وویل: حلیسه! احتیاط کوه ګوره دغسې ونه کړې!! لږ زغم اوباسه تر څو زمونږ ځینې غوښتنې ومنل شي.

په وروسې پړاو کې یې ورته عروة بن مسعود ثقفي رسول الله ﷺ ته راواستو، عروة بن مسعود د نبي کریم ﷺ په حضور کې عارض شو او مخې ته یې کېناست، بیا یې وویل: محمده!! ته دومره نه پوهېږې چې د ځان سره دې ټیټ او پاس بېلابېل خلک راغونډ کړي دي او د خپلې قبیلې د تیت او پرک لپاره دې په دې خاطر راوستي دي چې د خپل قام قبیل زور او راج مات کړې!! خو ته هم پوهه شه چې قریشو د لنګو اوښانو او پوره پیاوړي نه ماتېدونکې عزم

سره ستا د مقابلې کولو اراده کړې ده، تا سره د خورا درنې جګړې لپاره يې د پړانګانو څرمنې پوښلې دي، هغوی په دې کلک او مضبوط ولاړ دي چې ته به ترې هېڅکله مکې ته په زور او زبردستۍ داخل نه شې.

او زه درته په رب لايزال لوړه پورته کوم چې تاسره راغلي خلک به سبا هېڅکله تا سره د جنګ ملاتړي جوړ نه شي!

دغه مهال چې ابوبکر رضي الله عَنْهُ د نبي کريم ﷺ تر شا ناست و ورته وويل: غلی شه! د لات شرمګا ولې نه څټې راڅښې چې دا خبرې کوې!! ته څه اټکلوې چې مونږ به د نبي کريم ﷺ نه د جنګ په ميدان کې په شا وتښتو؟؟

عروه وويل: دا څوک دی؟ نبي کريم ﷺ ورته وويل: دا د ابوقحافه ځوی دی، عروه وويل: که چېرته زه ستا د خير ښېګړې پوروړی نه وم نو اوس به مې ځواب درکړی و، ځواب دې د ښېګړې بدله شوه.

د مذاکراتو په جريان کې به کله ناکله عروه د خبرو په مهال خپل لاس د نبي کريم ﷺ د ږيرې نيولو لپاره اوږد کړ، د نبي کريم ﷺ ږيرې ته د لاس اوږدولو په مهال به يې مغيرة بن شعبه رضي الله عَنْهُ لاس د تورې په موټي جلا کړ او ورته به يې ويل: وړاندې له دې چې توره دې وخوري لاس دې درټول کړه.

عروه وويل: ته خو ډېر کلک زړی او کلک سترګی يې!! نبي کريم ﷺ وخندل، عروه ترې وپوښتل چې دا څوک دی؟ هغه ورته وويل: دا ستا وراره مغيره بن شعبه رضي الله عَنْهُ دی.

عروه وويل: ای بې وفا دوکه بازه!! ستا شرم خو ما پرون ووينځو(۱).

بيا ورته نبي کريم ﷺ ټول هغه څه وويل چې ورځخه وړاندې راغلو ملګرو ته يې ورله ويلي وو، او په دې يې هم ورله سر خلاص کړ چې د جنګ جګړې هېڅ اراده نه لري.

عروه بن مسعود چې د نبي کريم ﷺ او هغه د ملګرو ترمنځ د مينې او محبت کومه څپانده فضا وليده تر دې چې د اودس اوبه او د خولې توکانې به يې ورله ځمکې ته نه پرېښودې او نه به يې ورله د سرويښته ځمکې ته پرېښودل چې ولوېږي، قريشو ته ستون او ورته يې وويل: ما د قيصر او کسری او نجاشي هر يو سره د هغه د واک او اقتدار په وخت ليدل کتل کړي دي، خو د محمد ﷺ سره د مستې مينې او څپاند محبت په څېر مې يو ټولواک هم خپلو اتباعو ته ګران نه دی ليدلی.

---

(۱) ابن هشام وايي: دا خبره ورته عروه په دې خاطر وکړه چې مغيره رضي الله عَنْهُ له اسلام راوړلو وړاندې د ثقيف له قبيلې او مالک له کورنۍ ديارلس وګړي وژلي وو، نو د مغيره رضي الله عَنْهُ د ملاتړ او د بنو مالک د کورنۍ ترمنځ د نږدې معرکې چې پايلې يې ډېرې ستونزمنې برېښېدې کېدو والا وه، نو عروه بن مسعود د سلا لپاره د ديارلسو وژلو شو کسانو ديت ورکړ او صلحه يې وکړه.

او په دې ډول وپوهېږئ چې له محمد ﷺ څخه ملګري هېڅکله په شا نه تمبيږي، ښه به دا وي چې بله نېکه مشوره وکړئ.

بيا نبي کريم ﷺ خراش بن امية خزاعي رضي الله عَنْهُ په مکه کې ميشت د قريشو مخه ورروو او مشرانو ته په خپل (ثعلب) نوم اوښ استازی واستو تر څو يې وخبروي چې زه د جنګ جګړې هېڅ اراده نه لرم خو ولې هغوی يې د وژلو زيار وويست، که څه يې هم د هغه اوښه ټپي ټپي کړې وه خو حبشيانو په خپلو هڅو له وژنې وژغوره.

خراش رضي الله عَنْهُ بېرته د حبشيانو په توسط د نبي کريم ﷺ ملګرتيا ته ځان راخلاص کړ.

له دې وروسته نبي کريم ﷺ عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ راوغوښت او ورته يې وويل: قريشو ته ولاړ شه او په ډول حقيقت يې وخبروه.

هغه ورته وويل: زما په زړه کې د قريشو سره پرته دښمنۍ باندې هغوی ډېره ښه پوهيږي، او په مکه کې د بنوعدي بن کعب له کورنۍ څخه تا ته په علم کې زه هېڅ ملاتړ نه لرم، په قام قبيل به درته زه بل هستي دروښايم که هغه واستوې نو ډېره به ښه وي چې عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ دی.

نبي کريم ﷺ عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ راوغوښت او د ابوسفيان رضي الله عَنْهُ په شمول يې د قريشو ټولو مشرانو ته استازی واستو، تر څو يې وپوهوي چې نبي کريم ﷺ د جګړې شخړې لپاره نه بلکې د کعبې زيارت او تعظيم لپاره راغلی دی.

عثمان رضي الله عَنْهُ مکې ته په رسېدو لومړی د ابان بن سعيد بن العاص سره ليدل کتل وشول، هغه ورته پناه ورکړه او د ابان په محافظت او ګارډ کې يې د مکې ټولو مشرانو ته نبوي پيغام واورو، عثمان رضي الله عَنْهُ چې کله هر مشر ته پيغام ورسو د رارخصتېدو په مهال ورته قريشو له کعبې څخه د طواف عرض وړاندې کړ خو هغه ورته وويل تر هغه به زه لومړی طواف ونه کړم چې تر څو نبي کريم ﷺ طواف نه وي کړی.

چونکه قريشو عثمان رضي الله عَنْهُ د خپل ځان سره حصار کړ نو نبي کريم ﷺ ته راپور ورسېد چې قريشو عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ مړ کړی دی.

## د رضوان بيعت

ابن اسحاق وايي: عبدالله بن ابي بکر راته وويل: نبی کريم ﷺ په غوږ کې چې کله د عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ د مړينې خبر پرېوت ويويل: تر هغه به ستانه نه شوو تر څو د قوم سره مټ اتيې شوي نه يو.

هغه و چې د ګڼ خاښې ونې لاندې نبي کريم ﷺ خلک بيعت ته راوبلل، او دغه بيعت او په مرګ ترړون د رضوان په بيعت ونومول شو.

خلکو به ويل چې د نبي کريم ﷺ سره ټولو شته کسانو په مرګ بيعت کړی و.

جابر بن عبدالله رضي الله عَنْهُ وايي: نبي کريم ﷺ مونږ سره په مرګ بيعت نه و کړی، بلکې ترړون په دې شوی و چې له ميدان څخه به نه تښتو.

ټول هغه صحابه کرام چې د نبي کريم ﷺ په ملتيا وتلي وو، له جَدُّ بن قَيس پرته چې د مسلمة د کورنۍ غړی و، نورو ټولو بيعت کې ونډه اخستې وه[١].

جابر بن عبدالله رضي الله عَنْهُ وايي: لوړه په رب لايزال چې زه اوس هم جد بن قيس ته ګورم چې ځان يې د خپلې اوښې تر ښپو لاندې پټ کړی تر څو څوک يې ونه ويني.

لږ ځند وروسته نبي کريم ﷺ وپوهېد چې د عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ د مرګ ژوبلې خپاره راپوروونه ناسم دي.

## د صلح حديبيه سوله ايز ترړون

سهيل بن عمرو رضي الله عَنْهُ چې د بنو عامر بن لؤي خورا مخور غړی و، قريشو نبي کريم ﷺ ته په دې راواستو چې:

نبي کريم ﷺ ته زمونږ د ټولو په نيابت ولاړ شه او په دې ورسره خبرې شريکې کړه چې سږکال بايد هرومرو بېرته ستون شي او له عمرې څخه تېر شي، هسې نه چې عربان خپل بنداړونه په دې ګرم وساتي چې محمد ﷺ مکې ته په زور زبردستۍ ننوت.

نبي کريم ﷺ چې کله سهيل بن عمرو رضي الله عَنْهُ وليد چې مخامخ را روان دی وېويل: داسې برېښي چې د سهيل په رالېږدونې قريش سولې سلا ته غاړه کېږدي.

تر ډېره دمه د سهيل بن عمرو رضي الله عَنْهُ او نبي کريم ﷺ دواړه سره اوږدې خبرې وکړې، بالاخره دواړه خواوې په روغه جوړه رضا شوې.

کله چې د سولې پړاو تر پايه ورسېد، عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ په چټکۍ ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته راغی او ورته يې کړه: ايا دا د الله پاک رښتني استازی نه دی؟ هغه وويل:

(١) ابن هشام وايي: تر ټولو لومړی بيعت د نبي کريم ﷺ سره ابو سنان اسدي رضي الله عَنْهُ وکړ.

ولې نه، د هغه رښتونی استازی دی، بیا یې ترې وپوښتل: ایا مونږ رښتوني مسلمانان نه یو؟ هغه ورته کړه، ولې نه، مونږ رښتوني مسلمانان یو، بیا یې ترې وپوښتل: ایا دوی (قریش) مشرکان نه دي؟ هغه ورته کړه: ولې نه، مشرکان دي، عمر رضي الله عَنْهُ وویل: بیا ولې دومره سپکاوی ته ځان ورکړو؟!

ابوبکر رضي الله عَنْهُ وویل: ګوره سرغړونه یې ونه وکړې، زه خو یې په رسالت کلکه عقیده لرم، عمر رضي الله عَنْهُ ورته وویل: زه هم په دې باور لرم چې محمد ﷺ د الله پاک رښتونی استازی دی.

له برداشت یې بهره وه تر دې چې نبي کریم ﷺ ته راغی او ورته یې وویل: ای د الله رسوله! ایا ته په رښتوني د الله پاک استازی نه یې؟

رسول الله ﷺ : ولې نه، زه یې رښتونی استازی یم.

عمر رضي الله عَنْهُ: ایا مونږ مسلمانان نه یو؟

رسول الله ﷺ : ولې نه، تاسو رښتوني مسلمانان یاست.

عمر رضي الله عَنْهُ: ایا دوی (قریش) مشرکان نه دي؟

رسول الله ﷺ : ولې نه، مشرکان دي.

عمر رضي الله عَنْهُ: بیا نو ولې ورته ځان دومره لاندې راولوو!!

نبي کریم ﷺ ورته وویل: زه د الله استازی او سفیر یم، زه به هېڅکله هم د هغه له حکم څخه سرغړونه ونه کړم، او نه هغه ما ضایع کوي.

عمر رضي الله عَنْهُ وایي: په دغې ورځ چې مې کومې خبرې کړې وې، د کفارې په خاطر به مې ډېرې روژې نیولې، نفلونه به مې کول، غلامان مې ازاد کړل، خیراتونه او صدقات مې وکړل، تر دې چې باور مې لا پسې وده وکړ.

د لړې په جریان کې نبي کریم ﷺ علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ راوغوښت ورته یې وویل: ولیکه: (بسم الله الرحمن الرحیم).

سهیل بن عمرو رضي الله عَنْهُ ورته وویل: مونږ د (بسم الله الرحمن الرحیم) اړوند کره معلومات نه لرو، داسې ولیکه: (باسمک اللّٰهُمَّ)، نو په تړون کې یې (باسمک اللّٰهُمَّ) ولیکل.

بیا یې ورته وویل: دا هغه سوله ایز تړون دی چې محمد رسول الله او سهیل بن عمرو رضي الله عَنْهُ ترمنځ لاسلیک شو.

سهیل رضي الله عَنْهُ وویل: که زه ستا په استازیتوب باوري وای نو ما درسره ولې جنګونه کول!! خپل او د خپل پلار نوم دې ولیکه.

نبي كريم ﷺ په تړون کې خپل او د خپل پلار نوم وليکو.

نبی کريم ﷺ علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ ته وويل: داسې وليکه:

دا هغه سوله ايز تړون دی چې محمد بن عبدالله او د سهيل بن عمرو ترمنځ پرې اتفاق وشو چې تر لسو کالو پورې به دواړه خواوې په يو بل هېڅ جنګې بريدونه نه کوي، خلک به په امن امان کې وي، خلک به ځانونه له نورو څخه رانغاړي، د دې په شمول که د قريشو څخه څوک د خپل مشرتابه له اجازې پرته محمد ﷺ ته د ايمان په حالت کې راشي، نوبېرته به قريشو ته ورکول کيږي، خو که له محمد ﷺ څخه څوک د مشرکانو په لور د مشرتابه له اجازې پرته لاړ شي بېرته به نه ورکول کيږي.

دواړه خواوې به يو د بل په ضد هېڅ چل او پراډ په کار نه اچوي، په ټاکلې موده کې به يو بل ته جنګي پلانونه، خيانت او غداري او د چور چپاول هېڅ لارې نه سنجوي، که په خپله خوښه هر څوک د قريشو په عقد او يا هم د نبي کريم ﷺ په ملګرتوب کې داخليږي هغه ازاد او کولای شي.

د خزاعه قبيلې غړ پورته کړ چې مونږ د محمد ﷺ ملاتړ او ورسره په ملګرتيا خوښ يو.

بنوبکر غړ پورته کړ چې مونږ د قريشو ملاتړ او د هغوی سره په ملګرتيا رضا يو.

د سولې سلا يو بند دا هم و:

سږکال به تاسو بېرته مدينې ته ستنيږئ او مکې ته به نه راځئ، په راروان کې کال به هم مکې ته په داسې حالت کې ننوځئ چې له درې ورځو به زيات وخت نه تېروئ، اسلحه به درسره د مسافر په څېر وي، تورې به مو په تيکو کې بندې ايښې وي، مونږ به له مکې څخه ووځو، له مذکور شيانو پرته به نور هېڅ شيان مکې ته ځانونو سره نه راوړئ.

دواړه خواوې لا په تړون بوختې وې چې د سهيل بن عمرو رضي الله عَنْهُ ځوی ابوجندل رضي الله عَنْهُ په ځنځيرونو کې تړلی د مسلمانانو غېږې ته ټپې ټپې راورسېد، مسلمانانو چې د نبي کريم ﷺ د ليدلې خوب له کبله يې د مکې په فتحه کې له يو نه دوه نه کول خو چې د صلحې سرټکو او بېرته مدينې ته له تګ څخه وخبرېدل چې نبي کريم ﷺ د مشرکانو سره د زيات تحمل او برداشت نه کار واخست، تر لږه حده بې ټنډه شول، نزدې وه چې هلاکت لاس ور اوږد کړي، سهيل بن عمرو رضي الله عَنْهُ چې کله خپل ځوی ابوجندل رضي الله عَنْهُ وليد ورپاڅېد او له ګرېوانه يې کلک ونيو او ديکې يې ورکولې، نبي کريم ﷺ ته يې وويل: محمده! وړاندې له دې چې ابوجندل راشي زما او ستا په دې پرېکړه شوې ده.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: ډېره ښه ده.

سهيل بن عمرو رضي الله عَنْهُ خپل ځوی له ګرېوانه نور هم ټينګ کړ تر څو په راښکلو

رابنکلو يې قريشو ته ورسوي، ابوجندل رضي الله عَنْهُ غږ پورته کړ چې له مسلمانېدو وروسته ولې مشرکانو ته ورکړی شم؟ حال دا دی چې دوی د ربړولو له لارې ما بېرته اسلام پرېښودلو ته مجبوروي!!

خو بهر کيف د ابوجندل رضي الله عَنْهُ لوړو غږونو د مسلمانانو تنده لا پسې تروه ترخه کړه، خو له بلې خوا به ورته نبي کريم ﷺ تسلي بخش کلمات وړاندې کول چې لږ زغم اوباسه او په دراوښتې ستونزې له الله پاک څخه د ښې بدلې غوښتنه وکړه.

ته او ستا په څېر نور بې وسه او بې کسه به الله پاک له دې ازمېښته خلاص کړي، ستا له راتګ څخه لږ وړاندې مو ورسره په دې سلا کړې ده، او سلا مو هم د الله په نوم کړې ده، هېڅکله ورسره چل پراڼ ته تيار نه يو.

عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ د ابوجندل رضي الله عَنْهُ سره اوږه په اوږه شو او په غوږ کې يې ورته وويل: له زغم څخه کار واخله، دوی هسې هم مشرکان دي، وينه يې د سپي د وينې په څېر هېڅ ارزښت نه لري، او عمر رضي الله عَنْهُ به د خپلې تورې موټی ورنږدې کړ په دې خاطر چې ابوجندل رَضِيَ الله عَنْهُ به ترې توره واخلي او پلار به پرې ووژني.

عمر رضي الله عَنْهُ وايي: که ما څه هم امېد درلود چې له ما څخه به توره واخلي او پلار به پرې ووهي خو بيا هم ابوجندل رضي الله عَنْهُ پاتې وکړه او ځان يې هغوی ته ورکړ.

نبي کريم ﷺ چې کله د تړون لاسليک څخه وزګار شو، په تړون يې د مسلمانانو او مشرکانو دواړه خواوې ګواه کړې، لکه ابوبکر، عمر، عبدالرحمن بن عوف، عبدالله بن سهيل بن عمرو، سعد بن ابي وقاص، محمودبن مسلمة، مکرز بن حفص -چې دغه مهال لا مشرک و- علی بن ابي طالب رضي الله عَنْهُمْ چې د تړون ليکوال و، ګواهان کړل.

نبي کريم ﷺ چې خپله به يې دغه ګړۍ د حرم په حدودو کې لمونځ هم کو خو د حلالوالي اړوند زړه نازړه و، له صلحې څخه له وزګارېدو وروسته خپلې قربانۍ ته ورپاڅېد او حلاله يې کړه، بيا کښېناست او د سر وېښتان يې وکلول، صحابه کرامو - رضي الله عَنْهُمْ - چې کله نبي کريم ﷺ وليد هغوی هم بې درېغه د قربانۍ په ذبحه او د سر په کلولو پيل وکړ.

له دغې مراسمو له انجامولو وروسته نبي کريم ﷺ د خپلو ملګرو په ملتيا مدينې ته د بېرته ستنېدو هوډ وکړ، هېره دې نه وي چې د مکې او مدينې پرته لاره کې سورت الفتح هم نازل شو.

الله پاک وفرمايل ﴿إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا ١ لِّيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ وَيَهۡدِيَكَ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا﴾[1].

(۱) سورت فتح: (۱ - ۲). ژباړه: مونږ تا ته ډېره ښکاره فتح درکړه، په دې خاطر چې الله درته تېول مخکني او وروستني

بیا الله فرمايي ﴿لَّقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ ۖ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ ۖ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا﴾(۱).

زهري وايي: د اسلام په ګرد تاريخ کې د حديبې د تړون په څېر بله لويه فتحه نشته، ځکه چې د دواړو خواو ترمنځ د جنګ ګرم ډګر د نوې تړون په بنسټ سوړ شو، دواړه خواوې يو د بل سره ديني مناقشې او د خيالاتو تبادله کولو لپاره وزګارې شوې، د اسلام اړوند که به لږ ځيرکه او دانا انسان پلټنه پيل کړه نو پای به يې اسلام ته په غاړه کېښودو تمامېده.

د صلحې د تړون په دوه کلنه موده کې په اسلام راړونې دومره خلک مشرّف شول چې له شته مسلمانانو څخه يې زيات شمېر تشکيلو.(۲)

# په اووم هجري کال کې د خيبر غزا

د حديبې د سوله ايز تړون له راستنېدو وروسته نبي کريم ﷺ په مدينه کې د ذي الحجې او محرم د مياشتې ځينې ورځې تېرې کړې، هېره دې نه وي چې په دې کال کې هم د حج مراسم د مشرکانو تر ولقې لاندې وو.

دمحرم پاتې ورځو کې نبي کريم ﷺ خيبر ته وتپېد.

ابومعتب بن عمرو رضي الله عَنْهُ وايي: خيبر ته د ننوتو په مهال نبي کريم ﷺ خپلو ملګرو ته چې زه هم په کې وم وويل: لږ ځند وباسئ! بيا يې وويل: ای د اسمان او د اسمان نه د لاندې مخلوقاتو واکداره! ای د بادونو او طوفانونو مالک او خښتنه! مونږ ستا نه د دې کلي او کليوالو او په دې کلي د پروت خير ښېګړې او فائدې غوښتنه کوو.

ای الله مونږ تا پورې ددې کلي او کليوالو او په دې کلي د پروت شر او فساد او ناخوښو نه پناه غواړو.

---

ګناهونه دربخښش کړي، او په تا خپله لورينه بشپړه کړي، او په دې منظور چې د سمې سيده لارې توفيق دريه برخه کړي.

(۱) سورت فتح: (۲۷). ژباړه: الله پاک پيغمبر ته خپل ليدلی خوب رښتا کړ چې مسجد حرام ته به په حقيقت سره ننوځې، او په ډاډ او اطمينان به هلته ولاړ شې، هېڅ راز ډار او ترس به نه محسوسوې، چا به د سرو وېښته کلولي وي او چا به کم کړي وي، الله پاک په ټولو هغه څه ډېر ښه پوهيږي چې تاسو وربانديې نه پوهيږئ چې ددغې روغې جوړې تړون نه وروسته به درته نژدې لويه فتحه هم درکړي.

(۲) ابن هشام وايي: د زهري د خبرې تاييد او په صحت يې دليل دا دی چې د حديبې تړون کې نبي کريم ﷺ څوارلس سوه مسلمانانو په ملتيا وتلی و، خو ولې د مکې د فتحې په ورځ دوه کاله وروسته د لس زره کسانو په ملتيا ووت.

ابومعتب بن عمرو رضي الله عَنْهُ وايي: نبي كريم ﷺ چې به هر کلي ته ننوتو دا دعا به يې ويله.

نبي كريم ﷺ د خپل مبارک عادت سره سم چې تر هغه به يې په يو کلي وسله وال بريد نه کو تر څو به سبا شوی نه و.. د سباوون په مهال که به له کلي څخه د اذان کلمې راپورته شوې نبي كريم ﷺ به له بريد څخه هم رابند شو، خو ولې که د اذان غږ به يې وانه اورېد بيا به يې په کلي جنګي بريد پيل کړ.

چونکه مونږ خيبر ته د شپې له مخې ورسېدو نو نبي کريم ﷺ هم تر ګهيځ زغم وويست خو ولې د اذان هېڅ کلمات يې وانه اورېدل، هغه او مونږ په خپلو سورليو سپاره شول، د ډېرې نزديوالي له کبله به مې قدم د هغه قدم سره لګېده، څه ګورو چې د لمر خاته په وخت د خيبر يهودان له خپلو بوجونو او کيجاو سره کروندو او باغونو ته مخامخ راروان دي، چې څنګه يې نظر پر نبي كريم ﷺ او نبوي لښکر ولګېد چغې يې پورته کړې چې د محمد ﷺ لښکرې راغلې، او مخ په شا يې د تېښتې لاره ونيوله، دغه مهال نبي كريم ﷺ وويل: الله اکبر، خيبر نور دړې وړې شو، مونږ چې کله د کوم قوم په قلمرو ولقه واچو نوورځ يې له پېله بې دمه او بې کاره وي.

ابن اسحاق وايي: نبي كريم ﷺ چې کله خيبر ته تللو نو د عِصر له لارې يې د سفر پړاو پيل کړ او هم هلته ورله مسجد هم جوړ کړی شو[1] بيا صهباء[2] ته ولاړ، او له همدې ځايه نبوي لښکر بيا د رجيع درې ته ورسېد، هلته بنوغطفان او د خيبر يهودانو په منځ کې کمين شو تر څو غطفان د خيبر يهودانو جنګي مرسته ونه کړي، ځکه غطفان د نبي كريم ﷺ په ضد د يهودانو کلک مرستندوي وو.

زه داسې وخبرېدم چې غطفان کله هم د نبي كريم ﷺ د خيبر يهودانو سره په غزا وخبرېدل، تيولو يې په ضد د يهودانو مرستې ته ملا وتړله او راووتل، له لږ شيبه حرکت وروسته يې په خپلو کورونو او زنانه وو د چور چپاول اوازه واورېده چې ګنې نبي كريم ﷺ خپل جنګي لښکر د غطفان سيمې ته متوجه کړی دی، تر څو له خپلو کورونو او ابرو څخه دفاع وکړي بېرته خپلو ټاټوبو ته ستانه شول، او د نبي كريم ﷺ او د خيبر يهودانو ترمنځ يې جنګي ميدان دواړو خواو ته پرېښود.

نبي كريم ﷺ يو يو شی په غنيمت کې اخست او کلاګانې يې هم پرله پسې توګه فتحه کولې، د خيبر لومړنۍ کلا چې د مسلمانانو په منګولو کې ولوېده د ناعم کلا وه، ددې کلا (قلعه) د فتح په ترڅ کې محمود بن مسلمة رضي الله عَنْهُ هم شهيدشو چې له بره پرې چا ميچن راخطا کړې وه.

(۱) عِصر د مدينې او د فرع درې ترمنځ د پروت غر نوم دی.
(۲) صهباء خيبر ته نزدې پرته سيمه ده.

په دوهم پړاو کې د ابوالحقيق د کورنۍ کلا (قموص) فتحه شوه، د دې کلا د فتحې په ترڅ کې نبي کريم ﷺ د کنانه بن الربيع بن ابي الحقيق بي بي صفيه رضي الله عَنْهَا له نورو دوو تره لورګانو سره وينځې کړې، د نبي کريم ﷺ شيرين انتخاب په درېواړو کې صفيه رضي الله عَنْهَا وه.

دحية الکلبي رضي الله عَنْهُ نبي کريم ﷺ ته راغی او صفيه رضي الله عَنْهَا يې ترې د ځان لپاره وغوښته، چونکه نبي کريم ﷺ يو ځل د ځان لپاره غوره کړې وه نو ددې دواړه تره لورګانې يې ورکړې.

له دې پړاو وروسته بيا مسلمانانو د ښځو وينځول پيل کړل.

نبي کريم ﷺ چې د دوی ځينې کلاګانې فتحه او مالونه يې غنيمت کړل نو ځان يې د دوی دوه نورو سلالم او وطيح نومې کلاګانو ته وزګار کړ، هېره دې نه وي چې دا دواړه کلاګانې تر ټولو وروسته فتحه شوې، او په دې کلاګانو د بنديز لګونې موده هم څه د پاسه لسو ورځو ته وغځېده.

ددې کلاګانو له فتحه کېدو وړاندې يهودي اتل مرحب په خپلې سلاح سمبال راووت او ويويل:

قَدْ عَلِمَتْ خَيْـبَرُ أَنِّي مَرْحَبُ *** شَـاكِي السِّـلاَحِ بَطَلٌ مُجَرَّبُ

أَطْعَنُ أَحْيَانـاً وَحِيناً أَضْرِبُ *** إِذَا اللُّيُـوثُ أَقْبَلَـتْ تَحَرَّبُ

إِنَّ حِمَايَ لَحِمىً لاَ يُقْرَبُ

۞ ټول خيبر زما د مرحب اړوند ډېر ښه معلومات لري، چې زه د وسله وال بريد تجربه کار او ماهرانه اتل يم.

۞ لکه زمريان چې د جنګ پښه اراده لري زه هم د هغه په څېر کله ژوبلونکي او کله مرګوني ګوزارونه کوم

۞ زما ځرځای (سيمه) ته هېڅ نږدې کېدی نه شي.

او ورسره يې دا اواز هم کو چې د لاس په لاس مقابلې ته څوک شته؟

کعب بن مالک رضي الله عَنْهُ يې شعرونه جواب کړل چې:

قَدْ عَلِمَتْ خَيْـبَرُ أَنِّي كَعْبُ *** مُفَرِّجُ الْغَمَّى جَـرِيءٌ صُلْبُ

إِذْ شَـبَّتْ الْحَرْبُ تَلَتْهَا الْحَرْبُ *** مَعِي حُسَـامٌ كَالْعَقِيقِ عَضْبُ

نَطَؤُكُمْ حَـتَّى يَذِلَّ الصَّعْبُ *** نُعْطِي الْجَـزَاءَ أَوْ يَفِيءَ النَّهْبُ

بِكَفِّ مَاضٍ لَيْسَ فِيهِ عَتْبُ

- تېول خيبر زما د کعب په دلاورۍ خبر دی چې زه په سختو ستونزمنو او کړاوونو کې د بې درېغه زغم څښتن او زيات جراتمند يم.
- جنګونه چې کله پرله پسې شي او ما سره مې د تېزې برېښنا په څېر کار خلاصې توره وي.
- نو ترهغه به مو وکړه سوو چې ستاسو سختريني لارې ځان ته اساني کړو، او تر هغه به مو وډبوو چې يا خو مو سزا وار کړو او يا درڅخه راتښتولې خزانې بېرته واخلو.
- اوپه داسې لاسونو او مټو به مو سزا وار کړو چې په جنګ نه ستړي کيږي.

بيا نبي کريم ﷺ وويل: د مرحب سره لاس په لاس مقابلې ته څوک تيار دی؟ محمد مسلمة رضي الله عَنْهُ وويل: زه يې د مقابلې ډېر مينوال يم، زه د غچ اخستنې لائق يم او په ر ارسيدلي خفګان هم غمزده يم.

پرون مې ورور د دوی له لاسه وژل شوی دی، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: مقابلې ته وپاڅېږه، ای الله! په يهودي ورته کامراني ورکړه.

دواړه چې سره يو بل ته نږدې شول نو له يو بل څخه په کمزورې ونې تاوېدل، بالاخره دواړه سره يو بل ته د يو سرې په څېر مخامخ شول، مرحب يهودي چې په ګوزار لومړيتوب وکړ محمد بن مسلمة رضي الله عَنْهُ ترې ځان په خپل ډال سپورې کړل او د هغه توره د ډال په سوراخ کې ونښته، محمد بن مسلمه رضي الله عَنْهُ مرحب قابو کړ او بيا يې ووژه.

د مرحب له مړيني وروسته د هغه ورو ياسر مقابلې ته راووت او غږ يې کړ چې د مقابلې در پکې څوک شته؟

هشام بن عروة رضي الله عَنْهُ اتکلوي چې زبير بن العوام رضي الله عَنْهُ ورته ووت، صفيه بنت عبدالمطلب رضي الله عَنْهَا نبي کريم ﷺ ته وويل: هسې نه ځوی مې مړشي!

نبي کريم ﷺ ورته وويل: نا بلکې ستا ځوی به يې مړ کوي ان شاء الله، زبير رضي الله عَنْهُ د اتلولۍ ميدان ته ووت او ياسر يې د خپلو ګوزارونو ښکار کړ.

سلمة بن عمرو بن الاکوع رضي الله عَنْهُ وايي: نبي کريم ﷺ د جنګ بيرغ ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته ورکړ تر څو د خيبر ځينې کلاوونه فتحه کړي، که هغه هرڅومره جنګي تجربه په کار واچوله خو ولې بشپړه فتحه په نظر رانغله، په وريسې ورځ کې يې جنګي بيرغ عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ ته ورکړ، هغه هم ډېر جنګي تاتکتيکونه وکارول خو بيا يې هم پوره فتحه رانه وړه.

نبي کريم ﷺ وفرمايل: د جنګ په سبانې ورځ به زه بيرغ داسې چا ته ورکړم چې د الله او رسول دواړو خوښ وي، هېڅکله به له جنګ نه په شا ونه تمبيږي، او د هغه په لاس به الله

ټول خيبر فتحه کوي، بيا نبي کريم ﷺ علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ راوغوښت اګر که د سترګو په رنځ هم اخته و خو نبي کريم ﷺ يې په سترګو کې توکاڼې واچولې او بيا يې ورته وويل: لاس په جنډه مخ په وړاندې ولاړ شه، تر هغه مخکې ځه چې الله پاک ستا په لاس بشپړه ازادي راولي.

سلمة بن الاکوع رضي الله عَنْهُ فرمايي: علي رضي الله عَنْهُ له ډېرې تېز رفتارۍ نه ساه تيګا واخست او مونږ ورپسې وروسته روان وو، دومره تونډ ولاړ چې په لاس کې ورسره جنډه يې د يهودانو د لوی کلا په کاڼو کمرو رپانده ودروله، له کلا څخه ورته يو يهودي سرا راپورته کړ چې ته څوک يې؟ ده ورته وويل: زه علي بن ابي طالب يم.

يهودي وويل: موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته په ورکړل شوي کتاب مې دې قسم وي چې تاسو سرلوړي او سر بالاياست.

علي رضي الله عَنْهُ بېرته په داسې حالت کې نبي کريم ﷺ ته راغی چې خيبر يې په بشپړه توګه فتحه کړی و.

نبي کريم ﷺ چې کله په خيبر کې د وطيح او سلالم دواړه کلاګانو باندې اوږد بنديز ته دوام ورکړ، يهودانو په خپل هلاکت ويوهېدل، نبي کريم ﷺ ته يې استازی واستو چې له خيبره به ووځو خو ژوند مو مرګ ته مه ورکوه، نبي کريم ﷺ د هغوی غوښتنه ومنله، اګر که له دې دواړو کلاګانو پرته نور د خيبر سرسبز او شاداب باغونه او خزانې د نبوت په جولۍ کې لوېدلې وې، له دې پرېکړې څخه چې د فدک ميشت يهودان وخبرېدل هغوی هم د خپل ژوند د خونديتوب لپاره ټولو شتمنيو څخه تېر او هېر شول.

د يهودانو او نبي کريم ﷺ ترمنځ د سولې سلا استازی د بنو حارثه د کورنۍ غړی مُحيصة بن مسعود و.

بېرته د خيبر يهودانو د نبي کريم ﷺ سره د خيبر په ګردو باغونو د سم په نيمو صادراتو تړون وکړ چې د باغونو او ځمکو په خدمت کې به يې يهودانو ته ورکوي، او ورته يې وويل: شايد مونږ به باغونه له تاسو څخه ډېر ښه وپالو، ځکه چې دا زمونږ ځمکه وه اوزمونږ باغونه وو، مونږ يې په اندازه ښه پوهېږو.

نبي کريم ﷺ ورسره دغه تړون په دې شرط ومنو چې که مونږ هر کله تاسو وېستلئ نو هرومرو به وځئ.

د فدک يهودانو ته چې کله د خيبر د يهودانو لړې واورول شوه د نبي کريم ﷺ د خيبر والا و په څېر پرېکړه باندې يې جدي غوښتنه وکړه، له هغوی سره يې هم روغې جوړې ته غاړه کېښوده.

هغه و چې خيبر د مسلمانانو ترمنځ شريک و خو ولې فدک په دې خاطر چې اوښ او اس پرې نه و ځغلېدلی، يواځې د نبي کريم ﷺ و.

په خيبر کې چې کله نبي کريم ﷺ ښه ارام او ساه يې واخسته، د سلام بن مشکم بي بي زينب بنت الحارث ورته په غوړو کې وريته شوی پسه ډالۍ کړ، وراندې له دې چې د نبي کريم ﷺ تر مخې يې کېږدي له چا څخه يې ځان ښه پوهه کړی و چې هغه ته د پسه کوم اندام ډېر پسند دی؟ چا ورته ويلي و چې د پتون غوښه يې ډېره خوښه ده.

زينب د دې خبرې سره د پتون غوښه په زهرو سمه پوښلې وه او پاتې غوښه يې په خپلې اندازه زهرجنه کړه.

د نبي کريم ﷺ په څنګ کې چې بشر بن براء بن معرور رَضِي الله عَنْهُ هم ناست وو د دواړو پتونونو غوښه وخوړه، نبي کريم ﷺ غوښه تېره نه کړه او بېرته يې له خولې څخه وغورځوله، خو ولې بشر رضي الله عَنْهُ غوښه تېره کړې وه.

نبي کريم ﷺ وفرمايل: هډوکي مې خبروي چې زهرجن دي.

نبي کريم ﷺ يهودنه راوغوښته او ورڅخه يې تحقيقاتي پوښتنې پيل کړې، هغې اعتراف وکړ او زياته يې کړه چې ته ښه پوهېږې چې ستا له لاسه مې په قوم څه څه ونه شول؟ ما دا کار ځکه وکړ چې که ته رښتونی پيغمبر يې زما له کړنې به دې الله خبر کړي او که د ټولواکۍ او اقتدار مئين يې نو مونږ به درڅخه ايله وزګار او بې غمه شو.

اګر که بشر بن براء رضي الله عَنْهُ وفات شو خو بيا هم ترې نبي کريم ﷺ درګزري او بخشش اعلان کړ.

بيا نبي کريم ﷺ له خيبر څخه د قرى درې ته ولاړ او د هغه ځای ميشتوال يې څه شپې ورځې محاصره کړل او له دې ځايه يې مدينې ته د راستنېدو لړې پيل کړه.

نبي کريم ﷺ په خيبر يا په لاره کې په صفيه رضي الله عَنْهَا باندې نکاح وتړله، د صفيه رضي الله عَنْهَا د ناويتوب ټول مراسم لکه هغه ښايسته کول، ويښتان يې ګمنځول د انس رضي الله عَنْهُ مور ام سليم بنت ملحان رضي الله عَنْهَا سمبال کړل.

نبي کريم ﷺ په صفيه رضي الله عَنْهَا باندې په خپلې خيمه کې د لومړي ځل لپاره ميلاو شو، او ابوايوب خالد بن زيد رضي الله عَنْهُ د وهلې خيمې يا چوپال بهر هر اړخيزه څوکيدارۍ باندې شپه رڼه کړه، د سهار په مهال چې نبي کريم ﷺ وليد ورڅخه يې وپوښتل چې ابو ايوبه دلته څه کوې؟

هغه ورته وويل: له دې ښځې څخه مې دربانديې ډار احساس کړ، تا يې پلار او ټول خاندان او قوم وواژه، که څه هم خپله نوې مسلمانه ده خو په زړه کې مې ترې خوف او ترس پيدا شو.

داسې ويل کيږي نبي کريم ﷺ ورته وويل: اى الله! لکه څنګه چې ابو ايوب رضي الله عَنْهُ زما په څوکۍ شپه روڼه کړه ته يې په خپل حفاظت کې وساته.

له خيبر څخه په لاره کې د شپې نبي کريم ﷺ وفرمايل: د نني شپې څوکېداري به څوک ښه وکولی شي؟ چې د سهار لمونځ رانه دخوب او ستړيا له کبله بې وخته نه شي!

بلال رضي الله عَنْهُ وويل: ستا څوکيداري به زه وکړم.

نبي کريم ﷺ د نورو خلکو په شمول په خپلو خپلو ارام ځايونو کې ويده شول، بلال رضي الله عَنْهُ هم د الله د ارادې سره سم دومره لمونځ وکړ چې څومره الله ته منظور و، له ستړيا له کبله خپل اوښ ته ډډه شو، که څه هم سهار نزدې و چې راوخيژی خو په سترګو يې خوب غالبه شو او ټول د لمر ګرموالي راويښ کړل.

نبی کريم ﷺ لومړی نفر و چې له خوبه راببدار شو، بلال رضي الله عَنْهُ ته يې وويل: بلاله! دا دې څه وکړل؟

هغه ورته وويل: هغه ذات راته خوب راويست چې تا ته يې خوب درويستی و.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: رښتيا دې وويل.

بيا نبي کريم ﷺ خپل اوښ له مهاره ونيو او روان شو، لږ ګړی يې مزل وکړ وروسته يې اوښ چو کړ خپله يې هم اودس وکړ او نورو خلکو هم اودسونه وکړل، بلال رضي الله عَنْهُ ته يې امر وکړ چې اقامت وکړي، نبي کريم ﷺ خلکو ته لمونځ ورکړ، د لمونځ بشپړېدو وروسته يې خلکو ته مخ کړ او ويويل: چې کله هم د رڅخه لمونځ پاتې يا هېر شي نو هله يې وکړې چې کله درته ياد شي، ځکه الله پاک فرمايي ﴿وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ لِذِكۡرِيٓ﴾[۱].

ما ته د رارسيدلي راپور له مخې نبي کريم ﷺ ابن لقيم العبسي ته د خيبر د فتحې په ورځ چرګان، ووزې او کوترې او نور کورني حيوانات ورکړل، د خيبر د فتحې په ورځ ابن لقيم عبسي دا شعرونه وويل:

| | | |
|---|---|---|
| رُمِيَـتْ نَطَاةٌ مِنَ الرَّسُـولِ بِفَيْلَقٍ | *** | شَـهْبَاءَ ذَاتَ مَنَاكِـبَ وَفَقَـارِ |
| وَاسْـتَيْقَنَتْ بِـالذُّلِّ لَمَا شُـيِّعَتْ | *** | وَرِجَـالُ أَسْـلَمَ وَسْـطَهَا وَغِفَارِ |
| صَبَّحَتْ بَنِي عَمْرِو بْنِ زُرْعَةَ غُدْوَةً | *** | وَالشَّـقُّ أَظْلَـمَ أَهْلُـهُ بِنَهَـارِ |
| جَرَّتْ بِأَبْطَحِهَـا الذُّيُولُ فَلَمْ تَدَعْ | *** | إِلَّا الدَّجَـاجَ تَصِيحُ فِي الْأَسْـحَارِ |
| وَلِكُلِّ حِصْنٍ شَـاغِلٌ مِـنْ خَيْلِهِمْ | *** | مِنْ عَبْدِ أَشْـهَلَ أَوْ بَـنِي النَّجَّارِ |

(۱) سورت طه: (۱٤). ژباړه: زما د ياد لپاره لمونځ وکړه.

وَمُهَاجِرِيـــنَ قَدْ اعْلَمُوا سِــيمَاهُمْ *** فَــوْقَ المغافــر لــم ينْــو الْفِرَار
وَلَقَــدْ عَلِمْــتُ لَيَغْلِــبَنَّ مُحَمَّــدٌ *** وَلَيَثْوِيَــنَّ بِهَــا إِلَى أَصْفَــارِ
فَــرَّتْ يَهُودٌ يَــوْمَ ذَلِــكَ فِي الْوَغَى *** تَحْــتَ الْعَجَاجِ غَمَائِــمَ الأَبْصَارِ

- د نطاق لويه ماڼۍ د نبي لښکر ځينو اتلانو د بريد لاندې راغله، چې دغه اتلان په سپينو پړقېدونکو تورو او ډېرو جنګي اوزارو باندې سمبال وو.
- کله چې تيت او پرک شول نو په خپلو ځانونو يې د سپکاوۍ او ذلت يقين راغی، حالانکه د اسلم او غفار قبيلې غازيان خلک يې په منځ کې روان وو.
- بنوعمرو بن زرعه باندې سهار په خپلې ماڼۍ (شق) کې راوخوت، خو پاتې ورځ پرې توره تياره تېره شوه.
- د خيبر په سمه او اوارو روان وو، له چرګانو پرته يې نور څه نه وو پرېښی چې په سهار کې به يې اوازونه (اذانونه) کول.
- د عبدالاشهل او بنونجار د قبيلې هر وګړي په خپلو اسونو باندې سپور د هرې ماڼۍ او کلا (قلعه) په نيولو بوخت وو.
- د خيبر په جنګ کې د مهاجرينو د پېژندګلو نښه په سرباندې وارضد خولې وې چې د شکست او تېښتې هېڅ تصور په کې نه شو کېدای.
- زه په يقين کې دې حد ته رسيدلی وم چې نبي کريم ﷺ به هرومرو برلاسی کيږي او په خيبر کې به يې د صفر په مياشت کې واک او ځواک وځليږي.
- د جنګ په د غه ورځ يهودان فرار شول او له يهودانو څخه خولې او سترګې له غبار ډکې وازې (بېرته، خلاصې) پاتې شوې.

## له حبشې څخه د جعفر بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ راتګ

ابن هشام وايي:

شعبي به ويل: جعفر رضي الله عَنْهُ چې کله د خيبر په ورځ د نبي کريم ﷺ په حضور کې عرض شو، نبي ﷺ ځان ته راجوخت کړ، تندی يې ورله ښکل کړ او ويويل: نه پوهېږم چې د جعفر رضي الله عَنْهُ په راتګ ډېر خوشحاله يم او که د خيبر په فتحې.

ابن اسحاق وايي: د نبي کريم ﷺ کوم ملګري چې په حبشه کې پاتې وو نبي ﷺ يې مدينې

ته د راستولو لپاره نجاشي ته عمرو بن اميه الضمري استازى واستو، د حديبې د سوله ايز تړون وروسته چې نبی کریم ﷺ لا په خیبر کې و، نجاشي ورته حبشه کې ټول مهاجرين په دوو کشتيو کې سپاره راواستول.

- له بنو هاشم بن عبدمناف له قبيلې څخه: جعفر بن ابي طالب او دهغه بي بي اسماء بنت عميس خثعميه رضي الله عَنْهَا او ځوی يې عبدالله چې په حبشه کې پيدا شوی وو درې نفر وو.
- له بنو عبدشمس بن عبد مناف له قبيلې څخه په کې خالد بن سعيد بن العاص بن اميه بن عبدشمس او دده کور ودانه امية بنت خلف بن اسعد او دواړه بچي يې سعيد بن خالد او امة بنت خالد رضي الله عَنْهُمْ چې دواړه په حبشه کې پيدا شوي وو.

ورسره يې ورور عمرو بن سعيد بن العاص، معيقيب بن ابي فاطمة چې د عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ د واک په دور کې د بيت المال خزانچي هم و او ابوموسى الاشعري رضي الله عَنْهُمْ وو.

- له بنو اسد بن عبدالعزى څخه په کې اسود بن نوفل بن خويلد رضي الله عَنْهُ و.
- له بنو عبدالدار بن قصي نه په کې جهم بن قيس رضي الله عَنْهُ و.
- له بنو زهرة بن كلاب نه په کې عامر بن ابي وقاص او عتبه بن مسعود –رضي الله عَنْهُمَا– وو.
- له بنو تميم بن مرة نه په کې حارث بن خالد بن صخر رضي الله عَنْهُ و.
- له بنو جمح بن عمرو نه په کې عثمان بن ربيعه بن اهبان رضي الله عَنْهُ و.
- له بنوسهم بن عمرو نه په کې محمية بن الجزء رضي الله عَنْهُ و.
- له بنو عدي بن كعب نه په کې معمر بن عبدالله بن نضله رضي الله عَنْهُ و.
- له بنو عامر بن لؤي نه په کې ابو حاطب بن عمرو او مالک بن ربيعة رضي الله عَنْهُمَا وو.
- له بنوالحارث بن فهر بن مالک نه په کې حارث بن عبد قيسم بن لقيط رضي الله عَنْهُ و.

هېره دې نه وي چې په حبشه کې د وفات شوو نارينه و زنانه (کونډې) هم په کشتو کې سپرې راستول شوې وې.

نبي ﷺ ته په دواړو کشتيو کې د سپرو سرشمېرنه شپاړس نفره وو، او هغه خلک چې نه خو يې په بدر کې د نبي کريم ﷺ سره ونډه درلوده او نه ورسره په مکه کې ميلاو شول او نه هم د نجاشي په راستولو کې و نزدې يې شمېرنه تر څلور ديرشت ته رسيږي.

# د هجرت په اووم کال د قضايي عمرې داستان

نبي ﷺ چې له خيبر څخه بېرته مدينې ته راستون شو، په مدينه کې يې د ربيع الاول او ثاني او جمادى الاولى او ثاني او رجب او شعبان، رمضان او د شوال مياشتې تېرې کړې، په مناسبو وختونو کې به يې د غزاګانو او جنګونو لپاره کاروانونه استول.

چونکه قريشو نبي کريم ﷺ د ورسره مسلمانانو په شمول له مکې څخه رابند کړی و، د ليکلې تړون په بنسټ په دې کال کې د عمرې د اداء لپاره بيا د مسلمانانو په شمول د مکې په لور وتېپېد، د مکې خلک چې کله په دې وخبرېدل چې نبي کريم ﷺ د خپلو ملګرو په ملتيا مکې ته د عمرې لپاره راروان دی، نو خپل منځ کې يې مشهوره کړه چې هغوی د يثرب رنځونو او فقرو فاقت ځپلي دي.

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وايي: د دارالندوة سره نزدې ټول قريش د نبي کريم ﷺ او د ملګرو د سيل او تماشې لپاره بوخ ريني کېدل، نبي کريم ﷺ چې کله مسجد ته ننوت، احرام يې واچو او په څادر کې يې ښي اړخ بربنډ کړ او بيا يې وفرمايل: الله پاک په هغه چا ورحمېږه چې نن ورځ خپل بدني قوت ښکاره کړي، بيا يې يماني رکن ښکل کړ او منډې يې پېل کړې، ملګرو يې هم ورسره د اقتداء لپاره د منډو پېل وکړ، تر څو کعبه شريفه يې پټ او پناه کړه، بيا يې يماني رکن ښکل کړ او د حجر اسود لپاره ورنزدې شو، بيا يې درې طوافونه په منډه وکړل او باقي پاتې طواف يې په عادي مزل ترپايه ورسو.

د عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا په روايت چې نبي کريم ﷺ د دغې سفر په دوران کې په ميمونة رضي الله عَنْهَا باندې په داسې حالت کې نکاح وتړله چې محرم و.

او د ميمونة رضي الله عَنْهَا له پلوه د نکاح وکيل عباس بن عبدالمطلب رضي الله عَنْهُ و.

نبي کريم ﷺ په مکه کې درې ورځې پاتې شو، په دريمه ورځ پسې حويطب بن عبدالعزى د قريشو د څه خلکو په ملتيا ورغی او ورته يې وويل چې د حديبې د سوله ايز تړون په بنسټ په مکه کې ستا درې ورځې پوره شوې بايد نور دلته تم نه شې او ولاړ شې، د نبي کريم ﷺ د راويستو دنده قريشو حويطب ته سپارتې وه.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: تاسو ته څه ستونزه ده؟ لږه موده به نور هم پاتې شو!! زه به پکې د خپل واده مراسم هم بشپړ کړم او تاسو ته به وليمه هم درکړم.

حويطب ورته وويل: ستا د واده ډوډۍ ته مونږ هيڅ اړتيا نه لرو، خو د کړې ژمنې په بنسټ بايد ته ووځې، هغه و چې نبي کريم ﷺ له مکې څخه راووت او ميمونې رضي الله عَنْهَا ته يې

خپل غلام ابو رافع رضي الله عَنْه پرېښود، تر څو د سرف(۱) مقام نوم ځای ته يې له ځان سره راولي، هم هلته ورسره نبي کريم ﷺ واده وکړ او بيا مدينې ته راستون شو.

ابن هشام وايي: ما ته د ابوعبيده د راکړي راپور له مخې چې همدغلته د الله پاک دا قول هم نازل شو ﴿لَقَدْ صَدَقَ ٱللَّهُ رَسُولَهُ ٱلرُّءْيَا بِٱلْحَقِّ لَتَدْخُلُنَّ ٱلْمَسْجِدَ ٱلْحَرَامَ إِن شَآءَ ٱللَّهُ ءَامِنِينَ مُحَلِّقِينَ رُءُوسَكُمْ وَمُقَصِّرِينَ لَا تَخَافُونَ فَعَلِمَ مَا لَمْ تَعْلَمُوا۟ فَجَعَلَ مِن دُونِ ذَٰلِكَ فَتْحًا قَرِيبًا﴾(۲).

## د اتم هجري کال جمادی الاولی په مياشت کې د مؤته غزا

د حج مراسم په دې کال کې هم د مشرکانو تر ولکې لاندې وو، خو نبي کريم ﷺ خپله له عمرې اداء کولو وروسته په مدينه کې د ذي الحجې او محرم او صفر، ربيع الاول او ثاني په مياشتو کې پاتې شو.

د جمادی الاولی په مياشت کې نبي کريم ﷺ شام ته د زيد بن حارثه رضي الله عَنْهُ په زعامت جنګي کاروان واستو، او ورته يې کړه: که زيد رضي الله عَنْهُ شهيد نو تولکی مشر به جعفر بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ وي، که دا هم شهيد شو نو مشر به عبدالله بن رواحة رضي الله عَنْهُ وي.

خلک چې کله وتلو ته تيار شول د تګ په مهال نبي کريم ﷺ د ګمارلي مشرانو سره خدای په اماني وکړه حالانکه درې زره شمېرنه يې تشکيلوله او سلامونه به يې پرې کول.

خو چې کله خلکو د عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُ سره خدای په اماني کوله په وير ژړا يې شروع وکړه، خلکو ورته وويل: ولې ژاړې؟ هغه کړه: لوړه په رب لايزال چې د دنيا مينه او محبت او ستاسو سره مينې څخه هجران مې نه ژړوي، خو د نبي کريم ﷺ څخه مې اوريدلي دي چې هغه د الله د کتاب دا ايت ولوست ﴿وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا﴾(۳) خو ولې ما ته معلومات نشته چې په جهنم د تېرېدو په مهال به راسره څه کيږي؟

(۱) سرف له تنعيم سره نږدې د سيمې نوم دی.
(۲) سورت فتح: (۲۷). ژباړه: الله پاک د خپل پيغمبر ليدلی خوب رښتيا کړ چې مسجد حرام ته به هرومرو ننوځئ، که د الله پاک خوښه شي، ښه په ډاډ او امن کې به ننوځئ، چا به سرونه خرولي وي او چا به ويښتان کم کړي وي، هېڅ راز خوف او خطر به نه محسوسوئ، الله پاک چې په څه شي پوهېده تاسو پرې نه پوهېدئ او له دې څخه لږ وروسته الله پاک ستاسو لپاره بله فتحه هم ګرځولې ده چې تاسو ته به يې درکړي.
(۳) سورت مريم: (۷۱). ژباړه: په تاسو کې هېڅ څوک داسې نشته چې په پل صراط (جهنم) به نه تېرېږي، دغه ستا د رب محکمه پرېکړه ده.

مسلمانانو ورته وويل: الله پاک دې ستاسو مل شي او له مرګ ژوبلې پرته مو الله نیک صالحه راستانه کړه.

بیا عبدالله بن رواحه وویل:

لَكِنَّنِي أَسْــأَلُ الرَّحْمَــنَ مَغْفِرَةً *** وضربة ذَات فرغ تَقْذِفُ الزَّبَدا

أَوْ طَعْنَــةً بِيَدَيْ حَــرَّانَ مُجْهِزَةً *** بِحَرْبَةٍ تُنفِذُ الْأَحْشَــاءَ وَالْكَبِدَا

حَتَّى يُقَالَ إِذَا مَــرُّوا عَلَى جَدَثِي *** أَرْشَــدَهُ اللهُ مِنْ غَازٍ وَقَدْ رَشَدَا

❁ زه د الله پاک نه د بخشش ډېره زاري کوم او ورڅخه غواړم چې د غټ ټپ (زخم) او په دښمن کې د وینو ناوچې جوړونکي ګوزار توان راکړي.

❁ او یا هم د نېزې د تېز ترین چټک ګوزار توان راکړي چې زر مرګ ژوبله دښمن ته اړوي، داسې ګوزار چې له زړه او ګوګل نه تېرېږي.

❁ چې بیا کله خلک ما باندې تیرېږي او زه مړ یم او داسې ووايي: دا د الله پاک ډېر نیک او صالحه غازي انسان و.

بیا نبي کریم ﷺ او نورو خلکو د مجاهدینو کاروان رخصت کړ، کله چې خلک له کاروان څخه راستانه شول عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُ وویل:

خَلَفَ السَّــلَامُ عَلَى امْرِئٍ وَدَّعْتُهُ *** فِي النَّخْلِ خَــيْرَ مُشَــيِّعٍ وَخَلِيلِ

❁ په هغه چا مې سلام پاتې شو چې د کجورې ونو سره مې ترې خدای په امانی واخسته، او هغه زما لپاره ډېر ښه رخصت کونکی او نیک دوست دی.

د صحابه و د جهاد کاروان تر هغه مخ په وړاندې لاړ چې په شام کې یې د (معان) د ځمکې په نوم ځای کې واړوله، او په دې وخبرېدل چې هرقل هم د سل زره جنګیالیو په ملتیا د بلقاء په مقام کې تم دی، او نور سل زره سرتیرو هم ورته له لخم، جذام، قین، بهراء، بليّ له قبیلو څخه خپل ډاډ او اطمینان ورکړی دی، او ورسره یو ځای شوي دي، د ټولو جنګیالیو قومانده یې د بليّ د قبیلې غړي سره ده، او لومړی مرستیال یې د مالک بن رافله په نوم غړی دی.

مسلمانانو ته د راپور رسېدو سم په معان کې د دوو شپو په اندازه نوره هم تم شول، او جنګي تکتیک لپاره یې خپلمنځی سلا مشورې پیل کړې، ځینو ویل: نبي کریم ﷺ ته به لیک واستو او د دښمن په شمیر به یې خبر کړو، یا خو به د مرستې لپاره مزید نوره جهادي قوه راولیږي او یا به راته په جنګ امر وکړي نو جنګ به وکړو.

عبدالله بن رواحة رضي الله عَنْهُ ویاڅېد او د خلکو جذبې یې په خپلو حماسي کلماتو راوپارولې چې:

اى خلکو! لوړه په رب لا یزال چې تاسو د شهادت هغه مډال اوس بد ګڼئ چې تالاش پسې یې راوتي یاست!! مونږ هېڅکله د چا سره د سرشمېرنې په بنسټ په زیاتوالي او کموالي، یا د پیاوړتوب او طاقت په اساس نه جنګېږو، مونږ د هغه دین په بنسټ د خلکو سره جنګ کوو چې له کبله یې راته الله پاک عزت او احترام رابښلی دی.

پرمخ تګ وکړئ او ورشئ، دوه نېک خویونه مو ملتیا کوي، یا غلبه او یا شهادت.

ټولو خلکو په یو اواز وویل: عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُ رښتیا خبرې وکړې.

د صحابه کرامو جهادي قوه ترهغه خوځښت وکړ چې د بلقاء له سرحداتو او پولو څخه یې د هرقل او ورسره نصراني عربانو قبیلې بې شمېره لوی لښکر ولید، د دغې سیمې نوم مشارف و، مسلمانانو د بلقاء اړوند مؤته نومې سیمه کې خپل جنګي تدابیر ونیول، د ښي اړخ د قوماندې واګې یې بنوعذره د قبیلې غړي قطبه بن قتاده رضي الله عَنْهُ ته ورکړې او د لښکر د کیڼ پلو اختیارات یې عبایة بن مالک انصاري رضي الله عَنْهُ ته ورکړي ول.

زید بن حارثه رضي الله عَنْهُ د رسول ﷺ ورته د کړې خبرې سره ترهغه اوږد مهاله وجنګېد چې د دښمن په نېزو کې ننوت او شهید شو.

بیرغ جعفر بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ پورته کړ او ترهغه یې په مېړانه کلک مقاومت وکړ چې نور یې خلاصون نه و، له اس څخه راښکته شو، اس یې ګوډ شل کړ او د دښمن سره یې د نوي جنګ بل پړاو پیل کړ، او دایې ویل چې:

يَـا حَبَّـذَا الْجَنَّـــةُ وَاقْتِرَابُهَـا *** طَـيِّبَـــةً وَبَــــارِدًا شَرَابُـهَـا

وَالــرُّوْمُ رُوْمٌ قَدْ دَنَــا عَذَابُهَا *** كَافِــرَةٌ بَعِيــــدَةٌ أَنْسَــابُهَـا

عَلَيَّ إِذْ لَاقَيْتُهَا ضِرَابُهَا

❁ جنت څومره ډېر خوندور او څومر نزدې دی، د جنت اوبه څومره مزېدراې او یخې ټنډه دي.

❁ د رومیانو خو د عذاب او مرګ ژوبلې ایله موقعه راغله دوی خو کافر او نسبونه یې هم بېلابېل (بې نسبه) دي.

❁ خو که ورسره مخامخ شوم نو سم به یې وډبوم.

ابن هشام وایي: ځینې رښتني علماء چې زه پرې باوري یم راته وویل:

جعفر رضي الله عَنْهُ جنګي بیرغ لوړ ریاند په ښي لاس کې نیولی و چې لاس یې شهید شو زر یې بیرغ کیڼ لاس ته کړ، چې هغه هم شهید شو بیا یې په اړخونو باندې د خپلې سینې

په منځ کې ونيو چې بالاخره تول شهيد شهيد شو او له دنيا څخه د درې ديرشت کالو په عمر کې اخرت ته شهيد لاړ، د دواړو لاسونو د شهادت په بدل کې به ورته الله پاک په جنت کې دوه وزرې ورکړي او چې چرته وغواړي هلته به پرې الوځي، داسې هم ويل کيږي چې جعفر رضي الله عَنْهُ يو رومي سرتيرى په دومره مرکوني ګوزار ووهو چې جعفر رضي الله عَنْهُ يې په منځ دوه کړ.

ابن اسحاق وايي: جعفر بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ چې کله شهيد شو بيرغ عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُ راپورته کړ، د دښمن په لور په اس باندې سپور ورغی، له اس څخه په راښکته کېدو او نه راښکته کېدو کې زړه نازړه و، بيا يې وويل:

أَقْسَمْتُ يَا نَفْسُ لَـتَنْـــزِلِنَّهْ *** لَـتَـنْزِلِـــنَّ أَوْ لَتُـكْرِهَـنَّـهْ
إِنْ أَجْلَبَ النَّاسُ وَشَدُّوا الرَّنَّه *** مَا لِي أَرَاكِ تَكْرَهِـينَ الْجَنَّهْ
قَدْ طَالَ مَـــا قَدْ كُنْتِ مُطْمَئِنَّهْ *** هَلْ أَنْـــتِ إِلَّا نُطْفَةٌ فِي شَـــنَّهْ

۞ ای نفسه (زما ځانه)! په دې مې لوړه پورته کړې ده چې خامخا به جنګ ته ښکته کيږې، ورنه په زوره به دې کوز او ښکته کړم.

۞ که خلک راټول شي او چغې ناري او ويرونه ژړاګانې پيل کړي نو ستا ولې جنت بدي شي؟

۞ بلا وخت دې په امن او امان کې تير کړ ستا مثال لکه په غړکۍ کې د اوبو پاک صفا څاڅکی دی.

او دا يې هم وويل:

يَـــا نَفْـــسُ إِلَّا تُقْتَـــلِي تَمُوتِي *** هَذَا حِمَامُ الْمَـــوْتِ قَدْ صَلِيْتِ
وَمَـــا تَمَنَّيْتِ فَقَـــدْ أُعْطِيتِ *** إِنْ تَفْعَـــلِي فِعْلَهُمَـــا هُدِيتِ

۞ ای نفسه! که ونه وژل شې هرومرو به خپله ومرې، اوس هسې هم د مرګ او مړينې سختې ته ننونې.

۞ تا چې د شهادت کومې ارزوګانې درلودې اوس به درته درکړل شي، او که د خپلو ملګرو په پل ولاړې نو هرومرو به په هدايت روان شې.

بيا له اس څخه راښکته شو، د تره ځوی يې ورله د غوښې ډک هډوکی ورکړ او ورته يې وويل: ته خو د ډيرې سختې ولږې او ستونزې سره مخ شوی يې دا هډوکی واخله او غوښه ترې وخوره چې ملا دې لږه قوي شي.

له هېوکي څخه يې لږ څه وخوړ، د خلکو شور زوږ يې واورېد، هېوکی يې وغورځو او ویویل: ملګري دې شهيدان شول او ته لا تر اوسه په دنيا کې ژوندی يې؟ خپله توره يې واخسته او تر هغه وجنګېد چې شهيد شو.

بيا جنډه د بنو عجلان د قبيلې غړي ثابت بن اقرم رضي الله عَنْهُ راپورته کړه او غږ يې کړ چې بايد نوی امير ضرور وګمارئ، ټولو ورته وويل: ته مو امير يې، هغه ورته وويل: زه هېڅکله مشري ته غاړه نه شم کېښودلای، بالاخره هم د خلکو سلا په خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ باندې راغله، هغه هم لږ څه وړاندې شو بيا پسې مزيد نور ولاړ او دښمن نور په شا شو، نو دوی بېرته مدينې ته راستانه شول.

ما ته د رارسيدلي راپور له مخې چې کله خلکو ته مرګ ژوبله واوښته نبي کريم ﷺ وويل: زيد بن حارثه رضي الله عَنْهُ تر هغه مقابل لورې سره وجنګېد چې شهيد شو، او بېرغ ترې پرېوت، بيا جعفر بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ جنډه راپورته کړه او ترهغه وجنګېد چې هغه هم شهيد شو، نبي کريم ﷺ لږ ځنې خاموش شو نو د انصارو مخونه بدل شو چې هسې نه د عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُ اړوند راپور د دوی د خفګان سبب جوړ نه شي.

بيا نبي کريم ﷺ وويل: بيا جنګي بېرغ عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُ راپورته کړ او ترهغه يې مېړانه وښوده چې شهيد شو.

بيا يې وفرمايل: هغوی درېواړه ما ته په جنت کې راښکاره شول لکه سړی چې خوب ويني، دسرو زرو په تختونو او پالنګونو ناست وو، خو د عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُ په تخت او سملاست ځای کې لږ اندک ناسموالی و، ما وپوښتل چې دا ولې؟ وځوابول شوم چې مخکني دواړه له تيټ او پاس پرته شهيدان شول او عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُ لږ څه زړه نا زړه و او بيا شهيد شو.

خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ چې کله هم د مجاهدينو کاروان له اغيارو څخه په ډه ډه کړه مدينې ته راستون شو.

د مجاهدينو کاروان چې مدينې ته نږدې شو، د نبي کريم ﷺ په ملتيا ټول صحابه کرام او ماشومانو ورته منډې وهل او پرته پاک استقبال يې ورله وکړ، نبي کريم ﷺ وفرمايل: ټول بايد ماشومان په غېږو کې پورته کړي او د جعفر رضي الله عَنْهُ ماشومان ما ته په غېږه کې راکړئ، خلکو ورته عبدالله بن جعفر رضي الله عَنْهُمَا ورکړ، نبي کريم ﷺ په خپلې سورلۍ سپور هغه په غېږه کې کېنه و.

ځينو خلکو يې لا په مخونو کې خاورې شيندلې چې تاسو ولې د الله پاک په لاره کې له جهاد او مرګ نه بېرته راوتښتېدلئ.

خو ولې نبي کريم ﷺ کاروان ته ډاډ ورکړ چې دوی د تېښتې والا نه دي، دوی د چريکي بريدونو ماهرين دي ان شاء الله.

په مؤته کې شهيدان شوي صحابه کرام حسان بن ثابت رضي الله عَنْهُ په شعري مرثيه کې داسې ياد کړل:

تَأَوَّبَنِي لَيْلٌ بِيَثْرِبَ أَعْسَرُ *** وَهَمَّ إِذَا مَا نَوَّمَ النَّاسُ مُسْهِرُ

لِذِكْرَى حَبِيبٍ هَيَّجَتْ لِي عَبْرَةً *** سَفُوحًا وَأَسْبَابُ الْبُكَاءِ التَّذَكُّرُ

بَلَى، إِنَّ فِقْدَانَ الْحَبِيبِ بَلِيَّةٌ *** وَكَمْ مِنْ كَرِيمٍ يُبْتَلَى ثُمَّ يَصْبِرُ

رَأَيْتُ خِيَارَ الْمُؤْمِنِيْنَ تَوَارَدُوا *** شَعُوبَ وَخَلْفًا بَعْدَهُمْ يَتَأَخَّرُ

فَلَا يُبْعِدَنَّ اللهُ قَتْلَى تَتَابَعُوا *** بِمُؤْتَةَ مِنْهُمْ ذُو الْجَنَاحَيْنِ جَعْفَرُ

وَزَيْدٌ وَعَبْدُاللهِ حِينَ تَتَابَعُوا *** جَمِيعًا وَأَسْبَابُ الْمَنِيَّةِ تَخْطِرُ

غَدَاةَ مَضَوْا بِالْمُؤْمِنِينَ يَقُودُهُمْ *** إِلَى الْمَوْتِ مَيْمُونُ النَّقِيبَةِ أَزْهَرُ

أَغَرُّ كَضَوْءِ الْبَدْرِ مِنْ آلِ هَاشِمٍ *** أَبِيٌّ إِذَا سِيمَ الظُّلَامَةَ مِجْسَرُ

فَطَاعَنَ حَتَّى مَالَ غَيْرَ مُوَسَّدٍ *** لِمُعْتَرَكٍ فِيهِ قَنًا مُتَكَسِّرُ

فَصَارَ مَعَ الْمُسْتَشْهَدِينَ ثَوَابُهُ *** جِنَانٌ وَمُلْتَفُّ الْحَدَائِقِ أَخْضَرُ

وَكُنَّا نَرَى فِي جَعْفَرٍ مِنْ مُحَمَّدٍ *** وَفَاءً وَأَمْرًا حَازِمًا حِينَ يَأْمُرُ

فَمَا زَالَ فِي الْإِسْلَامِ مِنْ آلِ هَاشِمٍ *** دَعَائِمُ عِزٍّ لَا يَزُلْنَ وَمَفْخَرُ

هُمْ جَبَلُ الْإِسْلَامِ وَالنَّاسُ حَوْلَهُمْ *** رِضَامٌ إِلَى طَوْدٍ يَرُوقُ وَيَقْهَرُ

بَهَالِيلُ مِنْهُمْ جَعْفَرٌ وَابْنُ أُمِّهِ *** عَلِيٌّ وَمِنْهُمْ أَحْمَدُ الْمُتَخَيَّرُ

وَحَمْزَةُ وَالْعَبَّاسُ مِنْهُمْ وَمِنْهُمُ *** عَقِيلٌ وَمَاءُ الْعُودِ مِنْ حَيْثُ يُعْصَرُ

بِهِمْ تُفْرَجُ اللَّأْوَاءُ فِي كُلِّ مَأْزِقٍ *** عَمَاسٍ إِذَا مَا ضَاقَ بِالنَّاسِ مَصْدَرُ

هُمُ أَوْلِيَاءُ اللهِ أَنْزَلَ حُكْمَهُ *** عَلَيْهِمْ، وَفِيهِمْ ذَا الْكِتَابُ الْمُطَهَّرُ

- په يثرب کې راباندې دغم او خفګان نوي ستونزمنه لړي پيل شوه، چې خلک په مړ خوب پراته دي او په ما شوګيرې کوي.
- د خپلو ګرانو ملګرو ياداشتونو مې له سترګو څخه داسې اوښکې رواني کړي دي چې دارې وهي او د زړا وير لامل هم د يارانو هجران رايادول وي.
- سمه خبره ده چې له ملګرو څخه هجران لويه ستونزه ده که څه هم ښه خلک په هجران ازمول کيږي خو ولې له زغم څخه کار اخلي.

۞ ومې ليدل چې مرګ غوره ترينه خلک واخستل، او ځيني خلک لا پاتې دي چې مړه شوي نه دي.

۞ هغه شهيدان دې الله پاک له مونږ هېڅکله هېر نه کړي چې په مؤته کې شهيدان شوي دي چې يو هم ورېکې ددوو وزرونو څښتن جعفر بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ دی.

۞ او زيد بن حارثه او عبدالله بن رواحه رضي الله عَنْهُمَا دواړه چې په پرله پسې توګه شهيدان شول، حالانکه مرګوني اسباب ورته په ډېر تکبر راروان وو.

۞ د سهار په مهال سپين سور ښايسته سړي (زيد بن حارثه رضي الله عَنْهُ)خپله جنګي قوه د مرګ په لوري روانه کړه.

۞ په بنو هاشمو کې د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر روڼ روښانه و چې د خپلې بهادرۍ او بې مثلې مېړانې له کبله په هر ډول تيارو کې ننوتو.

۞ دښمن ته يې د هېڅ ګوزار موقعه ورنه کړه او داسې خرپ ترپ يې پرې راواخستل چې د هر ګوزار سره به يې پکې نيزې ماتولې.

۞ د نورو شهيدانو په ملتيا د جنت او د شنو باغيچو په ثواب د خپلې مېړانې په بدل کې ونازول شو.

۞ مونږ به جعفر رضي الله عَنْهُ ليدو چې د نبي کريم ﷺ د هر امر متعلق کلک منونکی او په خپلې وينا کلک وفادار و.

۞ په بنو هاشمو کې د اسلام د پياوړې کولو لپاره تل تر تله باور وړ ستنې شتون لري، دغه وياړ او پياوړتوب به په کې د هميشه لپاره وي.

۞ بنو هاشم د اسلام لپاره په استقامت کې د غر په څېر دي، او پاتې خلک يې کاڼي کېږي دي چې د يو بل لاندې باندې پرتې وي.

۞ په دوی کې ډېر روڼ مخي او محور مشران شته دی لکه جعفر، د هغه ورور علي رضي الله عَنْهُمَا او د الله محبوب انسان محمد ﷺ .

۞ ځيني نور يې لکه حمزه، عباس او عقيل رضي الله عَنْهُمْ دي، د اوبو ارزښت هم له هغه ځايه وي چې له کومه سرچينه اخلي.

۞ کله چې له خلکو څخه د وتلو لاره ورکه شي نو په دوي الله پاک د سترو ستونزو او د جنګ په ګرد او غبار منځ ته راغلې تورتمې له منځه وړي.

۞ بنو هاشم د الله پاک هغه دوستان او محبوب خلک دي چې خپل دين او اسلام او پاک سپېڅلی قران يې په کې نازل کړی دی.

# د هجرت په اتم کال رمضان په میاشت کې د مکې فتحه

د مؤتې له جنګي کاروان له لیږدونې وروسته نبي کریم ﷺ په مدینه کې د جمادی الاخره او رجب دواړه میاشتې پاتې شو.

پېښه دا وشوه چې بنو بکر بن عبد منات بن کنانه د مسلمانانو په انډیواله قبیله خزاعه باندې نظامي برید وکړ، د دواړو قبیلو ترمنځ د تربګنۍ ستر لامل دا و چې د اسلام نه وړاندې د مالک بن عباد په نوم یو حضرمي اسود بن رزن ته سوګند پورته کړی و، یوه ورځ مالک بن عباد د تجارت لپاره راووت خو چې د خزاعه قبیلې قلمرو ته ننوت مړ یې کړ او چور کړې شمتنې یې ورله خپل منځ کې تقسیم کړه، بنوبکر د غچ لپاره راولاړ شول او په خزاعه قبیلې یې یرغل وکړ او په بدل کې یې سړی ووژه.

له اسلام څخه وړاندې د بیا ځل لپاره خزاعه قبیلې په بنو الاسود برید وکړ او کلثوم، سلمی او ذؤیب یې ژوندي ونیول او د حرم په حدودو کې یې له تېغه تېر کړل.

د بنوبکر او خزاعه ترمنځ حالت کړکېچن و چې اسلام وځلېد، کله چې د مسلمانانو او قریشو ترمنځ د حدیبې سوله ایز تړون لاسلیک شو، قریشو په نبي کریم ﷺ او نبي کریم ﷺ په قریشو شروط کېښودل.

یو په کې دا شرط و چې هر څوک له خپلې مرضۍ له مخې کولای شي چې د قریشو او که د نبي کریم ﷺ ملاتړ جوړېږي، مجال هر چا ته مفتوح پاتې دی.

بنوبکر ځانونه د قریشو ملاتړ اعلان کړل او خزاعه قبیلې د نبي کریم ﷺ سره اړیکې ټینګې کړې.

د دواړو قبیلو ترمنځ د دښمنۍ سره شوې فضا د بنوبکر د قبیلې د اسود بن رزن الدیلي کورنۍ غنیمت وګڼله، نوفل بن معاویه د خپلې کورنۍ په ملتیا د ځینو نورو بنوبکر سره چې د برید واکې د همدې په لاس کې وې د خزاعه په قبیلې باندې یې د (وتیر) نوم چینې سره یرغل وکړ، ترڅو د دیلي کورنۍ د هغه وګړو غچ واخلي چې په حرم کې یې وژلي وو.

لومړی یې خزاعي ووژه او بیا هر څوک خپلې کورنۍ او قبیلې ته شول د جنګ ډګر لا پسې زور واخست او ګرم شو.

په دې جریان کې قریشو د بنو بکر مرسته وکړه او ورته یې ځینې جګړیز الات او جنګیالي هم واستول او له بلې خوا یې ورسره د شپې له مخې افرادي مرسته هم وکړه.

خزاعه قبیله چې د جنګ لپاره یې هېڅ تیاری نه و نیولی حرم ته پناه یوړه، بنوبکر خپل

قائد نوفل ته غبږ کړ چې نوفله!! د الله خاطر وکړه نور خو مونږ حرم ته ننوتو!!

نوفل ډېره خوشې خوله وخوځوله چې ای بنوبکرا! نن الله نشته، توندي وکړئ او خپل غچ واخلئ!! عجيبه خبره ده چې په انتقام کې درته حرم درياد شو!! ولې درته د غلا په وخت کې نه درياديده؟

که څه هم د شپې له مخې ترې په نظامي بريد کې بنوبکر د منبه په نوم سړی هم وژلی و، خو منبه خپله کمزوری و، د خپلې قبيلې د تميم بن اسود نوم غړي سره ووت، په لاره کې ورته منبه وويل: تميمه! ځه خپې سپکې کړه، لوړه په رب لايزال چې زه هسې هم د مرګ په کومې کې يم، که هغوی مې ووژني او کنه خپله به مړ کېږم.

په رښتيا هم چې تميم خپې وويستې وتښتېد او منبه يې مړ کړ.

خو د خزاعه قبيلې وګړي حرم ته د ننوتو سره سم د بديل بن ورقاء او د خپل بل انډيوال رافع کور ته ننوتل.

بنوبکر او قريشو دواړه چې کله په خزاعه باندې د مرګ او مړينې نوې لړې پيل کړه هغوی ته يې زيات ځاني نقصان هم واړو، چونکه خزاعه د نبي کريم ﷺ په امان او عهد کې وو قريشو پرې د چور چپاول لاس پورته کړ او د حديبي د تړون عهد يې پايمال کړ.

لومړی عمرو بن سالم او بيا د بنو کعب بل غړی د نبي کريم ﷺ حضور ته راغلل، د مکې د فتحې ستر لامل هم چونکه دا و، نبي کريم ﷺ د خلکو په منځ کې ناست و او دا مسجد ته راننوت، او ويويل:

يَـا رَبِّ إِنِّي نَاشِـدٌ مُحَمَّـدًا *** حِلْفَ أَبِينَـا وَأَبِيـهِ الْأَتْلَدَا
قَـدْ كُنْتُـمُ وُلْدًا وَكُنَّـا وَالِدَا *** ثُمَّتَ أَسْـلَمْنَا فَلَمْ نَنْزِعْ يَدَا
فَانْصُرْ هَدَاكَ اللهُ نَصْرًا أَعْتَدَا *** وَادْعُ عِبَـادَ اللهِ يَأْتُـوا مَدَدَا
فِيهِمْ رَسُـولُ اللهِ قَـدْ تَجَرَّدَا *** إِنْ سِيمَ خَسْـفًا وَجْهُهُ تَرَبَّدَا
فِي فَيْلَقٍ كَالْبَحْرِ يَجْرِي مُزْبِدًا *** إِنَّ قُرَيْشًـا أَخْلَفُوكَ الْمَوْعِدَا
وَنَقَضُـوا مِيثَاقَـكَ الْمُوَكَّدَا *** وَجَعَلُـوا لِي فِي كَـدَاءٍ رُصَّدَا
وَزَعَمُوا أَنْ لَسْتُ أَدْعُو أَحَدَا *** وَهُـمْ أَذَلُّ وَأَقَـلُّ عَـدَدَا
هُـمْ بَيَّتُونَـا بِالْوَتِـيرِ هُجَّدًا *** وَقَتَلُونَـا رُكَّعًـا وَسُـجَّدَا

❁ ای الله! زه محمد ﷺ ته اواز لوړوم، د خپل او د هغه د پلار ترمنځ تړون او عهد نامه رايادوم.

❁ تاسو لکه د کشرانو او مونږ مو پلارګنی ول، په کړې صلحه کې مونږ هيڅ سرغړونه نه ده کړې.

❁ الله پاک دې درته هدایت وکړي اوسمهال مو جدي مرسته وکړه او د مرستې لپاره نور الله پلوه بندګان هم راوغواړه.

❁ د الله پاک استازی په کې لوړ هسکه غړی ناست دی، که ذلت او د چا له پلوه ورته سپک نظر متوجه شي له غېرته يې ورته مخ مبارک بدل شي.

❁ لکه د ځپاند لوی سمندر په څېر خپل مرستندویه جنګي کاروان راواستوه، ځکه چې قریشو د تاسره کړې ژمنه او تړون مات کړی دی.

❁ که څه يې هم له تاسره کړی کلک لوظ مات کړ خو ولې زما د مرګ لپاره يې هم راته د کدا نوم ځای کې مرګونی کمین نیولی و.

❁ هغوی داسې اټکلوي چې ګنې زه به هېڅ څوک د مرستې لپاره را ونه غواړم، حالانکه چې هغوی خپله هم ډېر بې وسه او بې کسه دي.

❁ چونکه هغوي په مونږ باندې په (وتیر) چینه کې ناڅاپي مرګونی برید وکړ او مونږ يې د رکوع او سجدې په حالت کې ووژلو.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: په ډېره توندۍ به دې مرسته وشي.

له دې وروسته نبي کریم ﷺ په اسمان کې وریځ ولیده نو ویویل: دا وریځ د بنوکعب د بشپړې کامیابۍ زیرګرې ده.

له دې پړاو وروسته بدیل بن ورقاء د خزاعه قبیلې د څه وګړو په ملتیا نبي کریم ﷺ ته راغی او د لړې په تېر شوي جریان يې وخبرو، په دې يې هم خبر کړ چې قریشو يې افرادي مرسته هم کړې وه او بېرته مکې ته لاړل.

مکې ته د ستنېدو په حالت کې يې د عُسفان[1] په مقام کې ابوسفیان رضي الله عَنْهُ سره وکتل چې قریشو نبي کریم ﷺ ته په دې استولی و چې تړون له سره تجدید کړي، او دواړه خواوې به د ژمن لیک حرمت د بیا ځل لپاره نوی کړي، ځکه چې قریشو د بنوبکر سره په مرستې ډېر وډار شول.

ابوسفیان رضي الله عَنْهُ د کتو سره سم له بدیل څخه ویوښتل چې بدیله! له کومه راغلې؟ ځکه هغه ویتیله چې دا به هرومرو رسول الله ﷺ ته ورغلی وي.

بدیل ورته وویل: نا هلته نه وم تللی، د ساحل په لور مې خزاعه ملګرو ته چکر ورکړی و.

ابوسفیان رضي الله عَنْهُ ویوښتل: ولې محمد ﷺ ته نه وې وربښکاره شوی؟

(۱) عسفان له مکې څه په لږه فاصله کې پرته سیمه ده.

هغه وویل: نا، بدیل چې کله حرکت وکړ ابوسفیان رضي الله عَنْهُ وویل: که بدیل مدینې ته تللی وي ضرور به یې د اوښ په پچو کې زړي وي، ورغی او پچه یې په منځ دوه کړه نو زړي په کې وو، ابوسفیان رضي الله عَنْهُ سوګند پورته کړ چې بدیل ضرور مدینې ته تللی او د محمد ﷺ سره یې کتلي دي.

ابوسفیان رضي الله عَنْهُ چې کله مدینې ته ورسېد تر ټولو لومړی د خپلې لور ام المؤمنین ام حبیبة رضي الله عَنْهَا کور ته ولاړ، لور یې له ناست ځای څخه د نبي کریم ﷺ خپور فرش راغونډ کړ، ابوسفیان رضي الله عَنْهُ له لور څخه وپوښتل: ایا فرش زما د ناستې وړ نه و او که زه یې وړ نه وم؟

هغې ورته وویل: دا د نبي کریم ﷺ فرش دی هغه پرې کیني، او ته چونکه مشرک او نجس یې، د نبي کریم ﷺ په فرش راته ستا ناسته هېڅکله خوښه نه ده.

ابوسفیان رضي الله عَنْهُ ورته وویل: له ما څخه وروسته په ډېر شر اوښتې یې.

بیا له کوره ووت او د نبي کریم ﷺ سره یې خیالات تبادله کړل خو ولې هغه ورته هېڅ ځواب نه ورکو، وپاڅېد او د ابوبکر رضي الله عَنْهُ په لور ولاړ تر څو د قریشو اړوند د نبي کریم ﷺ سره خبرې اترې وکړې خو ولې هغه ترې غوږ انکار وکړ.

له دې څخه هم وپاڅېد او عمر رضي الله عَنْهُ په لور ولاړ که څه هم هغه ورسره خبرې اترې شریکې کړې خو ولې هغه ورته وویل: خا!! زه به لا نبي کریم ﷺ ته ستاسو سفارش کوم؟ لوړه په رب لایزال چې که یواځې د سرو مېږانو لښکر هم ولرم نو له تاسو سره به پرې جهاد وکړم.

بیا ولاړ او علي رضي الله عَنْهُ ته یې تشریف یوړ، چونکه علي رضي الله عَنْهُ د نبي کریم ﷺ زوم او د فاطمې رضي الله عَنْهَا خاوند و او حسن رضي الله عَنْهُ هم تازه تازه لوبغاړی شوی و، ایله یې خبرې کولې، علي رضي الله عَنْهُ ته یې وویل: له نور هر چا راته ته دکورنۍ په اړیکو کې نزدې یې، له نورو څخه بې تنده او بې مراده راستون شوم، هېله ده چې له حضوره دې بې مراده ستون نه شم.

د نبي کریم ﷺ حضور ته راسره لاړ شه او ورته ووایه چې په روانه لړی راسره خبرې پیل کړي.

هغه ورته وویل: ابوسفیانه! ښه به دا وي چې له کومه راغلی یې بېرته ولاړ شې، نبي کریم ﷺ دومره کلک او پرېکنده هوډ کړی دی چې مونږ ورسره د خبرو کولو هېڅ توان نه لرو.

بیا ابوسفیان رضي الله عَنْهُ فاطمې رضي الله عَنْهَا ته وکتل او ورته یې کړه: ای د محمد ﷺ لورې! خوښه دې نه ده چې دغه لوبغاړی ځوی دې د خلکو د سالمې غوښتنې لپاره واستوې؟ چې د وخت تر اخره به پرې د ګرد عربو سردار جوړ شي؟

هغې وويل: زما ځوی لا د منځګړنې توان نه لري، او که يې ولري نو هم به د نبي کريم ﷺ په ضد هېڅ چا ته د سرپناه ځايونه ورنه کړي.

بيا يې علي رضي الله عَنْهُ ته وويل: ابوالحسن! حالات او ظروف خو دغسې تروه ترخه دي، ووايه چې بايد څه وکړم؟ هغه ورته وويل: ستا د ستونزې د ښه حل اړوند زه هم څه نه شم ويلی، خو دا چې ته خپله د کنانه قبيلې لوی جرګه مار او سردار يې د خلکو ترمنځ وپاڅېږه او د سرغوښتنې امان په خپله وغواړه، او له نور کش کړپ پرته مکې ته ستون شه.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ په مسجد کې ودرېد او اعلان يې وکړ چې زه له ټولو خلکو څخه د سر پناه غواړم.

بېرته په خپل اوښ سپور او د مکې په لور وکوچېد، چې کله قريشو ته ورسېد ټولو ورته وويل: نوی تازه معلومات دې څه راوړي دي؟

هغه ورته وويل: محمد ﷺ ته ورغلم، ما به ورسره خبرې کولې خو ولې هغه به هېڅ ځواب نه راکو، بيا ابن ابي قحافه رضي الله عَنْهُ ته ورغلم په هغه کې هم د خير هېڅ نښې نښانې نه وې، بيا عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته ورغلم هغه خو بيخي دښمنۍ ته ناست و، بيا علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ ته ورغلم په ټولو کې نرم مزاج او ښه سړی لا هغه و، نېکه سلامشوره يې هم راکړه خو معلومات نشته چې څه ګټه او فايده به ولري او که نه؟

هغوی وپوښتل: څه فکر يې درکړ؟ ابوسفيان رضي الله عَنْهُ وويل: راته يې وويل چې د خلکو ترمنځ پورته شه او د سرساتنې غوښتنه وکړه، نو ما ورڅخه امان وغوښت.

ټولو ورته وويل: ايا محمد ﷺ درته اجازه کړې وه؟ هغه وويل: نا، ټولو ورته وويل: خوار شې په تا يې لوبې ملنډې وهلې دي، بيا نو ستا د امان غوښتنې څه ګټه؟

هغه ورته وويل: له دې پرته نور هېڅ بله چاره نه وه.

نبي کريم ﷺ هم خپله کور کې ويلي و چې د جنګ سازوسامان او اړوند ټول اوزار بيخي تيار کړئ، ابوبکر رضي الله عَنْهُ د خپلې لور عايشې رضي الله عَنْهَا کور ته ورغی او هغه د نبي کريم ﷺ لپاره د جنګي اوزارو په تيارولو بوخته وه، ورته يې وويل: ايا نبي کريم ﷺ درته د تيارۍ اړوند څه ويلي دي؟ هغې وځوابو چې هو، نو ابوبکر رضي الله عَنْهُ هم د دغې نظامي بريد لپاره ښه تياری وکړ.

او دا يې هم ورڅخه وپوښتل چې د جنګ لپاره به په کوم لور ځي؟ عايشې رضي الله عَنْهَا وويل: د دغې راته هېڅ معلومات نشته.

لږ شيبه وروسته نبي کريم ﷺ خلکو ته واورول چې مکې ته روان دی بايد ټول خلک تياری ونيسي، او دعا يې وکړه چې ای الله! د قريشو خبر رسان له مونږ څخه ړانده کاڼه کړه

تر څو د هغوی په کلی کور کې پرې د قریشو د ملاتړو په څېر ناڅاپي برید وکړو، هغه و چې خلکو تیاری ونیو.

نبی کریم ﷺ چې کله د تګ پښه اراده وکړه، حاطب بن ابی بلتعه رضي الله عَنْهُ مکې ته لیک واستو تر څو قریش د نبي کریم ﷺ د ستر جګړېز څواک څخه خبر کړي، او دغه لیک يې یوې ښځې ته د مزدورۍ په بدل کې چې که په هر صورت وي باید ورسوي ورکړ، ښځې لیک د خپل سر وېښتانو په کوڅیو کې ونغښت او بیا ولاړه.

د حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عَنْهُ په پټې کړنې باندې له اسمانه وحي راغله، نبي کریم ﷺ له ځنډه پرته علي بن ابي طالب او زبیر بن العوام رضي الله عَنْهُمَا واستول او ورته يې وویل: حاطب بن ابي بلتعه زمونږ د څواکمنې قوې اړوند قریشو ته د ښځې په منځګړیتوب لیک استولی دی، ترڅو يې له مونږ څخه خبر او ویروي، توندې وکړئ او ښځه راونیسئ.

دواړه تر هغه دمه ځغلند مزل وکړ چې بالاخره يې ښځه د ابواحمد د بچو په ځمکه کې راونیوله، له کجاوې څخه يې راښکته کړه خو لیک يې ورسره تر لاسه نه کړ، بیا ورته علي رضي الله عَنْهُ وویل: لوړه په رب لایزال چې نه خو نبي کریم ﷺ درواغ ویلي دي او نه درته مونږ درواغ وایو، هرومرو به راته لیک راکوې ورنه د کلکې پلټنې لپاره به درنه پوښاک وباسو.

ښځې وپتیله چې لیک رانه که په هر شکل وي ضرور اخلي ورته يې وویل: لږ پناه شئ، علي رضي الله عَنْهُ ترې پناه شو، ښځې زر زر خپلې کمڅۍ وسپړتې او لیک يې ترې راوویست او ور يې کړ، هغه و چې علي رضي الله عَنْهُ لیک نبي کریم ﷺ ته راوړ.

نبي کریم ﷺ حاطب رضي الله عَنْهُ راوغوښت او ورته يې وویل: لیک استولو ته څه اړ کړی وې؟ هغه وویل: په رب لایزال مې دې قسم وي چې تر اوس ګړۍ هم په الله او د هغه په رسول کریم ﷺ کلک باوری او ایمان لرونکی یم، د کفر او یا ارتداد په رنځ نه یم اخته، خو چونکه په مکه کې قام قبیل نه لرم، ترڅو هلته پراته بچي او کور ودانه مې د هغوی له تیري څخه سالم پاتې شي په بدل کې مې ورته دغه لیک واستو.

عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ وویل: ای د الله رسوله، که ستا خوښه وي نو د منافقت له کبله به د حاطب سر قلم کړم!

نبي کریم ﷺ ورته وویل: عمره! تا ته دا معلومات نشته چې د بدر د جنګ په ورځ الله پاک د بدر ونډوالو ته هر ډول ګناه او تېروتنې بخشش کړي دي.

د حاطب رضي الله عَنْهُ اړوند الله دایت نازل کړ ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمۡ أَوۡلِيَآءَ تُلۡقُونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلۡحَقِّ يُخۡرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمۡ أَن تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمۡ إِن كُنتُمۡ خَرَجۡتُمۡ جِهَٰدٗا فِي سَبِيلِي وَٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِيۚ تُسِرُّونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعۡلَمُ بِمَآ أَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ أَعۡلَنتُمۡۚ وَمَن يَفۡعَلۡهُ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ

ٱلسَّبِيلِ ﴿١﴾ إِن يَثۡقَفُوكُمۡ يَكُونُواْ لَكُمۡ أَعۡدَآءٗ وَيَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ وَأَلۡسِنَتَهُم بِٱلسُّوٓءِ وَوَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ ﴿٢﴾ لَن تَنفَعَكُمۡ أَرۡحَامُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡۚ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ﴿٣﴾ قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذۡ قَالُواْ لِقَوۡمِهِمۡ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةُ وَٱلۡبَغۡضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥٓ إِلَّا قَوۡلَ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمۡلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۖ رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَإِلَيۡكَ أَنَبۡنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٤﴾ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ وَٱغۡفِرۡ لَنَا رَبَّنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ﴾[1].

نبي کريم ﷺ د خپلو ملګرو په ملتيا روژه خوله د رمضان د مياشتې په لسمه ورځ ووت، او د مدينې په ګردو چارو يې ابو رهم غفاري رضي الله عَنْهُ وګماره، خو چې د عسفان او امج ترمنځ د کديد نوم ځای ته ورسېد روژه يې ماته کړه.

د لس زره مسلمانانو په ملتيا چې کله نبي کريم ﷺ ظهران ته ورسېد، نو له بنو سليم څخه ورسره اووه سوه يا د نورو تاريخي روايتونو له مخې زر له بنو سليم او نور زر له بنو مزينه څخه ورسره هم تړل شول، خو بهر کيف په هره قبيله کې اسلام او د مسلمانانو شمېره وه، په دغې ورځ د نبي کريم ﷺ سره ټول مهاجرين او انصار وتلي وو، هيڅ څوک ورڅخه نه وو پاتې شوي، نبي کريم ﷺ لا تر ظهران نه و رسېدلی چې د قريشو خبر رسان او جاسوسي شبکې ړندې کړې وې، په دې هم نه وو خبر چې ورسره به رسول کريم ﷺ څه کړنه کوي؟

په دغه شپه له کومه ابوسفيان بن حرب، حکيم بن حزام او بديل بن ورقاء د ځېنو راپورونو د لاس ته راوړلو لپاره راووتل، تر څو د نوې لړې اړوند معلومات کشف کړي، خو ولې له بلې خوا عباس بن عبدالمطلب د نبي کريم ﷺ سره په لاره کې ليدل کتل کړي و.

ابوسفيان بن الحارث بن عبدالمطلب رضي الله عَنْهُ او عبدالله بن ابي اميه هم دواړه د نبي

(١) سورت ممتحنة: (١-٥). ژباړه: ای د ايمان څښتنانو! هېڅکله هم زما او ستاسې دښمنان په دوستانه مه نيسئ چې ورسره پټ محبت ساتئ، سره له دې چې هغوی تاسو ته په راغلي حق دين غوڅ کفر کوي، ستاسو او د پيغمبر له خپلو ټاټوبو څخه د باندې شړلو هوډونه لري، په دې خاطر چې تاسو ولې په الله پاک چې ستاسو رب دی پرې ايمان لرئ، خو که تاسو په رښتيا هم زما د خوشحالۍ ګټلو او زما په لار کې د جهاد کولو په خاطر راوتلي ياست، هېڅ راز پټ او پناه محبت ورسره مه کوئ، حالانکه زه ستاسو په هر پټ پناه راز او ټولو ښکاره عملونو باندې پوهېږم، خو که بيا هم څوک دغسې کړنې ترسره کړي په يقيني توګه به له نيغې نه په ډډه شوي يئ * خو که دغه کافران تاسو هر ځای کې راګېر کړئ نو درسره غوڅه دښمني کوي، خپلې ژبې او لاسونه به درته په راز راز ناخوښو دراوږدې کړي * د قيامت په ورځ به بيا تاسو ته ستاسو خپلولي او بچيان هېڅ ګټه ونه رسوي، دغه پرېکړې به ستاسو ترمنځ د قيامت په ورځ وشي او الله پاک ستاسو د هر عمل ليدونکی دی * په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ او په ور سره مؤمنانو خلکو کې ستاسو لپاره نېکه اقتداء ده چې هغوی خپل قوم ته وويل: مونږ له تاسو او ستاسو له باطلو معبودانو څخه بې زاره يو، تاسو کافران ياست، تل ترتله زمونږ او ستاسو ترمنځ د کينې او د دښمنۍ لړۍ پېيل شوه، او يا خو دا چې ايکې يواځې الله پاک باندې ايمان ولرئ، خو ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل پلاره ته وويل چې د الله پاک له لورې عذاب نه دې ذمه وار نه يم، خو ستا لپاره به بيا هم د الله پاک نه د بخشش سوال کوم ای الله! په تا مو بروسه ده تا ته درګرځو او تا ته مو درګرځېدنه ده * ای الله! په کافرانو مو مه ازموه، ای الله! بخشش راته وکړه ته يواځې د غلبې او حکمتونو والا ذات يې.

کريم ﷺ سره د مکې او مدينې ترمنځ پرته سيمه (نيق العقاب) کې ليدلو کتلو هڅې وکړې.

د دواړو خواو د ليدنې کتنې منځګړيتوب ام المؤمنين ام سلمة رضي الله عَنْهَا وکړ.

نبي کريم ﷺ ته يې وويل: يو دې دکاکا ځوی دی او بل دې د ترور ځوی دی، نبي کريم ﷺ ورته وويل: په کار مې نه دي، د کاکا ځوی خو مې د عزت د لوټولو هر راز هڅې کړي دي، او د ترور ځوی مې هغه خبرې بس دی چې په مکه کې به يې راته کولې.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ چې کله د نبي کريم ﷺ په خبرو وخبرېد خو دا چې په غېږه کې يې ماشوم ځوی هم و ويېويل: قسم په الله يا خو به راته اجازه وکړي ورنه د خپل ماشوم ځوی سره به مخ په شاړو سر شم تر دې چې دواړه له ولګې تندې ومرو.

نبي کريم ﷺ ته چې خبرې راورسېدې، زړه يې پرې وسوځېد او دواړو ته يې د خبرو اترو اجازه ورکړه.

ابوسفيان بن الحارث رضي الله عَنْهُ ورته د تېرو تېرو بدو کړنو څخه د شعر په ژبه معافي او بخشش وغوښت، او په کې يې د خپل اسلام اظهار هم وکړ:

| | | |
|---|---|---|
| لَعَمْـرُكَ إِنِّي يَـوْمَ أَحْمِـلُ رَايَـةً | *** | لِتَغْلِـبَ خَيْلُ الـلَّاتِ خَيْلَ مُحَمَّدِ |
| لَكَالْمُدْلِـجِ الْحَـيْرَانِ أَظْلَـمَ لَيْلُهُ | *** | فَهَذَا أَوَانِي حِينَ أُهْـدَى وَأَهْتَدِي |
| هَدَانِي هَادٍ غَيْـرُ نَفْـسِي وَنَالَنِي | *** | مَـعَ اللهِ مَـنْ طَـرَّدْتُ كُلَّ مُطَرَّدِ |
| أَصُـدُّ وَأَنْـأَى جَاهِدًا عَـنْ مُحَمَّدٍ | *** | وَأُدْعَى (وَإِنْ لَمْ أَنْتَسِـبْ) مِنْ مُحَمَّدِ |
| هُـمُ مَا هُمُ مَـنْ لَمْ يَقُـلْ بِهَوَاهُمْ | *** | وَإِنْ كَانَ ذَا رَأْيٍ يُلَـمْ وَيُفَنَّـدْ |
| أُرِيـدُ لِأُرْضِيَهُـمْ وَلَسْـتُ بِلَائِطٍ | *** | مَـعَ الْقَوْمِ مَا لَمْ أُهْـدَ فِي كُلِّ مَقْعَدِ |
| فَقُـلْ لِثَقِيـفٍ لَا أُرِيـدُ قِتَالَهَـا | *** | وَقُلْ لِثَقِيفٍ تِلْكَ: غَيْرِي أَوْ عِدِي |
| فَمَا كُنْتُ فِي الْجَيْشِ الَّذِي نَالَ عَامِرًا | *** | وَمَا كَانَ عَنْ جَرَّا لِسَـانِي وَلَا يَدِي |
| قَبَائِـلَ جَاءَتْ مِـنْ بِـلَادٍ بَعِيدَةٍ | *** | نَزَائِعَ جَـاءَتْ مِنْ سِـهَامٍ وَسُرْدَدِ |

❁ زه په دې لوړه پور ته کوم چې د محمد ﷺ پر ضد چې مې کله د لات د لښکر جنګې بيرغ واخست تر څو د محمد ﷺ په لښکر بريا ومومي.

❁ نو د شپې تورو تروږمو کې لکه د بې کوره په څېر حيران دريان وم چې څه وکړم؟ خو چې اوس کړې راته د خير لارې وښول شوې زه ورته غاړه ږدم.

❁ د خير ښېګړې لارې او ارشادات راته هغه چا وکړل چې ما به ورسره کلک مقاومت او هم شړلو ته مې اړکړی و، خپله مې دغه خير نه دی تر لاسه کړی.

- د محمد ﷺ څخه په دفاع کې به زه اوس تر ډېره لړې په پياوړي عزم لاړ شم.
- هغه څوک بيخي نشت شمېرل کېږي چې ددوی په مرضي روان نه وي، که څه هم مخالف خوا ډېر هوښيار اوځېرک وي خو په دې به ملامته ولی شي.
- که څه هم د مسلمانانو سره زه نه يم يو ځای شوی او نه راته په هر مجلس کې د خير خبرې شوي دي خو غواړم چې راضي يې کړم.
- ثقيف ته ووايئ چې زه درسره شخړې نه غواړم او په دې يې هم وخبروئ چې له ما پرته نورو ته درکې ورکړئ.

تاريخ پوهان زياتوي چې ابوسفيان رضي الله عَنْهُ چې ورته کله (وَنَالَنِي مَعَ الله مَنْ طَرَّدْتُ كُلَّ مُطَرَّدِ) وويل نبي کريم ﷺ په سينه کې ووهو او ورته يې کړه: له مکې څخه مې د شړلو تول زيار تا په غاړه درلود.

نبي کريم ﷺ لا د ظهران په دره کې و چې عباس بن عبدالمطلب رضي الله عَنْهُ وويل: ای د قريشو سهاره! که نبي کريم ﷺ مکې ته په زور ننوځي او دوی يې مخې ته تسليم رانه شي، نو دا به د قريشو لويه بيخ کني وي.

عباس رضي الله عَنْهُ وويل: زه د نبي کريم ﷺ په سپينه قچر سپور او د مکې په لور په دې خاطر وتپېدم چې کېدای شي چرته په لاره کې کوم د خس او خاشاک ټولونکی يا د شيدو يا د نور کوم حاجت لټونوال په مخه راشي ترڅو يې له نبي کريم ﷺ څخه وخبروم او قريش د امان غوښتنې لپاره را ووځي مخکې له دې چې هغه مکې ته د ورسره ځواک په زور ننوځي.

عباس رضي الله عَنْهُ وايي: لوړه په رب لايزال چې زه لا ددغې کمشکش اړوند ووتم ناڅاپه مې د ابوسفيان او بديل بن ورقاء منځنۍ خبرې واورېدې، ابوسفيان رضي الله عَنْهُ ورته وويل: د ننې شپې په څېر داسې اوروونه او جنګي کاروان مې هېڅ چرته نه دی ليدلی!

بديل ورته وويل: په لوی الله قسم چې دا به ضرور د خزاعه قبيله وي، شايد جنګ او غيرت راپارولي وي.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ وويل: نا خزاعه ډېر ټيټ موراله او ملاتړ يې هم کم دی، زما له اند خو ډېره لرې ده چې دا دې د هغوی جنګي کاروان او يا اوروونه وي.

خو چې ما يې خبرې واورېدې ورته مې غږ کړ چې ابوحنظله!! هغه راته کړه: ابوالفضل يې؟

ما ورته کړه: هو.

هغه وويل: زما مور او پلار درڅخه زار قربان شه ته دلته څه کوې؟

ما ورته کړه: ابوسفيان! غرق شې! نبي کريم ﷺ د پياوړي جنګي کاروان سره دغه دی تم دی، سبا به د قريشو څومره بده ورځ وي؟

هغه وويل: ستا نه دې زما مور او پلار قربان شي اوس بايد څه وکړی شي؟

ما وويل: لوړه په رب لايزال چې که درباندې برلاسی شي سر به دې له تنې څخه جلا کړي، ما پسې وروسته په قچر راسپور شه تر څو نبي کريم ﷺ ته دې بوځم او د سر پناه درته درکړي.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ مې له ځان سره سپور کړ او نور دواړه د لارې ملګري يې په شاه ولاړل، د هر چا په کورنۍ او اور چې به تېرېدو خلکو به له يو بل څخه پوښتل چې په قچره باندې سپاره خلک څوک دي؟ چونکه قچره د نبي کريم ﷺ وه له ليدو سره سم به يې وويل: د نبي کريم ﷺ تره دی.

کله چې د عمر رضي الله عَنْهُ تر اوره ورسېدو راته پاڅېد او وېويل: څوک يې؟ خو چې سترګې يې په ابوسفيان رضي الله عَنْهُ ولګېدې ويويل: خا! خا! دا خو د الله دښمن ابوسفيان دی!! الحمدلله چې له سابقه کومې ژمنې او سولې او سرساتنې پرته مې په ګېر راغی.

د نبي کريم ﷺ پلو ته چټک ولاړ ترڅو له ما څخه وړاندې نبي کريم ﷺ وخبروي، ما هم پسې سورلۍ تونده کړه تر دې زه ورڅخه مخکې ورسېدم.

له قچرې څخه مې زر ټوب کړ، زه او هغه دواړه نبي کريم ﷺ په حضور کې عارض شول، هغه ورته وويل: د الله دښمن ابوسفيان له سرساتنې اړوند د کومې ژمنې پرته الله په ګېر راوست، که دې خوښه وي چې سر يې قلم کړم!

ما ورته وويل: ای د الله رسوله! ما ابوسفيان رضي الله عَنْهُ ته سوله او امان ورکړی دی.

نبي کريم ﷺ ته کېناستم او له سر څخه مې ونيو او ومې ويل: زما پرته به ورسره نن شپه هيڅ څوک جرګه مرکه نه کوي.

خو دا چې عمر رضي الله عَنْهُ يې د مرګ خبره بارها يادوله ما ورته کړه: عمره!! لږ ساه واخله، چونکه ابوسفيان رضي الله عَنْهُ عبدالمطلب زی دی نو ځکه په کلکه او يوه ولاړ يې! که دا د بنو عدي کوم غړی و نو بيا به دې دريځ دومره ټينګ نه و!!

هغه راته وويل: عباسه! لږ په ارام شه، د خپل پلار خطاب له اسلام څخه هم راته ستا اسلام ډېر محبوب و چې کله دې اسلام ته غاړه کېښوده.

بيا نبي کريم ﷺ وويل: عباسه!رضي الله عَنْهُ ځه ولاړ ه شه، اوس يې کور کاله ته بوځه او سهار يې راوله.

له ځان سره مې بوت، خو چې شپه يې راسره تېره کړه د سهار په مهال مې بېرته د هغه په حضور کې وړاندې کړ، نبي کريم ﷺ ورته وويل: ابوسفيانه!! خوار شې! تر اوسه دې مازغه

خلاص نه شول چې له الله پرته بل څوک برحق معبود نشته؟ هغه وويل: څومره د زغم او شريف او په ښه توګه خپلولي پالونکی يې!! له تا دې زما مور او پلار قربان شي که د الله پاک پرته نور معبودان سم وای نو زما مرستندويه به وو که نه!!

بيا ورته نبي کريم ﷺ وويل: ايا اوس ګړی په دې پوهېږې چې زه د الله رسول يم؟

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ وويل: څومره حوصله او شرافت لرې! څومره ډېر ښه خپلولي پالونکی يې، له تا څخه دې زما مور او پلار قربان شي، لوړه په رب کائنات چې ستا د رسالت اړوند اوس هم په زړه کې لږ څه شک او شبهه لرم!!

عباس رضي الله عَنْهُ ورته وويل: خوار شې!! وړاندې له دې چې سر دې قلم شي د شهادت او اسلام کلمه ووايه.

هغه و چې د شهادت کلمه يې وويله او مسلمان شو.

عباس رضي الله عَنْهُ وايي: ما نبي کريم ﷺ ته وويل: ابوسفيان رضي الله عَنْهُ د وياړ مينوال دی، هېله ده په څه يې ونازوې.

نبي کريم ﷺ وويل: ولې نه، که د ابوسفيان کور ته څوک ننوت، سر يې بې خطره دی، که چا د ځان پسې دروازه بنده کړه هم سر يې بې خطره دی، او که مسجد ته څوک ننوتل هغه ته هم امن حاصل دی.

کله چې دواړه وپاڅېدل چې لاړ شي، نبي کريم ﷺ خپل تره عباس رضي الله عَنْهُ ته وويل: د ناو په لوړه څوکه يې له ځان سره کېنوه، تر څو د الله لاتعداده لښکرې ووينې.

عباس رضي الله عَنْهُ وايي: نبي کريم ﷺ د راته کړي امر سره سم مې د درې په تنګه خوله کې د غونډۍ په سر کېنو، هره قبيله به د خپلې جنډې سره تېرېده، د تېرېدو په مهال به ابوسفيان رضي الله عَنْهُ ضرور پوښتل چې دا څوک دي؟

څه خلک تېر شول هغه وپوښتل دا څوک دي؟

ما وويل: دا بنوسليم دي، هغه وويل: په بنو سليم مې تڼه بيخي تروه ترخه نه ده.

بيا بله قبيله راغله له تېرېدو سره يې وپوښتل: دا څوک دي؟ ما ورته کړه: دا مزينه قبيله ده، هغه وويل په مزينه قبيله مې تڼه نه ده خرابه.

لنډه دا چې د هرې قبيلې اړوند به يې راڅخه پوښتل او زما د ځواب سره به يې راته ويل چې په دوی مې وچورلی نه ترپويږي، ناګهانه شين لوي اژدها لښکر راښکاره شو چې په جنګي وسپنيز پوښاک سمبال وو چې له مهاجرينو او انصارو څخه تشکيل شوی و، په ډېره حيرانونکي اسلوب يې وپوښتل: سبحان الله!! دا څوک دي؟

ما ورته کړه: دا نبي کریم ﷺ د مهاجرینو او انصارو په ملتیا راروان دی.

هغه وویل: په دوی د چا جګړېزه قوه نه بره کیږي، عباسه! داسې برېښي چې د ورراره قوت او ټولواکي دې پیاوړې ده.

ما ورته کړه: قوت او ټولواکي نه بلکې نبوت...

هغه وویل: اوس به خامخا دغسې وایو.

بیا ورته ما وویل: باید په چټکه توګه اوس ګړی خپل قوم ته ولاړ شو، د رسېدو سره سم یې په لوړ غږ وویل: محمد درته په بې شمېره جنګي کاروان کې نږدې راروان دی چې تاسو یې د مقابلې هېڅ توان نه لرئ او نه درسره د مقابلې څه چاره شته، زر شئ که د ابوسفیان کور ته ځوک ننوت نو په امن کې به وي.

هندبنت عتبه رضي الله عَنْهَا ورروپاڅېده او له بریتانو څخه یې ونیو او ورته یې کړه: راشئ او دا پیړ پړسېدلی چاغ پوندور ووژنئ چې د قوم لپاره بد زیري راوړي.

هغه ورته وویل: په ځان غره نه شئ داسې جنګي کاروان راروان دی چې مقابله ورسره ستاسو له توان څخه پورته ده، خو که د ابوسفیان رضي الله عَنْهُ کور ته هر ځوک ننوځي له لښکر څخه به په امن کې وي.

ټولو ورته وویل: تباه شې! ستا په کور کې څه خیر او برکت دی چې مونږ ټکې بچ او سالم پاتې شو؟

بیا یې غږ کړ: که هر ځوک د ځان پسې د خپل کور دروازه رابنده کړي هغه هم له خطره ووت او که مسجد حرام ته ځوک ولاړ شي هم به په امان کې وي.

عبدالله بن ابي بکر رضي الله عَنْهُمَا وايي: نبی کریم ﷺ چې کله هم ذو طوی ته ورسېد، له یمني سرې ټوټې له نیمايي څخه یې پګړی وتړله او په خپلې سورلۍ به یې الله ته د شکر لپاره سر دومره ټیټ کړ چې ګیره مبارکه به یې له زین څخه لګېدله.

اسماء بنت ابي بکر رضي الله عَنْهُمَا وايي: ابوقحافه چې د سترګو دید یې هم له لاسه ورکړی و، خپلې کشرۍ لور ته وویل: لورکۍ! لږ د ابوقبیس په غر مې پورته کړه او دغه مهال نبي کریم ﷺ په ذو طوی کې و، بیا یې وویل: لور جانې! په سترګو خودرته څه نه ښکاري؟ هغې ورته وویل: ولې نه ډېر لوی لښکر مې ولید.

ابوقحافه رضي الله عَنْهُ ورته وویل: زما له اند چې جنګي کاروان تقسیموي!

بیا یې ورته لور وویل: لښکرې خورې ورې لاړې!!

ابوقحافه رضي الله عَنْهُ وویل: په ډېره توندۍ مې کور ته بوځه.

لور يې له لاسه ونيو او د كور په مخ يې روان كړ خو چې څنګه تر كوره رسېده اسلامي لښكرې ورته راورسېدې، دا چې د لور په غاړه كې يې د سپينو زرو اميل و، د مخامخ كېدو سره سم ترې يو سړي وشكو.

لور يې وايي: نبي كريم ﷺ چې په عمومي توګه مكې ته او په ځانګړي توګه مسجد حرام ته ننوت، ابوبكر رضي الله عَنْهُ ورته خپل پلار لاس نيولى راوست، نبي كريم ﷺ ورته وويل: دا بوډا دې ولې په كور كې نه پرېښود، هلته بايد زه ورغلى وى.

ابوبكر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: ته نه، بايد دى دې خواته راشي، د نبي كريم ﷺ مخې ته يې كېنو، هغه ورله په سينه لاس راښكو او ورته يې وويل: اسلام راوړه، نو هغه د شهادت كلمه وويله او اسلام يې راوړ.

خو ابوبكر رضي الله عَنْهُ چې كله هم راوست نو سر يې تك سپين و، نبي كريم ﷺ ورته وويل: د وېښتو رنګ يې بدل كړئ.

بيا ابوبكر رضي الله عَنْهُ ودرېد اوغږ يې كړ چې زما د خور لاكټ (هار) چا اخستى دى؟ خو ولې هېڅ چا ځواب ورنه كړ.

خور ته يې وويل: د غاړې هار دې الله سره ذخيره كړه، په داسې ورځ ډېر زيات خيانتونه كيږي.

د مكې او حنين او طائف په غزاګانو كې د نبي كريم ﷺ د مهاجرينو ملګرو شعار (عبدالرحمن زي) او د خزرج شعار (عبدالله ز) او داوس شعار (عبيدالله زي) و.

نبي كريم ﷺ له خپلو نېكو ارشاداتو له مخې خپلو جنګي قومندانانو ته توصيه وكړه چې بايد مكې ته د ننوتو سره هېڅ څوک مړه يا ژوبل نه كړي، مګر د ځينو خلكو نومونه يې ورته واخستل كه د كعبې د پردو پورې ولې نه وي نښتي بايد ووژل شي.

د عامر بن لؤى څخه يې ورته عبدالله بن سعد په ګوته كړى و، د دې د وژلو قرار يې ځكه صادر كړ چې دى كله هم اسلام راوړ نو نبي كريم ﷺ د وحي په ليكلو وګماره، بېرته مرتد او مكې ته مشرک ستون شو، چونكه د عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ رضاعي ورور و نو همدې ته يې پناه يوړه، تر هغه يې پټ او پناه كړ چې د خلكو جوش او خروش ښه غلى شو، بيا يې نبي كريم ﷺ ته راوست او امان يې ورله وغوښت، ويل كيږي چې نبي كريم ﷺ تر ډېره ارام او خاموش و، وروسته يې وويل: امان ورته وركړل شو، چې عثمان رضي الله عَنْهُ كله له مجلس څخه پورته شو نبي كريم ﷺ ناستو خلكو ته وويل: تر ډېر مهاله په دې خاموش شوم چې تاسو كې به ترې څوک سر ووهي؟ يو انصاري وويل: ما ته به دې لږه اشاره كړې وه، هغه ورته وويل:

پیغمبر هېڅ کله په اشارو باندې قتلونه او وژنې نه کوي(۱).

له بنو تميم بن غالب نه يې د عبدالله بن خطل په وژلو توصيه کړې وه، دا ځکه چې دی هم اسلام راوړی و، نو نبي کريم ﷺ د صدقاتو او زکاتونو راټولولو پسې واستو، د خدمت لپاره يې ورسره خادم واستو تر څو خدمت يې وکړي، يو ځای کې يې دمه کېښوده، خادم ته يې وويل: سيرلی راته ذبحه او خوندوره وريته ترې وکړه.

عبدالله بن خطل ويده شو خو چې له ارامه وپاځېد نو خادم يې د خوراک څښاک هېڅ بندوبست نه و کړی، خادم يې ووژه او مکې ته مشرک ستون شو.

د عبدالله بن خطل دوه سندرغاړې هم په وژلو محکومې شوې وې چې د نبي کريم ﷺ په ضد به يې بد رد او له سپورو ستغو ډکه هجوه کوله.

د مقتولينو په لسټ کې حويرث بن نُقَيد هم و چې په مکه کې به يې نبي کريم ﷺ ته د زيان او تکليف لاس ور اوږد و.

نبي کريم ﷺ د مِقْيَس بن صبابة په قتلولو هم امر کړی و، ځکه چې يو انصاري يې ورور په ناخبرې او تېروتنې کې وژلی و، نو دې پرې قصاصا په ناحقه توګه قتل او مکې ته مشرک ستون شو.

د عبدالمطلب زو د ساره په نوم وينځه هم د مقتولينو په لسټ کې وه، ځکه چې دې به هم نبي کريم ﷺ په مکه کې ډېر زيات تکليفو.

د مطلوبو خلکو په لسټ کې عکرمة رضي الله عَنْهُ هم و.

د عکرمه رضي الله عَنْهُ کورودانې ام حکيم بنت الحارث بن هشام خو اسلام راوړ خو ولې عکرمه رضي الله عَنْهُ يمن ته فراري شو، ښځې يې له نبي کريم ﷺ څخه د سر امان واخست، او بيا يمن ته د هغه پلټنې پسې لاړه تر څو يې مکې ته راوست او اسلام يې راوړ.

د عبدلله بن خطل مرداره وينه د سعيد بن حريش او ابو برزة اسلمي رضي الله عَنْهُمَا په توره وبهېده.

مقيس بن صبابة د خپل قوم او قبيلې اړوند غړي نميله بن عبدالله رضي الله عَنْهُ ووژه، بيا به د مقيس خور ويل:

لَعَمْرِي لَقَدْ أَخْـزَى نُمَيْلَةُ رَهْطَهُ *** وَفَجَّعَ أَضْيَافَ الشِّـتَاءِ بِمِقْيَسِ
فَلِلَّهِ عَيْنَا مَـنْ رَأَى مِثْلَ مِقْيَسٍ *** إِذَا النُّفَسَـاءُ أَصْبَحَتْ لَمْ تُخَرَّسِ

(۱) ابن هشام وايي: بيا عبدالله بن سعد اسلام راوړ او عمر رضي الله عَنْهُ هم د خپل واک په دور کې په ځينو دندو ګمارلی و، له هغه وروسته ورته عثمان رضي الله عَنْهُ دندې ورکړې وې.

❁ په الله قسم چې نمیله خپل قام قبیله سپکه کړه او د مقیس په مرګ یې د ژمې میلمنو لړې ودروله.

❁ هغه سترګې دې الله بابرکته لري چې د مقیس په څېر هستي یې لیدلي وي، د مقیس له مړیني وورسته به څوک د لنګون اخته مېندو ته د زړونې خوراک هم نه شي ورکولی.

د ابن خطل یو ه سندرغاړې په تېښته بریالی شوه خو ولې له بلې لپاره امان وغوښتل شو نو نبي کریم ﷺ ورته امان ورکړ.

ساره ته یې هم د سر حفاظت امان ورکړی و، د عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ په خلافت کې د یو سړي د اس دځپو لاندې شوه او مړه شوه.

حویرث بن نقیذ د علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ په لاس ووژل شو.

ام هانئ بنت ابي طالب رضي الله عَنْهَا وایي: نبي کریم ﷺ چې کله مکې ته له برنۍ برخې څخه راننوت، ما ته مې دوه لیورونو پناه راوړه، ځکه چې ام هانئ په بنو مخزومو کې د هبیره بن ابي وهب کور ودانه وه، علي رضي الله عَنْهُ زما لیورونو ته په سختو الفاظو د وژلو دړکې ورکړې وې چې سوګند په الله هرومرو به یې وژنم، ما وریسې دروازه بنده کړه او نبي کریم ﷺ ته راغلم، چونکه د مکې په بره برخه کې هغه په غسل بوخت و، او غسل یې هم له داسې خانک څخه کول چې په اوبو کې د وړو اثرات لیدل کېدل، او فاطمې رضي الله عَنْهَا ورته د پناهۍ انتظام نیولی و، له غسل وروسته یې د سهار څاښت اته رکعته وکړل او بیا یې ما ته خپل مخ راوګرځو، راته یې ښه راغلاست هم ووایه او یې وپوښتل چې څنګه راغلې یې؟ ما ورته د مخزومیانو د پناه ګزینو او علي رضي الله عَنْهُ روانه لړې واوروله.

هغه وویل: هغه څوک به په امن کې وي چې تا ورته ا من ورکړی وي، او ته چې چا ته امن ورکړې مونږ هم ورته امن ورکو، خیر دی علي رضي الله عَنْهُ به یې نه وژني.

صفیه بنت شیبه وایي: نبی کریم ﷺ چې کله د مکې فتحه بشپړه کړه، بیت الله ته راغی او ورڅخه یې اووه ګردشته (طوافونه) وکړل، په لاس کې ورسره امسابانډې به یې رکن ښکلو.

د طواف له بشړېدو وروسته یې عثمان بن طلحه راوغوښت او ورڅخه یې د کعبې کونجیانې واخستې، د کعبې دروازې ورته خلاصې کړی شوې، دننه ننوت او په داخل کې یې له لرګو جوړه شوې کوتره درې وړې او بې هوده وغورځوله.

ټول خلک ورته راغونډ شول او هغه لوړهسک د کعبې په دروازه ودرېد.

ابن اسحاق وایي: ځینې تاریخ پوهانو راته وویل: نبي کریم ﷺ د کعبې په دروازه ودرېد او غږ یې کړ:

له الله پرته هېڅ د عبادت بل برحق معبود نشته، هغه خپله وعده رښتیا کړه او د خپل بنده یې بشپړه مرسته وکړه، هغه ټولې کفري لښکرې یک او یواځې ترې تم کړې.

د کعبې د خدمت او د حاجیانو خړوبولو پرته ټول جاهلي جاه او جلال او وینه او ټولې ځانګړنې زما له خپو لاندې دي.

په دې ښه پوهېږئ چې قصد ته ورته خطايي قتل او د تېروتنې جاني نقصان په لرګي او کوتک او یا هم د دُورې وهلو له مخې که منځ ته راشي، دروند دیت لري، دیت له هغو سلو اوښانو څخه عبارت دی چې څلوېښت اوښان به په کې دلنګون په حالت کې وي.

ای قریشو! له تاسو څخه الله پاک ټول د جاهلیت خویونه او عادتونه او د خپلو پلرونو او نیکونو ویاړونه پورته او رېز مرېز کړل.

ټول خلک د ادم ځاوزاد دی، او ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ له خاورې پیدا دی، بیا یې دا ایت ولوست ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَٰكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَٰكُمْ شُعُوبًا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْ ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ ٱللَّهِ أَتْقَىٰكُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾(۱)

بیا یې وویل: ای قریشو! تاسو څه اټکلوئ چې زه به درسره اوسمهال څه څه وکړم؟

ټولو ورته وویل: د ډېر خیر او ښېګړې امید درڅخه ساتو، ځکه چې ته خپله هم په خورا ښه انسانیت سمبال او د خورا ښه سړي ځوی یې.

نبي کریم ﷺ وویل: په ازادانه طور ولاړ شئ تاسو ټول ازاد یئ.

بیا نبي کریم ﷺ په مسجد حرام کې ناست و چې علي رضي الله عَنْهُ ورته د کعبې کونجیانې راوړې او ورته یې وویل: ای د الله رسوله! الله دربانديې ښه ورحمېږه د کعبې د زائرینو او میلمه پالنې په څېر د کعبې د کونجیانو ساتنې دنده هم مونږ ته راکړه.

نبي کریم ﷺ د عثمان بن طلحه اړوند پوښتنه وکړه چې چرته دی؟ عثمان بن طلحه ورته راوستل شو او ورته یې وویل: نن د وفاء ورځ ده، نن د نېکې رویې ورځ ده، د کعبې کونجیانې له ځان سره سمبال کړه.

هشام وايي: ځیني اهل علمو راته وویل چې نبي کریم ﷺ کله د مکې په ورځ کعبې ته ننوت نو د ملائکو او ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ په نوم جوړ شوي بوتان یې ولیدل، د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ په نوم جوړ شوی تصویر ته یې په لاس کې غشی ورکړی و، نبي کریم ﷺ وویل: الله دې مشرکان نیست او نابود کړي، د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د غشو سره څه تعلق و؟ ﴿مَا كَانَ

(۱) سورت حجرات: (۱۳). ژباړه: ای ټولو خلکو! مونږ تاسو له یو نارینه او زنانه څخه پیدا کړي یاست او ستاسو ترمنځ پېژندګلو لپاره مو تاسو قبیلې او بېلابېل قومونه جوړ کړي یئ، په تاسو کې الله ته غوره ترین هغه دی چې ورڅخه ډېر ډاریږي، الله تعالی پوهه او خبردار ذات دی.

﴿ إِبْرَٰهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا مُّسْلِمًا وَمَا كَانَ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴾(١)

ابوسفيان بن حرب، عتاب بن اسيد او حارث بن سهيل رضي الله عَنْهُمْ چې درېواړه د كعبې په دالان كې ناست وو او نبي كريم ﷺ مسجد حرام ته راننوت، بلال ته يې امر وكړ چې اذان وكړي.

عتاب رضي الله عَنْهُ وويل: دا په اسيد د الله څانګړی احسان دی چې له دې اواز له اورېدو وړاندې مړ دی، کنه په دې اذان به ډېر زورېدلی و!!

حارث بن هشام وويل رضي الله عَنْهُ: كه دا دين په رښتيا هم سم وی ما به اروماو ورته غاړه وركړې وه.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ وويل: كه هر څه مې وويل نو دا ګټکی به نبي كريم ﷺ ته ټول حالات واوروي.

نبي ﷺ راغی او درېواړو ترمنځ روانه لړی يې ورته واوروله، حارث او عتاب دواړو په يو اواز (أَشْهَدُ أَنّ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللهُ وأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ) كلمه وويله او ورته يې دا هم وويل: زمونږ له درېواړو پرته دغلته نور هېڅ څوک نه وو چې تا ته يې زمونږ جريان دراورولی وی.

ابن هشام وايي: عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وايي: د مكې د فتحې په ورځ نبی كريم ﷺ په خپله سورلۍ مكې ته ننوت، له كعبې څخه يې طواف وكړ، د كعبې چارچاپېر بوتان ايښي وو، د هغه سره په لاس كې په امسا به يې په مخ وټومبل په شا به پرېوتل او له شا څخه به يې وټومبل په مخ به را پرېوتل او درې ورې به شول او دا ايت به يې ويل چې ﴿ وَقُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَزَهَقَ ٱلْبَٰطِلُ ۚ إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ﴾(٢).

ځيني اهل علم چې روايت كې مې ورباندې باور دی راته وويل: نبي كريم ﷺ د مكې د فتح په كال له بيت الله څخه طواف كو چې فضالة بن عمير يې د وژلو غوښه اراده وكړه، خو چې كله ورنږدې شو نبي كريم ﷺ ورڅخه وپوښتل چې ايا فضاله ته يې؟ هغه وويل: هو د الله رسوله! زه فضاله يم.

نبي كريم ﷺ ورته وويل: له ځان سره څه خبرې اترې كوې؟ هغه وويل: خبرې نه كوم ذكر اذكار وايم.

نبي كريم ﷺ ورته وويل: له الله څخه بښنه وغواړه او بيا يې ورته وخندل، تر هغه يې ورته په زړه لاس ايښی و چې د زړه ټكان يې ختم شول.

(١) سورت ال عمران: (٦٧). ژباړه: ابراهيم عليه السلام خو نه يهودي اونه هم نصراني و، هغه خو په توحيد كلك ولاړ مسلمان و چې بيخي مشرک نه و.
(٢) سورت اسراء: (٨١). ژباړه: حق راغی اوباطل له منځ ولاړ او په يقين سره چې باطل به هرومرو له منځه ځي.

فضاله رضي الله عَنْهُ وايي: زما له سيني نه هغه لا لاس نه و پورته کړی چې د الله پاک په ټولو مخلوقاتو کې راته محبوب ترين همدا و.

فضاله رضي الله عَنْهُ ولاړ او دا يې وويل:

قَالَتْ هَلُمَّ إِلَى الْحَدِيثِ فَقُلْتُ *** لَا يَأْبَى عَلَيْكَ اللهُ وَالْإِسْلَامُ
لَوْمَا رَأَيْتِ مُحَمَّدًا وَقَبِيلَهُ *** بِالْفَتْحِ يَوْمَ تَكَسَّرَ الْأَصْنَامُ
لَرَأَيْتِ دِينَ اللهِ أَضْحَى بَيِّنًا *** وَالشِّرْكُ يَغْشَى وَجْهَهُ الْإِظْلَامُ

❀ يوې ښځې راته وويل چې د بنډار لپاره راشه، ما ورته وويل چې نا، دغه بنډارونه له تاسره الله او اسلام دواړو غندلي دي.

❀ که د مکې د فتحې په ورځ دې محمد ﷺ او د هغه لښکرې ليدلی وی چې بوتان هم په کې ريز مريز شول.

❀ نو د الله پاک رالیږلی دين به دې څرګند او خورا روښانه ليدلی وی چې د شرک په مخ د تورتمونو تيارو لړې هم راخوره پرته وه.

ابن اسحاق وايي: د مکې فتحې لپاره نبوي جنګي کاروان نږدې لس زره ته غځېده، اووه سوه له بنو سليم څخه او ځينې تاريخ پوهان وايي چې بلکې دوی زر نفره وو.

له بنو غفار څخه څلور سوه، له مزينه څخه يو زر او درې ګډونوال وو.

نوره پاتې شمېره له قريشو مهاجرينو او انصارو او له بنو تميم او قيس او اسد او نورو ملاتړو قامونو قبيلو څخه تشکيل وه.

د مکې د فتح اړوند حسان بن ثابت رضي الله عَنْهُ دا شعرونه وويل:

عَفَتْ ذَاتُ الْأَصَابِعِ فَالْجِوَاءُ *** إِلَى عَذْرَاءَ مَنْزِلُهَا خَلَاءُ
دِيَارٌ مِنْ بَنِي الْحَسْحَاسِ قَفْرٌ *** تُعَفِّيهَا الرَّوَامِسُ وَالسَّمَاءُ
وَكَانَتْ لَا يَزَالُ بِهَا أَنِيسٌ *** خِلَالَ مُرُوجِهَا نَعَمٌ وَشَاءُ
فَدَعْ هَذَا، وَلَكِنْ مَنْ لِطَيْفِ *** يُؤَرِّقُنِي إِذَا ذَهَبَ الْعِشَاءُ
لِشَعْثَاءَ الَّتِي قَدْ تَيَّمَتْهُ *** فَلَيْسَ لِقَلْبِهِ مِنْهَا شِفَاءُ
كَأَنَّ خَبِيئَةً مِنْ بَيْتِ رَأْسٍ *** يَكُونُ مِزَاجَهَا عَسَلٌ وَمَاءُ
إِذَا مَا الْأَشْرِبَاتُ ذُكِرْنَ يَوْمًا *** فَهُنَّ لِطَيِّبِ الرَّاحِ الْفِدَاءُ
نوَلّيهَا الْمَلَامَةَ إِنْ أَلَمْنَا *** إِذَا مَا كَانَ مَغْثٌ أَوْ لِحَاءُ

وَنَشْرَبُهَـا فَتَتْرُكُنَـا مُلُـوكًا *** وَأُسْـدًا مَـا يُنَهْنِهُنَـا اللِّقَاءُ
عَدِمْنَـا خَيْلَنَا إِنْ لَـمْ تَرَوْهَا *** تُثِيرُ النَّقْـعَ مَوْعِدُهَـا كَدَاءُ
يُنَازِعْـنَ الْأَعِنَّـةَ مُصْغِيَاتٍ *** عَلَى أَكْتَافِهَـا الْأَسَـلُ الظِّمَاءُ
ظَـلُّ جِيَادُنَـا مُتَمَطِّـرَاتٍ *** يُلَطِّمُهُـنَّ بِالْخُمُـرِ النِّسَـاءُ
فَإِمَّـا تُعْرِضُوا عَنَّـا اعْتَمَرْنَا *** وَكَانَ الْفَتْحُ وَانْكَشَفَ الْغِطَاءُ
وَإِلَّا فَاصْـبِرُوا لِجِـلَادِ يَـوْمٍ *** يُعِـينُ اللهُ فِيـهِ مَنْ يَشَـاءُ
وَجِبْرِيـلُ رَسُـولُ اللهِ فِينَـا *** وَرُوحُ الْقُـدْسِ لَيْسَ لَهُ كِفَاءُ
وَقَالَ اللهُ قَدْ أَرْسَـلْتُ عَبْدًا *** يَقُـولُ الْحَقَّ إِنْ نَفَـعَ الْبَلَاءُ
شَـهِدْتُ بِهِ فَقُومُـوا صَدِّقُوهُ *** فَقُلْتُـمْ لَا نَقُـومُ وَلَا نَشَـاءُ
وَقَالَ اللهُ قَدْ سَيَّرْتُ جُنْـدًا *** هُمْ الْأَنْصَـارُ عُرْضَتُهَا اللِّقَاءُ
لَنَـا فِـي كُلِّ يَوْمٍ مِـنْ مَعَدٍّ *** سِـبَابٌ أَوْ قِتَـالٌ أَوْ هِجَـاءُ
فَنُحْكِمُ بِالْقَوَافِي مَنْ هَجَانَا *** وَنَضْرِبُ حِـينَ تَخْتَلِطُ الدِّمَاءُ
أَلَا أَبْلِـغْ أَبَـا سُـفْيَانَ عَنِّي *** مُغَلْغَلَـةً فَقَدْ بَـرِحَ الْخَفَاءُ
بِأَنَّ سُـيُوفَنَا تَرَكَتْـكَ عَبْدًا *** وَعَبْـدُ الدَّارِ سَـادَتُهَا الْإِمَاءُ
هَجَـوْتَ مُحَمَّدًا وَأَجَبْتُ عَنْهُ *** وَعِنْـدَ اللهِ فِي ذَاكَ الْجَـزَاءُ
أَتَهْجُـوهُ وَلَسْتَ لَـهُ بِكُفْءٍ *** فَشَرُّكُمَـا لِخَيْرِكُمَـا الْفِـدَاءُ
هَجَـوْتَ مُبَارَكًا بَـرًّا حَنِيفًا *** أَمِـينَ اللهِ شِـيمَتُهُ الْوَفَـاءُ
أَمَنْ يَهْجُو رَسُولَ اللهِ مِنْكُمْ *** وَيَمْدَحُـهُ وَيَنْـصُرُهُ سَـوَاءُ
فَـإِنَّ أَبِـي وَوَالِـدَهُ وَعِـرْضِي *** لِعِـرْضِ مُحَمَّدٍ مِنْكُـمْ وِقَاءُ
لِسَـانِي صَـارِمٌ لَا عَيْـبَ فِيهِ *** وَبَـحْرِي لَا تُكَدِّرُهُ الدِّلَاءُ

۞ له ذات الاصابع او جواء نه تر عذراء پورې ځايونه تش تور پراته دي چې نومونه يې بيخي ختم شوي دي.

۞ هلته د بنو الحسحاس کورونه هم کنډر او کنډواله شول چې طوفاني بادو باران يې د ابادۍ نبښې نښانې ټولې له منځه وړي دي.

۞ که څه به هم له ساعت تيرې نه دغه ځايونه نه وزګارېدل او د اوښانو او ګډو رمې به په کې څرځايونو ته تللې راتللې.

۞ دا خو لا په ځای پرېږده، هغه خيالات او تصوراتو ته به مې څوک دارو درمل شي چې د شپې خوب مې په شبګيرو تبديلوي.

۞ د شعثاء بنت مشکم بن سلام (یا شعثاء د خزاعه قبیلي بله ښځه وه) چې د میني زور یې پرې مسلط و چې تر دې دمه یې ترې زړه روغ نه دی.

۞ لکه په غاښونو چې یې د اردن د بیت راس خورا خوندور شراب چې له شهدو او اوبو سره خلط او ګډ شوي وي پراته وي.

۞ د شرابو یادګېرنه چې کله وشي نو ټول شراب د (راح) نوم شرابو ځخه زار او لوګی شه.

۞ د (راح) نوم شراب چې وڅښو او بیا راځخه هغه څه صادر شي چې د ملامتیا وړ پرې ګرځو او یا راځخه جنګ جدل وشي، نو زمونږ نه، بلکې ټوله ملامتیا به د (راح) شرابو وي.

۞ چې کله هم مونږ شراب وڅښو نو باچاهان او زمري راځخه جوړ کړي، داسې زمري راځخه جوړ کړي چې جنګ هم ورځخه مونږ نه شي رابندولی.

۞ له کداء څخه به ستاسو په ضد داسې خونړیزه معرکه پیلوو چې ګرد او غبار په کې لوړ پورته شي، خو که ومونه کړ نو دا به بیخي زمونږ اسونه نه وي.

۞ اسونه مو هم جنګ ته په زیاته تلوسه کې دي چې نور نه رابندیږي، او د شاهسوارانو په اوږو هم د وینو ترږي غشي بار دي.

۞ زمونږ اسونه په دومره تېزۍ ورغلل چې د مکې ښځو یې په خپلو لوپټو (پړونو) د اسونو مخونه وهل چې له مزله یې رابند کړي.

۞ که لاره راته خلاصه کړئ تر څوم عمره وکړو او فتح بشپړه شي او د پیغمبر سره به د الله وعده رښتنې شي او حقیقت به راښکاره شي، نو ډېره به ښه وي خو..

۞ که مقابلې ته راووځئ نو د داسې جنګ جګړې انتظار وکړئ چې زمونږ مرسته په کې په حقیقي توګه نغښتل شوې ده.

۞ زمونږ ملتیا د الله رسول ﷺ او روح القدس جبریل عَلَيْهِ السَّلامُ کوي چې جبریل عَلَيْهِ السَّلاَمُ هېڅ ساری هم نه لري.

۞ الله وویل چې په تاسو کې به زه خپل استازی محمد ﷺ استوم، هغه به حق او حقیقت وایي او هغه به په ښو او ترښو ازموم.

۞ دا چې زه پرې ګواهي ورکوم نو تاسو یې هم په تصدیقي توګه ملاتړ وکړئ نو تاسو وویل چې نه ورته پورته کېږو اونه ورته اړتیا لرو.

۞ الله درته وویل چې له انصارو (مدیني هستوګنوالو) ځخه به درته داسې لښکر راولم چې له جنګ جګړې پرته یې نور کار نه وي (یعنې جنګونو کې مهارت لري).

۞ مونږ (انصار) هره ورځ معد (قريش) يا كنځو، يا ورسره جنګ كوو او يا يې هجوه او بدي بيانوو.

۞ څوک چې په شعرونو باندې زمونږ بدي بيانوي مونږ يې منعه كوو، او كه څوک راسره جنګ كوي نو هله يې څټونه وهوو چې جنګ ګرم شي.

۞ ابوسفيان بن الحارث (د نبي ﷺ دتره ځوى) زما له پلوه په دې پيغام وخبروئ چې خبره نوره ښكاره شوه او حقيقت راڅرګند شو.

۞ زمونږ (انصارو) تورې به دې د مكې د فتح په ورځ لا پسې ذليله كړي، او بنو عبدالدار مشرتابه خو لكه په ذلت او هوان كې د وينځو په څير دي.

۞ تا د محمد ﷺ بدي بيان كړه او ما يې دفاع وكړه، زه په خپلې دفاع له الله څخه نيكه بدله غواړم.

۞ ته يې د بدۍ بيانولو توان څنګه لرلى شې او لا يې سيال نه يې! په تاسو كې بدترين دې په تاسو كې له غوره سړي نه لوګى شي.

۞ تا خو د دومره مبارک، نيک خصلته او مسلماني هستي پسې بدې ردې ويلي دي چې د الله امين دى او خوي خصلت يې هم په ژمنه وفاء كول دي.

۞ ايا له تاسو څخه چې څوک د رسول الله ﷺ هجوه بيانوي له هغه چا سره مساوي دى چې يې مدحه او كومک او مرسته كوي؟

۞ زما پلار، زما نيكه او زما ځان دې له رسول الله ﷺ د ابرو ساتني لپاره له تاسو څخه ساتونكي شي.

۞ ژبه مې د تورې په څير ده چې هيڅ ډول عيب او خو نه لري، او شعرونه مې ژور بحر دى چې په بوكو يې اوبه نه خړيږي.

## د مكې له فتحې وروسته په اتم هجري كال كې د حنين غزا

د نبي كريم ﷺ دمكې له فتحې چې كله هوازن وخبريدل، مالک بن عوف نصري رضي الله عَنْهُ ټول هوازن او ثقيف يو لاس موټى كړل، بنو جشم هم ورسره يو ځاى شول، له بنوسعد بن بكر او بنوهلال څخه ورسره لږ شمير جنګيالي مل او تل شول، هيره دې نه وي چې له قيس عيلان څخه ورسره له مذكوره خيلونو پرته نور چا شراكت نه و كړى او په هوازنو كې ورسره بنوكعب او بنوكلاب هم له ملاتړ كولو غوڅ انكار كړى و هيڅ نامتو ورسره نه و مل شوى.

په بنوجشم کې درید بن الصمة چې خورا زیات بوډا او سپین ږیری و، له سلا مشورې ورکونې پرته یې د جنګي چارو له سمبالښت هېڅ توان نه درلود، ځکه چې هغه پیاوړی جنګي تجربه کار او په خپله جنګي سلاکار و.

له ثقیف څخه دوه مشران او له ملاتړو قبیلو څخه مشران او نامتو غړي یې قارب بن الاسود بن مسعودبن معتب، او له بنو مالک څخه ذوالخماری سبیع بن الحارث بن مالک او ورسره یې وروور احمر بن الحارث وو.

خو واک او اختیار او جنګي چارې د مالک بن عوف رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په ولکه کې وې، چې کله د نبي کریم ﷺ په ضد د غبرګون ټولو ګډونوالو خوځښت وکړ او د اوطاس[۱] نوم ځای ته ورسېدل، درید بن صمة هم په کېجاوه کې ناست و، لږ ګړی د دمې او ساه اخستو لپاره تم شول، درید وپوښتل: تر کوم ځای راورسېدو؟

خلکو ورته وویل: اوطاس ته راورسېدو خو لا تم یو.

هغه وویل: اوطاس د اسونو ځغلولو وړ ځای دی، نه کنډې کپرې لري او نه ګرد غبار لري، خو له دې مې وخبروځ چې د اوښانو او خرو قچرو اوازونه، د ماشومانو ژړا شور او د ګډو بزو رمبارې له کومه راځي؟

هغوی ورته وویل: مالک بن عوف رضي الله عَنْهُ خلک مجبوره کړل چې خپلې ښځې او ماشومان او ټول مالیت او شتمني په شمول باید جنګي ډګر ته راشي.

درید وویل: مالک اوس چرته دی؟ چې مالک څنګه راغی ورته یې وویل: ته خو له نن څخه د خپل قوم او قبیلې خورا محور او مشرتابه یې، نني ورځ د راروانو لپاره پل ده، په دې مې وخبروه چې د اوښانو او خرو قچرو اوازونه، د ماشومانانو ژړا شور او د ګډو بزو رمبارې له کومه راځي؟ هغه ورته وویل: خلک مې د جنګ ډګر ته د خپلو شتمنیو او بچو سره راوستي دي، درید وپوښتل: ولې؟ هغه وویل: غوښتل مې چې هر څوک له خپلې ابرو څخه کلکه دفاع وکړي.

درید ورته ځق ځق وکړل او ورته یې کړه: ته جنګي رهبر نه بلکې چوپان او شپونکی یې! ایا شکست زده او تیت موراله ته به ستا دا کړنه څه ګټه ولري؟ که برلاسي شول د هر جنګیالي باتور لپاره دې توره او نېزه بسنه کوي، او که دې شکست وخوړ نو د خپلو بچو او ښځو سره به په شرم وشرمېږې!!

بیا یې ورځخه وپوښتل: کعب اوکلاب چرته دي؟ هغوی ورته وویل: له هغوی څخه څوک جنګ ته نه دي راغلي.

(۱) اوطاس د حنین په پولو د کلي نوم دی.

درید وویل: بیا خو مو اتلولي او مېړانه له لاسه ورکړې ده نو، که دا د څه خیر او فایدې ورځ وه نو له هغوی څخه به هېڅ څوک هم نه وو وروسته شوي، کاشکې تاسو هم د کعب او کلاب په څېر درېځ اختیار کړی وی!!

بیا یې وپوښتل: څوک څوک ورڅخه راغلي دي؟

خلکو ورته وویل: عمرو بن عامر او عوف بن عامر.

درید وویل: د بنوعامر دواړه بې وسه او بې توانه درسره مل دي، نه درته خیر رسولی شي او نه درڅخه د زیان مخه نیولی شي.

بیا یې وویل: مالکه! د هوازن د قوم سره ځینې کارونه دې راته ښه نه برېښي، باید ښځې او ماشومان پټ پناه او لوړې ته یوسې، بیا په بې دینو باندې آسپیز برید وکړه، که د جنګ جګړې ستونزمنه او سترې لړې په دښمن وه بال بچ او ټول کورني غړي به خپل سرپرست ته بېرته راغونډ شي، خو که ولې د جګړې سترې په مونږ وه نو کم از کم ماشومان او زنانه خو به دې روغ جوړ او سالم پاتې شي!!

مالک ورته وویل: قسم په الله چې ستا خبرو او سلا مشورو ته هېڅ اړتیا نه لرم، ته بوډا شوی یې وخت دې تېر شوی دی، د عقل مزی دې هم خام دی!!

بیا مالک غږ کړ: ای هوازنو!! یاخو به مې جنګي قیادت ته غاړه کېږدئ او یا به هم خپله توره له ځانه تېرو ببر وباسم تر څو ومرم، ځکه مالک نه غوښتل چې ځان سره په جنګ د درید بن صمه سلا مشورې شریکې کړي، ټولو هوازنو ورته وویل: مونږ دې په مشرئ منوو.

درید وویل: نه خو مې داسې ورځ لیدلې وه او نه مې ځواک دومره چرته مات شوی و، او بیا یې دا شعرونه وویل:

يَـا لَيْتَنِي فِيهَـا جَذَعْ *** أَخُـبُّ فِيهَـا وَأَضَعْ
أَقُودُ وَطْفَـاءَ الزَّمَعْ *** كَأَنَّهَـا شَـاةٌ صَدَعْ

❁ کاشکې په دې جګړه کې ځوان زلمی وم، د تکبر او مستئ ګامونه به مې پورته او اینښي وو.

❁ کاشکې ګڼ ویښته لرونکی اس راسره وی او د چابک ورغومې په څېر مې ځغلولی وی.

بیا مالک په سرتېرو غږ کړ چې که دښمن کله هم مخې ته درشي د تورو تېرې پرې ماتې کړئ او نظامي برید به هم پرې د یو سړي په څېر وکړئ.

دهوازن او نورو قبیلو په غبرګون چې کله نبي کریم ﷺ و خبرېد، د راپور راټولولو لپاره یې عبدالله بن ابي صرد اسلمي رضي الله عَنْهُ واستو او ورته یې وویل: ددښمن په لیکو کې نوځه او تر هغه تم شه چې ځان د دښمن په جنګي تکتیکونو ښه وپوهوې او بیا راشه.

عبدالله بن ابي صرد رضي الله عَنْهُ لاړ او د دښمن په صفونو کې ننوت د مالک او د هوازن اړوند ټول جنګي حالات او دفاعي قوت یې کشف کړ، بیا نبي کریم ﷺ ته راغی او د دښمن په حالاتو یې وخبرو.

کله چې نبي کریم ﷺ د هوازن د کلکې ځوابي حملې هوډ وکړ، له روانېدو وړاندې یې ورته چا وویل: د صفوان بن امیه سره زیاتې زغرې او نور جنګي اوزار دي چې غوښته او پرېکونه کولی شې.

اګر که صفوان بن امیه دغه مهال مشرک هم و خو نبي کریم ﷺ ورته استازی واستو چې ستاسره زغرې او نور جنګي الات راته د امانت په څېر راکړه، ترڅو سباني دښمن سره کلکه مقابله وکړو.

هغه ورته وویل: محمده! ولې په جبر زور یې راڅخه اخلې؟

هغه ورته کړه: نا، بلکې امانت یې راکړه.

صفوان رضي الله عَنْهُ ویل: امانت اخستل خو یې څه بده خبره نه ده، واخله.

د نورو جنګي الاتو په شمول یې ورله سل زغرې هم ورکړې، داسې ویل کیږي چې نبي کریم ﷺ ورته دا هم وویل چې تر جنګي ډګره یې راسره د وړلو زیار هم وګاله، او هغه هم ورسره دغسې وکړل.

بیا نبي کریم ﷺ له مکې څخه ووت د خپلو لسو زرو کسانو په ملتیا ورسره دوه زره د مکې نوي مسلمانان هم ملګري شول او په مکه کې د پاتې خلکو ټولې چارې یې عتاب اسید بن ابي العیص رضي الله عَنْهُ ته ورسپارتې او خپله د هوازن مقابلې ته لاړ.

حارث بن مالک رضي الله عَنْهُ وايي: د حنین جګړې په لور مونږ هم له مکې څخه د نبي کریم ﷺ په ملتیا ووتو و، د قریشو د کافرانو او د عربانو د نورو مشرکانو لپاره لویه تکه شنه ونه وه چې د خیر او برکت لپاره به یې ورته اسلحې ځوړندولې، ترڅنګ به یې ورسره اعتکافونه هم کول او خپلې نذرانې او منښتې به یې ورته نزدې ذبحه کولې، چونکه مونږ خپله نوی اسلام ته غاړه اېښې وه ورڅخه مو وغوښتل او ورته مو خپل اوازونه لوړ کړل چې د دوی په څېر زمونږ لپاره هم ونه وګرځوه، نبي کریم ﷺ ورته وویل: الله اکبر، زما دې په رب لایزال قسم وي چې تاسو خو ما ته داسې خبره وکړه لکه بنو اسرائیلو چې موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ

ته کړې وه ﴿ٱجْعَل لَّنَآ إِلَٰهًا كَمَا لَهُمْ ءَالِهَةٌ ۚ قَالَ إِنَّكُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴾(۱) دغه خو بې ديني او کفر دی، او تاسو به هرومرو د مخکنو کفارو په لارو ګودرو روانېږئ.

جابر بن عبدالله رضي الله عَنْهُ وايي: کله چې مونږ حنين ته د ورتلو په حالت کې وو، د تهامه د لوی پراخه ناوچې څخه ورښکته شو، هلته راته هوازنو او ورسره نورو ټل قبيلو کلک کمين نيولی و چې مونږ پرې ناخبره وو، حالانکه مونږ اپله ببله د سهار په مهال چې تيارې يې لا هم نوې پورته شوې ورسېدو، خو خوړ ته زمونږ له ورښکته کېدو سره سم له کلک کمين وروسته يې د يو سړي په څېر راباندې له هر اړخه غشي وورول، زمونږ ځواک او جنګي قوه په بېلابېلو لارو پټ او پناه شول چې يو په کې د بل هېڅ خيال نه ساتو.

نبي کريم ﷺ ښی اړخ ته دډه شو او غږ يې کړ چې: ای خلکو! چرته ځئ؟ زه محمد بن عبدالله د الله رسول دلته يم، که څه هم خلک ورسره نه وو خو ولې د مهاجرينو او انصارو او د خپل کور ځينې غړي ورسره کلک ولاړ و.

ابن اسحاق وايي: د خلکو د شکست سره ځينو د مکې نوی مومنانو چې لا يې په زړه کې مسلمانانو ته لږ حسد پاتې و د کږو نسکورو خبرو لړې پېل کړه.

ابوسفيان رضي الله عَنْهُ چې د تقسيم غشي (ازلام) يې به تېرکنښ کې وو، وويل: د شکست منډې به يې اوس تر بحره ورسيږي!

جبلة بن الحنبل هم وويل: لکه چې نن يې دم درهې هېڅ اغيز ونه کړ.

شيبة بن عمثان وايي: ما له ځان سره وويل چې نن مې د پلار د غچ اخستو زرينه موقعه ده، زه به نن هرومرو محمد ﷺ وژنم ځکه چې پلار يې د احد په جنګ کې وژل شوی و، زه راغلم تر څو خپل هدف ته رسيدګي وکړم، کله چې مې هغه په نظر کې راوست په زړه مې څه وشول او له وژلو څخه يې بې توانه شوم، وپوهېدم چې نبي کريم ﷺ راڅخه په پياوړې دفاع کې دی.

او ځينو مکې والاو به دا هم ويل چې نبي کريم ﷺ چې له مکې څخه حنين ته روان شو نو د ډېرو مجاهدينو او جنګي قوې له کبله يې وويل: په دې شمېر به هېڅکله شکست ونه خورو.

عباس بن عبدالمطلب رضي الله عَنْهُ وايي: ما د نبي کريم ﷺ د سپينې قچرې واګې نيولې وې، چونکه زه په تن اباد وم او لوړ غږی وم، که نبي کريم ﷺ څه هم د (ای خلکو چر ته ځې، چرته ځئ) اوازونه پورته کړل خو ولې هر څوک په خلاصون بوخت و، هېڅ چا هم مخ راونه ګرځو، راته يې وويل: عباسه! په خورا لوړ اواز چيغه کړه چې ای انصارو!

(۱) سورت اعراف: (۱۳۸). ژباړه: زمونږ لپاره هم د دغې قوم په څېر معبود جوړ کړه، موسی -عَلَيْهِ السَّلَام- ورته وويل: چې تاسو خو لا تر اوسه بې وقوفه ياست!!

عباس رضي الله عَنْهُ وايي: د غږ سره ځواب شوم: دا دی درغلو، درغلو.

اګر که مجاهدينو خپل اوښان د جنګ ډګر ته رامخامخ کړل خو ولې د زياتو غشو ورېدو له کبله ونه شو توانېدای، نو خپلې زغرې يې د اوښاو په غاړو او مرو کې واچولې او ځانونه يې په توره ډال سمبال کړل، که څه هم سخته وه خو په ډېر زيار او سختۍ د اواز په لورې تېز راوځغلېدل، تر دې چې نبي کريم ﷺ ته راورسېدل، خو د سلو سرتېرو په راغونډولو يې ددښمن لور ته مخه کړه او ورسره يې د جنګ د نوي لړۍ بل پړاو پېل کړ.

که څه هم د مسلمانانو په لومړيو تيت او پرک باندې د (ای انصارو..) غږ وشو خو بيا هم خزرجيانو ته په ځانګړې توګه غږ پورته شو، په دې خاطر چې خزرجيانو په جنګ کې د سرخندنې ميدان وړی و، نبي کريم ﷺ چې کله د قوم او دښمن ترمنځ تود جريان وليد، وېويل: د جنګ او مقابلې نغری اوس ګرم شو.

جابر بن عبدالله رضي الله عَنْهُ وايي: د هوازن قوم جنګي بيرغ لوړونکی چې په خپل اوښ سپور و، وريسې علي رضي الله عَنْهُ د يو انصاري په ملتيا ورغی، علي رضي الله عَنْهُ د اوښ غاړه په توره ووهله سړی ترې پرمخ راولوېد، انصاري پرې له ځند پرته ورټوپ کړ ښپې يې ترې ووهلې نور سر پر ځمکه پرېوت، مسلمانان مجاهدين لا د خپلې اتلولې او مېړانې څخه نه وو وزګار شوې چې په هوازنو کې د شکست درز او فرار په زياتېدو شو، وخت لا نه و تېر چې د نبي کريم ﷺ په وړاندې ددښمن ځينې جنګي قوه لاس تړلي بنديان ولاړ وو.

ابوسفيان بن الحارث رضي الله عَنْهُ چې په دغه ورځ يې له زيات زغم نه کار واخست او اسلام يې هم لا پسې پياوړی شو، د نبي کريم ﷺ د قچرې واګې يې نيولې وې، نبي کريم ﷺ وپوښتل چې څوک يې؟ هغه ورته کړه: ای د الله رسوله! ستا د مور ځوی يم.

عبدالله بن ابي بکر رضي الله عَنْهُمَا وايي: نبي کريم ﷺ د ابوطلحه رضي الله عَنْهُ سره د هغه بي بي ام سليم رضي الله عَنْهَا وليده چې په اوښ يې د ځان سره سپره کړې وه او تازه په (عبدالله بن طلحه) رضي الله عَنْهُ هم اميدواره وه، ام سليم رضي الله عَنْهَا وېرېده چې اوښ يې له بريده تېره نه کړي، سر يې ورله ځان ته رانژدې او له پېزوان څخه يې ونيو، نبي کريم ﷺ پرې غږ کړ چې ايا ته ام سليم يې؟

هغې ورته کړه: هو، ام سليم يم د الله رسوله! په دې خاطر راغلم چې له تا څخه په شا تختيدلي داسې ووژنم لکه ته چې خپل دښمنان وژنې.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: ولې ام سليم! الله بس او کافي نه دی؟ ام سليم رضي الله عَنْهَا چې لاس په خنجر راروانه، خاوند يې ورڅخه وپوښتل چې په لاس کې دې څه دي؟ هغې وويل: له ځان سره مې خنجر راواخست که کوم مشرک په مخه راشي په خېټه به يې سوری ورې کړم.

ابو طلحه رضي الله عَنْهُ لاړ او نبي كريم ﷺ ته يې وويل: د سترګې خځښي ته دې خيال دی! کومې خبرې کوي!!

ابوقتاده رضي الله عَنْهُ وايي: د حنين په ورځ مې يو مسلمان او مشرک دواړه مټ اتې وليدل، ومې ليدل چې بل مشرک د مسلمان سره اړم مشرک سره مرسته کوله، زه ورنږدې شوم او لاس مې ترې غوځ کړ خو ولې په بل لاس يې دومره کلک ونيولم چې نزدې وه مړ مې کړي، دا چې له لاس نه يې وينه ډېره لاړه خپله راولويد او مړ مې کړ، له دې تېر شوم او دوه نورو سره په جنګ بوخت شوم، خو دومره مې وليدل چې د مکې يو نفر راغی او ټول جنګي اوزار يې ترې واخستل.

د جنګ لړي چې کله ترپايه ورسېده، حالات قابو شول، نبي كريم ﷺ وويل: چا چې څوک مړ کړی وي مال يې د هغه دی.

ما وويل: ای د الله رسوله! ما يو نفر ووژه بيا نورو سره په جنګ بوخت شوم خو ونه پوهېدم چې جنګي اوزار ترې چا اخستي دي؟

د مکې نفر غږ کړ چې اوزار ترې ما اخستي وو، د الله رسوله! دومره ورته ووايه چې زما برخه هم پکې وکړي.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ وويل: نا قسم په الله چې ټول به قتاده اخلي او دده په کې هېڅ برخه نشته، ته د الله پاک د زمري سره په ګټلي اوزارو کې چې د هغه په لاره کې يې جنګ جګړه کړې ده ورسره په کې شراکت کوې؟ زر کوه او د مړ سړي ټول اوزار ده ته ورکړه.

نبي كريم ﷺ ورته وويل: ابوبکر رضي الله عَنْهُ روغه خبره وکړه، زر کوه او قتاده ته ټول اوزار ورکړه.

قتاده رضي الله عَنْهُ وايي: دغه اوزار مې خرڅ کړل او ځان لپاره مې پرې د کجورو ونې واخستې، دغه مې لومړی ملکيت و چې لاس ته مې راغی.

ابن اسحاق وايي: د هوازنو د شکست سره د بنو مالک په ثقيف قبيله کې درنه مرګ ژوبله دوه چنده شوه، د دوی بېرغ لاندې عثمان بن عبدالله بن ربيعه بن الحارث بن حبيب چې د ذو الخمار له مړيني وروسته يې بېرغ راپورته کړ، په شمول اويا نور جنګيالي هم وژل شوي وو.

د مشرکانو له ماتې شکست وروسته ځينې د مالک بن عوف رضي الله عَنْهُ په مشرۍ طائف ته په تېښته بريالي شول خو ولې ځينې نور يې په اوطاس کې په دفاعي عملياتو بوخت شول، او بنو غيره ثقفيان د نخلې په لور وکوچېدل، د نبي كريم ﷺ جنګي قوه نخلې ته تېښتېدلو پسې شوه خو ولې هغه څوک يې پرېښودل چې لوړو پورتو ساحوته تښتېدلي وو.

د اوطاس په لور تښتېدلو پسې نبي کريم ﷺ ابو عامر اشعري رضي الله عَنْهُ واستو، هلته يې پاتې شکست زده له کېږې لاندې راوستل، هغوی پرې غشي راوورول نو ابو عامر رضي الله عَنْهُ پرې ولګېد او شهيد شو، بيرغ يې د تره ځوی ابوموسی اشعري رضي الله عَنْهُ راپورته او د ده په لاس الله پاک هغوی ته شکست ورکړ او فتحه يې راوړه.

د شکست په مهال مالک بن عوف رَضِيَ اللّٰه عَنْهُ د غونډۍ په لوړه څوکه پورته شو او ورسره د خپل قوم شاه سوارانو ته يې وويل: تر هغه تم شئ چې کمزوري مو لاړ شي او وروسته پاتې خلک درسره ټول او مل شي.

نبي کريم ﷺ په لاره کې خلک راغونډ وليدل، ويې پوښتل چې هغه خلک څنګه راغونډ دي؟ خلکو ورته وويل: خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ ښځه وژلې ده، نبي کريم ﷺ ځينو حاضرينو ته وويل: خالد چې هر چرته وي ويې خبروئ چې نبي کريم ﷺ دې د ښځو، ماشومانو او مريانو او نوکر پېشه خلکو له وژلو منعه کوي.

نبي کريم ﷺ په دغه وخ وويل: که د بنو سعد بن بکر اړوند بِجَاد نوم سړی د هر چا په ولکه کې راشي نو چې خلاص نه شي، ځکه هغه د مسلمانانو پر ضد ډېر ستونزمن ګامونه پورته کړي وو.

مسلمانانو بجاد د کورنۍ غړو او د شيماء -چې د نبي کريم ﷺ رضاعي خور وه- په شمول ټول نبوي حضور کې لاس تړلي عرض کړل.

د بجاد په خبر به صحابه کرامو د بنديانو په راوستلو کې د شيماء سره هم لږه سختي کوله، هغې ورته وويل: پوهه شئ ګورې زه د رسول الله ﷺ رضاعي خور يم، خو ولې هيڅ مسلمان يې تر هغه خبره نه تصديقوله چې د نبي کريم ﷺ حضور ته يې ټول راوستل.

د رارسېدوسره سم يې په نبي کريم ﷺ غږ کړ چې زه ستا رضاعي خور يم، نبي کريم ﷺ ورته وويل: ايا له ما سره په خوروليۍ څه نښه لرې؟

هغې وويل: ته ما په خپل تشي کېنولې وې او په ملا (شا) دې راباندې خوله ولګوله چې اثر يې تر اوسه شته دی.

نبي کريم ﷺ نښه وپېژنده او د هغې د قدر او ناز لپاره يې ورته خپل څادر په ځمکه خپور کړ، او ورته يې کړه: که غواړې ما سره په قدر او احترام پاتې شې هم ستا خوښه ده او که غواړې خپل ټاټوبي او ټبر ته ستنه شې هم تا ته اختيار دی، هغې ورته وويل: خوښه مې ده چې خپل ټبر ته ستنه شم، نبي کريم ﷺ په قيمتي تحفو سره په خپل قام قبيل وسپارته، بنو سعد داسې هم انګېروي چې نبي کريم ﷺ خپلې رضاعي خور ته د مکحول په نوم غلام او يوه وينځه هم ډالۍ کړل، وينځې

او غلام دوارو سره نکاح وتړله چې نسل یې تر اوس مهال شتون لري.

ابن هشام وايي: د حنين په ورځ الله پاک دا ایتونه نازل کړل ﴿لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِى مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴾[١].

ابن اسحاق وايي: نبی کریم ﷺ ته د حنين په غزا کې لاس ته راوړل شوی غنیمتونه او وینځې غلامان راټول کړل شول، د غنیمتونو د حفاظت په دنده یې مسعود بن عمرو غفاري رضي الله عَنْهُ وګماره.

او د نبي کریم ﷺ د امر سره سم ټول غنیمتونه او وینځې د جعرانه په مقام کې وځنډول شول.

## په اتم هجري کال کې د طائف غزا

د ثقیف شکست زده چې کله طائف ته په تېښته بریالي شول، هلته یې د جنګ د نوی لړې پیل کولو لپاره نور نوی پلانونه ترتیب کړل او د ځانونو پسې یې د خپل ښارکوټې دروازې وتړلې.

د حنين جنګ او د طائف محاصرې ته عروه بن مسعود او غیلان بن مسلمه رضي الله عَنْهُمَا ونه شو کړای چې حاضري ورکړي، هغه داسې چې دواړه په جُرُش کې د ټینکونو او منجنیقونو او د غشو په دفاعي الاتو جوړولو زده کړه بوخت وو.

نبی کریم ﷺ چې کله له حنين څخه راوزګار او د طائف په لور یې مخه کړه، کعب بن مالک رضي الله عَنْهُ وویل:

قَضَيْنَا مِنْ تِهَامَةَ كُلَّ رَيْبٍ *** وَخَيْبَرَ ثُمَّ أَجْمَمْنَا السُّيُوفَا
نُخَيِّرُهَا وَلَوْ نَطَقَتْ لَقَالَتْ *** قَوَاطِعُهُنَّ دَوْسًا أَوْ ثَقِيفَا

(١) سورت توبه: (٢٥-٢٦). ژباړه: الله پاک په ګڼ شمېر ځایونو کې ستاسو مرسته کړې ده، او د حنين په ورځ یې هم له خپلې مرستې برخمن کړئ چې خپلې زیاتې شمېرنې او ځاني زیاتوالي په کبر او غرور کې راوستئ، خپل وګړیز ډېروالی ستاسو په هېڅ در ونه خوړ، پراخه ځمکه هم دربانديې راتنګه شوه، او بېرته په شا وځغلیدئ * بیا الله پاک په خپل رسول او ګردو مومنانو باندې خپله ډاډګیرنه او تسلي بخښ پېرزینه راواستوله، او داسې لښکر یې راواستو چې تاسو بیخي لیدلی نه و، او له دین څخه منکر یې پرې سزاوار کړل، او همدغه د منکرینو او کافرانو لپاره مناسبه سزا ده.

فَلَسْتُ لِحَاضِنٍ إِنْ لَمْ تَـــرَوْهَا *** بِسَــاحَةِ دَارِكُــمْ منَّــا أُلُوْفَــا
وَنَنْــتَزِعُ الْعُــرُوشَ بِبَطْنِ وَجٍّ *** وَتُصْبِحُ دُورُكُمْ مِنْكُمْ خُلُوفَا

❁ د تهامه او خيبر د ميشتو خلکو شبهې او شکونه مو ايله لرې کړل او لړ وړاندې مو تورو د ارام ساه واخسته.

❁ که خپلو تورو ته د خبرو واک ورکړو نو نارې سورې به وهې چې له دوس او ثقيف سره جنګونه کوو.

❁ زه به د هغې ښځې څوی نه يم چې رالوی کړی يې يم، هله چې زمونږ د زرهاوو تورو سره د خپلو کورنو دننه نابېره مخامخ نه شوئ.

❁ په (وج) مقام کې به مو کورونه راڅخه داسې پاتې شي چې ستاسو له زنانه وو پرته به پکې نور څوک نه وي.

نبي کريم ﷺ طائف ته د جنګي کاروان روانولو په جريان کې د سفر لړې له نخلې يماني څخه پېل او بيا قرن المنازل او بيا د مليح له لارې (ليه) کې بحرة الرغاء ته ورسېد، دلته يې مسجد جوړ کړ او لمونځونه يې هم په کې وکړ.

بيا له دې ځای څخه د ضيقه په نوم لارې باندې تر هغه رهی شو چې د نخب په نوم ځای باندې ترې ووت، او ځان يې د (صادره) په نوم ځای ته ورسو، اګر چې په لاره کې يې له بېرې ونې لاندې دمه هم واخسته.

هلته د ثقيف د يو سړي هستوګنځی ته يې استازی واستو چې تسليم او بهر راووځه، ورنه کور به دې ونړو، چونکه ثقفي کلک او غوځ انکار وکړ نو نبي کريم ﷺ دکور په نړولو قرار صادر کړ.

له دې وروسته نبي کريم ﷺ راولاړ شو او طائف ته يې نږدې د لوی دېوال سره په دومره اندازه کې واړوله چې د دښمن غشي ورته رسيدګي کولی شوه، هلته يې خيمې ودرولې چې ځينې صحابه کرام په کې د غشو وريدو له کبله هم شهيدان شول.

چونکه له يوې خوا د طائف ديوالونه خورا پياوړي او دنګ وو او له بلې خوا په مسلمانانو غشي هم وريدل او مرګ ژوبله په کې په ډېرېدو وه، تر هغه ځای په شا شول چې نن مهال په کې د طائف لوی مسجد دی.

د مسجد له ځايه د طائف د محاصرې موده څه د پاسه شل ورځو ته وغځېده.

په دې غزا کې د نبي کريم ﷺ سره خپلې دوه بي بيانې هم وې چې يوه په کې ام سلمه رضي الله عَنْهَا وه.

نبي کريم ﷺ د دواړو لپاره خيمې ودرولې وې او لمونځ يې هم د دواړو خيمو ترمنځ وکړ.

خو چې کله ثقيف اسلام ته غاړه کېښوده د نبي کريم ﷺ د لمونځ په ځای عمرو بن اميه

بن وهب لوی مسجد جوړ کړ.

داسې ویل کیږي چې دغې جومات کې یوه ستنه ده چې کله هم د ورځې لمر راوخیژي او وړانګې یې په ستن ولګیږي په اوازونو شي.

له همدغه ځایه نبي کریم ﷺ طائف کلک محاصره کړ او دواړو خواو یو بل په غشو ویشتل[1].

بیا د نبي کریم ﷺ ځینی ملګري د بکتربند موټر په څېر جوړ کړي ټینک پسې ونښتل تر څو طائف دېوال ونړوي او یرغل ته ځان جوړ کړي، خو ولې دښمنانو پرې د سکروټو په څېر ګرمې اوسپنې راوورولې، د صحابه کرامو رضي الله عَنْهُ بله چاره نوه نو له ګاړي څخه راووتل او ثقیف پرې غشي وورول چې ځینې صحابه کرام په کې په شهادت هم ورسېدل.

په دې جریان کې نبي کریم ﷺ امر وکړ چې د انګورو باغونو نیلې جرړې غوځې کړي، هغه و چې خلکو د انګورو جرړو په راویستلو پېل وکړ.

داسې وخبرېدم چې د ثقیف په دغه ورځو کې نبي کریم ﷺ ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته وویل: خوب مې ولید چې له کوچو څخه ډک لوښی راته ډالۍ شي چرګ (بانګي) پرې ټونګې ووهي او هر څه ترې توي کړي، ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وویل: ګومان نه کوم که له ثقیف څخه نن ورځ خپله موخه ترلاسه کړې، نبي کریم ﷺ ورته وویل: زه خو وایم چې دغه تعبیر به یې نه وي.

د عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ بي بي خویله بنت حکیم سلمیه رضي الله عَنها نبي کریم ﷺ ته وویل: که د طائف په فتح الله پاک ونازولې، نو د بادیة بنت غیلان او یا د فارغة بنت عقیل ګاڼه به ما ته راکوې، ځکه چې په ټولو ثقیف کې د دوی دواړو په څېر هېڅ زنانه سره او سپین نه لري.

ما ته د رارسیدلي راپور له مخې ورته نبي کریم ﷺ وویل: ای خویله! په ثقیف باندې د جنګ جګړې اجازه راته نه ده شوې.

خویله رضي الله عَنها لاړه او عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ یې د ثقیف سره په نه جګړه وخبر و، هغه سمدستي راغی او نبي کریم ﷺ ته یې وویل: خولې راته یوه خبره وکړه او وایې چې ګنې تا ورته ویلي دي؟ هغه ورته وویل: هو ما ورته ویلي و.

عمر رضي الله عَنْهُ ورته وویل: بیا نو خلکو ته د بېرته تګ اعلان نه کوم؟

نبي کریم ﷺ ورته وویل: ولې نه، پورته شه، هغه و چې عمر رضي الله غږ کړ چې مونږ بېرته د ستنېدو په حالت کې یو.

(۱) ابن هشام وایي: د لومړي ځل لپاره نبي کریم ﷺ د منجنیق ګوزرا د طائف په خلکو کړی دی، او دا خبره چې راته چا کړېده په روایت کې دروغجن نه بلکې ثقه دی.

چې خللک سره راټول شول سعيد بن عبيد غږ کړ چې اى خلکو! ثقيف پر ځاى پرېږدئ څه ورته مه وايئ.

عيينة بن حصن وويل: ثقفيان خو ډېر قسمت خواره دي! يو مسلمان ورته وويل: تباه شې! د نبي کريم ﷺ د مرستې په خاطر دې ګامونه راپورته کړي دي او بيا هم دمشرکانو بره او پرې ثنا وايې؟

هغه ورته وويل: زه د ثقيف سره ضد جنګ جګړې کې ستاسو کوم مرستندويه نه وم، ما غوښتل چې که الله پاک محمد ﷺ ته طائف ورکړي نو زه به په کې د وينځې ښځتن شم، شايد د ځيرک او هوښيار انسان پلار به ترې جوړ شم، ځکه چې ثقفيان ډېر هوښياران وي.

هغه مهال چې نبي کريم ﷺ طايف محاصره کړى و، ځيني غلامان راغلل او اسلام ته يې غاړه کېښوده، د اسلام په منلو نبي کريم ﷺ ازاد کړل.

د طايف خلکو چې کله اسلام ته غاړه کېښوده د نبي کريم ﷺ سره يې د هغو غلامانو اړوند خبرې شريکې کړې چې له دوى څخه يې وړاندې اسلام راوړى او ازاد شوي وو، چې حارث بن کلده په کې هم يو نمائنده و.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: نا، هغوى بېرته نه شي غلامان کېداى هغوى د الله ازاد مخلوق دى.

په طائف کې د نبي کريم ﷺ له جنګي کاروان څخه ټول دولس نفره شهيدان شوي وو چې اووه پکې له قريشو، څلور يې له انصارو او يو شهيد په کې له (ليث) قبيلې څخه و.

له طائف څخه د نبي کريم ﷺ د راستنديو په مهال بجير بن زهير بن ابي سلمى دا شعرونه وويل:

كَانَتْ عُلَالَةَ يَــوْمَ بَطْنِ حُنَيْنٍ *** وَغَدَاةَ أَوْطَاسٍ وَيَــوْمَ الْأَبْرَقِ
جَمَعَتْ بِإِغْوَاءِ هَــوَازِنُ جَمْعَهَا *** فَتَبَــدَّدُوا كَالطَّائِـرِ الْمُتَمَزِّقِ
لَــمْ يَمْنَعُوا مِنَّــا مَقَامًا وَاحِدًا *** إِلَّا جِدَارَهُــمْ وَبَطْــنَ الْخَنْدَقِ
وَلَقَدْ تَعَرَّضْنَــا لِكَيْمَا يَخْرُجُوا *** فَتَحَصَّنُــوا مِنَّا بِبَابٍ مُـــغْلَقِ
تَرْتَــدُّ حَسْرَانًــا إِلَى رَجْرَاجَةٍ *** شَــهْبَاءَ تَلْمَعُ بِالْمَنَايَــا فَيْلَقِ
مَلْمُومَةٍ خَــضْرَاءَ لَوْ قَذَفُوا بِهَا *** حَضَنًا لَظَــلَّ كَأَنَّهُ لَــمْ يُخْلَقْ
مَشْيَ الضِّرَاءِ عَلَى الْهِرَاسِ كَأَنَّنَا *** قُدْرٌ تَفَرَّقُ فِي الْقِيَــادِ وَتَلْتَقِي
فِي كُلِّ سَابِغَةٍ إِذَا مَا اسْتَحْصَنَتْ *** كَالنِّهْيِ هَبَّتْ رِيحُــهُ الْمُتَرَقْرِقِ
جُدُلٌ تَمَسُّ فُضُولُهُــنَّ نِعَالَنَا *** مِــنْ نَسْــجِ دَاوُدٍ وَآلِ مُحَــرِّقِ

❁ د حنين او اوطاس او د ابرق د جنګونو پرله پسې لړې کې خرپ ترپ مې راياد شول.

❁ په بې وقوفانه توګه پکې هوازنو خپلې لښکرې راغونډې کړې وې، لکه د چرګ د

ځانګ په څېر ترې تم شوې.

❁ له خندق او د طائف له دېوال پرته یې نور راڅخه د هېڅ ځایونو دفاع نه ده کړې.

❁ مونږ ورته په دې خاطر مخامخ شول چې دوی به جنګ ته راووځي، خو ولې له ترلې دروازې شاته راڅخه پټ شول.

❁ میدان ته ورغلي تورياليِ خپل جنګي کاروان ته بېرته ستړې ستومانه هغه لوي او خورا غټ لښکر ته راستانه شول چې پړق او ځلا یې وهله.

❁ که دغې راټول شوي لښکر ته په نجد کې د حضن د غر په لرلې کولو امر شوی وی، نو غر به یې داسې کړی و لکه بیخي چې یې په دغه ځای شتون نه درلود.

❁ زمرو مو په ازغنو بوټو ګامونه داسې پورته کړل لکه اسونه یې چې په منډه کې خپلې خپې د لاسونو په ځای کې ږدي.

❁ ځان پټې به په هر زغره کې داسې ښکارېده لکه د اوبو په ډنډوکي کې چې نرم باد (شمال) راشي او په خورا مزه ناک انداز یې خوځوي.

❁ زغرې هم هغه بهترینې زغرې وې لکه داود عَلَيْهِ السَّلَامُ او یا په حیره کې چې ال محرق جوړې کړې وې.

## له هوازن څخه د غنیمت شوي مال تقسیم

بیا نبي کریم ﷺ د خپلو ملګرو په ملتیا د دحنا له لارې طائف څخه جعرانې ته ستون شو، په لار کې ورته چا د ثقیف سره له ډېرې کینې وویل: د الله رسوله! ثقیفو ته ښېرې وکړه، نبي کریم ﷺ ورته وویل: ای الله! ثقیف ته هدایت وکړه او ما ته یې مسلمانان راوله.

له هوازن څخه چې نبي کریم ﷺ په جنګ کې د ګڼ شمېر او لاتعداد ګډو بزو او اوښانو په شمول شپږ زره وینځې او غلامان هم نیولي وو، ورته د هوازن پلاوې جعرانې مقام ته راغله، ټولو ورته وویل: ای د الله رسوله! ته ښه پوهېږې چې مونږ ستا قام قبیل یو، په کومې ستړې او ستونزې چې مبتلا یو ته پرې ښه خبر یې، الله دې په تا خپلې پېرزو لا پسې ډېرې کړې ته په مونږ پېرزو او احسان وکړه.

د ابوصرد زهیر په نوم سړی له هوازنو څخه وپاڅېد وېویل: ای د الله رسوله! د شپول[1] دننه

(۱) مخکې داسې عادت و چې په جنګ جګړه کې نیول شوې وینځې او غلامان به یې په شپولو نو کې ځای

ټولې زنانه يا ستا تندارګانې او يا ترورياني دي، او يا هم هغه ښځې دي چې په کوچنيتوب کې يې پاللی يې، که حارث بن ابي شمر او يا هم د نعمان بن منذر پالنه مو په کوچنيتوب کې کړې وه او د اوسمهال په څېر ورسره بنديوان شوي وو، نو د هغوی ظلم او ستم باوجود به ترې مونږ د خير طمع توقع لرلی وی، خو ولې ته له هر چا ښه او له خيره ډک يې.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: تاسو ته خپله شتمني زياته محبوبه ده او که د کور غړي درته ډېر ګران دي؟

هغوی وويل: د الله رسوله! ايا د شتمنيو او کورني غړو څخه اختيار زمونږ دی؟ مونږ ته خپل کورني غړي له نور هر څه نه زيات محبوب اوګران دي، که هغوی راته راکړې ډېره به ښه وي، نبي کريم ﷺ ورته وويل: زما او د عبدالمطلب زو رسيدلې برخه ما تاسو ته درکړه، او د پاتې خلکو اړوند به تاسو د ماسپښين لمونځ نه وروسته وپاځېږئ، خلک به ما ته او ما به خلکو ته د خپلو کورني غړو اړوند واسطه کړئ، زه به مو خلکو ته واسطه شم او ستاسو لپاره به ورته سوال زاري وکړم.

کله چې نبي کريم ﷺ د ماسپښين لمونځ په جماعت سره ادا کړ، د هوازن راغلي پلاوې پورته شوه او په نبوي ارشاداتو يې عمل وکړ، د خلکو په وړاندې ورته رسول کريم ﷺ وويل: زما او د عبدالمطلب زو رسيدلې برخه بېرته ستاسو شوه، ټولو مهاجرينو وويل: زمونږ د هر چا رسيدلې برخې واک د نبي کريم ﷺ سره دی، انصارو وويل: زمونږ د هر چا رسيدلې برخې واک هم د نبي کريم ﷺ سره دی.

اقرع بن حابس رضي الله عَنْهُ پورته شو او وېويل: زه او بنو تميم خپله برخه چا ته نه ورکوو، عيينة بن حصن رضي الله عَنْهُ وويل: زه او بنو فزارة هم خپله برخه چا ته نه ورکوو، عباس بن مرداس رضي الله عَنْهُ پورته شو او وېويل: زه او بنو سليم هم خپله برخه چا ته نه ورکوو، بنوسليم پورته شول چې زمونږ د برخې واک د نبي کريم ﷺ سره دی، چې څنګه يې خوښه وي مونږ پرې خوشحاله يو، عباس بن مرداس بنو سليم ته وويل: تاسو خو زه وشرمولم!!

نبي کريم ﷺ غږ وکړ چې که هر چا هوازن ته له هغوی څخه نيول شوی غنيمت بېرته ورکړ، په راروانو غنيمتونو کې به ورته د يوې برخې په سر شپږ برخې ورکړم، مهرباني وکړئ او هوازنو ته خپل بچيان او ښځې ورکړئ.

د هوازن له راغلي پلاوې څخه نبي کريم ﷺ وپوښتل چې کعب بن مالک بن عوف رضي الله عَنْهُ چرته دی؟

هغوی ورته وويل: د ثقيف سره په طائف کې تم دی.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: مالک په دې وخبروئ که راته د اسلام په حالت کې راشي نو ټوله

---

پرځای کېدل.

شتمني او د کورني غرو په شمول به مزید نور سل اوښان هم ورته ورکړم.

مالک ته د نبي کريم ﷺ پېغام په طايف کې ورسېد، هغه ویرېد چې هسې نه د طائف خلک پرې وخبرېږي او له ځان سره يې بند نه کړي! په پټه توګه يې خادمانو ته امر وکړ چې سورلۍ يې تياره او چمتو کړي، او په طائف کې ورته د ځغلند مزل لپاره اس هم تيار ودروي، د شپې له پلوه يې د نوی سفر اغاز پېل کړ، هغه و چې د نبي کريم ﷺ سره يې په جعرانه يا په مکه کې ليدل کتل وکړل، نبي کريم ﷺ ورته د کړې ژمنې په بنسټ ټوله شتمني او کورنۍ غړو په شمول نور سل اوښان هم ورکړل، له اسلام راوړو وروسته يې دا شعرونه وويل:

مَا إِنْ رَأَيْتُ وَلَا سَـمِعْتُ بِمِثْلِهِ *** فِي النَّـاسِ كُلِّهِـمِ بِمِثْـلِ مُحَمَّدِ
أَوْفَى وَأَعْطَى لِلْجَزِيلِ إِذَا اُجْتُدِيَ *** وَمَتَى تَشَـأْ يُخْـبِرْكَ عَمَّا فِي غَدِ
وَإِذَا الْكَتِيبَـةُ عَـرَّدَتْ أَنْيَابَهَا *** بِالسَّـمْهَرِيِّ وَضَرْبِ كُلِّ مُهَنَّـدِ
فَكَأَنَّـهُ لَيْـثٌ عَلَى أَشْـبَالِهِ *** وَسْـطَ الْهَبَاءَةِ خَادِرٌ فِي مَرْصَدِ

- په ټولو خلکو کې ما د محمد ﷺ په څېر تر دې کړې څوک نه دی ليدلی.
- چې کله ورسره څه شی وی نو ډېره ورکړه کوي او که وغواړی د سبا د ورځې له احوالو دې هم خبروي.
- جنګي قوه چې کله په جنګ جګړې کې سره ښه قوي شي او په نېزو او هندي تورې باندې وهل شرپول شروع کړي نو...
- نو مشرتابه (محمد ﷺ) يې د جګړې په ګرد غبار کې داسې وي لکه زمری چې په مورچه کې ناست وي او بچي يې په جګړه بوخت وي.

هغه و چې د خپل قوم په شمول يې پر ثماله، سلمه، او فهم قبيلو باندې مشر وګماره، له اسلام وروسته به يې د نورو قبيلو په شمول د خپل قام سره د ثقيف په ضد خونړيزې معرکې کولې، د هغوی په چارپايانو به يې حملې کولې، تر دې چې ابومحجن ثقفي ورپسې دا شعرونه وويل:

هَـابَتِ الْأَعْـدَاءُ جَانِبَنَا *** ثُمَّ تَغْـزُونَـا بَنُو سَـلِمَهْ
وَأَتَـانَـــا مَالِكٌ بِهِـمُ *** نَـاقِضًـا لِلْعَهْـدِ وَالْحُرْمَهْ
وَأَتَوْنَـــا فِي مَنَـازِلِنَـا *** وَلَقَــدْ كُنَّـا أُولِي نَقِمَهْ

- له يو اړخه غير اغيارو وځپلو او له بل پلوه راسره بنو سلمه هم جنګ جګړې کوي.
- مالک بن عوف دغه ټول قومونه دلته راوستل او له مونږ سره يې خپلې کړې ژمنې ورنګولې.
- زمونږ پر کورونو يې بريدونه وکړل خو ولې مونږ د غچ او انتقام خلک يو.

خلک د نبي کريم ﷺ پسې ليکه شول او چغې نارې يې وهلې چې ای د الله رسوله! په مونږ د غنيمت اوښان او ګډې بزې تقسيم کړه، تر دې چې هغه يې له لاسه ونې ته تکيه ووهله او

دوی به يې ځادر راښکو چې زرکوه... زرکوه...

نبی کريم ﷺ ورته وويل: ای خلکو! که د تهامه د ونو بوټو په څېر چارپيان مې هم لاس ته راشي په همدا تاسو يې تقسيموم، زما له اړخ به هېڅ کنجوسي، بخل او درواغ ونه وينئ.

بيا وپاڅېد او له يو اوښ څخه يې وژغنې راوويستې، د لاس په دواړو ګوتو کې يې پورته کړې او وېويل: ای خلکو! له خمس پرته زما په دې مال کې ددې وېښتانو په اندازه نور هېڅ حق نشته، او خمس بېرته په تاسو تقسيم او توزيع کوم، له غنيمت څخه بايد ټول غلا شوی مال که ستن ولې نه وي، تار ولې نه خو بېرته يې راوړئ، ورنه د قيامت په ورځ به ستاسو لپاره شرم او رسوايي وي.

د غبړ اورېدو سره سم يو انصاري له وېښتانو جوړ شوی پړی چې له غنيمت څخه يې پورته کړی و راوړ او ورته يې وويل: ای د الله رسوله! دا پړی مې په دې خاطر له اجازې پرته پورته کړی و چې د خپل اوښ د دانو علاج معالجه مې پرې کوله، نبی کريم ﷺ ورته وويل: زما برخه په کې ستا شوه، سړي وويل: چې خبره دې ته ورسېده نو زه ورته هېڅ اړتيا نه لرم.

نبي کريم ﷺ د غنيمت په توزيع کې د قومونو او قبيلو مشران او لوړ پوړو ته ډېره او لويه برخه په دې خاطر ورکړه تر څو يې زړونه خپل کړي.

ابوسفيان بن حرب رضي الله عَنْهُ او د هغه ځوی معاويه رضي الله عَنْهُ ته يې سل سل اوښان ورکړ، سل اوښان يې حکيم بن حزام رضي الله عَنْهُ ته ورکړ، سل اوښان يې حارث بن حارث بن کلدة رضي الله عَنْهُ ته ورکړ، نور سل اوښان يې سهيل بن عمرو رضي الله عَنْهُ ته ورکړ، سل اوښان يې عيينة بن حصن رضي الله عَنْهُ ته ورکړ او سل يې اقرع بن حابس رضي الله عَنْهُ ته ورکړ، سل يې مالک بن عوف او نور سل يې صفوان بن اميه رضي الله عَنْهُ ته ورکړ.

دا هغه هستيانې وې چې نبي کريم ﷺ د سلو اوښانو په ورکولو نازولې وو.

د قريشو ځينو نورو خلکو ته يې له سلو څخه راښکته برخه هم ورکړې وه، مخرمه بن نوفل، عمير بن وهب جمحي، هشام بن عمرو او د بنو عامر بن لؤی يو بل غړی – رضي الله عَنْهُمْ – وو، ورته له سلو څخه کم ورکړې وو، خو زه نه پوهېږم چې څومره وو؟

سعيد بن يربوع بن عنکثة او سهمي رضي الله عَنْهُمَا ته يې پنځوس پنځوس اوښان ورکړې وو.

عباس بن مرداس رضي الله عَنْهُ ته يې داوښانو بچي ورکړل، خو ولې هغه پرې خوښ نه و، د نبي کريم ﷺ اړوند يې ځيني بې ادبه شعرونه وويل چې:

كَانَتْ نِهَـــابًا تَلَافَيْتُهَـــا *** بِكَرِّي عَلَى الْمُهْرِ فِي الْأَجْرَعِ

وَإِيقَـاظِي الْقَـوْمَ أَنْ يَرْقُدُوا *** إِذَا هَجَـعَ النَّاسُ لَـمْ أَهْجَعِ
فَأَصْبَحَ نَهْبِي وَنَهْـبُ الْعَبِيدِ *** بَيْنَ عُيَيْنَـــةَ وَالْأَقْـــرَعِ
وَقَدْ كُنْـتُ فِي الْحَرْبِ ذَا تُدْرَإٍ *** فَلَمْ أُعْطَ شَـيْئًا وَلَـمْ أُمْنَعِ
إِلَّا أَفَائِـــلَ أُعْطِيتُـهَـــا *** عَـدِيدَ قَوَائِمِهَـــا الْأَرْبَعِ
وَمَا كَانَ حِصْـنٌ وَلَا حَابِسٌ *** يَفُوقَـــانِ شَـيْخِي فِي الْمَجْمَعِ
وَمَا كُنْـتُ دُونَ امْرِئٍ مِنْهُمَا *** وَمَنْ تَضَـعِ الْيَـوْمَ لَا يُرْفَعِ

- په خپل خرپ ترپ مې په ډېره اسانه په اسانو څايونو کې غنيمتونه تر لاسه کړل.
- خلک چې به کله ويده شول نو ما به خپل قوم راويښ کړ او ز به نه ويده کېدم.
- زما او زما د اس (عبيد) د غنيمت برخه د عيينه او اقرع ترمنځ وويشل شوه.
- په جنګ کې مې له خپل قوم څخه کلکه دفاع وکړه، نه خو پرې راته سمه ډالۍ را کړل شوه او نه ترې پوره بې برخې شوم.
- د اوښانو هغه واړه بچي راته را کړل شول چې تش په نوم څلور پښې لري او بس.
- په کور کلي (تولنه) کې د عيينه او اقرع پلاران زما په پلار هېڅ برتري نه لري.
- او نه زه له دواړو څخه کم او لږ يم، خو چې نن ورځ څوک بې عزته شو هېڅکله به سرلوړی او پورته نه شي.

د دې شعرونو په اورېدو سره نبي کريم ﷺ وويل: ولاړ شئ او له ما څخه يې ژبه پرېکړئ، صحابه کرامو رضي الله عَنْهُمْ دومره څه ورکړل چې عباس بن مرداس رضي الله عَنْهُ پرې خوشحاله شو، د نبي کريم ﷺ يې له ژبې پرېکولو څخه موخه دا وه چې نور څه هم ورکړئ[1].

ابوسعيد الخدري رضي الله عَنْهُ وايي: نبي کريم ﷺ چې کله مؤلفة القلوب او د عربانو راز راز قبيلو ته په غنيمت کې برخې ورکړې، انصارو ته يې هېڅ هم ورنه کړل، انصار له نبي کريم ﷺ په دغې تقسيم لږ زره خفه او ناخوښ وو، د ځينو له خولې نه يې بدې ردې هم وتلې وې، په دې کې سعد بن عباده رضي الله عَنْهُ راغی او نبي کريم ﷺ ته يې وويل: الله پاک تا ته درکړي غنيمت چې تا د عربانو په قومونو قبيلو او په خپل قام ټبر تقسيم او توزيع کړ نو انصار درڅخه پرې خفه او بې ټنډه دي چې تا ورته هېڅ برخه ورنه کړه.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: سعده! ته په کومه ډله کې يې؟ هغه ورته وويل: زه هم د انصارو

(۱) ابن هشام وايي: ځينو تاريخ پوهانو راته وويل چې عباس بن مرداس رضي الله عَنْهُ نبي کريم ﷺ ته راغی نو ورته يې وويل: دغه شعرونه تا ويلي دي چې (فَأَصْبَحَ نَهْبِي وَنَهْبُ الْعَبِيدِ**بَيْنَ الْأَقْرَعِ وَعُيَيْنَةَ)؟ نو ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: (بين عيينة والاقرع) دی، نبي کريم ﷺ ورته کړه: خير دی دواړه يو شی دی، ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وويل: زه د الله پاک د دې قول کلک تصديق کوم چې ستا اړوند يې ويلي دي (وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْبَغِي لَهُ...)

يو غړی یم.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: د شپول دننه ټول انصار راغونډ کړه.

سعد رضي الله عَنْهُ ولاړ او ټول خلک يې راغونډ کړل، ځينې مهاجرين هم له اجازې له مخې د خبرو اترو اورېدو لپاره ننوتل، خو ولې ځينې نور يې بېرته ستانه کړل، سعد رضي الله عَنْهُ نبي کريم ﷺ ته راغی چې تا رابللي انصار تول راغونډ شوي دي.

نبي کريم ﷺ راغی او لومړی يې په الله پاک د هغه شان سره مناسب ثناء او صفت وويل او بيا يې په انصارو غږ وکړ چې:

ستاسو زړونو او ځانونو ته له رسيدلي درد او غم نه وخبرېدم، او ستاسو د خفګان ځينې خبرې هم راته ورسېدې، خو پوښتنه دا ده چې ايا تاسو ورک لاري نه وئ چې الله درته زما په واسطه هدايت وکړ؟

ايا ناداره او محتاج نه وئ چې زما په واسطه الله په خيټه ماړه او شتمن کړئ؟

ايا خپل منځ کې سره دښمنان نه وئ چې زما په برکت مو منځ کې الله اتحاد او مينه محبت واچو؟

د هرې فقرې سره به ورته ټولو ويل: ولې نه د الله رسوله! همدغسې وه، دغه ټول د الله پاک او د هغه د رسول ځانګړې پېرزو ده.

نبی کريم ﷺ غږ وکړ: ای انصارو! ولې ځواب نه راکوئ؟

انصارو وويل: د الله رسوله! نور به څنګه ځواب درکړی شو؟ حالانکه مونږ د الله پاک او د هغه د رسول د لورينې ډېر پور وړي يوو.

نبي کريم ﷺ ورته کړه: که ستاسو خوښه وه هرومرو به مو راته ځواب راکړی وی، او هر چا به په خپلو خبرو کې رښتيا ګڼلی وئ، سره له دې چې ستاسو خبرې رښتيا هم دي، هغه داسې چې بايد تاسو ويلی وی:

خلکو په نبوت کې دروغجن ګڼلی وې او مونږ دې تصديق وکړ، مونږ دې هله مرستيالان او مرستندويه شول چې خلکو دې دښمنۍ ته بډې رانغښتې وې، خلکو له کوره وشړلې او مونږ درته ځای درکړ، د دين او ژوند په هره چاره کې دې اړتياوې لرلې مونږ درته د قام قبيل د يو غړي په څېر ګرد شيان حاضر کړل.

ای انصارو! تاسو له ما څخه په دې ناخوښ يئ چې فاني او بې ارزښته دنيا مې هغه چا ته ورکړه چې د هغوی زړونه خپلول مې پرې موخه وه ترڅو اسلام ته سمه غاړه کيږدي،

حالانکه چې تاسو مې ستاسو ايمانونو ته سپارلي ياست!!

اى انصارو! په دې خوښ نه ياست چې خلک کورونو ته د څانونو سره ګډې بزې بوځي او تاسو د الله پاک رسول او استازى خپلو کورونو ته بوځئ؟ زما دې په رب لايزال قسم وي چې د محمد واک يې په لاس کې دى که د هجرت پېښې او مسائل نه وى نو زه به د انصارو غړى وم، که ټول خلک په يوه ناوچه روان شي او انصار په بله روان شي نو زه به د انصارو د سفر ملګرى يم.

اى الله! په انصارو ورحمېږه، د انصارو په بچو ورحمېږه، او د انصارو په لمسيو باندې رحم وکړه.

ابوسعيد الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: انصارو د دې خبرو سره دومره وژړل چې ګېږې او ګرېوانونه يې لانده شول او ټولو اواز وکړ چې مونږ په دې خوشحاله يو چې نبي کريم ﷺ مو برخه ده.

په همدې ځاى نبي کريم ﷺ او ټول راغلي بېرته خپلو خپلو ځايونو ته ستانه شول.

## په اتم هجري کال کې له جعراني څخه د نبي کريم ﷺ عمره، او عتاب بن اسيد رضي الله عَنْهُ ته د مکې د چارو سپارتل

له دې پړاو وروسته نبي کريم ﷺ له جعراني څخه د مکې په لور د عمرې د اداء کولو لپاره هوډ وکړ، او په مرّالظهران کې يې پاتې غنيمتونه پرېښودل، خو چې کله يې د عمرې مراسم ادا کړل، له مکې څخه يې د مدينې په لور حرکت وکړ، او مکه کې يې په دينې او دنيوي چارو باندې عتاب بن اسيد رضي الله عَنْهُ امير وګماره، خلکو ته د قران کريم د ښونې په خاطر يې معاذ بن جبل رضي الله عَنْهُ هم پرېښود، او باقي ټول غنيمتونه نبي کريم ﷺ له ځان سره مدينې ته يوړل.

نبي کريم ﷺ دغه عمره په ذي القعده کې وکړه، او مدينې ته د ذي القعدې په اخرنيو ورځو يا د ذوالحجې په لومړيو ورځو کې ولاړ.

ابن اسحاق وايي: په دغه کال کې د حج مراسم د مشرکانو تر ولکې لاندې وو، د هجرت په اتم کال مسلمانانو د عتاب بن اسيد رضي الله عَنْهُ په مشرى د حج مراسم ادا کړل.

او د هجرت تر نهم کاله پورې د طائف مشرکان هم په خپل شرک قائم دائم وو.

# د نبي کريم ﷺ له طائف څخه له راستنېدو وروسته د کعب بن زهير تشويشناک حالت

کله چې نبي کريم ﷺ له طائف څخه راستون شو، بجير بن زهير بن ابي سلمی خپل ورور کعب بن زهير ته ليک واستو چې په مکه کې هغه وګړي چې د نبي کريم ﷺ هجوه او سپکې ستغې يې خپله دنده بولې وه، ټول ووژل، د قريشو په شاعرانو کې له ابن الزبعري او هبيره بن ابي وهب پرته نور څوک ژوندي نه دي پاتې، بلکې ټول تښتېدلي دي، خو دا چې نبي کريم ﷺ په دربار کې هر سرغړونکی ته دروازه خلاصه ده، ته هم که کولای شې په چټکه توګه ورته توبه تائب راشه، او يا هم د خپل خلاصون لپاره د ځمکې نورو برخو ته پناه يوسه، دا چې کعب دا شعرونه ويلي وو:

أَلَا أَبْلِغَا عَنِّي بُجَيْرًا رِسَالَةً *** فَهَلْ لَكَ فِيمَا قُلْتُ وَيْحَكَ هَلْ لَكَا؟

فَبَيِّنْ لَنَا إنْ كُنْتَ لَسْتَ بِفَاعِلٍ *** عَلَى أَيِّ شَيْءٍ غَيْرَ ذَلِكَ دَلَّكَا

عَلَى خُلُقٍ لَمْ تُلْفِ أُمًّا وَ لاَ أَبًا *** عَلَيْهِ وَلَمْ تُدْرِكْ عَلَيْهِ أَخاً لَكَا

فَإِنْ أَنْتَ لَمْ تَفْعَلْ فَلَسْتُ بِآسِفٍ *** وَلاَ قَائِلٌ إِمَّا عَثَرْتَ: لَعًا لَكَا

سَقَاكَ بِهَا الْمَأْمُونُ كَأْسًا رَوِيَّةً *** فَأَنْهَلَكَ الْمَأْمُونُ مِنْهَا وَعَلَّكَا

- بجير ته زما له اړخه پيغام ورسوه چې خوار شې!! راليږلې خبرې دې راته په کوم بنسټ کړې دي؟
- که په رښتيا هم دغې عقيدې ته ژمن نه يې نو اسلام ته غاړې ايښودل دې د څه په معنی دي؟ او اسلام منلو ته څه اړ کړې؟ يعني په خپل دين د سرښندنې اړوند تفصيلات راکړه.
- د داسې دين پيروکار جوړ شوې چې مور او پلار دې پرې هم نه دي ليدلي، او نه دې پرې خپل وروو ليدلی دی چې غاړه يې ورته ايښې ده
- که دغه دين دې نه وي منلی نو د خفګان خو څه پاتې نه شول او نه د دې اړتيا شته چې ووايم: له ازمېښت څخه وتل درته اسان شه.
- په تاباندې لکه چې مامون (ځکه نبي کريم ﷺ په امين مشهور و) په لومړي ځل او بيا په دوهم ځل شراب وڅښل؟

کله چې يې دغه شعرونه خپل ورور بجير رضي الله عَنْهُ ته واستول نو له نبي کريم ﷺ څخه يې پټول ښه ونه ګڼل نو ورته يې واورول، بجير رضي الله عَنْهُ چې کله د شعر دې کړی ته ورسېد

(سَقَاكَ بِهَا الْمَأْمُونُ كَأْسًا رَوِيَّةً) نبي كریم ﷺ ورته وویل: که څه هم کعب دروغجن دی خو ولې دا يې رښتیا ویلي دي او زه مامون یم.

او کله چې بیا دې ځای ته ورسېد (عَلَى خُلُقٍ لَمْ تُلْفِ أُمًا وَ لاَ أَبَا عَلَيْهِ) نبي کریم ﷺ وفرمایل: په رښتیا چې مور او پلار يې ورڅخه بې برخې وو.

ابن اسحاق وايي: چونکه د کعب رضي الله عَنْهُ کینه ګرو د هغه د مرګ او مړینې اوازې خپرې کړې چې نبي کریم ﷺ به يې هرومرو وژني، او له بلې خوا ورته د ورور لیک هم ورسېد، پراخه ځمکه پرې راتنګه شوه او په ځان ورحمېد، خپله هغه مشهوره قصیده يې وویله چې د نبي کریم ﷺ مدح او صفتونه يې په کې کړي دي، نبي کریم ﷺ يې هم وخبرو چې کینه ګرو يې اړوند د هرومرو وژلو اوازې خپرې کړېدي، خپله مدینې ته راغی، له جهینې سره چې يې سابقه دوستانه درلوده ورته پناه یوړه، د سهار په مهال يې د لمونځ لپاره مسجد ته راوست، د لمونځ څخه له وزګارېدو وروسته يې ورته اشاره وکړه چې نبي کریم ﷺ هغه دی ورشه او د سر امان ترې وغواړه.

ما ته د رارسیدلي راپور له مخې چې کعب بن زهیر رضي الله عَنْهُ ورغی د نبي کریم ﷺ مخې ته کښېناست، خپل لاس يې د هغه په لاس کې کېښود او ورته يې کړه: ای د الله رسوله! کعب بن زهیر توبه تائب او مسلمان راغلی دی، که يې درته راولم نو توبه ترې قبلوې؟

هغه ورته وویل: هو. کعب رضي الله عَنْهُ له ځنډ پرته وویل: زه کعب یم.

ابن اسحاق وايي: عاصم بن عمرو بن ثابت راته وویل چې د دې خبرې سره پرې یو انصاري راغوېه شو چې ای د الله رسوله! د الله دښمن دی، راته يې پرېږده چې سر يې قلم کړم.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: کعب پرېږدئ، له تېرو سرغړونو څخه توبه ګار راغلی دی، د انصاري ددغې رويې له کبله کعب د انصاري قبیلې ته کم او ټیټ وکتل، دا ځکه چې ټولو مهاجرینو پرې ثنا وویله، دغه مهال کعب رضي الله عَنْهُ خپله مشهوره قصیده وویله چې:

بَانَتْ سُعَادُ فَقَلْبِي الْيَوْمَ مُتَبْولُ *** مُتَيَّمٌ إِثْرَهَا لَمْ يُفْدَ مَكْبُولُ
نُبِّئْتُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ أَوْعَدَنِيْ *** وَالْعَفْوُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ مَأْمُولُ
مَهْلًا هَدَاكَ الَّذِي أَعْطَاك نَافِلَة *** الْقُرْآن فِيهَا مَوَاعِيظٌ وَتَفْصِيلُ
لَا تَأْخُذَنِّي بِأَقْوَالِ الْوُشَاةِ وَلَمْ *** أُذْنِبْ وَلَوْ كَثُرَتْ فِيَّ الْأَقَاوِيلُ
لَقَدْ أَقُومُ مَقَامًا لَوْ يَقُومُ بِهِ *** أَرَى وَأَسْمَعُ مَا لَوْ يَسْمَعُ الْفِيلُ
لَظَلَّ يَرْعَدُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ لَهُ *** مِنَ الرَّسُولِ بِإِذْنِ اللهِ تَنْوِيلُ
مازِلتُ أَقتَطِعُ البَيْداءَ مُدَّرِعاً *** جُنحَ الظَلامِ وَثَوبُ اللَيلِ مَسبولُ

حَـتّى وَضَعـتُ يَميْـني لا أُنازِعُهُ *** في كَـفِّ ذي نَقِمـاتٍ قيلُهُ القيلُ
لَهُـوَ أَخْـوَفُ عِنـدي إِذ أُكَلِّمُـهُ *** وَقِيْـلَ إِنَّكَ مَسْـبُوْرٌ وَمَسـؤُولُ
مِن ضَيغَمٍ مِن ضِراءَ الأُسْـدِ مُخدِرَةً *** بِبَطنِ عَـثَّرَ غِيْـلٌ دُوْنَـهُ غِيْلُ
يَغْـدُو فَيَلحَمُ ضِرغامَين عَيشُـهُم *** لَحمٌ مِـنَ القَومِ مَعفـورٌ خَراذِيْلُ
إِذا يُسـاوِرُ قِرْنـاً لا يَحِـلُّ لَهُ *** أَن يَـترُكَ القِرنَ إِلّا وَهُـوَ مَفْلُوْلُ
مِنـهُ تَظَلُّ حَميرُ الوَحـشِ ضامِرَةً *** وَلا تُمَـشّي بِواديـهِ الأَراجِيْـلُ
وَلا يَـزالُ بِواديـهِ أَخـو ثِقَـةٍ *** مُطَـرَّحُ الـبَزِّ وَالدِرسـانِ مَأكولُ
إِنَّ الرَسـولَ لَنـورٌ يُسـتَضاءُ بِـهِ *** مُهَنَّدٌ مِن سُـيوفِ اللهِ مَسـلولُ
في عُصبَـةٍ مِن قُرَيشٍ قـالَ قائِلُهُم *** بِبَطـنِ مَكَّـةَ لَمّا أَسـلَموا زولوا
زالوا فَمازالَ أَنكاسٌ وَلا كُشُـفٌ *** عِنـدَ اللِقـاءِ وَلا ميـلٌ مَعازيلُ
شُـمُّ العَرانينِ أَبطـالٌ لَبوسُـهُمُ *** مِن نَسـجِ داوُدَ في الهَيجا سَرابيلُ
بيضٌ سَـوابِغُ قَد شُـكَّت لَها حَلَقٌ *** كَأَنَّهـا حَلَـقُ القَفعاءِ مَجـدُوْلُ
لَيْسُـوْا مُفارِيْـحَ اِنْ نالَت رِماحُهُمُ *** قَوْماً وَلَيْسُـوا مَجازيعاً إِذا نيلـوا
يَمشون مَشْيَ الجِمالِ الزُهرِ يَعصِمُهُم *** ضَربٌ إِذا عَـرَّدَ السـودُ التَنابِيْلُ
لا يَقَـعُ الطَعـنُ إِلّا فِي نُحورِهِـمُ *** ما إِن لَهُم عَن حِياضِ المَوتِ تَهليلُ

۞ د سعاد اوږد مهاله هجران مې نن زړه وځورو، ډېر يې اړا کړا کړ خو له بند څخه يې رها نه شو.

۞ وخبرېدم چې رسول الله ﷺ راته د مرګ درکې راکړي دي، خو له رسول الله ﷺ څخه د عفوې او درګزرۍ امېد ډېر کېدلی شي.

۞ لږ زغم وکړه هغه الله دې درته د درګزرۍ مزيد هدايت نور هم وکړي چې له نبوت پرته يې درته قران کريم اضافه لورينه درکړې ده چې خورا پندونه او تفصيلات په کې دي.

۞ د غمازانو په خبرو مې چې ونه نيسې، ځکه چې کومه سرغړونه مې نه ده کړې که څه هم خبرې راپسې ډېرې شوي دي.

۞ اوسمهال زه په داسې ځای ولاړ يم او هغه څه وينم او اورم که فيل يې واوري نو...

۞ نو که رسول الله ﷺ ورته امان ورکړي سمه ده خو که ور يې نه کړي نو لړزه به يې ونيسي.

۞ د تل لپاره دښتې ميرې په مزلونو وهم، په داسې حال کې چې تاريکې مې ځان ته راغوستي وي او د شپې تورتمونو خپلې پردې راخپرې کړې وي.

❁ خپل ښي لاس مي د هغه په لاس کې کېښود چې له دښمن څخه غچ اخلي او هېڅ راز سرغړونه يې نه کوم، او خبره يې هم حق او حقانيت ده.

❁ زما په نېز د ډېر ډار خبره راته دا برېښي چې راته وويل شي چې تا ته ځيني خبرې دروست نسبت لري او له تا څخه به پوښتلې شي.

❁ له (عثر) مقام له زمري څخه هم په انتقام او غچ کې پياوړی دی چې په ګڼو بوټو ونو او ځنګلاتو کې اوسيږي.

❁ داسې زمری چې بچو ته په خپلو منډو ترړو له خلکو څخه داسې غوښه ورکوي چې په خاورو کې يې توکړې پرتې وي.

❁ کله چې د همسيال سره مخ اتې شي نو تر هغه خپل سيال نه پرېږدي چې مات او ګوډ کړی يې نه وي او شکست يې نه وي ورکړی.

❁ د (جو) مقام ښکارګر حيوانات ترې هم ډارېږي او نه يې په لارو کودرو ډلې ډلې خلک تللی شي.

❁ ددغې زمري له پياوړي شجاعت له کبله هېڅ دلاور او زرور انسان نه شي تېرېدی مګر شليدلې جامې به داسې پروت وي چې زمري به خوړلی وي.

❁ پيغمبر پاک ﷺ رښا ده چې خلک ترې رڼا اخلي، او د الله پاک هغه راويستل شوې توره ده چې په هند کې جوړه شوېده.

❁ کله چې د مکې هستوګنوال مسلمانان شول نو مکې کې د قريشو په ډله کې يو چا وويل: نور مه تم کيږئ او لاړ شئ (مديني ته).

❁ له مکې څخه په داسې حالت کې ستانه شول چې نه کمزوري او بې وزله وو او نه جنګې ډګر کې بې تورې او بې ډاله وو، او نه داسې وو چې په اسونو يې ځانونه نه شول ټينګولی او يا ورته پورته کېدلی نه شول.

❁ ټول ښايسته لوړ پوزي بې تحاشا بهادر او دلاور وو، ګويا کې د داود عَلَيْهِ السَّلَامُ په لاس جوړې شوې زغرې يې جنګ کې اچولې وې.

❁ سپينې او په بدن پوره زغرې چې کړۍ يې هم درلودې په ځان داسې راچولې وې لکه (قفعاء) ازغې دار بوټی چې په ځمکه خور وور پروت وي.

❁ که غليم اغيار کله هم په خپلو غشو دل دول کړي نو ډېرې خوشحالۍ پرې نه کوي او که خپله شکست وخوري نو ډېرې جزعې فزعې هم نه کوي.

❁ د سپينو اوښانو په څېر مزل کوي، او غليم ترې لکه د ټيټو او کوچنيو اوښانو په څېر تښتي او دوی.

❁ د تل لپاره په مرۍ باندې تېونه خوري، هیڅکله د مرګونو له ډګره فراري او تښتېدونکي نه دي.

عاصم بن عمرو بن قتاده رضي الله عَنْهُ وايي: کله چې کعب بن مالک رضي الله عَنْهُ د قریشو مهاجرین ځانګړي ستائنه وکړه او د خپلې قصیدې په دې کور (إذا عَرَّدَ السودُ التَنابيلُ) کې انصارو ته اشاره وکړه، نو انصار پرې خفه او بې تنده شول، نو له اسلام راوړ وروسته به يې انصار په نېکو او ښو صفتونو ستايل، او هغه سترې او تکليفونه يې ورله ياد کړل چې د نبي کريم ﷺ په ملتيا کې يې ګاللي وو، هغه وويل:

مَـــنْ سَرَّهُ كَرْمُ الْحَيَاةِ فَلَا يَزَلْ *** فِي مِقْنَبٍ مِـــنْ صَالِحِي الْأَنْصَارِ
وَرِثُـــوا الْمَكَارِمَ كَابِـــرًا عَنْ كَابِرٍ *** إِنَّ الْخِيَـــارَ هُـــمُ بَنُـــو الْأَخْيَارِ
الْمُكْرِهِـــينَ السَّـــمْهَرِيَّ بِأَذْرُعٍ *** كَسَـــوَالِفِ الْهِنْدِيِّ غَيْرَ قِصَارِ
وَالنَّاظِرِيـــنَ بِأَعْـــيُنٍ مُحْمَـــرَّةٍ *** كَالْجَمْرِ غَيْـــرَ كَلِيْلَـــةِ الْأَبْصَارِ
وَالْبَائِعِـــينَ نُفُوسَـــهُمْ لِنَبِيِّهِـــمْ *** لِلْمَـــوْتِ يَـــوْمَ تَعَانُـــقٍ وَكِـــرَارِ
وَالْذَائِدِينَ النَّاسَ عَـــنْ أَدْيَانِهِمْ *** بِالْمَـــشْرَفِيِّ وَبِالْقَنَـــا الْخَـــطَّارِ
يَتَطَهَّـــرُونَ يَرَوْنَـــهُ نُسْـــكًا لَهُمْ *** بِدِمَـــاءِ مَنْ عَلِقُوا مِـــنَ الْكُفَّارِ
دَرِبُوا كَمَا دَرِبَـــتْ بِبَطْنِ خَفِيَّةٍ *** غُلْبُ الرِّقَابِ مِنْ الْأَسْوَدِ ضَوَارِي
وَإِذَا حَلَلْـــتَ لِيَمْنَعُـــوكَ إِلَيْهِمُ *** أَصْبَحْتَ عِنْـــدَ مَعَاقِلِ الْأَعْفَارِ
ضَرَبُوا عَلِيًّـــا يَوْمَ بَـــدْرٍ ضَرْبَةً *** دَانَـــتْ لِوَقْعَتِهَـــا جَمِيْـــعُ نِزَارِ
لَـــوْ يَعْلَـــمُ الْأَقْوَامُ عِلْـــمِي كُلَّهُ *** فِيهِـــمْ لَصَدَّقَنِي الَّذِيـــنَ أُمَارِي
قَـــوْمٌ إِذَا خَوَتِ النُّجُـــومُ فَإِنَّهُمْ *** لِلطَّارِقِـــيْنَ النَّازِلِـــيْنَ مَقَـــارِي
فِي الْغُرِّ مِنْ غَسَّانَ مِنْ جُرْثُومَةٍ *** أَعْيَـــتْ مَحَـــافِرُهَا عَلَى الْمِنْقَارِ

❁ که له ژوند څخه څوک خوند او مزې اخلي نو د انصارو شاهسوارانو په ډله کې دې وننوځي.

❁ د ستاينې وړ خويونه يې کشر له مشر څخه په ميراث کې اخستي دي، په رښتيا چې خپله هم شريف او باعزته او هم د شريفانو بچي دي.

❁ غشي او نېزې يې په خپل ټول طاقت داسې پورته کړي وي لکه د هند هغه پوره اوږدې ساختماني توري چې لنډې نه وي..

❁ له رنځ پرته د سکروټو په څېر تکو سرو سترګو باندې غليم ته ګځي.

❁ د سخت جنګ او خرپ ترپ په ورځ د پېغمبر پاک ﷺ سره په مرګ باندې بيعتونه

کوي.

- خلک له خپلو فاسدو دينونو څخه په تکو سپينو تورو او نېزو چې په هوا کې خوځول کېږي راخوځول کېږي پرې رابندوي.
- له کفارو او ورسره تړل ملګرو ضد جنګ جګړه هغه ستر عبادت بولي چې انصار پرې ځانونه له ګناهونو څخه پاکوي.
- د خفيه درې د قوي ځتونو زمريانو په څېر چې په ښکار روزل شوي وي دوی هم په جنګ جګړه روزل شوي دي.
- که دې ورته امان راوړ نو داسې به دې محفوظ له غليمه وساتي لکه د غرونو په سرونو کې چې صحراي غوين مال خپل بچي له بريده ساتي.
- د بدر په ورځ يې علي بن مسعود په دومره مرګوني ګوزار وهلی و چې ټول بنو نزار يې تندريز ګوزار ته غاړه ګېښوده.
- که په انصارو باندې نور خلک زما په څېر تجربوي عبور ولري نو هغه خلک به مې رښتونې وګڼي چې راسره ددوی اړوند جنګ کوي.
- کله چې بارانونه ونه شي، نو په قحطونو او سوکړو کې دوي د شپې راغلي ميلمانه هم په ښه توګه پالي.

ابن هشام وايي: ويل کېږي چې کعب رضي الله عَنْهُ نبي کريم ﷺ ته خپله هغه قصيده واوروله چې د سعاد ستاينه يې په کې کړې وه (بانت سعاد فقلبي اليوم متبول..) نو نبي کريم ﷺ ورته وويل: که دسعاد پر ځای دې انصار ستايلي وو ډېر ښه به دې کړي و، نو بيا يې دغه مذکوره قصيده وويله.

د علي بن زيد بن جدعان رضي الله عَنْهُ په روايت راته چا وويل چې کعب رضي الله عَنْهُ د (بَانَتْ سُعَــادُ فَقَلْبِـي الْيَوْمَ مُتَبْـولُ) قصيده نبي کريم ﷺ ته په مسجد کې واوروله.

## په نهم هجري کال کې د تبوک غزا

له ذي الحجې څخه تر رجب پورې نبي کريم ﷺ په مدينه کې پاتې شو او بيا يې خلک وخبرول چې د روم ضد جګړې ته تيارى ونيسي.

مونږ ته خپلو مشايخو او استاذانو لکه زهري، يزيد بن رومان، عبدالله بن ابي بکـر، عاصم بن عمر بن قتاده رَحِمَهُمُ الله او نورو د غزوه تبوک اړوند بېلابېل هغه معلومات راکړل چې

څنګه ورته رسيدلي وو، هغوی راته ويلي دي چې:

نبی کريم ﷺ خپل ملګري د روم ضد جګړې ته چمتوالي باندې داسې حالت کې وخبرول چې ګرمۍ او تودوخه اوج ته رسيدلې وه، وچکالۍ هم سيال نه درلود، د فقرو فاقت او ناداری شپې ورځې وې، هرڅوک بې وسه او هر څوک تنګدسته وو، مېوه جات په باغونو کې تازه پخ شوي وو، په دغسې حالت کې هر چا غوښتل چې په کور کاله کې دننه پاتې شي او د هېڅ ډول غير اغيارو سره مشت او ګريوان نه شي.

د نبی کريم ﷺ مبارک عادت و چې کله به يې د غزا لپاره نيت وکړ نو د بل ځای په نوم به له مدينې څخه ووت، خو ولې د تبوک په غزا کې يې د بل ځای نوم بيخي ياد نه کړ او خلک يې په لومړي پړاو کې وخبرول ترڅو د تبوک غزا لپاره هراړخيز چمتوالی ونيسي، دا ځکه چې يو خو يې د دښمن ترمنځ پرته فاصله ډېره زياته وه او شمېر يې هم پرې لوړ و، او تنګې سختي هم ډېره وه، يوه ورځ چې نبي کريم ﷺ د روميانو په ضد جګړې ته خلک هڅول جد بن قيس منافق ته يې وويل: څه پام لرې چې سږکال به د روميانو ضد جګړه کې ونډه ولرې او که نه؟

جد بن قيس چې د بنو سلمه د قبيلې غړی و، نبي کريم ﷺ ته يې وويل چې هسې نه په فتنه کې مې وانه اچوې!! که په مدينه کې راته د پاتې کېدو اجازه وکړې ډېره به ښه وي!! لوړه په رب لايزال چې قوم مې هم خبر دی چې د ښځو سره ميني محبت له کبله مې لوړې ژورې خطا کيږي، او په ځانګړې توګه د روميانو ښځې که مې وليدې هلته به يې په غم اخته شوی يم.

هغه چې نبي کريم ﷺ ترې مخ واړو او اجازه يې ورکړه چې ته ناست ووسه.

وخت څه تېر و چې د جد بن قيس اړوند الله وحي نازله کړه ﴿وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ٱئْذَن لِّي وَلَا تَفْتِنِّيٓۚ أَلَا فِي ٱلْفِتْنَةِ سَقَطُواْۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةُۢ بِٱلْكَٰفِرِينَ﴾(١)

معنی دا شوه چې که جد بن قيس په دې بهانه چې د روميانو ښځو ښايست يې فتنه کې وانه اچوي نو د کفر او نفاق په کومه فتنه کې چې جد بن قيس اخته دی هغه ډېر لوی ازمېښت دی، خپل ځان ورته دومره ګران دی چې د نبي کريم ﷺ په ملتيا د دښمن سره جګړېزه مقابله نه خوښوي.

منافقانو په حق کې له شک او شبهې له کبله، له جهاد نه کولو په خاطر او د رسول الله ﷺ اړوند غلطو اوازو د خپرولو په موخه به يې يو بل ته ويل چې په دومره ګرمۍ کې مه ووځئ، نو الله دا ايت نازل کړ ﴿وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلْحَرِّۗ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوْ كَانُواْ يَفْقَهُونَ ٨١ فَلْيَضْحَكُواْ قَلِيلٗا

(١) سورت توبه: (٤٩). ژباړه: او ځينې منافقان يې لا دا وايي چې د ناستې اجازه راته راکړه او په فتنه کې مې مه اچوه، خبردار چې دوی په فتنه کې لويدلي دي او ډېر زر به د جهنم اور کافران په ځان کې راحصار کړي.

﴿وَلْيَبْكُواْ كَثِيرًا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ ۝﴾[(١)]

ابن اسحاق وايي: نبی کريم ﷺ د چټکې چمتوالي ښوونې وکړې، بډايان يې د بې وزله او تنګدسته مجاهدينو ته دلارې د توښې او سورلۍ په تيارولو وهڅول، زياتو شتمنو پکې ونډه ولرله او په خپل دغې نېک کار يې له الله څخه د بدلې طمع توقع لرله.

عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ د تبوک په غزا کې بې سارې او کم سارې مالي مرسته وکړه[(٢)].

له دې وروسته له انصارو او نورو قومونو او قبيلو څخه نبي کريم ﷺ ته اووه نفر راغلل او ورته يې د خپلې تنګدستۍ فرياد وکړ او له خپلې تنګدستۍ يې ورته وژړل، بنوعمرو بن عوف نه ورته سالم بن عمير، له بنوحارثه نه ورته علبة بن زيد، له بنو مازن څه ورته ابوليلى عبدالرحمن بن کعب، له بنو سلمه څخه ورته عمرو بن جموح او بل چې د عبدالله بن مغفل مزني يا عبدالله بن عمرو مزني رضي الله عَنْهُمْ وو راغلل، په دې خلکو کې له بنو واقف څخه هرمي بن عبدالله او عرباض به ساريه فزاري رضي الله عَنْهُمَا هم راغلي وو، دوی ټولو له نبي کريم ﷺ څخه وغوښتل چې دلارې د سورلۍ غم يې وخوري، خو نبی کريم ﷺ ورته وويل: تاسو ته د لارې توښې او سورلۍ څخه بې توانه يم، هغوی ترې په داسې حالت کې ستانه شول چې له سترګو يې اوښکې فوارې روانې وې.

زه داسې خبرشوم چې ابن يامين بن عمير بن کعب نضري رضي الله عَنْهُ د ابوليلى عبدالرحمن بن کعب او عبدالله بن مغفل رضي الله عَنْهُمَا سره وکتل چې دواړو ژړلې، هغه ورڅخه وپوښتل چې ولې ژاړې؟ دواړو ورته وويل: مونږ نبي کريم ﷺ ته ولاړو چې د لارې د سورلۍ لپاره به راته څه راکړي، نه له هغه سره سورلۍ وه او مونږ هم بې توانه يو، هغه ورته د اوبو راوړلو لپاره خپله ځانګړې اوښه ورکړه، دواړو پرې زين کېښود، د خوراک لپاره يې هم ورته څه اندازه کجورې ورکړې او د نبي کريم ﷺ په ملتيا غزا ته ووتل.

ځينې تاريخ پوهان ذکر کوي چې ابن يامين رضي الله عَنْهُ چمتو کړي مجاهدين د بنو غفار د قبيلې غړي وو.

د لړې په دې جريان کې نبي کريم ﷺ ته له بانډو نه هغه خلک راغلل چې په غزا کې د نه برخې لرلو اړوند يې عذرونه او بهاني وړاندې کولې خو ولې الله پاک په کې د هېڅ چا عذر

(١) سورت توبه: (٨١-٨٢). ژباړه: منافقانو به يو بل ته ويل چې په سخته ګرمۍ کې جهاد ته مه وځئ، ورته ووايه چې د ګرمۍ په پرتله د جهنم اور ډېر ګرم دی، خو کاشکې چې په خبره سم پوهېدای!! * دوی دې لږه خندا برڅا وکړي او ډېر به وژاړي، دا به ستاسو د کړي عملونو سزا وي.

(٢) ابن هشام وايي: يو ښه او نېک سړي راته وويل: د تبوک په غزا او دغې سترې معرکه کې عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ زر ديناره نفقه کړل، نبي کريم ﷺ وويل: ای الله! زه له عثمان څخه راضي يم ته ورڅخه راضي شه.

قابل قبول ونه ګرځو.

له دې پړاو وروسته نبي کريم ﷺ د خپل کلک هوډ له مخې سفر ته اغاز وکړ او مکې ته په لاره کې يې په ثنية الوداع مقام کې دمه واخسته، په دې غزا کې د نبي کريم ﷺ سره د ملتيا نه کولو نه ځينې داسې ايمانداري او رښتوني هستۍ پاتې شوې وې چې عذر احتياج يې نه درلود خو ولې په اسلام پالنې کې يې هم هيڅ شک او شبهه نه وه چې له جملې څخه يې کعب بن مالک، مرارة بن الربيع او هلال بن اميه او ابوخيثمه رضي الله عَنْهُمْ وو.

باقاعده عبدالله بن ابي بن سلول د نبي کريم ﷺ نه ښکته مدينې پلو غر ذباب کې د خپلو پلويانو دمه ځای ونيو، هېره دې نه وي چې د دوی شمېر هم څه پاتې کم نه و.

نبي کريم ﷺ چې کله سفر ته مزيده ادامه ورکړه، عبدالله بن ابي بن سلول ورحخه د خپلو منافقانو پلويانو په ملتيا پاتې شو، چونکه نبي کريم ﷺ علي رضي الله عَنْهُ په ټولو کورنې خدماتو ګمارلی و، منافقانو چې وليد وربانديې يې تورونه پورې کړل چې علي رضي الله عَنْهُ يې ځکه پرېښې دی چې پرې بوج و، تر څو ورڅخه خپې سپکې کړي دا يې ځکه پرېښود.

علي رضي الله عَنْهُ د خپرو شويو تورونو اروېدو له کبله خپل جنګې اوزار راواخستل او د نبي کريم ﷺ پسې دومره ځغلند ولاړ چې د جرف[1] نوم ځای کې يې رالاندې کړ او ورته يې وويل: ای د الله پیغمبره! منافقان په مدينه کې انګيروي چې زه دې ګنې په دې خاطر پرېښی وم چې په لاره کې درباندې بوج وم.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: دروغ وايي او په تاپسې پروپاګند کوي، ما خو ته په خپلې کورنۍ باندې نګران ګمارلی وې، څه بېرته ستون شه، زما او د خپلې کورنۍ اړوند دندې انجام کړه، تا ته دا نه پسنده نه ده چې له ما څخه وروسته په مرتبه کې داسې شې لکه هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ چې له موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ څخه و، خو دومره ده چې له ما وروسته د انبياؤ سلسله وجود نه لري.

دا چې نبي کريم ﷺ د څو ورځو په اندازه مسافه وهلې وه ابوخيثمه رضي الله عَنْهُ چې د دوو ښځو څښتن و، خپل باغ ته ننوت، هرې يوې ورته خپل خپل باغ کې وهلې چوپالونه پاک صفا او په اوبو يخ کړي وو، يخې او خوندورې اوبه يې ورته اېښې وې، کله چې ابوخيثمه رضي الله عَنْهُ دغه نعمتونه وليدل د ځان سره يې وويل: دا بيخي عدل او انصاف نه دی چې زه دې له ګرمۍ پټ او پناه په يخ سيورې کې د خوندورو خوارو او خپلو ښايسته ښځو سره په شخصي جايداد کې په مزو چړچړوبوخت يم، او نبي کريم ﷺ به په سخته ګرمۍ تودو بادونو کې د لمر په سوزېنده لمبوکې وي!

بيا يې وويل: په الله پاک مې دې سوګند وي چې تر څو هم نبي کريم ﷺ سره مل شوی نه يم نو ستاسو د يوې چوپالکې ته به هم ونه ننوځم، دواړه بايد راته په چټکه توګه د لارې توښه راکړئ،

(۱) جرف د شام په لور له مدينې څخه د درېو ميلو په اندازه کې پرته سيمه ده.

دواړو ورته توښه برابره کړه او اوښه ورته راوستل شوه، زين يې پرې واچو، له دې څخه وړاندې عمير بن وهب جمحي رضي الله عَنْهُ چې په لاره کې يې د نبي کريم ﷺ تالاش پلټنه کوله، دواړه سره ملګري شول او هله يې په مزل کې رالاندې کړل چې هغوی تبوک ته رسيدلي وو.

ابوخيثمه او عمير بن وهب رضي الله عَنْهُمَا دواړه چې کله تبوک ته نزدې شول ابو خيثمه رضي الله عَنْهُ عمير بن وهب رضي الله عَنْهُ ته وويل: له ماڅخه سرغړونه شوې ده، ترهغه راڅخه مه وروسته کيږه تر څو نبي کريم ﷺ ته يو ځای ولاړ شو، هغه ورسره هم داسې وکړه.

نبي کريم ﷺ چې په تبوک کې دمه اړولې وه، خلکو په لاره کې شاه سوار وليد چې په لور يې راروان دی، نبي کريم ﷺ وويل: دا به ابوخيثمه وي، چې راورسېد خلکو وويل: د الله رسوله ﷺ دا خو په رښتيا ابوخيثمه دی.

ابوخيثمه رضي الله عَنْهُ چې کله خپله اوښه چو کړه، نبي کريم ﷺ ته راغی او سلام يې پرې وکړ، نبي کريم ﷺ ورته وويل: ډېره نزدې وه چې غرق شوی وې!! بيا ورته ابوخيثمه رضي الله عَنْهُ خپله ټوله لړې واوروله.

نبي کريم ﷺ د حِجَر مقام ته ورسېد، هلته خلکو دمه او لږه ساه واخسته او له څاګانو څخه يې اوبه هم وڅښلې، بيا ورته نبي کريم ﷺ وويل: چې نه اوبه وڅښئ او نه پرې اودسونه وکړئ، کوم وړه چې مو په دې اوبو اغښلي وي اوښانو ته يې بوتاوه کړئ او د خوراک لپاره يې مه تياروئ، له ملګري پرته دې نن شپه هېڅ څوک هم يک او يواځې له معسکر څخه بهر نه وځي.

له بنوساعده قبيلې دوو غړو پرته نورو ټولو خلکو د نبي کريم ﷺ ارشاداتو ته غاړه کېښوده، يو غړي په کې د قضاء حاجت لپاره بهر شوی و چې د اودس ماتي په ځای (مقعد) کې په رنځ اخته شوی و.

او بل د خپل ورک شوي اوښ په تالاش کې وتلی و، طوفاني باد پورته کړی و او د (طي) په غرونو کې يې غورځولی و.

د دواړو اړوند راپور چا تر نبي کريم ﷺ ورسو، هغه وويل: ما تاسو ته نه و ويلي چې له مل پرته دې هېڅ څوک يواځې نه وځي؟

له دې وروسته نبي کريم ﷺ په رنځ اخته شوی راوغوښت او د زر صحت يابۍ لپاره يې ورله دعا وغوښته، هغه و چې الله پاک ورته صحت ورکړ.

او د بنوطي په غرونو کې راولېدلی غړی بنوطي نبي کريم ﷺ ته په تحفه کې ورکړ.

کله چې په خلکو سهار راوخوت د اودس لپاره د هېڅ چا سره اوبه نه وې، نبي کريم ﷺ ته ټولو شکايت وکړ، نبي کريم ﷺ الله پاک ته خپل لاسونه لپه کړل، وريځه راغله او باران وشو،

خلك هم خړوب شول او له ځانونو سره يې اوبه هم ذخيره کړې.

پېښه دا وشوه چې په لاره کې له نبي کريم ﷺ څخه اوښه بې درکه شوه تول خلک يې په لټون بوخت شول، د نبي کريم ﷺ په ملګرو کې د بنوعمرو بن حزم کاکا عُمارة بن حزم چې د عقبې د بيعت ګډونوال او بدري صحابي و په خپل ګروپ کې يې له زيد بن اللصيت چې لوی منافق و، ورڅخه واورېدل: محمد خو په ډېر باور وايي چې پېغمبر دی، له اسمان څخه په راستول شوي تول خبرو مو خبروي، او حالانکې د خپلې ورکې شوې اوښې اړوند ورته هېڅ راپور نشته؟؟

نبي کريم ﷺ وويل: په تاسو کې يو سړی دی، په خلکو کې تبليغات کوي چې محمد ځان خلکو ته پېغمبر ورپېژني، دا ګمان کوي چې له اسمان څخه راغلي خبر باندې مو خبروي، خو ولې د خپل ورک شوي اوښ معلومات ورته بيخي نشته، زما دې په الله قسم وي چې زه يواځې په هغه پوهېږم چې الله پاک پرې پوهولی يم، ما ته مې الله پاک ورک شوی اوښ راوښود، زما اوښه په دغې ناوچه کې چې په ونه کې يې مهار نښتی دی حصاره ده، ولاړ شئ او اوښ مې راولئ.

خلک ولاړل او اوښ يې راوستو، نو عماره رضي الله عَنْهُ هم خپل معسکر ته يې وويل: نبي کريم ﷺ چې کومې ويناوې اوسمهال وکړې د ډېرې حيرانتيا وړ او له تعجب نه ډکې وې، د فلانکي سړي په خبرو هم الله پاک خبرولی و، زيد بن اللصيت ته يې تولې خبرې وکړې، د جنګي قافلې په دغه معسکر کې يو سړي وويل: دا خبرې که څه هم زيد بن اللصيت کړې دي خو مونږ هېڅ چا پرې نبي کريم ﷺ نه دی خبرولی.

عمارة رضي الله عَنْهُ په داسې حالت کې په لوړ اواز غږ کړ چې زيد بن اللصيت يې په څټ څټ کې ووهو: ای د الله بندګانو! ما ته راشئ، زما په ډله کې لوی رنځ رامنځ ته شوی دی خو زه پرې پوهه شوی نه وم.

بيا يې ورته وويل: ای د الله دښمنه! زما سره له ملګرتوب څخه جلا شه چې نور دې ونه وينم.

ځينې تاريخ پوهان وايي: له دې تريخ پړاو ورسته زيد بن اللصيت رښتنې توبه وويسته، خو ولې نور ځينې وايي چې د ژوند تر اخره سلګې پورې منافق و او منافق ومړ.

بيا نبي کريم ﷺ سفر ته دوام ورکړ په لاره کې به ترې څوک تپ او پاتې شو، خلکو به غږ کړ چې د الله رسوله! پلانکی سړی پاتې شو!!

هغه به ورته کړه: پرېږدئ چې پاتې شي، که خير او فايده په کې وه الله پاک به يې درسره مل کړي، او که خير پکې نه وي نو ايله ترې الله خلاص کړئ.

تر دې چې چا ورته وويل: د الله رسوله! ابوذر رَضِیَ الله عَنْهُ پاتې شو؟

هغه ورته وويل: پرېږدئ چې پاتې شي، که خير اوفايده په کې وه الله به يې ستاسو ملګری

کړي او که فايده په کې نه وه نو ايله ترې الله خلاص کړئ.

ابوذر رضي الله عَنْهُ چې خپلې اوښې ته يې ډېر انتظار وويست چې ګړندۍ به شي خو ونه شوه، بالاخره يې ترې خپل سازوسامان راواخست او خپله يې بار کړ او پېدل پېدل د نبي کريم ﷺ په نقش قدم پسې روان و، چونکه نبي کريم ﷺ او ملګرو يې دمه اخستې وه نو له ورايه چا وليد غږ يې کړ چې اى د الله رسوله! لرې څوک پيادل راروان دى!!

نبي کريم ﷺ وويل: شايد ابوذر رضي الله عَنْهُ وي، چې رانږدې شو نو خلکو ورته وويل: دالله رسوله! په رښتيا ابوذر رضي الله عَنْهُ دى.

نبي کريم ﷺ وويل: الله دې د ابوذر رضي الله عَنْهُ مل شي، د هغه تلل راتلل، د هغه مرګ او مړينه او د هغه بعث او نشر به يواځې يواځې کيږي.

عبدالله بن مسعود رضي الله عَنْهُ وايي: عثمان بن عفان رضي الله عَنْهُ چې کله د خپل واک په دور کې ابوذر رضي الله عَنْهُ د ربذې مقام ته په داسې حالت کې واستو چې له خپلې ښځې او غلام پرته ورسره نور څوک نه وو، هلته اجل واخست، دواړو ته يې وويل: چې کله ومرم غسل به راته راکړئ او په کفن کې به مې ونغاړئ، د لارې په منځ کې به مې کيږدئ، چې کله هم لومړۍ قافله راشي ورته به ووايئ: د نبي کريم ﷺ د خوږ ملګري ابوذر رضي الله عَنْهُ په تدفين کې راسره مرسته وکړئ.

چې کله وفات شو د وصيت سره سم دواړو همدغسې وکړل، او د لارې په منځ کې يې کېښود، څه ګوري چې د عبدالله بن مسعود رضي الله عَنْهُ په مشرۍ څه شمېر خلک د عمرې ادا کولو په خاطر راروان وو، هغوی وکتل چې د لارې په منځ کې جنازه ايښې ده، وډارېدل نزدې وه چې اوښان پرې ښبې کيږدي، غلام زر ورو پاڅېد او پر خلکو کې يې غږ کړ چې دا د نبي کريم ﷺ د نزدې ملګري ابوذر رضي الله عَنْهُ جنازه ده، مونږ سره يې په تدفين کې مرسته وکړئ.

عبدالله بن مسعود رضي الله عَنْهُ د (لَاَاِلَهَ اِلاَّ الله) کلمات په لوړ غږ وويل او په وېر ژړا يې پيل وکړ چې يواځې مړ شوې او يواځې به بېرته راپورته کيږي، بيا عبدالله بن مسعود رضي الله عَنْهُ ورسره شته خلکو ته په تبوک کې د نبي کريم ﷺ کړې خبره واوروله.

بيا يې وويل، نبي کريم ﷺ رښتيا ويلي و چې: تګ راتګ دې هم يواځې دى، او يواځې مړ شوې اويواځې به راپورته کيږې.

بيا عبدالله بن مسعود د خپلو ملګرو په شمول له اوښانو څخه راښکته شول او هغه يې دفن کړ.

تبوک ته په رسېدو نبي کريم ﷺ ته د ايلې واکمن يُحَنَّة بن رُؤبَه تسليم راغى د نبى کريم ﷺ سره له خيالاتو تبادلې وروسته يې ټېکس ته غاړه کېښوده، د جرباء او ذرح مقام هستوګنوالو هم ټېکس ته غاړه کېښوده، نبي کريم ﷺ يې د سرساتنې لپاره ورته ليکلې ژمنه ورکړه چې له

ځانونو سره يې سمبال ساتلې وه.

د يُحَنَّة بن رؤبه سره يې دا تړون ليکلی و:

[بسم الله الرحمن الرحيم، دا لاسليک د يحنة بن رؤبه لپاره د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ له اړخ د امن او ډاډ پيغام دی، دا امن ليک د ايلې مقام ټولو هستوګنوالو او کښتيو او تجارتي کاروانونو ته په وچه او لونده کې عام او تام دی.دوی ټول د الله پاک او د محمد ﷺ په ذمه کې دي، دا امن ليک د شام او يمن او بحر ټولو خلکو ته هم شامل دی.که د امن ليک له بندونو څخه هر چا سرغړونه وکړه، امن او شتمنې به يې د امن له دائرې څخه وځي، که د سرغړونې په مهال يې هر څوک په شتمنۍ غازي شو نو خوړل يې روا دي، د دې لاسليک په بنسټ د مذکوره خلکو له هيڅ اوبو څخه مخه نه شي نيول کيدای، او نه يې د بحر يا د وچې له لارې تجارتي کاروانونو مخه نيول کيدای شي].

## نبي کريم ﷺ اکيدر دومه ته د خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ استول

بيا نبي کريم ﷺ خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ د بنو کنده نصراني واکمن اکيدر بن عبدالملک ته واستو، او ورته يې وويل: [شايد هغه په داسې حالت کې وګورې چې صحرايي غوا به ښکار کوي].

خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ ووت تر دې چې د هغه ماڼۍ يې په نظر راغله، چونکه د شپې د سپوږمۍ رڼا زياته وه، نصراني واکمن د خپلې ښځې په ملتيا له ماڼي څخه سر پورته کړ، ځه ګوري چې غويا له بهر څخه ماڼې په ښکرونو وهي، ښځې ورته کړه: داسې غوا دې چرته په ژوند کې ليدلې ده؟

هغه ورته وويل: نا، ښځې ورته وويل: ايا داسې ځربه غوا به څوک له لاسه ورکړي؟

هغه وويل: نا هيڅ څوک به يې ورنه کړي.

د ماڼۍ له بامه راښکته شوه، د ښکار لپاره يې د امر سره سم اس په زين سمبال شو، د حسان نوم ورور په ملتيا ورسره نور کورني غړي هم ووتل، ناڅاپه ورسره د نبي کريم ﷺ استول شوی جنګي کاروان مخامخ شو، که څه يې هم هغه خپله بندي کړ خو ولې ورور يې ورله وواژه، او په غاړه چپن چې د سرو زرو تارونو او ريښمو باندې ګل شوې وه خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ ترې په غنيمت کې واخسته او مخکې له دې چې مدينې ته راشي چپن يې نبي کريم ﷺ ته راواستوله.

انس بن مالک رضي الله عَنْهُ وايي: اکيدر بن عبدالملک چې کله مدينې ته راوستل شو د

غاړې چېن ته يې خلکو تعجب او حيرانتيا په نظر وکتل، ګوتې به يې وروړلې او حيرت اخستي وو، نبي کريم ﷺ ورته وويل: تاسو دې ته حيرانتيا وړې ياست؟ په جنت کې د سعد بن معاذ رضي الله عَنْهُ د ستمالونه له دې څخه نهايت زيات پاسته او ښايسته دي.

ابن اسحاق وايي: خالد رضي الله عَنْهُ چې کله هم اکيدر بن عبدالملک مديني راوست، نبي کريم ﷺ ورته د ټيکس د ادائيګي په بدل کې وينه حرامه کړه او مخه يې ورله خلاصه کړه تر څو کلي ته ستون شو.

نبي کريم ﷺ په تبوک کې څه دپاسه لس شپې تېرې کړې او بېرته مديني ته راستون شو، د تبوک او مديني ترمنځ يوه چينه وه چې له يو څخه تر درې خلکو پورې ترې اوبه څښلی شوې، نبي کريم ﷺ وفرمايل: زمونږ له ورسېدو پرته چې څوک له مذکوره چيني څخه اوبه ونه څښي، هغه و چې ځيني منافقان ورته په قصدي توګه ګړندي راغلل او اوبه يې ورڅخه وڅښلې، نبي کريم ﷺ چې چيني ته کله هم راورسېد څه ګوري چې د اوبو څاڅکی هم نشته، ويې پوښتل چې له مونږ څخه مخکې چيني ته څوک څوک راغلي دي، چا ورته وويل چې فلانکی فلانکی، نبي کريم ﷺ وويل: ايا ما نه وو منعه کړي چې له ما څخه مخکې له چيني نه څوک اوبه ونه څښي؟

بيا ورته نبي کريم ﷺ ښيراه وکړې او لعنت يې پرې ووايه.

له دې وروسته نبي کريم ﷺ له سورلی څخه راښکته شو او له کوم کاڼي څخه چې اوبه راوتې لاس يې پرې کېښود، په لاس کې اوبه راوبهېدې، بېرته يې پرې کاڼي لوند او ورواباندې يې اوبه وشيندلې، بيا يې الله پاک ته د سوال زارۍ منګولې پورته کړې، هغه و چې ډېرې اوبه راوختېدې حتی چې اوبو د ورېځو د غړمبا په څېر اوازونه هم لرل، خلکو ترې ځانونه او خپل څاروي خړوب کړل او مشکونه يې ترې هم ډک کړل.

بيا نبي کريم ﷺ وفرمايل: تاسو يا ستاسو له جملې نه که هر څوک ژوندی پاتې شي وبه ګوري چې د دې ځای شاوخوا ګرده علاقه به تکه شنه وي.

ابن اسحاق وايي: ابن شهاب زهري د ابن اکيمه الليثي په روايت د ابورهم غفاري له وراره څخه نقلوي چې هغه د ابورهم کلثوم بن الحصين رضي الله عَنْهُ نه چې د نبي کريم ﷺ سره يې د ونې لاندې بيعت الرضوان ترون ته حضور هم ورکړی و، واورېدل: زه د نبي کريم ﷺ سره د تبوک په غزا کې مل وم، مونږ ټول تبوک ته نزدې د اخضر نوم ځای کې روان وو چې الله پاک راته خوب راوست، ما به زيار ويسته چې خپله سورلی قابو کړم ترڅو خپه مې د نبي کريم ﷺ له خپې څخه ونه لګېږي او زخمي نه شي، زه په دې خبره راوپاڅېدم چې (خوږ دې کړم)، زر مې ورته کړه: د الله رسوله! بخښش راله وغواړه، هغه راته وويل: روان اوسه.

بيا يې راڅخه پوښتنې پيل کړې چې له بنو غفار څخه څوک څوک پاتې شوي دي، ما اګاه

کړ چې پلانکی او پلانکی... بیا یې راڅخه وپوښتل هغه تک سره لوړ کوسه ګان ولې پاتې شوي دی؟ ما ورته د هغوی د پاتې کېدو ټوله کهاني واوروله.

بیا یې راته وویل: او هغه تور لنډي پوچي ولې پاتې شوي دي؟

ما ورته کړه: د الله پیغمبره! دغه خلک زه نه پېژنم.

هغه راته وویل: هغه خلک چې (شبکة شدخ) دګډو بزو رمې لري، ما چې سوچ وکړ نو رایاد مې شول، ورته مې وویل چې هغوی خو بنوغفار نه دي، هغوی له بنو اسلم څخه دي او زموږ ملاتړ دی.

نبي کریم ﷺ راته وویل: که دغه خلک خپله پاتې کېدل نو له دې څخه څه شي رابند کړي وو چې د الله پاک په لاره کې یې تکړه سړي ته اوښ ورکړی و چې غزا ته پرې ولاړ شي!!

دا راته ډېره د خفګان خبره ښکاري چې په غزا کې رانه د قریشو مهاجرین یا انصار او یا هم د بنوغفار او اسلم غړي پاتې شي.

## دهجرت په نهم کال کې د رمضان په میاشت کې د ثقیف د قبیلې پلاوې او اسلام اعلانول

ابن اسحاق وايي: نبي کریم ﷺ له تبوک څخه د رمضان په میاشت کې راستون شو، او په همدې میاشت کې ورته د ثقیف پلاوې هم راغله، پېښه دا وه چې نبي کریم ﷺ کله هم له دوی څخه راستون شو نو ورپسې عروه بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ګرندي ګامونه راپورته کړل وړاندې له دې چې نبي کریم ﷺ مدینې ته ننوځي، عروه راګیر کړل او خپل اسلام یې اعلان کړ، بیا عروه رضي الله عَنْهُ له نبي کریم ﷺ څخه وپوښتل چې خپل کلي کور ته به ولاړ شي تر څو دعوت وکړي، هغه ورته وویل: هسې نه خپل قوم دې مړ کړي!! هغه ورته وویل: نا بلکې زه خپل قوم ته د هغوی له بې بیانو څخه هم محبوب یم.

عروه بن مسعود رضي الله عَنْهُ چې د خپل قوم مشرتابه او ورته ډېر زیات محبوب هم و قوم ته ستون شو، هلته یې په دې خاطر د اسلامي دعوت لړې پیل کړه چې شاید دوی به هم ورته غاړه کېږدي، نو د دعوت لپاره د کور لوړې خونې ته پورته شو او دعوت یې پیل کړ، له هرې خوا پرې د قوم له اړخ د غشو وارول شروع شول په غشي ولګېد او ومړ.

بنومالک اتکل کړه چې له دوی څخه د بنوسالم بن مالک د قبیلې غړي اوس بن عوف وژلي

دی، خو ولې ملاتړو دعوه لرله چې له دوی څخه د عتّاب بن مالک له کورنۍ څخه د وهب بن جابر په نوم غړي وژلی دی.

عروه بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته وویل شول: څه وایې چې باید قاتل سره څه وشي؟ هغه وویل: د الله پاک لویه لورینه ده چې په دې مرګ مې اخلي او د شهادت ستره رتبه راته راکوي، کوم ډول چارې چې د نبي کریم ﷺ د شهیدانو ملګرو قاتلینو سره کېدای شي هم هغسې وکړئ او ما د شهیدانو سره یو ځای خاورو ته وسپارئ.

قوم یې اټکلوي چې نبي کریم ﷺ یې اړوند وویل: [عروه بن مسعود رضي الله عَنْهُ په خپل قوم کې د صاحب یس رتبه لري].

د عروه رضي الله عَنْهُ له شهادت وروسته ثقیف څو میاشتې په کفر او عناد پاتې شول، بیا سره خپل منځ کې راټول شول او په دې پرېکړې سره اتفاق ته ورسېدل چې د شاو خوا پرتو عربانو قبیلو سره د جنګ جګړې څخه بې توانه دي، باید هرومرو اسلام ته غاړه کېږدي.

ټول سره په پای کې په اسلام راضي شول، د قوم په نیابت عبدیالیل بن عمرو بن عمیر چې دعروه رضي الله عَنْهُ همزولی و انتخاب کړی شو چې نبي کریم ﷺ ته یې استازی واستوي، خو ولې هغه ورڅخه په ټېه انکار وکړ تر څو د عروه بن مسعود رضي الله عَنْهُ په څېر پېښه ورسره ونه شي، هغه له قوم څخه وغوښتل چې ستاسو نیابت ته هله غاړه ږدم چې د قوم نور سپین ږیري او مشران راسره واستوئ، هغوی ورسره د ملاتړو څخه دوه نفر او درې نور نفر یې ورسره د بنومالک نه واستول، د عبدیالیل په مشرۍ شپږ کسیزه پلاوې چې له حکم بن عروه بن وهب بن معتِب، شرحبیل بن غیلان بن سلمه بن معتب، او له بنو مالک څخه عثمان بن ابي العاص بن بشر بن عبد دهمان، او له بنو سالم څخه اوس بن عوف، او له بنو حارثه څخه نمیر بن خرشه بن ربیعه جوړه پلاوې د مدینې په لور روان شول.

عبدیالیل چې د قوم مشرتابه او کلک مدافع و له ځان سره دغه خلک ځکه واخستل چې کله هم بېرته طائف ته راستانه شي نو هر څوک به خپلې خپلې کورنۍ او قوم ته قناعت ورکړی شي، تر څو دا هم لکه دعروه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په څېر قتل نه شي.

مغیره بن شعبه رضي الله عَنْهُ چې په خپل نوبت کې د نبي کریم ﷺ د ملګرو اسونه څرول، مدینې نه نږدې ورسره د ثقیف پلاوې مخامخ شوه، له ډېرې خوشحالۍ نه یې اسونه پرېښودل او نبي کریم ﷺ ته یې د زیري ورلو په خاطر چټک ګامونه پورته کړ، په لاره کې یې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ سره لیدل وشول، هغه یې هم د ثقیف په راتګ وخبرو چې په اسلام کې ننوتل غواړي، ابوبکر – رَضِیَ اللهُ عَنْهُ – ورته وویل: دا زیری به لومړی نبي کریم ﷺ ته زه ورکوم، هغه ورسره ومنله چې هغوی اسلام کې ننوتل غواړي، او په دې خاطر راغلي دي چې نبي

کريم ﷺ ورته د سرساتنې امان، د هغوی د قوم او قبيل، د کلي کور او ګردو شتمنيو اړوند د امن ليکلي شروط هم ورکړي.

بيا مغيره رضي الله عَنْهُ او د ثقيف راغلی هيئت ته د نبي کريم ﷺ سره د ناستې پاستې او مخامخ کېدو ادبونه او د سلام کولو طريقه کار وښود، خو ولې هغوی انکار وکړ چې هرومرو به ورسره د جاهليت د رسم رواج سره لومړني ليدنه کوي.

د معلوماتو له مخې ددوی د راتګ سره سم ورته نبي کريم ﷺ په مسجد کې ځای سمبال کړ، د ثقيف د وفد او نبي کريم ﷺ ترمنځ منځګړتوب خالد بن سعيد بن العاص رضي الله عَنْهُ کو چې بالاخره يې ورله د خالد بن سعيد رضي الله عَنْهُ په لاس امن ليک هم وليکو.

د نبي کريم ﷺ له پلوه راستول شوي خواړه به ثقفيانو تر هغه نه خوړل چې خالد بن سعيد -رضي الله عَنْهُ- به ترې لومړی خوراک نه وکړی، تر اسلام راوړو پورې يې دې لړې جريان درلود.

د روانو مذاکراتو په لړی کې ثقفيانو له نبي کريم ﷺ څخه وغوښتل چې تر درې کالو پورې به دلات د رانسکورولو هېڅ اراده نه کوي، خو نبي کريم ﷺ يې دا غوښتنه په کلکه رد کړه، بيا يې تر دوه کاله غوښتنه وکړه، بيا يې ترې د يو کال غوښتنه وکړه ان تر يوې مياشتې پورې يې ترې غوښتنه وکړه چې لات او خونه به يې نه ړنګوي، خو نبي کريم ﷺ ورته تيار نه و چې لات ولاړ پرېږدي، تر دې چې ابوسفيان بن حرب او مغيره بن شعبه رضي الله عَنْهُمَا دواړه يې د هغه د ريز مريز کولو لپاره واستول.

هغوی دا غوښتنه په دې خاطر کوله چې له خپلو بې وقوفه ليونيانو او د ښځو له پېغرندو څخه ځانونه وژغوري.

بل يې ترې دا وغوښتل چې له لمونځ کولو څخه يې معاف کړي، او که بوتان هرومرو ړنګوي بايد د ثقفيانو په لاس يې درې وړې نه کړي.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: دا به درسره ومنم چې بوتان به ستاسو په لاس نه ماتوم خو ولې هغه ديانت له خير او سعادت څخه لوخ لغړ وي چې لمونځ په کې نه وي.

هغوی ورته وويل: که څه هم مونږ ته بې غيرتي ښکاري خو بيا هم ستاسو ارشاداتو ته ضرور غاړه ږدو.

د ثقفيانو له اسلام وروسته د ليکلي ژمنې په شمول پرې نبي کريم ﷺ عثمان بن ابي العاص رَضِيَ الله عَنْهُ امير وګماره، که عثمان رَضِيَ الله عَنْهُ څه هم ځوان جان او کم عمره و، خو له دين سره د زياتې مينې او ديني زده کړو او تفقه له کبله يې په مشری هم ونازو، ابوبکر

رضي الله عَنْهُ نبي كريم ﷺ ته وويل: اى د الله رسوله! ما ته په ټول راغلي پلاوي کې دا هلک په ديني زده کړو کې ځيرکه او د چټکې زده کړې ځښتن ښکاري، دا به وکولای شي چې قران کريم په توندۍ سره ياد کړي.

کله چې ثقفيانو له مديني څخه طائف ته د بېرته ستنېدو هوډ وکړ، نبي کريم ﷺ ورسره د (لات) د ماتولو لپاره ابوسفيان بن حرب او مغيره بن شعبه رضي الله عَنْهُمَا دواړه واستول، مغيره رضي الله عَنْهُ غوښتل چې ابوسفيان رَضِيَ اللهُ عَنهُ ته له ځان څخه د (لات) په ماتولو لومړيتوب ورکړي خو ولې هغه ورته له تن کېښودو نه انکار وکړ، او ورته يې وويل چې ته بايد ضرور لومړی خپل قوم ته ورشې او خپله ترې په ذوالهدم مقام کې پاتې شو.

مغيره بن شعبه رضي الله عَنْهُ طائف کې د لات په درګاه ورننوت او پر لات باندې ولاړې ودانۍ په نړولو يې پيل واچو، ټول قوم او قبيله يې ورته په دې خاطر حاضر ولاړه وه چې اوس به ورته ليونتوب او يا بله کومه ستونزه پېښيږي، د ثقفيانو ښځې لوڅ سر راووتي او دا کلمات يې سره زمزمه کول:

لَتُبْكَـــيَنَّ دُفَّــاعُ *** أَسْــلَمَهَا الرَّضَّاعُ
لَمْ يُحْسِنُوا الْمِصَاعَ

۞ په لات (دفاع) باندې به هرومرو ژړاګانې کيداى شي * چې بوزديلو ورته له جنګ جګړې پرته وسپارت* او په دفاع کې يې هېڅ چا هم د تورې وهلو مقابله ونه کړه.

مغيره رضي الله عَنْهُ چې په لاس کې ورسره تبرګي باندې يې په (لات) ګوزارونه کول، ابوسفيان رضي الله عَنْهُ به ويل: اه.. اه.. خوار شي!!

مغيرة رضي الله عَنْهُ چې د لات په سر ولاړ منار له رانړولو څخه وزګار شو، په داسې حالت کې يې ابوسفيان رضي الله عَنْهُ وخبروه چې (لات) ته وړاندې شوې منښتې نذرانې يې ټولې راغونډې کړې وې، هېره دې نه وي چې ګڼه يې د سرو زرو او د برګو کونجکو څخه عبارت وه.

د عروه رضي الله عَنْهُ له شهادت وروسته ابومليح بن عروه رضي الله عَنْهُ او قارب بن الاسود د ثقيف له پلاوې وړاندې د نبي کريم ﷺ حضور ته داسې مسلمانان راغلي وو چې له ثقيف سره به نور هيڅ راز اړيکي نه لري، دواړو ته نبي کريم ﷺ وويل: چې څوک درته پسند وي نور ورسره دوستانه وکړئ، دواړو ورته وويل: زمونږ د دواړو دوستان الله پاک او د هغه رسول کريم ﷺ دي.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: ايا له خپل ماما ابوسفيان بن حرب رضي الله عَنْهُ سره اړيکي ښې نه بولې؟

هغوی وويل: ولې نه، له هغه سره په نيکو اړيکو لرلو خوښ يو.

کله چې نبي کريم ﷺ د (لات) له رانسکورولو لپاره مغيره او ابوسفيان رضي الله عَنْهُمَا

ولیږدول او د طائف خلکو اسلام اعلان کړ، ابوملیح بن عروه رضي الله عَنْهُ له نبي کریم ﷺ څخه وپوښتل چې ایا د پلار په ذمه کې پاتې پوروونه د (لات) له درګاه څخه راوړل شوي مالي پانګې څخه ادا کولی شي؟ هغه و چې نبي کریم ﷺ ورسره ومنله.

بیا ورته قارب بن اسود وویل چې زما د پلار په ذمه کې پاتې پوروونه هم ادا کړه!

هغه ورته وویل: اسود چونکه مشرک مړ شوی دی دمسلمانانو لاس ته ورغلي غنیمت څخه یې د پور ادا سمه نه ده.

قارب نبي کریم ﷺ ته وویل: ای د الله رسوله! اوس خو ته مشرک نه بلکې مسلمان پالې، د هغه په ذمه کې پاتې قرضونه خو له ما څخه غوښتل کیږي ګویا که پور همدا زما په ذمه دی، بیا نبي کریم ﷺ ابوسفیان رَضِیَ الله عَنْهُ ته امر وکړ چې د (لات) له خزانې څخه د دواړو پوروونه ادا کړي.

مغیره رضي الله عَنْهُ چې کله ټول مالیت راغونډ کړ ابوسفیان رضي الله عَنْهُ ته یې وویل: تا ته نبي کریم ﷺ لیک راستولی دی چې له دې مالیت څخه د عروه او اسود پوروونه ادا کړه.

د نبي کریم ﷺ هغوی ته داستولی لیک نص په دې توګه و:

[بسم الله الرحمن الرحیم، د الله د استازي محمد ﷺ څخه ټولو مومنانو ته اعلان دی چې د (وج) مقام ازغي داړي ونې به څوک نه قطع کوي، که څوک د دې جرم په ارتکاب ونیول شو نو ناغه یې وهل او لوڅول دي، که یې مزیده نوره سرغړونه اختیار کړه نو د الله پیغمبر محمد ﷺ حضور ته به وړاندې کولی شي، هیره دې نه وي چې دا د نبي کریم ﷺ پوخ حکم دی، د نبی کریم ﷺ په امر خالد بن سعید دا نوشته کړ، هیڅ څوک باید سرغړونې ونه کړي ورنه د نبي کریم ﷺ له امر څخه په سرغړونه به د ځان سره زیاتی او ظلم وکړي].

## د هجرت په نهم کال د پلاوو راتګ او د سورت فتح نازلېدل

ابن اسحاق وايي: نبي کریم ﷺ چې د مکې او تبوک له فتحې څخه وزګار شو او ثقیف هم اسلام ته غاړه کېښوده، له هر اړخه ورته د عربانو خېل خېل قبیلوي پلاوې راماتې شوې[۱].

د عربانو بیلابیل خیلونه د اسلام له منځه وړلو لپاره قریشو ته تکیه وې، چونکه هغوی اهل حرم او په ښکارند ډول د اسمعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ اولاد وو، ټولو عربانو د قریشو قیادت ته دوه لاسي سلام کو، خو چې کله دوی د نبي کریم ﷺ ضد تاوتریخوالی او جګړو شخړو میدان

(۱) ابن هشام وايي: نهم هجري کال ته د پلاو راتګ کال ویل شوی دی.

ګرم وساتو چې الله پاک په کې فتحه او نصرت نبي کريم ﷺ ته ورکړه، عربان وپوهېدل او سر يې خلاص شو چې د نبي کريم ﷺ په ضد جګړه کې به هېڅکله برلاسي نه شي او نه به يې دښمن وګڼي، هغه و چې په اسلامي دين کې ډلې ډلې او خېلونه خېلونه خلک ننوتل، الله خپل پيغمبر ﷺ ته وايي ﴿إِذَا جَآءَ نَصۡرُ ٱللَّهِ وَٱلۡفَتۡحُ ① وَرَأَيۡتَ ٱلنَّاسَ يَدۡخُلُونَ فِي دِينِ ٱللَّهِ أَفۡوَاجٗا ② فَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ وَٱسۡتَغۡفِرۡهُۚ إِنَّهُۥ كَانَ تَوَّابَۢا﴾(١).

## د بنو تميم پلاوي راتګ او د سورت حجرات نزول

د عربانو د بېلابېلو قومونو او خېلونو د پلاو له مخې يوه پلاوې د بنوتميم هم وه چې د عطارد بن حاجب بن زرارة بن عدس تميمي په ملتيا نور مخه ور او لوړ پوړي لکه اقرع بن حابس، زبرقان بن بدر، عمرو بن الاهتم، حبحاب بن يزيد په شمول نبي کريم ﷺ ته راغلل.

د بنوتميم لويه پلاوې چې د هر خېل مشرتابه پکې شتون درلود يو هم په کې نُعيم بن يزيد، قيس بن الحارث، قيس بن عاصم، عيينة بن حصن بن حذيفه بن بدر هم وو.

خو اقرع بن حابس او عيينة بن حصن رضي الله عَنْهُمَا چې د نبي کريم ﷺ سره د مکې او طايف او د حنين په جګړو کې هم ونډه لرلې وه، د بنو تميم د وفد سره يو ځل بيا د نبي کريم ﷺ حضور ته راغلل.

د بنو تميم راغلی وفد چې کله هم مسجد ته ننوتل، نبي کريم ﷺ ته يې د کور له ديوالونو پناه چغې نارې کړې چې محمده!! په چټکه سره مونږ ته راوځه.

په نبي کريم ﷺ يې لوړ غږونه ښه ونه لګېدل.

چې کله نبي کريم ﷺ راووت، دوی ورته وويل: ستا په حضور کې تاسو ته د خپلو وياړونو لمانځنه پسنده بولو، اميد دی چې زمونږ شاعر او خطيب ته اجازه ورکړې.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: زما درته اجازه ده، ستاسو خطيب چې څه وايي ودې وايي، عطارد بن حاجب وپاڅېد او خبرې يې په دې کلماتو پيل کړې چې:

هغه الله دګردو ستاينو وړ دی چې په ګڼ شمېر لورينو يې نازولي يو، د ثنا او صفت جوګه

(١) سورت نصر: (١-٣). ژباړه: د الله پاک مرسته او بری چې کله هم راشي * او خلک دې داسې تر سترګو شول چې په دين کې ډلې ډلې ورننوځي * نو د خپل رب حمد او ثنا بيان کړه او له هغه څخه د ګناهونو بخشش وغواړه، په يقين سره چې هغه توبه قبلونکی دی.

هغه الله دی چې زمونږ په غاړه کې يې د خلکو زعامت اچولی دی، د دې برسېره يې په بې ساره مالي نعمتونو او د خير ښېګړې سترو کارونو په انجامولو توانولي يو، په ټول ختيځ کې د عزت او وقار مالي لګښتونه ته موځوک رسيدګي نه شي کولی، هېڅ چرته مونږ سيال نه لرو، ايا په رښتيا مونږ په خلکو کې د فضيلت او خيريت د بشپړې غوروالي څښتنان نه يو؟ که څوک زمونږ په څېر وياړونه لري نو په ګوته دې کړي! که څوک راسره وياړونه پرتله کوي خپل وياړونه دې زمونږ په څېر ياد کړي، که وغواړو له دې به هم خبرې اوږدې شي، د الله د زياتې راکړې يادداشت نه مونږ ته حيا راځي خو په ورکړه او پاللو کې ستر شهرت لرو، که څوک سيالی ته زړه خوښی وي زمونږ په څېر دې د خپلو وياړونو ياد وکړي او يا دې له مونږ څخه خپل لوړ خويونه او عادتونه ذکر کړي.

ددې خبرو په پای ته رسولو نور نو عطارد کښېناست د بنوالحارث بن الخزرج قبيلې اړوند غړي ثابت بن قيس بن شماس رضي الله عَنْهُ ته نبي کريم ﷺ امر وکړ چې وپاځه او د خطبې ځواب يې ورکړه.

ثابت بن قيس رضي الله عَنْهُ وپاڅېد او وېويل:

ستاينې او ټوله ثنا هغه الله لره ده چې لوی لوی اسمانونه او ځمکې يې مخلوق دي، په اسمانونو او ځمکو يې واک دی او علم يې په هر څه ګېره اچولې ده، ګرد شيان د الله له لورينې بل څه نه دي، د الله د قدرت بېلګه دا ده چې مونږ ته يې د خلکو واکمني راکړې ده، زمونږ لپاره يې په ګرد مخلوق کې خپل استازيتوب هغه چا ته ورکړ چې شريف او کريم نسب لري، ګفتګو او خبرې يې ټولې رښتيا دي، هغه ته يې خپل اسماني کتاب په داسې حالت کې ورکړ چې په تبليغ او خلکو ته په رسولو يې امانت دار دی، په ګرد مخلوق کې هغه د الله انتخاب دی، خلک يې پر ځان ايمان لرلو ته راوبلل، هغه و چې خپلې کورنۍ او خپلو خپلوانو يې پرې ايمان راوړ، په خوی عادت او نسبي سپيڅلتوب باندې تمام دی، د ښکلا او ډول ډال نه ډک مخ لري، په ټولو خلکو کې غوره ترين خلک چې رسول الله ﷺ د الله لورې ته راوبلل مونږ (انصار) يو، مونږ د الله پاک د دين مرستندوي او د هغه د رښتني استازي مرستيالان يو، خپل جګړيز مهارتونه د خلکو پر ضد تر هغه په کار اچو تر څو د الله پاک او د هغه په رسول بشپړ ايمان ولري، که الله پاک او د هغه رسول ﷺ ته هر چا تسليمي ورکړه زمونږ له تيغه به خپله وينه، مال او شتمني بچه وساتي، خو که څوک کږليچونو ته دوام ورکړي الله پاک په خاطر به ورسره د تل لپاره وسله وال جنګ وکړو، او د کافرانو مرګ ژوبله مونږ ته ډېره اسانه ده، خبرې همدا دي چې ما وکړې نور د الله پاک څخه د خپل ځان او د ټولو مومنانو لپاره له لغزشاتو د بخشش سوال کوم، و السلام عليکم.

بيا زبرقان بن بدر وپاڅېد او وېويل:

نَحْنُ الْكِـرَامُ فَـلَا حَيٌّ يُعَادِلُنَا *** مِنَّا الْمُلُـوكُ وَفِينَا تُنْصَبُ الْبِيَعُ
وَكَـمْ قَسَرْنَا مِـنَ الْأَحْيَاءِ كُلِّهِمِ *** عِنْدَ النِّهَابِ وَفَضْـلُ الْعِزِّ يُتَّبَعُ
وَنَحْنُ يُطْعِمُ عِنْدَ الْقَحْطِ مُطْعِمُنَا *** مِنْ الشِّـوَاءِ إِذَا لَمْ يُؤْنَسِ الْقَزَعُ
بِمَا تَرَى النَّـاسَ تَأْتِينَا سُرَاتُهُمْ *** مِنْ كُلِّ أَرْضٍ هُوِيًّـا ثُمَّ تَصْطَنِعُ
فَنَنْحَرُ الْكُومَ عُبْطًا فِي أَرُومَتِنَـا *** لِلنَّازِلِـينَ إِذَا مَا أُنْزِلُوا شَـبِعُوا
فَـلَا تَرَانَـا إِلَى حَيٍّ نُفَاخِرُهُـمْ *** إِلَّا اسْتَفَادُوا فَكَانُوا الرَّأْسَ يُقْتَطَعُ
فَمَـنْ يُفَاخِرُنَـا فِي ذَاكَ نَعْرِفُهُ *** فَيَرْجِعُ الْقَوْمُ وَالْأَخْبَارُ تُسْـتَمَعُ
إِنَّـا أَبَيْنَا وَلَا يَـأْبَى لَنَـا أَحَدٌ *** إِنَّـا كَذَلِكَ عِنْدَ الْفَخْـرِ نَرْتَفِعُ

❁ په شرافت کې زمونږ په ضد هېڅ قبیلوي همسیال نشته، واک پرې هم زمونږ دی او د یهودانو عبادتخانې مو تر اوسه په چاپېریال کې ودانې دي.

❁ خومره ډېر کلي او قبیلې مو په جنګونو کې وهلې ډبولې دي، په جنګي ډګر کې ور هغه څوک وي چې شرف او عزت کې پېروکار ولري.

❁ د قحط او لوږې (ولږې) په مهال زمونږ خلک د جود او سخاوت له مخې وریته شوې غوښې وربو تربو ته ورکوي په داسې حال کې چې د اوري وربځې هم تشې تورې وي.

❁ ته به هم خبر یې چې د ځمکې له هره اړخه مو په لور خلک پیادل راروان وي او مونږ یې په پالنه بوخت یو.

❁ مونږ د خپل اصلي شرافت او عزت له کبله د راغلو میلمنو په استقبال کې هغه اوښان حلالوو چې هېڅ رنځ او علت نه وي ژوبل کړي.

❁ که د ویاړ او فخر په میدان کې راسره کوم کور او ټبر ګز او ګام کوي نو زمونږ تابع به شي او یا به هغه سر جوړ شي چې له تن څخه پرېکیږي.

❁ که د فخر او یاړ سیالي راسره هر څوک کوي ودې کړي چې ویې پېژنو، په داسې حالت کې به ستانه شي چې خلک به یې له یو بل څخه قیصې اوري.

❁ مونږ له خلکو څخه سرغړونې کوو خو ولې زمونږ پرضد هېڅ څوک سرغړونه نه شي کولی، د ویاړ په داسې ځایونو کې زمونږ نوم سر لوړی وي.

چونکه د غونډې په دغې مهال حسان بن ثابت رضي الله عَنْهُ شتون نه درلود، وریسې یې استازی واستو چې راشي، حسان رضي الله عَنْهُ وایي: ما ته یې استازی راغی او راته یې وویل: راشه او د بنوتمیم شاعر ته ځواب ورکړه، زه راروان شوم او دا شعرونه مې وویل:

مَنَعْنَا رَسُـولَ اللهِ إِذْ حَلَّ وَسْـطَنَا *** عَلَى أَنْـفِ رَاضٍ مِنْ مَعَـدٍّ وَرَاغِمِ
مَنَعْنَـاهُ لَمَّـا حَـلَّ بَيْنَ بُيُوتِـنَـا *** بِأَسْـيَافِنَا مِــنْ كُلِّ بَـاغٍ وَظَالِمِ
بِبَيْـتٍ حَرِيْـدٍ عِـزُّهُ وَثَـرَاؤُهُ *** بِجَابِيَـةِ الْجَوْلَانِ وَسْـطَ الْأَعَاجِمِ
هَلْ الْمجد إِلَّا السّؤدد الْعَوْدُ وَالنَّدَى *** وِجَـاهُ الْمُلُوكِ وَاحْتِمَـالُ الْعَظَائِمِ

❁ بنوعدنان (قريش) خفه وي او که خوشحاله وي خو مونږ د الله د رسول ﷺ کلک ملاتړ هله وکړ چې زمونږ ترمنځ ديره شو.

❁ کله چې زمونږ کلي کورته راغی نو په خپلو تورو مو له باغي او ظالم څخه محفوظ ساتلی دی.

❁ په شام کې د عجمو ترمنځ د جابية الجولان په کلي هغه کورنی لرو چې په عزت او سخا کې ورسره هيڅ څوک شراکت نه لري.

❁ بار بار مشري يواځې عزت او ورکړه ده، او د شاهانو سره ليدل کتل او په سترو ستونزو زغم ويستل دي.

حسان رضي الله عَنْهُ وايي: کله چې زه د نبي کريم ﷺ تر څنګ ورسېدم د راغلي پلاوي شاعر وياڅېد او هغه يې وويل چې څه يې په زړه وو، بېرته مې هغه ته په خپلې قافيه کې ځواب ورکړ، زبرقان چې له خپلو شعرونو څخه وزګار شو نبی کريم ﷺ حسان بن ثابت رضي الله عَنْهُ ته وويل: پاڅېږه او شاعر ته ځواب ورکړه.

حسان بن ثابت رضي الله عَنْهُ وياڅېد او وېويل:

إِنَّ الذَّوَائِـبَ مِنْ فِهْـرٍ وَإِخْوَتِهِمْ *** قَـدْ بَيَّنُـوا سُـنَّةً لِلنَّـاسِ تُتَّبَعُ
يَرْضَى بِهِمْ كُلُّ مَــنْ كَانَتْ سَرِيرَتُهُ *** تَقْـوَى الْإِلَهِ وَكُلَّ الْخَـيْرِ يَصْطَنِعُ
قَـوْمٌ إِذَا حَارَبُــوا ضَرُّوا عَدُوَّهُمُ *** أَوْ حَاوَلُوا النَّفْعَ فِي أَشْيَاعِهِمْ نَفَعُوا
سَـجِيَّةٌ تِلْـكَ مِنْهُمْ غَـيْرُ مُحْدَثَةٍ *** إِنَّ الْخَلَائِقَ فَاعْلَـمْ شَرُّهَا الْبِدَعُ
إِنْ كَانَ فِي النَّاسِ سَـبَّاقُونَ بَعْدَهُمْ *** فَـكُلُّ سَـبْقٍ لِأَدْنَى سَـبْقِهِمْ تَبَعُ
لَا يَرْقَعُ النَّاسَ مَــا أَوْهَتَ أَكُفُّهُمْ *** عِنْدَ الدِّفَـاعِ وَلَا يُوهُونَ مَا رَقَعُوا
إِنْ سَابَقُوا النَّاسَ يَوْمًا فَازَ سَبْقُهُمْ *** أَوْ وَازَنُوا أَهْـلَ مَجْدٍ بِالنَّدَى مَتَعُوا
أَعِفَّةٌ ذُكِـرَتْ فِي الْـوَحْيِ عِفَّتُهُمْ *** لَا يَنْطَبِعُـونَ وَلَا يُرْدِيهِـمُ طَمَعُ
لَا يَبْخَلُـونَ عَلَى جَـارٍ بِفَضْلِهِمْ *** وَلَا يَمَسُّـهُمُ مِـنْ مَطْمَـعٍ طَبَعُ
إِذَا نَصَبْنَـا لِـحَيٍّ لَمْ نَـدِبَّ لَهُمْ *** كَمَا يَـدُبُّ إِلَى الْوَحْشِـيَّةِ الذَّرِعُ
نَسْـمُو إِذَا الْحَرْبُ نَالَتْنَـا مَخَالِبُهَا *** إِذَا الزَّعَانُفُ مِنْ أَظْفَارِهَا خَشَـعُوا

لَا يَفْخَـرُونَ إِذَا نَالُـوا عَدُوَّهُـمُ *** وَإِنْ أُصِيبُـوا فَلَا خُـورٌ وَلَا هُلُعُ
كَأَنَّهُمْ فِي الْـوَغَى وَالْمَوْتُ مُكْتَنِعٌ *** أُسْـدٌ بِحِلْيَـةِ فِي أَرْسَـاغِهَا فَدَعُ
خُذْ مِنْهُـمُ مَا أَتَى عَفْوًا إِذَا غَضِبُوا *** وَلَا يَكُنْ هَمُّكَ الْأَمْرَ الَّذِي مَنَعُوا
فَـإِنَّ فِي حَرْبِهِمْ فَاتْـرُكْ عَدَاوَتَهُمْ *** شَرًّا يُخَاضُ عَلَيْهِ السَّـمُّ وَالسَّـلَعُ
أَكْرِمْ بِقَوْمٍ رَسُـولُ اللهِ شِـيعَتُهُمْ *** إِذَا تَفَاوَتَـتِ الْأَهْـوَاءُ وَالشِّـيَعُ
أَهْدِي لَهُمْ مِدْحَتِي قَلْـبٌ يُؤَازِرُهُ *** فِيمَا أُحِبُّ لِسَـانٌ حَائِـكٌ صَنَعُ
فَإِنَّهُـمْ أَفْضَـلُ الْأَحْيَـاءِ كُلِّهِـمِ *** إِنْ جَدَّ بِالنَّاسِ جِدُّ الْقَوْلِ أَوْ شَمَعُوا

۞ د بنوفهر خورا درنو مخه ورو نورو خلکو ته د انساني رويې داسي کيفتيتونه ښودلي دي چې ورته عملي بڼه اچول شوې ده.

۞ په دغې رويو ټول هغه څوک خوشحاله او رضا دي چې له الله پاک څخه ډار او ترس او د خير ښېګړې هر کار سره يې مينه او محبت وي.

۞ دوی داسې قوم دی چې کله هم له دښمن سره مخ اتی شي نو ورته ستړي او زيان اړوي، خو که پيروکارو ته ګټه رسول وغواړي توان هم يې لري.

۞ د دوی دغه خويونه نوي او ناآشنا نه بلکې کورني او پخواني خويونه دي، په دې هم وپوهيږئ چې د نوي خويونو رواجول له شر پرته نور څه نه وي.

۞ که له دوی پرته په خلکو کې د خير ښېګړې نور مينوال هم وي نو هغوی هم د خير په کارونو کې ددوی د کم وندوال تابع دي.

۞ په دفاعي حالتونو کې چې د دوی لاسونو څه ځيرلي دي هغه مرهم نه اخلي، او نه هغه ستړيا دوی ته ستره ده چې دښمن ورته اړولې ده.

۞ که د خير ښېګړې په کارونو کې خلکو سره سيالي وکړی نو ورڅخه به مخکې شي، خو که په ورکړه کې له سخيانو سره پرتله شي نو پرې درانه به شي.

۞ دومره پاک دامنه دي چې وحي يې عفت او طهارت ذکر کړی دی، نه خو پليتيږي او نه ورته پليتي رسيږي.

۞ له ګاونډي څخه په خپل فضل او احسان هيڅ بخل نه کوي، خو له بل چا څخه د طمع توقع (ګنده خصلت) هم ورته نه رسيږي.

۞ چې کله مونږ د کوم قوم او قبيلې سره د جنګ اعلان وکړو نو دښمني ورسره په زړونو کې داسې پټه نه ساتو لکه صحرايي غوا ته چې خپل بچی پټ راروان وي، بلکې دښمني ورسره ښکاره په ښکاره کوو.

❁ د جنګ په غځول شوو پنجو چې عام خلک تسلیمي ورکوي، که دغه پنجې جنګ تر مونږ وغځوي مونږ پرې لا پورته عزم او لوړ موراله شو.

❁ که په جنګ او نظامي بریدونو کې دوی برلاسي شي نو هېڅ راز فخر او د ویاړونو غونډې نه کوي، او نه له بوزدیلۍ او بې وسۍ څخه شکستونه خوري.

❁ په هغه جګړېز حالتونو کې چې مرګ په کې تر هر څه نزدې وي دوی لکه د یمن د حلیې د زمرو په څېر داسې رادرومي لکه د خپو په بندونو کې چې یې کاږه زنځیرونه پراته وي.

❁ کولای شي چې د قهر او غضب په حالت کې یې له درګزرۍ څخه بشپړ برخمن شي، خو که له څه شي منعه وفرمايي هېڅ کله یې باید کولو ته اراده ونه لري.

❁ دوی سره جنګ جګړې او تربګني مه کوه، ستا لپاره پکې له زهرو او ګندېر او چیچلو پرته نور هېڅ نشته.

❁ کله چې ډلې ټپلې سره تېرو بېر شي نو د هغه قوم مل او ملګرى شه چې رسول الله ﷺ یې ملګرى وي.

❁ د پیاوړې هنرمندې ژبې په ملتیا د خپل زړه په مرسته او کومک د ثنا او صفت خپل دغه شعرونه نبي کریم ﷺ ته ډالۍ کوم.

❁ که په خلکو د هوسایني ژوند وي او که بې وسه وي خو دوی په کې تر هر چا غوره ترین قوم او قبیله ده.

د شعر او شاعرۍ مراسم چې کله ترپایه ورسېدل د راغلې پلاوې هر ګډونوال ته نبي کریم ﷺ جائزې هم ورکړې او ټولو اسلام اعلان کړ.

عمرو بن الأهتم چې بنوتمیم د خپلو اوښانو د چارو سمبالښت په بنسټ کلي کور کې پرېښی او تر ټولو کشر او کم عمره و، د قیس بن عاصم سره یې اړیکي هم کړکېچني وې، نو قیس بن عاصم نبي کریم ﷺ ته وویل: مونږ د خپلو کورني خدمتونو په خاطر زلموټی قبیلوي غړې په کلي کې پرېښی دی، که ر اغلو خلکو ته د ورکړې جائزو په څېر هغه ته هم برخه راکړې ښه به وي، ځکه زه ترې بده خاطره لرم، نبي کریم ﷺ ورته د هغه لپاره هم برخه ورکړه.

عمرو بن الأهتم چې دقیس له خبرې وخبرېد نو په دې شعرونو یې د هغه هجوه بیان کړه:

ظَلِلْـــتَ مَفْتَرِشَ الْهَلْبَاءِ تَشْـــتُمُنِي *** عِنْدَ الرَّسُولِ فَلَمْ تَصْدُقْ وَلَمْ تُصِبِ

سُدْنَاكُمُ سُودُدًا رَهْوًا وَسُودُدُكُمْ *** بَـادٍ نَوَاجِـذُهُ مُقْعٍ عَلَى الذَّنَـبِ

❁ د پیغمبر ﷺ په حضور کې ببره لکۍ ناست وې او ما پسې دې بدې ردې ویلې!! حالانکه زما اړوند خبرو کې هېڅ دروستوالی نه لرې.

❁ که څه هم مونږ درته مشري درکړې ده خو ستاسو د مشرۍ ژامې وازې دي او داسې ښکاري چې نوره په کوناټو ناسته ده.

ابن اسحاق وايي: د بنو تميم راغلې پلاوې اړوند الله د سورت حجرات دا ايتونه هم نازل کړل ﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلۡحُجُرَٰتِ أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ﴾[1].

## د بنوعامر د پلاوې او د عامر بن الطفيل او اربد بن قيس پېښه

نبي کريم ﷺ ته د عامرزو پلاوې چې عامر بن الطفيل، اربد بن قيس بن جزء بن خالد بن جعفر، جبار بن سلمى بن مالک بن جعفر درېواړه پکې وو راغلل، هېره دې نه وي چې درېواړه د قوم مشران وو، د نبي کريم ﷺ سره د دوکې په بنسټ د الله ستر دښمن عامر بن الطفيل نبوي حضور کې عرض شو،، که څه هم خپل قوم يې عامر بن الطفيل ته چې د قوم مشرتابه ويلې هم وو: ټولو خلکو اسلام راوړ عامره ته هم اسلام راوړه.

هغه چونکه د الله دښمن و ورته يې وويل: زه زيار اوباسم کرد عربان د ځان تابع کړم نو څنګه د قريشو زلموټي ته ځان تسليم او راوړی دين يې ومنم!!

بيا يې اربد ته مخ واړو او ورته يې کړه: چې کله د سړي خوا ته ولاړ شو زه به يې په خبرو بوخت کړم او ته به پرې د تورې مرګوني ګوزارونه وکړې.

د رارسېدو سره سم عامر نبي کريم ﷺ ته وويل: محمده! ما سره د سوچه او خالصې دوستانې پړاو پيل کړه، هغه ورته وويل: تر هغه درسره دوستی ته چمتو نه يم تر څو په الله يواځې ايمان ونه لرې، که څه هم عامر بار بار تېنګار کو او په انتظار و چې اربد به کله خپل ګوزارونه پيلوي خو ولې اربد هېڅ ځواب نه شو ورکولای، عامر ويوهېد چې اربد له مرګوني بريد څخه بې توانه دی، بيا يې ورته وويل: محمده! ما سره د خالصې دوستانې او رښتنې ملګرتوب پړاو پيل کړه! هغه ورته بيا وويل: نا ترهغه درسره خالصې دوستانې ته چمتو نه يم تر څو دې په واحد او لاشريک ذات الله پاک باندې ايمان نه وي راوړی.

د نبي کريم ﷺ د غوږ انکار په اورېدو هغه وويل: لوړه په رب لايزال چې مدينه به درې په ضد د جنګيالو او جنګې اسونو او اوښانو څخه ډکه کړم.

چې کله ولاړ نبي کريم ﷺ وويل: ای الله! د عامر بن الطفيل له شر او شرارت څخه راته خلاصون راکړه.

(۱) سورت حجرات: (٤). ژباړه: هغه خلک چې له کوره بهر درته چغې سورې وهي زياتره يې کم عقله دي.

راغلي پلاوي چې د نبي كريم ﷺ له حضوره رخصت شوه، عامر اربد ته وويل: غرق شې اربده! ولې دې راسره په كړې ژمنه وفا ونه كړه؟ د ځمكې پر مخ له تا پرته زه له هېڅ چا نه ډارېدم او ته هم بوزديله وښتې ! له دې وروسته درڅخه زه هم نور هېڅ ډار نه محسوسوم.

هغه ورته وويل: خوار شې لږ صبر شه! تا سره د كړې ژمنې ترون له مخې چې به مې كله هم ځان ګوزار ته چمتو كړ نو ته به راته مخې ته شوې نو ايا ستا په سر مې ګوزار كړى وى؟؟

بيا خپل ټاټوبي ته د ستنېدو په مهال لا ره كې پرې الله پاک په ښت د طاعون دانه راپورته كړه او د بنو سلول د قبيلې يوې ښځې په كور كې يې واړوله، نارې به يې وهلې چې [اى بني عامرو! د بنو سلول قبيلې د ښځې په كور كې د ځوان اوښ په مرګوني رنځ اخته شوم نور نو مړ كېږم][(١)].

پاتې ملګرې يې خپل ټاټوبي ته ستانه شول، د رسېدو په مهال يې قوم غبږ كړ چې اربده! نوى تازه خبر مو له ځان سره څه راوړى دى؟

هغه ورته وويل: تازه خو څه نه وو خو محمد ﷺ مونږ د داسې څه عبادت كولو ته رابللو كه مخې ته مې راشي نو له ځنډ پرته به پرې تر هغه غشي ووروم چې ومري.

له دې خبرې يوه يا دوه ورځې وروسته په خپل اوس بهر ووت، په اوښ او اربد دواړو باندې الله پاک د اور لمبه راوسته او دواړه يې وسوځول.

اربد بن قيس چې دلبيد بن ربيعه موريزه ورور و، له خفګانه يې ورپسې وويل:

مَا إِنْ تُعَدِّي الْمَنُونُ مِنْ أَحَدِ *** لَا وَالِدٍ مُشْفِقٍ وَلَا وَلَدِ
أَخْشَى عَلَى أَرْبَدَ الْحُتُوفَ وَلَا *** أَرْهَبُ نَوْءَ السِّمَاكِ وَالْأَسَدِ
فَعَينِ هَلَّا بَكَيْتُ أَرْبَدَ إِذْ *** قُمْنَا وَقَامَ النِّسَاءُ فِي كَبَدِ
إِنْ يَشْغَبُوا لَا يُبَالِ شَغْبَهُمْ *** أَوْ يَقْصِدُوا فِي الْحُكُومِ يَقْتَصِدِ
حُلْوٌ أَرِيبٌ وَفِي حَلَاوَتِهِ *** مُرٌّ لَطِيفُ الْأَحْشَاءِ وَالْكَبِدِ
وَعَيْنِ هَلَّا بَكَيْتُ أَرْبَدَ إِذْ *** أَلْوَتْ رِيَاحُ الشِّتَاءِ بِالْعَضَدِ
وَأَصْبَحَتْ لَاقِحاً مُصَرَّمَةً *** حَتَّى تَجَلَّتْ غَوَابِرُ الْمُدَدِ
أَشْجَعُ مِنْ لَيْثِ غَابَةٍ لَحِمٍ *** ذُو نَهْمَةٍ فِي الْعُلَا وَمُنْتَقَدِ
لَا تَبْلُغُ الْعَيْنُ كُلَّ نَهْمَتِهَ *** لَيْلَةَ تُمْسَى الْجِيَادُ كَالْقِدَدِ

---

(١) بنو سلول په عربانو كې هغه قبيله وه چې په بې وفايۍ او بوزديلۍ كې يې شهرت درلود، سموؤل شاعر وايي:
وَإِنَا أُنَاسٌ لاَ تَرَى القَتْلَ سبَّةً ** اَذَا مَا رَأَتْهُ عَامِرٌ وَ سُلُوْلُ
ژباړه: تر څو عامر او سلولزي نه يو جوړ شوي نو مونږ هغه خلک يو چې مرګ ژوبله بيخي بوزديلي نه بولو.

الْبَاعِـثُ النَّوْحَ فِــي مَآتِمِهِ *** مِثْلَ الظِّبَـاءِ الْأَبْكَارِ بِالْجَرَدِ
فَجَعَـنِي الْـبَرْقُ وَالصَّوَاعِقُ *** بِالْفَارِسِ يَوْمَ الْكَرِيهَةِ النَّجُدِ
وَالْحَارِبِ الْجَابِـرِ الْحَرِيبِ إِذَا *** جَـاءَ نَكِيبًـا وَإِنْ يَعُدْ يَعُدْ
يَعْفُو عَـلَى الْجَهْدِ وَالسُّؤَالِ كَمَا *** يُنْبِتُ غَيْثُ الرَّبِيعِ ذُو الرَّصَدِ
إِنْ يُغْبَطُـوا يَهْبِطُوا وَإِنْ أُمِرُوا *** يَوْمًا فَهُـمْ لِلْهَـلَاكِ وَالنَّفَدِ

۞ مرګ او مړيني هيڅ چرته مهربان پلار او يا ورور نه دی پرېښی.

۞ له اسماني افت څخه په اربد ډارېدم خو ولې د اسد (د مياشتې نوم دی) له ستورو څخه هيڅ خوف او ترس مې پرې نه درلود.

۞ ای سترګې! مونږ او ښځې چې کله په سترې او تکليف وپاشېدو نو تا په اربد ولې نه ژړل؟

۞ د خلکو غال مغال به دهغه ټنډه نه ترخه کوله خو که چا به ورته پرېکړه راوړه نو د عدل او انصاف پرېکړې به يې کولې.

۞ که اربد څه هم خوږ او دانا ځېرکه و، خو د دې سره بيا هم تريخ او کنجکاو و.

۞ ای زما سترګو! هغه مهال مو په اربد ولې ماتمي ژړا شور ونه کړ چې د ژمي بادونو په کې د ونو بوټو پاڼې ورژولې.

۞ د اربد مړيني سره سم د شيدو اوښان تر هغه وچ کړس شول چې پاتې اوښان په کې رالوی هم شول (خو دې کې شيدې رانغلې).

۞ اربد د ځنګلي ښکار مينه ناک زمري څخه هم ډېر بهادر او اتل و، تر موخې ځان رسونه کې يې مينه لرله او کارپوهه هستي وه.

۞ د اربد ستر اند او لوړ فکر ته کره قوي اسونه چې د شپې له پلوه خلاص مزل وکړي ورته هم نه شي رسېدای په مزل کې به ترې د څرمن په څېرکمزوري شي، بلکې د سترګو نظر هم ورته نه شي رسېدای.

۞ د اربد په مړينې دومره ډېرو ښځو ماتمي غونډې وکړې لکه په تش تور مېدان کې چې غرڅنۍ راغونډې شوي وي.

۞ په دغه شجاع او بهادر او شاهسوار انسان باندې د اسماني اور لمبو ډېر وځوروولم.

۞ دومره لوی جګړن و چې خپل جګړن سيال ته به يې شکست ورکو او جنګي اوزار به يې ترې اخستل، خو که د بيا مقابلې لپاره به يې سيال راپورته شو نو ده به ورسره بيا مقابله کوله.

- لکه څنګه چې د سپرلي باران لږه ګیاه راشنه کړي او بیا ډېره شي، داسې به یې ډېره ورکړه کوله که څه به هم خپله په تکلیف کې و.
- د ډېرو لږو ازادو ښځو بچیان په داسې مرګ مړه کیږي که څه هم ځنې ښځې یې ډېر بچي وزږوي.
- که خلک راسره زمونږ په ښه ژوند غبطه کوي نو نور به هم ذلیله شي، او که راباندې زیات شي نو لا به پسې هلاک او د زوال سره مخ شي.

## د عبدالقيس په پلاوي کې د جارود راتګ

د عبدالقیس د قبیلې غړی جارود بن عمرو بن خنس هم دخپلې قبیلوي پلاوي په ملتیا نبي کریم ﷺ ته راغی(١).

حسن وايي: چې کله هم پلاوي او جارود د نبی کریم ﷺ حضور کې عرض شول نو د اسلامي دین اصول یې ورته وړاندې کړل، اسلام ته یې راوبلل تر څو تن ورته کیږدي، نو جارود رضي الله عَنْهُ ورته وویل: زه ستا د دین منلو په خاطر خپل دین پرېښودو ته چمتو یم، خو ایا ته زما د دین ضمانت کولای شې؟

نبي کریم ﷺ ورته وویل: هو! د دې ذمه وار دې زه یم چې ستا سابقه دین په بدل کې درته الله پاک غوره دین درکړ.

له دې پړاو وروسته جارود او راغلو ملګرو یې اسلام اعلان کړ، د بېرته ستنېدو په مهال یې له نبي کریم ﷺ څخه وپوښتل چې سورلۍ ورکړې تر څو په سهولت او اسانتیا بېرته ستانه شي، نبي کریم ﷺ ورته وویل: ستاسو د سورلیو لپاره راسره هېڅ نشته چې در یې کړم، هغه ورته وویل: ای د الله رسوله! زمونږ او د کلي ترمنځ مو د خلکو ورک شوي اوښان په مېرو کې خوشې ګرځي، ایا کولای شوو چې ځانونه پرې خپلو کلیو کورنو ته سپاره ورسوو؟

نبي کریم ﷺ ورته وویل: په ډېر احتیاط ورڅخه ځان وساته ورنه ستا لپاره به د اور لمبې او سکروټې شي.

جارود رضي الله عَنْهُ د خپلو ملګرو په ملتیا له مدینې څخه رخصت شو او په اسلام او ایمان تر هغه کلک ولاړ و چې وفات شو، د ابوبکر رضي الله عَنْهُ په خلافت کې د مرتدینو سره د جهاد تر لړې ژوندی و.

---

(١) ابن هشام وايي: د عبدالقیس د قبیلې غړی جارود بن بشر بن المعلی لومړی نصراني و.

كومو خلكو چې يې په ملتيا اسلام ته غاړه ايښې وه ځيني ورځخه د غرور بن منذر بن نعمان بن منذر سره بېرته نصرانيت چې خپل لومړی دين يې و، واوښتل، دغه مهال جارود رضي الله عَنْهُ وپاځېد او د حق حقانيت او د شهادت کلمه يې وويله، او خلک يې بېرته په دې کلماتو اسلام ته راوبلل:

[ای خلکو! زه د الله په يووالي چې د عبادت يواځنی حقدار دی ګواهي ورکوم، او غوڅه عقيده لرم چې محمد ﷺ د الله پاک رښتني استازی او بنده دی، که څوک راسره دا ګواهي نه مني زه ورته کافر وايم][1].

## د مسيلمه کذاب په ملتيا د بنوحنيفه پلاوی

د بنو حنيفو په وفد کې د نبي کريم ﷺ حضورته ستر دروغجن مسيلمة بن حبيب حنفي هم راغلی و[2].

د دوی پالنه د بنونجار د قبيلې د يوې انصارۍ ښځې په کور کې کېده[3].

ما ته د مدينې متعلق زمونږ ځينو علماؤ وويل چې بنو حنيفه و مسيلمه الکذاب له ځان سره نبي کريم ﷺ ته راوست او په جامو اوپوښاک به يې پټو، نبي کريم ﷺ د خپلو ملګرو سره ناست و چې په لاس کې يې د کجورې لښته وه او په سر پورې يې پاڼې نښتې وې.

نبي کريم ﷺ ته په داسې حالت کې رانږدې شوچې هغوی لا په جامو پټو او ورسره يې خبرې اترې پيل کړې او ځينې غوښتنې يې هم ورځخه وکړې، نبي کريم ﷺ ورته وويل: که دا لښته هم راځخه وغواړې درته يې نه درکوم.

ابن اسحاق وايي: د يمامې ميشتوال د بنو حنيفه يو غړي راته د مسيلمه کذاب واقعه داسې بيان کړه چې له تېرې پېښې څخه توپير لري.

هغه راته وويل: بنو حنيفه چې کله نبي کريم ﷺ ته راغلل نو مسيلمه الکذاب ورسره نه و هغه يې په پلرني تاتوبي کې پرېښی و، دوی چې کله اسلام راوړ نو نبي کريم ﷺ ته يې د مسيلمه قومي او قبيلوي مکانت هم يا د کړ، ورته يې وويل: مونږ د خپلو کورونو او بچو د حفاظت په خاطر هغه پرېښود خو زمونږ ملګری دی.

(۱) ابن هشام وايي: داسې ورځخه نقل دي چې [که څوک راسره دا ګواهي نه مني زه به ورسره جنګ کوم].
(۲) ابن هشام وايي: د مسيلمه کذاب اسم کنيه ابوثمامة وه.
(۳) ابوذر رضي الله عَنْهُ وايي: ددغې ښځې نوم کيسة بنت الحارث وه.

نبي کریم ﷺ ورته دومره برخه ورکړه چې د پلاوې راغلو ګډونوالو ته يې ورکړې وه، او ورته يې وويل [هغه هم بد سړی نه دی] دا په دې خاطرچې د ملګرو دکور او اور په ساتنه بوخت و، او دنبي کريم ﷺ دخبرو موخه هم دا وه، هغه و چې راغلی وفد بېرته يمامې ته ستون شو اومسيلمه ته يې هغه برخه ورکړه چې نبي کريم ﷺ ورته ورکړې وه، يمامې ته په رسېدو هغه ظالم بېرته مرتد شو او د نبوت دعوه يې هم وکړه، او خلکو ته به يې د دروغو سجعې په دې بهانه جوړلې چې زه د نبي کريم ﷺ د نبوت شريکوال يم او مدينې ته تللی پلاوې ته به يې ويل چې ولې چې هغه تاسو ته نه و ويلي چې زه ښه سړی يم بد نه يم؟ هغه درته ځکه ويلي و چې زه ورسره په نبوت کې برخه دار يم.

د قران د ايتونو په ضد به يې سجعې جوړولې لکه [لَقَد أَنْعَمَ الله عَلَى الْحُبْلَى * أَخْرَجَ مِنْهَا نَسْمَةً تَسْعَى * مِنْ بَيْنِ صِفَاقٍ وَ حَشَا](١).

که څه هم مسيلمه د نبي کريم ﷺ په حق کې د نبوت ګواهي ورکوله خو ديمامې څخه خپلو پېروکارو ته يې شراب اوزنا روا کړي وو او ترڅنګ يې ورڅخه د لمونځونو فرضيت هم ساقط کړی و.

خو بيا هم بنو حنيفه وربانديې کلک ولاړ وو.

## د عدي بن حاتم رضي الله عَنْهُ قيصه

ما ته درارسيدلې معلوماتو له مخې چې عدي بن حاتم رضي الله عَنْهُ به ويل: په ټولو عربانو کې به نبي کريم ﷺ له ما څخه د بل چاډېر بدې نه شو، که څه هم زه شريف انسان وم خو د نصرانيت له کبله چې ما ته به مې قوم د غنيمت څلورمه برخه بې مشقته راکوله پرې ګذاره وم.

د قومي احترام له کبله ما ته ځان لوی باچا ښکارېد او دين مې راته محبوب دين و، خو چې د نبي کريم ﷺ اوازې مې تر غوږ شوې ډېرې بدې راباندې ولږېدې.

چونکه زما د اوښانو شپونکی او چوپان عربي هلک و ورته مې وويل: زما د تېښتې لپاره تيار چاغ او څربه تيز رفتاره اوښان چمتو کړه چې د محمد ﷺ د لښکرو اواز دې کله هم واورېد چې دلته راتلل نو ما په چټکه وخبروه، هغه مې ارشادات ومنل او لاړ.

يوه ورځ راته چوپان راغی او غږ يې کړ چې: که د محمد ﷺ له لښکرو سره هر څه کوې نو خبر اوسه چې بيرغونه مې وليدل، بيا مې وپوښتل چې دا لا څوک دي؟ چا راته وويل دا د محمد ﷺ جنګي لښکر دی.

(١) ژباړه: په اميدوارې ښځې د الله لويه لورينه دا ده چې له خيټې څخه يې ترې داسې انسان راويستی دی چې منډې ترړې وهي.

ما ورته وویل: په توندې لاړ شه او چمتو شوي اوښان مې زانزدې کړه، اوښان يې راته نزدې راوستل او د تېر په شمول مې شام ته د تګ هوډ وکړ تر څو هلته د خپلو ديني نصراني ملګرو سره يو ځای شم.

د ابن هشام د روايت له مخې عدي رضي الله عَنْهُ د نجد د جوشي يا حوشي نوم غر باندې رهی شو.

هغه وايي: خپله خور مې هم په کلي کې پرېښوده، که څه هم ما په شام کې واړوله خو د نبي کريم ﷺ لښکرو زمونږ په کلي يرغل کړی و او د (طي) قبيلې په وينځو او غلامانو کې زما خور هم وينځه شوې وه.

خو له بل پلوه نبي کريم ﷺ شام ته زما په تېښته هم خبرېدلی و.

د نبوي مسجد ترڅنګ شپول چې په جنګ کې نيول شوې ښځې به پکې ووسولی شوې (سفانه بنت حاتم) هم په کې بنديوانه وه.

يوه ورځ نبي کريم ﷺ تېرېده چې سفانه ورته ورپورته شوه، چونکه هغه ډېره زړه وره وه ورته يې کړه چې: پلار مې مړ دی او چې راپسې راځي هغه هم تر اوسه ورک دی، الله دې مل شه له ماسره ښېګړه وکړه.

نبي کريم ﷺ ورڅخه وپوښتل: څوک درپسې راځي؟

هغې ورته وويل: عدي بن حاتم رضي الله عَنْهُ نبي کريم ﷺ وويل: خا... خا... هغه عدي چې له الله او رسول څخه فراري دی؟

سفانه بنت حاتم وايي: بيا نبي کريم ﷺ ولاړ او زه يې پرېښودم، د سبا ورځې په مهال مې ورته بيا پرونۍ خبره تکرار کړه، او هغه هم راته په ځواب کې پرونې ځواب راکړ، په دريمه ورځ بيا ورپاڅېدم که څه هم زه نا اميده وم خو د هغه له شا اړخه راته چا اشاره وکړه چې خبرې ورسره وکړه، ما ورته وويل: پلار مې مړ او د پوښتنې والا مې تر اوسه رانغی، الله دې کومکې شه له ما سره احسان وکړه.

هغه راته وويل: سمه ده، ستا غوښتنه مې ومنله خو که د باور وړ څوک پيدا شي چې تا خپل ټاټوبي ته ورسوي ما خبر کړه.

ما ته چې چا د خبرو کولو اشاره وکړه ما يې پوښتنه وکړه راته وويل شول چې علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ و.

وخت لا تېر نه و چې د (بِلِّي) يا (قضاعه) قبيلې يوه پلاوې مدينې ته راغله، چونکه ما غوښتل شام ته د ورور څنګ ته لاړه شم نو نبي کريم ﷺ ته راغلم او ورته مې وويل: زما د قوم ځينې باور وړ خلک راغلي دي، هغوی کولای شي چې ما تر کوره ورسوي.

نبي کریم ﷺ ما ته سورلۍ اوپوښاک په شمول نوره نفقه هم راکړه تر څو شام ته ورسېدم.

عدي بن حاتم رضي الله عَنْهُ وايي: زه لا په خپل کور کې کورني غړو سره ناست وم چې یوه ښځه زمونږ په لور راروانه وه، ما وویل: دا خو زما خور ده!! چې ښه رانږدې شوه په رښتیا مې خور وه، په سر راته ودرېده او له حده یې زیات ملامته کړم، راته یې وویل: ای ظالمه! ای خپلولي شکونکیه! خپل بچي او ښځه دې له ځان سره راوستل او د خپل پلار لور دې بې کسه پرېښوده؟!

ما ورته وویل: ای زما خورکۍ! لږ صبر شه، له تاسره مې چې کوم ظلم زیاتی کړی دی هېڅ عذر او بهانه یې نه لرم، ته چې را ته څه وایې همدغسې مې کړي دي!!

د تېر په څېر په کور کې راسره پاتې شوه، چونکه هغه ډېره هوښیاره او ځېرکه وه، ما ورڅخه وپوښتل: د محمد ﷺ اړوند څه فکر لرې؟

هغې راته کړه: زما په اند باید هرومرو یې ملتیا وکړې، که سړی رښتیا اسماني استازی وي نو لومړیتوب ورته خیر او فضیلت دی، او که اسماني استازی نه وي نو په ملتیا کې یې هېڅکله هم نه شې ذلیل کېدای.

ما ورته کړه: لوړه په رب لایزال چې روغه خبره دې وکړه.

ما له شام څخه سفر پیل کړ تر څو نبي کریم ﷺ ته ورشم، هغه وچې مدینې ته ورسېدم او هغه مې په مسجد کې ولید، مسجد ته ننوتم او سلام مې پرې وکړ، هغه وپوښتل: څوک یې؟

ما ورته کړه: زه عدي بن حاتم یم، هغه وپاڅېد او د کور په لور یې له ځان سره روان کړم، مونږ لا کور ته روان وو چې بوډۍ ښځې په لاره کې راڅخه ودرو او تر ډېره حده یې ورسره خبرې وکړې او خپل حاجتونه یې ورڅخه وغوښتل، زه وپوهېدم چې قسم په الله دا هېڅکله د ملکیت دعودار نه دی او نه باچا دی.

بیا یې زه کورته بوتلم چې کله ننوتو د کجورو له پاڼو څخه ډک شوی بالښت یې ما ته راکوزار کړ او وېویل: په دې باندې کېنه، ما ورته وویل: د الله رسوله! ته ورته تکیه ووهه! هغه راته وویل: نا.. نا.. بلکې ته پرې کېنه زه په بالښت

او هغه په ځمکه کېناست، ما له ځان سره وویل: قسم په الله چې دا هېڅکله باچا نه دی.

بیا یې راته وویل: عدي! ته د نصرانیت او مجوسیت ترمنځ د رکوسیت مذهب پېروکار نه وې؟ ما ورته وویل: ولې نه.

هغه راته وویل: تا ته به دې قوم د غنیمت څلورمه برخه نه درکوله؟ ما ورته وویل: ولې نه، هغه راته کړه: ستا د نصرانیت په دین کې ستا لپاره دا حلال نه و؟ ما ورته وویل: هو همدغسې ده.

بیا زه پوره پوره وپوهېدم چې د اپه رښتیا باچا نه بلکې رښتنی پیغمبر دی.

د ټولو هر پټ او پناه وحې ورته کېدای شي، بیا یې راته وویل: عدي! ایا ستا له اسلام راوړو څخه مانع د مسلمانانو فقر او فاقت و؟ قسم په الله ډېره نزدې ده چې دمسلمانانو شتمني به دومره ډېره شي چې د اخستو والا به یې څوک نه پېدا کیږي، یا شاید له اسلام اعلانولو څخه دې مانع دا و چې غیرو او غلیم یې ډېر او د مسلمانانو نفوس کم دی، خو قسم په الله ډېره نزدې ده چې د بیت الله د زیارت لپاره به له قادسیې څخه زنانه په خپل اوښ راروانه وي او هېڅ راز ډار او ترس به نه محسوسوي.

یا کېدای شي د اسلام اعلانولو مانع دې دا و چې د نړۍ واک او اختیار به همیشه د غیر مسلمو په لاسونو کې وي، خو قسم په الله ډېره نزدې ده چې وابه اورې چې په لاسونو به یې د بابل سپیني ماڼې فتحه شي.

عدي رضي الله عَنْهُ وایي: بیا مې اسلام راوړ.

عدي رضي الله عَنْهُ وایي: دوه مې ولیدلې او دریمه به یې ضرور رابښکاره شي، دا مې ولیدل چې د بابل سپیني ماڼۍ د مسلمانانو په لاسونو کې ولوېدې، او دا مې هم ولیدل چې له قادسیې څخه ښځه په خپل اوښ د بیت الله زیارت لپاره په ډېر ډاډ او اطمینان راروانه وه، او قسم په الله چې دریمه هم خامخا شته کیږي، ثروت او مالداري به دومره زیاته شي چې هېڅ اخستونکی به یې شتون نه لري.

## د فروة بن مسک المرادي رضي الله عَنْهُ راتګ

ابن اسحاق وایي: فروة بن مسک رضي الله عَنْهُ نبی کریم ﷺ ته په داسې حالت کې راغی چې د کنده قبیلې ټولو مشرانو څخه یې بیزاري او اعتزال اعلان کړی و.

چونکه له اسلام د ر اتګ نه لږ څه وړاندې د مراد او همدان د قبیلو ترمنځ د (ردم خونریزه) معرکه رامنځ ته شوې وه چې همدانیانو پکې د مراد قبیله کې د مرګ او ژوبلې لویه غوښه کړې وه، دوی ته یې ستر ځاني زیانونه اړولي وو.

د مراد د قبیلې په ضد د همدان د جنګي قیادت مهار د اجدع بن مالک په لاس کې و[1].

له کله راهیسې چې فروه رضي الله عَنْهُ د کنده قبیلې له مشرانو څخه د نبي کریم ﷺ حضور ته تشریف راوړ دا بیتونه یې وویل:

(۱) ابن هشام وایي: د جنګ ددغه سحنه کې د همدان قیادت د مالک بن حریم په ولکه کې و.

لَمَّا رَأَيْتُ مُلُـوكَ كِنْدَةَ أَعَرَضَتْ *** كَالرِّجلِ خَانَ الرِّجْلَ عَرَقَ نَسَائِهَا
قرّبــت رَاحِلَـتي أؤمّ مُحَمَّــدًا *** أَرْجُو فَوَاضِلَهَا وَحُسْنَ ثَــرَائِهَا

❁ د کنده د مشرانو خوش ماشي او سرغړوني چې مې وليدې چې کورني او قبيلوي خيانتونه په کې را پورته شول نو...

❁ خپله سورلۍ مې ځان ته زانزدې کړه او محمد ﷺ سره دملتوب اراده مې وکړه، هلته د هغه سره ډېر خير او ډېر ثروت امېد او طمعه لرم.

ما ته د رارسيدلي راپور له مخې چې فروه رضي الله عَنْهُ کله هم نبي کريم ﷺ حضور ته ولاړ، هغه ورته وويل: ای فروه! د (ردم معرکه) کې چې ستا قوم ته خومره ځاني زيان رسيدلی دی ايا ته پرې خفه يې او که نه؟

هغه ورته وويل: ای د الله رسوله! د (ردم معرکې) په خبر ما ته ځاني تاوان که بل چا ته ورسيږي نو ايا خفه به نه شي؟ نو نبي کريم ﷺ ورته وويل: ستاسو لپاره دغه ځاني تاوان په اسلام کې له خير او فايدې پرته نور څه نه دي.

د اسلام راوړو وروسته نبي کريم ﷺ ورته د (مراد، زُبَيْد او د مُذحِج ټولو قبيلو واک او اختيار ورکړ، او ترڅنګ يې ورسره خالدبن سعيد بن العاص رضي الله عَنْهُ هم د صدقاتو په راغونډولو او توزيع مشر واستو، د نبي کريم ﷺ تر مړيني پورې ورسره خالد رضي الله عَنْهُ يو ځای و.

## د ځينو زبيديانو په ملتيا د عمرو بن معديکرب پلاوی

د بنوزبيد د ځينو خلکو په ملتيا د نبي کريم ﷺ په حضور کې عمرو بن معديکرب هم په داسې حالت کې راغی چې اسلام يې قبول کړی و، د نبي کريم ﷺ د نبوت په اوريدو سره سم عمرو ولاړ او قيس بن مکشوح المرادي ته يې وويل: ته د خپل قوم سرکرده او لوی مشرتابه يې، په حجاز کې د قريشو د قبيلې اړوند محمد ﷺ نوم سړي چې د اسماني استازيتوب دعوه لري بايد دواړه لاړ شو او حقيقي راپور په خپله ترلاسه کړو، که د نبوت دعوېدار په رښتيني توګه د الله استازی وي نو بيا خو خبره بيښبي پټه نه ده، او که رښتني پيغمبر نه وي نو سم معلومات خو به راته وشي!

قيس خبره ونه منله اومشوره يې ورله هم بده استقبال کړه، عمرو بن معديکرب د مدينې په لور سفر پيل کړ، مدينې ته په رارسېدو يې سمدستي په نبي کريم ﷺ باندې ايمان راوړ او

د هغه رسالت يې تصديق کړ، قيس بن مکشوح چې د عمرو په مسلمانېدو وخبرېد نو دمرګ درکې يې ورکړې او ګوستاخي يې هم ورله وکړه چې ولې دې زما ونه منله.

أَمَرْتُكَ يَوْمِ ذِي صنعاء *** أَمْـرًا بَادِيًـا رُشْـدَهْ
أَمَرْتُـكَ بِاتِّقَـاءِ اللهِ *** وَالْمَعْـرُوفِ تَتَّعِـدُهْ
خَرَجْتُ مِنَ الْمُنَى مِثْلَ *** الْحُمَـيِّرِ غَـرَّهُ وَتِدُهْ
تَمُنَّـانِي عَـلَى فَرَسٍ *** عَلَيْهِ جَالِسًـا أُسْـدُهْ
عَلَيَّ مُفَاضَـةٌ كَالنَّهْيِ *** أَخْلَصَ مَـاءَهُ جَدَدُهْ
تَـرُدُّ الرُّمْـحَ مُنْثَـنَى *** السِّنَانِ عَوَائِرًا قِصَدُهْ
فَلَوْ لَاقَيْتَـنِي لَلَقِيتَ *** لَيْثًـا فَوْقَـهُ لِبَـدُهْ
تُلَاقِي شَـنْبَثًا شَـثْنَ *** الْبَرَاثِنِ نَـاشِزًا كَتَدُهْ
يُسَامَى الْقِرْنَ إِنْ قِرْنٌ *** تَيَمَّمُـهُ فَيَقْتَصِـدُهْ
فَيَأْخُـذُهُ فَيَرْفَعُـهُ *** فَيَخْضِمُـهُ فَيَقْتَصِدُهْ
فَيَدْمَغُـهُ فَيَحْطِمُـهُ *** فَيَخْضِمُـهُ فَـيَزْدَرِدُهْ
ظَلُـومَ الـشَّرَكِ فِيمَا *** أَحْـرَزَتْ أَنْيَابُهُ وَيَدُهْ

۞ په صنعا کې د ملاقات په ورځ مې درته له پېرزوښخه ډکه خبره کړې وه.
۞ له الله څخه په ډار او په خير ښېګړې کولو مې درته مشوره درکړې وه.
۞ د هغه خرګوټي په څېر مې مقصد پسې وتېپدم چې خپل موړی (چې ورته تړل کيږي) مرسته اخلي.
۞ ته مې په مرګ ډاروې او حال دا چې زه لکه د زمري په څېر په اس سپور يم.
۞ د اوبو ډنډوکي په څېر راباندې له حفاظت نه ډکه زغره پرته ده داسې ډنډوکی چې وچې کړسې ځمکې يې اوبه پرېښې دي.
۞ داسې زغره چې غشې او د نيزې ګوزارونه تمبوي، او تېره غاښونه خواره واره پاشي.
۞ که د جنګ لپاره مې مخې ته راشې نو خبر شه چې داسې زمري له مخې ته ورغلې چې په اوږو يې ببر ويښته ولاړ دي.
۞ ويوهېږه چې هغه چا ته په غېږه ورغلې چې تر هغه دې نه پرېږدي تر څو يې ځملولی نه يې، او د هغه چا په ګوتو ورغلې چې خورا قوي لوړې اوږې لري.
۞ که راشې نو هغه چا ته به ورشې چې په خپل هم سيال باندې مقابله کې ورپورته کيږي او مټو کې يې قوي نيسي.

۞ لومړی يې مضبوط ونيسي او بيا يې پورته کړي او بيا يې ځمکې ته په دومره قوت راګوزار کړي چې ساه ترې اوباسي.

۞ په وهلو ټکولو ترې دماغ راوباسي او اندام اندام يې کړي، توکړه توکړه ورله وخوري او هضم يې کړي.

۞ داسې زمرى سره به مخ شي چې لاسونه او داړې يې د شريکوال سره په ښکاره کې زياتى کوي.

بيا تر ډېره موده د فروه بن مُسيک رضي الله عَنْهُ په مشرۍ کې عمرو بن معديکرب په بنوزُبيده کې پاتې شو، خو ولې د نبي کريم ﷺ له مړينې سره سمدستي مرتد شو، او دا شعرونه يې وويل:

وَجَدْنَا مُلْكَ فَــرْوَةَ شَرَّ مُلْكٍ *** حِمَــارًا سَــافَ مُنْخُــرَهُ بِثَفْرِ

وَكُنْــتَ إِذَا رَأَيْتَ أَبَــا عُمَيْرٍ *** تَرَى الْحُوَلَاءَ مِنْ خَبَثٍ وَغَدْرٍ

۞ د فروه مشري دومره بې کاره وه لکه خر چې په خپله پوزه د خرتوب مينه بويوي.

۞ ته چې کله ابوعمير ووينې نو داسې ښکاري لکه د اوښې بچې چې دې په خپل بد شکل کې ليدلى وي.

## د بنو کنده په وفد کې د اشعث بن قيس راتګ

ابن اسحاق وايي: اشعث بن قيس هم نبي کريم ﷺ ته د بنو کنده په راغلي پلاوي کې راغلى و.

ابن شهاب زهري راته وويل: د اشعث بن قيس په ملتيا نبي کريم ﷺ ته د بنوکنده اتيا غړي راغلل او مسجد ته په داسې حالت کې ننوتل چې د سر ويښتان يې ګمنځ کړي وو او له يمني تارونو څخه ودل شوي برګې يا کتاني چپنې يې اچولې وې چې ورېښم ورسره شريک وو، خو چې ځنګه د نبي کريم ﷺ په حضور کې ودرېدل هغه ورته وويل: ولې تاسو اسلام نه دى راوړى؟ هغوى ځواب ورکړ چې ولې نه، مونږ خو مسلمانان يو، نبي کريم ﷺ ورته وويل: بيا مو ولې له ورېښمو جوړ پوښاک په تن کړى دى؟

هغه (راوي) وايي: د بنو کنده وګړو خپلې چپنې وويشلې او ګوزار يې کړې.

په دې دورانيه کې اشعث بن قيس رضي الله عَنْهُ نبي کريم ﷺ ته وويل: مونږ او ته دواړه د مُرَار (د بوټې نوم دى) خوړونکو بچيان يو.

نبي کريم ﷺ ورته وخندل او ورته يې کړه چې دا نسبي نوم د عباس بن عبدالمطلب او ربيعة بن الحارث دواړو سره ډېر مناسب دی، چونکه د دواړو پېشه پلورل او پېرودل وو نو چې کله به دور دراز علاقو ته ولاړل او چا به ورڅخه وپوښتل چې نسبي اړيکې مو د کومې قبيلې اړوند دي؟ نو دواړو به ورته وويل مونږ (بنو آکل المُرَار) د قبيلې غړي يو.

او هغه داسې چې بنو کنده خپله ټولواکان او مشران خلک وو.

بيا ورته نبي کريم ﷺ وويل چې مونږ د نضر بن کنانه بچيان يو، په نسب کې پلار پسې ځو مورګانو پسې نه ځوو، اشعث بن قيس وويل: ای بنو کنده! ايا له خبرو څخه اوزګار شوې؟ که له دې وروسته مې له هر چا څخه د (بنوآکل المُرار) نوم واورېد نو اتيا دورې به يې ووهم.

## نبي کريم ﷺ ته د صرد بن عبدالله أزدي راتګ

د (ازد) قبيلې په راغلې پلاوې کې د نبي کريم ﷺ په حضور کې صرد بن عبدالله ازدي هم تشريف راوړی و، د نيک ښه او باعمله مسلمان په صفت يې د ژوند نوی پړاو پيل کړ، نبي کريم ﷺ د راغلي وفد او د قوم نور هغه غړي چې اسلام ته يې تن ايښی و همده ته يې د ټولو مشري ورکړه، او ورته يې امر وکړ چې د مسلمانانو په ملتيا د يمن او يمن ته نژدې پرتو مشرکانو سره جنګ او جهاد وکړي.

صرد بن عبدالله رضي الله عَنْهُ د نبي کريم ﷺ د امر سره سم د مسلمانانو په ملتيا ولاړ، تر دې چې د (جُرُش) نوم ځای ته ورسېد، د صرد بن عبدالله رضي الله عَنْهُ نه چې کله د خثعم قبيله وخبرېده ټول لاړل او د کليوالو سره يې په جُرُش کې واړول، که څه يې هم نژدې يوه مياشت محاصره کړل خو چونکه د جرش مقام له هر اړخه بنده ساحه لرله اوځيني يمني قبيلې پکې ميشتې وې نو هلته ترې ټول کافران پټ او پناه شول، صرد بن عبدالله رضي الله عَنْهُ محاصره ماته کړه او د (شَکَر) نوم غر ته ولاړ، د جرش هستوګنوالو داسې وپتيله چې ګنې شکست يې وخوړ نو ټول پسې راووتل، صرد بن عبدالله رضي الله عَنْهُ پرې راوګرځېد او بې ساري غوڅه مرګ او ژوبله يې ورته واړوله، خو دا چې جرشيانو د نبي کريم ﷺ اړوند راپور راغونډولو په خاطر دوه جاسوسان لېږدولي وو، د مازيګر لمونځ وروسته نبي کريم ﷺ له دواړو وپوښتل: د الله په ځمکه کې د شکر نوم ځای چرته دی؟ دواړو ورته په خپلې کليوالی لهجه وويل: کشر زمونږ د قلمرو غرييزه سيمه ده، هغه ورته وويل کشر نه دی شَکَر دی، بيا ورڅخه دواړو وپوښتل: ولې هلته څه دي؟ نبي کريم ﷺ ورته وويل: هلته اوسمهال اوښان ذبحه کيږي، دواړه سړي ابوبکر يا عثمان رضي الله عَنْهُمَا ته راغلل او ورسره

کېناستل، هغه ورته وويل: خوار شئ! نبي کريم ﷺ ته ورشئ او ورڅخه وغواړئ چې الله مو له قوم څخه عذاب پورته کړي، ايا تاسو نه پوهېدئ چې هغه درته د خپل قوم د مرګ ژوبلې پېغام درکړ؟

دواړه پاڅېدل او له نبي کريم ﷺ څخه يې ياده شوې غوښتنه وکړه، هغه وويل: ای الله! په کوم عذاب چې ددې دواړو قوم اخته دی، ته ورته نجات ورکړه.

دواړو له مديني څخه وکوچېدل، کلي کور ته په رسېدو رښتيا هم چې د نبي کريم ﷺ په ذکر کړي وخت او ورځ ورته د صرد بن عبدالله رضي الله عَنْهُ په لاس درنه ځاني ضايع اوښتې وه.

له دې پړوا وروسته د جُرُش پلاوې نبي کريم ﷺ ته راغله او خپل اسلام يې اعلان کړ، د هغوی د اسونو، اوښانو او د ځمکې يوې کولو په خاطر په نښه کړي غويانو لپاره يې ورته څرځای په نښو نښانو معلوم کړل، د نورو خلکو مالونه څرول يې په کې حرام وبلل.

## د حمير د نوابانو استازي ليک راوړل

د نبي کريم ﷺ له تبوک نه راستنېدو په مهال ورته د حمير د نوابانو هريو حارث بن عبدکلال، نُعيم بن عبدکلال، او د ذي رعين نواب نعمان او د همدان او معافر نورو نوابانو په کې د اسلام ته غاړه کېښودلو خوشخبري راواستوله، او زرعه ذو يزن ورته د مالک بن مرة الرهاوي په لاس ليک راواستو چې نور هغوی د شرک او مشرکانو لمنه پرېښوده.

نبي کريم ﷺ ورته وليکل: [بسم الله الرحمن الرحيم، دا د الله رسول له پلوه حارث بن عبدکلال، او نعيم بن عبدکلال او ذي رعين نواب، نعمان او د همدان او معافر نورو نوابانو ته پيغام دی.

هغه لوی ذات او برحق معبود چې ورڅخه پرته بل معبود نشته، زه يې حمدونه او

ثناګانې وايم، د روميانو له قلمرو څخه مديني ته په رارسېدو راسره ستاسو د استازي ليدل کتل وشول، هغه مونږ ستاسو له اسلام څخه وخبرولو، او خبر يې کړو چې تاسو د شرک او مشرکانو په ضد وسلوال بريدونه کړي دي، تاسو ته الله پاک د خپل توفيق له مخې د دين په لورې هدايت وکړ، خو که لمونځ مو ادا کړ او زکاتونه مو ورکړل، له غنيمت څخه مو د الله پاک او د هغه د رسول برخه ادا کړه، په مسلمانانو د واجبو او فرضو صدقاتو خيال مو وساتو، په چينه او باران خړوبه شوې ځمکې پيداوار کې مو واجبي لسمه برخه ورکړه او د بوکو او جاني زيار خړوبه شوې ځمکې پيداوار څخه موينځمه برخه ورکړه، په څلوېښتو اوښانو کې زکات درې

کلنه اوښه او په دېرشو اوښانو کې يو نر درې کلن اوښ او په پنځه اوښانو کې يو بزه (وزه) فرض صدقه ده، او په هرو لسو کې دوه وزې فرض دي، او په څلوېښتو غواګانو کې دوه کلنه غوا (سخی) فرض صدقه ده، او په دېرشو غواګانو کې يو کلن يا دوه کلن سخی يا سخۍ ده، او په هر څلوېښتو بزو کې يو بزه الله پاک فرض کړې صدقه ده، دا د الله پاک په مسلمانانو باندې فرض کړي صدقات دي، که څوک په صدقاتو کې ډېره دلچسپي لري دا يې غوره ترينه خصلت دی، خو که څوک يواځې فرض صدقه ادا کوي او د کافرانو په ضد د مسلمانانو مرستندويه وي او اسلامي شعائر ښکاره کوي نو مومن دی، دغه انسان د مسلمان په څېر په نورو او نور يې په ده حقوق لري، د دې سربېره د الله او د هغه د رسول په امان کې هم دی.

که کوم يهودي يا نصراني اسلام ته په رښتنې توګه غاړه کېږدي هغه هم مومن دی او د مومن په څېر بشپړ حقوق لري، خو که څوک په خپل يهوديت يا نصرانيت ولاړ وي، وي دې خو په دې شرط چې ټيکس به ورکوي او د مذهبي شعايرو او عبادتونه مخه به يې نه شي نيول کېدای.

هر بالغ يهودي نارينه او زنانه، غلام او ازاد له کوم توپير پرته به يوه يمني جوړه (پوښاک) يا يې مساوي درهم د مسلمانانو بيت المال ته ورکوي.

که هر څوک ياده شوې جزيه (ټيکس) د الله پاک او د هغه رسول ته ورکړي نو د الله او د هغه د رسول په امان کې دی، خو که چا يې مخه ونيوله او انکار يې وکړ نو د الله پاک او د هغه د رسول دښمن دی.

زرعه ذي يزن ته د رسول الله ﷺ پيغام دی چې کله هم تا ته زما استازي راشي نو د شان وړ قدر او احترام يې وکړه، زه درته د معاذ بن جبل، عبدالله بن زيد، مالک بن عبادة، عقبة بن نمر، مالک بن مرة رضي الله عَنْهُمْ او د نورو ورسره ملګرو په قدر وصيت کوم.

معاذ بن جبل رضي الله عَنْهُ چې زما د درلېږلې پلاوې مشرتابه دی، ورته خپل ټول فرض زکاتونه او له غير مسلمانانو څخه اخستل شوي ټيکسونه (جزيه) ورکړه، د درلېږلې پلاوې هېڅ غړی درڅخه خفه او بې ټنډې راستون نه شي.

محمد ﷺ د دې کلکه ګواهي ورکوي چې د الله پاک پرته نور هېڅ څوک حق معبودان نشته او خپله د الله بنده او استازی دی.

مالک الرهاوي زه وخبرولم چې په حمير کې اسلام د لومړي ځل لپاره تا راوړی دی او د مشرکانو سره دې جګړېزه مبارزه هم کړې ده، دا ستا لپاره د خير زيری دی، د حمير د ټولو غړو ځانګړی خيال وساته، له خيانت او د خلکو بې ستره کولو څخه ځان وژغوره، نبي کريم ﷺ ستاسو د مالدار او نادار رښتنی دوست دی، بايد خبر ياست چې زکاتونه او صدقات د نبي کريم ﷺ او د هغه د کورنۍ غړو لپاره روا نه دي، زکات باندې الله پاک انسان له بخل او نورو رنځونو څخه پاکوي، او زکات د شتمنو خلکو په شتمنيو کې د غريب او ناداره خلکو حق دی.

مالک الرهاوي د راپور راوړولو سره سم ټول رازونه په سمه توګه ساتلي دي، د مالک په احترام هم درته ځانګړی امر کوم، د ښه باعلمه او دینداره انسان په صفت مې تاسو ته درواستو، والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته]

ابن اسحاق وايي: عبدالله بن ابي بکر راته وویل: هغه ته چا ویلي و چې نبی کریم ﷺ کله هم معاذ بن جبل رضي الله عَنْهُ یمن استو، نو ورته یې نصیحت وکړ چې خلک په زیار او سترې کې مه اچوه بلکې نرمي ورسره کوه، کرکه او نفرتونه نه بلکې زیري او خوشحالي ورته ورکوه، ته به هلته داهل کتابو دقومونو سره مخامخ کېږې هغوی به درڅخه پوښتي چې د جنت کونجیانې څه شی دي؟ ته به ورته وايې چې (لاَ اِلَهَ اِلاَّالله مُحَمَّدُ الرَّسُوْلُ اللهِ) د جنت کونجي ده.

## د خالد بن ولید په لاس د بنوالحارث بن کعب د کورنۍ اسلام قبلول

ابن اسحاق وايي: د لسم هجري کال د ربیع الاخر یا جمادی الاولی په میاشت کې نبي ﷺ نجران کې بنوالحارث بن کعب ته خالد بن ولید رضي الله عَنْهُ واستو چې ولاړشه او اسلام ته یې دربې ورځې راوبله، که یې اسلام ته غاړه کېښوده ډېره ښه ده او که دعوتي مشن ته یې شاه کړه نو ورسره وجنګېږه.

خالد بن ولید رضي الله عَنْهُ د رسېدو سره سم دعوتي پلاوې په کلیو کوڅو کې خپرې کړې او اسلام ته یې د دعوت اواز خپور کړ چې [ای خلکو! اسلام ته غاړه کېږدئ بچ به شئ] هغه و چې ټولو خلکو اسلام ته غاړه کېښوده.

خالد بن ولید رضي الله عَنْهُ د نبي کریم ﷺ د امر سره سم هغوی د اسلامي دین احکام او د الله پاک رالیږلي کتاب او د نبي ﷺ د سنتو په زده کړه بوخت وساتل.

بیا خالد بن ولید رضي الله عَنْهُ نبي کریم ﷺ ته لیک واستو چې [بسم الله الرحمن الرحیم، دا د خالد له پلوه د الله پیغمبر محمد ﷺ ته پیغام دی، د الله رسوله! د الله پاک پېرزویني او رحمتونه دې مل شه تا ته دهغه حق معبود او پروردګار ډېره ثنا وایم چې ورڅخه پرته بل برحق معبود نشته، د الله رسوله! صلی الله علیک، زه دې بنوالحارث بن کعب ته په دې راستولی وم چې تر درې ورځو پورې ورسره جنګ جګړه ونه کړم او اسلام ته یې راوبلم، که یې اسلام ته غاړه کېښوده اسلام یې قبول دی او تر هغه به په کې یم چې ستا د امر سره سم ورته د الله پاک کتاب او د هغه د پیغمبر راوړی دین او سلامي احکام ورزده کړم، او که یې اسلام رانه وړ بیا به ورسره ستا د امر سره سم جهاد کوم، زما د رارسېدو سر سم ما په هغوی کې استازي واستول او

د امر سره سم يې ورته وويل [اى بنوالحارث بن كعب! په دې خاطر چې سالم او غانم پاتې شئ نو اسلام راوړئ] هغوى ټولو اسلام راوړ، اوسمهال زه دهغوى په منځ کې يم او د الله په اوامرو ورته امر کوم او د هغه له نواهيو څخه يې رابندوم، ددې ترڅنګ ورته د الله د دين روڼ احکام او نبوي لارښونې هم ورزده کوم، والسلام عليک يا رسول الله ورحمة الله وبرکاته.

نبي کريم ﷺ ورته بېرته ليک واستو چې:

[د الله د پېغمبر او نبي محمد ﷺ له پلوه خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ ته، روغ او سلامت اوسې، تا ته د هغه حق معبود او پروردګار ثنا وايم چې ورڅخه پرته بل حق معبود شتون نه لري، د استازي په ملتيا ستا ليک راورسېد چې له جنګ جګړې پرته په کې د بنوالحارث بن کعب د اسلام راوړلو پېغام و چې هغوى ستا دعوتې مشن ته ورغاړې وتي دي، او هغوى په دې ګواهي ورکوي چې له الله پرته بل حق معبود نشته او محمد ﷺ د الله پاک حق پېغمبر او بنده دى، تا وخبرولو چې الله پاک هغوى ته هدايت کړى دى، د جنت اړوند زېرى ورته ورکړه او له دوزخ له عذابونو څخه يې وډاروه، د بنوالحارث بن کعب د قبيلوي پلاوې په شمول ته هم ورسره زما خواته راشئ، والسلام عليک ورحمة الله وبرکاته].

د امر سره سم خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ د بنوالحارث د پلاوې سره د مدينې په لور راروان شو، هېره دې نه وې چې په تشکيل شوې پلاوې کې قيس بن الحصين ذي الغصّه، يزيد بن عبدالمدان، يزيد بن المحجَّل، عبدالله بن قُراد الزيادي، شداد بن عبالله القناتي، عمرو بن عبدالله الضِبابي مخه ور خلک هم وو، د رارسېدو سره نبي کريم ﷺ وپوښتل چې دا څوک دي؟ دا خو داسې برېښي لکه د هند هستوګنوال چې وي.

چا ورته وويل: اى د الله رسوله! دا د بنوالحارث بن کعب مخه ور خلک او راغلې پلاوې ده، نبي کريم ﷺ ته راغلل او سلام يې ورسره وکړ، او ورته يې وويل: مونږ ټول د دې ګواهې ورکو چې د الله پاک پرته بل حق معبود نشته، او ته د الله رسول او استازى يې.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: هو زه هم د دې ګواهي ورکوم چې له الله پاک پرته بل حق معبود نشته او زه د الله رسول يم.

بيا ورته نبي کريم ﷺ درې ځل وويل: ايا تاسو هغه خلک ياست چې څوک مو له څه رابند کړي هم هغه کوئ؟ يزيد بن عبدالمدان چې درې ځله پوښتنه ونه ځوابول شوه، په څلورم ځل يې وويل: هو د الله رسوله! مونږ هغه څوک يو چې له څه نه مو څوک رابند کړي هغه کار کوو.

نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: که خالد راته نه وئ راستولئ چې له جنګ جګړې مو پرته اسلام منلى دى نو د خپو لاندې به مې درله سرونه غورځولي وو.

يزيد بن عبدالمدان ورته وويل: اسلام ته په تن کېښودو کې نه ستا او نه هم د خالد بن وليد رضي الله عَنْهُ ستاينه کوو، نبي کريم ﷺ ورته وويل: نو د چا په ثنا قايل ياست؟ هغه ورته

وويل: ای د الله رسوله! مونږ د هغه پروردګار او حق معبود ثنا خوان یو چې ستا په توسط يې راته هدایت وکړ، نبي کریم ﷺ ورته وویل: روغه خبره دې وکړه.

بیا ترې نبي کریم ﷺ وپوښتل چې د جاهلیت په دور کې به مو له خلکو نه جنګي میدانونه په څه ګټل؟ هغوی ورته وویل: مونږ له هیڅ چا هم میدان نه دی وړی، هغه ورته وویل: ولې نه چې د چا سره به په شخړه شوي نو مرد میدان به تاسو وئ!

هغوی ورته وویل: ای د الله رسوله! زمونږ د میدان ګټلو راز دا و چې مونږ به بېلابېل نه بلکې یو لاس او اتحاد وو، او په هیڅ چا مو ظلم زیاتی او چور چپاول نه دی پیل کړی، دا مو د اتلولۍ لوی راز و.

بیا نبي کریم ﷺ بنوالحارث بن کعب باندې قیس بن الحصین مشر وګماره، د بنو الحارث راغلې پلاوې د شوال یا ذي القعدې د میاشتې په پاتو ورځو کې بیرته خپل ټبر ته ستنه شوه.

د پلاوې خپل ټبر ته څلور میاشتې ستنېدو وروسته نبي کریم ﷺ هم وفات شو.

د بنوالحارث بن کعب د پلاوې ستنېدو وروسته پسې نبي کریم ﷺ د دیني احکامو د پوهاوي په خاطر چې دین ورته لا پسې روښانه شي او نبوي لارښوونې ورته لا مزیدې ورزده کړي عمرو بن حزم رضي الله عَنْهُ واستو، نبي کریم ﷺ ورته خپل ځانګړي اوامر په لیکلې بڼه ورکړل چې:

[بسم الله الرحمن الرحیم، دا د الله پاک او د هغه رسول له پلوه خورا ډاګیز حکمونه دي، ای مومنانو! په خپلو ژمنو وفاء وکړئ، دا لیکنه د الله پاک د استازي محمد ﷺ عمرو بن حزم رضي الله عَنْهُ ته هغه مهال ورکړه چې یمن ته يې استو، هغه ته د ژوند اړوند ټول چارو کې له الله څخه په ډار او ترس امر دی، الله پاک د هغه چا مرستندویه دی چې ورڅخه ډارېږي او نېکې رویې ښنبتنان دي، عمرو بن حزم رضي الله عَنْهُ ته دا حکم متوجه دی چې د الله پاک د امر سره سم د حق غوښتنې مطابق دنده انجام کړي، خلکو ته به د خیر ښېګړې امر کوي او منونکو ته به زیري ورکوي، خلکو ته به قراني ایتونه او دیني حکمونه ورزده کوي، قران کریم به له طهارت پرته هیڅ څوک نه راخلي، خلک به خپل منځني حقوقو باندې پوهوي، په خلکو به زیاته نرمي او اسانتیاوې کوي، چونکه ظلم د الله پاک بدې شي نو خلک به له ظلم زیاتي څخه په سخته رابندوي، الله پاک فرمايي ﴿أَلَا لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴾(١).

عمرو بن حزم رضي الله عَنْهُ به خلکو ته په جنت او د جنت په عملونو زیري ورکوي او د دې برسېره به خلک د اور له عذاب څخه ډاروي.

---

(١) سورت هود: (١٨) ژباړه: خبردار! په ظالمانو دې د الله لعنت وي.

د دينې احكامو د ښه فقاهت لپاره به د خلكو سره مينه كوي، خلكو ته به د حج مراسم، د حج سنتونه او فرضي اعمال به ورزده كوي، حج په خپله لوى حج دى او عمره كوچنى حج دى، له دې نه به خلك رابندوي چې هغوى به په داسې جامه كې لمونځ نه كوي چې بس او كافي نه وي مګر دا چې لاندې باندې تر غاړې ووځي، خلك به ځان په يو ه جامه كې داسې نه سمبالوي چې اسمان ته يې فرج پورته نيولى وى (احتباء به نه كوي) او نه به خلك وېښتان په شټ كې غوټه كوي، خلك به د خپلمنځى رامنځ ته شوې پېښو له مخې قبيلوي رګونه او تعصب ته وده نه وركوي، خلك به ټول د الله پاک په لورې بلونوال وي، كه د الهي دعوت پرځاى څوک قبيلوي دعوتونو لړې پيل كړي تر هغه به ورسره په توره او ډانګ خبرې كولى شي تر څو يې بلنه د يک او يواځې الله پاک چې هېڅ راز شريک نه لري په لور بشپړه سوچه شي، زما استازي به خلكو ته د پوره اودس په كولو امر كوي چې مخونه او لاسونه به تر څنګلو پورې او ښپې به تر ګټكو پورې وينځي، او د الله پاک د امر سره سم به په سرونو مسحه كوي.

د الله رسول تاسو ته په خپلو وختونو باندې داسې د لمونځ كولو امر كوي چې ركوع او سجده يې په خشوع سمبال وي.

دسهار لمونځ به دسهار له راختو په لومړي وخت كې ادا كولى شي، او د ماسپښين لمونځ به د زوال سره سم په لومړني وخت كې كېږي، د مازديګر لمونځ هله د ادا وړ دى چې لمر ځمكې ته شاه كړي، د ماښام لمونځ وخت د شپې د لومړي تاريكو خپرېدل دي، په اسمان كې د ستورو راختو وروسته به د ماښام لمونځ نه شي تاخير كېداى، او د ماسخوتن لمونځ وخت د شپې لومړۍ برخه ده.

د الله رسول تاسو ته د جمعې ورځې د اذان سره سم لمونځ ته د چټكې حاضرۍ امر كوي، په داسې حال كې چې د ادا لپاره به يې تاسو غسل او اغتسال كړي وي، د الله رسول خپل استازي ته ا مر كړى دى چې له غنيمت څخه پنځمه برخه به الله ته وركوي.

چينو او اسمان خړوب كړې ځمكې پېداوار كې به مومنان لسمه برخه صدقه او زكات وركوي، په زيار او تكليف خړوب شوي پېداوار كې به له ځمكې څخه پنځمه برخه فرضي زكات وي، په هرو لسو اوښانو كې دوه بزې (وزې) دي، په شلو اوښانو كې څلور بزې فرضي زكات دى.

په څلوېښتو غويانو كې يوه غوا، او په دېرشو غواګانو كې يو كلن يا دوه كلن سخى فرضي صدقه ده، په هرو څلوېښتو بزو (وزو) كې يو بزه فرضي صدقه ده، د مومنانو په شتمنيو كې پورتنى مذكوره برخې د الله پاک حقونه دي، خو كه د مزيد احسان په بنسټ څوک اضافه برخه وركوي دا به ورله ډېره ښه وي.

كه هر يهودي او نصراني دزړه له كومې له زور جبر پرته اسلام ته غاړه كېښوده نوسم دم مسلمان بلل كيږي، دا په مسلمانانو او مسلمان په ده حقوق لري.

خو که په یهودیت یا نصرانیت څوک کلک ولاړ وي مخه یې نه شي نیول کېدای خو هر بالغ یهودي اونصراني نارینه وي که زنانه، ازاد وي که غلام خو پوره دینار یا په عوض کې به د تن جامې په ټیکس کې ورکوي، د مذکوره ټیکس بدل کې ټولو ته د الله پاک او د هغه د رسول د سر ساتنې امان حاصل دی، خو که هر یهودي یا نصراني یې له ادا څخه سرغړونه وکړه نو سرغړونکی به د الله او د هغه د رسول او د ټولو مومنانو ستر دښمن وي]

په محمد ﷺ دې د الله درودونه وي، والسلام علیکم ورحمة اله وبرکاته.

## د دوه سترو دروغجنانو مسیلمه او اسود عنسي پېښه

ابن اسحاق وايي: د نبي کریم ﷺ په دور حیات کې دوو لویو دروغجنانو د نبوت دعوې وکړې، مسیلمه د یمامې په سیمه بنو حنیفه کې او اسود عنسي په صنعاء کې د خپل نبوت اوازې خپرې کړې.

ابوسعید خدري رضي الله عَنْهُ وايي: نبي کریم ﷺ په ممبر خطبه ورکوله چې ما ترې واورېدل: [ما لیلة القدر په خوب کې ولید خو وخت یې راڅخه بېرته هېر کړی شو، او خوب مې ولید چې دسرو زرو دوه بنګړي مې په مټ کې پراته دي، له پامه مې بدې راغلل نو پوکې مې ورته وکړې دواړه والوتل، تعبیر مې ورڅخه د یمن او د یمامې دروغجنان واخستل.

د ابوهریره رضي الله عَنْهُ په روایت چې پیاوړي دین پوهه راته بیان وکړ چې زه پرې د دروغو ګمان بیخي نه کوم، چې ابوهریره رضي الله عَنْهُ ویل: (ما له رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې هغه ویل: تر هغه به د قیامت ورځ رانه شي چې ورڅخه وړاندې دېرشتو دروغجنانو د نبوت دعوې نه وي کړې]

## د زکاتونو په راټولولو د ګمارل شوې غړو وتل

د اسلامي دین تر ولقي لاندې کړدې لویدلې دوردراز سیمو ته نبي کریم ﷺ خپل ګورنران او دزکاتونو په چارو ګمارل شوي وګړې د زکاتونو راټولولو لپاره واستول، اسود

عنسي د نبوت دعودار لا په صنعا کې و چې نبي کريم ﷺ يې د زکاتونو راټولو لپاره مهاجر بن اميه بن المغيره رضي الله عَنْهُ واستو، حضرموت ته يې د بنو بياضه د کورنۍ غړی زياد بن لبيد رضي الله عَنْهُ واستو، عدي بن حاتم الطائي رضي الله عَنْهُ يې بنو طيئ او بنو اسد ته واستو، او بنو حنظله ته يې مالک بن نويره رضي الله عَنْهُ واستو، د بنو سعد په يو اړخ يې زبرقان بن بدر رضي الله عَنْهُ او په بل اړخ يې قيس بن عاصم رضي الله عَنْهُ واستول، بحرين ته يې علاء ابن الحضرمي رضي الله عَنْهُ او د نجران د صدقاتو او ټيکسونو راټولو لپاره يې علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ واستو.

## نبي کريم ﷺ ته د مسيلمة الکذاب ليک او د هغه ځواب

مسيلمه بن حبيب نبي کريم ﷺ ته ليک راواستو چې:

دا د الله د استازي له اړخه د الله استازي محمد ته پيغام دی.

تا ته دې سلام وي، زه د نبوت په چارو کې له تاسره مل جوړ شوم، د ځمکې نيمه برخه زمونږ او نوره نيمه يې د قريشو ده، خو قريش د لوټ مار او چورچپاول خلک دي.

د مسيلمه دا ليک د هغه دوو استازو راوړ.

ابن اسحاق وايي: د سلمة بن مسعود الاشجعي څخه په روايت يو اشجعي ووېل چې سلمه به ويل چې زما پلار له رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چې هغه کله هم ليک ولوست، له استازو يې وپوښتل چې تاسو دواړه يې اړوند څه عقيده لرئ؟ هغوی ورته ووېل: د مسيلمه خبره زمونږ خبره ده.

نبي کريم ﷺ ورته ووېل: [لوړه په رب لايزال چې که استازي وژل کېدای شوی نو ما به هرومرو تاسو وژلای وی].

بيا يې مسيلمه ته وليکل:

[بسم الله الرحمن الرحيم، دا د الله پاک د استازي محمد ﷺ له اړخه لوی او ستر دروغجن مسيلمه ته پيغام دی، سوکالي او سلامتيا دې د خير او هدايت په پيروکارو وي، ځمکه د الله ځمکه ده او د خپلې خوښې له مخې يې خپلو بندګانو ته ورکوي، خو ولې نېکه پايله د متقينو په انجام تماميږي].

هېره دې نه وي چې مسيلمه ته يې ليکنه د لسم کال په اخر کې واستوله.

# حجة الوداع

د ذوالقعدې میاشتې په راتګ د حج مراسمو لپاره نبي کريم ﷺ ځان چمتو کړ او خلک يې وپوهول چې د حج لپاره بشپړ تياری ونيسي، د ذي القعدې پنځه شپې ورځې لا پاتې وې چې نبي کريم ﷺ د حج لپاره د سفر دورانيه پيل کړه[١].

نبي کريم ﷺ ولاړ او هلته يې خلکو ته د حج مراسم او سنتونه او طريقه کار وښود، او خلکو ته يې خپله خطبه واوروله، په الله پاک يې له وړ ثنا صفت وروسته وويل:

[ای خلکو! زما خبرې ښه په ځير واورئ، شايد له دې وروسته درسره دلته ليدل کتل ونه کړی شم.

ای خلکو! د الله پاک سره تر ملاقات پورې په تاسو باندې ستاسو وينې او شتمني داسې حرام او ناروا دي لکه نن ورځ او روانه مياشت چې څنګه حرامه ده.

په دې مې پوهولې ياست چې ستاسو په عملونو به درسره ستاسو رب حساب او کتاب کوي، که له چا سره د امانت په توګه د بل چا ملکيتونه وي نو بېرته دې حقدارو ته خپل حقونه وسپاري، د جاهليت ټول سودي او ربوي عقود لغوه دی، دا چې نه په چا ظلم زياتی وکړئ او نه درباندې ظلم زياتی وشي د خپل راس المال پرته نور حق نه لرئ، دا د الله پرېکړه ده چې سود دې هرومرو زوال وخوري، د عباس بن عبدالمطلب د جاهليت د دور ټول سودي کاروبار د لومړي ځل لپاره زه له خپو څخه لاندې کوم، دجاهليت د دور وينې لغوه او بدله به يې نه شي اخستی، لومړی وينه چې زه يې له غچ اخستو غورځوم د ابن ربيعه بن الحارث بن عبدالمطلب وينه ده، دا چې هغه په بنو ليث کې شيدې خوړلې وې (د ماشومتوب په مهال) او هذيل وژلی دی، د جاهليت د دور مړو کې زه لومړی د هغه وينه بخشش کوم.

ای خلکو! له دې وروسته شيطان دلته نور له خپل عبادت څخه نا امېده شوی دی چې ستاسو په ځمکه يې عبادت وشي، خو ولې هغه له تاسو څخه په دې هم خوښ دی چې په هغه څه کې يې پېروکاري وشي چې ستاسو له نظره حقير او بې باکه چارې وې، بايد هوښيار او ځيرکه اووسئ.

ای خلکو! د مياشتو تاخيرول په کفر کې مزيده تنزلي ده، کافران پرې لا پسې ګمراه کيږي، چې يو کال د مياشتې په حليت او بل کال يې بيا په حرمت قايل وي، دا په دې خاطر چې د الله پاک د حرامو کړو مياشتو شمېر سره ټکراو لري، نو د الله حلالې مياشتې په ځان حراموي او حرامې مياشتې يې په ځان حلالوي، زمانه هم لکه د اسمان او ځمکې د لومړی ځل پيدائښت

(١) ابن هشام وايي: دا مهال يې د روايتونو له اختلاف له مخې ابودجانه يا سباع بن عرفطه رضي الله عَنْهُمَا کې يو نفر په مدينه امير ګمارلی و.

په څېر راوڅرخېده، د الله په نېز میاشتې دولسو پورې شمېر لري، څلور پکې حرامې دي، درې پرله پسې او بل د مضریانو رجب دی چې د جمادی الثانیه او شعبان ترمنځ ده[۱].

ای خلکو! تاسو په خپلو ښځو او ښځې مو په تاسو ځانګړې حقوق لري، ستاسو حق پرې دا دی چې ستاسو په ناستځی کې به هغه څوک نه کېنوي چې ستاسو بدي راځي، او ستاسو حقوق پرې دا دي چې هېڅ ډول فاحشي او بدفعلي به نه کوي، که یې ستاسو څخه سرغړونې پیل کړې نو د الله پاک د امر سره سم ورسره اړیکې بې مینې کړئ، خبرې ورسره مه کوئ، په بسترو او ځملاست ځای کې ترې ځانونه راجلا کړئ، د وېرولو په خاطر ورسره اخ اوډب وکړئ خو چې وهل سخت نه وي، که یې درسره خوښ حالت وښودل په تاسو د رزق او پوښاک ثابت حقوق لري.

د ښځو سره له خیر نه ډکه رویه وپالئ، دوی له تاسو سره د بندیوان حیثیت لري چې د ځانونو لپاره د هېڅ توان نه لري، ځکه چې تاسو د الله پاک په نوم له ځان سره رابندي کړې دي، او د هغوی فرجونه مو ځانونو ته د الله په نوم روا او حلال کړي دي.

ای خلکو! زما په خبرو ځانونه ښه پوهه کړئ، تاسو ته مې دین په ښه ډول بیان کړ، په تاسو کې مې داسې څه پرېښې دي که منګولې پرې ولګوئ هېڅکله به بې لارې نه شئ، ډېر روښان او خورا څرګند شیان دي، یو د الله کتاب او بل د هغه د پیغمبر سنت.

ای خلکو! زماخبرې واورئ او ځانونه پرې ښه پوهه کړئ، او ښه وپوهېږئ چې یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، ټول مسلمانان سره ورونه ورونه دي، د یو مسلمان لپاره د بل مسلمان د زړه له کومې بخشش پرته هېڅ هم روا نه دي، باید په ځانونو هېڅ ډول زیاتی ونه کړئ، ای الله! ما ستا دین دوی ته ورسو].

زه داسې هم خبر شوی یم چې خلکو به ورته ویل: ای الله! ستا پیغمبر راته ستا دین په ښه ډول راورسو، بیا نبي کریم ﷺ وویل: ای الله! ته پرې ګواه شه.

## فلسطین ته د اسامه رضي الله عَنْهُ لېږدول

د ذوالحجې او محرم په میاشتو کې نبي کریم ﷺ په مدینه کې پاتې شو، د خپل غلام اسامه بن زید رضي الله عَنْهُمَا په قیادت یې د شام په لور لوی جهادي کاروان چمتو کړ او ورته یې

(۱) د رجب میاشتې نسبت یې مضریانو ته ځکه وکړ چې په عربانو کې له دوی پرته نور یې چا احترام نه کو.

امر وکړ چې جهادي کاروان دې د فلسطين بلقاء او داروم په نوم سرحدي سيمو ته رسيدګي وکړي، د دغې جنګ لپاره خلکو مناسب تياری ونيو او د اسامة بن زيد رضي الله عَنْهُمَا په قيادت کې ټول مهاجرين او انصار ووتل.

## ټولواکانو، ملکانو، او باچايانو ته د نبي کريم ﷺ داستازو ليږدول

ابن هشام وايي: نبي کريم ﷺ خپل خپل باچايانو ته خپل استازي د الله پاک دين ته په خورا غښتلو بلنليکونو واستول ترڅو اسلام ته غاړه ورکړي.

ابن هشام وايي: يو ډېر ښه سړي راته وويل چې ابوبکر الهذلي راته وويل چې ماته د رارسيدلي معلوماتو له مخې چې نبي کريم ﷺ د حديبي په ورځ له عمرې څخه له رابندولو وروسته يوه ورځ خپلو ملګرو ته راغی او ورته يې وويل: [ای خلکو، الله پاک زه د ګرد بشريت لپاره رحمت راستولی يم، تاسو له ما سره د حوراينو په څېر پيښې مه کوئ لکه هغوی چې د عيسی عَلَيْهِ السَّلاَمُ سره کړې وې، ملګرو يې وويل: ای د الله رسوله! ولې هغوی ورسره څه کړي وو.

نبي کريم ﷺ ورته وويل: زما په څېر يې خلکو ته دعوت ورکړ، څوک چې يې د نزدې ځايونو کې ددعوت لپاره انتخاب کړ نو پرې راضي او خوشحاله وو، او د خلکو دعوت لپاره ولاړل خو ولې څوک چې يې د لرو پرتو سيمو لپاره انتخاب کړي وو، نو مخونه يې ګونځې کړل او دعوتي دندې يې هم بې کاره وګڼلې، نو عيسی عَلَيْهِ السَّلاَمُ الله پاک ته ددغې ستونزې ګيله وکړه، پيښه دا وشوه چې د سهار په مهال په دعوتي مشن ګمارل شوي ناراضه خلک په داسې حالت کې راپورته شول چې د دعوت لپاره د منتخب شوې علاقې په ژبه غږېدل].

نبي کريم ﷺ له خپلو ملګرو څخه د خپل ليک په شمول ټولواکانو ته استازي واستول چې اسلام ته يې رابللي وو.

- دحية الکلبي رضي الله عَنْهُ يې د روم امپراطور قيصر ته واستو.
- عبدالله بن حذافة السهمي رضي الله عَنْهُ يې د فارس کسری ته واستو.
- حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عَنْهُ يې د اسکندريې باچا مقوقس ته واستو.
- عمرو بن اميه الضمري رضي الله عَنْهُ يې د حبشې ټولواک نجاشي ته واستو.
- عمرو بن العاص السهمي رضي الله عَنْهُ يې د عمان دواړو ورونو باچايانو د جُلَنْدَيْ زامنو جيفر او عِياذ ته واستو.

- له بنو عامر بن لؤي له کورنۍ څخه يې سَلِيط بن عمرو رضي الله عَنْهُ د يمامې ملکانو هر يو ثمامة بن اثال او هوذة بن علي ته واستو.
- علاء بن الحضرمي رضي الله عَنْهُ يې د بحرين ټولواک منذر بن ساوى العبدي ته واستو.
- شجاع بن وهب الاسدي رضي الله عَنْهُ يې د شام باچا حارث بن ابي شمر الغساني ته واستو.

ابن هشام وايي: د سليط بن عمرو رضي الله عَنْهُ د هوذ او منذر نسبتونه ما کړي دي.

ابن اسحاق وايي: ما ته يزيد بن حبيب المصري وويل چې ما يو کتاب او ليکنه وليده چې د عربو او عجمو باچايانو او دور دراز علاقه جاتو ته په کې د نبي کريم ﷺ د دعوتي ارشاداتو په شمول د هغه استازو نومونه هم و، ما دغه ليکنه محمد بن شهاب زهري ته واستوله نو هغه هم دروسته وبلله، په دغې ليکنې کې مې وليدل چې نبي کريم ﷺ يوه ورځ خپلو ملګرو ته راووت او ورته يې کړه: زه الله پاک د ګرد انسانيت لپاره رحمت راستولی يم، الله پاک دې په تاسو ورحميږي له ما څخه دغه پيغام په ښه توګه ورسوئ او لکه د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د حوارينو په څېر پېښې راسره مه کوئ، صحابه کرامو وپوښتل چې ولې حوارينو د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ سره څه چلند کړی و؟

نبي کريم ﷺ ورته وويل: عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ هغوی دور دراز علاقه جاتو ته د دعوتي مشن د پرمختګ لپاره واستول، د چا تشکيل چې نزدې ځايونو ته شوی و هغوی په دعوتي مشن خوشحاله وو، او د چا لپاره چې د لرو پرتو سيمو انتخاب شوی و هغوی دعوتي دندې بيګارونه وګڼل، عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ د رامنځ ته شوې پېښې ګيله الله پاک ته وکړه، خو چې سهار شو نو د دعوت لپاره ورته د انتخاب شوي سيمې په ژبه هر داعي خبرې اترې کولای شوې.

ابن اسحاق وايي: هغه حوارين او نور دعوتي هستي چې عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ د دعوت لپاره استولي وو يو هم بطرس حواري و، بولس که څه هم حواري نه و خو روميه کې په دعوتي دنده ډېر زيات بوخت و.

اندَرَائس او مَنْتا دواړه يې هغه ځای ته استولي وو چې هستوګنوال يې سړي خواره وو.

توماس يې د ختيځ برخې د بابل ښار ته استولی و، فيلس يې د افريقې قرطاجَنَّة سيمې ته استولی و، او د اصحاب کهف د ځوانانو چم ګاونډ (افسوس) ته يې يُحَنَّس استولی و، د بيت المقدس اورشليم ښار ته يې يعقوبُس ليږدولی و، د حجاز (اعرابيه) په لور يې ابن ثَلماء استولی و، او د بربريانو ښارونو ته يې سِيمُن استولی و، که يهوذا څه هم حواري نه و خو د يُودِس پرځای يې دعوتي دنده ترسره کوله.

## د اخرني جنګي کاروان لیږدول

ابن اسحاق وايي: نبي کريم ﷺ شام ته اسامه بن زيد بن حارثة رضي الله عَنْهُمَا واستو، او ورته يې امر وکړ چې جهادي کاروان دې د فلسطين د بلقاء او داروم په نوم سرحدي سيمو ته رسيدګي وکړي، د دغې جنګ لپاره خلکو مناسب تیاری ونيو او د اسامة بن زيد رضي الله عَنْهُمَا په قيادت کې ټول مهاجرين او انصار ووتل.

## د رسول الله ﷺ د رنځ لومړی پړاو

ابن اسحاق وايي: خلک لا د فلسطين په لور جنګي کاروان لپاره په چمتوالي بوخت وو چې په نبي کريم ﷺ باندې هغه رنځ پړاو واخست چې ورڅخه وفات شو.

د صفر د مياشتې څه ورځې شپې پاتې وې او يا هم د ربيع الاول مياشت تازه پيل شوې وه چې دغه پېښه منځ ته راغله، هغه داسې چې د شپې له پلوه نبي کريم ﷺ بقيع الغرقد ته ووت، هلته يې د مړو لپاره له الله پاک څخه بخښش وغوښت او بېرته کور ته راستون شو، خو د ورځې له پيل کېدو سره سم پرې ناجوړتيا راغله.

د نبي کريم ﷺ غلام ابوموېهبه رضي الله عَنْهُ وايي: د شپې له مخې راپسې نبي کريم ﷺ استازی راوليږدو او راته يې کړه چې ای ابوموېهبه! د بقيع الغرقد د مړو د بخښش غوښتنې لپاره راته امر شوی دی، له ما سره هلته ولاړ شه، زه ورسره ولاړم، چې کله په هديره کې ورډېد وېويل: ای د قبرونو ښښتنانو! تاسو ته دې سلامونه وي، کومه شپه چې تاسو تېره کړه له هغې شپې څخه بهتره ده چې ژوندو تېره کړه، د تورې تورتمې شپې په څېر فتنې راپورته شوې دي، په پرله پسې توګه يوه فتنه له بلې پسې راروانه ده چې وروستنۍ يې له لومړنۍ څخه بده او بې کاره وي.

بيا يې ما ته مخ کړ او راته يې وويل: ای ابوموېهبه! د دنيوي خزانو او تل پاتې ژوند او بيا جنت ته د تګ واک راکړل شو خو ما له الله پاک سره ديدار او جنت ته ورتګ غوره کړ.

ما ورته وويل: زما پلار او مور درڅخه قربان شه، د دنيا خزانې او تل پاتې ژوند او بيا جنت ته تګ غوره کړه، هغه راته وويل: ای ابوموېهبه! د الله پاک ديدار او جنت مې خوښ دی.

بيا يې د بقيع مړو لپاره له الله څخه بخښش وغوښت او کور ته راستون شو، له راستنېدو سره سم په نبي کريم ﷺ هغه درد او ناجوړتيا پيل واخست چې له کبله يې وفات شو.

عايشه رضي الله عَنْهَا وايي: نبی کريم ﷺ چې له بقيع څخه راغی ما مې له سردردۍ څخه زګيروي کول چې په سر مې درد دی، هغه راته وويل: قسم په الله چې له تا څخه مې په سر ډېر درد دی، بيا يې وويل: تا ته څه تکليف دی، که له ما څخه مخکې مړه شې زه به درته غسل او کفن درکړم، د جنازې لمونځ به دربانديې وکړم او د تدفين مراسم به دې ادا کړم، ما ورته وويل: هو کنه، که رښتيا مړه شوی وی بېرته به مې کور ته راستون شوی وی او زما په خونه کې به د خپلو نورو ښځو سره مېلاو شوی وې.

عايشه رضي الله عَنْهَا وايي: نبي کريم ﷺ راته وخندل او په نورو بي بيانو يې چکر ووهه او سخت درد نيولی و، دغه مهال د ميمونې رضي الله عَنْهَا په خونه کې ملاست و، خپلې ټولې بي بيانې يې راغونډې کړې اوورڅخه يې اجازه وغوښته چې د وررسيدلې رنځ موده زما په خونه کې تېره کړي، نو ټولو بي بيانو يې ورته اجازه ورکړه.

## د نبي کريم ﷺ د بي بيانو (امهات المؤمنين) پېژندګلو

ابن هشام وايي: نبي کريم ﷺ نهه بي بيانې درلودې چې نومونه يې په دې توګه دي:

[عايشه بنت ابي بکر، حفصة بنت عمر بن الخطاب، ام حبيبة بنت ابي سفيان بن حرب، ام سلمة بنت ابي امية بن المغيره، سودة بنت زمعه بن قيس، زينت بنت جحش بن رئاب، ميمونه بنت الحارث بن حزن، جويرية بنت الحارث بن ابي ضرار، صفية بنت حيي بن اخطب رضي الله عَنْهُنَّ].

او ټولې هغه بي بيانې چې نبي کريم ﷺ ورسره نکاحونه کړي وو ديارلس دي:

- **[خديجة بنت خويلد رضي الله عَنْهَا]** خديجه رضي الله عَنْهَا د نبي کريم ﷺ لومړۍ بي بي وه، د خديجې رضي الله عَنْهَا پلار خويلد بن اسد ورته په خپله په نکاح ورکړې وه، خو ولې تاريخ پوهان وايي چې په نکاح يې ورته ورور عمرو بن خويلد ورکړې وه، په مهر کې ورته رسول الله ﷺ شل ځوانې اوښې ورکړې وې، د نبي کريم ﷺ له ابراهيم پرته نور ټول نارينه او زنانه اولاد له خديجې رضي الله عَنْهَا څخه وو.

د نبي کريم ﷺ سره د نکاح نه مخکې خديجه رضي الله عَنْهَا د ابوهالة بن مالک چې کورني او نسبي اړيکې يې د بنو اُسيّد بن عمرو بن تميم چې د بنوعبدالدار حليف او ملاتړ و بي بي وه، له هغه ورڅخه هندبنت ابي هالة او زينب بنت ابي هالة پيدا شوې وو.

او له ابوهالة وړاندې خديجة رضي الله عَنْهَا د عتيق بن عبدالله بن عمر بن مخزوم بې بې وه، له هغه ورڅخه د عبدالله په نوم ځوی او بله جينۍ زږيدلي وو.

نبي کريم ﷺ په مکه کې په **[عايشه بنت ابي بکر رضي الله عَنْهَا]** باندې د اوو کلنۍ په موده کې نکاح تړلې وه او په مدينه کې يې د نهه يا لس کلنۍ په موده کې واده کړه، له عايشې رضي الله عَنْهَا پرته نبي کريم ﷺ په بلې ځوانې او باکرې ښځې نکاح نه ده تړلې، عايشه رضي الله عَنْهَا يې خپل پلار ابوبکر رضي الله عَنْهُ نبي کريم ﷺ ته په نکاح ورکړې وه، په مهر کې ورته نبي کريم ﷺ څلور سوه درهم ادا کړي وو.

سليط بن عمرو يا ابوحاطب بن عمرو بن عبدشمس بن عبد ود بن نصر بن مولک بن حسل نبي کريم ﷺ ته **[زينب بنت زمعه بن قيس بن عبد شمس بن عبد ود بن نصر بن مالک بن حسل بن عامر بن لؤى رضي الله عَنْهَا]** په نکاح ورکړې وه، په مهر کې ورته رسول الله ﷺ څلور سوه درهم ورکړي وو[1].

زينب بنت زمعه رضي الله عَنْهَا د نبي کريم ﷺ سره د نکاح نه وړاندې د سکران بن عمرو بن عبد شمس بن عبدود بن نصر بن مالک بن حسل بې بې وه.

نبي کريم ﷺ په **[زينب بنت جحش بن رئاب الاسديه رضي الله عَنْهَا]** باندې هم نکاح تړلې وه، د زينب رضي الله عَنْهَا ورور ابواحمد بن جحش نبي کريم ﷺ ته د څلور سوه درهمو په بدل کې په نکاح ورکړې وه.

له نبي کريم ﷺ څخه وړاندې يې خاوند د هغه غلام زيد بن حارثه رضي الله عَنْهُمَا و، د زينب بنت جحش رضي الله عَنْهَا اړوند الله پاک دا ايتونه نازل کړي دي ﴿فَلَمَّا قَضَىٰ زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَٰكَهَا﴾[2]

**[ام سلمة بنت ابي اميه بن المغيره المخزومية رضي الله عَنْهَا]** هم نبي کريم ﷺ په نکاح اخستې وه، خپل زوی سلمه بن ابي سلمه نبي کريم ﷺ ته په نکاح ورکړې وه، خپل نوم يې (هند) و، په مهر کې ورته رسول الله ﷺ (ميچن، کاسه، پيالۍ او توشک) ورکړي وو، له دې وړاندې ام سلمة رضي الله عَنْهَا د ابو سلمه بن عبدالاسد رضي الله عَنْهُ په نکاح کې وه، له هغه څخه يې (سلمه، عمر، زينب او د رقيه) په نوم بچيان پيدا شوي وو، هيره دې نه وي چې د ابوسلمه رضي الله عَنْهُ خپل نوم عبدالله و.

نبي کريم ﷺ **[حفصه بنت عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهَا]** هم په نکاح اخستې وه، حفصه رضي الله عَنْهَا ورته په نکاح باندې خپل پلار عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ

(۱) ابن هشام وايي: ابن اسحاق ددې روايت کلک مخالف دی، هغه په دې اند دی چې د زينب بن زمعه رضي الله عَنْهَا د نکاح په مهال سليط او ابوحاطب دواړه په حبشه کې مسافر وو او په مکه کې يې شتون نه درلود.
(۲) سورت احزاب: (۳۷). ژباړه: د زيد رضي الله عَنْهُ د اړتياو بشپړېدو وروسته مو تاته په نکاح درکړه.

د څلور سوه درهمو په مهر کې ورکړې وه، د نبي کريم ﷺ سره له نکاح نه وړاندې حفصه رضي الله عَنْهَا د خُنيس بن حذافة السهمي بي بي وه.

**[ام حبيبه بنت ابي سفيان بن حرب رضي الله عَنْهَا چې خپل نوم يې رمله وه]** هم په نکاح اخستې وه، نبي کريم ﷺ ته ام حبيبه رضي الله عَنْهَا په نکاح باندې خالد بن سعيد بن العاص په داسې حال کې ورکړه چې دواړه د حبشو په ځمکه مهاجر پراته وو، نجاشي يې د نبي کريم ﷺ په نيابت څلور سوه درهم مهر ادا کړ، له دې څخه وړاندې ام حبيبه رضي الله عَنْهَا د عبيدالله بن جحش بي بي وه.

**[جويرية بنت الحارث بن ابى ضرار الخزاعية رضي الله عَنْهَا]** باندې هم نبي کريم ﷺ نکاح تړلې وه، په اصل کې د بنومصطلق په غزا کې وينځه شوې وه او د ثابت بن قيس بن شماس رضي الله عَنْهُ په برخه کې رسيدلې وه خو د هغه سره يې د ماليت په بدل کې په ازادۍ خبره کړې وه، د نبي کريم ﷺ حضور کې عرض شوه او ترې وغوښتل چې په ازادۍ کې ورسره په اتفاق شده مبلغ کې مالي مرسته وکړي، نبي کريم ﷺ ورته وويل: له دې پرته درته د خير بله لاره نه ښايم؟ دې ورته وويل: ولې نه! بله کومه لار ده؟

نبي کريم ﷺ ورته وويل: زه به ورته ستا له پلوه متفق مبلغ ادا کړم او بيرته به دې زه په نکاح واخلم، دې ورته وويل: سمه خبره ده نو نبي کريم ﷺ په نکاح واخسته.

ابن هشام وايي: ويل کيږي چې نبي کريم ﷺ د بنو مصطلق له جګړې کله هم راوزګار شو نو جويرية رضي الله عَنْهَا يې په لاره کې انصاري ته امانت ورکړه چې بايد تر مدينې يې روغه جوړه ورسوي، پلار يې د لور د ازادولو په خاطر اوښان راروان کړي وو، خو چې د عقيق مقام ته راورسيد په دوو اوښانو يې نظر ډير خوږ ولګيد نو عقيق کې يې پريښودل، کله چې مدينې ته راورسيد نبي کريم ﷺ ته يې عرض وکړ چې ما مې د لور ازادولو په خاطر دغه اوښان فديه راوړې ده، هغه ورته وويل: د عقيق په پلانکي ناوچه کې دې ولې دوه نور اوښان له مونږ څخه پټ او پناه کړل؟

حارث له يو څخه دوه ونه کړل او سمدستي يې (أَشْهَدُ أَنْ لَاۤ اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَأَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ) کلمه وويله، زما دې په الله قسم وي چې له دغو اوښانو له الله پرته نور هيڅ څوک نه وو خبر، بيا حارث او ورسره دوو زامنو او نورو ډيرو خلکو ايمان راوړ.

په عقيق کې د پاتو دوو اوښانو پسې استازي وليږدول او مدينې ته يې راوستل او نبي کريم ﷺ ته يې ورکړل، نبي کريم ﷺ ورته جويرية رضي الله عَنْهَا ورکړه او اسلام يې هم راوړ، نبي کريم ﷺ يې له پلار څخه بيرته په نکاح وغوښته نو د څلورسوه درهمو مهر په بدل کې يې ورته پلار په نکاح ورکړه.

له نبي کریم ﷺ نه مخکې جویریة رضي الله عَنْهَا د خپل کاکا ځوی عبدالله بې بې وه.

داسې هم ویل کیږي چې جویریة رضي الله عَنْهَا نبي کریم ﷺ له ثابت بن قیس بن شماس رضي الله عَنْهُ ښځه واخسته، بیا یې ازاده کړه او د څلور سوه درهمو مهر په بدل کې یې پرې نکاح وتړله.

**[صفیه بنت حیي بن اخطب رضي الله عَنْهَا]** هم نبي کریم ﷺ په نکاح اخستې وه، د خیبر په غزا کې وینځه او بیا یې د ځان لپاره غوره کړه، په ولیمه کې یې نبي کریم ﷺ له غوښې او وازدې پرته کجورې او سویق (حلوا) خلکو ته خوراک ورکړ، له دې پړاو مخکې صفیه رضي الله عَنْهَا د کنانة بن الربیع بن ابي الحقیق په نکاح کې وه.

نبي کریم ﷺ **[میمونة بنت الحارث بن حزن بن بحیر بن هُزَم بن رویبه بن عبداله بن هلال بن عامر بن صعصعة رضي الله عَنْهَا]** هم په نکاح اخستې وه، خپل تره عباس بن عبدالمطلب رضي الله عَنْهُ ورته په نکاح ورکړې وه او پخپله یې ورله د څلوره سوه درهم مهر هم خلاص کړ، له دې ښځه وړاندې میمونة رضي الله عَنْهَا د ابورهم بن عبدالعزی بن ابی قیس بن عبد ود بن نصر بن مالک بن حسل بن عامر بن لؤي بې بې وه، ویل کیږي چې میمونة رضي الله عَنْهَا هغه بې بې ده چې ځان یې د الله پاک رسول ته ډالۍ کړی و، هغه داسې چې دا په خپل اوښ سپره وه او ورسره یې د نکاح اوازه واوریده، نو ویویل: اوښ او په اوښ چې څه بار دي د الله د رسول په واک او اختیار کې دي، نو الله پاک یې اړوند دا قول نازل کړ ﴿وَٱمۡرَأَةٗ مُّؤۡمِنَةً إِن وَهَبَتۡ نَفۡسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنۡ أَرَادَ ٱلنَّبِيُّ أَن يَسۡتَنكِحَهَا خَالِصَةٗ لَّكَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾[1].

داسې هم ویل کیږي چې پیغمبر ﷺ ته چې یې ځان ډالۍ کړی و هغه زینب بنت جحش رضي الله عَنْهَا وه، او ځینې نور وایي چې دغه بې بې د بنومنقذ بن عمرو بن معیص بن عامر بن لؤی له خاندان ښځه چې د ام شریک غزیة بنت جابر بن وهب نوم یې درلود وه.

او نور ځینې تاریخ پوهه وایي چې دغه ښځه د بنوسامة بن لؤي له کورنۍ ښځه وه خو نبي کریم ﷺ یې غوښتنه وځنډوله.

**[زینب بنت خزیمه بن الحارث بن عبدالله بن عمرو بن عبدمناف بن هلال بن عامر بن صعصعة رضي الله عَنْهَا]** نبي کریم ﷺ په نکاح اخستې وه، له زیاتي دلسوزۍ او په بې وزله او غریب غربه خلکو باندې له شفقت او ترحم له کبله به ورته ام المساکین ویل کیده، قبیصة بن عمرو هلالي نبي کریم ﷺ ته په نکاح باندې ورکړې وه او

(۱) سورت احزاب: (۵۰). ژباړه: او هغه ایمانداره ښځه چې ځان یې پیغمبر ته ډالۍ کړی دی، که د پیغمبر خوښه وي وادې اخلې خو له نورو مومنانو پرته ستا لپاره دا حکم خاص دی.

نبي كريم ﷺ يې په مهر كې څلور سوه درهم ادا كړي وو، له دې وړاندې زينب بنت خزيمه رضي الله عَنْهَا د عبيدة بن الحارث بن عبدالمطلب بن عبدمناف كور ودانه وه، خو ولې د لومړي ځل لپاره يې كور د جهم بن عمرو بن الحارث چې د زينب بنت خزيمه رضي الله عَنْهَا د تره ځوى و، ورسره ودان شوى و.

دا هغه يوولس بي بيانې دي چې د نبي كريم ﷺ ورسره كور ودان شوى و، له دوى څخه دوه بي بيانې خديجة بنت خويلد او زينب بنت خزيمه رضي الله عَنْهُمَا د نبي كريم ﷺ په دور حيات كې وفات شوې وې او له نهو څخه يې بيا نبي كريم ﷺ وفات شوى دى.

او دوه نورې يې داسې دي چې نبي ﷺ پرې دخول نه دى كړى يوه يې:

- **[اسماء بنت نعمان الكنديه]** چې نبي ﷺ په نكاح اخستې وه، خو دا چې هغه په بركې رنځ اخته وه نور ورسره يو ځاى نه شو، په دنيوي زيور يې ښه سمبال كړه او خپل پلرنې ټبر ته يې واستوله.
- **[عمرة بنت يزيد الكلابية]** چونكه كفر ته نژدې وه، چې ورته نبي كريم ﷺ ورنژدې شو نو پناه يې ترې وغوښته، نبي كريم ﷺ ورته وويل: (له هغه چا څخه زه رابند يم چې د الله په نوم يې پناه غوښتې وي) نو بېرته يې خپل كور ته واستوله.

داسې هم ويل كيږي چې د الله پاک له نبي ﷺ څخه چې يې پناه غوښتې وه د **[اسماء بنت النعمان د تره لور وه]**.

تاريخ پوهان زياتوى چې كله نبي كريم ﷺ راوغوښته نو هغې ورته وويل: مونږ د داسې قوم مېرمنې يو چې د چا پسې نه ځو، مونږ پسې به خلک راځي، نو نبي كريم ﷺ بېرته خپل ټبر ته ستنه كړه.

## د نبي كريم ﷺ شپږ كوروداني له قريشو څخه وې:

١. **خديجة بنت خويلد** بن اسد بن عبدالعزى بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي رضي الله عَنْهَا.
٢. **عائشة بنت ابي ابكر** بن ابي قحافة بن عامر بن عمرو بن كعب بن سعد بن تيم بن مرة بن كعب بن لؤي رضي الله عَنْهَا.

۳ **حفصة بنت عمر بن الخطاب** بن نفيل بن عبدالعزى بن عبدالله بن قرط بن رياح بن رزاح بن عدي بن كعب بن لؤي رضي الله عَنْهَا.

۴ **ام حبيبة بنت ابي سفيان** بن حرب بن امية بن عبد شمس بن عبدمناف بن قصي بن كعب بن لؤي رضي الله عَنْهَا.

۵ **ام سلمه بنت ابي اميه** بن المغيره بن عبدالله بن عمر بن مخزوم بن يقظة بن مرة بن كعب بن لؤي رضي الله عَنْهَا.

۶ **سودة بنت زمعة** بن قيس بن عبد شمس بن عبد ود بن نصر بن مالك بن حسل بن عامر بن لؤی رضي الله عَنْهَا.

له دوی څخه پرته يې نورې اووه عربي نژداه بي بياني وې:

۱ **زينب بنت جحش** بن رئاب بن يعمر بن صبرة بن مرة بن كبير بن غنم بن دودان بن اسد بن خزيمه رضي الله عَنْهَا.

۲ **ميمونة بنت الحارث** بن حزن بن بجير بن هرم بن رُوَيْبه بن عبدالله بن هلال بن عامر بن صعصعة بن معاوية بن بكر بن هوازن بن منصور بن عكرمة بن حصفة بن قيس بن عيلان رضي الله عَنْهَا.

۳ **زينب بنت خزيمه** بن الحارث بن عبدالله بن عمرو بن عبدمناف بن هلال بن عامر بن صعصة بن معاويه رضي الله عَنْهَا.

۴ **جويرية بنت الحارث** بن ابي ضرار خزاعية مصطلقية رضي الله عَنْهَا.

۵ **عمرة بنت يزيد الكلابية.**

او د نبي ﷺ غير عربي بي بي له بنو نظير څخه **صفيه رضي الله عَنْهَا** وه.

## د نبي كريم ﷺ ناجوړتيا ته دوباره كتنه

ابن اسحاق وايي: يعقوب بن عتبه راته د محمد بن مسلم زهري په روايت له عبيد الله بن عبدالله بن عتبه څخه نقل وكړ چې عايشه رضي الله عَنْهَا وايي: نبي كريم ﷺ د فضل بن عباس رضي الله عَنْهُ او د يو بل سړي سره لاس په اوږو زما په كور په داسې حالت كې را ننوت چې سر يې تړلی او ښپې يې د ځان پسې راښكلې.

عبیدالله وايي: ما دا خبره فضل بن عباس رضي الله عَنْهُ ته وکړه هغه راته وویل: ته پوهېږې چې ماسره بل څوک و؟ ما ورته کړه: نا، ما ته هېڅ معلومات نشته، هغه راته وویل: علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ راسره و.

بیا په نبي کریم ﷺ راغلی درد دومره اوج ته ورسېد چې بې هوشه شو، نو ویې ویل: له بېلابېلو ځاګانو څخه راباندې د اوبو اووه مشکونه راواړوئ تر څو خلکو ته ورووځم او لارښوونې ورته وکړم.

عایشه رضي الله عَنْهَا وايي: حفصې رضي الله عَنْهَا لویه کاسه (لګن) کې کېنو او دومره اوبه مو پرې واړولې چې خپله یې وویل: بس دی، بس دی...

زهري وايي: ایوب بن بشیر راته وویل چې نبي کریم ﷺ سر تړلی راووت او په منبر کښېناست، تر هر څه لومړی یې د احد شهیدان وستایل او د هغوی لپاره یې د بخشش دعاګانې وکړې، بیا یې وویل: [الله پاک په خپلو بندګانو کې یو چا ته واک ورکړ چې ایا په دنیا کې ژوندی پاتې کېږې او که د الله سره نعمتونه ته ورځې نو هغه د الله نعمتونه خوښ کړل]

د دې خبرې په مغز له ابوبکر رضي الله عَنْهُ پرته نور څوک ونه پوهېدل چې نبي ﷺ خپل ځان یادوي، هغه په ژړا شو او ویې ویل: د الله رسوله! له تا څخه مو ځانونه او بچیان زار او قربان شه.

نبي کریم ﷺ ورته وویل: ابوبکره! لږه ساه واخله...

بیا یې وویل: د ابوبکر رضي الله عَنْهُ له کړکۍ پرته دې نور مسجد ته د ټولو خلکو دروازې بندې شي، د ځان لپاره مې له ده پرته بل غوره ترینه ملګری په علم کې نشته.

عبدالرحمن بن معلی راته د سعید بن معلی د کورنۍ ځینو غړو په روایت وویل: نبي کریم ﷺ د خپلو خبرو په ترځ کې دغه ورځ دا هم وویل: که په خلکو کې مې په خالصه دوستانه څوک نیولی نو ابوبکر رضي الله عَنْهُ به مې په سوچه دوستانۍ نیولی وی، خو ولې دواړه طرفه ملګرتوب او ایماني ورورولي ده، تر څو په جنت کې مو الله سره یو ځای کړي.

محمد بن جعفر بن الزبیر راته د عروة بن الزبیر او نورو علماوو په روایت نقل کړل چې د اسامة بن زید رضي الله عَنْهُمَا په مشرۍ کې نبي کریم ﷺ لښکر تم کړ، هغه په خپل رنځ اښته شو، سرتړلی راووت او په ممبر کښېناست، چونکه خلکو د اسامة رضي الله عَنْهُ په مشرۍ داغ ولګو چې دا خو ماشوم او کشر هلک دی، په مهاجرینو او انصارو کې یې د جنګ په ماهرینو او بارسوخه خلکو مشرانو ولې وګماره؟

په الله یې ور ثنا صفت وویل او بیا خلکو ته مخاطِب شو:

ای خلکو! اسامه رضي الله عَنْهُ په جنګي کاروان مشرتابه ومنئ، که تاسو یې قیادت تورنوئ نو د پلار قیادت مو ورله هم تورن کړی و، لوړه په رب لایزال چې اسامه رضي الله

عَنْهُ د دې جنګي کاروان د مشرۍ دومره جوګه دی لکه پلار يې چې د خپل وخت د جنګي کاروان د قيادت وړ او قابل و.

نبي کريم ﷺ نور له ممبر څخه راښکته شو او درد پرې لا پسې زيات شو او خلک هم په جنګي کاروان کې د ونډې لرلو په خاطر توند شول.

اسامه رضي الله عَنْهُ او جنګي لښکر دواړه له مديني څخه باندې د يو فرسخ په اندازه لرې د جرف په مقام کې په دې خاطر تم شول چې د نبي کريم ﷺ اړوند به الله پاک څه پرېکړه کوي!

زهري وايي: عبدالله بن کعب بن مالک راته وويل چې په کومه ورځ نبي کريم ﷺ د احد شهيدانو لپاره بخشش وغوښت نو د نورو ارشاداتو ترڅنګ يې دا هم وويل: ای مهاجرينو! د انصارو اړوند له نېکې رويې څخه کار واخلئ، خلک مخ په وړاندې روان دي سرشمېرنه يې زياتيږي خو انصار په لومړي صورت همغسې کم دي، انصار زما ځانګړي رازداران دي چې ما ورته پناه راوړې ده، له نېکو کار سره يې ښه رويه وکړئ او له بد کار څخه يې بخشش اعلان کړئ.

نبي کريم ﷺ بيا له ممبر څخه راښکته او په داسې حالت کې کور ته ننوت چې مرض يې پرې نور هم حمله اور شو.

په خپلو کورونو کې ورته ام سلمه او ميمونه رضي الله عَنْهُمَا او د نورو مسلمانانو په کور ودانو کې ورته اسماء بنت عميس رضي الله عَنْهَا او خپل تره عباس بن عبدالمطلب رضي الله عَنْهُ راټول شول او په دې يې سلا مشوره وکړه چې د خولې په اوښکې کې ورته دارو درمل ورکړي، عباس رضي الله عَنْهُ وويل چې زه به ورته په اوښکې کې دارو واچوم.

ټولو ورته د خولې په اوښکو کې دارو درمل واچول خو چې په هوش کې راغی ويويل: دا مو راسره څه وکړل؟ ټولو ورته وويل: هر څه دې تره کړيدي.

نبي کريم ﷺ د حبشې په لور اشاره وکړه چې دا درو درمل ښځو له حبشو څخه راوړي دي، دا ډول دارو مو ولې راکول؟

عباس رضي الله عَنْهُ وويل: د الله پيغمبره! مونږ وډارېدو چې هسې نه په ډډ کې دې داني نه وي راپورته شوي! نبي کريم ﷺ ورته وويل: الله پاک مې له دغسې کړاوجن رنځونو څخه ساتي، هغه مې په دې ډول ناجوړتيا نه اښته کوي، خو زما له کاکا پرته ټولو حاضريتو ته به دا دارو ورکړل شي، او رښتيا هم ميمونه رضي الله عَنْهَا چې روژه هم وه ورته د خولې په اوښکو کې دغه دارو واچول شول ځکه چې نبي کريم ﷺ ورته پرې سوګند پورته کړی و تر څو ټولو ته د خپل کار سزا ورکړل شي.

اسامة بن زيد رضي الله عَنْهُ وايي: د نبي کريم ﷺ د سختې ناجوړتيا له کبله زه او خلک بېرته مدينې ته راستانه شول، زه نبي کريم ﷺ ته ننوتم، هغه له خبرو څخه ودرېدلی و، لاس به يې پورته کړاو په ما به يې کېښود، زه دومره پوهه شوم چې نبي کريم ﷺ راته دعا کوي.

عايشه رضي الله عَنْهَا وايي: ما به له نبي کريم ﷺ څخه دا کلمات ډېر اورېدل چې (إِنَّ اللَّهَ لَمْ يَقْبِضْ نَبِيًّا حَتَّى يُخَيِّرَهُ) الله پاک تر هغه د پېغمبر ساه نه اخلي تر څو د ځان لپاره ښه انتخاب ونه کړي.

بيا وايي: نبي کريم ﷺ ته چې کله مرګ راغی نو اخيري خبره چې مې ترې واورېده دا وه (بَلِ الرَّفِيقَ الْأَعْلَى مِنَ الْجَنَّةِ) بلکې په جنت کې مې رفيق اعلی ته بوځه.

ما له ځان سره وويل چې نور مونږ نه غواړي او يادمې شول چې هغه خو ويل: (إِنَّ نَبِيًّا لَمْ يُقْبَضْ حَتَّى يُخَيَّرَهُ).

## په لمونځ کې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ امامت

زهري وايي: حمزه بن عبدالله بن عمر راته وويل چې عايشې رضي الله عَنْهَا به ويل: په نبي کريم ﷺ چې ناروغتيا نوره هم پسې لا درنه شوه ويې ويل: [ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته ووايئ چې خلکو له لمونځ وکړي]

ما ورته وويل: د الله پېغمبره! ابوبکر رضي الله عَنْهُ خو ډېر نرم زړی او د کمزوري اواز ښښتن دی، د قران لوستو په مهال هم ډېره ژړا ورځي، که بل څوک د امامت لپاره غوره کړې ايا ښه به نه وي؟

نبي کريم ﷺ بيا وويل چې ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته ووايئ چې خلکو له لمونځ وکړي. ما بيا خپله خبره تکرار کړه، هغه راته وويل: تاسو خو هسې د يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ د تاوېلو ما وېلو ښځو په څېر ياست، ورشئ او ورته ووايئ چې د خلکو امامتي وکړي.

زما دې په الله قسم وي چې ما د خپل پلار ابوبکر -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- څخه د امامتی دنده اړول ځکه غوښتل چې زه ښه پوهېدم چې د نبي کريم ﷺ په ځای د بل چا ودرېدل خلک نه خوښوي، او له بل پلوه به پرې بيا خلک په هر څه کې بد پالي هم نيسي، نو ځکه مې زيار وويست چې د امامت لپاره يې انتخاب بل چا ته واړوم.

عبدالله بن زمعه بن الاسود بن المطلب بن اسد وايي: زه چې د نبي کريم ﷺ په مجلس کې د ځينې نورو مسلمانانو په ملتيا ناست وم او په نبي کريم ﷺ د ناجوړتيا دورانيه لا پسې سخته

شوه، بلال رضي الله عَنْهُ راغی او خبر يې کړ چې خلک د لمونځ انتظار کوي، نو نبي کريم ﷺ وويل: چا ته ووایئ چې لمونځ وکړي.

زه بهر شوم څه ګورم چې ابوبکر رضي الله عَنْهُ نشته او عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ د خلکو په منځ کې شتون درلود، زه راغلم او ورته مې وويل: عمره! مخکې شه او د خلکو امامتي وکړه، چونکه عمر رضي الله عَنْهُ لوړ غږی و په لوړ اواز يې لمونځ ادا کړ، کله چې يې نبي کريم ﷺ اواز واورېد وېويل: الله پاک او مسلمانان پرې ناراضه دي، الله پاک او مسلمانان پرې ناراضه دي، الله پاک او مسلمانان پرې نارضا دي، ولې ابوبکر رضي الله عَنْهُ چرته دی؟ استازی يې پسې واستو، هغه راغی او د عمر رضي الله عَنْهُ په امامتۍ کې ادا شوي لمونځ يې بېرته اعاده کړ.

عبدالله بن زمعه رضي الله عَنْهُ وايي: ما ته عمر رضي الله عَنْهُ وويل: خوار شې! دا دې راباندې څه وکړل؟ تا خو چې ما ته وويل مخکې لمونځ وکړه ما داسې اټکل کړل چې ګنې رسول الله ﷺ درته ويلي دي، ورنه ما هېڅکله هم د خلکوا مامت نه کو.

ما ورته وويل: که څه هم ما ته نبي کريم ﷺ امر نه و کړی خو د ابوبکر رضي الله عَنْهُ د نه شتون له کبله مې ته د امامت جوګه وليدې او درته مې وويل.

ابن اسحاق وايي: زهري ويل چې انس بن مالک رضي الله عَنْهُ راته وويل: د کومې دوشنبې په ورځ چې رسول کريم ﷺ وفات شو د سهار په مهال يې راځړول شوې پرده پورته او دروازه يې خلاصه کړه، خلک يې وليد چې په لمونځ ولاړ دي، نبي کريم ﷺ د عايشې رضي الله عَنْهَا د کور دروازه بېرته کړه او راووت، نزدې وه چې د خلکو ليدو سره د نبي کريم ﷺ په جوړتيا د بې سارې خوشحالۍ له کبله د خلکو لمونځ ګډ وډ شي، د هغه په ليدو سره د خلکو په زړونو پروت غم وکوچېد، نبی کريم ﷺ يې هم د لمونځ په خورا ښه کيفيت او ادا ډېر خوشحاله شو، او ورته يې اشاره وکړه چې ولاړ اوسئ.

د خوشحالۍ په دغسې موډ کې ما نبي کريم ﷺ هېڅکله هم نه و ليدلی او بېرته لاړ ننوت، خلکو اټکل کړه چې نبي کريم ﷺ نور صحتمند او جوړ شو، ابوبکر رضي الله عَنْهُ هم د ډېر ډاډ له کبله په (سُنح) کې خپل کور ته ستون شو.

محمد بن ابراهيم بن الحارث راته د قاسم بن محمد په روايت وويل چې نبي کريم ﷺ د عمر تکبير واورېد وېويل: [ولې ابوبکر چرته دی؟ په دې تقسيم الله پاک او مسلمانان دواړه نارضا دي] که عمر رضي الله عَنْهُ له دې څخه استنباط کړی خپل قول د مړينې په مهال نه وی کړی چې [که زه څوک وګمارم نو د خليفه لومړی تعين هغه چا کړی دی چې له ما څخه ډېر ښه دی[1] او که خليفه ونه ګمارم نو نه تعين يې هم هغه چا کړی دی چې له ما څخه ډېر

(۱) له دې څخه يې موخه ابوبکر رضي الله عنهُ دی.

بهتره او غوره دی(۱)] نو مسلمانانو په کې هېڅ شک او شبهه نه لرله چې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ انتخاب د نبي کریم ﷺ له اړخه شوی دی.

له دې څخه وروسته خلک وپوهېدل چې نبي کریم ﷺ له ځان نه وروسته هېڅ څوک هم خلیفه نه و ګمارلی.

ابوبکر بن عبدالله بن ابي مُلَیکه رضي الله عَنْهُ وايي: ابوبکر رضي الله عَنْهُ چې د خلکو په امامت بوخت و، نبي کریم ﷺ د همدغې سهار لمونځ د دوشنبې په روځ سر ترلی راووت، د نبي کریم ﷺ د راوتو سره خلک ډېر خوشحاله شول، ابوبکر رضي الله عَنْهُ وپوهېد چې خلک د خوشحالۍ دغه ډول څرګندونې له نبي کریم ﷺ پرته نور هېڅ چا ته هم نه کوي، نو له خپل ځایه په شا راروان شو، نبي کریم ﷺ له وروسته په شا کې زور ورکړ او بېرته یې مخکې کړ او خپله د ابوبکر رضي الله عَنْهُ ښي اړخ ته کېناست او ورته یې وکړه چې د خلکو لپاره لمونځ تر پایه ورسوه، د لمونځ له بشپړېدو وروسته یې خلکو ته مخ کړ او ویویل: [ای خلکو! د اور لمبې د غومبرو په انتها کې دي، ستاسو ترمخې د تورو تیارو شپو په څېر فتنې راروانې دي او زه درته په رب لایزال لوړه پورته کوم چې زه تاسو ته هېڅ ملامت نه یم، د قرانکریم د حلالو پرته مې درته نور څه نه دي حلال کړي، او نه مې درته د قرانکریم له حرامو پرته څه حرام کړي دی]

ابوبکر بن عبدالله رضي الله عَنْهُ وايي: نبی کریم ﷺ چې له خپلو ارشاداتو اوزګار شو، ابوبکر رضي الله عَنْهُ ورته وویل[زمونږ د خوښې او غوښتنې سره سم ان شاء الله چې اوس مهال د الله پاک په ځانګړې لورینې سره روغ جوړ او سلامت یې، نن د بنت خارجه نوبت هم دی، ایا زه ولاړ شم؟ هغه ورته وویل: هو ولاړ شه، نبي کریم ﷺ خپل کور او ابوبکر رضي الله عَنْهُ په سُنح کې خپل کور ته ولاړ.

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وايي: د نبی کریم ﷺ له اړخه د رنځ په پنځمه ورځ علي رضي الله عَنْهُ راووت، خلکو ورڅخه وپوښتل چې په نبي کریم ﷺ باندې شپه څنګه تېره شوه؟ هغه وویل: نبی کریم ﷺ جګ جوړ او په صحت سمبال دی، عباس رضي الله عَنْهُ له لاسه ونیو او درې ځل یې ورته وویل ته له لښتې پرته په نور څه نه سمېږې، لوړه په رب لایزال چې د نبی کریم ﷺ په مخ کې مې د نورو عبدالمطلب زو په څېر د مرګ نښې ولیدې، له نبي کریم ﷺ څخه باید په توندې وپوښتو چې که د خلکو لارښوونې او مشري زمونږ میراث وي چې حق یې ادا کړو، او که د بل چا حق وي نو چې نبي کریم ﷺ پوهه کړو چې زمونږ اړوند ورته نیک ارشادات وکړي.

(۱) له دې څخه یې موخه نبي کریم صَلّى الله عَلَیْهِ وَسَلَّم دی، د مزید وضاحت لپاره د محب الطبري لیکنه [الریاض النضرة: ۲ / ۷۴] وګوره.

علي رضي الله عَنْهُ ورته وویل: لوړه په رب لایزال چې دغې ته چمتو نه یم څکه که له مشرۍ څخه یې وژغورلو نو هیڅ څوک به یې راته رانه کړي.

خو چې د دغې ورځ د ماسپښین په مهال تودوخه لاپسې سخته شوه نبی کریم ﷺ وفات شو.

عايشه رضي الله عَنْهَا وايي: په دغه ورځ چې نبي كريم ﷺ وفات شو له مسجد څخه زما خونې ته راننوت او په غېږه کې راته تکیه شو، د ابوبکر رضي الله عَنْهُ له کورنۍ څخه دغه مهال څوک راننوتل او په لاس کې ورسره مسواک و، هغه مسواک ته داسې کتل لکه چې یې غوارې، ما ورڅخه وپوښتل چې د الله رسوله! ایا خوښه دې ده چې مسواک درته درکړم؟ هغه راته کړه: هو.

ماورڅخه مسواک واخست، ښه مې پوس کړ او بیا مې ورته ورکړ، مسواک یې دومره ښه استعمال کړه چې ما کله هم داسې نه و لیدلی، بیا یې مسواک کېښود او زما په غېږه کې لا پسې درون شو، ما چې یې مخ ته وکتل سترګې یې ولاړې وې او ویل یې [په جنت کې راته رفیق الاعلی خوښ دی].

ما ورته وویل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې ته یې په رښتونې راستولی یې چې اختیار درکړل شو او تا د ځان لپاره غورچاڼ وکړ، او بیا نبي کریم ﷺ وفات شو.

ابن اسحاق وايي: يحي راته د خپل پلار عباد بن عبدالله بن الزبير په روايت وويل چې هغه د عايشې رضي الله عَنْهَا نه اوریدلي و: [نبي كريم ﷺ زما په نوبت کې، زماپه غېږه او زما د سینې او ګوګل ترمنځ وفات شو، په دې جریان کې مې له چا سره هیڅ ظلم او زیاتی نه دی کړی، لویه تېروتنه مې دا وه چې نبي کریم ﷺ کله هم وفات شو نو ما یې سر له زنګون څخه پورته کړ او په بالښت مې کېښود، له غم او درد څخه مې د نور ښځو سره خپله سینه او مخ وهل].

ابوهريرة رضي الله عَنْهُ وايي: د نبي كريم ﷺ له مړینې وروسته عمر بن الخطاب رضي الله عَنْهُ خلکو ته مخاطِب او وېویل: [ځینې منافقان اټکلوي چې نبي کریم ﷺ وفات شوی دی، خو ولې زه درته په الله لوړه پورته کوم چې هغه نه دی مړ شوی، بلکې د موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په څېر هغه هم د څلوېښتو ورځو په موده د خلکو له سترګو پناه او خپل رب ته تللی دی، او قسم په الله چې د هغه په څېر به بېرته مونږ ته راستون شي، که د هغه د مرګ له اوازو څخه دغه خلک راستانه نه شي، نو هرومرو به یې خپې او لاسونه قطع کړی شي]

ابوهريره رضي الله عَنْهُ زیاتوي چې دغه مهال ابوبکر رضي الله عَنْهُ د ورسېدلي راپورونو له مخې د مسجد دروازې ته راورسېد، په هیڅ چا یې غم غرض ونه کړ او په چټکه د عایشې رضي الله عَنْهَا کور ته ننوت او نبي کریم ﷺ د خونې په اړخ کې څادر کې نغښتل شوی و، او له یمني پوښاک څخه پرې له پاسه بل څادر پروت و، د نبي کریم ﷺ په لور وتېپید او له مخ مبارک څخه یې پرده پورته کړه، ښکل یې کړ او ورته یې وویل:

[زما پلار او مور درځخه قربان شه، خپله برخه مرګ دې وګوټ او دوباره به بل مرګ هېڅکله ونه ګوټې] پرته ټوټه يې پرې بېرته راخېره کړه، عمر رضي الله عَنْهُ چې لا په خبرو خلکو ته بوخت ورته وويل: عمره! لږه ساه واخله او غلى شه، خو ولې عمر رضي الله عَنْهُ يې خبره وانه اورېده او خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ، ابوبكر رضي الله عَنْهُ وپوهېد چې عمر رضي الله عَنْهُ نور نه خاموشه کيږي، خپلې خبرې يې پېل کړې، خلکو يې د خبرو اورېدو سره عمر رضي الله عَنْهُ پرېښود او ده ته متوجه شول.

ابوبكر رضي الله عَنْهُ په لوى او ستر الله پاک باندې د هغه شان سره لائق حمد او ثنا وروسته وويل: اى خلكو! څوک چې د محمد ﷺ په عبادت بوخت وو نو خبر شئ چې هغه وفات شو، او د چا شغل چې د الله پاک عبادت کول و نو خبر شئ چې هغه ژوندى ذات دى چې هېڅ مرينه پرې نه راځي او بيا يې دا ايت ولوست ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ أَفَإِيْن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ ٱنقَلَبْتُمْ عَلَىٰٓ أَعْقَٰبِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ ٱللَّهَ شَيْـًٔا وَسَيَجْزِى ٱللَّهُ ٱلشَّٰكِرِينَ﴾[1].

ابوهريرة رضي الله عَنْهُ وايي: د ابوبكر رضي الله عَنْهُ دايت لوستو سره خلک داسې شول لکه دغه ايت چې همدا اوس نازل شوى وي، له اورېدو سره ګردو راغلو خلکو به دغه ايت زمزمه کو.

ابوهريره رضي الله عَنْهُ مزيد وايي: عمر رضي الله عَنْهُ وويل: لوړه په رب لايزال چې د ابوبكر رضي الله عَنْهُ څخه د ايت په اورېدو سره لوى دهشت او حيرانتيا واخستم، خپو مي هم ونه شو کولاى چې راټينګ مې کړي نو په ځمکه پرېوتم، او په دې مې باور راغى چې نبي کريم ﷺ په رښتيا وفات شوى دى.

## د بنو ساعده د سقيفي پېښه

ابن اسحاق وايي: د نبي كريم ﷺ له مړينې سره ګرد انصار د بنو ساعده په سقيفه کې سعد بن عبادة رضي الله عَنْهُ ته راغونډ شول، علي بن ابي طالب، زبير بن العوام او طلحة بن عبيدالله رضي الله عَنْهُمْ د فاطمې رضي الله عَنْهَا په کور کې سره جلا شول، د بنو عبدالاشهل د کورنى غړى اسيد بن الحضير رضي الله عَنْهُ په شمول ګرد مهاجرين ابوبكر رضي الله عَنْهُ ته راغونډ شول.

---

(١) سورت ال عمران: (١٤٤). ژباړه: محمد ﷺ د الله پاک د تېر شوو استازو په څېر استازى و، ولې که محمد ﷺ وفات او يا يې څوک ووژني نو ايا تاسو به بېرته په وروسته (کفر ته) ګرځئ؟ څوک چې هم کفر ته بېرته ستون شي نو الله پاک ته هېڅ زيان نه شي اړولى، او شكر ګوزار مخلوق ته به الله پاک نېكه او ښايسته بدله وركړي.

نا څاپه ابوبکر او عمر رضي الله عَنْهُمَا باندې چا غږ کړ چې دبنو ساعده په سقيفه کې انصار د سعد بن عباده رضي الله عَنْهُ د مشر په ګمارلو بوخت دي، د نبوت کورنۍ چې لا اوس مهال د نبي کريم ﷺ د تدفين د چارو دسمبالښت په خاطر د مړيني په بېلابېلو اړوند کارونو بوخت دي د خپل کور دروازه بنده کړې ده، نو که اړتيا وينئ نو خلک له جلا کېدو مخکې سره راغونډ کړئ.

عمر رضي الله عَنْهُ وايي چې ما ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته وويل: راځه چې ورشو او وګورو چې انصار سره څه کوي؟

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وايي: د عمر رضي الله عَنْهُ په اخري حج کې زه د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عَنْهُ د منی په کور کې وم او قران به مې ورته وايو، دغه مهال هغه د عمر رضي الله عَنْهُ سره و، هغه خپل کور ته په داسې حالت کې راستون شو چې ما يې انتظار کو، راغی او راته يې وويل: داسې څوک به نه وي چې عمر رضي الله عَنْهُ وخبروي چې د داسې سړي اړوند څه نظر لرې چې وايي: که عمر رضي الله عَنْهُ ومړ نو زه به د فلانکي سره په خلافت بيعت کوم، ځکه چې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ سره بيعت له پياوړې مشورې له مخې نه بلکې ناګهاني کار و.

هغه وايي: عمر رضي الله عَنْهُ په غصه شو او وېويل: نن ماسخوتن به زه خلکو ته له لمونځ نه وروسته ودرېږم او له هغه چا څخه به ورته د ډار احساس ورکړم چې له مهاجرينو څه د واک واګې په بله وړي، عبدالرحمن بن عوف رضي الله عَنْهُ وايي ما ورته وويل له احتياط نه کار واخله او داسې چرته ونه کړې!! د حج په موسم کې زياتره هغه خلک راغلي دي چې کم عقل او بې وقوفه دي، خو که خلکو کې خطيب ودرېږې نو همدوی به درته تر هر چا نږدې وي، او ما سره له خبرو دې دا ډار محسوسوم چې دوی به دې په خبرو په سمه توګه پوهه نه شي، او هر يو به د اسلامي قلمرو په خپل خپل ځايونو کې درواغ خپاره کړي او ستا د خبرې صحيح مفهوم به ادا نه کړی شي، تر هغه زغم اوباسه تر څو د سنت خوني مديني ته ولاړ شې، هلته به د علماوو او باعزته مشرانو سره خبره شريکه کړې، هغوی به دې په خبره هم پوهه شي او ارزښت به يې هم وپيژني، عمر رضي الله عَنْهُ وويل: مديني ته په رسېدو به هرومرو زه دا خبره په ډاګه کوم.

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وايي: د ذي الحجې په اخرو ورځو کې مونږ مديني ته ورسېدو، د جمعې د ورځې د زوال سره مسجد ته په چټکۍ ولاړم، د ممبر ترڅنګ سعيد بن زيد رضي الله عَنْهُ هم ناست و، زه يې ترڅنګ دومره جوخت کېناستم چې ورنونه مې د هغه له ورنونو سره جوخت ولګېدل، څه ګورم چې عمر رضي الله عَنْهُ د ممبر په لور راروان دی، ما سعيد بن زيد رضي الله عَنْهُ ته وويل: نن به عمر رضي الله عَنْهُ د ممبر پر سر داسې څه ووايي

چې له خليفه کېدو څخه تر دې مهال يې دغسې څه نه دي ويلي، هغه راته کړه: دا به لا څنګه خبرې وي؟ چې تراوسه يې نه دي کړي! خو بهر کيف زما خبره پرې ښه ونه لګېده، عمر رضي الله عَنْهُ په ممبر کېناست، مؤذن چې کله له اذان څخه فارغ شو وپاځېد او په الله يې د هغه شان وړ حمد او ثناء وويله او بيا خلکو ته وويل: [نن ورځ ستاسو پام قابل غور خبرې ته راړول غواړم چې ډېره اړينه خبره ده، خو نه پوهېږم شايد له مړيني مخکې مې دغه پېښه منځ ته راشي، څوک چې په خبرو وپوهيږي نو تر هغه ځای دې ورسوي چې سورلی يې تللای شي، خو که د پيغام په فهم کې څوک وېره محسوسوي نو پر ما ددروغو تړلو ورته هېڅ جواز نشته.

الله مونږ ته محمد ﷺ د خپل استازي په صفت راستولی و او ورته يې اسماني کتاب هم ورکړی و، له جملې څخه يې يرې د رجم ايت هم نازل کړی و، دغه ايت مونږ هم لولو او هم يې په معنی او مغز پوهيږو، د رجم حد نبي کريم ﷺ په خپله هم او مونږ ورڅخه وروسته قائم کړی دی، دا احساس راته کيږي چې هسې نه په خلکو کې زمانه اوږده شي او ووايي چې د الله په کتاب کې خو د رجم ايت نشته، نو د الله پاک رالېږلي حد په پرېښودو به ګمراه شي، او حالانکه د شادي شده سړي او ښځې لپاره د رجم حد هله ثابتيږي چې ګواهان پرې شتون ولري، يا ښځه اميدواره شي او يا په دواړو کې يو اعتراف وکړي.

مونږ د الله پاک په کتاب کې دا هم لوستلي دي چې له خپلو پلرونو څخه انکار مه کوئ، که څوک له پلار څخه انکار وکړي نو کفر ته به پرې ورسيږي.

په دې ښه وپوهېږئ چې نبي کريم ﷺ فرمايي: (لَاتَطْرُوْنِيْ كَمَا أُطْرِيَ عِيْسَى بْنُ مَرْيَمَ، وَقُوْلُوْا عَبْدُ اللهِ وَرَسُوْلُهُ).

ژباړه: د عيسى عَلَيْهِ السَّلاَمُ په څېر راپه کې ظلم او زياتی مه کوئ، بس دومره وايئ چې هغه د الله بنده او رسول دی.

له يو چا څخه راته رسيدلي دي چې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ خلافت ناڅاپي او غير محکمه پېښه شمېري، او وايي چې که عمر رضي الله عَنْهُ ومړ نو زه به د پلانکي سره بيعت کوم، که څه هم د هغه خلافت نابېره منځ ته راغی خو الله يې له شر څخه هم وساته، په تاسو کې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ په څېر هېڅ څوک نشته خپل اوښان او اسونه به د هغه بديل او نظير کې ستړي کړي خو تر لاسه به يې نه کړي.

که د مسلمانانو له سلا مشورې پرته څوک د چا سره بيعت وکړي نو بيعت يې هم دروست نه دی او دواړه به وژلی شي.

د نبي کريم ﷺ د مړيني په مهال د انصارو ورونو سره مو منځنۍ پېښه داسې راغله چې زمونږ ضد کاروايي يې وکړه، د بنو ساعده په سقيفه کې يې ټول مخه ور او سپين ږيري سره راټول شول، له مونږ څخه علي بن ابي طالب، زبير بن العوام او نور هغه څوک چې د دواړو سره

وو پاتې شول، مهاجرین ابوبکر رضي الله عَنْهُ ته راغونډ شوي وو، ما ورته وویل: راځه چې خپلو انصارو ورونو ترڅنګ ولاړ شو چې څه روان دي، په لاره کې راسره دوه نېک او صالحه خلک مخامخ شول او د انصارو راپېښېدو اړوند یې راسره خبرې شریکې کړې، او راځخه یې وپوښتل چې ای مهاجرینو! چرته روان یاست؟ مونږ ورته وویل چې د راپېښ شوي انصارو تر حضوره د ورتګ اراده لرو، دواړو وویل: پام کوئ هلته نزدې ولاړ نه شئ او خپلې چارې مو خپله سمبال کړئ، ما ورته وویل: مونږ به هرومرو ورځو، ورغلو ترڅو د بنوساعده سقیفې ته ننوتو څه ګورو چې ترمنځ یې په څادر کې رانغښتل شوی سړی ناست دی، ما وپوښتل چې دا څوک دی؟ هغوی وویل: سعد بن عباده رضي الله عَنْهُ دی، ما وپوښتل چې ولې کوږ نسکور ناست دی؟هغوی راته وویل: تبې اخستی دی، زمونږ له کېناستو سره یې خطیب وپاځېد او په الله پاک یې وړ ثنا وویله او بیا یې وویل: مونږ د الله د دین مرستندویه او د اسلامي دین ځانګړې جنګیالي یو، او تاسو مهاجرین زمونږ څخه یو برخه تشکیلوې او له بانډو څخه راغلي یاست (یا په ارام اوسکون راغلي یاست).

عمر رضي الله عَنْهُ زیاته کړه چې هلته مو ولیدل چې زمونږ بیخ کني یې کوله او خلافت یې هم راځخه په جبر زور اخست، خطیب چې یې کله خاموش شو نو ما له ځان سره ډېرې ښې خبرې په ذهن کې راغونډې کړې وې او غوښتل مې چې خلکو ته یې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ په شتون کې وکړم، خو ولې ابوبکر رضِيَ الله عَنْهُ راته وویل چې تلوار مه کوه، چونکه ابوبکر رضي الله عَنْهُ له ما څخه ډېر پوهه او قابل احترام و نو ما نه غوښتل چې هغه غصه کړم نو خاموش کېناستم، خو لوړه په رب لایزال چې د کومو خبرو پایلې ما ته نېکې برېښېدې زما ټولې خبرې یې د خپل خطاب په لومړیو کې وکړې چې زما له خبرو سره مساوي او یا هم ترې ډېرې ښې وې.

بیا یې وویل: تاسو چې د کوم فضیلت دعوه لرئ په رښتیا هم چې وړ یې یاست، خو له قریشو پرته عربان د هېڅ چا قیادت او مشري نه مني، ځکه چې په ګردو عربانو باندې قریش له نسب او حسب او د کورنۍ له مخې ډېر ښه دي، ستاسو د قیادت لپاره زه په دې دوو کې یو غوره کوم خو چې ستاسو څوک خوښ وي ورسره بیعت وکړئ، زه او ابوعبیده رضي الله عَنْهُمَا یې له لاسه ونیولو او هغه مو ترمنځ ناست و، له دې پرته یې نورې هېڅ خبرې په ما بدې نه وې لګېدلې.

خو لوړه په رب لایزال که له تن څخه مې څوک سر په توره ووهي دا به راته له دې څخه بهتر وي چې زه دې د داسې خلکو قیادت وکړم چې ابوبکر رضي الله عَنْهُ په کې شتون لري.

دغه مهال یو انصاري وپاځېد او وېویل: زه د انصارو خورا شریف او باوقاره او د هغوی د نېکې مشورې ځای یم، باید یو امیر له تاسو څخه او یو امیر زمونږ غړی هم وي.

عمر رضي الله عَنْهُ وایي: د دې خبرې سره سم دستي اله ګوله او شور مچار راپورته شو او له ګډوډې څخه مې وېره احساس کړه، ما غږ کړ چې ابوبکره! رضي الله عَنْهُ لاس دې راوږد کړه، هغه لاس اوږد او ما ورسره بیعت وکړ، بیا ورسره ټولو مهاجرینو بیعت وکړ او بیا ورسره

انصارو ورونو، وروسته مو په سعد بن عباده رضي الله عَنْهُ باندې ورټوپ کړ، چا وويل چې سعد بن عباده رضي الله عَنْهُ ګوره مړ کوئ! ما ورته وويل: الله دې مړ کړي.

زهري وايي: عروه بن زبير رضي الله عَنْهُ راته وويل چې د عمر رضي الله عَنْهُ په خبرو له دوو نېکو خلکو څخه مراد عويم بن ساعده او بل د عجلان له کورنۍ غړی معن بن عدي رضي الله عَنْهُمَا دي.

د عويم بن ساعده رضي الله عَنْهُ اړوند خبريدلي يوو چې د نبي کريم ﷺ څخه چا وپوښتل چې ﴿فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُطَّهِّرِينَ﴾[1] کې الله پاک چا ته اشاره کړې ده؟

نبي کريم ﷺ ورته وويل: په دوی کې غوره ترين انسان عويم بن ساعده رضي الله عَنْهُ دی.

او د معن بن عدي رضي الله عَنْهُ اړوند راته داسې راپوروونه رسيدلي دي چې نبی کريم ﷺ کله هم وفات شو، خلکو بې تحاشا وژړل او هر چا افسوس کو چې کاشکې له نبي کريم ﷺ مخکې مړ شوی وای، هسې نه په فتنو او ازمېښت کې ولوېږو!!

خو ولې معن بن عدي رضي الله عَنْهُ وويل: د نبي کريم ﷺ له مړينې وراندې هېڅکله د خپل مرګ ارمان نه کوم، تر څو زه له مړينې وروسته يې په صداقت داسې عقيده ولرم لکه د هغه په دور حيات کې مې چې ورباندې څنګه عقيده درلوده.

هغه و چې معن بن عدي رضي الله عَنْهُ د مسيلمة الکذاب ضد جهادي مبارزه کې د ابوبکر رضي الله عَنْهُ په خلافت کې له دينا څخه شهيد ولاړ.

زهري وايي: انس بن مالک رضي الله عَنْهُ راته وويل: د ابوبکر رضي الله عَنْهُ سره په سقيفه کې د بيعت په سبانۍ ورځ ابوبکر رضي الله عَنْهُ په ممبر کېناست، د ابوبکر رضي الله عَنْهُ نه مخکې عمر رضي الله عَنْهُ وپاڅېد او په الله پاک يې د هغه د شان وړ ثنا صفت بيان کړ، بيا يې وويل: ما تاسو ته پرون خبره کړې وه چې نه د الله پاک په کتاب کې شتون لري او نه مې له رسول الله ﷺ څخه اورېدلې ده، خو چونکه نبي کريم ﷺ به زمونږ د ژوند چارې خپله سمبالولې، له ځان څخه يې وروسته تاسو ته د الله پاک هغه کتاب تل پرېښود چې الله پرې هغه ته هم هدايت کړی و، که تاسو پر دغه کتاب منګولې ټينګې کړئ، الله پاک به پرې تاسو ته هغه هدايت وکړي چې خپل پيغمبر ته يې پرې کړی و، ستاسو د ژوند اړوند چارو د ښه سمبالښت لپاره الله پاک د نبي کريم ﷺ د غار ملګری چې په تاسو ټولو غوره والی لري ددغې دندې لپاره وګماره، تاسو ټول راولاړ شئ او ورسره بيعت وکړئ.

په سقيفه کې له شوي بيعت وروسته خلکو د ابوبکر – رَضِيَ الله عَنْهُ – سره په دغه عام تام بيعت کې شرکت وکړ.

(۱) سورت توبه: (۱۰۸). ژباړه: په قباء کې داسې خلک دي چې له طهارت سره مينه لري، او پاک د صفا خلکو سره مينه لري.

بیا ابوبکر رضي الله عَنْهُ وپاڅېد او په الله پاک یې د هغه لایق ثنا صفت بیان کړ، بیا یې وویل: [ای خلکو! زه درباندې مشر وګمارل شوم خو له تاسو بهتر نه یم، که په نېکۍ لار رهي وم نوملاتړ مې وکړئ او که په کږو نسکورو روان وم نو اصلاح مې وکړئ، رښتیا امانت دی او دروغ خیانت دی، په تاسو کې کمزورترین بې توانه خلک مې په نېز دومره قوي دي چې تر څو غصب شوي حقوق یې له نورو څخه واخلم، او په تاسو کې د ملاتړ او قوت خلک ما ته دومره کمزوري دي چې ورڅخه بېرته غصب کړي د نورو خلکو حقوق واخلم -ان شاء الله-، تر کومه او چرته چې څوک د الله پاک په لاره کې جهاد ته شاه کړي، نو الله به یې ذلیله او رسوا کړي، او چرته او کوم ځای کې چې فاحشې او بدفعلي عامه او خپره شي مکر الله پاک ټولو هستوګنوالو ته په یو څېر عذاب ورکوي، تر څو چې ما د الله پاک او د هغه د رسول پیروي کوله نو زما د خبرې اوریدونکي او منونکي جوړشئ، خو که دالله پاک او د هغه د رسول ﷺ نافرماني مې پیل کړه په تاسو د پیروکارۍ هېڅ حق نه لرم، الله دې درباندې رحم وکړي لمونځ ته ودرېږئ].

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وايي: لوړه په رب لا یزال چې د عمر رضي الله عَنْهُ سره د هغه د خلافت په دور کې د څه کار پسې روان وم چې له ما پرته ورسره نور هېڅ څوک نه وو، راته یې وکتل او خپله څپه یې په دوره ووهله او بیا راته کړه: ابن عباسه! تا پتیلي ده چې د نبي کریم ﷺ د مړینې په ورځ مې هغه خبرې ولې کولې؟

ما ورته کړه چې امیرالمومنین! دا به تا ته ښه علم وي، زه نه پوهېږم چې ولې؟

هغه وویل: په هغې خبرو د قران دې ایت هڅولی وم چې ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ وَيَكُونَ ٱلرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾(۱).

ما داسې انګېرول چې ګڼې رسول الله ﷺ به تر هغه ژوندی وي چې د امت په وروستنې عمل باندې هم ګواهي ورکړي.

## د نبي ﷺ کریم د تدفین مراسم

ابن اسحاق وايي: د ابوبکر رضي الله عَنْهُ سره له عام بیعت څخه وروسته د سه شنبې په ورځ د نبي کریم ﷺ د تدفین د مراسمو په سرته رسولو خلکو خپل پامونه راواړول.

عبدالله بن ابي بکر، حسین بن عبدالله او نور ملګرو راته وویل: علي بن ابي طالب، عباس

(۱) سورت بقره: (۱۴۳). ژباړه: له دې کبله مو منځنۍ امت ګرځولي یئ چې په تېرو خلکو باندې ګواهي ورکړئ او ستاسو رسول به په تاسو باندې ګواهي ورکوي.

بن عبدالمطلب، فضل بن عباس، قثم بن العباس، اسامة بن زيد او د نبي كريم ﷺ غلام شقران رضي الله عَنْهُمْ د نبي كريم ﷺ د غسل او تغسيل مراسم انجام كړل.

له بنو عوف څخه اوس بن خولِيّ رضي الله عَنْهُ علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ ته وويل: اى علي! ستا دې په الله قسم وي چې مونږ ته په نبي كريم ﷺ كې زمونږ برخه راكړه، هېره دې نه وي چې اوس بن خولِيّ رضي الله عَنْهُ د نبي كريم ﷺ بدري ملګرى هم و، نو هغه ته يې د ننوتو اجازه وركړه او د نبي كريم ﷺ ته په غسل وركولو كې يې ونډه واخسته.

علي رضي الله عَنْهُ خپلې سينې ته تكيه كړى و او لاسونه به يې پرې مږل، لاسونه يې پرې په داسې حالت مږل چې په نبي كريم ﷺ باندې خپل كميس پروت و او لاسونه به يې پرې له بره وهل، او دا به يې ويل چې: د الله پېغمبره! زما پلار او مور درڅخه قربان شه په ژوند او مړينه يو ځېر خوش بودار او معطر يې، عباس، فضل او قثم رضي الله عَنْهُمْ به اړو راړو، اسامه او شقران رضي الله عَنْهُمَا پرې اوبه راړولې.

د نورو مړو په څېر له نبي كريم ﷺ څخه بيخي فضولات نه دي حس شوي.

عايشه رضي الله عَنْهَا وايي: نبي كريم ﷺ ته د غسل وركولو په مهال خلكو خبرې او مشورې كړې وې شوې چې ايا نبي كريم ﷺ ته د نورو مړو په څېر غسل وركړى شي چې پوښاك ترې وويستل شي او كه نه د خپل پوښاک په شتون كې ورته غسل وركړل شي.

دغه مهال الله پاک په ټولو خلكو پركالي راوسته، هېڅ څوک داسې پاتې نه شو چې خوبوړى نه و، د كور له يو پلوه اواز وشو خو هېڅ پته ونه لګېده چې اواز چا وكړ! او ويويل: پيغمبر ته په داسې حالت كې غسل وركړئ چې خپل لباس پرې پروت وي، د كميس له پاسه به يې پرې اوبه اړولې او د كميس له پاسه به يې پرې لاسونه راښكل.

ابن اسحاق وايي: بيا چې كله خلک د نبي كريم ﷺ له غسل څخه اوزګار شول نو په دريو جامو كې يې ورته كفن وركړ، دوه جامې د يمن صحار نومې ښار جوړې وې او بله يې كتاني څادر و چې پكې راونغښتل شو.

عبدالله بن عباس رضي الله عَنْهُمَا وايي: د نبي كريم ﷺ ته د قبر تيارولو لپاره چې خلكو كله اراده وكړه، نو ابوعبيده بن الجراح رضي الله عَنْهُ به شق (كنده) د مكې والا په څېر ويسته او ابو طلحه زيد بن سهل رَضِىَ الله عَنْهُ به د مدينې والا په څېر لحد ويسته، عباس رضي الله عَنْهُ دوه كسان راوغوښتل او دواړو پسې يې استازى واستول او وېويل: اى الله! چې كوم قبر د رسول الله ﷺ سره لايق وي هغه سړى مخكې راوله، د ابو طلحه پسې تللي استازي ابوطلحه خبر كړ، هغه راغى او لحد يې جوړ كړ.

د سه شنبې په ورځ د نبي كريم ﷺ د غسل او تكفين له مراسمو څخه له اوزګارېدو

وروسته د خلکو خبرې یو له بله بدلې شوې، چا ویل چې باید په مسجد کې تدفین شي خو ولې نورو ویل چې باید د ملګرو سره یو ځاي خاورو ته وسپارل شي.

ابوبکر رضي الله عَنْهُ وویل: ما له نبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي چې [پیغمبران هغه ځای دفن کیږي چې چرته وفات شي].

په کوم ځای چې نبي کریم ﷺ وفات شوی و له هغه ځایه یې توشک پورته کړ او ورله قبر تیار کړی شو.

له دې پړاو وروسته پرې خلک له امام پرته ډلې ډلې راغلل او د جنازې لمونځ یې پرې ادا کړ، د خلکو له اوزګارېدو وروسته ښځې بیا په دریم پړاو کې ماشومان راغلل.

د چهارشنبې شپې په نیمه کې نبي کریم ﷺ خاورو ته وسپارل شو.

عایشه رضي الله عَنْهَا وایي: د نبي کریم ﷺ د دفن اړوند راته هله پته ولګېده چې د چهارشنبې په شپه مو د بیلچو اوازونه واورېدل.

ابن اسحاق وایي: د نبي کریم ﷺ قبر ته ورښکته شوي هستي هر یو علي بن ابي طالب، فضل بن عباس، قثم بن العباس او د نبي کریم ﷺ غلام شقران رضي الله عَنْهُمْ وو.

اوس بن خوليّ رضي الله عَنْهُ علي رضي الله عَنْهُ ته وویل: ستا دې قسم وي چې په نبي کریم ﷺ کې مونږ ته خپله برخه راکړه.

هغه ورته وویل: راځه قبر ته راښکته شه نو د نورو خلکو سره یو ځای راښکته شو.

کله چې نبي کریم ﷺ په لحد کې کېښودل شو، شقران د نبي کریم ﷺ زوندېدار څادر چې پر ځان به یې هم اچو او پرې کښېناسته به هم راواخست او ورسره یې په قبر کې دفن کړ، اووېویل: لوړه په رب لایزال چې له تا څخه وروسته به هېڅ څوک دا څادر وانه اچوي.

ابن اسحاق وایي: څادر یې هم نبي کریم ﷺ سره ښخ کړ.

مغیرة بن شعبه رضي الله عَنْهُ هغه څوک دی چې وروسته ورڅخه بیا چا نبي کریم ﷺ نه دی لیدلی، هغه وایي: ماخپله ګوتمه قصداً قبر ته ګوزار کړه او غږ مې کړ چې قبر ته راڅخه ګوتمه ولویده، په دې خاطر چې زه به هغه څوک جوړ شم چې له ما وروسته به نبي کریم ﷺ ته چا لاس نه وي وروړی.

ابوالقاسم مِقْسَم له خپل بادار عبدالله بن الحارث بن نوفل څخه روایت کوي چې هغه ویل: د عمر یا عثمان –رضي الله عَنْهُمَا– په دور خلافت کې ما د علي بن ابي طالب رضي الله عَنْهُ په ملتیا عمره کوله، هلته د خپلې خور ام هانئ رضي الله عَنْهَا سره میلمه شو، له عمرې ادا وروسته

ورته د غسل لپاره اوبه تیارې کړی شوې، چې له غسلو څخه کله راوزګار شو ځینې عراقیان یې حضور کې عرض شول او ورته یې کړه چې مونږ درڅخه پوښتنه لرو، او خوښه ګڼو چې ته مو پوښتنه ځواب کړې، هغه ورته وویل: زما په اند لکه چې مغیره بن شعبه رَضِيَ الله عَنْهُ به درته ویلي وي چې له هغه وروسته چا نبي کریم ﷺ نه دی لیدلی، هغوی وویل: هو، علي رضي الله عَنْهُ وویل: له قثم بن العباس رضي الله عَنْهُ پرته چا نبي کریم ﷺ وروسته نه دی لیدلی.

عبید الله بن عبدالله بن عتبه له عایشې رضي الله عَنْهَا څخه روایت کوي چې په نبي کریم ﷺ چې کله تبه سخته شوه نو سور رنګې لویه دوه خطیزه چپن ورسره وه، په مخ به یې اچوله او بیرته به یې لرې کوله، او دا به یې ویل: [هغه قومونه دې الله تباه کړي چې د خپلو پیغمبرانو له قبرونو څخه مسجدونه جوړوي] په دې کلماتو سره یې خپل امت ډارو چې داسې ونه کړي.

عایشه –رضي الله عَنْهَا– وايي: د نبي کریم ﷺ اخرنۍ خبره دا وه چې [د عربانو په جزیره به دوه دینونه نه پرېښودل کیږي].

ابن اسحاق وايي: د نبي کریم ﷺ په مړینه د خلکو غم او درد لویه بلا شوه، ما ته د را رسیدلي خبر له مخې به عایشې رضي الله عَنْهَا ویل: د نبي کریم ﷺ له وفات سره سم عربان مرتد شول، د بیا ځل لپاره یهودیت او نصرانیت ریني بوخي شول، نفاق په ښکاره توګه راڅرګند شو، مسلمانان د ژمي په شپه د بادو باران وهلو بزو (وزو) رمې په څیر تیت او پرک شول، په دې چې الله پاک تري پیغمبر واخست، هغه و چې بیرته الله پاک په ابوبکر رضي الله عَنْهُ راغونډ کړل.

ابن هشام وايي: ابوعبیده او د هغه په څیر نورو علماوو راته وویل: د نبي کریم ﷺ د مړینې په مهال د مکې زیات خلک هم له اسلام څخه بیرته کفر ته په ورتګ زړه خوښې شول عتاب بن اسید[1] رضي الله عَنْهُ وډارول او ورڅخه پټ او پناه شو.

سهیل بن عمرو رضي الله عَنْهُ ویاخېد او په الله یې د هغه د ذات لایق ثنا صفت بیان کړل، بیا یې د نبی کریم ﷺ وفات رایاد کړ او وېویل: د نبي کریم ﷺ مړینې اسلام کمزوری نه بلکې لا پسې یې پیاوړی کړ، که د اسلام اړوند شک شبهې راته چا واچولې سر به یې قلم کړو.

بیرته خلک په اسلام کلک ودرېدل او له خپل کړي هوډ څخه راستانه شول او عتاب بن اسید رضي الله عَنْهُ هم راښکاره شو.

د سهیل بن عمرو رضي الله عَنْهُ دا دفاعي دریځ هغه څه و چې نبي کریم ﷺ یې عمر رضي الله عَنْهُ ته په خپلو ارشاداتو کې اشاره کړې وه چې شاید سهیل بن عمرو –رَضِيَ الله عَنْهُ– به په دغې خوله او ژبه داسې خبرې وکړې چې تا ته به پسندې وې.

(۱) دا مهال عتاب بن اسید رضي الله عَنْهُ د مکې ګورنر هم و.

ابن هشام راته د زيد انصاري په روايت وويل چې حسان بن ثابت -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- د نبي كريم ﷺ په مړينه د ورسيدلي غم او درد څرګندوني داسې وکړې:

بِطَيْبَةَ رَسْمٌ لِلرَّسُولِ وَمَعْهَدُ *** مُنِيرٌ وَقَدْ تَعْفُو الرُّسُومُ وَتَهْمُدُ
وَلَا تَمْتَحِي الْآيَاتُ مِنْ دَارِ حُرْمَةٍ *** بِهَا مِنْبَرُ الْهَادِي الَّذِي كَانَ يَصْعَدُ
وَوَاضِحُ آثَارٍ وَبَاقِي مَعَالِمٍ *** وَرَبْعٌ لَهُ فِيهِ مُصَلًّى وَمَسْجِدُ
بِهَا حُجُرَاتٌ كَانَ يَنْزِلُ وَسْطَهَا *** مِنَ اللهِ نُورٌ يُسْتَضَاءُ وَيُوقَدُ
مَعَارِفُ لَمْ تطمس على الْعَهْد آيها *** أَتَاهَا الْبِلَى فَالْآيُ مِنْهَا تَجَدَّدُ
عَرَفْتُ بِهَا رَسْمَ الرَّسُولِ وَعَهْدَهُ *** وَقَبْرًا بِهَا وَارَاهُ فِي التُّرْبِ مُلْحِدُ
ظَلِلْتُ بِهَا أَبْكِي الرَّسُولَ فَأَسْعَدَتْ *** عُيُونٌ وَمِثْلَاهَا مِنَ الْجَفْنِ تُسْعَدُ
يُذَكِّرْنَ آلَاءَ الرَّسُولِ وَمَا أَرَى *** لَهَا مُحْصِيًا نَفْسِي فَنَفْسِي تَبَلَّدُ
مُفَجَّعَةً قَدْ شَفَّهَا فَقْدُ أَحْمَدَ *** فَظَلَّتْ لِآلَاءِ الرَّسُولِ تُعَدِّدُ
وَمَا بَلَغَتْ مِنْ كُلِّ أَمْرٍ عَشِيرَهُ *** وَلَكِنْ لِنَفْسِي بَعْدَ مَا قَدْ تَوَجَّدُ
أَطَالَتْ وُقُوفًا تَذْرِفُ الْعَيْنَ جُهْدَ *** ـهَا عَلَى طَلَلِ الْقَبْرِ الَّذِي فِيهِ أَحْمَدُ
فَبُورِكْتَ يَا قَبْرَ الرَّسُولِ وَبُورِكَتْ *** ـلَادٌ ثَوَى فِيهَا الرَّشِيدُ الْمُسَدَّدُ
وَبُورِكَ لَحْدٌ مِنْكَ ضُمِّنَ طَيِّبًا *** عَلَيْهِ بِنَاءٌ مِنْ صَفِيحٍ مُنَضَّدُ
تَهِيلُ عَلَيْهِ التُّرْبَ أَيْدٍ وَأَعْيُنٍ *** عَلَيْهِ وَقَدْ غَارَتْ بِذَلِكَ أَسْعَدُ
لَقَدْ غَيَّبُوا حُلْمًا وَعِلْمًا وَرَحْمَةً *** عَشِيَّةَ عَلَّوْهُ الثَّرَى لَا يُوَسَّدُ
وَرَاحُوا بِحُزْنٍ لَيْسَ فِيهِمْ نَبِيُّهُمْ *** وَقَدْ وَهَنَتْ مِنْهُمْ ظُهُورٌ وَأَعْضُدُ
يُبَكُّونَ من تبكى السّماوات يَوْمَهُ *** وَمَنْ قَدْ بَكَتْهُ الْأَرْضُ فَالنَّاسُ أَكْمَدُ
وَهَلْ عَدَلَتْ يَوْمًا رَزِيَّةُ هَالِكٍ *** رَزِيَّةَ يَوْمٍ مَاتَ فِيهِ مُحَمَّدُ؟
تَقَطَّعَ فِيهِ مَنْزِلُ الْوَحْيِ عَنْهُمُ *** وَقَدْ كَانَ ذَا نُورٍ يَغُورُ وَيُنَجَّدُ
يَدُلُّ عَلَى الرَّحْمَنِ مَنْ يَقْتَدِي بِهِ *** وَيُنْقِذُ مِنْ هَوْلِ الْخَزَايَا وَيُرْشِدُ
إِمَامٌ لَهُمْ يَهْدِيهِمُ الْحَقَّ جَاهِدًا *** مُعَلِّمُ صِدْقٍ إِنْ يُطِيعُوهُ يُسْعَدُوا
عَفُوٌّ عَنِ الزَّلَّاتِ يَقْبَلُ عُذْرَهُمْ *** وَإِنَّ يُحْسِنُوا فَاللهُ بِالْخَيْرِ أَجْوَدُ
وَإِنْ نَابَ أَمْرٌ لَمْ يَقُومُوا بِحَمْلِهِ *** فَمِنْ عِنْدِهِ تَيْسِيرُ مَا يُتَشَدَّدُ
فَبَيْنَا هُمْ فِي نِعْمَةِ اللهِ بَيْنَهُمْ *** دَلِيلٌ بِهِ نَهْجُ الطَّرِيقَةِ يُقْصَدُ

عَزِيزٌ عَلَيْهِ أَنْ يَجُـورُوا عَنِ الْهُدَى *** حَرِيصٌ عَلَى أَنْ يَسْـتَقِيمُوا وَيَهْتَدُوا
عَطُـوفٌ عَلَيْهِـمْ لَا يُثَـنِّي جُنَاحَهُ *** إِلَى كَنَـفٍ يَحْنُـو عَلَيْهِـمْ وَيَمْهَدُ
فَبَيْنَـا هُـمْ فِي ذَلِكَ النُّـورِ إِذْ غَدَا *** إِلَى نُورِ هِمْ سَـهْمٌ مِنَ الْمَوْتِ مُقْصِدُ
فَأَصْبَـحَ مَحْمُـودًا إِلَى اللهِ رَاجِعًـا *** يُبَكِّيـهِ حَـقُّ الْمُرْسَـلَاتِ وَيُحْمَدُ
وَأَمْسَـتْ بِـلَادُ الْحُرْمِ وَحْشًـا بِقَا *** عُهَا لِغَيْبَةِ مَا كَانَتْ مِنَ الْوَحْيِ تُعْهَدُ
قِفَارًا سِـوَى مَعْمُـورَةِ اللَّحْدِ ضَافَ *** ـهَا فَقِيـدٌ يُبَكِّينَهُ بَـلَاطٌ وَغَرْقَدُ
وَمَسْـجِدُهُ فَالْمُوحِشَـاتُ لِفَقْـدِهِ *** خَـلَاءٌ لَهُ فِيـهِ مَقَـامٌ وَمَقْعَـدُ
وَبِالْجَمْـرَةِ الْكُـبْرَى لَهُ ثَمَّ أَوْحَشَـ *** ـتْ دِيَارٌ وَعَرَصَاتٌ وَرَبْـعٌ وَمَوْلِدُ
فَبَكِّي رَسُـولَ اللهِ يَـا عَـيْنُ عَبْرَةً *** وَلَا أَعْرِفَنَّـكِ الدَّهْـرَ دمعك يجمد
وَمَالَـكِ لَا تَبْكِـينَ ذَا النِّعْمَةِ الَّتِي *** عَلَى النَّـاسِ مِنْهَـا سَـابِغٌ يُتَغَمَّـدُ
فَجُـودِي عَلَيْـهِ بِالدُّمُـوعِ وَأَعْوِلِي *** لِفَقْـدِ الَّذِي لَا مِثْلُهُ الدَّهْـرَ يُوجَدُ
وَمَا فَقَـدَ الْمَاضُـونَ مِثْـلَ مُحَمَّدٍ *** وَلَا مِثْلُـهُ حَـتَّى الْقِيَامَـةِ يُفْقَـدُ
أَعَـفَّ وَأَوْفَى ذِمَّـةً بَعْـدَ ذِمَّـةٍ *** وَأَقْـرَبَ مِنْـهُ نَائِـلًا لَا يُنَكَّـدُ
وَأَبْـذَلَ مِنْـهُ لِلطَّرِيـفِ وَتَـالِدٍ *** إِذَا ضَـنَّ مِعْطَـاءٌ بِمَـا كَانَ يُتْـلَدُ
وَأَكْـرَمَ صِيتًا فِي الْبُيُـوتِ إِذَا انْتَمَى *** وَأَكْـرَمَ جَـدًّا أَبْطَحِيًّـا يُسَـوَّدُ
وَأَمْنَـعَ ذِرْوَاتٍ وَأَثْبَـتَ فِي الْعُـلَا *** دَعَائِـمَ عِـزٍّ شَـاهِقَاتٍ تُشَـيَّدُ
وَأَثْبَـتَ فَـرْعًا فِي الْفُـرُوعِ وَمَنْبَتًا *** وَعُودًا غَـذَّاهُ الْمُزْنُ فَالْعُـودُ أَغْيَدُ
رَبَّـاهُ وَلِيـدًا فَاسْـتَتَمَّ تَمَامُـهُ *** عَلَى أَكْـرَمِ الْخَـيْرَاتِ رَبٌّ مُمَجَّـدُ
تَنَاهَتْ وَصَـاةُ الْمُسْـلِمِينَ بِكَفِّهِ *** فَلَا الْعِلْمُ مَحْبُـوسٌ وَلَا الرَّأْيُ يُفْنَدُ
أَقُـولُ وَلَا يُلْـقَى لِقَـوْلِي عَائِـبٌ *** مِـنَ النَّـاسِ إِلَّا عَازِبُ الْعَقْلِ مُبْعَدُ
وَلَيْـسَ هَـوَايَ نَـازِعًا عَـنْ ثَنَائِهِ *** لَعَـلِّي بِـهِ فِي جَنَّـةِ الْخُـلْدِ أَخْـلَدُ
مَعَ الْمُصْطَـفَى أَرْجُو بِـذَاكَ جِوَارَهُ *** وَفِي نَيْـلِ ذَاكَ الْيَوْمِ أَسْـعَى وَأَجْهَدُ

۞ كه څه هم د ژوند نښې نښانې له ياده وځي او زړېږي خو په طيبه (مدينه) کې له نبي کريم ﷺ څخه پاتې نښانې به د تل لپاره ځليږي.

۞ له مديني څخه به دغه ځلانده نښانې هيڅکله هم زوال ونه خوري او په مدينه کې هغه ممبر هم شته چې نبي کريم ﷺ به پرې پورته کېده.

۞ څرګندې نښې او ورانکينې نښانې ورڅخه پاتې شوې چې يو يې کور او بل يې مسجد دی.

۞ د مدينې په منځ کې به په خپلو هستوګنځايونو کې ميشت و، نبي کريم ﷺ د الله لورې نه وړانګينه ځلاه وه چې خلکو به ترې روښنايي اخسته.

۞ داسې نښانې يې پرېښودې چې که د ژوند هرڅومره سترې غميزې راولاړې شي نو زوال ته يې نه شي ورکولی بلکې لا به پسې تروتازه شي.

۞ له نبي کريم ﷺ څخه پاتې نښانو باوجود مې له ذهن څخه د هغه يادونه نه وځي چې لحد کې پرې مُلحِد (چې مړی په قبر کې ږدي) خاورې اړولې.

۞ د نبي کريم ﷺ په فراق مې ډېر وژړل او سترګو مې هم راسره په غم کې مرسته وکړه او ډېرې اوښکې يې وتويولې.

۞ نفس مې د نبي کريم ﷺ د لورينو د شمېر زيار وويست نه خو يې د شمېرلو څوک شته او نفس مې ترې هم حيران دريان پاتې شو.

۞ د هغه مړينه دومره لويه فاجعه وه چې زما نفس يې کمزوری کړ، نو دهغه د احسانونو په شمېر بوخت شوم.

۞ هېڅ غميزه او سترې يې لسمې برخې ته هم نه شي رسيدی، او زما په نفس غم او درد يې هغسې پرېښود.

۞ د هغه د قبر په خاورينه ډېرکۍ مې سترګې تر ډېره حده ولاړې وې او خپلې مسلسلې اوښکې يې پرې تويولې.

۞ ای د نبي کريم ﷺ قبر او کلې! تاسو له ډېرو برکتونو څخه ډک ياست چې خورا عاقل او دانا انسان درپکې ښخ دی.

۞ هغه لحد هم ډېر بابرکته دی چې له پاک سپيڅلي بنده څخه راتاو دی او له بره پرې قطار او پلن کاڼي اېښودل شوي دي.

۞ که څه هم لاسونو پرې خاورې اړولې خو ولې سترګو يې په فراق اوښکې اړولې، او د هغه په دفن سره اسعد (د ستوري نوم دی) هم پرېوت (يعني خير اوبرکت دفن شو).

۞ اه! دی خلکو خو برده باري او علم او رحمت راڅخه د شپې له مخې خاورو کې په داسې حالت دفن کړ چې د پرون په څېر يې تکيه او بالښت نه درلودل.

۞ له قبر څخه يې خلک په داسې حالت کې راستانه شول چې پيغمبر ﷺ ورسره نه و، او له خفګان او غم نه يې ملاګانې او لاسونه کمزوري شوي وو.

۞ اسمانونه او ځمکې يې هم په مړينه باندې ژاړي، او ټول خلک هم د غم او درد سختې مرحلې اخستې دي.

۞ د هېڅ چا د مړينې ورځ به د نبی کريم ﷺ د مړينې د ورځ سره په غم او درد کې يو څېر نه وي.

❁ د هغه په وفات سره د ځمکې له لوړو ژورو څخه د وحي سلسله قطع شوه، که څه هم هغه خپله هم نوراني هستي وه.

❁ نبي کریم ﷺ به د رب متعال په لور هغه چا ته ښوونې کولې چې اقتداء يې ورپسې کوله، هغه به ورته له کفر او ضلالت او له دنیوي شرمندګۍ څخه نجات ورکو.

❁ د حق او حقانیت په لور هغه د خلکو غمخور امام او د رښتیا په لور يې ښونکی و، هغه سړی به نېکمرغه وي چې پېروکار يې وي.

❁ په لغزشاتو او تېروتنو کې به يې د خلکو عذرونه هم منل او بخشش به يې هم ورته کو، او د خلکو په ښه رویه (احسان) باندې الله ښې بدلې ورکوي.

❁ که په خلکو به داسې مصيبت او سترې راغله چې له برداشت څخه به يې پورته وه نو نبي کریم ﷺ به ورته دغسې سختۍ اسانولې.

❁ دوی (صحابه کرام) لا د الله په نعمتونو کې وو چې ترمنځ به يې نبي کریم ﷺ هغوی ته لارښوونې کولې.

❁ نبي کریم ﷺ ته به کږلېچ او له هدایت څخه تعدا ډېره ګرانه تمامېده، او د خلکو په ديني سربښندنې او هدایت باندې ډېر حريص و.

❁ په خپلو ملګرو ډېر مهربان و چې خپل اړخ به يې له هېڅ چا څخه کوږ او نسکور نه وړو، بلکې شفقتونه او اسانتیاوې به يې پرې کولې.

❁ صحابه کرام لا په دغه ځلاند نور کې وو چې ناګهانه يې نور د مرګ غشي په خپل رسا ګوزار وويشت.

❁ نبی کریم ﷺ الله پاک ته په داسې حالت کې ستون شو چې د ملائکو سترګې پرې ژاړې او په نېکو صفتونو يې ستايي.

❁ د نبي کریم ﷺ په وفات د مکې حرم ځمکه د وحي په نه راتګ له ترس او ډار څخه ډکه مېره جوړه شوه.

❁ په مدينه کې يې له قبر مبارک پرته مدني حرم هم شاړې دشتې شوې او د قبر په ښښتن بلاط (د ځای نوم دی) او غرقد (ازغي داره ونه ده) هم ژاړي.

❁ مسجد يې هم وربانديې ژاړي، او هغه ځايونه له ډار او وحشت څخه ډک دي چې چرته به نبي کریم ﷺ ناسته پاسته کوله.

❁ د تېر په څېر د مړيني له کبله ودان کورونه او د جمراتو میدانونه او خپل کور او زيږيز ځای يې هم له ترس او ډار څخه ډک شو.

❁ ای سترګو! په نبی کریم ﷺ پسې په پرله پسې توګه وژاړئ، هېڅکله مو ونه وينم چې اوښکې درباندې بندې شي.

❁ د هغو احساسونو په ښښتن باید ولې ونه ژاړئ چې خلک یې په خپلې پراخه ورکړه او لورینو کې رانغښتې وو.

❁ ای زما سترګو! په هغه چا پریمانه اوښکې توې کړئ او په زوره زوره پرې وژاړئ چې د هغه په څېر شخصیت به ټوله زندګۍ کې شته نه شي.

❁ د نبي کریم ﷺ په څېر هستي نه له مخکې خلکو څخه وفات شوې او نه به تر قیامته پورې خلکو کې وفات شي.

❁ هغه ډېر حلال خور او په ژمنه کلک ولاړ انسان و، خپله ورکړه به یې په اختسونکي باندې نه زباتله.

❁ خپلې مخکنۍ او ورستنۍ دواړه ډول شتمنې به یې هغه مهال ډېر نفقه کول چې کله به سخي انسان بخل شروع کړ (یعنې په سختو حالتونو کې به یې نفقه کوله چې خلک به پکې له فقر څخه ډارېدل).

❁ هغه ډېرې ښې خاطرې لرې او په نسبي لحاظ هم له معززې کورنۍ څخه و او په قریشو کې د ابطحې نیکه لمسی و چې د خلکو مشرې به یې کوله.

❁ په غونډۍ هم له هر چا پورته و او په بره یې له هر چا څه د عزت او ثبات ستنې هم قوي او پیاوړې دي.

❁ په راټوکېدو او څانګو کې هم له ګردو ثابت و، څکه چې اوبلنو ورېځو یې ښخونه او څانګې خړوب کړې وې.

❁ الله رب کریم یې پخپله پرورش کړی و او په سمه توګه یې په خورا غوره ترینو ورکړو پاللی و.

❁ د هغه په لاس د وصیتونو لړې ختمه شوه، نه یې پوهه او علم له چا څخه بند دی او نه یې څوک مشوره داغ داره کولی شي.

❁ زما په دې خبرو کې د داغ او نقص زیار هغه څوک اوباسي چې ډېر زیات کم عقل وي.

❁ د هغه له ښه توصیفولو څخه به مې نفسي غوښتنې کله هم په بله وانه اړوي، شاید په دې مدح او صفت ورسره زه د همیش ګرۍ جنت کې تل اووسم.

❁ په دې مدحې شعرونو مې د نبي کریم ﷺ سره ګاونډ غواړم، او ددغې بختورې ورځې لاس ته راوړلو کې به خپل ټول توان مصروفوم.

حسان بن ثابت رَضِيَ الله عَنْهُ په نبي کریم ﷺ د درد او غم نه ډک دا شعرونه هم وویل:

مَــا بَالُ عَيْنِــكَ لَا تَنَــامُ كَأَنَّمَا *** كُحِلَتْ مَآقِيهَــا بِكُحْلِ الْأَرْمَدِ

جَزَعًا عَلَى الْمَهْــدِيِّ أَصْبَحَ ثَاوِيًا *** يَا خَيْرَ مَــنْ وَطِئَ الْحَصَى لَا تَبْعَدِ

وَجْهِي يَقِيكَ الـتُّرْبَ لَهْفِي لَيْتَنِي *** غُيِّبْــتُ قَبْلَكَ فِي بَقِيــعِ الْغَرْقَدِ

بِـأَبِي وَأُمِّي مَـنْ شَـهِدْتُ وَفَاتَهُ *** فِي يَـوْمِ الِاثْنَيْنِ النَّـبِيُّ الْمُهْتَدِي
فَظَلِلْـتُ بَعْـدَ وَفَاتِـهِ مُتَبَـلِّدًا *** مُتَـلَدِّدًا يَـا لَيْتَـنِي لَـمْ أُولَدْ
أَأُقِيـمُ بَعْـدَكَ بِالْمَدِينَـةِ بَيْنَهُمْ *** يَـا لَيْتَنِي صُبِّحْتُ سَـمَّ الْأَسْـوَدِ
أَوْ حَـلَّ أَمْـرُ الله فِينَـا عَاجِلًا *** فِي رَوْحَـةٍ مِنْ يَوْمِنَـا أَوْ مِنْ غَدِ
فَتَقُـومُ سَـاعَتُنَا فَنَلْـقَى طَيِّبًا *** مَحْضًـا ضَرَائِبُـهُ كَرِيـمَ الْمَحْتِدِ
يَا بِكْـرَ آمِنَةَ الْمُبَـارَكَ بِكْرُهَا *** وَلَدَتْـهُ مُحْصَنَةٌ بِسَـعْدِ الْأَسْـعَدِ
نُـورًا أَضَـاءَ عَلَى الْبَرِيَّـةِ كُلِّهَـا *** مَـنْ يُهْدَ لِلنُّورِ الْمُبَـارَكِ يَهْتَدِي
يَـا رَبِّ فَاجْمَعْنَـا مَعًـا وَنَبِيَّنَـا *** فِي جَنَّـةٍ تَثْـنَى عُيُونُ الْحُسَّـدِ
فِي جَنَّـةِ الْفِـرْدَوْسِ فَاكْتُبْهَا لَنَا *** يَا ذَا الْجَلَالِ وَذَا الْعلَا والسّـؤدد
والله أَسْـمَعُ مَـا بَقِيـتُ بِهَالِكٍ *** إِلَّا بَكَيْـتُ عَلَى النَّـبِيِّ مُحَمَّـدِ
يَا وَيْـحَ أَنْصَـارِ النَّـبِيِّ وَرَهْطِهِ *** بَعْـدَ الْمُغَيَّبِ فِي سَـوَاءِ الْمَلْحَدِ
ضَاقَتْ بِالْأَنْصَارِ الْبِلَادُ فَأَصْبَحُوا *** سُـودًا وُجُوهُهُـمْ كَلَـوْنِ الْإِثْمِدِ
وَلَقَـدْ وَلَدْنَـاهُ وَفِينـا قَـبْرُهُ *** وَفُضُـولَ نِعْمَتِـهِ بِنَا لَـمْ نَجْحَدِ
والله أَكْرَمَنَـا بِـهِ وَهَـدَى بِـهِ *** أَنْصَـارَهُ فِي كُلِّ سَـاعَةِ مَشْـهَدِ
صَـلَّى الْإِلَهُ وَمَنْ يَحُفُّ بِعَرْشِـهِ *** وَالطَّيِّبُـونَ عَلَى الْمُبَـارَكِ أَحْمَـدِ

- سترګې دې ولې نه بېدې (ویدې) کیږي، ګویا که سترګاتې یې د غم او درد په رنځو رانجه شوي دي!
- په هدایت بخش (نبي کریم ﷺ) باندې د مړیني له کبله درد او غم لرم چې د تل لپاره په قبر کې تم شو، د هغه یادونه او یادګارونه دې همیشه وي.
- له خاورو ښخه دې زما مخ وساته، کاش چې له تا ښخه مخکې وفات او په بقیع الغرقد (هدیره) کې ښخ کړی شوی وی.
- د هغه لاربنود پیغمبر ښخه مې دې پلار او مور قربان شي چې د دوشنبې په ورځ یې زه مړیني ته حاضر شوی وم.
- له مړیني وروسته یې دومره کمزوری شوم چې په ځمکه راپرېوځم او دومره هک پک حیران یم چې کاشکې پیدا شوی نه وی.
- څه اټکلوې چې ستا له مړیني ورسته به زه په مدینه کې پاتې شم؟ ارمان چې په سهار وختي راباندې د اسود (یو ډول مار دی) زهر وځښل شي.
- او یا راباندې د الله له پلوه افت په چټکه راشي او د همدې ورځې بیګانۍ او یا سبانۍ کې مو واخلي.

❁ نو قیامت به راباندې قائم شي او بېرته به پاک سپیڅلي طبیعت او له بنسته کریم انسان سره یو ځای شو.

❁ ای د امینې له برکت څه ډک لومړی بچی، چې مور یې په خپل عفت کې د سعود (ستوري نوم دی) د ځلېدو په وخت زېږولی و.

❁ ته داسې وړانګینه رڼا وې چې ګرد مخلوق دې ځلانده کړ، که د دغه مبارک نور طرف ته چا ته توفیق ورکړی شي نو هدایت به بیاموي.

❁ ای الله! په جنت کې مونږ او نبي ﷺ سره یو ځای کړه او کینه ګرو سترګې راڅخه چپې کړه (واړوه).

❁ ای الله د لویۍ او سیادت څښتنه! دغه ملاقات راته په جنت الفردوس کې نصیب کړه.

❁ په الله مې دې قسم وي چې تر څو هم ژوندی یم او د چا له مرګ مرېنې څخه وخبرېږم نو په محمد ﷺ باندې به وېر او ژړا کوم.

❁ نبی کریم ﷺ د لحد په منځ کې له ښخېدو وروسته دې په تاسو د نبي ﷺ ملګرو او انصارو باندې ورحمېږي.

❁ نو په انصارو هم خپل کلي کورونه راتنګ شول او مخونه یې هم لکه د اثمد (یو ډول رانجه دي) په څېر تور وتښتېدل.

❁ هغه له مونږ څخه پیدا و (ځکه چې انصار د نبي کریم ﷺ د پلار له پلوه ماماګان وو) او قبر یې هم دلته دی او له دې پرته یې له نورو نعمتونو څخه هم انکار نه شو کولای.

❁ هر دم او وخت الله پاک د هغه په وسیله مونږ ته عزت او هدایت دواړه کړي دي.

❁ د الله او د هغه له عرش څخه ګرد چاپېره ملائکو او د پاکو سپیڅلو خلکو ثناګانې دې په بابرکته محمد ﷺ باندې وي.

حسان بن ثابت رَضِيَ الله عَنْهُ په نبي کریم ﷺ د درد او غم نه ډک دا شعرونه هم وویل:

نَبِّ الْمَسَاكِينَ أَنَّ الْخَيْرَ فَارَقَهُمْ *** مَعَ النَّبِيِّ تَـوَلَّى عَنْهُمْ سَـحَرَا
مَنْ ذَا الَّذِي عِنْدَهُ رَحْلِي وَرَاحِلَتِي *** وَرِزْقُ أَهْلِي إِذَا لَمْ يُؤْنِسُوا الْمَطَرَا
أَمْ مَنْ نُعَاتِبُ لَا نَخْشَى جَنَادِعَهُ *** إِذَا اللِّسَانُ عَتَا فِي الْقَوْلِ أَوْ عَثَرَا
فَـلَيْتَنَا يَـوْمَ وَارَوْهُ بِمُلْحِدِهِ *** وَغَيَّبُـوهُ وَأَلْقَوْا فَوْقَـهُ الْمَدَرَا
لَمْ يَـتْرُكِ الله مِنَّا بَعْـدَهُ أَحَدًا *** وَلَمْ يَعِشْ بَعْـدَهُ أُنْثَى وَلَا ذَكَرَا
ذَلَّـتْ رِقَابُ بَنِي النَّجَّـارِ كُلِّهِمْ *** وَكَانَ أَمْرًا مِـنْ امْرِ الله قَدْ قُدِرَا

❁ خوار او مسکین خلک وخبروئ چې د سهار په مهال تري له نبي کریم ﷺ سره خیر او سعادت دواړه وکوچېدل.

- چې د رحمت بارانونه نه وي نو د وچکالۍ په مهال به زما او زما د کورني غړو خوراک، زما داوښانو او اسونو خوراکه به له نبي کريم ﷺ پرته نور څوک راکړی شي!!
- او که نه هغه څوک به ملامته کو چې له شر څخه يې د هيڅ ډار احساس نه لرو کله چې ژبه په خبرو کې طغيان او له حده تجاوز وکړي.
- په کومه ورځ چې يې پرې په لحد کې خاورې واړولې کاشکې چې له مونږ څخه...
- الله پاک هيڅ څوک نه وی پرېښی، او له هغه وروسته هيڅ نارينه او زنانه نه وی پاتې شوی.
- که څه هم د نبي کريم ﷺ وفات د الله تقدير و او منځ ته راغی خو د مړينې په ورځ يې ټولو بنو نجار له غم څخه سرونه ښکته نيولي وو.

حسان بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نبي کريم ﷺ ژړل او دا شعرونه يې وويل:

آلَيْتُ مَـــا فِي جَمِيعِ النَّـــاسِ مُجْتَهِدًا *** مِـــنِّي أَلْيَـــةَ بَـــرَّ غَـــيْرِ إِفْنَـــادِ
تَا اللهِ مَا حَمَلَتْ أُنْـــثَى وَلَا وَضَعَتْ *** مِثْلَ الرَّسُـــولِ نَـــبِيِّ الْأُمَّـــةِ الْهَادِي
وَلَا بَـــرَا اللهُ خَلْقًـــا مِـــنْ بَرِيَّتِـــهِ *** أَوْفَى بِذِمَّـــةِ جَـــارٍ أَوْ بِمِيعَـــادِ
مَـــنِ الَّذِي كَانَ فِينَـــا يُسْـــتَضَاءُ بِهِ *** مُبَـــارَكَ الْأَمْـــرِ ذَا عَدْلٍ وَإِرْشَـــادِ
أَمْسَى نِسَـــاؤُكَ عَطَّلْنَ الْبُيُوتَ فَمَا *** يَضْرِبْـــنَ فَـــوْقَ قَفَـــا سِـــتْرٍ بِأَوْتَادِ
يَـــا أَفْضَلَ النَّاسِ إِنِّي كُنْـــتُ فِي نَهَرٍ *** أَصْبَحْتُ مِنْهُ كَمِثْلِ الْمُفْرَدِ الصَّادِي

- له افراط او تفريط پرته زه په ربښتني توګه په الله تاکيدي قسم خورم چې...
- د دې امت د لارښود نبي کريم ﷺ په څېر مولود به هيڅ زنانه د بيا ځل لپاره ونه زېږوي.
- او په دې هم قسم خورم چې د ګاونډې سره په ژمني کلک ولاړ او په عهد پيمان وفادار له نبي کريم ﷺ په څېر به الله پاک بل څوک پيدا نه کړي.
- هغه زمونږ ترمنځ داسې و چې خلکو به ترې نورانيت اخست، د دې سربيره يې کارونه هم بابرکته ول، او ډېر عدل او نېکې لارښونو څښتن و.
- د بې بيانو کورونو دې هم تش تور پراته دې، اوس پکې هيڅ پردې نه وهل کيږي (يعنې ستا پوښتنې ته چې به څوک راتلل اوس پکې د ستر لپاره پرده نه وهل کيږي چې څوک راشي).
- هغوی (بې بيانې) دې په کورونو کې د ښځينه راهبانو په څېر ناستې دې او د راهبانو پوښاک يې اچولی دی، او له نعمتونو وروسته يې په يقيني مايوسی کې دې.
- ای بهترين انسانه! ﷺ زه دې له نهر (علم او معرفت) څخه خړوب وم خو ولې اوسمهال نهايت تندې او جل نيولی يم.

# ابن هشام وايي: د لومړي بيت اخر د ابن اسحاق له سيرت څخه نه دی

د نسخې په پای کې ليکل شوي وو:

[کتاب په دې ځای پای ته ورسېد، الله لره ډېر حمدونو او ثناګاني دي، او زمونږ په پېغمبر محمد ﷺ او د هغه په پاکې کورنۍ او غوره ملګرو دې درودونه او سلامونه وي].

د محمد بن عبدالرحمن البرقي څخه په روايت راته ابومحمد بن عبدالواحد وويل: ابن هشام چې کله له سيرت ليکلو څخه فارغ شو نو ترخنګ يې ځيني فصيح ډول عرب ناست وو، نو ويويل:

تَمَّ الكِتَابُ وَ صَارَ فِيْ الْعَرِضِ *** عِشْرِيْـــنَ جُزْءاً كُلُّهَـــا تَرْضِيْ
كُمُلَتْ بِـــلاَ لَحْنٍ وَلاَ خَطَلٍ *** فِيْ الشَّكْلِ وَالاِعْجَامِ وَالقَرضِ
وَالحَمْل حَـــتَّى صَحّ نَـــاقِلُهُ *** بَعْضٌ مِنَ الْعُلَمَاءِ عَنْ بَعْضِ

- د سيرت کتاب شل ټوکه له بشپړېدو وروسته د فايدې اخستو په پړاو کې شو، په داسې حالت کې چې هر ټوک به يې د لوستوال پسند وي.
- له لحن او فاسد منطق، له ګډوډې او ابهام او له کږکيچ څخه پرته پای ته ورسېد.
- داسې کتاب چې علماء يې سره ځيني له نورو څخه په اسانه نقل او روايت کولی شي.

د ابن هشام د سيرت تهذيب د پنجشنبې په ورځ چې د ۱۳۸٤ه کال د رمضان لومړی شپه ده تر پايه ورسېد

الحمدلله بنعمته تتم الصالحات

**عبدالسلام محمد هارون**

د تهذيب سيرة ابن هشام پښتو ته د ژباړې ګردې چارې د پنجشنبې په ورځ د ربيع الثاني په (۲٦) تاريخ کال (۱٤۳۸ ه) چې د (۲۰۱٦ م) کال د جنوري د مياشتې (۲۵) سره سمون خوري پای ته ورسيدې .

الحمدلله أولاً و أخراً.

**لقمان حکيم حکمت**

IslamHouse.com

islamhouseps   IslamHousePs   IslamHousePs   islamhouse.com/ps/

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org   Guidetoislam1   Guidetoislam   www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+   فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+   ص ب: ٢٩٤٦٥   الرياض: ١١٤٥٧

ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH

P.O.BOX 29465   RIYADH 11457   TEL: +966 11 4454900   FAX: +966 11 4970126

# د ابن هشام
# مختصر سيرة الرسول ﷺ

دکتاب په اړه: تهذیب سیرة ابن هشام: د ګردو ښوونکو او زده کونکو ترمنځ ارزښتناک کتاب دی، اسلوب یې روښانه او وړانګین دی، ښه ډول او ښکلا لري، څوک چې یې ووېني خوښ یې راځي، چې خوښ یې راشي لولي یې، چې یې ولولي د نبي کريم صلی الله عليه وسلم اخلاق او سلوک، رويه او دعوت او له خلکوسره په ژوندۍ ښه خبرو اترو کې انداز خپلوي، د کتاب اسلوب نهایت زیات ښایسته دی او تعبيرات یې هم دومره بلاغي دي چې هم ځان ته ستر ګې راړوي او هم عقل، مضمونونه يې وړانګينې ملغلرې او کلمات یې ځلیږي. زړه ورسره مينه پسند بولي او فکر ته وده ورکوي او د هغو تورنو ډېر شه دارو درمل دی چې کفارو اسلام پسې تړلي دي، تهذيب سيرة ابن هشام هغه کتاب دی چې د خپل پيغمبر په محبت خلک روزي، او د مکې او مدينې ليدو ته زړه په تلوسه کې اچوي، تهذيب سيرة ابن هشام هغه کتاب دی د پيغمبر اسلام له خپلو صحابه کرامو او خپلو خپلوانو، له کمزورو او غلامانو، له مشرانو او اميرانو، د قبائلي مشرانو او شاعرانو او حتی له سخترينو دښمنانو سره دمنطق او خبرو انداز روايت کوي، صلى الله عليه وعلى اله واصحابه الغر الميامين، وعلى كل من سار بنهجه وتمسك بسنته الى يوم الدين.




IslamHouse.com
مركز أصول
Osoul Center
www.osoulcenter.com
Rabwah